# د امریکا اوطالبانو
# د سولې تړون
# ۱۱ پړاوه مخامخ خبرې

آیا دا ممکن وه چې بالاخره امریکا له طالبانو سره مخامخ خبرې وکړي، ولې یې دا کار وکړ.
طالبانو ولې په تکرار سره د افغان حکومت، امریکا/ ناټو او نړیوالې ټولنې لخوا د "اوربند" غوښتنه رد کړه.
ولسمشر ټرمپ که طالبانو؛ په کمپ ډیویډ کې چا او کوم لوري له یو بل سره لیدنه رد کړه؟
د ابوظبۍ او دوبۍ غونډو کې څه تیر، او کومې پریکړې وشوې.
امریکایانو د مذاکراتو پر مهال پر طالبانو څه ډول فشارونه راوړل
امریکا ولې ومنله چې په هوکړه لیک کې د " اسـلامي امارت" نوم ذکر شي.
ټرمپ ولې له طالبانو سره مذاکرات ودرول، او نور ډیر مسـایل
...

Download from:aghalibrary.cm

انجنیر نظرمحمد مطمئن



Download from:aghalibrary.cm

# د امریکا او طالبانو
# د سولې تړون
# ۱۱ پړاوه مخامخ خبرې


لیکوال: **نظرمحمد مطمئن**

خپرندوی: **د سبا فکر ټولنه** او

**قلم کتاب پلورنځی**

چاپکال: **زمری ۱۳۹۹ - اګست ۲۰۲۰**

چاپچاري: **قلم کتاب پلورنځی**



بورډ - پېښور، قلم کتابپلورنځی

+۹۲ (۰) ۳۱۶۵۰۵۰۵۷۸

Qalamkitab۲@gmail.com


**د چاپ او ژباړې ټول حقونه له لیکوال سره خوندي دي.**

لیک لړ | مخګڼه

سریزه ........................................................................ ۱۷
د قطر دفتر کې د بدلون اړوند ........................................................ ۲۲
د ملا امیرخان متقي او خلیلزاد ناسته ............................................. ۳۶
قطر کې لومړی پړاو خبرې ........................................................... ۳۸
طالبانو د امریکې د مذاکراتي ټیم سره په دوحه کي وکتل ........................ ۳۹
د ملا عبدالغني برادر د راخلاصیدو په اړه د طالبانو اعلامیه ..................... ۴۰
له ګوانتانامو ۵ ازاد شوې بندیان د قطر سیاسي دفتر غړي وټاکل شول ....... ۴۱
قطر کې دویم پړاو خبرې ............................................................. ۴۲
د طالبانو لوړ پوړې هیئت له امریکایي پلاوې سره په قطر کې وکتل .......... ۵۵
د سیاسي دفتر له مشر او غړو سره ناسته ........................................... ۵۶
د ابو ظبی غونډه ....................................................................... ۷۴
دریم پړاو خبرې ........................................................................ ۷۴
له امریکا یانو سره د مذاکراتو په اړه د اسلامي امارت د ویاند وضاحت........ ۷۵
د عرب اماراتو ناسته کې د کابل ادارې سره هیڅ لیده کاته نه کیږي ........... ۷۶
د ابوظبی د ناستي په اړه د اسلامی امارت د ویاند وضاحت ...................... ۸۱
کابل ته د متحده ایالاتو د ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد رسېدل.............. ۸۲
په سعودي عربستان کې د ناستې په اړه د طالبانو د ویاند څرګندونې .......... ۹۵
د قطر ناسته او د خلیلزاد نیته ........................................................ ۹۶
د افغانستان د وروستي سیاسي وضعیت په اړه د اسلامي امارت اعلامیه ...... ۱۰۰

Download from:aghalibrary.cm

اسلام اباد کې غونډه او د طالبانو نته........................................... ۱۰۲
دوحه کې د طالبانو او امريکايانو ٦ ورځنۍ غونډې ........................... ۱۰٦
څلورم پړاو خبرې................................................................ ۱۰٦
په دوحه کې له امريکايي استازو سره مذاکرات پيل شول....................... ۱۰٦
دوحه کې له امريکايانو سره د مذاکراتو په اړه د طالب وياند څرګندونې ....۱۰۸
د ملا برادر نوې دنده........................................................... ۱۰۹
د ملا عبد الغني برادر د ټاکنې په اړه د طالب وياند څرګندونې................۱۰۹
له استاد سياف سره خبرې ....................................................... ۱۱۰
د څلورم پړاو خبرو پای ........................................................... ۱۱۵
دوحه کې له امريکايانو سره د خبرو په اړه د د طالب وياند څرګندونې ......۱۱۵
د طالبانو او امريکا ٦ ورځنۍ غونډې او پايلې ................................. ۱۱٦
د ډاکټر خليلزاد او ډاکټر غني لېدنه.............................................. ۱۱۷
خليلزاد له طالبانو سره د خبرو جزئيات له ډاکټر غني سره شريک کړل ......۱۱۷
د ډاکټر غني ټلويزوني وينا ..................................................... ۱۱۸
د ملا عبدالسلام ضعيف مرکه له امريکا ږغ اشنا ټلويزون سره................ ۱۲۲
د خليلزاد مرکې ................................................................... ۱۲۳
امريکايې پوځيان ولي له افغانستان څخه وځي؟!................................ ۱۲٦
د طالبانو د سياسي دفتر مخکېني مشر عباس ستانکزي مرکه ................. ۱۲۸
ځوانانو ته د ډاکټر اشرف غني وينا ............................................. ۱۳٦
له بي بي سي سره د عباس ستانکزي مرکه ........................................ ۱۳۸

دطالبانو مذاکراتي ډله ........................................................ ۱۳۹
اسلام اباد کې د دويمې غونډې لغوه کېدل ........................................ ۱۴۱
پاکستان ته د طالب پلاوي دتګ په اړه د استخباراتي کړيو پروپاګنډ. ....... ۱۴۳
په اسلام اباد کې د ناستې په اړه د اسلامي امارت د ویاند څرګندونې ........ ۱۴۴
له طلوع نیوز سره د زلمي خلیلزاد مرکه .............................................. ۱۴۵
د اسلام اباد غونډې اړوند د ملا عبدالسلام "ضعیف" لیکنه ................. ۱۴۸
قطر ته د ملا برادر د تګ اړوند اندیښنې ........................................... ۱۵۱
دوحه کې پنځم پړاو خبرې ............................................................ ۱۵۸
له امریکا سره مذاکراتو کې لاندي ټکي مهم دي: ................................ ۱۵۹
ملا برادر اخوند په قطر کې د مذاکراتي بهير په غونډو کې ګډون وکړ ...... ۱۶۳
په دوحه کې د روانو مذاکراتو په اړه د طالب ویاند څرګندونې ................ ۱۶۳
د مذاکراتو د روان بهير په اړه وضاحت ............................................. ۱٦٤
د مذاکراتو د روان بهير په اړه وضاحت ............................................. ۱٦۵
ملا برادر اخوند د ازبکستان د بهرنیو چارو له وزیر سره وکتل................ ۱٦۵
د مذاکراتو د روان بهير په اړه د طالب ویاند څرګندونې ......................... ۱٦٦
د مذاکراتو د ورستي پړاو پای ته رسیدو په اړه د طالبویاند څرګندونې ....... ۱٦٦
د ملا برادر اخوند مرکه ................................................................ ۱٦۸
واشنګټن او کابل ته د خلیلزاد تګ ................................................. ۱۷۰
شمشاد ټلویزون سره د خلیلزاد مرکه ................................................ ۱۷٤
بهر میشتو افغانانو ته د متقي صاحب وینا ......................................... ۱۷۹

د خلیلزاد شپږم سفر ........................................................ ۱۸۱

د امریکا، چین او روسیې ګډه اعلامیه .................................................. ۱۸٦

د افغان سولې بهیر اړوند د روسیې، چین او امریکا ګډ پریکړه لیک ........۱۸٦

د ملي شورا ۱۷مې دورې پرانست غونډه او د ډاکټر غني وینا ..............۱۸۸

کابل کې د خلیلزاد لیدنې ............................................................۱۸۹

طلوع نیوز سره د ډاکټر خلیلزاد مرکه ................................................۱۸۹

د خلیلزاد سفر اسلام اباد ته ........................................................۱۹٦

د طالبانو او امریکا ٦م پړاو خبرې ..................................................۱۹۷

خلیلزاد له ملا برادر اخوند سره وکتل..................................................۱۹۷

د اندونیزیا د بهرنیو چارو وزیرې له ملا برادر اخوند سره وکتل .............۱۹۸

د المان ځانګړي استازي له ملا برادر اخوند سره وکتل ........................۱۹۹

عبدالکریم خُرم سره ناسته ............................................................ ۲۰۱

هند ته د خلیلزاد سفر ................................................................ ۲۰٦

د شپږم پړاو خبرو پای ................................................................ ۲۰٦

له امریکا سره د اسلامي امارت د مذاکراتو شپږم دور پای ته ورسید .........۲۰۷

د دوحې مذاکرات کوم لور ته روان دي...!؟....................................... ۲۱۰

د کای آیډي لیکنه ................................................................... ۲۱٤

د پوتین او پمپیو لیدنه ..............................................................۲۱۸

د المان خاص استازي له ملا برادر اخوند سره بیا ځل وکتل ..................۲۲۰

د اروپایي اتحادیې خاص استازي له ملا برادر اخوند سره وکتل .............۲۲۱

خلیلزاد د امریکا کانګرس ته د مذاکراتو په اړه معلومات ورکړل ............۲۲۲

د طالبانو د مشر د اختریز پیغام غټې ټکې ........................................ ۲۲۵

د بهرني سیاست په اړه: ........................................................... ۲۲۶

د مذاکراتو په هکله: ............................................................... ۲۲۷

ولس ته: ........................................................................... ۲۲۷

د خلیلزاد اووم سفر ................................................................ ۲۲۸

له کورنیو رسنیو سره د خلیلزاد مرکې ............................................. ۲۳٤

قطر ته د خلیلزاد پټ تګ ........................................................... ۲۵۰

د عبدالکریم خُرم کور کې ناسته .................................................. ۲۵۱

د حامد کرزي کور کې ناسته ....................................................... ۲۵۵

کابل ته د امریکا د بهرنیو چارو د وزیر سفر ..................................... ۲۵۹

د طالبانو او امریکا ترمنځ د اووم پړاو رسمي خبرې ............................ ۲٦۱

د اووم پړاو خبرو کې ځنډ ......................................................... ۲٦٤

د ۷ پړاو او بین الافغاني مذاکراتو په اړه د طالبانو او خلیلزاد څرګندونې... ۲٦٤

د څلور اړخیزه غونډې ګډه اعلامیه ................................................ ۲٦۸

له ازادي راډیو سره د جان باس مرکه ............................................. ۲۷۰

امارت په خلکو په زور منل شوی و ............................................... ۲۷۲

افغانان په سوله کې میلمانه نه؛ باید اصلي مالک وي ............................ ۲۷٤

د کارټر خبرې ....................................................................... ۲۷۷

د مولوي عبداللطیف منصور خبرې ................................................ ۲۷۹

د افغان سولې اړوند څرګندونې .................................................... ۲۸۰

د ټرمپ جنجالي څرګندونې ........................................................ ۲۸۱
ډیورنډ کرښه د بریتانیا لخوا کښل شوې ........................................ ۲۸۲
د افغان حکومت غبرګون ............................................................. ۲۸۳
د ټرمپ څرګندونو اړوند د طالبانو غبرګون ........................................ ۲۸٤
بیځایه غرور د ماتي لویه نښه!!... ....................................................... ۲۸۵
په ټولنیزو رسنیو کې غبرګون.......................................................... ۲۸۷
د ټرمپ څرګندونو اړوند د مخکښني ولسمشر حامد کرزي غبرګون........ ۲۹۰
د ټرمپ د څرګندونو اړوند د مشرانو جرګې د رئیس اعلامیه ................ ۲۹۱
افغان سوله او عمران خان............................................................ ۲۹۲
د خلیلزاد اتم سفر .................................................................... ۲۹۳
د ډاکټر غني او مایک پمپیو د ټلیفوني خبرو ګډه اعلامیه .................. ۲۹۵
د امریکا او بریتانیا د لوي درستیزانو سره د ګډ حکومت د مشرانو لیدنه ... ۲۹۶
د ډنفورډ له سیاسي سلاکار کارټر سره لیدنه ..................................... ۲۹۷
د ملا برادر په مشرۍ اندونیزیا ته د طالبانو د پلاوي تګ ...................... ۳۰٤
د سولې عالي شورا د درالانشاء لغوه کېدل ......................................... ۳۰۵
قوي اوسه افغان جګړه ختمېدونکې ده ............................................ ۳۰٦
ټرمپ راته امر کړې چې پوځیان کم کړو ......................................... ۳۰۸
د افغان حکومت غبرګون ............................................................. ۳۰۹
د مشرانو جرګې د رئیس غبرګون ................................................... ۳۰۹
داسلام اباد څرګندونې ................................................................ ۳۱۰
د حامد کرزي مرکه.................................................................... ۳۱۰

د افغان حکومت لخوا د ۱۵ کسیز پلاوي اعلان ........................ ۳۱۱
ملا عبدالسلام ضعیف سره ناسته ........................ ۳۱۳
د افغان سولې اړوند د بهرنیانو څرګندونې ........................ ۳۱۵
د حامد کرزي خبرې ناسته ........................ ۳۱۶
د ټرمپ جنجالي څرګندونو تکرار ........................ ۳۱۷
اسلام اباد کې د امریکا سفارت خبرپاڼه ........................ ۳۱۷
د ینس سټولټنبرګ څرګندونې ........................ ۳۱۸
اتم پړاو خبرې ........................ ۳۱۹
د ډاکټر غني څرګندونې ........................ ۳۲۰
د اتم پړاو خبرو په جریان کې په کابل کې خونړی برید ........................ ۳۲۱
د خلیلزاد او مجاهد ټویټرې جګړه ........................ ۳۲۲
د اتم پړاو د مذاکراتو اړوند څرګندونې ........................ ۳۲۳
د اتم پړاو مذاکراتو پای ........................ ۳۲۵
له لوړ پوړو امریکایې مشرانو سره د ټرمپ ناسته ........................ ۳۲۶
د مذاکراتو د وروستي پړاو په اړه څو خبرې!! ........................ ۳۲۸
افغان سوله او د سیمې هیوادو ناغیړي ........................ ۳۳۲
پاکستان امتیاز غواړي: ........................ ۳۳۲
ایران د ګډ حکومت او ټاکنو ملاتړ کوي: ........................ ۳۳۳
ولي هند د افغان سولې مخالفت کوي؟ ........................ ۳۳٤
پاکستان ځینې امتیازات هضمول غواړي: ........................ ۳۳۵

د سولې تړون څنګه د چا په ګټه دی؟.............................................. ۳۳۵

طالب په زور که سوله راځي:........................................................... ۳۳۶

کومې اندیښنې؟............................................................................ ۳۳۶

کوم فشارونه شوني دي:................................................................... ۳۳۸

افغان سوله، او د کشمیر کړکیچ ........................................................ ۳۳۹

په کشمیر کې د روان وضعیت په اړه د طالب د ویاند څرګندونې............. ۳۴۱

ازبکستان ته د طالبانو سفر............................................................... ۳۴۲

ازبکستان هېواد ته د اسلامي امارت د استازي د سفر جزئیات............... ۳۴٤

د لوی اختر په مناسبت د شیخ هبة الله اخوندزاده صاحب پیغام........... ۳٤٦

د لوی اختر په مناسبت د ډاکټر غني پیغام........................................... ۳۵۰

ولسمشرۍ ټاکنې ........................................................................... ۳۵۲

د ولسمشرۍ ټاکنو د کمپاین پیل ....................................................... ۳۵۲

د ټاکنو بهیر په اړه د طالبانو اعلامیه ................................................. ۳۵۳

د انتخاباتو په اړه د طالبانو د تعلیم او تربیې د کمیسیون خبرتیا! ................... ۳۵۸

د انتخاباتو په هکله د طالبانو د نظامي کمیسیون خبرتیا!.............................. ۳٦۵

٦ د میزان او ولسمشرۍ ټاکنې ........................................................... ۳٦۷

په انتخاباتي بهیر د بریدونو وروستي جزئیات....................................... ۳٦۸

د کابل اداري انتخاباتو د ناکامۍ په اړه د طالبانو اعلامیه......................... ۳۷۰

د ډاکټر غني د مننې پیغام.................................................................. ۳۷۱

د ټاکنو د ګټلو ادعاوي .................................................................... ۳۷۲

د افغانستان سولې او جګړې اړوند بېلابېلې څرګندونې...................... ۳۷۷
په مسجد او واده کې چاودنې.............................................. ۳۷۹
د سولې خبرو نهم پړاو...................................................... ۳۸۱
د سولې مذاکراتو د نهم پړاو پیل.......................................... ۳۸۳
پر کندز او بغلان د طالبانو حملې........................................ ۳۸۸
کابل ته د خلیلزاد راتګ ................................................... ۳۹۰
له طلوع ټلویزون سره د خلیلزاد مرکه.................................. ۳۹۳
قطر ته د خلیلزاد او میلر ناڅاپي سفر ................................... ٤۰۵
د امریکا کانګرس سپیناوی وغوښت....................................... ٤۰۷
د تړون اړوند څرګندونې .................................................. ٤۰۷
له سولې تړون د ټرمپ په شاکېدل ....................................... ٤۰۹
ولې طالبانو کمپ ډیوېډ ته له تګه نټه وکړه؟ .......................... ٤۱۲
دسپټمبر ۸مه ................................................................ ٤۱۳
د ټرمپ ټویټ ته غبرګونونه............................................... ٤۱۷
د سولې د خبرو اترو په اړه د افغان دولت مطبوعاتي اعلامیه ................... ٤۱۷
د سولې مذاکراتو په تړاو د اجرائیه ریاست اعلامیه............................ ٤۱۹
سوله د افغانانو ستره آرزو ده او تر بل هر څه لومړیتوب لري ................. ٤۱۹
د ټرمپ څرګندونو ته د طالبانو غبرګون ................................ ٤۲۰
سپینه ماڼۍ کې ټرمپ او د خبریالانو پوښتنې .......................... ٤۲۸
د ټرمپ د خبرو اړوند د طالبانو غبرګون................................ ٤۳٤

د افغانستان کشالې اړوند د ملګرو ملتونو د امنیت شورا غونډه .............. ٤۳٥
د افغانستان کشالې اړوند د ناټو د سرمنشي څرګندونې ........................ ٤۳۷
د مذاکراتي پروسې د ځنډ په رابطه څو ناویلي حقایق!!... .................... ٤۳۷
روسیې، چین او ایران ته د طالبانو د پلاوي تګ ................................ ٤٤۲
روسیې ته د طالبانو تګ: .............................................................. ٤٤۲
ایران ته د طالبانو تګ: ................................................................ ٤٤٥
چین ته د طالبانو تګ:.................................................................. ٤٤٦
کانګرس ته د خلیلزاد احضار ....................................................... ٤٤۸
د سولې نړیواله ورځ..................................................................... ٤٤۹
د ملګرو ملتونو په عمومي غونډه کې د افغانستان اړوند څرګندونې ....... ٤٤۹
په ملګرو ملتونو کې د امنیت شورا د مشر څرګندونې ......................... ٤٥۳
له ځنډ وروسته د سولې نوی پړاو.................................................... ٤٥٤
د طالب پلاوي او د پاکستان بهرنیو چارو وزیر ترمنځ لیدنه................. ٤٥٦
پاکستان ته د طالبانو د سفر په اړه د افغان حکومت غبرګون................. ٤٥۸
د هندي انجنیرانو او طالب بندیانو تبادله ........................................ ٤٦۱
د ټرمپ کمپاینې څرګندونې .......................................................... ٤٦۳
د افغانستان لپاره د ناروې هیواد ځانګړی استازی پېر سره لیدنه ............ ٤٦٤
د رونالډ کوبیا خبرې .................................................................... ٤٦۸
په هسکه مېنه کې برید، د پمپیو څرګندونې ..................................... ٤۷۰
رابن رافیل سره ناسته ................................................................... ٤۷۱

کابل ته د امریکا دفاع وزیر راتګ ........................................ ۴۷۷
کابل ته د امریکا د کانګرس د مشرې راتګ ........................................ ۴۷۹
د خلیلزاد سفر ماسکو ته ........................................ ۴۸۰
د اروپایې ټولنې ګډه اعلامیه ........................................ ۴۸۱
د ناټو دفاع وزیرانو غونډه ........................................ ۴۸۴
د مسکو څلور اړخیزه ناسته ........................................ ۴۸۴
کابل ته د خلیلزاد راتګ ........................................ ۴۸۵
اسلام اباد او بیاځل کابل ته د خلیلزاد سفرونه ........................................ ۴۸۷
د غني د سولې نوې طرحه ........................................ ۴۸۸
د ملي امنیت شورا د مشر څرګندونې ........................................ ۴۸۸
د ۹ پړاوه خبرو لنډیز د طالبانو له خولې ........................................ ۴۹۰
د انس حقاني تبادله ........................................ ۴۹۷
د یو شمیر بندیانو د آزادی په اړه د طالبانو اعلامیه ........................................ ۵۰۱
د بندیانو تبادلې په اړه د لوړ پوړو امریکایې چارواکو څرګندونې ........................................ ۵۰۱
ایران او طالبان ........................................ ۵۰۵
د سولې د خبرو د بیاځل پیل کېدو هڅې ........................................ ۵۰۶
باګرام پوځي اډې ته د ټرمپ راتګ ........................................ ۵۰۷
په لندن کې د ناټو دفاع وزیرانو غونډه ........................................ ۵۰۸
کابل ته د خلیلزاد راتګ ........................................ ۵۰۹
د انس حقاني مرکه ........................................ ۵۱۱

لسم پړاو خبرې ............................................................. ٥١٣

د بگرام په هوايي ډگر د طالبانو بريدونه ..................................... ٥١٤

د خليلزاد تگ پاکستان، او بيا د دوحې فورم ناسته کې يې گډون........... ٥١٦

طالبانو ناروې ته پلان شوې سفر لغوه کړ ..................................... ٥١٧

کابل ته د خليلزاد را گرځېدل................................................... ٥١٨

د امريکا او هند بهرنيو چارو وزيرانو خبرې ناسته ........................... ٥١٨

د ملا برادر او خليلزاد ليدنه..................................................... ٥١٩

يوولسم پړاو خبرې .............................................................. ٥٢١

د افغان سولې اړوند په دوبې کې د بهرنيانو مهمه غونډه ..................... ٥٢٢

د کړکيچ نړيوالې دارې له کارکونکي برهان سره ناسته...................... ٥٢٧

د ايران په اړه د امريکا او د امريکا په اړ د طالبانو انديښنې ................. ٥٣٣

د ډونالډ ټرمپ او ډاکټر غني لېدنه............................................. ٥٣٦

د طالبانو او امريکا مذاکراتو کې بې باوري ................................... ٥٣٨

د مذاکراتو چټکتيا او ښه پرمختگ ........................................... ٥٤٧

زلمي خليلزاد له کابل څخه خپله ليدنه ترسره کړه ............................ ٥٤٨

په نيويارک ټايمز کي د سراج الدين حقاني د ليکنې پښتو ژباړه ............٥٥٥

د ټرون تر لاسليک مخکې د خليلزاد او ډاکټر غني لېدنه ..................... ٥٥٩

د تاوتريخوالي کمښت او سولې تړون لاسليک نېټه اعلان .................. ٥٦٠

د امريکا د بهرنيو چارو اعلاميه.................................................. ٥٦١

د مذاکراتو د وروستي جريان په هکله د طالبانو اعلاميه ...................... ٥٦٢

د تاوتريخوالي کمېدو اړوند غبرگونونه ........................................... ٥٦٤

د جګړې کمښت په اړه د ټرمپ او پمپیو څرګندونې ........................ ۵۶۵

د ولسمشر ټرمپ خبرپاڼه ........................................................ ۵۶۶

د تړون په مراسمو کې د ګډون لپاره هڅې ........................................ ۵۶۸

دوحې ته تګ ................................................................... ۵۷۵

د طالبانو له بند ازاد شوې ټیموټي سره لیدنه ..................................... ۵۷۹

د ټیموټي خپل او په اړه یې ټویټونه ............................................. ۵۸٤

د تړون مراسمو کې له افغانستان څخه د ګډونوالو پر سر جنجال............ ۵۸٦

د تړون د لاسلیک ورځ ......................................................... ۵۸۸

د تړون د لاسلیک تر مراسمو لږ وړاندې ......................................... ۵۹۳

د تړون د لاسلیک مراسم ....................................................... ۵۹۵

د بهرنیو چارو وزیر مایک پمپیو خبرې ناسته ...................................... ٦۰۳

له امریکا سره تړون په اړه د طالبانو د مشر شیخ هبة الله صاحب پیغام..... ٦۱۰

د لاسلیک شوي توافقنامې متن ................................................. ٦۱۳

ولسمشر ټرمپ: که طالبان پر خپلو ژمنو عمل ونکړي بېرته ورستنېږو ...... ٦۲۵

د امریکا – طالبانو د تړون اړوند؛ د ځینو مهمو مشرانو څرګندونې .......... ٦۲٦

د ځینو هیوادو بهرنیو چارو وزیرانو لیدنې له ملا برادر اخوند سره .......... ٦۲۹

له افغانانو د نړۍ د مسلمانانو تمې ............................................... ٦۳۰

د افغان حکومت امریکا ترمنځ د سولې ګډه اعلامیه: ......................... ٦۳۲

د متحده ایالاتو - طالبانو د تړون لاسلیک کولو په هکله ګډه اعلامیه...... ٦۳۸

د تړن اړوند د طالبانو او امریکا څرګندونې ...................................... ٦٤۱

د تړون تر لاسلیک یوه ورځ وروسته ........................................ ٦٤٤
د پگواش له مشر پاولو سره ناسته ........................................ ٦٤٨
د طالبانو د سرحدي چارو د کمیسون له مشر سره ناسته ..................... ٦٥١
د ټرمپ او ملا برادر اخوند ټلیفوني خبرې ........................................ ٦٥٦
د ډونالډټرمپ او ملا عبدالغني برادر ټلیفوني خبري ............................ ٦٥٦
له ملا عبدالحق وثیق سره ناسته ........................................ ٦٥٩
له طالبانو سره ازاد بحث ........................................ ٦٦١
له انس حقاني سره د هغه په کور کې ........................................ ٦٦٣
د ولسمشر ټرمپ خبرې ناسته ........................................ ٦٦٩
د امارت نه منلو په اړه د امریکا او روسیې اعلامیه ............................ ٦٧٠
له جنرال فیض سره د عباس ستانکزي خبرې ........................................ ٦٩٢
د ملگرو ملتونو امنیت شورا پریکړه لیک ........................................ ٦٩٤
له طالبانو سره تر تړون وروسته؛ د خلیلزاد مرکه ................................ ٦٩٥
په کنړکې د داعش وسلوالو ماتې ........................................ ۷۰٤
د داعش ډلې په اړه د طالبانو اعلامیه ........................................ ۷۰٦
د تړون اړوند د طالب مشرانو مرکې ........................................ ۷۰۸
طالبان؛ او د دویم نمبر فتحې نشه! ........................................ ۷۲۸
د لیکوال پېژندنه ........................................ ۷۳۱

## سریزه

### بسم الله الرحمن الرحیم

د الله ﷻ ډېر زیات حمد او ثناء وایم، د الله ﷻ پر نازولي پېغمبر محمد ﷺ باندي درودونه وایم چې ماته یې د دې تاریخي کتاب لیکلو توان راکړ.

د اکټوبر پر ۱۰مه ۲۰۱۸، د ډیورنډ کرښې ها خوا طالب ملګري اړیکه راسره ونیوله، ویې ویل:"پرون د طالبانو او امریکا د لوړ پوړو پلاویو ترمنځ پټه لېدنه وشوه، هوکړه شوې چې دا لېدنه به پټه ساتل کیږي، مګر که د امریکایې لوري لخوا د ناستې اړوند معلومات، او یا رسنۍ ناسم جزئیات خپاره کړي، بیا په کار ده چې د ناستې اړوند سم معلومات رسنیو ته په واک کې ورکول شي."

دا د لوړ پوړو امریکایانو او مهمو طالب چارواکو ترمنځ لومړۍ ناسته وه، چې تر دې مهاله یې رسنیو په اړه راپور ور نه کړ، او دواړو لورو یاده ناسته همداسي پټه وساتله.

له همدې ورځې ما (لیکوال) وپتېیله چې د امریکا – طالبانو د مخامخ ناستو یادښتونه ولیکم، او بیا یې د کتاب په بڼه خپاره کړم.

په کابل کې د ډیرو لږو کسانو همدا نظر وو چې د طالبانو – امریکا ترمنځ دي مخامخ خبرې پېل شي، مګر ډېرو افغان سیاستوالو غوښتل چې د طالبانو – افغان حکومت مخامخ خبرې باید پېل شې، او ځینې بیا په دي نظر وو چې درې اړخیزه (افغان حکومت، طالبانو او امریکا) ترمنځ ناستې وشي.

کله چې د طالبانو –امریکا ترمنځ اکټوبر ۲۰۱۸ کې خبرې پېل شوې، ما (لیکوال) فکر کاوه چې د سولې برخه کې نور زموږ کار او هڅو ته څکه اړتیا نشته، دادی هغه څه چې موږ له کلونو غوښتل، هغه کار وشو، مګر ځینو مشرانو ملګرو راته وویل چې ډېر نور کار ته اړتیا شته، همداسي وه، د طالبانو – امریکا د مخامخ خبرو پر مهال، هر چا مسؤلیت درلود چې په دي برخه کې خلکو ته سم پوهاوی وړاندي کړي.

د طالبانو – امریکا د مخامخ خبرو له پېل یوه نیمه میاشت وروسته، د نومبر پر

۲۱مه او ۲۲مه، موږ (برهان عثمان او مطمئن) په دوحه کې د قطر سیاسي دفتر له مشر عباس ستانکزي سره ناستې درلودلې، همدارنګه نومبر ۲۰۱۹ کې مو بیا ځل په قطر کې له طالب مشرانو سره د سولې اړوند بحثونه درلودل، ټول ټال له نومبر ۲۰۱۵ تر دې مهاله ما (لیکوال) ۸ځله قطر هیواد ته سفرونه کړي، او هر ځل مې له طالب مشرانو سره د سولې اړوند بحثونه درلودل.

د طالبانو – امریکا د مخامخ خبرو اړوند ډیرې ننګونې وې، یوه یکې دا وه چې له قطر هیواد څخه مذاکرات متحده عرب اماراتو ته یوړل شي، او دارنګه د طالبانو –امریکا ترمنځ په لومړي او دوېم پړاو خبرو کې توافق شوې اجنډا کې بدلون راشي.

دوېمه لویه ننګونه دا وه چې ملا برادر اخوند او متقي صاحب باید د پاکستان له لارې قطر ته ولاړ شي، او پاکستان په دې برخه کې ستونزې جوړولې.

همدارنګه د افغان – امریکایې پوهنتون دوه استادان چې له طالبانو سره بندیان وو، له انس حقاني سره د هغوی د تبادلې څنډ هم امریکایان مایوسه کړي وو.

افغان حکومت، افغان سیاستوالو، امریکا/ناټو، ملګرو ملتونو، مدني ټولنو او ځینو د سولې په نوم جریانو په تکرار سره له طالبانو غوښتل چې اوربند ومني، مګر د طالبانو جواب هرکله منفي و.

د طالبانو – امریکا ترمنځ د مخامخ خبرو اړوند تر ټولو لوی خنډ هغه مهال را منځته شو چې کله طالبانو کمپ ډیوېډ کې له ولسمشر ټرمپ سره لیدنه رد، او د ټرمپ لخوا د ۱۱ میاشتو مخامخ خبرو درولو ټویټ وشو.

طالبانو د سیمې هیوادونو ته سفرونه پیل کړل، ایران، ازبکستان، چین، ماسکو او اندونیزیا ته د ملا برادر اخوند په مشرۍ د طالبانو د پلاوي سفرونه او په لوړه کچه لیدنې د دې لامل شوې چې د افغان حکومت غوسه را وپاروي او د طالبانو د سفرونو اړوند یې رسمي غبرګون وښود.

ما (لیکوال) هڅه کړې چې د طالبانو – امریکا ترمنځ د مخامخ خبرو اړوند رښتونې معلومات تر لاسه کړم، ښه والی داوو چې طالب مشرانو، پخواني حکومتي

چارواکو، او پېژندل شوو افغان سیاستوالو، دارنګه امریکایانو او د ناټو هیوادو غړو سره ناستو ته مې لاسرسی درلود، او د سولې اړوند معلومات او نظرونه مو له یو بل سره شریکول.

تر ټولو مهمه داوه چې هر کله به موږ له پخوانیو جهادي رهبرانو سره کیناستو، هغوی په دي عقیده وو چې طالبان به؛ بالاخره او خامخا په افغانستان کې د امریکایې پوځیانو کم شمیر شتون او لږ تر لږه یوه اډه ومني.

ما (لیکوال) د طالبانو د نظام تر ړنګېدو وروسته له بېلابېلو کورنیو او بهرنیو مؤسسو سره کار وکړ، وروستۍ دنده مې له ملګرو ملتونو سره وه.

له مؤسسو او نړیوالو ادارو سره د کار کولو پر مهال به هر وخت ډېر ځوریدم، چې ولي زه د خپل ولس له خدمت کولو بې برخې یم، په داسي حال کې چې امریکا/ناټو پوځیان هر وخت زموږ ولس وژنې، زخمیان کوي یې، او هیواد پریښودلو ته یې مجبوروي.

په ۲۰۰۶ کال کې مې هځه وکړه، چې د ملګرو ملتونو له دفتر سره کار پریږدم، او له کورنۍ سره یوځای له هیواده بهر هجرت وکړم، ونه توانېدم. له بشپړ خسته ګې وروسته؛ په ۲۰۰۸ کال کې مې د ملګرو ملتونو له دفتر سره کار پریښود، او سمدستي، د ښوونې او روزنې په خصوصي برخه کې د هیوادوالو د خدمت زمینه راته مهیا شوه.

په ۲۰۱۱ او ۲۰۱۲ کلونو کې مې په جاپان کې د سولې اړوند غونډو کې ګډون وکړ، تر دې له مخه مې ترکیې کې د اسلامي ګوندونو د مشرانو غونډه کې ګډون کړی و، او همدارنګه وارسا، اسلام اباد، اندونیزیا، ماسکو، ازبکستان، متحده عرب اماراتو او قطر ته زما د ګڼو سفرونو له امله وه چې د سولې برخه کې ډېر فعال واوسم.

تر ټولو جالبه داوه له طالبانو سره بندي، او د بند پر مهال مسلمان شوی د افغان – امریکایې پوهنتون استاد ټیموتي مې په دوحه کې ولېد، او هغه د زندان په زړه پورې خاطرې درلودلې.

همدارنګه، هغه انس حقاني چې د افغان حکومت د محکمو لخوا ورباندې دوه ځله د اعدام حکم شوی و، له تیموتې سره یو ځای د دوحې ښار په لوی پارک او چمن کې ناست، او موږ درې واړو د زندان خاطرې بیانولې.

تر دې له مخه له بوبریګډال سره چې ۵ طالب بندیان تبادله او له ګوانتانامو څخه ازاد شوې وو، ډېر ځله مې هغوی په قطر کې ولېدل، او د ملا فاضل اخوند په اړه، د امریکایې پلاوي غړي کارټر ویل:" د ملا فاضل اخوند په سترګو کې له ورایه زموږ د ډلې او امریکایانو سره نفرت ښکاري، د هغه سترګې سرې او ویرونکې دي، که افغانستان ته راغی، د هغه له سترګو به ټول خلک ویرېږي."

تاسې په کتاب کې داهم لولئ  چې د اکتوبر ۲۷مه ۲۰۱۹، خلیلزاد او ډاکټر لیزا کورټیس Lisa Curtis (د ولسمشر ټرمپ مرستیال سلاکارې او د  مرکزي او جنوبي اسیا لپاره د امریکا د امنیت شورا دفتر مشرې) ته حامد کرزي وویل:" نور موږ حوصله نه لرو چې ستاسې (امریکایانو) لاسپوځی ډاکټر غني په واک کې وي، ولسمشر ټرمپ ته وواياست چې نور دي دا خپل لاسپوځی (دست نشانده) در وغواړه، موږ يې نه غواړو[۱]."

په کتاب کې د طالبانو د مذاکراتي ډلې د مشر عباس ستانکزي د شخصیت په اړه یې د هغه له خولې اورئ، چې د هغه تُنده لهجه؛ او که په خبرو کې رښتونی دی.

عباس ستانکزي ما (لیکوال) ته وویل چې عاصم منیر د سعودی وزیر ته په انګریزي وویل:" دادی موږ طالبان دلته درته راوستل، اوس تاسې او امارات پر دوی فشار راوړئ چې نوي اجنډا پرې ومنو."

[۱] کله چې حامد کرزي همدا د امریکا د لاسپوځې خبره وکړه، خپله کرزي او د ناستې ټولو ګډونوالو وخندل، ځکه له ډاکټر غني مخکې همدی "کرزی" په همدې موقف او د امریکا لاسپوځی افغان ولسمشر و.

د ابوظبی غونډې پر مهال د آی ایس آی د هغه وخت مشر جنرال عاصم منیر او په قطر کې د ناستې پر مهال د آی ایس آی د اوسني مشر جنرال فیض حمید او طالب مشر عباس ستانکزي ترمنځ جنجالې بحثونه دلته لولئ.

د امریکا متحده آیالاتو – طالبانو د تړون مراسمو کې، د افغان ګډونوالو پر سر د طالبانو او قطریانو/امریکا ترمنځ ډیر جنجالي بحثونه وشول، طالبانو پریکړه کړې وه چې د تړون په مراسمو کې د افغان حکومت او امریکا د خوښې افغانانو ته د ګډون اجازه ورنه کړي.

زه (لیکوال) وتوانېدم چې د امریکا متحده آیالاتو – طالبانو ترمنځ "افغانستان ته د سولې راوستلو تړون" مراسمو کې ګډون وکړم، چې په زړه پورې مراسم وو، په کتاب کې په تفصیل سره لیکل شوې.

په دې کتاب کې د اهم لولئ چې ولسمشر ټرمپ ولي ملا برادر اخوند ته وویل:"تاسې قوي خلک یاست او ډیر ښه هیواد لرئ او زه پوهیږم چې تاسې د خپلې خاورې لپاره جنګیږئ، موږ ۱۹ کاله هلته وو او دا ډیره اوږده موده ده، اوس له افغانستان څخه د بهرنیو ځواکونو وتل د ټولو په ګټه دي."

او تاسې لولئ چې ولي د تړون مراسمو کې د امریکا د بهرنیو چارو د وزیر مایک پمپیو د وینا ژباړه ملا برادر اخوند وانه وریده. همدارنګه لولئ، له امریکا سره د تړون د لاسلیک پر مهال، په سالون کې ناستو بهرنیانو چکچکې خو طالبانو د تکبیر ږغونه کول.

د طالبانو – امریکا د مخامخ خبرو اړوند، ما (لیکوال) د نن ټکی آسیا، سپوږمی راډیو، امریکا ږغ، بي بي سي او ازادي راډیو له ځینو راپورونو څخه په مننې استفاده کړي، همدارنګه واحد فقیري چې ځینې انګریزې راپورونه او په انګلیسي ژبه د بهرنیانو څرګندونې "ټویټونه" یې پښتو ته ژباړلې، مننه ورڅخه کوم.

## د قطر دفتر کې د بدلون اړوند

کله چې د ملامحمد عمر مجاهد د مرگ خبر د جولای وروستۍ اونۍ ۲۰۱۵ کې افشاء شو، او ملا اخترمحمد منصور د جولای پر ۲۹مه ۲۰۱۵، د طالبانو د مشر په توگه وټاکل شو، سید محمد طیب اغا د طالبانو د قطر سیاسي دفتر څخه د اگسټ پر ۴مه ۲۰۱۵، استعفی ورکړه.

د طالبانو د نوي مشر لخوا د قطر د سیاسي دفتر لپاره د سید طیب اغا مرستیال، شیرمحمد عباس ستانکزی د یاد دفتر مشر وټاکل شو.

د طیب اغا او عباس ستانکزي اړیکې ښې نه وې، هر وخت یې د یو بل د منزوي کیدو هڅې کولې، له همدې امله وو چې د قطر سیاسي دفتر ته، د دوی د خپلمنځي اختلافونو له کبله په سیاسي او مالي برخه کې زښت زیات زیان واوښت.

که څه هم د قطر سیاسي دفتر کوم د پام وړ فعالیت نه درلود، خو د ځینو بهرنیو هیوادونو له سفیرانو او ټیټې کچې استازو، همدارنگه په افغانستان کې د ملگرو ملتونو د استازولي دفتر یوناما له مشر او غړو سره یې وخت ناوخته په دوحه کې لیدنې کولې.

تر ډیره د بهرنیانو ترمنځ پر دي بحثونه کېدل چې د قطر دفتر د طالبانو سمه استازولي نه شي کولای، او د قطر دفتر مشر عباس ستانکزی او غړي یې د ډېر واک لرونکي نه دي.

ناروې هیواد چې له امریکا سره ډېر نږدې اړیکې لري، په کابل کې د دې هیواد سفارت وزیر مستشار / مرستیال سفیر پئر البرت ایلسوس Per Albert Ilsaas چې له طالبانو سره ډېر زیات په اړیکه کې و، هغه هم ورته اندیښنه درلودله، او امریکایانو سره یې هم دا اندیښنه شریکه کړې وه چې د قطر دفتر مشر عباس ستانکزی ډېر واک نه لري.

ربښتیا هم، د قطر دفتر له مشرتابه سره چې به د هر هیواد استازي / سفیر او یا هم په افغانستان کې د ملگرو ملتونو د سیاسي څانگې مشر / غړو ولیدل، د مسایلو اړوند

به پریکړه سمدستي نه کېدله، بلکې د قطر سیاسي دفتر به مسایل د طالبانو د رهبري شورا سره شریکول او بیا به یې د پریکړو اړوند د هغوی نظر غوښت، چې دې کړنې وخت نیوی، له همدې امله د بهرنیانو لخوا د قطر دفتر په اړه شکایت وو چې دوی واک نه لري.

بل خوا د قطر د سیاسي دفتر د غړو لخوا هم پر ښاغلي عباس ستانکزي ډېرې نیوکې وې، هغه یې ځان غوښتونکی او په مسایلو کې پر نه مشوره باندي ملامت ګاڼه، تر ډېره په دې برخه کې ځوانانو پر ستانکزي نیوکې درلودلې.

همدا ډول د قطر هیواد د بهرنیو چارو وزارت لخوا د طالبانو له سیاسي دفتر سره اړیکه کې دکتور مطلق بن ماجد القحطاني هم یونس برهان سره (مارچ ۲۰۱۸) کې ورته اندیښنه شریکه کړې وه[۲].

زما (لیکوال) څخه برهان عثمان  څو ځله وغوښتل چې یاده ستونزه له طالب مشرانو سره شریکه کړم، او خپله برهان هم یاده ستونزه د طالبانو د فرهنګې کمیسون له مشر ذبیح الله مجاهد سره شریکه کړې وه.

---

[۲] د مارچ پر ٦مه ۲۰۲۰، ما (لیکوال) ته عباس ستانکزي وویل:"قطریان هم له ما (ستانکزي) څخه ځکه نه وو خوشاله چې ما په مذاکراتو کې د دوی رول نه مانه، یو ځل له امریکایانو سره د خبرو پر مهال د قطر د بهرنیو چارو لخوا استازي مطلق بن ماجد القحطاني وویل چې زه ستاسي (طالبانو او امریکا) تر منځ درېیم ګړی یم، ما (ستانکزي) خلیلزاد ته وویل چې دی (قحطاني) څه وایې، د ده خبره رښتیا ده؟ موږ خو له دې معاملې نه یو خبر. خلیلزاد وویل: موږ قطر د درېیم ګړي په صفت نه دی پېژندلی.
بیا ما (ستانکزي) قحطاني ته وویل: ته یوازې اسانچاری Facilitator یې، چې موږ ته میز جوړ کړې، چای راته راوړې او نور کارونه چې اړتیا یې وي تاسي یې وکړئ.
همهغه وو چې قطریان هم زما په دې ډول خبرو خفه شول، او امریکایانو هم زما لخوا له زښت جوابونو او داچې اسلام اباد کې خلیلزاد ۵ ورځې معطل و، ورنغلم، خفه و."

په هر حال، ما (لیکوال) نه غوښتل چې د ښاغلي شیرمحمد عباس ستانکزي په اړه کوم چاته شکایت وکړم، او یا ووایم چې هغه د قطر د سیاسي دفتر د مدیریت کولو وړتیا نه لري.

په تیر رمضان [۳] کې چې په کابل کې د علماوو لویه غونډه وشوه، او د طالبانو ضد فتوی یې ورکړه، مخکې د علماوو له غونډې ما (لیکوال) هڅه کړي وه چې د دغسې کړنې مخه ونیول شي، د قطر سیاسي دفتر له غړو سره مې اړیکه ونیوله، خو هغوی دا مسئله ډیر عادي وګڼله او ډیره بې پروایې یې وکړه، له همدې امله ما (لیکوال) خپلې اړیکې له همهغه وخته یو ډول د قطر سیاسي دفتر سره ځنډولي وي[٤].

---

[۳] د جوزا میاشتې ۱۴مه ۱۳۹۷ (۴ جون ۲۰۱۸) د دوشنبې ورځ، د افغانستان د علماوو شورا او سولې عالي شورا په نوښت د کابل ښار د باغ بالا سېمه، د لویې جرګې خیمې کې نږدې ۲۵۰۰ دیني علماوو د طالبانو د جګړې پر ضد په ۷ ماد کې فتوی ورکړه. د لا زیات معلومات لپاره زما (لیکوال) کتاب (د علماوو فتوی) وګورئ.

[٤] د مئ پر ۲۶مه ۲۰۱۸، مولوي عبدالسلام عابد ما (لیکوال) ته وویل:" همدا نن د استاد سیاف په کور کې، د سولې عالي شورا د دارلانشاء رئیس او د ډاکټر غني سلاکار ډاکټر اکرم خپلواک، د علماوو شورا ویاند او د عدلیې مرستیال وزیر محمد قاسم حلیمي، د سولې عالي شورا مرستیال مولوي عطاء الله لودین، د علماوو شورا غړی د پوهنې مرستیال وزیر دکتور محمد شفیق صمیم، د علماوو شورا غړی مولوي پیرمحمد روحاني، د علماوو شورا غړی مولوي عنایت الله بلیغ او د سولې عالي شورا غړی مولوي غلام محی الدین بلوچ ناست وو، زه یې هم غونډې ته غوښتی وم.

لنډ بحث وشو چې څه ډول فتوی باید د علماوو له خوا ورکول شي، وویل شو چې په فتوی کې راشي چې جګړه ناروا، حرامه ده او د جګړې بندیدو غوښتنه وشي.

استاد سیاف وویل:

۱ - فتوی باید د علماوو له ادرسه داسي ورکول شي چې دولتي ونه ښودل شي، بلکې د بې طرفه علماوو له ادرسه وښودل شي او ځینې بې طرفه علما هم موجود وي او د فتوی ورکولو لپاره قانع او را وغوښتل شي.

که فتوی دولتي معرفي شي او د دولتي علماوو له ادرسه شي، بیا نو تاثیر نه لري، باید هڅه وشي چې غیر دولتي فتوی معرفي شي.

د جولای ۱۲مه ۲۰۱۸، برهان عثمان[5] ما (لیکوال) ته وویل: "الیس ویلز له کوچني اختر وروسته، د جون میاشت وروستیو کې، نږدې نیم ساعت د ټلیفون په کرښه د

---

۲ – د اسلامي نړۍ تاید د فتوی اړوند واخیستل شي.
۳ – ټول خطیبان په مساجدو کې د فتوی حمایت اعلان کړي.
۴ – د سیاسي ګوندونو مشران په نوبت سره د فتوی څخه خپل ملاتړ اعلان کړي.
۵ – په هر ولایت کې د علماوو اجماع وشي او د فتوی حمایت او تاید وکړي.
٦ – قوي رسنیز پوښښ ورکول شي او د فتوی اړوند مثبت او اړین تبلیغات د رسنیو د لارې وشي.
په فتوی کې جنګ، قتل، انتحار او اختطاف حرام او ناروا وګڼل شي، د نظام او حکومت له ادرسه نه، د نظام خبره ونه شي؛ بلکې د ملت اواز وښودل شي.
[5] عثمان برهان د کړکیچ نړیوالې ادارې Crisis Internatioanl Group سره کار کوي، او د افغانستان اړوند مسایلو باندی یادې ادارې ته راپورنه چمتو کوي. برهان عثمان په کابل کې د امریکا له سفیر جان باس سره ډیر ځله لیدلي او همدارنګه د افغانستان د سولې په تړاو یې څو ځله له الیس ویلز سره هم لیدلي، او د یادو دواړو لوړ پوړو امریکایې کسانو سره په اړیکه کې وي.
الیس ویلز د جون پر ۳۰مه کابل کې وه، او د امریکا سفارت یې د سفر اړوند لاندې اعلامیه خپره کړه:

**کابل ته د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت د معین لومړۍ مرستیالې آلېس وېلز سفر**

د سویلي او مرکزي آسیا په چارو کې د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت د معین لومړۍ مرستیاله اَلِس وېلز د جون له ۳۰مې د جولای تر لومړۍ نېټې کابل ته سفر وکړ، تر څو د افغان او نړیوالو ملګرو سره لیدنې کتنې ترسره کړي. د دغه لیدنې په ترڅ کې، هغې د افغانانو په مشرۍ او د افغانانو له خوا د سولې د بهیر او د جګړې پای ته رسولو لپاره د ابرومندانه او باشرفه لار د موندلو په برخه کې د ولسمشر اشرف غني د وړاندیز په اړه د متحده ایالاتو په دوامداره ملاتړ ټینګار وکړ. د هغې خبرې اترې په ټاکلي وخت او په باوري او رڼه توګه د پارلماني او ولسمشرۍ ټاکنو په تر سره کولو او دا ډاډ تر لاسه کولو متمرکزې وې چې افغانان وکولای شي په خوندي توګه خپلې رایې وکاروي.
د دغه سفر په ترڅ کې، د بهرنیو چارو وزارت د معین لومړۍ مرستیالې آلېس وېلز د افغانستان د ولسمشر محمد اشرف غني، اجرائیه رئیس عبدالله عبدالله، د بهرنیو چارو وزیر

طالبانو د قطر د سیاسي دفتر له مشر شیرمحمد عباس ستانکزي سره خبرې وکړي، مګر ویلز ډېره مایوسه وه، هغې ویل چې طالبانو پخوانی او تکراري خبرې کولې[٦].

الیس ویلز ویل چې په کار ده طالبان د قطر دفتر په مشرتابه کې تغیر راولي."

برهان وویل: "امریکایان چمتو دي چې له طالبانو سره کښېني، خو غواړي چې له مسؤلیت لرونکي کسانو سره کښیني، او قطر دفتر څخه مایوسه دي، که ممکن وي چې د طالبانو د رهبري شورا غړی او یا بل لوړ پوړی چارواکی له امریکایانو سره ناسته وکړي.

الیس ویلز دا هم وویل چې موږ به هره دروازه وټکوو، تر څو طالبان خبرو ته چمتو شي، دا چې سعودي عربستان کې غونډه وشوه، دلته کابل کې پرلتونه وشول او روان دي، کابل کې علماوو فتوی ورکړه، اندونیزیا کې د علماوو غونډه وشوه، دا هر څه ددې لپاره چې پر طالبانو باندي فشار راوړي چې د سولې خبرو ته کښیني[٧].

---

صلاح الدین ربانی، د ملي امنیت سلاکار محمد حنیف اتمر، د سولې د عالي شورا مشر کریم خلیلی، د ټاکنو خپلواک کمیسیون غړو او نورو افغان مشرانو سره خبرې اترې وکړې. سربېره پر دې، سفیرې وېلز د نړیوالو ملګرو سره هم وکتل، او افغانستان او سیمې ته د اوږدمهاله سولې. امنیت او ټیکاو راوستلو په هڅو کې د متحده ایالاتو او نړیوالې ټولنې د دوامداره ملاتړ په اړه بحث او خبرې اترې وکړې.

[٦] د نومبر پر ۱۹مه ۲۰۱۸، له الامارة ویبپاڼې سره مرکه کې د قطر د سیاسي دفتر ویاند سهیل شاهین ویلي: "د جون ۸مه او ۹مه ۲۰۱۸، موږ د امریکا د بهرنیو چارو وزارت له مهم پلاوي سره په دوحه کې ناسته درلودله."

[٧] د طالبانو د جګړې اړوند په اندونیزیا کې غونډه (۱۱ مئ ۲۰۱۸)، د طالبانو جګړې په ضد په کابل کې فتوی (۴ جون ۲۰۱۸) او په جده او مکه کې غونډې (۱۰ او ۱۱ جولای ۲۰۱۸) وشوې، له طالبانو وغوښتل شول چې خپله ناروا جګړه ودروي.

د حوت پر ۲٦مه ۱۳۹٦ / ۱۷ مارچ ۲۰۱۸، د کابل په حضورې چمن کې یو شمیر دولت پلوه ځوانانو د پرلت خېمه په ښکاره د پاکستان د پښتون ژغورنې تحریک (منظور پښتون) په ملاتړ ودروله، خو اصلي موخه یې دا وه چې پر طالبانو د سولې برخه کې فشار او له طالبانو وغواړي چې له افغان حکومت سره اوربند وکړي

امریکا به پاکستان باندي هم فشار راوړي او له هغوی به وغواړي چې طالبان وهڅوي چې د سولې خبرو ته کښیني."

داچې وار له مخه د قطر سیاسي دفتر اړوند ستونزې له بېلابېلو لارو د طالبانو مشرتابه ته رسیدلي وي، همدا ستونزه برهان صاحب له ضعیف صاحب سره هم شریکه کړې وه، او د برهان صاحب له څو میاشتنې مسلسل ټینګار وروسته، او باالآخره یې ما (لیکوال) ته وویل چې دا د یوه شخص د ملګرتیا [۸] خبره نه ده، د ولس خبره ده، د هیواد د راتلونکې د برخلیک ټاکلو خبره ده، نو تاسي هم باید دا مسئله جدي ونیسئ، همهغه و چې د جولای میاشت د دویمې اونۍ په نیمایي کې، یاده ستونزه ما (لیکوال) هم په تفصیل سره ځینو طالب مشرانو ته ورسوله، ټینګار مو وکړ چې ستونزه د رهبري شورا له غړو سره شریکه شي.

همدارنګه طالب مشرانو ته مو د امریکا لخوا مخامخ خبرو ته بیړه او چمتوالي په اړه ولیکل: "له امریکا سره په بیړه د مخامخ خبرو اړوند مثبت ټکي او زیانونه دواړه شته، یوه ګټه یې داده چې مخامخ کیناستل، هغه څه دي چې طالبانو غوښتل او امریکا تر دې مهاله نه منله، اوس چې امریکا مخامخ خبرو ته چمتو شوې، دا معنی چې طالب کمزوری شوی نه دی، بلکې امریکا د طالب غوښتنه ومنله، او د امریکا نظامي تګلارې کار ور نه کړ.

خو که مخامخ پټې خبرې پېل شي، دا چې دوه میاشتې وروسته به د ټرمپ د نظامي تګلارې ارزونه کیږي او د ارزونې ځینې برخې به رسنیزې کیږي، که طالبان له امریکایانو سره پټې مخامخ خبرې وکړي، دا امکان شته چې د ټرمپ تګلارې ارزونه داسي وشي چې د نظامي فشار نتیجه کې طالبان اړ شول چې خبرو ته کښیني او د ټرمپ تګلاره مثبت او کارنده وه. "

---

[۸] ما (لیکوال) به هر ځل برهان صاحب ته ویل چې له شیرمحمد عباس ستانکزي سره مې ناستې کړي، ور سره ملګرتیا لرم، نه غواړم چې د کوم ملګري شکایت وکړم، او د ملګري شکایت سم کار نه دی.

د جولای میاشتې په دربمه لسیزه کې د قطر سیاسي دفتر ته د طالبانو د رهبري شورا له خوا شیخ خالد، شیخ نورالله د ملا نورالدین ترابي په مشرۍ د یاد دفتر د ارزونې لپاره ولاړل.

د طالبانو د پلاوي لخوا د قطر سیاسي دفتر ارزونه بشپړه شوه، خو داچې هغه وخت یاد دفتر کوم ښکاره سیاسي فعالیت نه درلود، او له امریکایانو سره لا هم مخامخ خبرې جدې پړاو ته نه وي داخلې شوې، طالبانو خپل راپور رهبري شورا ته وړاندي، او د قطر سیاسي دفتر د مشرتابه د بدلون په اړه یې وړاندیز پټ وساتی.

هغه وخت چې لا هم ملا برادر اخوند د پاکستان په زندان کې و، دا خبره کېدله چې کیدای شي ملا خیرالله خیر خوا د قطر د سیاسي دفتر مشر وټاکل شي، تر څو په قطر کې د ګوانتانامو را خلاص شوې ۴ نور بندیان، او کیدای شي سید طیب اغا هم ورسره همکاري وکړي.

د نومبر ۸مه، ۲۰۱۸ ملا عبدالسلام ضعیف ما (لیکوال) او برهان عثمان ته وویل: "دا ځل مې په قطر کې ملا نورالدین ترابي او ورسره دوه نور ملګري هم ولیدل، ترابي صاحب ویل چې موږ د قطر د سیاسي دفتر اړوند خپل راپور چمتو او د طالبانو مشرتابه ته مو وړاندي کړی، ځینې وړاندیزونه مو پکې کړي، چې هغه به وخت پر وخت عملي کیږی، چې یو هم له ګوانتانامو را خلاص شوو، په قطر کې میشت ۵ کسانو اړوند و. "

ضعیف صاحب زیاته کړه: "په راتلونکي کې ممکن له همدوی (۵کسانو) څخه کوم کس د دفتر مشر هم وټاکل شي[۹]."

[۹] د امریکایې بندی پوځي بوبریګډال سره د ګوانتانامو ۵ تنه طالب بندیان (ملاخیرالله خیرخوا، ملا نورالله نوري، ملا محمد فاضل اخوند، ملا عبدالحق وثیق او حاجي محمد نبي عمري) تبادله (په ۳۱ مئ خوشي شوو، او په ۱ جون ۲۰۱۴ قطر ته ورسیدل)، له هغوی سره په لیدلو او له قطر هیواد څخه بهر ته وتلو باندي یې تر ۲۹ اکتوبر ۲۰۱۸ پوري بندیز و، کله چې هغوی د طالبانو د قطر د سیاسي دفتر غړي (۲۹ اکتوبر ۲۰۱۸) او بیا له امریکا سره د طالبانو د مذاکراتي ډلې غړي (۱۲ فبروري ۲۰۱۹) شول،

د قطر سیاسي دفتر د ارزونې د پیل کېدو سره هم مهاله، د جولای ۲۱مه او ۲۲مه ۲۰۱۸، د جنوبي او مرکزي اسیا لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړې استازې الیس ویلز هم قطر کې د طالبانو د د سیاسي دفتر له مشر عباس ستانکزي او غړو سره ولېدل. چې بیا وروسته الیس ویلز هم ځینو ډیپلوماټانو او افغانانو ته ویلي و چې عباس ستانکزی ډېر واک نه لري[10].

ملګرو ملتونو د طالبانو د مذاکراتي ډلې پر ۱۱ تنو (ملا عبدالغني برادر، شیر محمد عباس ستانکزی، ملا امیرخان متقي، ملا فاضل محمد مظلوم، ملا خیرالله خیرخوا، ملا نورالله نوري، ملا عبدالحق وثیق، مولوي ضیاء الرحمن مدني، مولوي عبدالسلام حنفي، شیخ شهاب الدین دلاور او مولوي عبداللطیف منصور) د ۹ میاشتو لپاره بندیزونه لیرې کړل.

د ملګرو متلونو لخوا په خپور شوې سند کې لیکل شوې و:" د ملګرو ملتونو د امنیت شورا کمېټې د ۲۰۱۹ کال د اپرېل د میاشتې په لومړۍ نېټه په ۱۹۸۸ نمبر پرېکړه لیک کې پر نوموړو طالب مشرانو د سفر لګول شوي بندیزونه د اپرېل له لومړۍ نېټې د روان کال ترپایه (د ډسمبر تر ۳۱ مې نېټې پورې) لغوه کوي".

دا چې د طالبانو او امریکا د سولې خبرې په سپټمبر ۲۰۱۹ کې وځنډېدې، او تر ډسمبر پورې د بنګېلو لورو ترمنځ تړون لاسلیک نه شو، له همدې امله د ملګرو ملتونو د امنیت شورا لخو پورته پریکړه تر درې نورو میاشتو (۱ جنوري ۲۰۲۰ تر ۳۰ مارچ ۲۰۲۰) پورې وغځول شوه.

[10] د نومبر پر ۱۹مه ۲۰۱۸، موږ د ناټو دفتر له غړو (ټام توماس Thomas Dominic په افغانستان کې د امریکا/ناټو قواوو عمومي قومندان جنرال سکاټ میلر نظامي سلاکار، بین د ناټو د ملکي استازي دفتر رئیس، کریسټینا د ملکي استازي دفتر د سفیر سلاکارې) سره په کابل – سرینا هوټل کې ناسته درلودله، ډاکټر فیض محمد ځلاند چې په امریکا کې له مهمو امریکایي چارواکو سره لېدلي وو، د ناټو دفتر غړو ته یې وویل: "طالبانو ۵ ځله له الیس ویلز سره لیدلې دي، هغې ته یې ویلي وو چې تر هر څه لومړی خپلې ټولې هڅې وکړه، هر هیواد ته چې ځي او هر چا سره چې ګوري، مګر زموږ ادرس معلوم دی او یوازې سیاسي دفتر د خبرو واک لري، که تاسي له نورو هیوادو سره د سولې مذاکراتو اړوند خبرې کوئ، نو هغوی ته ورشئ. طالبانو همدا خبرې زلمي خلیلزاد ته هم کړي دي."

له همدې کبله و چې امریکایانو غوښتل چې د طالبانو له ډیر او بشپړ واک لرونکو مشرانو سره وګوري.

د ډسمبر ۴مه، ۲۰۱۸، په کابل کې د ناروې هیواد سفارت کې د لورال میلر Laurel E. Miller د افغانستان او پاکستان لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت پخوانۍ ځانګړې سرپرست استازې او کابل کې د ناروې سفارت وزیر مستشار/ مرستیال سفیر پئر البرت ایلسوس Per Albert Ilsaas سره د ناستې پرمهال پئږ له ما (لیکوال) څخه پوښتنه وکړه: "څه فکر کوئ چې د طالبانو قطر سیاسي دفتر کې به بدلون راشي یا نه؟ ځکه له امریکایانو سره همدا اندیښنه شته چې عباس ستانکزی واک نه لري. او د طالبانو بېلابېل ادرسونه دي."

**مطمئن**: د طالبانو د قطر سیاسي دفتر کې د ګوانتانامو څخه را خلاص شوې ۵ کسان هم ور زیات کړل شول، دا په دې معنی ده چې د قطر دفتر واک او اهمیت زیات شي، تاسي ملا خیرالله خیرخوا پیژنئ چې د طالبانو د نظام پر مهال د کورنیو چارو وزیر او د ملامحمد عمرمجاهد نږدې ملګری و، ملا فاضل اخوند لوی درستیز و او موږ ټول یې ښه پیژنو، ملا نورالله نوري د شمال زون تنظیمه رئیس، او ملا عبدالحق وثیق د استخبارتو مرستیال مشر و، همدارنګه مولوي محمد نبي عمري د طالبانو د نظام پر مهال د ټولو سرحدې قواوو مشر و.

که چیرته د طالبانو او امریکا ترمنځ مخامخ خبرو کې پرمختګ وشي، کیدای شي چې د قطر دفتر مشرتابه کې هم بدلون راشي، او که هلته پرمختګ نه وي، نو بیا د مشرتابه بدلون ته اوس دستي اړتیا به نه وی، خو زه باوري یم چې د طالبانو او امریکا د مذاکراتو له پرمختګ سره به د قطر سیاسي دفتر مشرتابه کې هم بدلون راشي.

د جولای پر ۲۶مه ۲۰۱۸، ملا عبدالسلام ضعیف ما (لیکوال) او برهان ته وویل:"د عباس ستانکزي د بدلیدو اړوند، د طالبانو مشرتابه ویلي چې اوس خو هلته داسي مهم کار نشته، بل طیب اغا به ورڅخه نه جوړوو، که هر وخت دفتر په رسمیت وپیژندل شو، بیا به وګورو.

زموږ وړاندیز ملا محمد یعقوب اخوند دی، چې هغه به د مشر او د دفتر کې د اتفاق ساتلو د سمبول په صفت وي، او کار به ورته کاري ټیم مخکې وړي، تر څو راتلونکي کې هم د هغه تجربه زیاته او بیا د اړتیا په وخت کې اړینه استفاده ورڅخه وشي."

د جولای ۱۵مه، ۲۰۱۸، ما (لیکوال) له حاجي احمد سره د امریکا لخوا له طالبانو سره د مخامخ خبرو د لیوالتیا په اړه خبرې وکړې، او د طالبانو – امریکا د مخامخ خبرو په اړه مې خپل نظر ور سره شریک کړ، چې د شیخ هبة الله صاحب د دفتر رئیس مولوي امیرخان متقي ته یې ورسوي، د مخامخ خبرو مثبت ټکې او زیانونه مې ورته تشریح کړل، هغه ته مې وویل: "له امریکا سره د مخامخ خبرو یوه ګټه، هغه څه دي چې طالبانو غوښتل او امریکا تر دې مهاله نه منله، اوس چې امریکا مخامخ خبرو ته چمتو شوې، دا معنی چې طالب کمزوری شوی نه دی، بلکې امریکا د طالب غوښتنه ومنله، او د امریکا نظامي تګلارې کار ور نه کړ.

مګر منفي ټکی پکې داده که مخامخ پټې خبرې پیل شي، دا چې دوه میاشتې وروسته به د ټرمپ د نظامي تګلارې ارزونه کیږي او د ارزونې ځینې برخې به رسنیزې کیږي، که طالبان له امریکایانو سره پټې مخامخ خبرې وکړي، دا امکان شته چې د ټرمپ تګلارې ارزونه داسي وشي چې د نظامي فشار نتیجه کې طالبان اړ شول چې خبرو ته کښیني او د ټرمپ تګلاره مثب او کارنده وه.

د دې لپاره چې د امریکا سره د مخامخ خبرو رد ونه شي، ښه به وي چې وویل شي چې مشوره ورباندي کوو، او تر دوو میاشتو مخامخ خبرې وځنډول شي، کله چې د ټرمپ نظامي تګلاره ناکامه اعلان شي، له هغه وروسته بیا خبرې وشي، خو دا امکان هم شته چې هغه وخت بیا امریکا له مخامخ خبرو په شا شي، ښه داده چې له دې وخت څخه سمه ګټه پورته شي.

ښه داده چې له ملګرو او مشرانو سره مشوره وشي، چې د مخامخ خبرو ګټې او زیانونه پرتله شي، که ګټې یې زیاتې وي، خبرې وشي او که زیان یې زیات وي نو حوصله وشي او وځنډول شي.

مګر امریکا بیړه لري چې له طالبانو سره مخامخ خبرې وشي، په کابل کې د علماوو په نوم فتوی، په جده او مکه مکرمه کې غونډې دا هر څه د امریکا بیړه ښیې، او امریکا به د پاکستان او نورو هیوادونو څخه هم وغواړي چې په دي برخه کې له امریکا سره مرسته او پر طالبانو فشار راوړي."

پورته معلومات مې د حاجي انور سره هم شریک کړل، تر څو یې د رهبري شورا غړي او د طالبانو د سرحدونو د کمیسون مشر حاجي معاون عبدالجبار ته ورسوي، همدارنګه مې د فرهنګي کمیسون له مرستیال مشر ملا احمدالله وثیق سره هم په یاده موضوع خبرې وکړي، له هغه مې وغوښتل چې یاد مسایل له ذبیح الله مجاهد سره هم شریک کړي.

د جولای ۱٦مه، د حاجي احمد لخوا لاندي پیغام راته ورسیدی:

"السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

ستاسي پیغام مې شریک کړ او ملګري په دي باندي ډیر زیات خوشاله شول، د یادې مسئلې اړوند چې ستاسي نظر او توجه مو کړي وه، هغه مې ټول ملګرو ته وویل، د مشرانو ځواب داوو چې همدا مسئله به له مشرتابه، نظامي او سیاسي ملګرو سره شریکه کړو، غور به وکړو چې کوم ډول (مخامخ خبرې اوس یا وروسته) زموږ په ګټه دي، دا چې اوسني دریځ ته ادامه او یا ور وړاندي شو، که بیا هم مخامخ خبرې ونه شي، رسنیزه ګټه باید له دي څخه پورته شي، دا روښانه شي چې زموږ مقاومت او دریځ دادی نتیجه ورکړه، د کابل ادارې کومې هڅې او حربې چې یې پیل کړي، له ناکامي سره مخ دي."

د جولای پر۱۵مه، د نیویارک ټایمز ورځپاڼې راپور خپور کړ:"سپینې ماڼۍ پریکړه کړې، او ټرمپ لوړ پوړو ډیپلوماټانو ته امر کړی چې له طالب مشرانو سره د مخامخ خبرو له پاره اړیکې ونیسي[11]."

[11] د نیویارک ټایمز د راپور له خپریدو لږ وروسته، برهان عثمان او ما (لیکوال)، د یاد راپور په اړه د طالبانو د فرهنګي کمیسون مرستیال مشر ملا احمد الله وثیق سره خپل نظر په لاندې ډول شریک کړ:

**د امریکا لخوا د مخامخ مذاکراتو د اعلان اهمیت**

۱- دا رسمي اعلان دی، د پروسې پیل دی، او ترې پر شا کېدل به اسان نه وي: د مخامخ او دوه پر دوه خبرو لپاره د امریکا اماده ګي دا ځل د سپینې ماڼۍ څخه راغله. دا رسمي او علني اعلان دی، چې د امریکایي ادارې په پالیسۍ کې ۱۸۰ درجې بدلون ښیي ځکه دوی عملاً له نظامي تګلارې څخه پر شا شول، او سیاسي لاره یې خپله کړه. د دې اعلان اهمیت په دې کې دی چې د غیر رسمي چینل څخه نه، بلکې په رسمي توګه وړاندې شوی، داچې د بهرنیو چارو مرستیال وزیرې میرمن الیس ویلس له خولې راپور ورکول شوی، نو له دې څخه انکار یا پر شاکېدل بیا اسانه نه دي. دا رسماً د یوې مذاکراتي پروسې پیل کیدلی شي.
۲- په دغه اعلان سره د (نظآمي) فشار ستراتیژي رسماً تر شا پرېښودل شوه، او امریکا رسماً دپلوماسۍ لاره خپله کړه.
۳- په اعلان کې په واضح ټکو د بهرنیو ځواکونو د برخلیک په اړه خبرو اترو ته چمتووالی ښودل شوی دی، چې دا هم د طالبانو ډېره پخوانۍ غوښتنه ده، او د بهرنیو چارو وزیر پیمپو له خولې راپور ورکول شوی.
۴- مستقیمو مذاکراتو ته د امادګۍ ترڅنګ، امریکایي چارواکو دا هم اعلان کړه چې دوی د یو نوي سیاسي جوړښت/توافق په اړه چمتو دي، په دې معنا چې د بون پروسې پر بنسټ د جوړ شوي حکومت/دولت پرځای، به یو نوی سیستم جوړېږي چې په دې کې به ضرورتاً د طالبانو نظر هم اخیستل کیږي، او خپله به هم د پروسې په تعیین کې فعال ګډون لري.
یعني دا امکان شته چې تیر ۱۷ کلن هر څه هیر، او د نوي ادارې جوړښت اړوند د طالبانو غوښتنو په نظر کې نیولو سره د راتلونکي اړوند پریکړه او توافق وشي، لکه لومړی بون کې چې یوه کاملاً نوي اداره جوړه شوه.
**ولې نیویارک ټایمز، ولې رسمي اعلامیه نه؟** په نړیواله ډپلوماسۍ کې هرڅه په رسمي اعلامیو نه پیلېږي. ډېرځله چې چارواکي د خپل دریځ ډراماتیک غبرګون اعلانوي، مخکې له

طالبانو يې يوه ورځ وروسته په اړه مثبت غبرگون وښود. او له خپل لوري يې د سولې مخامخ خبرو ته چمتووالی وښود.

برهان عثمان چې د سولې اړوند مسايل باندي يې ژور نظر درلود، او د امريکايې لوړ پوړو ډيپلوماټانو (اليس ويلز او جان باس) سره مخامخ په اړيکه کې و، د جولای پر ۱۹مه يې ما (ليکوال) ته وويل: "امريکا مخامخ خبرې او مذاکرات نه پېلوي، بلکې غواړي چې محاوره وکړي، او نه هم په راتلونکي کې په ليکلي بڼه خبرو ته کيني. يوازې دومره کوي چې د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ خبرو پر مهال به امريکايان هم شتون ولري، تر څو د طالبانو ډاډ راشي، چې د افغان حکومت له پريکړو او ژمنو امريکايان هم ملاتړ کوي.
امريکا به له طالبانو سره په ليکلي ډول تفاهم کله هم ونه کړي، ليکلی تفاهم به د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ کيږي[۱۲]."

---

دې چې د رسمي يا مطبوعاتي غونډو يا اعلاميو له لارې يې راوباسي، رسنيو ته يې په يو ډول را باسي. لومړی، خبره په رسنيو کې د يو راپور په بڼه خپرېږي، البته د رسمي او معلومو او معتبرو سرچينو پر بنسټ. په دې توگه د اعلان له ډراماتيک-والي څخه يو څه را کمېږي، او عامه نظريات چمتو کېږي، توقعات عيارېږي.
په دغسې حالاتو کې د حکومت چارواکي له يوې معتبرې رسنۍ سره تماس نيسي، خپله خبره ورته کوي، او رسنې هم هغه د ځانگړي/ exclusive راپور په بڼه خپروي.
عموماً، له دغسې راپور څخه څو ورځې وروسته ددغسې اعلان تاييد د لوړپوړو چارواکو له خولې هم کېږي. هغوی په خبري کنفرانسونو کې په دې اړه پوښتل کېږي، او دوی په ځواب کې دغه اعلان تاييدوي، او په دې توگه دا اعلان رسماً د يوې نوې پاليسي پيلامه جوړېږي. د دې توقع کېدای شي چې د امريکا د وزارت خارجه چارواکي يا آن خپله وزير، او يا حتې ټرمپ په دې اړه وپوښتل شي، او دوی يې په اړه نور رسمي جزيات هم ورکړي. بناً، په دې ورځو کې د امريکايي چارواکو خبرې او خبري کنفرانسونه له نژدې تعقيبول پکار دي.

[۱۲] د اپريل پر ۲۶مه ۲۰۱۸، اسد وحيدي او ځينو خبريالانو، په کابل کې د امريکا سفير جان باس سره ناسته کړې وه، سفير ورته ويلي و:"موږ (امريکا) هيڅکله هم له طالبانو سره مخامخ خبرو ته نه کښينو، که موږ له طالبانو سره مخامخ خبرو ته کښينو، دا معنی چې موږ د جگړې يو اصلي اړخ يو، او دا کار نه کوو. که له طالبانو سره مخامخ خبرو ته

د امریکا لخوا په کلکه له پاکستان، سعودي عربستان او متحده عرب اماراتو غوښتل شوې وو چې طالبان له افغان حکومت سره مخامخ خبرو ته کینوي.

کله چې یادو هیوادونو له هڅو سره سره ونه شوای کولای چې طالبان له افغان حکومت سره مخامخ خبرو ته لیواله کړي، بل خوا د امریکا ډیره بیړه وه، همهغه و چې امریکا وغوښتل چې له طالبانو سره مخامخ خبرو ته کیني.

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت لخوا په لوړه کچه له پاکستان، سعودي عربستان او متحده عرب اماراتو څخه وغوښتل شول چې د بشپړ واک لرونکې طالب مشرانو سره د امریکایانو د ناستې برخه کې ورسره مرسته وکړي.

د امریکا د بهرنیو چارو مرستیال وزیرې الیس ویلس په پرله پسې ډول اسلام اباد ته خپل سفرونه وکړل، او له پاکستان څخه یې وغوښتل چې له بشپړ واک لرونکې طالبانو سره د ناستې زمینه ورته برابره کړي.

د جولای ۱ تر ۳مې ۲۰۱۸، چې کله الیس ویلز پاکستان ته تلله، پاکستان ژمنه ورسره کړې وه چې طالبان به ورسره کینوی، ولې پاکستان ونه توانېدی چې هغه مهال له الیس ویلز سره د طالبانو استازي کښینوي.

د سپټمبر پر ۵مه، ۲۰۱۸، د امریکا د بهرنیو چارو وزرات د افغانستان د سولې او بیا پخلاینې لپاره ډاکټر زلمی خلیلزاد رسماً خپل ځانګړی استازی اعلان کړ، او بیا هم د امریکا د بهرنیو چارو وزارت په ټینګار سره له پاکستانه وغوښتل چې له بشپړ واک لرونکو طالبانو سره د ناستې زمینه ورته برابره کړي.

پاکستان په مکرر ډول له طالبانو غوښتل چې الیس ویلز سره وګوري، هغه مهال طالبانو ونه منله، کله چې د افغانستان سولې برخه کې د امریکا لخوا خلیلزاد رسماً وټاکل او اعلان شو، طالبانو هم ومنله چې په اسلام اباد کې به له امریکایې لوري سره مخامخ خبرو ته کیني، خو ټینګار یې درلود چې د سولې مذاکراتو لپاره د طالبانو ادرس د قطر سیاسي دفتر دی.

---

کینو، په دي معنی چې موږ په افغانستان یرغل کړی او افغانستان مو اشغال کړی. افغان حکومت قانوني دی او طالبان باید د سولې مذاکراتو ته له افغان حکومت سره کښیني."

## د ملا اميرخان متقي او خليلزاد ناسته

**اسلام اباد**

د دې لپاره چې امريکايانو ته د لوړ پوړو او بشپړ واک لرونکو طالبانو لخوا مخامخ وويل شي چې د سولې او مذاکراتو لپاره د طالبانو ادرس په قطر کې د دوی سياسي دفتر دی، له همدې امله د اکتوبر پر ۹مه، د طالبانو د مشر شيخ هبة الله د دفتر رئيس مولوي اميرخان متقي په مشرۍ څو تنو لوړ پوړو طالبانو په اسلام اباد کې د افغانستان د سولې او بيا پخلاينې لپاره د امريکا د بهرنيو چارو وزارت ځانګړې استازي زلمي خليلزاد او په افغانستان کې د امريکا / ناټو قواوو عمومي قومندان جنرال سکاټ ميلر سره وکتل، په ناسته کې د سپينې ماڼۍ، پنټاګون او سې آی اې استازو هم ګډون درلود.

د اکتوبر پر ۱۰مه، ۲۰۱۸ طالب ملګري ما (ليکوال) ته وويل:"د اکتوبر پر ۹مه، د سې شنبې ورځ، په اسلام اباد کې د جګپوړي طالب هيئت او جګپوړي امريکايې هيئت ترمنځ ليدنه وشوه، له ډيرې مودې د پاکستان لخوا غوښتنه او فشار و چې طالبان دې د افغان حکومت له استازو سره مخامخ خبرې وکړي، طالبانو ونه منله، او بيا وروسته يې هڅه داوه چې د امريکايانو، طالبانو او افغان حکومت ترمنځ درې اړخيزه خبرې وشي، خو د طالبانو غوښتنه داوه چې يوازې له امريکايانو سره مخامخ خبرو ته کښيني، او طالبان خپل هدف ته ورسيدل.

د طالبانو د هيئت مشرې د شيخ هبة الله د دفتر رئيس مولوي اميرخان متقي کوله، د قطر سياسي دفتر څخه شيخ شهاب الدين دلاور، مولوي اسدالله حنفي او قاري دين محمد هم د هيئت غړي وو، او د پلاوي ۴ نور غړي (چې ځينې يې د رهبري شورا غړي وو) ټولو د امريکايې لوري له لوړ پوړي پلاوی سره وکتل.

د امريکا لخوا د بهرنيو چارو وزارت سولې برخه کې ځانګړی استازی زلمی خليلزاد، د سپينې ماڼې ځانګړی استازی، په افغانستان کې د امريکا/ناټو پوځيانو عمومي قومندان سکاټ ميلر، د سي آی اې رئيس او لوړ پوړي چارواکي وو، چې له طالبانو سره يې خبرې وکړی.

طالبانو دا ځل خپل لوړ پوړی هیئت ورته لیږلی و، که اوس هم پرمختګ ونه شي، او امریکا د سولې اړوند نور قدمونه را وانخلي، بیا ممکن راتلونکې کې خبرې وځنډېږي، او که امریکا را مخکې شي، نو خبرې به دوام پیدا کړي.

امریکایان ډیر ساده خلک وو، کیدای شي تفاهم ژر ورسر وشي، خو په دوی کې خلیلزاد ډیر خطرناک سړی دی، هغه پر مسایلو ډیر پوهیږي، او مسایلو ته عمیق ګوري، چې خلیلزاد په هیئت کې نه وای، بیا به ډیره ښه وای[۱۳]."

ما (لیکوال) ورته وویل: که تاسي غواړئ چې خلیلزاد دي نه وی، دا اصولي خبره ده، غوښتنه یې وکړئ چې هغه بدل شي، خو د امریکا لخوا د سولې خبرو لپاره هغه تر ٦ میاشتو ماموریت لري چې سولې برخه کې کار وکړي.

د اکتوبر ۹مه، په اسلام اباد کې افغان سفیر حضرت عمر زاخیلوال له رسنیو سره مرکه کې ویلي و:" امریکا تر بل هر وخت زیات د افغانستان سولې په قضیه کې جدي چلند کوي."

د اکتوبر ۲مه ۲۰۱۸، د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر شا محمود قریشي په واشنګټن کې د امریکا بهرنیو چارو له وزیر مایک پمپیو سره ولیدل، او د اکتوبر پر ۳مه یې وویل:"د پاکستان او امریکا د حکومتونو ترمنځ ترینګلتیا او اختلاف د افغانستان په ۱۷کلنې جګړې، ناورین او افغانستان کې له امنیت او حالت ښه کیدو سره تړلی".

له یادې ناستې وروسته، سمدستي د امریکا بهرنیو چارو وزیر پمپیو پاکستان ته سفر وکړ او د سپټمبر پر ۵مه یې له پاکستاني سیال سره ناسته درلودله، د پاکستان لپاره امریکا ومنله چې د پیسو نړیوال صندق( آی ایم ایف) څخه قرضه اخیستلای شي، کوم چې مخکې همدې پمپیو ویلي و چې دا قرضه باید پاکستان ته ورنه کول شي.

[۱۳] وروسته معلومه شوه چې خلیلزاد له طالبانو سره د جګړې پای ته رسولو تړون کې ډیر مؤثر و، او ډیره هڅه یې کوله چې تړون لاسلیک شي.

# قطر کې لومړی پړاو خبرې

له اسلام اباد وروسته زلمی خلیلزاد سعودي عربستان ته ولاړ، او له هغه ځایه قطر ته، په قطر کې یې د اکتوبر پر ۱۲مه له طالبانو سره لومړي ناسته وشوه، او دا ناستې تر ډېره د باور جوړونې او پېژندنې وي، په لومړی ناسته کې د افغانستان د سولې اړوند کوم ژور بحثونه د طالبانو او امریکایانو تر منځ ونه شول.

د نومبر پر ۲۱مه، د طالبانو د قطر د سیاسي دفتر مشر عباس ستانکزي ما (لیکوال) ته په دوحه کې وویل:"امریکا پر پاکستان هم زیات فشار راوست چې طالبان له افغان حکومت سره خبرو ته چمتو کړي، مګر موږ د پاکستان فشار ته هم اوږه ورکړه، او په ځانګړي ډول ما له پاکستان سره په دې برخه کې ښکاره دښمني وکړه، د پاکستان هر ډول غوښتنه په دې اړوند موږ رد کړه.

تر دې چې تیر ځل (۹ اکتوبر ۲۰۱۸) له خلیلزاد سره اسلام اباد کې ناستې ته هم زه ځکه نه ولاړم چې بالاخره باید بیا هم امریکایې هیئت دلته قطر ته راشي، او زموږ له سیاسي کمیسون سره خبرې وکړي، ولې د دفتر درې غړي مو ورته ولیږل.[۱۴]

پاکستان موږ ته دا هم وویل چې پر موږ د امریکا لخوا ډېر زیات فشار دی، تاسې یوازې په پاکستان کې له امریکایانو سره کښېنئ، هیڅ هم مه ورسره جوړېږئ، خو چې زموږ څخه فشار لږ کم شي، په دې برخه کې له موږ سره همکاري وکړئ، ولې موږ ونه منله چې د سیاسي کمیسون مشرتابه له امریکایانو سره په پاکستان کې کښیني.[۱۵] "

---

[۱۴] ډاکټر صالح په سبا سهار ما (لیکوال) ته وویل:"دا توافق له مخکې شوی و چې په اسلام اباد کې د امریکایانو او طالبانو له ناستې وروسته به امریکایان په قطر کې د سیاسي دفتر له مشر او غړو سره ګوري، د دې لپاره چې خبرې په قطر کې جریان ولري، د طالبانو د قطر دفتر مشر عباس ستانکزی پاکستان ته ورنغلی."

[۱۵] ډاکټر صالح په سبا سهار ما (لیکوال) ته وویل: پاکستان پرله پسې غوښتنه کوله، او طالبانو هم ورسره د دې لپاره چې پر هغوی فشار لږ کم شي، ومنله چې په پاکستان کې

عباس ستانکزي زیاته کړه، له خلیلزاد سره ناستې (اکتوبر ۱۲مه ) ښې وي، خلیلزاد راته وویل:"د امریکا د نظامي فشار تګلاره ناکامه ده، ټرمپ لیونی دی، موږ ویره لرو چې د افغانستان مسئله لا زیاته خرابه نه شي[١٦]، اړینه ده چې دا مسئله حل شي."

په قطر کې د لومړي پړاو خبرو اړوند د طالبانو ویاند مجاهد د اکتوبر پر ۱۳مه، لاندې اعلامیه خپره کړه:

## د اسلامي امارت د سیاسي دفتر مشراو اعضاوو د امریکې د مذاکراتي ټیم سره په دوحه کې وکتل

د افغانستان د اسلامي امارت، د سیاسي دفتر مذاکراتي ټیم چې په ترکیب کې یې د سیاسي دفتر رئیس محترم الحاج شیرمحمد عباس ستانکزی، د سیاسي دفتر مرستیال محترم مولوي عبدالسلام حنفي، د سیاسي دفتر اعضاء محترم شیخ شهاب الدین دلاور ، محترم قاري دین محمد حنیف ، محترم الحاج محمد زاهد احمدزی او محترم محمد سهیل شاهین شامل وو، د امریکا مذاکراتي ټیم سره چې مشرې یې د افغانستان لپاره د امریکې خاص استازي ډاکټر زلمي خلیلزاد کوله، د روان میلادي کال د ااکتوبر په ۱۲مه نیټه په دوحه کې وکتل او د اشغال په خاتمه او د افغانستان د مسئلې په سوله ایزحل یې خبرې وکړې. د اسلامي امارت استازو د مشکلاتو د حل او واقعي امن په راتلو کې د خارجي ځواکونو موجودیت لوی خنډ وباله او زیاته یې کړه چې افغانستان یو اسلامي هیواد دی، خپل اسلامي ارزښتونه او ثقافت لري، د هغو په پام کې نیولو سره دې د واقعي او افغان شموله حل لپاره هڅې وشي. په پای کې دواړو لوریو موافقه وکړه چې خپلو غونډو ته به په راتلونکې کې دوام ورکوي.

---

ناسته وشي، خو دا توافق شوی وو چې اصلي خبرې به په قطر کې جریان پیدا کوي، او د اسلام اباد ناسته به نه رسنیزه کیږي.

[١٦] د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ډیری ډیپلوماټان په دې اړه اندیښنه لري چې داسې نه وي چې یو ناڅاپه ولسمشر ټرمپ د امریکایې پوځیانو د وتلو اعلان وکړي، او یا خو همداسې د پوځیانو د وتلو اړوند ټویټ وکړي.

له دي لېدنې وروسته، د خليلزاد په غوښتنه، د پاکستان له زندان څخه ملا برادر اخوند د اکتوبر پر ۲۴مه خوشی شو، او د اکتوبر پر ۲۵مه، د طالبانو ویاند ذبیح الله مجاهد ولیکل:

## د محترم الحاج ملا عبدالغني برادر د راخلاصیدو په اړه د اسلامي امارت اعلامیه

په خوښۍ سره باید ووایو چې د اسلامي امارت پخوانی مرستیال محترم الحاج ملا عبدالغني برادر چې له تیرو نهو کلونو څخه په پاکستان هېواد کې بندي و، له زندان څخه را خلاص شو.

اسلامي امارت د دغې لویې لاسته راوړنې په اړه خپل ټول ملت، مجاهدینو او مخلصینو ته مبارکي وايي، او الحاج ملا برادر اخوند ته اوږد عمر او د دین د ښه خدمت کولو توفیق غواړي.

واقعاً چې د اسلامي امارت په مشرانو باندې د مبارزې او جهاد په جریان کې خورا ستر امتحانونه او تکلیفونه راغلي، خو داچې ثابت قدمه پاتې شوي، صبر یې کړی او هر تکلیف یې د الله تعالی د رضا لپاره او د خپل هیواد د ازادۍ په منظور منلی دی، د افتخار وړ خبره ده، له الله تعالی څخه خپلو مشرانو، مجاهدینو او هیوادوالو ته نور له مصیبتونو څخه د بشپړ خلاصون غوښتنه کوو، الله رب العزت مو دې د هېواد استقلال او د اسلامي نظام حاکمیت په نصیب کړي.

د ټولو مسلمانانو د خوشحالۍ په خاطر دا یادونه ضروري بولو چې د محترم ملا برادر اخوند صحت ښه دی او بله داچې د هغه د خلاصون په سلسله کې هیڅ راز معامله او واسطه نه ده رامنځ ته شوې، یواځې د خپل مظلوم ملت دعاګانې او د لوی الله نصرت او رحمت یې د خلاصون ذریعه ده.

## له ګوانتانامو پنځه ازاد شوې بندیان د قطر سیاسي دفتر غړي وټاکل شول

د اکتوبر پر ۲۹مه، ۲۰۱۸، د طالبانو ویاند ذبیح الله مجاهد ولیکل چې د ګوانتانامو څخه ۵ ازاد شوې مشران "ملا محمد فاضل مظلوم، ملا نورالله نوري، ملا عبدالحق وثیق،ملا خیرالله خیر خواه او مولوي محمدنبي عمري" د قطر د سیاسي د فتر غړي ټاکل شوي.

د نومبر ۸مه، ۲۰۱۸ ملا عبدالسلام ضعیف ما (لیکوال) او برهان عثمان ته وویل:"قطر هیواد هم د ګوانتانامو د ۵ بندیانو د خلاصون اړوند چې له امریکا سره کوم تړون درلود، هغه یو کال و، او پوره شوی و، خو لا هم دا ۵ کسانو ازادي نه درلودله، قطریان هم ورسره تکلیف کې وو، ځکه هغوی ویل چې زموږ ولس پر موږ بې اعتماده کیږي، دا خو ښه مسلمانان دي، مګر داچې موږ د دوی څارنه کوو، نو ولس به دا فکر کوي چې دا کار د امریکا لپاره او د امریکا په خوښه کوي.

بل داچې کوم کسان موږ د څارنې لپاره د همدې ۵ کسانو لپاره ګمارلي، همدا ۵ کسان هم ځان ازاد نه احساسوي[17]، او ازادي د دوی حق ده، بل دا څارونکي کسان به هم دا فکر کوي چې دا هر څه قطر د امریکا لپاره کوي.

له همدې کبله قطریانو، امریکا ته د دوی اړوند بېلابېل وړاندیزونه (پروپوزل) وړاندي کړي وو، چې یو دا هم و چې همدا کسان په قطر کې د طالبانو د سیاسي دفتر غړي شي.

[17] د قطر هیواد لخوا هر یوه ته یو موټر چلونکی ټاکل شوی و، چې هغه به د قطر هیواد استخباراتو ته د دوی د ګرځېدو او لېدونو په اړه راپور ورکاوه. له همدې امله له ګوانتانامو څخه ازادو شوو ۵ بندیانو په ازادانه ډول له خلکو سره نه شوای کتلای، همدارنګه له دوحې ښار څخه د باندي وتلو کې یې هم ډېر احتیاط کاوه.

## قطر کې دوېيم پړاو خبرې

زه (ليکوال) او برهان عثمان دوحې ته د طالب مشرانو د لېدلو لپاره ورغلي وو، لومړی ورځ د طالبانو د قطر د سياسي دفتر مشر ښاغلي عباس ستانکزي سره (مازيگر ۴ بجې تر ماخوستن ۸ بجې، ۲۱ نومبر ۲۰۱۸، په رتاج الريان هوټل کې زما لېدنه وشوه، طالب مشر ښاغلی عباس ستانکزی تازه د ماسکو له غونډې (۹ نومبر ۲۰۱۸) را ستون شوی و[۱۸]، همدارنگه تازه يې (۱۴، ۱۵ او ۱٦م نومبر ۲۰۱۸) په دوحه کې د افغانستان د سولې لپاره د متحده ايالاتو ځانگړي استازي سفير زلمي خليلزاد سره لېدنې شوې وي. د طالبانو د قطر دفتر غړی ډاکټر صالح هم په ناسته کې گډون درلود.

د دوېيم پړاو د سولې مذاکراتو کې د گوانتانامو څخه را خلاص شوې ۵ بنديانو له جملې دوو يې (د طالبانو د نظام پر مهال د پوځ لوی درستيز ملامحمد فاضل اخوند او د هغه وخت د کورنيو چارو وزير ملا خيرالله خيرخوا) په يادو خبرو کې گډون درلود.

---

[۱۸] د نومبر پر ۹مه ۲۰۱۸، ماسکو کې د افغانستان کشالې د حل په موخه غونډه وشوه، لومړی ځل و چې د ملگرو ملتونو د امنيت شورا دريو دايمې غړو هيوادو (ماسکو، چين او امريکا) استازو يکې گډون درلود.  د ماسکو د بهرنيو چارو وزير، د چين د بهرنيو چارو وزارت لوړی پوړی ډيپلومات ډينگ جون او په ماسکو کې د امريکا سفارت ډيپلومات، همدارنگه د ازبکستان، تاجکستان، قزاکستان، قرغزستان، د هند دوه پخواني سفيران، پاکستان، ايران او  ځينو نورو هيوادو، ټول ټال د ۱۲ هيوادو استادزو په غونډه کې گډون درلود. د طالبانو لخوا د شيرمحمد عباس په مشرې ۵ تنو (ملا عبدالسلام حنفي، مولوي شهاب الدين دلاور، مولوي ضياء الرحمن مدني او سهيل شاهين)  په غونډه کې گډون درلود.

له کابل څخه د سولې شورا د مرستيال مشر حاجي دين محمد په مشرې ۴ تنو (مولوي عطاء الله سليم، مولوي عبدالخبير اُچقون او حبيبه ثرابې) په غونډه کې شرکت کړی وو، همدارنگه په ماسکو کې د افغانستان سفير قيوم کوچی هم د غونډې برخوال و.

**عباس ستانکزی** وویل: له ۲۰۱۵ ز کال راپه دېخوا، د اوباما د ولسمشرۍ له وخته زموږ او امریکایانو تر منځ ناستو جریان درلود، لومړي وخت کې د ریچارډ اولسن Richard Gustave Olson په نوم ، بیا د لورال میلر Laurel Miller په نوم د بهرنیو چارو مرستیال وزیرې او له هغې وروسته د امریکا د بهرنیو چارو مرستیال وزیرې الیس ویلز Alice Wills، اوس دا دی له خلیلزاد سره ناستې کوو[19].

له خلیلزاد سره په ناسته کې مو د قطر دفتر رسمیت پېژندلو، له تورلسټ څخه په لومړي ځل د طالبانو د مذاکره کوونکي ټیم او بیا نورو طالب مشرانو نومونه لیرې کېدل او دا رنګه د بندیانو خلاصون او تبادلې اړوند بحثونه درلودل.

د خلیلزاد نظر داوو چې که دفتر په رسمیت پېژندل کیږي باید افغان حکومت ته وړاندیز وشي، او هغوی یې تاید کړي، موږ دا خبره ور سره ونه منله.

له تورلسټ څخه د طالبانو د مذاکره کوونکي ټیم نومونه ایستلو اړوند هم خلیلزاد ویل چې افغان حکومت باید غوښتنه وکړي، او تاسي له افغان حکومت سره په دې اړه بحث وکړئ، دا لویه پروسه ده، افغان حکومت به یې نړیوالې ټولنې ته وړاندیز کوي، او بیا به نومونه له تورلسټ څخه ایستل کیږي. چې موږ بیا هم د خلیلزاد دا ډول وړاندیز رد کړ.

د بندیانو د تبادلې اړوند چې له طالبانو سره دوه تنه د افغان – امریکایې پوهنتون استادان بندیان دي، خلیلزاد ویل چې تاسي بیګناه کسان بندیان کړي، هغوی نظامي

---

[19] ریچارډ اولسن د بارک اوباما په وخت کې د افغانستان او پاکستان لپاره د امریکا ځانګړی استازی (۱۷ نومبر ۲۰۱۵ تر ۱۷ نومبر ۲۰۱۶) و، له ده وروسته همدا دنده لورال میلر مخکې وړله. میلر د ۲۰۱۳ له نیمایې بیا د ۲۰۱۷ تر نیمایې، لومړي وخت کې د افغانستان او پاکستان لپاره د امریکا د ولسمشر د ځانګړي استازي مرستیاله او بیا وروسته د ولسمشر ځانګړې استازې وه.

الیس ویلز د جون ۲۶مه ۲۰۱۷، د ولسمشر ټرمپ لخوا د جنوبي او مرکزي اسیا لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړي استازې په دنده وګمارل شوه.

خلک نه دي، ملکی کسان دي، موږ ورته وویل چې انس حقاني هم طالب العلم و، هغه نظامي کس نه و چې امریکا ونیوی او بندي یې کړ.

بیا هم خلیلزاد ویل چې د همدې بندیانو د تبادلې اړوند مذاکرات باید له افغان حکومت سره وشي، ځکه انس حقاني او ورسره نور طالبان له افغان حکومت سره بندیان دي، هغوی له امریکا سره نه دي بندیان. موږ دا خبره ور سره ونه منله.

د اوباما د حکومت پر مهال موږ له امریکا سره ډېر پر مخ ولاړو، ۱۴ مادو کې مقدماتي تګلاره ترتیب شوه، چې د قطر دفتر خلاصیدل، د طالبانو او امریکا مخامخ خبرې پیل کېدل او دواړه لوري به په ذمه واري خبرې کوي او تضمین به شتون ولري، مګر بیا هم هغه وخت خبرې ناکامه شوي، او حامد کرزي په قطر کې د طالبانو لپاره د دفتر د خلاصیدو سره مخالفت وکړ[٢٠].

که ډاکټر غني هم د بهرنیو ځواکونو د وتلو اعلان وکړي، پر سبا یې ورسره خبرې پیل کوو.

امریکایانو ویل چې په قطر کې د طالبانو د دفتر خلاصیدو سره هم مهاله تاسي له افغان حکومت سره خبرې پیل کړئ، ولي موږ ورته ویل چې موږ د امریکا اړوند خبرې له امریکا سره کوو او د افغانانو اړوند خبرې په خپل وخت کې له هغوی سره کوو.

---

[٢٠] د جون میاشتي پر ۱۸مه ۲۰۱۳ ز. کال په قطر کې د دوحې ښار کې د مازیګر پر ٦:٣٠ بجو د طالبانو سیاسي دفتر د یو لړ مراسمو په ترڅ کې په رسمې ټول پرانستل شو. په ویډیو کې ښکاریدل چې طالبانوخپل سپن بیرغ د دفتر په دننه کې اوچت کړ، او دا ډول د سیاسي دفتر لپاره ځانګړې لوحه یې هم د دفتر په مخ کې نصب کړه.
ولسمشرحامد کرزي له دي کبله د یاد دفتر مخالفت وکړ چې د موازي سفارت حثیث لري، او د افغانستان سفارت په قطر کې وجود لري. هغه وویل چې د طالبانو بیرغ او د اسلامي امارت په نوم لوحه په قطر کې طالبانو ته د رسمیت پېژندلو په معنی ده، شدید مخالفت یې وکړ، او بالاخره یاد دفتر له یوې ورځي وروسته وتړل شو.

له تورلسټ څخه د طالب مشرانو د نومونو لیرې کېدل، د امریکایې پوځیانو له وتلو وروسته په افغانستان کې د راتلونکې اړوند د امریکا رول، د بهرنیو پوځیانو د وتلو د مهال ویش د اعلان نیته او تضمین اړوند خبرې باید مخامخ له امریکا سره وشي.

کله چې په ځینو مواردو د امریکا او طالبانو تر منځ توافق وشي، په کار ده چې ملګري ملتونه، د ملګرو ملتونو امنیت شورا، اسلامي کانفرنس او هم بل مهم ارګان د تعقیب اړوند یې تضمین او پر توافقاتو نظارت وکړي، که کوم لوري سرغړونه کوله، پر هغوی فشار راوستل شي، تر څو هوکړه عملي شي.

د اوباما د حکومت پر مهال امریکایانو ویل چې موږ خپل پوځیان له افغانستان څخه باسو، خو تاسي (طالبان) له افغان حکومت سره خبرو ته کښینئ او بیا په ګډه تاسي (طالبان او حکومت) د امریکایانو د وتلو غوښتنه وکړئ، موږ به خپل پوځیان وباسو.

امریکا غوښتل چې په دي ډول لاندي درې هدفه تر لاسه کړي.

۱ – د خپل شتون لپاره بهانه پیدا کړي.

۲ – کابل حکومت به له طالبانو سره د مذاکراتو شرایط سخت کړي، چې جوړ جاړی ونه شي.

۳ – امریکایان به نړۍ ته ووایې چې دا جګړه د افغانانو خپل منځې ستونزه وه، موږ یرغل نه دی کړی، بلکې د دوی ترمنځ د ستونزو د حل په موخه همدلته راغلي وو او همدلته پاتې یو.

له کابل ادارې سره موږ ځکه نه شو جوړیدای چې هغوی د امریکایې پوځیانو وتل نه غواړي، جګړه به دوام پیدا کوي.

موږ امریکایانو ته وویل چې په کوم شکل امریکایې پوځیان افغانستان ته راغلي، په هغه ډول باید زموږ له هیواده ووځي، مګر د مهالویش له مخې په باعزته ډول وتل یې موږ منو.

داچې تاسي وایاست چې لومړی باید مسایل له کابل ادارې سره حل شي او له هغوی سره مذاکرات وشي، او تاسي د کابل حکومت کې مداخله نه کوئ، نو بیا په

کار ده چې تاسي د طالبانو د مشرانو نومونه له خپلو او ټولو نړیوالو تورلستونو څخه وباسئ، پر طالب مشرانو اعلان شوې جایزې لغوه اعلان کړئ.

موږ پوهیدلو چې امریکایان دا کار نه کوي، د دې لپاره چې د دوی دا بهانه ختمه شي چې له افغان حکومت سره دي طالبان خبرې وکړي، او حکومت د خبرو واک او صلاحیت لري، موږ همدا شرایط امریکایانو ته وړاندي کړل، او امریکایانو ته یې منل گران کار وو.

امریکایانو ویل چې مرحله وار به د طالب مشرانو نومونه له تور لست څخه لیري کړو، لومړی د مذاکراتي ټیم او بیا کرار کرار نور نومونه لیري کولای شو، خو په یو ځل د ټولو طالبانو نومونه له تورلست څخه لیري کېدل مشکل کار دی. موږ (طالبانو) پر دې خبره ټینگار درلود چې ټول نومونه به په یو ځل له تورلست څخه لیري کیږي، نو بیا لورال میلر وویل چې په دې کې خو د سراج الدین حقاني نوم هم دی[21]، د هغه نوم له تورلست څخه لیري کولو په اړه موږ تصور هم نه شو کولای.

له لورال میلر سره موږ دوې نورې ناستې هم درلودلې، هغې ډیرې جدي او له لوړه ځایه خبرې کولې، د امریکا د نظامي زور او فشار خبرې به یې کولې، بالاخره له هغې سره زموږ ناستو نتیجه نه درلوده.

د ټرمپ د حکومت پر مهال الیس ویلز د خبرو لپاره دوحې ته راغله، هغه ډیره بد اخلاقه میرمن وه، هیڅ د مجلس اداب یې نه مراعت کول، لومړی ناسته خو یوازې د پېژندگلوي ناسته وه، دوېمه ناسته کې هغې بې ځایه الزامات پر طالبانو لگول.

هغې ویل چې تاسي (طالبان) اختطاف کوونکي یاست، د امریکایې – افغان پوهنتون استادان چې ملکي خلک دي، نظامي کسان نه دي، له کابل څخه مو اختطاف کړي دي، تاسي خلک تښتوئ، همدارنگه تاسي یوه کورنۍ (امریکایې

---

[21] سراج الدین حقاني د حقاني شبکې د بنسټ ایښودونکي جلال الدین حقاني زوی ، د حقاني شبکې اوسنی مشر او د طالبانو د مشر شیخ هبة الله لومړی مرستیال دی.

میرمن او کاناډايي سړی) اختطاف کړي (چې د طالبانو سره په زندان کې يې دوه ماشومان هم پيدا شوي وو).

ويلز ته موږ وويل: تاسي هره شپه په افغانستان کې بې گناه خلک وژنئ، اختطاف کوئ يې، کورنيو ته يې په زور ننوځئ، ځينې پکې وژنې او ځينې تښتوئ، انس حقاني او ورسره ملگری حافظ عبدالرشيد هم بې گناه طالب العلم وو، مگر تاسي له عربي هيواده اختطاف کړل[۲۲].

له اليس ويلز سره موږ درې ناستې درلودلې، ټولې ناستې بې خونده او بې نتيجې وې، يوازې الزامات وو، اصلي خبره يې دا وه چې طالبان دې له کابل ادارې سره خبرې وکړي، که دا کار تاسي ونه کړئ موږ به د پاکستان له لوري پر تاسي "طالبانو" فشار زيات کړو، او تاسي به مجبوره کړو چې له افغان حکومت سره خبرو ته کښينئ، همدا رنگه د ټرمپ د نظامي تگلارې او د امريکا د زور او فشار خبرې يې کولې.

ويلز ته ما (ستانکزي) وويل: ستا ژبه نظامي ده، سياسي ژبه نه لري، د پاکستان لخوا د فشار خبرې کوئ، همدا ستاسي دريځ دی، بيا وروسته امريکايي جنرالانو پر طالبانو د مذهبي، نظامي او اقتصادي فشار اړوند څرگندونې وکړې، همدارنگه د قطر دفتر د بنديدو خبرې هم هغه وخت کابل ادارې او رسنيو کولې.

ستانکزي زياته کړه: اروپايي هيوادونه له افغان جگړې سترې ښکارې، سولې ته رسيدو لپاره ممکن ۶ مياشتي وخت دوی ټاکلی وي، او دا ويره به هم لري چې

---

[۲۲] د بحرين هوايي ډگر کې د امريکا لخوا بې وسلې انس حقاني او حافظ عبدالرشيد د ۲۰۱۴ز. کال د اکتوبر مياشت کې ونيول شوو، دوحې ته يوړل شول، او له هغه ځايه باگرام زندان ته راوستل شول. په مقابل کې يې د حقاني شبکې لخوا د امريکايي پوهنتون دوه استادان "ټيموتي جان ويکس او کيون کېن" د ۲۰۱۶ز. کال د اگسټ په مياشت کې له کابل څخه وتښتول شوو.

د افغان – امريکايي پوهنتون دوو استادانو او کاناډايي کورنۍ اړوند تفصيل وروسته راځي.

داسي نه وي چې يو ناڅاپه د ټرمپ لخوا د امريکايې پوځيانو د وتلو اعلان وشي. له خبرو او رسنيو د راپورونو خو همداسي ښکاري.

په عجله د امريکايې پوځيانو وتل تاوان کوي، بايد پر دي غور وشي، له تور لسټ څخه د طالبانو نومونه ليري او د بهرنيو ځواکونو د وتلو مهالويش وټاکل شي. له خليلزاد سره اصلي موضوع همدا وه چې تير ځل مو ورسره خبرې وشوې.

دا ځل درې ورځې (۱۴، ۱۵ او ۱٦م نومبر ۲۰۱۸) له خليلزاد سره ناستو کې اصلي موضوع د امريکايې پوځيانو د وتلو وه، له دوی (امريکايانو) سره دا انديښنه وه چې په راتلونکي کې بياځل افغانستان د امريکا خلاف ونه کارول شي[۲۳].

---

[۲۳] په دوحه کې له طالبانو سره تر ليدنې مخکې او وروسته، خليزاد کابل ته راغی، په کابل کې د امريکا سفارت يې په اړوند لاندې اعلامې خپرې کړې:

**د افغانستان د ملي پخلاينې لپاره د متحده ايالاتو ځانګړي استازي کابل ته سفر وکړ**

د افغانستان د ملي پخلاينې لپاره د متحده ايالاتو ځانګړي استازي، سفير زلمي خليل‌زاد د نومبر د ۱۰مې څخه تر ۱۲مې نېټې پورې کابل ته سفر وکړ. د دغه سفر په ترڅ کې ځانګړي استازي زلمي خليل‌زاد د حکومت د ننه او بهر په افغانستان کې د ښکېلو شخصيتونو سره وکتل. هغه د ولسمشر غني، اجرائيه رئيس عبدالله او نورو حکومتي چارواکو، د بېلابېلو سياسي ډلو د استازو  او د سولې د عالي شورا د غړو سره خبرې اترې وکړې. په دغو ليدنو کتنو کې ځانګړي استازي زلمي خليل‌زاد د افغانانو تر منځ د مذاکراتو څخه چې د جګړې د ختمولو لپاره اړين دي، د متحده ايالاتو د دولت په ملاتړ ټينګار وکړ.

**کابل ته د ځانګړي استازي خليلزاد سفر**

د افغانستان د سولې لپاره د متحده ايالاتو ځانګړی استازی زلمی خليلزاد د نومبر د ۱۷مې څخه تر ۱۹مې نېټې پورې کابل ته راستون شو تر څو ولسمشر غني او نورو چارواکو ته د خپلو ليدنو کتنو مالومات ورکړي چې په دې وروستيو کې يې په افغانستان کې د سولې د ټينګښت لپاره د بېلابېلو ښکېلو خواوو سره ترسره کړې وې.

د دغه سفر په ترڅ کې ځانګړي استازي خليلزاد د افغانستان په مدني ټولنه او سوله کې د فعالو کسانو، د رسنيو د غړو او نورو مهمو حکومتي او ناحکومتي چارواکو سره وکتل. د دغو کتنو په بهير کې سفير زلمي خليلزاد ټينګار وکړ چې په افغانستان کې د تلپاتې سولې

د لنډ مهاله حکومت اړوند د رسنیو خبرونه سم نه وو، یوازې اوازه وه، په دې اړه خبرې نه دي شوې، ځینو به په لوی لاس همدې خبرې ته هواء ورکړې وي، ډاکټر غني د سولې مخالف دی، هغه ولسمشرۍ ټاکنې کېدل غواړي، او امریکا بیا دغه ډول ټاکنې لانجه ګڼي، ټاکنې مصارف غواړي، که مصارف هم وشي او ټاکنې هم وشي، بیا به هغه حکومت خپله ټاکلې موده پوره کېدل غواړي، دا لویه ستونزه ده.

د موقت حکومت اوازه ممکن د ډاکټر غني د ادراې لخوا وي، تر څو د سولې خبرې تخریب کړي، او ممکن چې د کابل د امنیت ادارې لخوا همدا اوازه خپره شوې وي، تر څو له طالب جنګیالیو سره تشویش پیدا شي چې طالبانو له امریکا سره پر موقت حکومت هوکړه کړې او هغوی به جګړې کولو کې زړه نا زړه شي. دا هم امکان لري چې امریکایانو همدا اوازه خپره کړې وي، مګر قطعاً همدا د موقت حکومت خبره زموږ په ناستو کې یاده شوې هم نه ده.

**مطمئن**: د امریکا پخواني مرستیال دفاع وزیر ډیویډ سیډني او جنرال میلر له سلاکار ټام سره ما (لیکوال) په کابل کې لیدنې درلودلې، ما (لیکوال) له ستانکزي سره د خلیلزاد او سیډني David Sedney لخوا د امریکایې – افغان پوهنتون د استادانو د خلاصون اړوند معلومات شریک کړل.[٢٤]

د اکتوبر پر ۲۶مه ۲۰۱۸، ما (لیکوال) په هرات کې سیډني ولید، هغه په دې نظر و چې ممکن د افغان امریکایې پوهنتون استادان پرته له دې چې انس حقاني خوشی شي، طالبان یې پر سر له امریکا سره معامله وکړي او هغوی به پرېږدي.

د ټینګښت په موخه باید د ټولو افغانانو اندونه په پام کې ونیول شي. سفیر خلیلزاد وویل: ”سوله د هر افغان هیله ده. متحده ایالات غواړي د افغانانو سره دغې موخې ته د رسېدو په چاره کې مرسته وکړي چې خورا ارزښتمنه ګڼل کېږي. په افغانستان کې د جګړې ځلوېښت کاله کېږي. افغانان د سولې وړ دي. مونږ غواړو دغې موخې ته د رسېدو په برخه کې د افغانانو همکاران واوسو“.

[٢٤] د یادو ناستو بشپړ معلومات (له بهرنیانو سره ناستې) کتاب کې شتون لري.

د اکتوبر پر ۲۲مه، ډاکټر ځلاند ما (لیکوال) ته وویل چې د اکتوبر پر ۲۰مه مې له رابن رافیل سره په کابل سرینا هوټل کې ولېدل، هغې وویل:" امریکا غوښتل چې د امریکایې بندیانو او انس حقاني تبادله وشي، خو افغان حکومت امریکا ته وویل چې که انس حقاني له بند څخه خوشی شي نو پر کابل به د حقاني ډلې بریدونه بیا زور واخلي، اوس چې کله هم په کابل لوی برید وشي، موږ پر حقاني ډلې د فشار لپاره انس حقاني کارو، اوازونه را وچتو چې انس حقاني دي اعدام شي، هممغه ده چې د حقاني ډله بیا ارامه شي، او که انس حقاني طالبانو ته وسپارل شي، نو دحقاني ډلې بریدونه به ډېر زور واخلي."

**ستانکزی**: موږ خلیلزاد او امریکایانو ته ډېر ښکاره ویلي چې موږ چمتو یو چې د بندیانو تبادله وکړو، د امریکایي میرمنې او کاناډایې سړي کورنۍ اړوند له موږ سره غدر وشو[25]، بیا ځل نه غواړو چې دغه ډول معامله تکرار شي، موږ ورته ویلي چې انس حقاني یې باید په مقابل کې را خوشی شي، خو دوی بیا هم وایې چې دا "د پوهنتون استادان" ملکي کسان دي، تاسي یې باید د بشر د حقونو له امله پرته له تبادلې خوشي کړئ، موږ ورته وایو چې انس حقاني شاگرد دی، او هغه هم ملکی کس دی چې تاسي بندي کړی دی.

[25] کاناډایې خاوند جاشوا بویل Joshua Boyle او امریکایې میرمن یې کیټلین کولمن Caitlan Coleman بیا وروسته د پاکستان لخوا د غدر په نتیجه کې پرته له دي چې د طالبانو بندیان خلاص شي، امریکایانو ته په لاس ورکول شول، دغه وړه کورنۍ "له خپلو درو ماشومانو سره" طالبانو د کوهاټ له لارې څخه کونړ ته انتقالوله چې د اکتوبر ۱۱مه ۲۰۱۷، د کُرمې اجنسي په قبایلې سیمه کې د پاکستاني پوځیانو لخوا د وسلوالو له منگولو خلاصه شوله. دواړه په اکتوبر ۲۰۱۲ کې تښتول شوې، او د زندان پر مهال یې څلور اولادونه هم شوې وو، چې یو یې د ولادت پر مهال مړ شوی و.
د اپریل ۲۲مه او د مئ پر ۲۱مه ۲۰۲۰، د امریکا د ایف بي آی لخوا اعلان وشو، که چا د خلاص شوو "کاناډایې او امریکایې" د تښتونکو په اړه معلومات ورکړل، تر یو میلیون ډالرو جایزه به ورکړي.

موږ د ۱۲ کسانو لسټ ورته ورکړی، خو امریکایان وایې چې د تبادلې خبره باید له افغان حکومت سره وشي، موږ په دي کې کار نه لرو، تاسي د تبادلې مسئله له حکومت سره حل کړئ.

موږ د قطري چارواکو له لاري ډاکټر غني ته پیغام واستاوی چې د بندیانو تبادله وشي، ډاکټر غني هغوی ته ویلي و چې دا د امریکا او طالبانو تر منځ خبره ده، زه اوس مهال هیڅ پکې نه شم کولای، که کله هم د طالبانو مذاکرات له حکومت سره پیل شول، بیا به دا خبره ورسره مخکې وړو.

خلیلزاد ته ما (ستانکزي) وویل: همدا نن تاسي د بندیانو د تبادلې موافقه وکړئ، سبا به د امریکا – افغان پوهنتون استادان درته وسپارو، مګر ستونزه په دوی کې ده، دا چې د یوه استاد د مریضي خبره دوی (امریکایان) کوي، هغه مریض دی، خو دومره د اندیښنې وړ مریضي یې هم نه ده.

خلیفه صاحب "سراج الدین حقاني" له اخوندزاده صاحب "شیخ هبة الله صاحب" څخه اجازه اخیستي چې د انس حقاني د خلاصون اړوند هره لاره چې وي، په کار یې یوسي. امریکایانو هم د پوهنتون د دوو استادانو د خلاصون لپاره له هرې ممکنه لارې ګټه پورته کړي، د شپې چاپې او هر ځای پلټنې یې کوي، او د امریکا او کابل استخبارات بوخت دي چې د هغوی ځای پیدا کړي[۲۶].

[۲۶] د مارچ لومړۍ ورځ ۲۰۲۰، استرلیایي ټیموتي جان ویکس ما (لیکوال) او ځلاند ته په دوحه کې وویل:" له طالبانو سره د بند پر مهال، وروستۍ درې میاشتې ډیرې سختې وي، موږ د شپې لخوا څکه خوب نه کاوه، طالبانو د ګډونو ځواکونو د شپنیو چاپو د ویرې له امله موږ نږدې ټوله شپه ګرځولو، کله یو ځای او کله به یې بل ځای ته وړلو، د چورلکو غورهار به موږ اورید، دا ډیر سخت وخت و، او ټوله شپه به مو رڼه تیروله، خو د ورځې به مو خوب کاوه."

**مطمئن**: ځينې اوازې دي او رابن رافيل هم په خپله ليکلنه کې ويلي و چې طالبان په لږ اندازه په افغانستان کې د امريکا په پوځي شتون باندي راضي دي[۲۷].

**عباس ستانکزی**: د مذاکراتو پر مهال امريکايانو موږ تشويق کړي يو چې مرحله په مرحله د امريکايي پوځيانو د وتلو سره توافق وکړو، ولي موږ د بشپړ وتلو خبره ورته کړې، چې اشغال په بشپړ ډول ختم او يو عسکر هم په افغانستان کې پاتې نه شي. موږ دا ورته ويلي چې ستاسي تر بشپړ وتلو وروسته که کومه اداره په افغانستان کې منځته راځي، هغه به ازاده او خپلواکه اداره وي، دا بيا د هغوی دنده ده چې د پوځيانو اړوند څه ډول معامله کوي، تر نورو تاسي امريکايان ښه ياست.

امريکايانو ويل که زموږ پوځيان له افغانستان څخه ووځي، بيا به له تاسي سره اقتصادي مرسته څوک کوي، تاسي به له ګاونډيانو سره خپلې ستونزې څه ډول حل کوئ، او اردو ته به مو معاش له کومه کوئ.

موږ امريکايانو ته وويل: اوس هم ستاسي په شتون کې په ختيځ شمال کې موږ له خپلو ګاونډيو هيوادو سره ستونزې لرو، هغوی د افغانستان پر خاوره توغندي ولي، مګر تاسي څه کړي؟ ستاسي سره تړون د فشار په نتيجه کې به کومه معنی ولري، ولي که راتلونکې کې ازاد حکومت وي، او په خپلواک ډول پرته له فشار څخه تړون وشي، دا نو د هغه وخت د حکومت دنده ده چې څه ډول تړون غواړي، کوي يې يا نه؟

[۲۷] د افغان سولې اړوند تر ټولو منفي راپور د اګسټ پر ۲مه ۲۰۱۸، د ډيلي بيسټ راپور و، چې د ميرمن رافيل او کولينډا له خولې ويل شوې وو چې طالبان به په مشروط ډول د بهرنيو پوځيانو له شتون سره هوکړه وکړي.

امريکايي رسنيو هم ليکل چې امريکايان خپل هدف ته ورسېدل، طالبان د جګړې د شدت له امله چمتو شوې چې د بهرنيو پوځيانو حد اقل يوه اډه ومني.

د رابن رافيل او کولينډا د ليکني په جواب کې زما (ليکوال) انګريزي ليکنه هم د اګسټ پر ۸مه، په امريکا کې په ويټرانس ټوډې Veterans Today پاڼه کې خپره شوه، چې له کبله يې رابن رافيل مانېجنه شوه.

موږ ۴ لکه پوځ ته اړتیا نه لرو، جبري عسکري دې پیل شي، ټول ملت ته دې نظامي روزنه ورکول شي، اردو کې دې تعصب ختم او جلب او جذب کې دې د قومونو عادلانه تناسب په نظر کې ونیول شي.

د چین او ماسکو اندیښنو ته مو ځواب ووایه، موږ له چین سره پوله لرو، هغه هم په غرونو کې ده، د پولې پر سر ور سره ستونزه نه لرو، لوی قدرت لرونکی هیواد دی، ښه ډیپلوماټیک اړیکې ور سره غواړو، د یغور مسئله د چین لپاره د اندیښنې وړ ده[۲۸].

امریکا زموږ د هیواد د ذخایرو اړوند فکر کوي، موږ غواړو چې خپل ذخایر په سم ډول استخراج کړو، او د امریکا مرستې ته په دې برخه کې اړتیا لرو.

---

[۲۸] د چین یغور مسلمانان چې د چین له ظلمونو څخه په تنګ راغلي، د طالبانو د نظام پر مهال یې ځینو وسلوالو د افغانستان په شمال کې شتون درلود، او چین یې په اړه هغه مهال هم له طالبانو سره خپلې اندیښنې مخامخ شریکې کړې وې.
کله چې امریکا پر افغانستان حمله وکړه، د چین یغور ځینې کسان یې په افغانستان کې ونیول، هغوی یې چین ته ونه سپارل. مولوي وکیل احمد متوکل ما "لیکوال" ته په ۲۰۰۹ ز کال کې وویل:" کله چې زه د کندهار په هوایې ډګر کې له امریکایانو سره بندي وم، هلته د چین د یغور څو تنه هم بندیان وو، امریکایانو له هغوی سره نسبتاً ښه چلند کاوه، هغوی ته یې ویل چې هر اروپایې هیواد ته تګ غواړې دوی یې هلته استوي.
امریکا غوښتل چې د چین د ګواښ لپاره همدا سختدریځه یغوري مسلمانان ژوندي وساتل شي."
که چې زه "لیکوال" د ملي امنیت زندان کې بندي (۳۱ جولای تر ۴ اکتوبر ۲۰۱۷) بندي وم، هلته هم ځینې چینایې مسلمانان بندیان وو، هغوی له طالبانو سره یو ځای د امریکا پر ضد جګړې لپاره افغانستان ته راغلي وو.
د یغور مسلمانان له ډیرو کلونو راهیسې هڅې کوي چې له چین څخه ازادي واخلي. مګر په وروستو وختونو کې د چین لخوا پر دوی ډیر زیات ظلم روان دی، په میلیونو یغورې مسلمانان، او ځینې یې بشپړې کورنۍ د چین حکومت لخوا بندیان دي، د چین حکومت هڅه کوې چینایې مسلمانې کورنۍ په زور له اسلامه واړوي.

روسيې سره هم اندېښنې شته، کله چې طالبانو تېر ځل کندز ښار ونيوی، له روسانو سره ويره وه چې د منځنۍ اسيا جنګيالي بيا ځل کندز ته را ننوتل[۲۹]، تر دې چې روسانو په کندز د بمبارد کولو چمتووالی نيولی وو، ولې اوس له روسيې سره د طالبانو په اړه انديښنه نشته. همدارنګه د کوکنارو د قاچاق انديښنه هم د طالبانو په وجود کې روسانو سره حل ده، موږ له روسانو وسلې نه غواړو، يوازې د هغوی اندېښنې ليرې کېدل غواړو، طالبان هم د روسانو نه خوښيږي، او روسيه له امريکا څخه هم ويره لري، روسان خوشاله دي چې امريکا په افغانستان کې وښکول شي، امريکا او طالب دواړه ماسکو خپل دښمنان ګڼي، چې هر لوري ته زيان رسيږي، دوی (روسان) يې په خپله ګټه او دواړو لورو ته زيان هم دوی په خپله ګټه ګڼي.

امريکا غواړي چې زموږ معنوي جګړه تر سوال لاندې راولي، له همدې امله وايې چې روسان له طالبانو سره مادي او اقتصادي مرستې کوي، که دا خبرې ونه کړي نو په کابل کې ناست پخواني مجاهدين به هم ولس ته کوم ځواب ونه لري چې ولې د امريکا په خوا کې ولاړ دي.

**مطمئن**: داسې راپورونه ورکول کيږي چې په ځينو نورو ځايونو کې هم امريکايان د طالبانو سره پټې ناستې کوي.

**عباس ستانکزی**: خليلزاد ته موږ وويل چې که تاسې هر ځای ته ځئ او له هر چا سره د طالب په نوم خبرې کوئ، بيا نو اړتيا نشته چې موږ خبرې در سره وکړو.

دوی "کابل اداره او امريکايان" خو دا هم وايې چې ځانمرګي بريد کوونکي په پيسو اخيستل کيږي، موږ ورته وويل که رښتيا هم فدايان په پيسو اخيستل کيږي، نو تاسې (امريکايان) خو ډېرې پيسې لرئ، ډيري پيسې ورکړئ او وايې خلئ.

[۲۹] کندز ښار د سپټمبر پر ۲۸مه ۲۰۱۵ ز. کال کې لومړی ځل د طالبانو لخوا ونيول شو، په شمار څو ورځې کندز ښار د طالبانو په واک کې وو، او بيرته د ناټو ځواکونو د سخت بمبارد په مرسته افغان ځواکونو دغه ښار له طالبانو څخه ونيوی.

د اکتوبر ۳مه ۲۰۱٦ز. کال کې دوېم ځل کندز ښار ته طالبانو سقوط ورکړ، يوه اونۍ دغه ښار د طالبانو په واک کې پاتې شو.

قطر کې د دويم پړاو خبرو په اړه د نومبر پر ۱۹مه، د طالبانو وياند ذبيح الله مجاهد وليکل:

**د اسلامي امارت لوړ پوړې هيئت له امريکايي پلاوې سره په قطر کې وکتل**

د روان ميلادی کال د نومبر د مياشتې په ۱۴-۱۵-۱۶ مو نيټو د اسلامي امارت يوه لوړ پوړي هئيت د امريکا له يوه لوړ پوړي هيئت سره په دوحه کې وکتل او د افغانستان د مسئلې په سوله ايز حل يې خبرې وکړې. دا خبرې ابتدايي وې، تراوسه په هيڅ کومه مسئله باندې توافق نه دی شوی، د اسلامي امارت له لوري د افغانستان موجوده وضعيت، په سپيڅلي اسلامي نظام ټينګار او د مسئلې د واقعي حل په اړه ريښتيني حقايق بيان شول، د موقت حکومت يا د راتلونکي ولسمشر ـ او انتخاباتو په اړه چې په رسنيو کې له حقيقت څخه ليري کوم تبليغات کيږي، يا د پټو کړيو او اشخاصو له خوا افواهات خپريږي، يا ځيني شنونکي له ځانه اټکلونه کوي هغه هيڅ حقيقت نه لري.

دوی په لوی لاس غواړي تشويش او شکونه ايجاد کړي، موږ خپلو مجاهدينو او خپل مسلمان ولس ته اطمنان ورکوو چې د اسلامي امارت استازي به هيڅکله په داسې څه توافق ونه کړي چې هغه د اسلامي اصولو، د اسلامي امارت د پاليسي ـ، د شهيدانو او په سنګر کې د مجاهدينو له سپيڅلو ارمانونو سره سمون ونلري.

د افغانستان د مسئلې په اړه هره فيصله چې کيږي، د هغې په هکله به، اسلامي امارت خپل مجاهدين او ولس په جريان کې اچوي. ان شاءالله

## د سیاسي دفتر له مشر او غړو سره ناسته

ماښام ٥:١٥ تر ٨:٣٠

٢٢ نومبر ٢٠١٨

رتاج الریان هوټل، دوحه - قطر

ګډونوال: د طالبانو د قطر د سیاسي دفتر مشر ښاغلی شیرمحمد عباس ستانکزی، د سیاسي دفتر مرستیال مشر مولوي عبدالسلام حنفي، د سیاسي دفتر د اسیا څانګې مشر قاري دین محمد حنیف، د سیاسي دفتر غړی او بندیانو چارو مسؤل مولوي شهاب الدین دلاور، د سیاسي دفتر همکاران ډاکټر صالح او ښاغلی عمار یاسر.

برهان عثمان او زه (مطمئن)

**برهان**: موږ مشرانو ته احترام لرو، او د مسایلو پر اهمیت ښه پوهیږو، ډیرې بوختیاوي او ډیر مجالس لرم، ممکن کوم وخت سړی ستړی هم وي[٣٠]، بل دا چې موږ خوشباوري زیاته لرو، په ښکاره سوله هر څوک غواړي، خو په عمق کې د سولې ضد کمپاین هم جریان لري. ٨٠ سلنه د سولې ضد ږغونه دي او ډیر کم ممکن **٢** سلنه مثبت ږغونه وي [٣١].

د زلمي خلیلزاد اړوند پوښتنې او شکونه وو، ولي د سولې برخه کې پرمختګ وشو، خلیلزاد ته نږدې یوه کس راته وویل چې کله خلیلزاد له قطر څخه د طالبانو تر ناستې وروسته را ستون شو، په ټول ژوند کې مې دومره خوشاله نه و لیدلي لکه همدا څل. خلیلزاد به څکه خوشاله وي که افغان سوله وشي، نو امکان شته چې د نوبل جایزه واخلي.

---

[٣٠] له دي یوه ورځ مخکې عباس ستانکزي ما (لیکوال) ته وویل چې برهان عثمان د ناروي شاژدافیر پېژ ته په کابل کې ویلي و چې عباس ستانکزی ډیر واک نه لري، او ستانکزی په دي خبره خپه هم و. له همدې امله وه چې برهان عثمان پورته کلِمات وکارول.

[٣١] زما (لیکوال) په نظر چې د سولې اړوند مثبت ږغونه ممکن تر **٣٠** سلنې زیات وي. مګر مخالف ږغونه تر مثبت زیات دي.

د ولسمشر غني سلاکار فضلي او د ولسمشر د دفتر رئیس سلام رحیمي راته وویل: "الیس ویلز ښه وه، هغې د سولې اړوند پرمختګونه او مسایل له افغان حکومت سره شریکول، موږ ته یې احساس د مالکیت را کاوو، مګر خلیلزاد دا هر څه له موږ څخه واخیستل، نور نو د سولې د مالکیت موضوع له افغان حکومت سره سوال دی.

د اکتوبر ۱۳مه ۲۰۱۸، خلیلزاد له ډاکټر غني سره مجلس کې ناست و چې موږ د وال سټریټ راپور ولید، هغه مو پرته له ځنډ څخه ډاکټر غني ته وړاندې کړ، کله چې غني له خلیلزاد څخه پوښتنه وکړه چې قطر کې مو طالبان ولیدل که نه؟ خلیلزاد همدې پوښتنې ته اهمیت ورنه کړ، اړوندپوښتنې ته یې جواب ونه وایه. کله چې د چای څښلو وقفه راغله، بیاځل ډاکټر غني له خلیلزاد څخه یاده پوښتنه وکړه، خو دا ځل هم خلیلزاد موضوع بدله او دهغه پوښتنې ته یې جواب ورنه کړ."

ښکاري چې غني به د امریکا مرستیال ولسمشر مایک پنس سره د ټلیفوني خبرو پر مهال هم د خلیلزاد له یادې کړنې ګیله کړې وي.

د نړیوال کړکیچ مرکزي دفتر کې کسان فکر کوي که د خلیلزاد اړیکې له افغان حکومت، امریکا او یا طالبانو سره خرابې شې، منفي تاثیرات لري.

پخوا بهرنیو کړیو دا خبره کوله چې د سولې پروسې اړوند پرمختګ نشته، اوس هغوی سره دا پوښتنه ده چې کیدای شي دا پرمختګ له دې کبله وي چې زلمی خلیلزاد افغان دی، او امریکایان د خلیلزاد سولې اړوند هڅې ډراماتیک پرمختګ ګڼي.

خلیلزاد به زیات جرائت او واک ولري خو ناممکن ده چې د امریکا تګلاره تمثیل نه کړي، تر اوسه هم د خلیلزاد لخوا د سولې اړوند تګلاره بشپړه نه ده، ممکن د موقت حکومت، د بهرنیو پوځیانو اړوند اوازې د دې لپاره وي، نبض به ګوري. د بُن ۳ نظریه هم شته.

الیس ویلز ډیپلوماټیکې څرګندونې کولې ولې خلیلزاد واضح څرګندونې او حل غواړي. افغان حکومت ته یې د ډسمبر تر میاشتې پورې د سولې اړوند هیئت د

ټاکلو وخت ورکړی[۳۲]. په کابل کې د امریکا د سفیر جان باس ټویټ چې ټاکنې د افغانانو کار دی، په دې معنی چې امریکا عجله لري، دوی فکر کوي که ولسمشریزي ټاکنې کیږي نو بیا د سولې پروسه کې ځنډ راځي.

[۳۲] د نومبر پر **۲۳**مه، ۱۱ تنه او د نومبر پر ۲۷مه، د ډاکټر غني لخوا دولس تنه د سولې مذاکراتي بورډ اعلان شو:" پوهنې وزیر محمد میرویس بلخي، د اطلاعاتو او فرهنګ وزیره حسینه سايی، د لوړو زدکړو د وزارت معین عبدالتواب باالاکرز ی، د کډوالو او راستنېدونکو د چارو وزارت معینه ډاکټره عالمه، د ملي امنیت د لوي ریاست معاون جنرال عبادالله عباد، د ولسي جرګې غړې شاه ګل رضایي، د علماوو شورا غړی عطالله لودین، د پکتیا والي شمیم خان کټو ازی، د سترې محکمې غړی عبدالله عطایي، د بهیرنیو چارو وزارت د فرهنګي چارو ر ئیس توریالی غیاثي او د حج اوقافو معین عبدالحکیم منیب."
همدارنګه د ډسمبر پر ۱۱مه، د ډاکټر غني د فرمان له مخې د سولې مشورتې بورډ ۱۶ غړي چارواکې او ۱۷ جهادي مشران په لاندي ډول اعلان شول:" د افغانستان جمهور رئیس او مرستیالان یې، د حکومت اجرائیه رئیس او مرستیالان یې، د ولسي جرګې رئیس، د مشرانو جرګې رئیس، قاضي القضات، د ملي امنیت سلاکار، د جمهوري ریاست د مقام دفتر عمومي رئیس، لوی څارنوال، پارلماني چارو کې د دولت وزیر، د ملي امنیت رئیس، د هېواد د علماوو سرتاسري شورا رئیس، د سولې د عالي شورا د دارالانشاء رئیس، پخواني ولسمشر حامد کرزی، پخواني ولسمشر او د افغانستان ژغورنې د ملي جبهې مشر پروفیسور صبغت الله مجددي، د اسلامي دعوت تنظیم مشر استاد عبدالرب رسول سیاف، د حزب اسلامي رهبر انجنیر ګلبدین حکمتیار، د جمعیت ګوند د رهبری غړی یونس قانوني، د افغانستان د اسلامي محاذ ګوند مشر سید حامد ګیلاني، د سولې عالي شورا رئیس او د اسلامي وحدت ګوند رهبر استاد محمد کریم خلیلي، د افغنسنان د اسلامي جمعیت ګوند رهبر صلاح الدین رباني، د ملي پیوند ګوند رهبر سید منصور نادري، د افغانستان د اسلامي حرکت رهبر شېخ آصف محسني، د حزب اسلامي رئیس عبدالهادي ارغندیوال، د سولې او پرمختګ ګوند مشر حاجي دین محمد، د جمعیت ګوند د رهبری غړی استاد عطا محمد نور، د هېواد سیاسي څېره آمنه افضلي، د هېواد سیاسي څېره او د مشرانو جرګې غړې صدیقه بلخي، د افغانستان د اسلامي جمعیت ګوند د رهبری غړی محمد اسماعیل خان او د زرغون بهیر مشر امرالله صالح."

د امریکا کورنیو استخباراتو اداره National Intelligence Authority به د افغانستان اړوند خپل ٦ میاشتنی راپور ټرمپ ته وړاندي کوي، تر دې له مخه راپور کې ویل شوې و چې طالبانو د جګړې په میدان کې پرمختګ کړی، دا ځل ممکن تر مخکېني راپور هم پېکه راپور ټرمپ ته وړاندي کړي، او ممکن د نظامیانو په وتلو فکر وکړي.

د سولې اړوند موانع او پرمختګ څه دی، دا مهمه ده چې پر دي باندي مشران وپوهیږي.

**عباس ستانکزی**: له خلیلزاد سره زموږ دوه ناستې شوې، تر اوسه پرمختګ نه معلومیږي، له هغه سره بشپړ ټیم، د هرې ادارې کسان ورسره وي، تر دې مهاله کوم توافق او پرمختګ نه دی شوی. تر اوسه لومړني مراحل دي، راتلونکې مذاکراتو ته انتظار یو چې دوی "امریکایان" څه کوي. هر لوری چې خپل موقف څرګند او هدف لاسته راوړي، پر خبرو نظامي پرمختګ خپل تاثیرات لري، معلومه به شي چې خلیلزاد د سولې برخه کې څومره جدې دی. قطر کې د طالبانو د دفتر رسمیت او له تور لست څخه د طالبانو د نومونو لیرې کېدو کې که لږ پرمختګ هم وشو، موږ به پوه شو چې امریکا سولې ته لیوالتیا لري. خلیلزاد به غواړي، هغه:

١ – افغان دی د افغانانو اړوند معلومات لري، دا چانس شته چې نوبل جایزه واخلي، د امریکایانو په راتګ کې دا سړی بدنام شو، په بیرته وتلو کې ممکن بیرته خپل د حیثیت صدمه جبران کړلای شي.

٢ – ممکن ټرمپ ورته سر ښوروولي وي چې مخکې ولاړ شي، موږ په لیدنو کې ډېر احتیاط کوو، که دوی عجله هم ولري، موږ عجله نه کوو. سولې ته د رسیدو لپاره عجله لرو، خو په دي قیمت نه چې زموږ قربانۍ هیرې کړل شي. تر دي مهاله موږ پاشلې خبرې کړي، یو بل ته د مسایلو اړوند دلایل وړاندي شوې، او کوشش شوی چې نرمي وښودل شي.

**برهان**: د دوی "امریکایانو" علاقه په کومو مسایلو کې وه؟

**عباس ستانکزی**: عمومي خبرې شوې، ځانګړې مسایل نه دي بحث شوي، د تورلستې خبره، په ځانګړي ډول د طالبانو د مذاکراتي او کلیدي کسانو نومونه له تور لستې څخه ایستلو، د دفتر اړوند مسایل، د نشیي توکو د قاچاق مسئله، د میرمنو حقونه بحث شوې. ولې د راتلونکې حکومت په اړه جدي بحث نه دی شوی. ممکن دوی به هم عمومي معلومات تر لاسه کول غوښتل او موږ هم له مجالسو د برداشت په موخه چې ایا امریکا سوله غواړي یا نه، اوس وختی دی چې نتیجه ګیري وکړو.

**برهان**: د خلیلزاد او الیس ویلز تر منځ فرق څه دی، دی خبرې ته غوږ نیسي، پوهیدل غواړي، ویلز یوازې باور جوړونې خبرې کولې او خلیلزاد د راتلونکې حکومت اړوند خبرې کول غواړي که څه ډول؟

**عباس ستانکزی**: فرق خو شته، ویلز سره د باور جوړونې مسایل وو، په مجموع کې له دواړو سره د امریکایې پوځیانو وتلو، تروریزم، راتلونکی حکومت او بین الافغاني مذاکراتو اړوند بحثونه شوي دي. موږ خپلې سرې کرښې ورته ښودلي دي.

**برهان**: د بهرنیو ځواکونو وتل طبعي ده ولې په دي اړه نظریات معلومول اړین دي.

**عباس ستانکزی**: خلیلزاد ویل چې د طالبانو او امریکانو تر منځ د پخوانیو ناستو اړوند ۸۰۰ پاڼې راپورونه یې کتلي دي، موږ هم له رسنیو اوریدلي چې له ډاکټر غني غوښتنه شوی چې ولسمشری ټاکنې وځنډوي، مګر خلیلزاد موږ ته په دي اړه څه نه دي ویلي، ټرمپ نورمال سړی نه دی، د وتلو او یا نه وتلو پریکړې دواړو امکان شته چې اعلان وکړي.

**برهان**: دا چې په ۶ میاشتې کې یو څه باید وشي، د ځواکونو اړوند یې څه ویل، د نظامي اډو غوښتنه اړوند یې نظریات شریک کړي یانه؟

**عباس ستانکزی**: د اډو اړوند یې کومه خبره نه ده کړي، له ترهګری سره د مبارزې Caonter Terrorism اړوند هم څه نه دي ویل شوې[۳۳]، موږ ورته څرګنده

[۳۳] په دي معنی که په افغانستان کې د امریکا د ګټو خلاف څه لېدل کیږي، نو امریکا به اجازه ولري چې په افغانستان کې ډرون برید، د دوی د پوخیانو تر وتلو ورسته هم وکړي.

کړي چې بشپړ وتل غواړو او دا سره کرښه ده، د راتلونکې اړوند چې امریکا څه ډول رول ولري، چې هر څوک په واک کې وي، دا بیا د هغوی کار دی، داچې په غیر رسمي "٢ - Truck" کې دا ډول خبرې دوی کوي، ممکن د نظریاتو معلوملو په موخه به وي.

**برهان**: خلیلزاد په دي باور دی چې طالبان بالاخره د امریکا په یو ډول حضور قانع کیږي، نظامي اډه، شبه نظامي اډه، د افغانستان له دننه د ډرون حملو ته اجازه، او یا ممکن له بله ځایه په افغانستان کې د ډرون حملو ته اجازه ورکړي، دا رنګه په دي باور دی چې طالبان به بین الافغاني مذاکراتو ته داخل شي، پرته له دي چې امریکایې پوځیان ووځي او یا هم د وتلو اعلان وکړي.

خلیلزاد فکر کوي چې لومړی به له طالبانو سره د ځواکونو د شتون او یا وتلو اړوند مسئله باندي توافق ته رسیږي، او بیا به همدا د توافق شوې مسئلې اړوند اعلان افغان حکومت کوي، چې دا ډول درک هغه له کومه ځایه اخیستی دی؟

خلیلزاد نه یوازي له تاسي سره، بلکې نورو هیوادونو او ځایونو کې هم له بیلا بیلو طالبانو سره ناستې لري. مګر له هر چا سره د هغه ناستې سمه تګلاره نه ده.

**عباس ستانکزی**: موږ خلیلزاد ته واضح کړي چې یوازي همدا سیاسي دفتر ادرس دی، هغه ته مو وویل چې وګرځئ، ولاړ شئ، هر ځای وګورئ، او خپله ټوله هڅه وکړئ، خو که غواړئ چې د سولې خبرو کې پرمختګ وشي، نو زموږ ادرس همدا ځای (دطالبانو د قطر سیاسي دفتر) دی. بیا مو ورته وویل چې بل ځای ته مراجعه ونه کړي، مګر ځیني اړخونه، هیوادونه او کړی دا ډول جعلي مجالس او غلط خلک امریکایانو ته معرفي کوي. هغوی به خامخا غلطي خبرې هم امریکایانو ته کوي. له همدې حالت او خبرو څخه به ځیني کړی، هیوادونه او خلک استفاده کوي، ممکن همداسي خبرې یې هم ورته کړي وي.

له افغان حکومت سره مشارکت د نورو ډلو (داعش) د ځپلو لپاره، په دي اړه هم بحث نه دی شوی، همدوی "امریکایان" د داعش ملاتړ کوي، جوزجان کې د

طالبانو او داعش جګړه يې ښه مثال دی[۳۴]، چې همدوی "امريکايان" له موږ څخه همدا "کونټر ټروريزم" کسان خلاص نه کړي، موږ ور باندي قوي يو. د طالبانو تګلاره دا نه ده چې له امريکا او يا حکومت سره به په ګډه د داعش اړوند جګړه کوي، دا عملي هم نه ده.

**شيخ دلاور**: دا چې امريکايان وايې چې د ځواکونو په اړه به له طالبانو سره توافق ته رسيږي، له هغه وروسته به اعلان کيږي، او د ځواکونو پر وتلو قانع دي، د مذاکراتو په نتيجه کې به له طالبانو سره توافق ته رسيږي، دا معنی ورکوي چې امريکايان له خپلو پخوانيو غوښتنو (پوځي شتون) څخه را ټيټ شوې دی، دا زموږ له پاره ښه خبر دی، مثبت قدم دی.

---

[۳۴] د اګست ۵مه ۲۰۱۸، عثمان برهان چې تازه له قطر څخه را ستون شوی و، هلته يې له عباس ستانکزي او شيخ دلاور سره لېدنه شوې وه، هغه ملا عبدالسلام ضعيف او ما (ليکوال) ته وويل:"د جولای پر ۲۱مه او ۲۲مه ۲۰۱۸، اليس ويلز، د پنټاګون استازي، د سي آی اې استازي او نورو امريکايانو  په دوحه کې له طالبانو سره کتلي وو. امريکايانو له طالبانو غوښتي وو چې له داعش او القاعدي سره مخالفت اعلان کړي، طالبانو ورته ويلي وو چې داعش سره جګړه کې دي، خو د  القاعدې پر ضد جګړه نه کوي، مګر له القاعدي سره د اړيکو په اړه خبرې کوي.
په هغه مجلس کې طالبانو امريکايانو ته ويلي وو چې د جوزجان درزاب کې طالبان له داعش سره جګړه کوي، خو امريکايان پر طالبانو بمبارد کوي، بيا د پنټاګون استازي په افغانستان کې د امريکايې قواوو مشر نيکولسن ته ټليفون کړی و چې پر طالبانو بمبارد ونه کړي، نيکولسن بيرته د پيغام د لاړې اطمنان ورکړی و چې پر طالبانو به بمبارد  ونه کړي. همهغه و چې داعش وسلوال د جوزجان درزاب کې (۱ اګست ۲۰۱۸) مات شول، خو داچې افغان ځواکونو يې تر ۲۰۰ تنو زيات په الوتکو کې ژوندې له طالبانو څخه وايستل، امريکايان وايې چې په دغسي مسايلو کې په کار وه چې درې اړخيز تفاهم شوی وای، که داسي وای نو بيا به افغان ځواکونو هم له داعش سره مرسته نه کولای."
د جوزجان ولايتي چارواکو د تسليم شوو داعش وسلوالو شمير تر ۲۰۰ زيات وښود، خو طالبانو  بيا دغه شمير ۱۵۳ وښود.

**مطمئن**: امریکایانو انعطاف کړی، دوه ورځې وړاندي ما د جنرال میلر سلاکار ټام ته په کابل کې وویل چې د سیمې خلک فکر کوي چې امریکایان د داعش مرسته کوي، افغانان وایې چې امریکا زموږ خاوره اشغال کړي، هغه چې نظامي کس و، زموږ خبرې وربانديي بدي ونه لګېدلي، دا معنی چې دوی د پخوا په نسبت ډېر انعطاف کوونکي ښکاري، او اوس خو د ډېرو لږو پوځیانو د شتون خبره کوي، تر دي چې د سفارت د ساتنې په چوکاټ کې وي.

**شیخ دلاور**: خلیلزاد افغان دی، له موږ سره په خبره ژر پوهیږي، معلومات او تجربه یې زیاته ده، ډېر ګرځي، له خلکو سره لېدنې کوي، داسي ښکاري چې په اساسي ډول یې مسئله را نیولي ده. په کور دننه هم له افغان سیاستوالو سره لیدنې کوي، له دي ښکاري چې ډېر واک ورکول شوی دی.

خلیلزاد پوه شوی چې د خبرو لپاره اصلي مرجع د طالبانو سیاسي دفتر دی، اوس چې د ګوانتانامو څخه را خلاص شوې پنځه تنه هم د سیاسي دفتر غړي شول، دا دفتر نور هم قوي شو، او خلیلزاد هغه ۵ کسان هم ښه پېژني، دا کسان په داسي وخت کې د سیاسي کمیسون غړي وټاکل شول چې خلیلزاد خبرې پېل کړي.

هدف له دي بدلون څخه داوو چې طالبان هم غواړي چې د سولې برخه کې پرمختګ وشي. د خلیلزاد ټیم هم قوي دی، هغه یوازي نه دی.

داسي مسایل چې پوځي شتون منل او امریکا تجاوز نه دی کړی، ممکن له غلطو ادرسو سره یې لېدنه شوې وي، دا هم ممکن ده چې خلیلزاد به ځان پوهول غواړي، دا په دي معنی نه ده چې هغه د طالبانو له استازو سره لیدلې دي.

طالبان په یقینې ډول د سولې اراده لري، داچې امریکا سوله کوي یانه، د هغوی کار دی، ولي موږ ته شریعت هم وایې چې:

وَإِن جَنَحُواْ لِلسَّلۡمِ فَٱجۡنَحۡ لَهَا.

ژباړه: او که هغوی سولې ته میلان ولري نو ته هم ورته تیار شه.

محمد ﷺ وايې چې کله دا ايتونه ما تلاوت کړل، له هغه وروسته بيا ماته شک نه دی پيدا شوي، موږ د سولې لپاره قوي اراده لرو، او پر الله توکل لرو.

خليلزاد ته هم مشکلات مخکې دی، د کابل اداره پاشلې ده، هلته بېلابېل سياستوال، هر يو يې ځانګړې اهداف لري، حکمتيار هم خپلې خبرې لري.

موږ د اشغال خاتمه، د بهرنيو ځواکنو بشپړ وتل او اسلامي نظام غواړو، د دې هدف لاسته راوړل د هر افغان دنده ده، اوس ډير سخت وخت دی، ولس توقعات لري، او موږ بايد د ولس غوښتنې د سولې مذاکراتو په وخت په نظر کې ونيسو.

**برهان**: د بين الافغاني مذاکراتو، راتلونکي حکومت، اساسي قانون اړوند نظريات څه دي، بين الافغاني مذاکرات به کله پيل کيږي.

**حنفي صاحب**: زموږ باور دادی چې د افغان ستونزې قضيه د ټولو افغانانو شريکه مسئله ده، هڅه کوو چې په ښه ډول باندي حل شي، او زموږ د ملګرو قرباني هم بې نتيجې نه شي.

د بين الافغاني ډيالوګ مخکې خنډ بهرنی اشغال دی، که اشغال ختم شي، د طالبانو بل ګام به د افغانانو ترمنځ مذاکرات وي، اساسي قانون لازمي دی، خو چې زموږ خپل قانون وي، د ذراعت برخه کې چې مکانيزمه شي، اړتيا ده، د ودانيو جوړول، ټليفون برخه کې پرمختګ اړتيا ده.

افغانان ټول مسلمانان دی، اسلامي حکومت غواړي، له روسانو سره جهاد او اوسنۍ مبارزه د همدې هدف له پاره ده، تر څو په افغانستان کې د شريعت مطابق قانون وي. د تعليم، ذراعت او نورو برخو کې ډير اختلاف نشته، اړتيا ده، د حکومت بڼه روستنۍ خبرې دي چې بايد ورباندبحث وشي، پدي برخه کې به جزئي اختلافات وي، مګر افغانان يې د حل استعداد لري.

مذاکراتو ته د ننوتلو اساسي زينه د بهرنيو ځواکونو وتل دي، د نړيوال تضمين سره د بهرنيو ځواکونو د وتلو خبره اړينه ده، ځکه په امريکا باور نشته، چې کله د بهرنيو ځواکونو د وتلو مهالويش اعلان شي، دوېم قدم کې به له افغان سياسي ډلو سره

کینو، په دې برخه کې ستونزه نه شته، مخکې هم موږ ورسره ناستې کړې، یوازې د کابل ادارې سره نه یو کیناستلې، د سیاسي احزابو له اکثرو استازو سره مو لیدنې شوې. په جاپان، فرانسه او دوحه کې د پگواش غونډې پر مهال، ناروې کې موږ له مخالفینو سره لیدلې دي، د ولسي جرگې له استازو سره او دا لیدنې اوس هم جریان لري. د کابل ادارې سره به هغه وخت کینو چې د بهرنیو ځواکونو د وتلو مهالویش اعلان شي.

**عباس ستانکزی**: مخکې له دې چې ډاکټر غني ارگ ته ولاړ شي، هغه له موږ سره ولیدل، موږ له هغه سره تفاهم وکړ، چې انتخابات هم وشول، ولې هغه خپلې وعدې ماتې کړې[35].

[35] د ۲۰۱۴ ز کال د ولسمشرۍ دوهم پړاو ټاکنو مخکې، ضعیف صاحب په کابل کې له ډاکتر غني سره ولېدل، زمینه مساعده شوه چې ډاکټر غني په دوبۍ کې له طالبانو سره وگوري، ځینې تفاهمات وشول.

ډاکټر اشرف غني له طالبانو سره ژمنه وکړه:

۱ – چې واک ته ورسیږي، د امریکا سره به د بهرنیو اډو تړون نه لاسلیک کوي، او هغه به ځنډوي.

۲ – د طالب بندیانو د خلاصون په اړه به مرسته کوي. او د بمبارد کمولو او جگړې کموالي په اړه به کار کوي.

۳ – سولې ته د رسیدو لپاره به له طالبانو سره مخامخ خبرې او په موقت ډول به د حکومت چارې مخکې وړي، او سولې ته د رسیدو لپاره به حاضر وي چې له خپلې چوکۍ څخه استعفا هم ورکړي.

ډاکټر اشرف غني له طالبانو سره بیا ځل هم په خلیجي هیواد کې ولیدل، او خبرې مخکې ولاړې، خو کله چې ډاکټر صاحب اشرف غني واک ته ورسیدی، نو هغه د واک په دوهمه ورځ له امریکا او ناټو سره امنیتي تړون لاسلیک کړ. او په خپلو کړو ژمنو یې له طالبانو سره وفا ونه کړه.

ولسمشر غني له پاکستان څخه وغوښتل چې طالبان د سولې خبرو ته کښینوي، د پاکستان لخوا د ۴ اړخیزو ناسته وړاندیز وشو، او پاکستان ژمنه وکړه چې طالبان به له افغان حکومت سره د ۴ اړخیزو ناستو په جریان کې مخامخ د سولې خبرو ته حاضروي.

د جمعيت اسلامي، استاد محمد محقق، استاد کريم خليلي، استاد سياف، حکمتيار او دوستم له استازو سره مې ليدنې کړي، همدا رنګه له عطامحمد نور سره مو ليدلې دي. دا په دې معنی دی چې بين الافغاني ډيالوګ له وړاندي څخه پيل شوی.

موږ ته هر يوه دا خبره کړي که له حکومت سره د سولې برخه کې توافق ته رسيږئ، حکومت زموږ استازولي نه کوي، بلکې له موږ سره به جلا تفاهم کيږي، دوی ځانته امتياز غواړي.

**شاهين**: له امريکايانو سره ملاقاتونو کې پر عمومي مسايلو بحث شوی، داچې خليلزاد لخوا اشرف غني په جريان کې نه و اچول شوی، ممکن امريکايان پوهيدلی وي چې حکومت د سولې اړوند ربښتونی نه دی، تاسي وويل او رسنيو هم راپور ورکړ چې خليلزاد ته د ټرمپ لخوا ٦ مياشتي وخت د سولې اړوند ورکول شوی، بل خوا بيا ډاکټر اشرف غني سولې ته رسيدو لپاره ٦ کاله وخت، د ده پاتې موده او ٥ نور کلونه غواړي[٣٦]. دغه ډول څرګندونې خپله د سولې پروسې تخريب دی، او د

[٣٦] ډاکټر غني د جنيوا له غونډې مخکې ويلي و چې د حکومت پلاوی به په پنځو کلونو کې له طالبانو سره سوله کوي.

ډاکټر غني د نومبر پر ٢٨مه ٢٠١٨، جنيوا کې غونډې ته د وينا پر مهال وويل: " د سولې پروسې مالکيت او رهبري بايد له افغان حکومت سره وي، موږ د جمهوري رياست عالي مقام دفتر عمومي رئيس سلام رحيمي په مشرۍ د مذاکراتو يو ١٢ کسيزه ټيم چې په هغه کې ښځې هم شاملې دي جوړ کړی. موږ همدارنګه يو متنوع مشورتي بورډ جوړ کړی، چې د سولې په مذاکراتو کې موږ ته مشورې راکړي."

له طالبانو سره د افغان حکوت د مذاکراتي پلاوي غړي: عبدالسلام رحيمي د ولسمشر غني د دفتر رئيس، محمد ميرويس بلخي د پوهنې وزير، حسينه ساپۍ د اطلاعاتو او کلتور وزيره، عبدالتواب بالاکرزی د لوړو زده کړو مرستيال وزير، ډاکټر عالمه د کډوالو او راستنېدونکو مرستيال وزيره، جنرال عبادالله عباد د ملي امنيت مرستيال مشر، شاه ګل رضايې د ولسي جرګې غړې، عطاء الله لودين د علماوو شورا غړی، شميم کټوازی د پکتيا

طالبانو ادعا ثبوت کوي. د اشرف غني لخوا د اساسي قانون اړوند څرګندونې چې باید ومنل شي، او ۱۷ کلنې لاسته راوړونې چې دوی یې یادوي، دا ټول د سولې تخریب په موخه کوي. اصلاً دوی سولې ته اراده نه لري. د سولې په نوم هر څه چې دوی اخلي د داخلي مصرف لپاره یې کاروي، ممکن افغان حکومت نور هم داسې د سولې مخالف اقدامات وکړي.

**قاري دین محمد:** موږ تر خپله وسه له هر چا، هر افغان سره مذاکرات کړي، یوازې د ارګ حلقه پاتې ده، چې خبرې مو ورسره نه دي کړي. دوی هم موږ ناليدلې نه نیسو، ولې ستونزه داده چې امریکا کوشش کوي چې طالبان له افغان حکومت سره خبرې وکړي، او دوی له مسؤلیت څخه تیښته وکړي، بیا به دیته د افغانانو کورنۍ جګړې نوم ورکوي.

د روس راتګ د امریکا له راتګ سره لږ توپیر درلود، روسان د افغان کمونستانو لخوا را وغوښتل شول، له امریکا څخه هیچا د راتګ غوښتنه نه ده کړي[۳۷]، اوس چې طالبان له افغان حکومت سره خبرې پیل کړي، بیا به امریکایان وایې چې د افغانانو تر منځ جوړې کولو ته راغلي وو.

---

والي، عبدالله عطایې د سترې محکمې د عالي دیوان غړی ، عبدالحکیم منیب د حج اوقافو مرستیال وزیر او توریالی غیاثي د بهرنیو چارو وزارت د کلتوري چارو رئیس

[۳۷] په ۱۹۷۹ ز کال کې پخواني شوروي اتحاد پر افغانستان یرغل وکړ، په وړاندې یې افغان ولس سخت مقاومت وکړ، په ۱۹۸۹ کال کې سرې لښکرې په بشپړ ډول له افغانستان څخه ووتلې، او ۱۹۹۲ ز کال کې مجاهدین واک ته ورسیدل، په ۱۹۹٦ کال کې طالبانو له استاد رباني، انجنیر ګلبدین، استاد سیاف او احمدشاه مسعود څخه کابل ونیو. او د اکتوبر په ۷مه ۲۰۰۱ کې امریکا د طالبانو د نظام له منځه وړلو په هدف په افغانستان باندې هوایې او پوځې تیرى وکړ چې افغان ولس یې په مقابل کې ودرید. افغان ولس له امریکا سره ۱۸ کاله او ۵ میاشتې سختې جګړې وکړي، لویه قرباني یې ورکړه، بالاخره د فبروري پر ۲۹مه ۲۰۲۰، د طالبانو او امریکا ترمنځ په دوحه کې تړون لاسلیک شو چې د امریکا / ناټو پوځیان به په بشپړ ډول په ۱۴ میاشتو کې له افغانستان څخه وځي.

کله چې امریکایان افغانستان ته راتلل، دلته اردو نه وه، د امریکا – طالبانو تر جګړې وروسته دوی اردو جوړه کړه، امریکا غواړي له مسؤلیت څخه تیښته وکړي او جګړه افغاني وښيې. اصلاً د بد بختۍ علت اشغال او د بهرنیو ځواکونو شتون دی، له افغان حکومت سره د طالبانو ناسته به په دې معنی وي چې امریکا ته برائت ورکول شي.

لومړی به موږ ستونزه له اشغالګرو سره بیا له افغانانو سره حل کوو. له افغانانو سره مذاکراتو برخه کې به ټول؛ اشرف غني، حنیف اتمر او هر څوک برخه لري.

**برهان**: ویلز ویل چې افغان حکومت به د حکومت له ادرسه نه، بلکې د یو لوري (فریق) په ډول له طالبانو سره کیني، داسې هم ممکن ده چې همهاله بین الافغاني مذاکرات پیل او امریکایان هم شتون ولري، او یا داچې په یوه سالون کې طالبان – حکومت او بل سالون کې طالبان – امریکا خبرې وکړي.

**عباس ستانکزی**:که صداقت او اخلاص وي، بیا به سوله راځي، که یو لوری ربښتونی او بل نه وي، بیا هم سوله نه شي راتلای، که کابل د سولې خبرو کې شامل کړو، موږ په دې باور یو چې هغوی سوله نه غواړي.

غني اوس ځکه د سولې خبرو مخالفت کوي، هغه غواړي دوېمه دوره حکومت هم وکړي، د ولسمشرۍ ټاکنو له ځنډ سره مخالفت کوي، دا اوسنی واک له لاسه ورکول نه غواړي. کله چې بیا له واکه لیرې شي بیا به دی هم د سولې نارې وهي، اتمر چې په واک کې و یو ډول اوس بیا نورې خبرې کوي، همدې اتمر ویل چې طالبان ته دې اجازه نه ورکول کیږي چې قزاکستان (اګسټ ۲۰۱۷) کې له افغانانو سره خبرې وکړي، اوس چې له واکه لیرې شو د سولې ږغ کوي[۳۸]. حکومت کې چې دي، هغوی سوله نه غواړي.

[۳۸] حنیف اتمر د حامد کرزي د حکومت پر مهال د کلیو پراختیا، پوهنې او کورونیو چارو پخوانی وزیر و، چې وروسته له دندې لیرې شو، د ډاکټر غني واک ته رسېدو په لومړي ورځ (۲۹سپټمبر ۲۰۱۴)، د امنیت شورا مشر وټاکل شو، او په دوېمه ورځ له امریکا سره ډاکټر غني او حنیف اتمر په ګډه امنیتي تړون لاسلیک کړ.

امریکايي جنرالان پوهیږي چې ناکام دي، خو هر یو جنرال (عمومي قومندان) چې افغانستان ته ټاکل کیږي، هغه غواړي خپل وخت پوره کړي، دوی سوله نه غواړي، یوازې خنډونه جوړوي.

امریکا وایې چې طالبان دې راشي په حکومت کې دې خلط (ګډ) شي، د سیاسي ډلې په څیر دې فعالیت ولري، وزارتونه او ولایتونه به طالبانو ته ورکول شي، دوی په دې توګه خپل چل او فریب کوي، حکمتیار سره یې ډیرې ژمنې وکړي، عملي یې نه کړی، اوس حکمتیار هم ګیله من دی، په دې یې خوشاله کوي چې زوم یې ډاکټر غیرت بهیر ورته سناتور کړ[39]. که افغان حکومت په خبرو کې شامل شي، دا پروسه اوږدوي. نور سیاسي احزاب ممکن خپلو منځو کې له طالبانو سره جوړ شي، افغان حکومت هم نالیدلی نه نیسو، مګر په خپل وخت کې به یې د سولې خبرو کې ګډوو.

کابل کې د میلاد النبي لمانځغونډې (۲۰ نومبر ۲۰۱۸ ) پر مهال چاودنه وشوه، طالبانو وغندله، داعش یې هم پړه ونه منله، ډاکټر غني بیا وویل چې طالبان یوازې

---

له ډاکټر غني سره د اختلافاتو له امله حنیف اتمر د اګست ۲۵مه ۲۰۱۸ له دندې استعفی وکړه. په دې موده کې یې د سولې بڼغ ډیر کاوه، پر حکومت یې نیوکې کولې چې سولې ته د رسېدو لپاره خنډونه جوړوي.

کله چې دویم ځل د ټاکنو خپلواک کمیسون لخوا د فبروري ۱۸مه ۲۰۲۰ کې ډاکټر غني د ولسمشرۍ ټاکنو وړونکی اعلان شو، د اپریل پر ۴مه ۲۰۲۰ حنیف اتمر د ډاکټر غني لخوا د بهرنیو چارو وزیر وټاکل شو، او د اپریل پر ۵مه د وزیر په توګه معرفي او په کار یې پیل وکړ. او بیا یې د بین الافغاني خبرو اړوند د ډاکټر غني تګلاره مخکې وړله.

[39] کله چې د ۲۰۱۴ ز کال ټاکنې ډاکټر غني وګټلې، حکمتیار له امریکایانو او افغان حکومت سره د سولې خبرې پیل او د سپټمبر ۲۹مه ۲۰۱۶ کې د حزب اسلامي د مشر انجنیر حکمتیار او د ملي یووالي حکومت د مشر ډاکټر غني ترمنځ د سولې تړون لاسلیک شو.

حکمتیار د مئ ۴مه ۲۰۱۷، کابل ته راغی، او په ارګ کې یې د حکومت له لوري نیول شوو مراسمو کې وینا وکړه.

په غندلو ځان ته برائت نه شي ورکولای. دا ډول کړنې د سولې مخالف کار دی، تر څو مذهبي تاوتریخوالی پیدا او د سولې خبرو کې خنډ پیدا شي.

زما (ستانکزي) باور دادی چې چاودنه دوی کړي، کمونستان دي، ویره لري چې د طالبانو او امریکا تر منځ خبرې به نتیجې ته ورسیږي[٤٠].

**شیخ دلاور**: موږ له افغانانو سره هر ځای گورو، دا ځل چې ماسکو کې وو، له غونډې وروسته (۱۲ نومبر ۲۰۱۸) مو له افغانانو سره ولیدل، تر دي چې ذبیح الله مجاهد صاحب موږ ته پیغام را لیږلی وو چې ماسکو کې افغانان دي، ورسره وگورئ. موږ ډیر ستړي وو، زه خو ډیر زیات ستړی شوم وم، خو بیا هم موږ افغانانو سره لیدنې ته وخت ځانگړی کړ.د ارگ حلقي اړوند زه وایم:

۱ – که امریکایان هم د پخواني شوروي اتحاد په څیر له افغانستان څخه وځي، په دي معنی چې جگړه به دوام کوي.

۲ – که افغانان هم په هغه فکر وي لکه پخواني مجاهدین، چې روسان ووتل، او بیا خپل منځي جگړه وشوه، دا ستونزه ده.

---

[٤٠] یاد برید د امریکا د بهرنیو چارو لخوا هم وغندل شو، او لاندې اعلامیه یې خپره کړه:

**د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت ویاندې هیتر نوریت اعلامیه**

د ۲۰۱۸ کال د نومبر ۲۰مه نېټه

**د کابل د برید غندنه**

متحده ایالات په کابل کې د یوې مذهبې غونډې په ترڅ کې د نن ورځ برید چې لږترلږه ۴۰ کسان یې ووژل او له ٦۰ څخه زیات ملکي کسان یې ټپیان کړل، په کلکه غندي. مونږ د وژل شویو کسانو کورنیو او ملگرو ته د زړه له کومې ډاډگېرنه وړاندې کوو. دا بې شرمه عمل په داسې وخت کې ترسره کیږي چې د افغانستان خلکو هڅه کوله ترڅو میلاد النبی په سوله ایزه فضاء کې ولمانځي، او د هغو کسانو بې رحمي او ظلم څرگندوي چې غواړي په افغانستان کې تاوتریخوالی دوام ولري.

متحده ایالات په افغانستان کې سولې او ثبات ته ژمن دي، او د افغانستان خلکو تر څنگ ولاړ دي چې غواړي سوله ایزه او د تاوتریخوالي د ناوړه کړنو پرته یوه راتلونکي ولري.

۳ – که له طالبانو سره هم پخوانی فکر وي چې یوازې موږ سره به واک وي، بیا نو سخته ده چې سوله راشي.

زه فکر کوم چې امریکا به داسي ونه کړي، ځکه په اسلامي نړۍ او ټوله نړۍ کې به بیا ډیر بدنامه شي، ښه دا ده چې د وتلو لپاره یې ابرومندانه لاره ولټول شي.

طالبان چمتو دي چې د بهرنیو پوځیانو له وتلو وروسته په اسلامي نظام کې له ازبک، هزاره، ملا ، انجنیر او ټول ملت سره یو ځای وي، د ولس قدر ولري خو دندې د اهلیت پر بنیاد خلکو ته ورکول شي، که له هر قوم څخه وي.

له امریکا سره دښمني ده، خو ممکن ځینې برخو کې مشترکات هم وي، که افغانان هم په مشترکاتو فکر وکړي، چې یوازې وطن جوړول هدف وي، په ۱۰۰ برخو/ مسایلوکې ممکن ۵ برخو/مسایلو کې د افغانانو تر منځ اختلاف وي، ۹۵ برخو کې به سره جوړ راځي.

که امریکایې پوځیان وځي، ډاکټر غني او شمال ټلواله پوهیږي چې طالبان به نظام ته سقوط ورکوي، د پخوا وخت نه دی، چې شمال ټلواله له تخاره څخه نه ایستل کېدل، اوس بدخشان کې هم طالبان قوي مرکزونه لري، او امریکا هم پوهیږي چې طالبان نظام ته سقوط ورکوي.

حل لاره څه ده:

۱ –دا چې طالبان وایې بهرني ځواکونه دې په بشپړ ډول ووځي او له افغان حکومت سره نه کښینو، دا معنی چې ټول هیواد زه نیسم، او دا بې انصافي ده.

۲ – که دا فکر وي چې له افغانانو سره دې طالبان کښیني، بیا له هغه وروسته چې طالبان او افغانان خپل منځ کې سره جوړ شي، امریکا ته به د وتلو وایې او امریکایان به وځي، دا نو بیا له موږ (طالبانو) سره بې انصافي ده.

۳ – موږ انعطاف کړی، پخوا مو ویل چې یو بهرنی پوځي په افغانستان کې وي، موږ خبرو ته نه کینو، اوس وایو چې د بهرنیو ځواکونو د وتلو مهالویش باندې دې توافق

او د نړیوال تضمین په شتون کې دې اعلان وشي، موږ (طالبان) له کابل اداري سره کینو او له هغوی سره توافق ته رسیدو پورې به بهرني پوځیان له افغانستان څخه وځي.

په کار ده چې اړخونه سولې ته د رسیدو په موخه سره کیني، داسې چې هر لوری ځان قاضي وګڼي، ځان دښمن ونه ګڼي، طالب هم او افغان لوری هم، هر یو یې ځان د مسئلې اړوند قاضي وګڼي چې د بل حق ونه خوري.

**برهان**: دغه ډول څرګندونې په سم ډول سره د لورو ترمنځ نه رسیږي، ماته دا نوي خبرې دي. که دا د کاغذ پر مخ وي، ښه به وي.

۱ - څه کوئ، د بهرني تروېزم اړوند څه وایاست. ۲ - بین الافغاني تفاهم کله او څه ډول. ۳ – د راتلونکي او حکومت په اړه کومه تګلاره ده. همدارنګه د داعش اړوند څه غواړئ.

که دا هر څه د کاغذ پر مخ په معیاري بڼه ترتیب شي، نو ګټه به یې زیاته وي، د ډاکټر غني ټیم په دې برخه کې ډیر تکړه دي، همداسې کسان یې ګمارلي دي، چې کاغذي کارونه وکړي، او بهرنیان وغولوي، د فساد اړوند یې بهرنیان وغولول، فریزنټېشن به یې وړاندې کړ، چې موږ دا کړي او داسې کوو، د فساد مخنیوی کوو.

که تاسې هم دا هر څه له ځینو لارو خلکو ته ورسوئ، خو غیر رسمي د اوازې په ډول نه، بلکې په سم ډول رسول، که د راپور په بڼه وی، د رسنی د لارې وي، او یا ممکن د الجزیره ټلویزون د لارې وي.

تیر ځل چې د طالبانو او امریکا ترمنځ خبرې وشوې، الجزیره ټلویزون د ضعیف صاحب له خولې ولیکل چې امریکایانو له طالبانو سره د بهرنیو ځواکونو پر ایستلو خبرې کړي، چې دغه ډول څرګندونې بې باورې جوړوي. خو بیا ښه شو، ضعیف صاحب هغه رد کړه[41].

[41] کابل کې افغان حکومت او سیاستوال وارخطا شول چې کیدای شي په پټه د طالبانو او امریکا ترمنځ پریکړه شوې وي چې بهرني ځواکونه به په بیړه له افغانستان څخه وځې او طالبان به واک په لاس کې اخلي.

**عباس ستانکزی**: کله چې موږ له لورال میلر او بیا وروسته له الیس ویلز سره کتل، هغوی ته مو وویل چې د لیدنو اړوند خبرونه به رسنیزکړو، ځکه بیا ستاسي رسنیو کې خبرونه راځي او هغه هم ناسم وي، بیا یې مقابل کې زموږ د ملګرو لخوا هم غلیظ الفاظ کارول کیږي، نو ښه ده چې موږ او تاسي توافق وکړو او د لیدنو اړوند توافقي ټکي رسنیو ته ورکړو.

دوی ویل چې رسنۍ ازادې دي، د بیان ازادي په نظر کې نیولو سره موږ رسنیو ته نه شو ویلای چې هیڅ هم ونه وایې، که هغوی کوم څه نشروې د هغوی شخصي کار دی، بلکې زموږ "امریکا" رسمي نظر نه دی.

موږ"طالبان" خو یوازې یوه ویب پاڼه لرو، حتی سیاسي دفتر خپله ځانګړې ویب پاڼه هم نه لري، زموږ اړوند هر وخت ډول ډول خبرونه نشر کیږي. رسنیو ته په کار ده چې د خبر سپیناوی وکړي. مثلاً کله چې له الیس ویلز سره زموږ دویم ځل (جولای ۲۱مه او ۲۲مه ۲۰۱۸ ) لیدنه وشوه، د الجزیرې ټلویزون د ملاعبدالسلام ضعیف مرکه نشر کړه، دا دهغه شخصي خبره وه، رسمي نظر نه و. که بیا امریکا دا ډول څرګندونې جدي نیسي، خو بیا خپل لورې ته دا خبره نه مني. وایې چې د بیان ازادي ده.

کله چې موږ د تورلسټ څخه د نومونو ایستلو خبره ورته کوو، وایې چې دا خو لویه پروسه ده، له ډاکټر غني سره باید خبرې ورباندې وشي، کله چې موږ د دوی د نظامي قومندانانو د څرګندونو اړوند ورته ووایو چې د سولې ضد څرګندونې کوي، دوی وایې چې زموږ د ډیموکراسي نظام دی، که کوم نظامي قومندان څرګندونې کوي، د هغه شخصي نظر دی.

**شیخ دلاور**: په هره ناسته کې موږ امریکایانو او د ملګرو ملتونو استازو ته ویلي چې د مجلس ځینې ټکي به خپاره کړو، مګر دوی د خپراوي سره توافق نه دی کړی. کله چې بیا ناسم خبرونه نشر شي، موږ مجبوره شو چې د اعلامیې په ورکولو سره یې رد کړو.

## د ابو ظبۍ غونډه

### درېیم پړاو خبرې

د ډسمبر لومړۍ اونۍ کې کورنیو او بهرنیو رسنیو راپورونه ورکړ چې د طالبانو د قطر دفتر د سیاسي کمیسون څلور تنه اسلام اباد ته تللي او هلته یې له پاکستاني چارواکو سره د سولې او په پاکستان کې د غونډې کولو اړوند خبرې کړي.

د طالبانو لخوا هم ومنل شوه چې د دوی پنځه تنه له قطر څخه اسلام اباد ته تللي او هلته یې له پاکستاني چارواکو سره ناستې کړي. او د پاکستاني چارواکو لخوا د امریکایانو ځینې مهم پیغامونه هم ورته وړاندې شوې وو. په همدې وخت کې خلیلزاد هم اسلام اباد ته سفر درلود، خو د طالبانو او خلیلزاد تر منځ ناسته نه وه شوې.

د ډسمبر پر ٦مه، خلیلزاد کابل ته راغی، له ډاکټر غني او ډاکټر عبدالله سره یې ولیدل[٤٢].

د افغان سولې او بیا پخلاینې بهیر لپاره د امریکا د بهرنیو چارو ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد د ډسمبر پر ۷مه ۲۰۱۸، ماسکو کې د افغانستان لپاره د روسیې د ولسمشر پوتین ځانګړې استازي ضمیر کابلوف سره هم لیدنه وکړه، مګر روسان د خلیلزاد پر کړنو شکمن وو، ځکه ضمیرکابلوف ماسکو میشت افغان عمر نثار ته ویلي و چې خلیلزاد یې پوښتنو او اندیښنو ته د قناعت وړ ځواب نه درلود.

---

[٤٢] د خلیلزاد د لېدنو په اړه د امریکا سفارت لاندي اعلامیه خپره کړه:

**کابل ته د ځانګړي استازي خلیلزاد سفر**

د ډسمبر ٦مه ۲۰۱۸

د افغانستان د سولې لپاره د متحده ایالاتو ځانګړي استازي، سفیر زلمي خلیل‌زاد د ډسمبر په ٦مه نېټه کابل ته سفر وکړ او د ولسمشر غني او اجرائیه رئیس عبدالله سره یې وکتل. په دغه لیدنه کې د سیمې د هېوادونو سره د اړیکو او د روانې شخړې په برخه کې سیاسي حل‌لارې ته د رسیدو لپاره د افغانستان په چمتووالي باندې بحث وشو. د دغه کتنې څخه وروسته، ځانګړی استازی خلیل‌زاد د سولې د سیمه‌ایزو هڅو په تړاو د خبرو اترو لپاره مسکو ته لاړ.

طالب مشرانو باندي د پاکستان هیواد لخوا فشار و چې غونډه اسلام اباد کې وشي، مګر طالبانو نه وه منلي. د پاکستان دوهم وړاندیز دا وو چې غونډه په سعودي عربستان کې وشي، خو طالبانو ورته ویلي وو چې په تیرو ۱۷ کلونو کې له سعودي سره کومې ښې اړیکې نه لري، بالاخره طالبانو منلي وه چې په اماراتو کې به په غونډه کې ګډون کوي، خو قطر هیواد به هم په جریان کې اچوي.

د ابوظبۍ تر غونډې درې ورځې وړاندی، د ډسمبر پر ۱۴مه، د پاکستان لومړي وزیر عمران خان په پېښور کې یوې غونډې ته د خبرو پر مهال دا هم ویلي و چې د امریکا او طالبانو ترمنځ د خبرو کولو زمینه برابروي او د ډسمبر پر ۱۷ به مخامخ خبرې وشي.

افغان کورنیو رسنیو د ډسمبر پر ۱۵مه راپور ورکړ چې طالبان به دا ځل د پاکستان په وساطت له امریکایانو، او د افغان حکومت له استازو سره په اسلام اباد کې د ډسمبر پر ۱۷مه غونډه کوي.

د ډسمبر پر ۱٦مه طالبانو ومنله چې په ابوظبۍ کې به له امریکایانو سره خبرې کوي، د طالبانو ویاند ذبی۸۸ح الله مجاهد لاندي اعلامیه خپره کړه:

**له امریکا یانو سره د مذاکراتو په اړه د اسلامي امارت د ویاند وضاحت**

"سبا دوشنبه د ۱۴۴۰هـ ق/ کال د ربیع الثانی ۱۰ مه او د ۲۰۱۸م کال د ډسمبر ۱۷ مه نیټه په متحده عربي اماراتو کې د اسلامي امارت د سیاسي دفتر د غړو او امریکایي لوري تر منځ د مذاکراتو یوه بله غونډه تر سره کیږي، په دې غونډه کې به د اسلامي امارت او امریکا په استازو سربیره د سعودي عربستان، پاکستان او متحده عربي اماراتو استازي هم ګډون کوي. "

د ډسمبر پر ۱۷مه ۲۰۱۸، د ابوظبۍ ښار کې، سهار مهال د طالبانو ناسته د سعودي عربستان، اماراتو او پاکستان له استازو سره وه، د یادو هیوادونو ټینګار پر دي وو چې طالبان د افغان حکومت له استازو سره مخامخ خبرې وکړي او اوربند هم ومني، مګر طالبانو د یادو هیوادونو دواړه غوښتنې رد کړي وي.

د ورځې په وروستيو وختونو کې طالبانو د يادو هيوادونو د استازو په شتون کې د امريکا له پلاوي"بهرنيو چارو، پنتاګون، سي آی اې او سپينې ماڼې استازو" سره چې مشري يې د افغان سولې لپاره د امريکا د بهرنيو چارو ځانګړي استازي زلمي خليلزاد کوله، وليدل.

بيا هم د امريکا او يادو درو هيوادونو غوښتنه له طالبانو څخه دا وه چې ٦ مياشتې اوربند ومني، او د افغان حکومت له استازو سره مخامخ خبرې وکړي، خو طالبانو دا هر څه رد کړل. طالبانو ورته ويلي وو چې تفاهم داسي شوی وو چې دا ځل د امريکايې پوځيانو د وتلو پر مهال ويش خبرې وشي.

کورنيو رسنيو راپور ورکاوه چې د عبدالسلام رحيمي په مشرۍ له افغان پلاوی سره به طالبان مخامخ خبرې کوي. مګر د ډسمبر پر ۱۷مه، ذبيح الله مجاهد لاندې اعلاميه خپره کړه.

## د عربي متحده اماراتو په ناسته کې د کابل ادارې له کسانو سره هيڅ ليده کاته نه کيږي

"څرنګه چې اسلامي امارت مخکې اعلان کړې وه، نن په عربي متحده اماراتو کې له امريکايي لوري سره د اسلامي امارت د استازو له خوا غونډه روانه ده. په دغه غونډه کې له امريکايي لوري سره د افغانستان د اشغال د خاتمې په مسئله خبرې شوې. په ناسته کې د سعودي عربستان او ځينو نورو هيوادونو استازي هم برخه لري. دا چې د کابل ادارې د يو شمير رسنيو له لارې ادعا کړې چې په دغه ناسته کې به د دوی استازي هم د اسلامي امارت له استازو سره ليدنه وکړي حقيقت نه لري، موږ دغه پروپاګند په کلکه ردوو، د کابل ادارې له کسانو سره د ليدو کتو هيڅ پلان نشته او نه هم په هغه غونډه کې د کابل ادارې استازي ګډون لري چې د اسلامي امارت استازي په کې وجود ولري، په دې اړه چې کوم شايعات اوريدل کيږي، تش پروپاګنډ دی، هيوادوال دې هيڅ اعتنا نه ورته کوي."

په دوېمه ورځ بيا هم د امريکا او يادو درو نورو هيوادونو لخوا په ټينګه له طالبانو غوښتنه شوې وه چې د افغان حکومت استازو ته په غونډه کې ګډون ومني، طالبانو

جدي عکس العمل ښکاره کړی وو، چې وروسته یادو هیوادونو له طالبانو غوښتې وو چې د ګډ حکومت د مشر ډاکټر غني د دفتر له رئیس او افغان حکومت د پلاوي مشر عبدالسلام رحیمي ته په غونډه کې د ناظر په صفت د ګډون سره توافق وکړي، ولي طالبانو نه وه منلي.

دوېمه ورځ غونډه کې د امریکا او ورسره درو ملګرو هیوادو لخوا له طالبانو څخه لاندي غوښتنې شوې وي.

۱ - طالبان دي ٦ او یا هم حد اقل ۳ میاشتي اوربند اعلان کړي.

۲ – له افغان حکومت سره مخامخ خبرې دي ومني.

۳ – د افغان – امریکایې پوهنتون ۲ استادان دي خوشي کړي.

همدارنګه د طالبانو لخوا لاندي مسایل مطرح شوې وو.

۱- د بهرنیو پوځیانو وتلو مهالویش دي اعلان شي.

۲- د ملکي او بې ګناه خلکو وژنه او په کلیو بمبارد دي ودرول شي.

۳ – له بندیانو سره سهولت او تبادله دي وشي.

۴ – له تورلسټ څخه د طالب مشرانو نومونه دي وایستل شي.

۵ – د طالبانو لپاره دي سیاسي دفتر په رسمیت وپېژندل شي.

په ټوله کې د غونډې لویه موخه دا وه چې طالبان له افغان حکومت سره مخامخ خبرې وکړي، او د همدې موضوع اړوند، پاکستان امریکا او افغان حکومت ته ډاډ ورکړی و چې طالبان به د افغان حکومت له استازو سره مخامخ خبرو ته کینوي.

د افغان حکومت د ۱۲ کسیز پلاوی غړي د عبدالسلام رحیمي په مشري د ډسمبر پر ۱٦مه لا ابوظبی ته رسیدلي وو، همدارنګه د ملي امنیت شورا مشر ډاکټر حمد الله محب هم په ابوظبی کې و، او د ډسمبر پر ۱٦مه یې د سعودي عربستان او اماراتو د ملي امنیت له مشرانو سره لیدنې درلودلې.

د طالبانو د رهبري شورا غړي او له پاکستان څخه ټول ۴ کسان اماراتو ته ورغلي وو، ملا اميرخان متقي د طالبانو د مشرتابه د دفتر مسؤل او د رهبري شورا غړی، ملا عباس اخوند د روغتيا کميسون مشر او د رهبري شورا غړی، حافظ محب الله او قاري غلام يحی.

همدارنګه له قطر څخه د طالبانو د سياسي کميسون او قطر دفتر مشر، د رهبری شورا غړی شيرمحمد عباس ستانکزی، د رهبري شورا غړی، د قطر دفتر مرستيال مشر ملا عبدالسلام حنفي، د قطر دفتر او رهبري شورا غړی قاري دين محمد، د سياسي دفتر غړی شيخ دلاور او د سياسي دفتر وياند سهيل شاهين. همدارنګه له ګوانتانامو څخه د ۵ تنو تبادله او را خلاص شوو بنديانو له جملې څخه ملا خيرالله خيرخواه او ملا محمدفاضل اخوند غونډې ته ورغلي وو.

د ابوظبی غونډه پرته له کومې ځانګړي پريکړي او نتيجې پای ته ورسېدله، انديښنه دا وه چې غونډه به د طالبانو په زيان تمامه شي، مګر طالبانو چې د پاکستان، سعودي عربستان او اماراتو فشار ته غاړه کينښودله، او د افغان حکومت له استازو سره يې مخامخ خبرې ونه کړي، او په پټه يې هم ورسره ونه لېدل، نور نو امريکايان او افغان حکومت هم د طالبانو باره کې د اوربند او له افغان حکومت سره مخامخ خبرو، دواړو مسئلو کې د طالبانو له انعطاف ښودلو څخه مايوسه شول.

زما (ليکوال) سره انديښنه وه چې طالبان به د پاکستان تر فشار لاندي راشي او د افغان حکومت له استازو سره به د پاکستان په وساطت وګوري، چې زما په نظر دا ښه نه وه، طالبان بايد له افغان حکومت سره د لېدنې اړوند خپلواکه پريکړه وکړي.

د غونډې پر لومړۍ ورځ مې همدا انديښنه د ليکنې په بڼه کې خپره کړه، او د طالبانو مذاکره کوونکي پلاوي ته هم رسيدلي وه، زما ويره ځکه وه، چې زه مخکې له مخکې پوه وم چې طالبان د فشار په نتيجه کې په اماراتو کې غونډې ته ورځي، او پاکستان ورڅخه غوښتي، ځکه پر پاکستان د امريکا لخوا ډير زيات سياسي او اقتصادی فشارونو شتون درلود.

د شپې نږدې یولس بجې ما (لیکوال) اطمنان تر لاسه کړ، چې طالبان به دا ځل د افغان حکومت له استازو سره حتی د روغبړ په دود لاس هم ورنه کړي، او په هیڅ صورت به له هغوی سره ونه ګوري.

د غونډې دویمه ورځ بیا هم له موږ سره اندیښنه وه، چې د طالبانو ځینې کسان به د پاکستان د زیات فشار له امله، ممکن د طالبانو د مشرتابه له اجازې پرته د افغان حکومت له استازو او یا هم سلام رحیمي سره په پټه کښیني، خو پاکستان ونه توانېد.

رسنیو د غونډې اړوند ناسم راپوروونه خپرول، داسې راپوروونه ورکول کېدل چې طالبانو له امریکا سره په ٦ میاشتې اوربند باندې هوکړه کړې، او مقابل کې یې امریکایې پلاو ی له طالبانو سره په داسې لنډمهاله حکومت هوکړه کړې چې مشرې به یې طالبان کوي.

د ابوظبې غونډه درې ورځې په نظر کې نیول شوې وه، چې درېمه ورځ به طالبان د افغان حکومت له استازو سره مخامخ د میز شاته خبرو ته کښیني، د امریکا او درېو نورو هیوادونو استازې به هم په غونډه کې ګډون لري، خو چې طالبانو انکار وکړ، درېمه ورځ غونډه هم لغوه شوه، یوازې امریکایې هیئت او درو نورو هیوادونو د افغان حکومت له ځینو استازو سره سمبولیکه لېدنه کړې وه.

د طالبانو – امریکا تر ناستې یوه ورځ مخکې د ډسمبر پر ۱٦مه، د افغانستان د ملي امنیت شورا سلاکار د سعودي عربستان او متحده عربي اماراتو د امنیت شورا له سلاکارانو سره په ابوظبې کې غونډه درلوده.

زه (لیکوال) د افغان سیاستوال سید اسحاق اغا له خولې خبر شوم چې خلیلزاد کابل ته راځي او دلته به له نږدې ۱۰۰ افغانانو سره لېدنې کوي او هغوی ته به د ابوظبې غونډې اړوند معلومات ورکوي. ښه مې وګڼله چې له طالبانو سره همدا خبره شریکه کړم، تر څو هغوی هم د غونډې اړوند ځینې مهم ټکي له ولس سره شریک کړي، تر څو له یادې غونډې څخه امریکا او نور هیوادونه ناسمه او د ځان په ګټه استفاده ونه کړي.

ما (ليکوال) طالبانو ته وليکل:

د اماراتو له غونډې وروسته خليلزاد غواړي په کابل کې نږدې ۱۰۰ مهمو کسان ته د ده د سولې د هڅو اړوند خبرې وکړي، د خپلو هڅو نتيجه او پرمختګ ورسره شريک کړي.

د ټولو مهمو سياسي ګوندونو مشران پکې دي (حکمتيار، سياف، عطانور، محقق، خليلي، پيران، حضرتان، کرزی، اسماعيل خان او ...).

په دې کې به ممکن په قطر کې د ده مخکنۍ ليدنې له طالبانو سره (لومړۍ او دوهمه ناسته)، همدا رنګه د ده سفرونه منځنۍ اسيا، سعودي، اماراتو، او ماسکو اړوند هم خبرې ولري.

کيدای شي ډير تمرکز د اماراتو ناسته باندې وي چې امريکا يې د ځان لپاره لويه لاسته راوړنه ګڼي.

د دې لپاره چې ولس په انديښنه کې پاتې نه شي، او يا داچې بيا ټولې خبرې د خليلزاد له قوله نورو ته رسيږي، ښه ده چې:

۱ – د ابوظبۍ غونډې اړوند د لورو په توافق د غونډې مناسب جزيات خپاره شي.

۲ – که ممکن وي، ورته هڅه وشي، په قطر، يا هم ګاونډيو هيوادونو او يا داخل کې د طالبانو له خوا هم ځينو مشهورو افغان سياستوالو او رسنيو استازو ته د سولې اړوند ناستو مناسب جزيات ورکول شي. (د کسانو د ورتګ اړوند ستونزه نشته، ورځې او اسانه ده).

۳ – که دوهيم وړانديز شونی نه وي، يا ستونزې وي، نو په کار ده چې د ورستۍ غونډې ځينې جزيات چې مهم  او د خپراوي وړ وي، هغه د طالبانو له خوا په وخت سره نشر شي. او که ممکن وي د تيرو ناستو هم ځينې خبرې نشر شي.

ګډونکونکي هيوادونه (امريکا، پاکستان، سعودي او امارات) به له دې غونډې اعظمي استفاده کوي، خو چې نتيجه کې طالب له غونډې کومه مثبته ګټه پورته کولای شي، په دې هم ژور فکر وشي.

رسنیو راپور ورکاوه چې بله غونډه به په سعودي عربستان کې کیږي او هلته به طالبان له افغان حکومت سره مخامخ خبرې کوي.

د ډسمبر پر ۱۹مه، مجاهد لاندي اعلامیه خپره کړه.

**د ابوظبۍ د ناستي په اړه د اسلامی امارت د ویاند وضاحت**

"د متحده عربي اماراتو په ابوظبۍ ښار کې د روان میلادي کال د ډسمبر میاشتي په اولسمه او اتلسمه نیټه د اسلامي امارت د استازو لخوا له امریکایي لوري سره مذاکرات تر سره شول.

په دې مسلسلو ناستو کې چې د دریو اسلامي هیوادو استازو هم ګډون په کې درلود، تر ټولو زیات ترکیز له افغانستان څخه د خارجي عسکرو په وتلو باندې وو، همدارنګه په ملکي خلکو د ړندو بمباریو په اړه د اسلامي امارت پلاوي د غونډې برخوالو ته مستند معلومات او شواهد وړاندې کړل او جداً یې د دریدو غوښتنه وکړه، په غونډه کې د بندیانو سره د انساني چلند او د هغوی د خلاصون غوښتنه هم مطرح شوه، چې غور به ور باندي کیږي، د اوربند او کابل اداري سره د مذاکراتو، موقت حکومت، انتخاباتو او نورو کورنیو مسایلو په برخه کې وار له مخه د اسلامي امارت دریځ څرګند وو چې خبرې به نه ور باندي کیږي، ځکه چې د ټولو مشکلاتو بنیاد او لوی خنډ د افغانستان اشغال دی او هغه باید پای ته ورسیږي. د راتلونکو مذاکراتي ناستو په اړه به دواړه لوري له خپلو مشرانو سره سلا او مشورې کوي."

خلیلزاد د ډسمبر پر ۱۹مه، له ابوظبۍ څخه مخامخ اسلام اباد ته ولاړی، هلته یې له پاکستاني پوځي مشرا باجوه او سیاسي مشرانو سره ولیدل، او له هغه ځایه کابل ته راغی، په شپه کې یې د ګډ حکومت له دواړو مشرانو (ډاکټر غني او ډاکټر عبدالله)، د ملي امنیت شورا له مشر ډاکټر محب سره په ارګ کې ولیدل.

په سبا یې د مخکیني ولسمشر حامد کرزي او له پخوانیو لوړ پوړو چارواکو سره ولیدل.

کابل ته د خلیلزاد د راتګ په اړه، په کابل کې د امریکا سفارت لاندې اعلامیه خپره کړه:

**کابل ته د افغانستان د سولې لپاره د متحده ایالاتو د ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد رسېدل**

د ۲۰۱۸ د ډسمبر ۱۹مه نېټه

"نن د افغانستان د سولې لپاره د متحده ایالاتو ځانګړی استازی زلمی خلیل‌زاد کابل ته راغی تر څو ولسمشر غني او اجرائیه رئیس عبدالله ته د هغو ناستو او کتنو په اړه مالومات ورکړي چې د سیمه ایزو شریکانو او نورو ښکېلو اړخونو سره یې سیاسي هوکړې ته د رسېدو او د افغانستان د شخړې د ختمېدو په موخه ترسره کړي وو.

ځانګړي استازي خلیل‌زاد د متحده ایالاتو، افغانستان، عربي متحده اماراتو او سعودي عربستان د څلوراړخیزو ناستو د څلورم پړاو په ګډون، په ابوظبی کې د درې ورځنیو ناستو او کتنو وروسته کابل ته راورسېد. دغه ناستې د متحده ایالاتو او نړیوالو متحدینو د هغو هڅو یوه برخه ده چې د افغانستان د شخړې د ختمېدو په موخه د بین الافغاني خبرو اترو د دودولو لپاره ترسره کیږي."

د ډسمبر پر ۲۰مه، د ملي امنیت شورا خبرپاڼه خبره کړه، او د ابوظبی غونډې اړوند یې د وضاحت غوښتنه کړي وه، اعلامیه کې لیکل شوې وو:"د یو خپلواک هیواد په توګه، هیڅ هیواد او شخص د افغانستان لپاره د نوي حکومتي جوړښت په اړه د بحث واک نه لري. د افغانستان د راتلونکي په اړه پریکړه کول د افغانانو او د هغوی مشرتابه پوري اړه لري. د منتخب دولت هیڅ ځای ناستی وجود نه لري، او د افغانستان د خلکو په قربانیو به معامله ونه شي."

خلیلزاد بیا له اریانانیوز ټلویزون سره مرکه کې د امنیت شورا د ټویټ اړوند د پوښتنې ځواب کې وویل:"موږ د افغان حکومت مشرانو سره ناسته درلودله، د غونډې اړوند مو معلومات ورسره شریک کړل، هغوی په دې اړه اندښنه نه لري، کوم څوک (محب) چې اندیښنه لري، هغوی د معلوماتو له کموالي سره مخ دي."

زما (لیکوال) په آند، د دې لپاره چې پر طالبانو فشار راوړل شي، همداسې یې وهم کړل، شپنی چاپې او هوایې بریدونه زیات شول، د امریکا په خوښه د ډاکټر غني له

خوا د ډسمبر پر ۲۳مه ۲۰۱۸، د جګړې سخت پلویان اسدالله خالد د امریکا د دفاع وزیر او د جګړې بل پلوي د سولې ضد څیره امرالله صالح د کورنیو چارو وزیر اعلان شول.

دواړه د ډسمبر پر ۲۵مه په ارګ کې د غونډې پر مهال د ډاکټر غني لخوا د یادو وزارتو لپاره سرپرست وزیران معرفي شول، او د ډسمبر پر ۲۶مه، امرالله صالح د کورنیو چارو وزارت کې په رسمي ډول کار پیل کړ، همدارنګه د ډسمبر پر ۲۹مه، اسدالله خالد په رسمي ډول په دفاع وزارت کې کار پیل کړ.

د ډسمبر پر ۲۴مه، موږ ځینو کسانو د سولې اړوند بحث درلود، حاجي سید داوود اغا وویل:" خلیلزاد چې کله کابل ته راغی، ډاکټر غني ته یې وویل چې طالبان په خپله خبره ټینګار کوي، د بهرنیو پوځیانو د وتلو اړوند او له افغان حکومت سره مخامخ خبرو کې انعطاف نه کوي. دا ډول د افغانستان امنیتي حالت هم خراب او لا زیات خرابي خواته روان دی، په دغسي حالت کې ښه ده چې ولسمشرۍ ټاکنې وځنډول شي.

ډاکټر غني د ټاکنو ځنډیدل په کلکه رد کړي، خلیلزاد ته یې ویلي و چې ټاکنې به په خپل وخت کیږي.

د دوی ترمنځ بحث ښه نه و تیر شوی، بیا نو خلیلزاد کرزي ته وویل چې نور سیاسي مشران هم را وغواړه زه درسره وینم، کرزي ډیری کسان ورته را ټول کړل، په دي کار سره خلیلزاد ډاکټر غني ته وښودله چې نور کسان هم دلته ناست دي. "

مژده صاحب وویل: " ابو ظبی کې د افغانستان د ملي امنیت شورا مشر ډاکټر محب د سعودي عربستان او اماراتو د امنیت شورا له سلاکارانو غوښتي وو چې غونډه کې د دوی هیئت ته د ګډون چانس ورکول شي. کله چې طالبانو دا نه وه منلي، بیا د یادو هیوادونو لخوا غوښتنه شوې وه چې د افغان هیئت مشر عبدالسلام رحیمي ته په غونډه کې د ناظر په صفت اجازه ورکول شي، طالبانو دا هم نه وه منلي. "

د ډسمبر پر ۲۵مه، برهان عثمان ما (لیکوال) ته وویل:" پرون مې د امنیت شورا له مشر ډاکټر محب سره ولېدل، هغه داسي پتېله چې خلیلزاد له پاکستان سره د افغان حکومت په پټه معامله کړي ده، او افغان حکومت یې څنډې ته کړی دی.

د افغان حکومت او خلیلزاد تر منځ بې باوري زیاته شوې ده، افغان حکومت فکر کوي چې د سولې خبرو کې څنډې ته شوی او د سولې مذاکراتو جریان پټ ورڅخه ساتل کیږي.

خلیلزاد له حکومت څخه غوښتي و چې ټاکنې وځنډوي، خو دوی ورسره نه وه منلي، په ټوله کې افغان حکومت فکر کوي چې خلیلزاد په شخصي ډول د سولې مذاکراتو کې ځینې مسایل راپورته کوي.

ماښام ناوخته ډاکټر محب ویل چې له خلیلزاد سره ویډیو کانفرانس لري، هغه ولاړی، داسي ښکاري چې له خلیلزاد سره به کوم بل مهم کس هم و چې اشرف غني ته به یې د ویډیو کانفرانس د لاري ویلي وي چې ټاکني وځنډوي. "

برهان وویل:"دا ځل اجنډا کې له امریکایانو سره وه چې له طالبانو سره د پوځیانو د وتلو پر مهالویش باندي خبرې وکړي، خو کله چې طالبان د اجنډا خلاف د اوربند او افغان حکومت سره د مخامخ خبرو له غوښتنې سره مخ شول، دا مسئلې پر طالبانو بدې تمامې شوي وي. د امریکایې هیئت یوه غړي (د ډسمبر۲۲مه) په استانبول کې راته وویل:"خبرې جدې شوې، او د طالبانو د هیئت مشر عباس ستانکزي وویل چې تر څو یو بهرنی پوځي په افغانستان کې شتون ولري، تر هغه وخت پوري موږ له افغان حکومت سره خبرې نه کوو، هغه بهرني پوښتنه کوله چې دا به د ستانکزي شخصي نظر او یا هم د طالبانو تګلاره وه. خو متقي صاحب په خبرو کې نرم او ښه و."

برهان وویل: " د دوحې هوایې ډګر کې قطري چارواکو ملا فاضل اخوند او ملا خیرالله خیرخوا اته ساعته تم کړي وو، هغوی  ته یې له قطر څخه د وتلو اجازه نه ورکوله، ورته ویلي یې وو چې نومونه یې په تور لسټ کې دي. خو بیا خلیلزاد مداخله کړي وه، د امریکایې هیئت کوم کس قطر ته ورغلی و، او له هغه ځایه یې همداسي، پرته له قانوني پروسي عملي کېدو، اماراتو ته ورسره راوستلي وو.

د قطریانو له دي کاره داسي بریښې چې په ابوظبی کې له غونډې کولو سره یې خپل مخالفت په دي ډول ښکاره کړ، اوس ویل کیږي چې قطري چارواکو عباس ستانکزي ته ویلي چې له اماراتو څخه خپله کورنۍ قطر ته یوسي."

د ډسمبر پر ۲۶مه، د طالبانو د نظام پر مهال د سوداگرۍ وزیر مولانا عبدالرزاق فتاحې ما (لیکوال) ته وویل:"طالبان د ابوظبی له غونډې څخه خوشاله نه وو، قطریانو هم په هوایې ډګر کې ملا فاضل اخوند او ملا خیرالله خیرخوا ځنډولي وو. "

د ډسمبر ۲۷مه، چې استاد سیاف ته د ماسټري ځانگې له نورو محصلینو سره یو ځای تللي وو، د سهار چای څښلو پرمهال یې وویل:"خلیلزاد مې ولید، له هغه سره د سولې اړوند مسایلو باندي وږغیدم.

طالبانو تیروتنه وکړه چې د افغان حکومت له استازو سره یې د ابوظبی ناستې پر مهال ونه لېدل. په ښکاره خو پاکستان، سعودي عربستان او اماراتو له طالبانو غوښتي وو چې د افغان حکومت له استازو سره ووینی، خو چې په پټه به یې طالبانو ته څه ویلي وي، هغه نه ده معلومه.

طالبانو سره د امریکا ځینې پټ توافقات شوې، امریکا به د خپلو پوځیانو مهالویش اعلانوي، او بیا به وروسته طالبان په افغانستان کې د امریکا ۳ او یا هم ۵ اډې مني."

لاندي لیکنه د ډسمبر پر ۲۷مه ۲۰۱۸، د نن ټکی اسیا ویبپاڼه کې خپره شوه، چې لیکوال یې "نعمت میوند" لیکل شوی، زما (لیکوال) په آند چې یاده لیکنه به قاري سعید زرمتي په پورته مستعار نوم کړي وي، او کیدای شي چې د غونډې اړوند معلومات خپله مولوي امیرخان متقي او یا هم د هغه ورور مولوي احمدالله متقي لخوا ورکول شوي وي.

## په ابوظبۍ کې رښتیا څه تېر شول؟! / بشپړ جزئیات

د رواني میلادي میاشتې ډسمبر پر۱۷م او ۱۸م نېټو د متحده عربي اماراتو په ابوظبۍ ښار کې د طالبانو لوړ پوړي پلاوي د زلمي خلیلزاد په مشرۍ له امریکایی پلاوي سره د دریو هغو هیوادونو داستازو په حضور کې چې د طالبانو حکومت یې په خپل وخت کې په رسمیت پیژندلی وو، غونډه وکړه، ترڅو د افغانستان څخه د بهرنیو ځواکونو د وتلو، د بندیانو د تبادلې او ملکي مرگ ژوبلې د پای ته رسولو پر سر خبرې اترې وکړي.

یاده غونډه چې دوې ورځې یې دوام وکړ، د بندو دروازو تر شا تر سره شوه، داچې رسنیو ورته لاس رسی نه درلود، ځکه یې په اړه زیاتره دروغ خبرونه چې له واقعیت سره یې هیڅ تړاو نه درلود؛ د ځینو مغرضو اشخاصو او کړیو لخوا په سیستماتیکډول خپاره شول.

دا چې د مذاکراتو د مېز پر سر د بندو دروازو تر شا کوم موضوعات تر بحث لاندې ونیول شول؛ د ځینو معتبرو، هغو سرچینو په حواله غواړم د دې غونډې ځینې ناویلې حقایق ستاسې سره شریک کړم چې د غونډې د برخوالو سره یې ناسته کړې او د هغوی له خولې یې د غونډې جریان اوریدلی او ځینې یادښتونه یې ورڅخه ترلاسه کړي دي.

### طالبان هلته څنگه ورسیدل؟

د طالب مرکچي پلاوي مشري د هغوی د سیاسي دفتر مشر شیرمحمد عباس ستانکزي کوله چې وار له مخه لا د غونډې ځای ته رسیدلی و، دا چې نور لوړ پوړي طالب چارواکي بیا په کومو سفري اسنادو او د چا په الوتکه کښې تر ابوظبۍ ورسېدل؛ د پورته معتبرې سرچینې په حواله یې حقیقت داسی دی:

د ابوظبۍ د غونډې پر تدویر له توافق وروسته د غونډې کوربه هیواد او نور گډونوال هیوادونه په جریان کې اچول شوي وو چې د طالبانو پلاوي ته به د سفر او استوگنې آسانتیاوې دوی برابروي.

**د اماراتو لویه الوتکه او د طالب استازو ابوظبۍ ته تګ:**

د ۲۰۱۸م کال د ډسمبر میاشتي پر ۱٦مه نېټه مازیګر مهال ناوخته د متحده عربي اماراتو یوه لویه پرمختللي ځانګړې الوتکه چې ویل کیږي؛ یوازې د خاصو او معززو میلمنو او ډپلوماټانو د تګ او راتګ لپاره کارول کیږي؛ د ابوظبۍ د هوایي ډګر پر ځغاست لیکه کښیناسته.

دا الوتکه یوازې طالب چارواکو ته ځانګړې شوې وه، چې پکښې د طالبانو د مشرتابه د دفتر مشر مولوي امیرخان متقي، د طالبانو د سیاسي دفتر غړی ملامحمدعباس اخوند، ډاکتر فقیر، او مولوي حماس شامل وو.

د سرچینو په حواله طالب ډیپلوماټانو له ځان سره پاسپورټونه نه درلودل بلکې هغوی په ځانګړې توګه غوښتل شوې وو او دا کار اماراتو پرغاړه اخیستی و لکه وروسته چې به تاسې ته د ملا محمد فاضل او ملاخیرالله خیرخواه په اړه هم معلومات وشي.

د دوی د استقبال لپاره د اماراتو ځیني چارواکي هوایي ډګر ته ورغلي وو، هغوی د هوایي ډګر ځانګړي تالار ته رهنمایي شول، هلته یي په عربي قهوه او خرما میلمه پالنه وشوه، دا چې د مازدیګر د لمانځه وخت و نو طالب استازو همدلته د مازدیګر لمونځونه ادا کړل.

تر لمانځه وروسته په ځانګړو مرمۍ ضد موټرانو کښې د سمندر غاړې یوه پنځه ستوریز هوټل ته ورسیدل او هلته یې هم دروند استقبال وشو، په سبا ورځ همهلته مذاکرات پیل شول، په لومړۍ ورځ طالبانو د سعودي عربستان او متحده عرب اماراتو د مسؤلو چارواکو سره په جلا جلا توګه مجلسونه وکړل او د ورځې په پای کې د زلمي خلیلزاد په مشرۍ د امریکایي پلاوي سره د تعارفي مجلس لپاره کښیناستل.

دا چې ځیني خلکو په دروغو راپورونه ورکړي چې د طالبانو استازي په پاکستانۍ الوتکه کې د پاکستاني چارواکو سره ابوظبۍ ته تللي؛ دا راپورونه حقیقت نه لري ځکه چې د ابوظبۍ د غونډې وړاندې د افغانستان، پاکستان، اماراتو او سعودي عربستان د استخباراتي چارواکو ترمنځ غونډه ترسره شوې وه چې د کابل څخه د

ملي امنیت د مشاور حمدالله محب په مشرۍ ځینو چارواکو ګډون پکښې کړی وو، پاکستاني چارواکي لا له وړاندي د همدې غونډې لپاره ابوظبۍ ته رسیدلي وو او هلته د غونډې پیلیدو په انتظار وو.

که فرضاً د طالبانو استازي په پاکستانۍ الوتکه کي تللي وي نو آیا دا پر دې دلالت کوي چي طالبان د پاکستان تر تسلط لاندي دي؟ اوس هم ابوظبۍ ته طالبان په خپله الوتکه کي نه دي تللي بلکې د اماراتو په ځانګړې الوتکه کي د ځانګړو امتیازاتو سره لکه د پاسپورټ او ویزې نه شتون سره هلته تللي، نو آیا طالبان اوس د اماراتو غلامان شول؟ یا دا چي په قطر کي اوسي او قطر ورته آسانتیاوي او امتیازات ورکوي نو طالبان د قطر غلامان شول؟

زه فکر کوم طالبانو یو داسي لوړ موقف غوره کړی چي د امریکا په څېر ستر ځواک د هغوی سره د خبرو اترو لپاره هرڅه ته تیار شوې دي، آن تردې چي خپل قوانین هم ورته ترپښو لاندي کوي او ځانګړي امتیازات ورکوي لکه ملافاضل او خیرخواه ته د قطر هیواد څخه بهر د سفر اجازه ورکول.

نو تاسي څه فکر کوئ هغه هیوادونه چي شپه او ورځ امریکا ته لاس پر ځیګر ولاړ وي هغوی به ځانګړي امتیازات نه ورکوي، بلکې اوس هر هیواد دې ته لیواله دی چي د طالبانو سره اړیکي جوړي کړي او طالبان هم باید دغه فرصت له لاسه ورنکړي، ځکه چي پر یو هیواد حکومت کول د نورو هیوادونو او په ځانګړې توګه له ګاونډیانو سره له ښو اړیکو جوړولو پرته ناشونی کار دی.

**د ابوظبۍ په غونډه کښي د قطر هیواد موافقه:**

داسي انګیرل کیدله چي د ابوظبۍ غونډه به د طالبانو او قطر ترمنځ اړیکو باندي منفي اثر وکړي. ځکه چي یو خو د قطر او متحده عربي اماراتو دښمني اوج ته رسیدلې او بل په دې غونډه کښي سعودي عربستان هم ګډون درلود چي د قطر

هیواد د منزوي کولو اصلي لوبغاړی شمېرل کیږي[43]، بل دا وېره هم وه چې قطر هیواد به ونه غواړي چې د غونډې د کوربه توب امتیاز امارات ترلاسه کړي.

خو د پورتنۍ سرچینې په حواله واقعیت دا دی چې طالبانو د ابوظبۍ د غونډې تر دایریدو وړاندې ګډونوالو هیوادونو ته دا یادونه کړې وه چې د دې غونډې پر دایریدو به د قطر رضایت حتمي خبره وي، نو مقابل لوري او ګډونوالو هیوادونو قطر په بشپړ ډول په جریان کې اچولی او د هغه رضایت یې ترلاسه کړی و. ګویا طالب پلاوی د قطر په خوښه هلته تللی و.

بله مهمه خبره دا ده چې طالبان ځان په دې مجبور نه ګڼي چې همېشه به د یو ځانګړي هیواد په غوښتنه او خوښه هلته غونډې ترسره کوي، بلکې چېري چې یې زړه وغواړي هلته به خپلې غونډې جوړوي، لکه څرنګه چې د پاکستان هم امید و چې غونډه اسلام اباد کې وشي خو طالبان په یو داسې هیواد کښې غونډې ته اماده شول چې وړاندې یې سیاسي مبصرینو وړاندوینه نه وه کړې.

**د ملا محمد فاضل او ملا خیرالله خیرخواه د سفر ستونزه څنګه حل شوه؟**

طالبانو خپل د قطر دفتر ډیپلوماټیک پلاوي ته هغه پخواني طالب چارواکي هم ور ضم کړي چې تر یوه لسیزه زیات کلونه یې په ګوانتانامو زندان کښې تېر کړي، هغوی د ګوانتنامو زندان څخه تر آزادیدو وروسته ټول وخت په قطر هیواد کښې اوسیدل او کوم سفر یې نه و ترسره کړی، تیر کال یې پاسپورتونه تر لاسه کړل خو بیا هم هغوی ته لا د سفر کول آسانه نه وو، دا ځل د ابوظبۍ په غونډه کښې طالبانو امریکایان دې ته مجبور کړل چې ترخپل دې قانون تېر شي او دا بندیز مات کړي.

د ډسمبر میاشتي پر ۱۷مه نېټه له امریکایانو پرته د اماراتو، سعودي او پاکستاني چارواکو سره ناستي پیل شوې خو د امریکایانو سره طالبانو ناستي وځنډولې ځکه چې ملا فاضل او ملا خیرالله خیرخواه ته د قطر هیواد څخه د وتلو اجازه نه ورکول کیده، طالبانو امریکایانو ته ویلي و که هغوی ته اجازه ورکوئ موږ مذاکرات درسره

[43] زما (لیکوال) د معلوماتو له مخې د قطر هیواد د منزوي کېدو تر شا اصلي لوبغاړی متحده عرب امارات دي، چې سعودي عربستان یې هم له ځان سره ملګری کړی.

کوو که نه وي دا غونډه معطله ده. په پای کې امریکایان مجبورشول چې د غرور له هسکو راکښته او د طالبانو خبره ومني نو ځکه یې د ګوانتانامو دغو دوو پخوانیو بندیانو ته د سفر اجازه ورکړه. هغوی د ډسمبر پر ۱۸مه، د سهار لس بجې ابوظبي ته ورسیدل او هلته د خپلو ملګرو سره یوځای شول.

کیدای شي طالبانو هم موقع غنیمت ګڼلې وي او په دې توګه یې د خپلو پنځو لوړپوړو چارواکو لپاره د سفر مخ خلاص کړ، د طالبانو حرکتونو ته په کتو سره په هره غونډه کې خپل اسلامي امارت او مشرانو ته د نړۍ په کچه مشروعیت ورکوي او امریکا هم د ډیر مجبوریت له امله د طالبانو غوښتنو ته مثبت ځواب وایي.

**د غونډې لومړۍ ورځ:**

د پورتنیو سرچینو په حواله په لومړۍ ورځ تر مازدیګر پورې د اماراتو او سعودي عربستان د چارواکو سره بیلابیلې ناستې وشوې، په ناستو کښې طالبانو تر ډیره بریده د دغه دوو هیوادونو پر اعتماد راجلبولو باندې تمرکز وکړ.

تر دې وروسته کله چې د قطر دفتر د پاتې غړو د سفر ستونزه حل شوه، طالب پلاوي هم امریکایانو سره د ناستې موافقه وکړه، او بیا طالبانو پخپل منځ کې سلا مشورې وکړې، پر حالاتو وږغیدل او د آینده ناستو لپاره یې کړنلاره جوړه کړه.

**د غونډې دوهمه ورځ بحث څنګه او پرکومه اجنډا پیل شو؟**

د سرچینې د شخصي یاداشت له مخې د غونډې د یوې برخې دلچسپ او توند بحث هلته پیل شو چې **شیر محمد عباس ستانکزي** په خپلو خبرو کې وویل: "افغانان اسلامي نظام غواړي که په هره بڼه وي خو خارجي مداخله به نه وي، مونږ تاسې ټولو اړخونو ته وایو چې مهمه موضوع د بهرنیانو وتل دي، تر انخلا مخته هیڅ هم ممکن نه دي" .

ستانکزي صاحب زیاته کړه:" غواړم یوه خبره دا هم اضافه کړم تاسي به له رسنیو اوریدلي وي چې په هیواد کې چاپې او شپني عملیات زیات شوي دي او دا عملیات ټول پر ملکي وګړو تر سره کیږي، او زمونږ د هیواد ښځې او ماشومان وژل

کېږي او حتی پوره کلي له منځه ځي، نو ښاغلی خلیلزاد! دا د ملکیانو هدف ګرځول باید بند شي " .

**خلیلزاد** وویل:" که چیري د افغان حکومت هیئت په دې مجلس کې وای، ښه به وای، چې ځواب یې ویلی وای، ځکه عملیات هغوی کوي، ملکي تلفات چې زه ورسره شخصاً مخالف یم، خو اکثره ملکي تلفات د سرتیري بریدو او موټر بمونو په سبب هم منځ ته راځي. متحده ایالات چې کوم عملیات پلان کوي په هغو کې پوره کوشش کوي چې ملکي تلفات رامنځ ته نه شي" .

خلیلزاد وویل:" طالبانو تاسې غواړئ چې بهرنیان ووځي نو په مقابل کې تاسې څه راکوئ ؟"

په ځواب کې یې د طالب پلاوي یو بل غړي **مولوي امیرخان متقي** وویل:" ښاغلی خلیلزاد! موږ تاته یواځې د راتلونکي افغانستان په اړه اطمنان درکولای شو، نور خو زموږ سره هیڅ هم نشته، ځکه هر څه تاسي را څخه اخسیتی دي؛ وطن، کور، کلي او امن تاسې را څخه وړي دي، د فضا او ځمکي اختیار تاسي غصب کړی، موږ اوس له تاسي همدا خپل حق غواړو. ته که زموږ هیواد ته راځې نو مهرباني وکړه په نظامي جامه کې نه، بلکې په ډیپلوماټیکاو تجارتي جامه کې راشه.

ښاغلی خلیلزاد! له افغانانو سره جدي پوښتنه ده چې د مذاکراتو له پیلولو سره هم مهاله، امریکایانو خپل بمبارونه تیز کړي، آیا دا د سولې معنا لري، که د سولې د سبوتاژ کولو، داسي خو به نه وي چې امریکایان په خپل کور کي په دوو برخو ویشلي وي چي یوه برخه سوله او مذاکرات غواړي بله برخه یې مخالفه وي او یا هم د کوم فشار اچولو په غرض؟ دا خو دا مطلب چې تاسې سوله نه غواړئ؛ که هدف مو له بمبار تیزولو فشار اچول وي نو آیا دا ۱۷ کلونو کې ستاسي فشارونو کومه نتیجه ورکړې؟ که ځواب مو منفي وي نو کامیابه خلک کله هم ناکامې تجربې نه تکرار وي، زه چې راتلم موږ ته د خپل ولس له منځه په سلګونو پیغامونه راغلل چې د امریکایانو د بمبار شدت د مذاکراتو نتیجه ده، ځکه امریکایان غواړي د فشار له لاري څه تر لاسه کړی.

**خلیلزاد**:" نه! دا بمبار مونږ نه کوو، دا د افغان دولت عملیات دي، د هغوی په خوښه ترسره کیږي" .

متقي:" افغان دولت ته خو طیاري، بمونه او د تخریب وسایل تا ورکړي دي، که تاسې ته د وروستیو عاموژنو او تخریبي عملیاتو معلومات نه وي مونږ کولای شو چې زمینه برابره کړو ترڅو هلته خبریالان ولاړ شي، د بشر حقوقو ډلې ولاړې شي او کره معلومات راوړي.

پرون په هلمند ګرمسیر کې پوره بازار تخریب او وسوځول شو، هغه بله ورځ په کنړ کې پوره کلی سره له وګړو له منځه یووړل شو، تر دي مخته د هلمند په ګرمسیر ولسوالۍ کي د یوه کور ټول **۲۳** وګړي په دې شهیدان شول چي دکور مخته یې په سړک یو نظامي طالب د لیږ وخت لپاره دریدلی او له چا سره زغېدلی و. موږ د دې ټولو پیښو ثبوتونه او ویډیوګانې لرو او کولای شو چې همدا اوس یې تاسې ته درکړو."

د یادونې وړ ده چې د ملکي تلفاتو د موضوع له یادیدیو سره هم مهاله، طالبانو د مجلس په ټولو ګډونوالو په انګلیسي ژبه لیکل شوی مستند راپور هم وویشه چې د افغانستان په لر او بر کې وروستۍ پیښې په کې یادې شوې وې او له وړاندې ترتیب شوی و.

**متقي صاحب** زیاته کړه:" زموږ نظر تاسي په حوصله سره واورئ، مونږ په راتلونکي کې له افغانستانه امریکا ته د هر ډول ضرر رسولو مخنیوي ته تیار یو او تاسې ته ډاډ درکوو، مونږ اوس هم د افغانستان ۷۰ سلنه خاوره باندې حاکمیت لرو، که مو له افغانستان څخه د باندې چا ته ضرر رسولای؛ نو له دې ۷۰سلنې خاورې مو هم رسولای شوای؛ خو مونږ خپله تګلاره لرو، د ګاونډیانو او نړیوالو سره ښې اړیکې غواړو او موږ د قضیې د آساسي حل په لټه کې یو.

ښاغلی خلیلزاد! ته د امریکا د استازي په توګه پر افغان ولس او امریکایانو دواړو رحم وکړه، افغانان ستاسي په حملو کې شهیدانیږي او امریکایان د افغانانو په حملو کې وژل کیږي، زما پر دې وړاندیز تاسي غور وکړئ او مونږ هم پرې غور کوو؛ بام

ته د ختلو لپاره یو دم بام ته ټوپ نه وهل کیږي، بلکې په زینه کې قدم په قدم څوک ختلای شي، راځئ چي یوه معقوله او ممکنه لاره ولټوو. زمونږ سوله خوښی ملت ستاسي د ب ۵۲ الوتکو په مټ اشغال دې ته مجبوره کړی چې له تاسې سره سخته جګړه وکړي، مونږ واقعاً سوله او امن غواړو" .

**خلیلزاد** وویل:" په ډېر احترام او درناوي تاسي ټولو ته، هغه څه چې تا وویل، هغه مونږ اخیري منزل ته رسوي، مونږ په دې لاره کې ډېرې قربانۍ ورکړي دي، دراتلونکي په اړه باید اطمینان راکړل شی."

دخبرو په بل پړاو کي خلیلزاد د امریکایي پوهنتون د دوو استادانو خبره یاده کړه چې د ده په خبره طالبانو اختطاف کړي دي. طالب استازي ښاغلي **ستانکزي** وویل:
"د بندیانو خبره مهمه ده، د دوی دوه کسان بندیان دي دوی یې اختطاف شوي بولي او زمونږ شل زره کسان اختطاف شوي هغه هم باید راخلاص شي، زمونږ په کورو هره شپه چاپې د افغان او امریکایي ځواکونو له خوا باید ودرولي شي، مونږ تبادلې ته تیار یو، باید چې ښاغلی خلیلزاد د بندیانو تبادلې ته توجه وکړي، هلته ډېر داسې بندیان شته چې د بند موده یې پوره شوې، او ډېر داسې دي چې د ډېر عمر لرونکي دي، او ډېر نور مریضان شته، او ډېر داسې هم شته چې هیڅ دوسیه هم نلري، مونږ خواهش لرو چې په دې برخه کې پرمختګ وشي.

بله موضوع تورلسټ باید ختم شي، د تورلسټ مشکل پرون تاسې ولېد، چې حتی زمونږ مذاکراتي ټیم ته هم د راتګ اجازه نه ورکول کېدله، دا غټ مشکل دی، آینده هم شاید په مذاکراتوکي خنډ وي.

د سولې کیلي له خلیلزاد سره ده، هغه باید دا کیلي را وباسي او دا چې دا مذکرات باید د ۱۷ کلن جنګ د اختتام لپاره وي، نه دا چې له دې څخه یوه تجارتي پروژه جوړه شي، چې هر څوک خپلې ګټې په کې ولټوي، موږ په تمامه معنی حاضر یو چې سوله راشي، البته معقوله او تلپاتي سوله، د دې لپاره تر هر څه وړاندي د بهرنیانو انخلا حتمي ده، وروسته بیا بین الافغاني مذاکرات.

مخکې مو هم ویلي، اوس هم وایو او بیا به هم ووایو چې د امریکا حضور په افغانستان کې نه منو، چې یو عسکر هم موجود وي سوله نه شي راتلای، له اِنخلا پرته یو مشکل هم نه حل کېږي، اوس تر هرڅه وړاندې موږ او تاسې باید پر انخلا خبرې وکړو. اساسي خبره انخلا ده. د بندیانو تبادله، تورلسټ ختمول او د دفتر رسمیت دا کارونه باید د باور جوړوني لپاره وشي.

موږ د مقابل لوري په بندیانو مصرف کوو، تداوي یې کوو، ښه خوراک ورکوو، خو مقابل لوري زمونږ په بندیانو مصرف نه دی کړی، او خصوصاً هغه بندیان چې یو قانون یې هم په بند کې د ساتلو اجازه نه ورکوي؛ باید ټول بشري حقونو ته توجه وکړو، مونږ له تېر کوچني اختر وروسته ډېر بندیان خلاص کړي، په فراه، غزني، هلمند او نورو ولایتونو کې، حتی چې د دوی یو بشپړ کنډک اسیران مو خوشې کړي دي، اوس نو دوی هم باید زموږ اسیران خوشې کړي".

ورپسې خ**لیلزاد** وویل:" غواړم څو ټکي واضح کړم، پوهیږم چې طالبان د امریکا له حضور څخه اندېښنه لري، د انخلا مهال وېش باید وټاکل شي او د تروریزم تضمین هم وشي، او مونږ هم تضمین غواړو، زمونږ مشر(ټرمپ) هم همدا خبره کړې ده."

**طالب استازي** وویل:" د تروریزم ضمانت کول ستاسې سور خط دی او انخلا زمونږ سور خط دی، باید تمرکز پرې وکړو، نور بعدي مسایل دي.

سرچینه وایې چې مجلس ډیر اوږد و او ټولې برخې یې ما پوره تعقیب نکړای شوې، ځینې خبرې د محرمیت په خاطر هم د نشر وړ نه دي. پای

د جنوري ۱۹مه ۲۰۱۹، د طالبانو د قطر د سیاسي دفتر غړي دکتور صالح ما (لیکوال) ته لیکلي و: "ابوظبی کې خلیلزاد طالبانو ته ویلي و چې تاسې عجیبه خلک یاست؟ ټوله نړۍ له امریکا سره خبره نه تکراروي، ورسره مني یې. خو تاسې د امریکا وړاندیز هم نه اورئ، ډېر هیوادونه له موږ غواړي چې د دوی په هیوادو کې پوځې اډې جوړې کړو، مګر تاسې ته موږ خپله راغلي یو، او تاسې زموږ د شتون مخالفت

کوئ، په دې وخت کې خلیلزاد عصباني شو، له خپله ځایه ولاړ شو، ځکه د هغه حیثیت نور د عربانو او پاکستانیانو مخ کې خرابیدی.

طالبان هم په غوسه شول، او قاري دین محمد حنیف ورته وویل: که غواړې چې افغانانو کې دې راتلونکی نسل ژوند وکړي، نو د خپل جرم تلافي وکړه، د افغانستان موضوع داسې حل کړئ څه ډول چې یې افغانان غواړي، ځکه د امریکا په راوستلو کې ستا "خلیلزاد"رول و، اوس یې بیرته ایستلو کې هم رول ولوبوئ.

په دې وخت کې د کوربه هیواد متحده عرب اماراتو چارواکې وارخطا شول، ځکه گډوډې جوړه شوه، بیا مجلس هم داسې بې خونده پای ته رسیدلی و."

د ډسمبر پر ۲۹مه ۲۰۱۸، اوازې خپرې شوې چې طالبان به د افغان حکومت له استازو سره په سعودي عربستان کې ناسته کوي، د طالبانو لخوا دغه ډول اوازې رد او د مجاهد لخوا لاندې اعلامیه خپره شوه:

**په سعودي عربستان کې د کابل ادارې سره د ناستې د اوازو په اړه د اسلامي امارت د ویاند څرگندونې**

"د ځینو رسنیو له خوا اوازې خپرې شوې دي چې گنې په سعودي عربستان کې به د اسلامي امارت استازي د کابل ادارې له استازو سره ناسته کوي او داسې نورې خبرې.

دغه اوازې حقیقت نه لري، له کابل ادارې سره د ناستې په اړه د اسلامي امارت په دریځ کې کوم تغیر نه دی راغلی بلکې پخوانی دریځ دی.

موږ د یوه قوي او سنجول شوي پلان له مخې له امریکایانو سره د مذاکراتو بهیر پر مخ وړو تر څو زموږ د هیواد افغانستان اشغال پای ته ورسیږي.

هیله داده چې د مذاکراتو له پروسې سره سطحي چلند ونشي او نه هم چاته بې ځایه هیلې ورکړل شي، امریکایې جهت چې له اسلامي امارت سره د خبرو پروسې ته داخل شوی باید په ډیره سنجیدگۍ سره پرمخ لاړ شي او د تبلیغاتي استفادو هڅه ونشي."

## د قطر ناسته او د خليلزاد نټه

له ابوظبی غونډې وروسته راپورونه ورکول کېدل چې سعودي عربستان کې به د طالبانو او امريکا تر منځ بيا ځل غونډه کيږي، همدارنګه د جنوري ۲مه ۲۰۱۹، د دفاع وزيراسدالله خالد او د ملي امنيت مشر ډاکټر محب ليدنه شوې وه، چې په احتمالي اوربند يې هم خبرې کړې وي.

د جنوري پر ۳مه، ملا عبدالسلام ضعيف صاحب پېغام را وليږي:"خبري په نږدې راتلونکې کې کيږي، الحمدلله، هغه چا (پاکستان) چې غوښتل چې بل لور (اماراتو او يا سعودي) ته خبرې يوسي، د هغه له منګلو راووتلي. خدای ج دي وکړي چې نتيجه ورکړی، امريکا د اوربند لپاره ډير زيات کوشش کوي.

طالبان د اوربند منلو نتيجه کې له امريکا غواړي:

۱ – له تورلسټ څخه د طالبانو نومونه ليري شي.

۲ – د طالبانو لپاره دفتر په رسميت وپېژندل شي.

۳ – د طالبانو بنديان خلاص شي.

اوس ځکه د سولې خبرو ته اميد شته، چې د ابوظبی غونډه مطلق ناکامه وه، د دواړو لورو (طالبانو او امريکا) په خفګان سره پای ته رسېدلې وه.

اوس له نورو لارو بيا امريکا کوشش کوي، چې دا مذاکرات ونه دريږي، او خبري ناکامه نه شي، ليوالتيا شته."

د جنورې ۸مه ۲۰۱۹، رويټرز خبرې اژانس راپور ورکړ چې د طالبانو او امريکا ترمنځ د اجنډا پر سر جوړجاړی نه دی شوې، له همدې امله په دوحه کې سبا ناسته نه کيږي.

د شپې ۹:۲۴، په افغانستان کې د امريکا سفير جان باس هم ټويټ وکړ، هغه ليکلي وو: "د امريکا او طالبانو ترمنځ د چهارشنبې ورځ (۹ جنوري) خبرو کولو راپورونه سم نه دي."

ما (لیکوال) ته فداء ماخوستن مهال وویل:"پاکستان غواړي له قطر څخه امتیازات تر لاسه کړي، پام کې وه چې د طالبانو د رهبري شورا دهیئت غړي له اسلام اباد څخه دوحې ته نن ورځ را ورسیږي، خو په اسلام اباد کې هغوی ځنډول شوې وو، او په خپل وخت له پاکستان څخه د وتلو اجازه ورنه کول شوه. د طالبانو د هیئت د ځنډ راپور رسنیو ته هم ورسېدی. اوس د قطر هیواد الوتکه پاکستان ته ور روانه ده، تمه ده چې د طالبانو دغه لوړ پوړي کسان دوحې ته راوړي، او بیا به دلته د پاکستان، قطر او طالبانو تر منځ خبرې کیږي."

د جنوري ۱۳مه، ملا عبدالسلام ضعیف موږ ته وویل:" درې خبرې ومنل شوې، ښه ده هلته ملا فاضل اخوند شته، هغه ډیر قوي دی.

۱ – په سعودي عربستان او متحده عرب اماراتو کې به له امریکا سره خبرې نه کیږي، او د پاکستان په ګډون به د دغه هیوادو استازو ته د طالبانو او امریکا مخامخ خبرو پر مهال د ګډون اجازه ورکول کیږي.

۲ – هر څوک چې د سولې مذاکراتو ټیم غړي وي، هغوی باید قطر کې و اوسیږي.

۳ – که له امریکا سره خبرې کیږي، باید د طالبانو د مذاکراتي ټیم ترمنځ د خبرو نوبت مراعت شي[٤٤]."

د جنوري ۱۲مه، د نن ټکی اسیا ویبپاڼه کې د ابوظبی غونډې اړوند لیکنه خپره شو، غالباً چې د ملا امیر خان متقي له خولې قاري سعید دا معلوماتي لیکنه کړې وه.

په لیکنه کې راغلي وو: "د ابوظبی له غونډې تقریباً لس ورځې وروسته د قطر دولت په غوښتنه او وساطت د قطر دفتر طالب مرکچیانو او د زلمي خلیلزاد ترمنځ د روانې

---

[٤٤] داسي ویل کېدل چې د ابوظبی غونډې پر مهال د خبرو پیل د طالبانو د سیاسي دفتر مشر عباس ستانکزي وکړ، خو وروسته نږدې ټولې خبرې ملا امیرخان متقي کولې او د امریکایانو سره د خبرو کنټرول یې په خپل واک کې اخیستی وو. چې د خبرو پر مهال عملاً د خبرو مشرې د متقي صاحب لخوا، عباس ستانکزی او ملا فاضل اخوند ګېله من کړي وو.

میلادي میاشتې پر ۸ او ۹ مه نېټه د درې اړخیزي غونډې تابیا وشوه، طرفینو (طالبانو او امریکا) پرې توافق وکړ.

وروسته بیا د زلمي خلیلزاد د ټیم له لوري د غونډې تاریخونه، د ناڅرګندو وجوهاتو له کبله، یوه ورځ وځنډول شول، خو طالب چارواکو بیا هم پرې توافق وکړ.

د جنوري پر ۷مه، د طالبانو درې کسیز یا څلور کسیز پلاوي له پاکستانه د تګ هڅه وکړه او د قطر حکومت ورته د طیارې ورلیږلو خبر ورکړ، دا مهال یو ناڅاپه د پاکستانیانو لخوا ورته وویل شول چې امریکایي پلاوی غونډې ته نه راځي نو ستاسو د تګ اړتیا څه ده؟

څو شیبې وروسته د زلمي خلیلزاد د ټیم لخوا هم د قطر حکومت ته ویل شوي و چې زلمی خلیلزاد غونډې ته نه دی اماده.

— د دې پېښې ترشا راز څه کېدای شي؟

کتونکي یې څلور علته په ګوته کوي:

۱- د ابوظبي د غونډې له نوعیت څخه داسې ښکاره شوه چې د خلیلزاد له لورې د سولې په پروسه کې د اسلامي هیوادونو تر نوم لاندې د ناظرینو شریکانو په وسیله هغه پر طالبانو د فشار کارولو او خپلې بریا ترلاسه کولو په هڅه کې دی.

۲- دویم علت یې دا کېدای شي چې ویل کیږي د راتلونکې غونډې کوربتوب ته یې پاکستان ټېر وهلی و او ښایي چې د اوربند او یا افغان حکومت د ځایولو ذمه یې هم ورته اخیستې وي، پرته له دې چې تر وار له مخه د طالبانو د هو، یا نه، ځواب ترلاسه کړي.

۳- ممکن د طالبانو په وړاندې د جدې د غونډې د لغوه کولو عکس العمل به وي.

د ابوظبي له غونډې وروسته رسنیو دا خبرونه ګرم خپاره کړل چې ګویا راتلونکې غونډه به په جده کې ترسره کیږي، خو د طالبانو ویاند وویل چې د جدې غونډه د دوی په پلان کې نه وه او نشته.

دلته هم عین لوبه تکرار شوه د قطر د طی شده غونډې له لغوه کولو وروسته په کابل کې د امریکا سفیر جان بس وویل دا غونډه زموږ په پلان کې نه وه.چې ښکاره مطلب یې طالبانو ته د جدي د غونډې د لغوه کولو ځوابي عکس العمل و.

۴ – دا لامل هم کېدای شي چې سعودي او متحده عرب امارات له قطر سره ژوره دښمني لري نو کوښښ کوي چې قطر له دې پروسې څخه چې اوس یې ډېر ارزښت او شهرت خپل کړی ځنګ ته کړي."

زما لیکوال له نظره، ممکن لاندي لاملونه د دوحې غونډې د لغوه کیدو سببونه وي:

۱ - داچې د ابوظبی غونډې پر مهال طالبانو له خلیلزاد سره زښت چلند کړی و.

۲ – د جدې غونډه چې امریکا، پاکستان، اماراتو او سعودې غوښته، ولې طالبانو ونه منله.

۳ – پر طالبانو د پاکستان فشار ښکاره کول، چې که د پاکستان ځینې غوښتنې ونه منل شي، نو همداسي ستونزې هم طالبانو ته جوړیدای شی.

طالبانو ته په کار ده چې د سولې مذاکراتي ډله یو محورې کړي، یوازي قطر کې و اوسي، اړتیا یې نشته چې له پاکستان څخه ځینې نور طالبان د سولې مذاکراتو په موخه د پاکستان هوایې ډګرونه وکاروي.

همدارنګه په کار ده چې د هیوادو په کچه هم سوله یو محوري شي، او یا داچې تعادل پکې وساتل شي، ښه داده چې یوازي طالبان او امریکا د سولې خبرو ګډونوال وي او هیوادونه په اعتماد کې واخیستل شي، که بیا هم فشار او مجبوریت وي، نو که سعودي او امارات د غونډې برخه وال وي، په کار ده چې ایران هم ګډون ولري، که پاکستان د غونډې ګډونوال وي، اړینه ده چې هند هم ګډون وکړي، او دا ډول د ماسکو او چین هیوادونو ګډون.

د جنوري پر ۱۴مه، د امریکا د بهرنیو چارو وزیر پمپیو دوحې ته ولاړ، قطر کې یې له خپل سیال، د قطر د بهرنیو چارو وزیر محمد بن عبدالرحمن بن جاسم آل ثاني سره وکتل، په ګډه خبرې ناسته کې یې د افغان سولې اړوند د ګډې همکارۍ ژمنه وکړه.[45]

---

[45] داچې تمه وه د جنوري پر ۹مه به په قطر کې د طالبانو او خلیلزاد مخامخ خبرې د قطرې چارواکو په وساطت وشي، خو خلیلزاد دغه ناستې ته حاضر نه شو، له همدې امله قطرې

د جنوري پر ۱۵مه، ماښام ناوخته ۷:۰۴ د ارګ پاڼې د زلمي خليلزاد سره د ګډ حکومت د مشرانو "ډاکټر غني او ډاکټر عبدالله" د ولسمشر لومړي مرستيال عبدالرشيد دوستم، دوېيم مرستيال سرور دانش، د بهرنيو چارو سرپرست وزير صلاح الدين رباني، د دفاع سرپرست وزير اسدالله خالد، د کورنيو چارو سرپرست وزير امرالله صالح، د سولې شورى مرستيال حاجي دين محمد ، د سولې شورا دارالانشاء رئيس عمر داودزى، د حزب اسلامي رئيس عبدالهادي ارغنديوال او ... ) د ليدو خبر ورکړ، په ناسته کې د امريکا او ناټو پوځيانو عمومي قومندان جنرال سکاټ ميلر او په کابل کې د امريکا سفير جان باس هم ګډون درلود.

د جنوري ۱۵مه د شپې ۸:۱۴ ، له خليلزاد سره د ګډ حکومت د مشرانو د ناستې تر راپور يو ساعت او لس دقيقې وروسته طالبانو لاندي اعلاميه خپره کړه:

**د افغانستان د وروستي سياسي وضعيت په اړه د اسلامي امارت اعلاميه**

د افغانستان اسلامي امارت د هيواد په سطحه يو سرتاسري اسلامي او ملي ځواک دى، د تيرو نږدې دوو لسيزو راهيسې يې په سر او مال د امريکايي يرغلګرو ځواکونو او د هغوى د کورنيو او بهرنيو همکارانو سره مقابله کړې اوکوي يې. اهداف يې واضح او مشروع دي، چې هغه د هيواد خپلواکي او د اسلامي نظام قايمول دي.

د همدې مقصد د حصول لپاره په نظامي او سياسي دواړو برخو کې فعاليت کوي.

د مسئلې د سياسي حل لپاره يې لاره خلاصه پرېښې او د تماس ځاى يې هم ښکاره دى چې هغه د اسلامي امارت سياسي دفتر دي او په دوحه کې شتون لري.

هر هيواد چې د افغانستان د مسئلې په سوله ايز حل کې مرسته کول غواړي، کولى شي ورسره تماس ونيسي او اسلامي امارت يې هرکلى کوي؛ خو په افغانستان کې د

---

چارواکې له امريکا څخه ګيله من وو، ددې لپاره چې د قطر او امريکا د افغان سولې هڅې له بشپړ خنډ سره مخ نه شي، د امريکا د بهرنيو چارو وزير پمپيو قطر ته او له هغه ځايه سعودي عربستان ته ولاړې.

اشغال مسئله زموږ د خپلواکي غوښتونکي مسلمان ملت مسئله ده، څرنګه او چیرې یې چې حل کول غواړو، دا زموږ حق دی.

دا مسئله د چا په فشار او تاکتیکي برخوردونو نه حل کیږي او نه هم دا د منلو وړ دي چې څوک د افغانستان مسئله د خپلو اړیکو د پرمخبیولو او خپلو ګټو د تر لاسه کولو لپاره وکاروي.

که امریکایان غواړي په ښه نیت مذاکراتو ته راشي او د افغانستان د مسلمان اولس مشروع غوښتنې ومني، په داسې کولو سره مسئله حل کیدای شي؛ خو که د افغانانو مشروع غوښتنو له منلو څخه تیښته کوي او په یوه او بله پلمه، د سولې تر نوم لاندې خپل استعماري او نظامي اهداف له سیاسي لارو تعقیبوي یا د نورو هیوادونو [46] د تطمیع له لارې ناروا فشارونه اچوي، دا معنی لري چې د افغانستان د مسئلې په سوله ایز حل کې دلچسپي نه لري.

څرنګه چې امریکایانو د تیر میلادي کال د نومبر په میاشت کې د دوحې په غونډه کې موافقه کړې وه چې په راتلونکې غونډه کې به له افغانستان څخه د خارجي قواوو په وتلو او د نورو هیوادونو په خلاف د افغانستان د خاورې د نه استعمالولو په موضوع خبرې کوو؛ خو اوس دوی له هغې اجنډا څخه ډډه کوي او پخپله خوښه نوي موضوعات پکښې زیاتوي، نو له همدې امله، اسلامي امارت امریکایانو ته خبرداری ورکوي چې که دا وضعیت دوام کوي او امریکایان پخپله تګ لاره کې له ریښتونولي څخه کار نه اخلي؛ نو اسلامي امارت به هم اړ کیږي چې د سولې خبرې او مذاکرات ترهغه وخته وځنډوي ترڅو چې امریکا د ناروا فشارونو او تاکتیکونو پرته، واقعي سولې ته را وړاندې شوې نه وي.

د افغانستان اسلامي امارت

د جنوري ۱۶مه زلمي خلیلزاد له رسنیو سره په خبرو کې وویل:"که طالبان د سولې خبرې کوي، چمتو یو، که هغوی د سولې خبرو ته نه حاضریږي، جګړه کوي، امریکا هم ورسره جګړه کوي او د افغان حکومت په خوا کې دریږي او ملاتړ یې کوي."

---

[46] ممکن هدف یې پاکستان، سعودي عربستان او متحده عرب امارات وي.

## اسلام اباد کې غونډه او د طالبانو نټه

زلمی خلیلزاد د جنوري ۱٦مه اسلام اباد ته ولاړ، هلته یې د پاکستان د بهرنیو چارو مرستیال وزیرې سره وکتل، د جنوري پر ۱۷مه یې د بهرنیو چارو وزیر شاه محمود قریشي سره ولیدل، او د جنوري پر ۱۸مه یې د پاکستان له لومړي وزیر عمران خان سره وکتل.

د پاکستان لخوا خلیلزاد ته وعده ورکول شوې وه چې دا ځل به طالبان ورسره اسلام اباد کې کینوي، خو طالبانو ونه منله.

ټاکل شوې وه چې د جنوري ۱۸مه ۲۰۱۹، د جمعې ورځ به په اسلام اباد کې د پاکستان په وساطت د طالبانو او امریکایې هیئت ناسته وشي، ولې طالبانو دا هر څه د اعلامیې په خپرولو سره رد کړل.

ذبیح الله مجاهد ولیکل: وضاحت:" په اسلام اباد کې له امریکایي استازي خلیلزاد سره د اسلامي امارت د استازو د کومې ناستې اوازې حقیقت نه لري."

د زلمي خلیلزاد اسلام اباد ته د تګ پر مهال، د پاکستان د پوځ مشر جنرال عاصم منیر هم قطر ته تللی و، او هلته یې له قطري چارواکو او طالبانو سره لیدلي وو، د طالبانو د سیاسي دفتر له مشرتابه یې غوښتي و چې اسلام اباد کې له زلمي خلیلزاد سره وګوري، خو طالبانو نټه کړې وه.

ممکن چې عمران خان هم په څو ورځو کې قطر ته ولاړ شي، او هلته به له قطر هیواد څخه وغواړي چې طالبان راضي کړي، تر څو راتلونکې ناسته په اسلام اباد کې وشي، چې قطر، سعودي عربستان، امارات به هم پکې ګډون لري، او د پاکستان په وساطت به د امریکایانو او طالبانو ترمنځ خبرې کیږي.

خلیلزاد د جنوري په ۱۰مه هند کې و، او  جنوري په ۱۴مه چین ته ولاړی. پلان داوو چې د چین څخه پاکستان ته ولاړ شي، مګر پاکستان خپل عذر ورته وړاندي کړ چې طالبان لا هم نه دي چمتو  شوي چې له خلیلزاد سره ووینې، خلیلزاد کابل ته راغی، او بیا له کابل څخه اسلام اباد ته د توقع خلاف، د ۵ ورځو لپاره ولاړ.

پاکستان هغه وخت زيات اندېښمن شو، چې کله د هند د پوځ لوی درستيز بپن راوت په خپله کلنۍ وينا (۱۱ جنوري ۲۰۱۹) کې وويل:"د هند هيواد دي هم له طالبانو سره د مذاکراتو په درشل کې شامل شي."

په همدې اونۍ کې د هند مهم سياستوال ، هندي ډيپلوماټ او په ملګرو ملتونو کې د بې وسلې کېدو د کنفرانس غړی راکش سوود وويل:"هند ته په کار ده چې له طالبانو سره مخامخ اړيکې جوړې کړي، ځکه د سيمې ټول هيوادونه له طالبانو سره اړيکې جوړوي."

پاکستان د جنوري پر ۱۷ مه د هندي چارواکو او سياستوالو څرګندونو ته غبرګون وښود، چې هند به د افغان سولې په تړاو کوم رول ونه لري، خو د جنوري پر ۱۸مه د هند د بهرنيو چارو وزارت سخت غبرګون وښود، او پاکستان ته يې خبرداری ورکړ چې اسلام اباد دې د کابل د بهرنۍ پاليسۍ پريکړې نه کوي.

ما (ليکوال) ته د جنوري ۱۹مه، د طالبانو د قطر د سياسي دفتر غړي دکتور صالح هم وليکل چې د هند څرګندونو او وروستيو تحرکاتو پاکستان په انديښنه کې اچولی دی.

د جنوري ۱۹مه، ماسپښين ۳:۰۰ بجې، افغان بنسټ کې ضعيف صاحب ما (ليکوال) ته وويل:"پاکستان د ۵ طالبانو نومونه خليلزاد ته ورکړې وو چې په اسلام اباد کې به يې ورسره کښينوي، ملاامیرخان متقي، ملا محمد عباس اخوند او ۳ نور، د پاکستان لخوا خليلزاد ته ويل شوې وو چې همدا د طالبانو واک لرونکی کسان دي، او دوی به له تاسي سره د سولې اړوند خبرې وکړي، خو د طالبانو مشرتابه هيچاته په اسلام اباد کې له خليلزاد سره د خبرو کولو اجازه ورنه کړه.

متقي صاحب چې د ابوظبۍ خبرو کې رول درلود، اوس نظامي طالبان هغه ته ډير په غوسه دی، ناسم الفاظ ورته کاروي، او پر متقي صاحب باندي دا مهال ډير زيات فشار دی."

که څه هم خلیلزاد غوښتل چې یو ډول طالبان تر فشار لاندې راوستل شي، ځکه خو یې د جنوري پر ۸مه او ۹مه په دوحه کې منل شوې ناسته ونه کړه، هند، چین، افغانستان او اسلام اباد ته یې سفرونه وکړل،

داسې هم ویل کېدل چې پاکستان له امریکا سره ژمنه کړې وه چې په اسلام اباد کې به د طالبانو د مشر شیخ هبة الله دواړه مرستیالان (مولوي محمد یعقوب او سراج الدین حقاني) او یا هم ۵ تنه د رهبري شورا غړي له خلیلزاد سره کښېنوي، او د افغان سولې په اړه به هلته خبرې کيږي. مګر طالبانو ونه منله چې په اسلام اباد کې له امریکایي پلاوي سره خبرې وکړي.

دا راپورونه هم ورکړل شول، چې د پاکستان سره امریکا منلي وه که د طالبانو دغه ډول مشران په اسلام اباد کې ورسره کینوي، او طالبان ومني چې له افغان حکومت سره به خبرې کوي، نو امریکا به پاکستان ته ۷۰۰ میلیونه ډالر ورکوي.

پاکستان پر طالب مشرانو ډېر زیات فشار راوست، او اسلام اباد ته د خلیلزاد تر سفر مخکې هم قطر ته د آی ایس آی مشر عاصم منیر سفر وکړ، له طالبانو یې وغوښتل چې اسلام اباد کې له خلیلزاد سره وګوري، او هلته به د طالبانو د رهبري شورا غړي هم په غونډه کې ګډون کوي، همدا ډول یې له قطري چارواکو هم وغوښتل چې اسلام اباد ته ولاړ شي، او په غونډه کې ګډون وکړي.

طالبانو عاصم منیر ته وویل: "موږ به له خپلو مشرانو سره مشوره وکړو."

بیا طالبانو پریکړه کړې وه چې د اړیکو ټول وسایل به له ځانه لیرې کوي، او همغه و چې پاکستاني چارواکو ونه شوای کولای  چې د رهبري شورا له غړو سره اړیکې ونیولای  شي، همدارنګه کله چې یې په قطر کې د سیاسي دفتر له غړو سره اړیکه نیولې وه، د هغوی لخوا په وضاحت ورته ویل شوې وو چې اسلام اباد کې له خلیلزاد سره نه شي لیدلای.

د نومبر پر ۱۴مه۲۰۱۹، ما (لیکوال) ته متقي صاحب په دوحه کې وویل:"موږ له ځان سره ټلیفونونه ګرځول، او پاکستاني چارواکو ته مو ډېر ښکاره وویل چې په اسلام اباد کې له امریکایي پلاوي سره خبرې نه کوو."

د طالبانو د اعلامیې تر نشر (۱۵ جنوري ۲۰۱۹) وروسته، امریکایانو ته اندېښنه پیدا شوه چې کیدای شي د سولې مذاکرات په ټپه ودریږي، او کومه توقع چې یې له پاکستان څخه درلودله، پاکستان هم ونه توانېدی چې له امریکایانو سره خپلې کړې ژمنې پوره کړي.

د امریکا د بهرنیو چارو وزرات د ناروي له بهرنیو چارو وزارت څخه مرسته وغوښته چې له طالبانو سره په ټپه ولاړ حالت کې ورسره مرسته وکړي، او په دوحه کې د طالبانو د سیاسي دفتر کسان راضي کړي چې له امریکا سره ناسته وکړي.

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت لوړ پوړي ډیپلوماټان قطر ته ولاړل، له کابل څخه یې سرپرست سفیر پېټر هم ورغی، او هلته یې له طالبانو سره ولېدل، طالبانو له امریکایې هیئت سره خبرې کول ومنل.

د جنوري ۲۱مه ۲۰۱۹، د سولې عالي شورا مرستیال مشر سردار محمد نادر نعیم او زه (لیکوال) له ضعیف صاحب سره ناسته وو، ضعیف صاحب وویل:"پرون ورځ زموږ د ناروي له شارژدافیر پېټر سره د لیدو وعده وه، پرون ورځ ما له مخکینې ولسمشر کرزي سره هم ناسته درلودله، له هغه سره تر ناستې وروسته موږ له پېټر سره د لیدو وعده وه، خو پرون سهار وختي د پېټر پیغام راغی چې عاجل غواړي دوحې – قطر ته ولاړ شي، او هلته د ناروي د بهرنیو چارو وزارت نور لوړ پوړې کسان هم راغلي.

امریکا ورڅخه غوښتي چې د طالبانو او خلیلزاد تر منځ د ناستې اړوند اسانتیاوي برابرې کړي.[٤٧] "

---

[٤٧] ناروي له طالبانو سره ډیرې نږدې او ښې اړیکې لري. د جنوري ۱۹مه ضعیف صاحب وویل چې ناروي له طالبانو سره ځینې مرستې هم کړي او هم یې کوي.

## دوحه کې د طالبانو او امریکایانو ٦ ورځنۍ غونډې

### څلورم پړاو خبرې

خلیلزاد په پاکستان کې له ۵ ورځو (۱٦ جنوري تر ۲۰ جنوري) تیرولو وروسته ناهیلی، د جنوري پر ۲۱مه ۲۰۱۹، د دوحې پر لور وخوځید،

ماښام مهال یې له طالبانو سره په دوحه کې ولیدل، او سبا ورځ د طالبانو لخوا اته کسان او د امریکایانو لخوا یولس کسان د افغان کشالې د حل په موخه د قطر هیواد د بهرنیو چارو وزارت کې سره کیناستل، پلان داسې و چې خبرې به کیدای شي، له یوې تر دوو ورځو وغځیږي، مګر د توقع خلاف دغه خبرې ٦ ورځې (۲۱ جنوري تر ۲٦ جنوري ۲۰۱۹) پورې دوام وکړ.

د طالبانو او امریکا ترمنځ د لومړۍ ورځې (۲۱ جنوري) غونډې په اړه د طالبانو ویاند مجاهد ولیکل:

### په دوحه کې له امریکایي استازو سره مذاکرات پیل شول

"امریکایي لورى د هغې اجنډا په منلو سره چې د افغانستان د اشغال خاتمه او له آینده افغانستان څخه چاته د ضرر نه رسولو اطمنان دی د مذاکراتو میز ته راغی او نن یې استازو د قطر هیواد پلازمینه دوحه کې د اسلامي امارت له استازو سره غونډه وکړه. یاده غونډه به سبا هم دوام کوي." مجاهد

د طالبانو لخوا اته تنو (شیرمحمد عباس ستانکزی - د سیاسي دفتر مشر، ملا فاضل اخو ند د سیاسي دفتر غړی، ملا خیرالله خیرخوا د سیاسي دفتر غړی، ملا عبدالسلام حنفي - د رهبري شورا غړی او د سیاسي دفتر مرستیال مشر، قاري دین محمد حنیف - د رهبري شورا او د سیاسي دفتر غړی، مولوي شهاب الدین دلاور د سیاسي دفتر غړی، مولوي ضیاء الرحمن مدني دسیاسي دفتر غړی او سهیل شاهین د سیاسي دفتر ویاند ) او د امریکا لخوا ۱۱ تنه چې خلیلزاد یې مشرې کوله، د بهرنیو چارو وزارت، پنټاګون، سپینې ماڼۍ او سي آی اې استازو په ٦ ورځنیو ناستو کې ګډون درلود.

په یادو غونډو کې په لاندې مسایلو باندې بحث شوی وو:

۱ –د امریکایي ځواکونو د وتلو مهالویش ټاکل.

۲ –د طالبانو لخوا امریکا ته اطمنان چې له افغانستان څخه به امریکا او نوري نړۍ ته په راتلونکې کې گواښ نه پېښیږي.

۳ –د احتمالي اوربند اړوند بحث.

۴ –له تور لستې څخه د طالبانو د نومونو لیري کېدل.

۵ –د طالبانو لپاره دفتر په رسمیت پېژندل.

٦ - د افغان حکومت / افغان سیاستوالو سره د طالبانو مخامخ خبرې به کله کیږي.

له ٦ ورځو بحثونو وروســـته تمه وه چې طالبان او امریکایان به گډه اعلامیه خپره کړي، مگر د دې لپاره چې د افغان حکومت مشران "ډاکټر غني او ډاکټر عبدالله" هیڅ د مذاکراتو اړوند جریان کې نه وو ساتل شوي، خلیلزاد غوښتنه کړي وه چې گډه اعلامیه وځنډوي، مگر بیا هم که طالبان له خپله اړخه کومه اعلامیه خپروي، د هغوی خوښه ده.

همدارنگه د خلیلزاد لخوا بیا هم ټینگار شوی و که گډه اعلامیه ورکول کیږي، باید پکې د پوځیانو د وتلو، اوربند او افغان حکومت سره د طالبانو مخامخ خبرو اړوند هم وضاحت وي، او دا شیان پکې ځای شي. همدارنگه خلیلزاد غوښتې و چې د افغان حکومت سره احتمالي مخامخ خبرو اړوند باید اعلامیه کې یو څه ځای شي، چې طالبانو له دې څخه نټه کړي وه.

د څلورم پړاو خبرو په اړه د جنوري پر ۲٦مه، د طالبانو ویاند ذبیح الله مجاهد لاندې اعلامیه خپره کړه:

**په دوحه کې له امریکايي جهت سره د مذاکراتو په اړه د اســلامي امارت د ویاند څرګندونې**

"څرنګه چې له تیرو شــپږ ورځو را په دې خوا د قطر مرکز دوحه کې له امریکايي جهت سره د اسلامي امارت د مذاکراتي هیئت پرلپسې ناستې او خبرې رواني وي، نن مازدیګر دغه ناستې پای ته ورسیدې.

د مذاکراتو په دې پړاو کې د تاکل شــوې اجنډا سره ســم له افغانســتانه د بهرنیو ځواکونو په وتلو او نورو اړوندو مهمو مســایلو بحث او پرمختګ وشــو؛ داچې موضــوعات درانه دي او زیات جر او بحث ته اړتیا لري؛ نو فیصــله وشــوه چې د ځینو لاینحله مســایلو پر سر به په راتلونکي کې نورې ورته غونډې هم جوړیږي، تر څو پاته لاینحله مســایلو ته هم د حل مناســبه او مفیده لار پیدا کړل شي او هم دواړه طرفه د مجلس جریان له خپلو مشرانو سره شریک او هدایت ترلاســه کړي. د خبرو په جریان کې د اسلامي امارت واضح دریځ داوو چې تر څو له افغانستانه د خارجي ځواکونو د وتلو موضــوع حل نه شي په نورو برخو کې پرمختګ امکان نه لري.

په پای کې د اسلامي امارت هیئت د تسهیلاتو د برابرولو په برخه کې د قطر هیواد له همکارۍ څخه مننه وکړه.

داچې ځینو رســنیو په یاده غونډه کې د اوربند یا د کابل اداري سره د مذاکراتو د توافق راپورونه ورکړي هیڅ حقیقت نه لري."

## د ملا برادر اخوند نوې دنده

لـه بنـد څخـه تـر خلاصـیدو نـږدې یـوه میاشـت وروسـته د طالبـانو د مشرـ شـیخ هبـة اللـه لخـوا ملابـرادر اخونـد د هغـه سـیاسي مرسـتیال او د قطـر د سـیاسي دفـتر مشرـ وټاکـل شـو، پـه اړه یـې د طالبـانو ویانـد د جنـوري پـر ۲۴مـه لانـدې اعلامیه خپره کړه.

**د ملا عبد الغني برادر د ټاکنې په اړه د اسلامي امارت د ویاند څرګندونې**

د اسـلامي امـارت د مقـام لـه فرمـان سره سـم محـترم مـلا عبـدالغني بـرادر پـه سـیاسي چـارو کـې د مشرـتابه مرسـتیال او د اسـلامي امـارت د سـیاسي دفـتر د رئیس په توګه وټاکل شو.

دغـه ګـام لـه امریکـایي جهـت سره د روانـو مـذاکراتو د پروسـې د لا تقـویې او پـــه ښـــه توګـــه تـــر سره کولـــو پـــه منظـــور پورتـــه کـــړل شـــوی دی. د محــترم مــلا عبــدالغني بــرادر پــه ګمارنــه سره بــه هــم د اســلامي امــارت مـذاکراتي ټـیم لـه امریکـایي جهـت سره خپلـو روانـو خبروتـه دوام ورکـوي او هیڅ ډول تغیر به نه په کې راځي.

د مـلا بـرادر اخونـد د ټـاکنې ترڅنـګ د اسـلامي امـارت پـه بـیلا بیلـو نظـامي، او ملکي اداراتو کـې یـو شـمیر نـورې ګڼـې ټـاکنې هـم تـرسره شـوې، تـر څـو روان جهادي بهیر او همدا ډول سیاسي هلې ځلې په ښه توګه پرمخ ولاړې شي.

ذبیح الله مجاهد د اسلامي امارت ویندوی

۱۴۴۰/۵/۱۸هـ ق

۱۳۹۷/۱۱/۴هـ ش ـــ ۲۰۱۹/۱/۲۴

## له استاد سیاف سره خبرې

د جنوري ۲۴مه ۲۰۱۹، زه (لیکوال) له اســـتاد ســـیاف سره په پغمان کې وم، هغه وویل:"داچېد سولې هڅې څه ډول روانې دي. دوه پوښتنې دي:

۱ – داچې طالبان په دې مذاکراتو کې څومره خپلواک دي. دادی د پاکســـتان لومړی وزیر عمران خان هم قطر ته ورغلی دی[٤٨].

۲ – که طالبان له امریکا سره تفاهم ته ورسېږي، بیا به به هم جګړه دوام پیدا کوي، په کار ده چې طالبان له خپلو افغانانو سره توافق ته ورسیږي."

**مطمئن**: پلان خو دا وو چې خلیلزاد له چین څخه پاکستان ته ولاړ شي، پاکستان وعده ورکړې وه چې د طالبانو د مشر دوه مرستیالان او یا هم په لوړه کچه مشران به له امریکایانو سره کینوي، پاکســـتان خلیلزاد ته ویلي و چې دوحې ته مه ورځئ، هغوی (د ســـیاسي دفتر طالبان) واک نه لري، ځکه خو خلیلزاد د دوحې غونډه (۸ او ۹ جنوري) لغوه کړه. کله چې پاکســـتان ته ولاړ هلته یې ۵ ورځې تیرې کړې، پاکستان ونه شوای کولای چې طالبانو ورسره کینوي.

د پاکســـتان د آی ایس آی مشرـ جنرال عاصـــم منیر هم پاکســـتان ته د خلیلزاد له ورتګ مخکې قطر ته تللی و، هلته یې له قطرې چارواکو او طالبانو سره لیدنه شوې وه، قطریانو منلې وه چې اسلام اباد غونډه کې ګډون وکړي، خو طالبانو ورته ویلي وو چې موږ مشوره کوو. بیا د طالبانو د رهبرې شورا د مذاکراتو د ډلې غړو، متقي صاحب او نورو کسانو هم خپل ټیلیفونونه بند او ورک شول.

امریکا پاکستان ته مالي امتیازات هم منلي وو، خو کله چې طالبانو د پاکستان خبره ونه منله، نو خلیلزاد پوه شو، چې دا مسئله ستونزمنه ده، امریکا کوشش وکړ چې د اروپایي هیواد په مرســـته له طالبانو سره اړیکه ونیسيـ، همهغه وو چې د طالبانو او

[٤٨] عمران خان په قطر کې له قطرې چارواکو سره مخکې له مخکې پلان شوې لیدنې وکړې، او له طالبانو سره یې په قطر کې ونه لیدل.

امریکایې هیئت ترمنځ ناسته د یوې ورځې لپاره ترتیب شوه، خو اوس څلورمې ورځې ته ورسېدله.

فکر کیږي چې د بهرنیانو پر وتلو، او د طالبانو لخوا بیا ځل امریکا ته د افغانستان د خاورې څخه د ګواښ نه پېښېدو اړوند، د اوربند او افغان - امریکایې پوهنتون استادانو سره د بندیانو د تبادلې په اړه به خبرې شوې وي.

د عمران خان سفر د خلیلزاد له سفر سره کومه اړیکه نه لري، مخکې له مخکې دا تنسیق شوی و، ځکه د پاکستان د استخباراتو مشر هم مخکې قطر ته تللی و.

**استاد سیاف**: دا مهمه ده چې سړی پوه شي چې پاکستان ونه توانېد چې طالبان له خلیلزاد سره اسلام اباد کې کینوي، او که یې نه غوښتل، موږ خو پاکستان کې وخت تیر کړی، د هغوی هر څه را معلومیږي. ممکن د پاکستان ملکي حکومت به غو ښتل چې طالبان له امریکایانو سره کینوي، خو پوځي حکومت به دا کار نه وي کړي.

**عبدالحکیم منیب**: استاده! د طالبانو مشران رښتیا هم چاته غوږ نه نیسي، که په مشر باندې انتقاد کوم څوک وکړي، نو هغه به خامخا وژل کیږي. هیڅوک د سولې مذاکراتو واک نه لري، ټول واک له نظامیانو سره دی[۴۹].

**مطمئن**: موږ وویل چې قطر ته د پاکستان د آی ایس آی مشر ورغلی و، د آی ایس آی مشر د پوځ له ادارې سره تړاو لري، ملکي حکومت پورې اړه نه لري.

دوېمه خبره مهمه ده چې طالبانو سره باید بین الافغاني تفاهم وشي، تیر ځل هم ما ویلي وو، که تاسې د قوي سیاسي ګوندونو مشران په دې برخه کې رول ولوبوئ، او

[۴۹] عبدالحکیم منیب د طالبانو د واکمنۍ پر مهال د مخابراتو مرستیال وزیر، وروسته د روغتیا مرستیال وزیر، د حامد کرزي د حکومت په لومړۍ دوره کې د ارزګان والي، بیا وروسته د حج او اوقافو مرستیال وزیر شو. د ډاکټر غني لخوا د حج او اوقافو سرپرست وزیر شو. دا مهال هغه د ملي یووالي حکومت کې د حج اوقافو وزیر و.

طالبانو سره ولېدل شي، ځکه طالبان خو له افغان حکومت سره نه کيني، هغوی فکر کوي که له افغان حکومت سره کيني، نو حکومت ته مشروعيت ورکول کيږي.

**استاد سياف**: دا مسئله مهمه ده، د طالبانو نظام مخکې له منځه تللی، هغوی ادعاء د خپل حکومت لري، اوس حکومت هم غواړي چې خپل حيثيت ولري، که د سياسي ډلو مشران له طالبانو سره مخامخ خبرو ته کيني، په دي معنی ده چې د طالبانو ړنګ شوې نظام ته قايل دي، او د اوسني نظام په پرتله د طالبانو نظام ته ترجيح ورکول کيږي، نو بيا به افغان حکومت هم دا ونه مني.

**مطمئن**: دا يو واقعيت دی، اړتيا ده چې له طالبانو سره افغان سياستوال کيني، حتمي نه ده چې تاسي او نور مشران له طالبانو سره د هغوی د نظام د رسميت منلو په ډول کينئ، بلکې افغان حکومت او طالبانو تر منځ داسي وي، چې حکومت ته هم وويل شي چې د حکومت په ډول نه دی، بلکې هڅه وشي چې د افغان کشالې د حل لپاره لاره پيدا شي.

**استاد سياف**: موږ د مجاهدينو ترمنځ د جګړو پر مهال د روغې او جوړې ډيرې هڅې وکړې، د طالبانو او استاد رباني ترمنځ مو هم هڅې وکړې، سخته ده.

يو ځل موږ له حزب وحدت سره روغه وکړه، موافقه وشوه، خو په سبا يې زموږ په لور هم د هاوان مرمۍ راغلي، او د حزب وحدت په لور هم، د کمپنۍ سره کوم ځای کې له يوه ځايه د دوو هاوانو په واسطه يو زموږ لور ته بل د حزب وحدت لور ته مرمۍ ويشتل شوي وي.

په دي وخت کې **نيازمحمد اميري** وويل: يو ځل موږ له حزب وحدت سره د جګړې پر مهال يو کور ته ورغلو، هلته دوه هانونه ايښودل شوې وو، د يوه هاوان خوله د پغمان لورته او د بل هاوان خوله د حزب وحدت وسلوالو لورته ګرځول شوې وه[50].

[50] نيازمحمد اميري له روسانو سره د جهاد پر مهال په غزني ولايت کې د استاد سياف قومندان، د حامد کرزي په لومړۍ دوره حکومت کې د ولسي جرګې غړی او بيا وروسته د لوګر والي و.

**استاد سیاف**: یوه غته تیروتنه وشوه، کله چې د طالبانو نظام سقوط وکړ، هغه وخت طالبان په هر څه راضي کېدل، خو دا چې ولي دا کار ونه شو، دا نور مسایل دي.

که طالبانو ته په خپلو کورونو کې د ژوند کولو حق ورکول شوی وای، په یوه اونۍ کې ستونزه حل کېدله. مگر دا کار ونه شو.

حتی ځینو طالبانو ویل چې گوانتانامو ته دي نه وړل کیږي، که په پلچرخې کې زنداني شي هم باک نه کوي.

**مولوي محمد اکرم**: ما اسـتاد سـیاف ته لیک راوړ، ورته مې وویل چې طالبان په غارونو ننوتلي، یوازي غواړي له غارونو را ووځي، نور څه نه غواړي[51].

[51] مولوي محمد اکرم د محمد امین زوی د ننگرهار ولایت اوسیدونکی، له پخواني شوروي اتحاد سره د جهاد پر مهال، په پېښور کې د استاد سیاف د اوسیدو افغان مهاجرو پبو کیمپ کې د جامع مسجد خطیب و. اوس مهال هم له استاد سیاف سره تگ راتگ لري. د روغبړ پر مهال د استاد سیاف تندی ور مچ کوي.

یو ځل نږدې وو چې له ما (لیکوال) سره جگړه وکړي، ما وویل چې کله امریکا پر افغانستان حمله وکړه، د سي آی اې مامورینو په گلبهار کې استاد سیاف ته یو لک ډالر ورکړي و، او استاد سیاف په خوشي هغه یو لک ډالر ورڅخه اخیستي و.

مولوی محمد اکرم ډېر غوسه شو، ویې ویل چې د کفارو تبلیغات مه منئ، کفار په مسلمانانو پسې درواغ وایي، او بیا ځل دا خبره مه کوئ، پر دي ډېر خفه کیږم، استاد سیاف مجاهد دی، او تاسي د هغه په مقابل کې دا ډول غلطي خبرې کوئ.

ما (لیکوال) ورته وویل چې تاسي خو استاد سیاف هر وخت گورئ، هغه ته ووایه چې دا کیسه څنگه وه، که هغه د سي آی اې مامور درواغ پسې لیکلي وي، په کار ده چې استاد سیاف دا خبره رد کړي.

"په پنجشیر کې د سي آی اې کارکوونکو گریک او کریس له استادسیاف سره د سپتمبر په ۲۸مه ۲۰۰۱ لیدنه درلوده، سیاف له دوی سره په انگلیسی خبري کول خوښول.

**استاد سیاف**: څومره چې زه پوهېږم، طالبان هم امریکایانو ته په **۳** او **۵** نظامي اډو ورکولو کې مشکل نه لري، غواړي چې یو شکل ورته جوړ کړي، چې هغوی دلته څه ډول و اوسي[52].

مګر مهمه داده چې طالبان مشکل له افغانانو سره هم حل کړي.

**مطمئن**: که طالبانو اډې منلای، ممکن وختې لا دا مسئله ختمه شوې وای، اوس خو د امریکايي پوځیانو پر وتلو او د طالبانو لخوا اوربند کولو باندې خبرې کیږي.

---

سیاف له سي آی اې سره د همکارۍ د څرنګوالي پرمشخصاتو کې تت او بې وعدې ښکاره شو. سیاف د ظاهر شاه اړوند د امریکا ملاتړ غوښت چې هغه راشي او واک ترلاسه کړي.

سیاف له موږ سره ژمنه وکړه، څو د بن لادن ټینګ ملګری او د القاعدې دویم کس ډاکټر ایمن الظواهري په نیولو کې راسره مرسته وکړي، خو کوم مشخص څه تر لاسه نه شول.

سي آی اې سیاف تهآ یو لک ډالر ورکړل، هغه واخیستل، سیاف وویل لومړی ځل دی چې له چا څخه مخامخ پیسې اخلم. مګر فهیم د یو میلون ډالرو هغه دروند صندوق خپله وانه خیست، د هغه ملګرو پسې ور ووړ. "

۱۲۰ تر ۱۲۲مې پاڼې، سي آي اې په پنجشیر کې کتاب Firs in Afghanistan

[52] استاد سیاف څو ځله موږ ته همدا خبره وکړه چې طالبان به په یو شکل د اشکالو د امریکايي پوځیانو لږ شتون په افغانستان کې ومني، همدا خبره حکمتیار هم موږ ته کړي. داسې ښکاري چې استاد سیاف او حکمتیار به دواړو امریکایانو ته هم دا ویلي وي چې بالاخره طالبان راضي کیږي چې ستاسې (امریکايي پوځیانو) لږ شتون په افغانستان کې ومني.

## د څلورم پړاو خبرو پای

د جنوري ۲٦مه طالبانو لاندي اعلامیه خپره کړه:

**په دوحه کې له امریکایي جهت سره د مذاکراتو په اړه د اسلامي امارت د ویاند څرګندونې**

څرنګه چې له تیرو شپږ ورځو را په دې خوا د قطر مرکز دوحه کې له امریکایي جهت سره د اسلامي امارت د مذاکراتي هیئت پرله پسې ناستې او خبرې روانې وي، نن مازدیګر دغه ناستې پای ته ورسیدې.

د مذاکراتو په دې پړاو کې د ټاکل شوې اجنډا سره سم له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو په وتلو اونورو اړونده مهمو مسائلو بحث او پرمختګ وشو؛ داچې موضوعات درانه دي او زیات جر او بحث ته اړتیا لري؛ نو فیصله وشوه چې د ځینو لاینحله مسایلو پر سر به په راتلونکي کې نورې ورته غونډې هم جوړیږي، ترڅو پاته لاینحله مسایلو ته هم د حل مناسبه او مفیده لار پیدا کړل شي او هم دواړه طرفه د مجلس جریان له خپلو مشرانو سره شریک او هدایت ترلاسه کړي.

د خبرو په جریان کي د اسلامي امارت واضح دریځ داوو چې تر څو له افغانستانه د خارجي ځواکونو د وتلو موضوع حل نه شي په نورو برخو کې پرمختګ امکان نه لري.

په پای کې داسلامي امارت هیئت د تسهیلاتو د برابرولو په برخه کې د قطر هیواد له همکارۍ څخه مننه وکړه.

داچې ځینو رسنیو په یاده غونډه کې د اوربند یا د کابل ادارې سره د مذاکراتو د توافق راپورونه ورکړي هیڅ حقیقت نه لري.

ذبیح الله مجاهد د اسلامي امارت ویندوی

له اعلامیې لږ وروسته، د طالبانو ویاند ذبیح الله مجاهد لاندي وضاحت هم خپور کړ:

**وضاحت**: په ځینو رسنیو کې اوریدل کیږي چې ګنې د اسلامي امارت استازو له امریکایي پلاوي سره د ټولو ځواکونو د ایستلو لپاره اتلس میاشتې وخت ټاکلی، دغه راپور حقیقت نه لري، د اتلو میاشتو خبره هیڅ مطرح شوی نه ده .

د جنوري پر ۲۷مه، د قطر ســـياسي دفتر همکار عمار ياسر سره ما "ليکوال" اړيکه ونيوله، ځينې معلومات يې را سره شريک، او ما د لنډې ليکنې په بڼه خپاره کړل.

## د طالبانو او امريکا ٦ ورځنۍ غونډې او پايلې

شپږ ورځې مجلس مثبت وو، او نتايج به يې په راتلونکې کې ان شاء الله وينو.

مهم ټکې چې د غونډو پر مهال پرې بحث شوي او منتج وو:

۱ - د امريکايې نيمايې (۷۰۰۰) پوځيانو وتل به په فبروري کې پېل او تر اپريل ۲۰۱۹ پورې به له افغانستان څخه پرته له بياځل بحث او شرايطو څخه وځي.

۲ - د پاتې نيمايې امريکايې پوځيانو د وتلو اړوند به د دواړو لورو (طالبان او امريکا) لخوا کاري او تخنيکې ټيمونه ورباندې بحثونه کوي، چې په څومره وخت کې بايد له افغانستان څخه په بشپړ ډول سره ووځي.

همدارنگه د طالبانو کاري ډله به امريکايانو ته په دې اړه هم قناعت او يا د تضمين شرايط چمتو کولو باندې کار کوي، چې راتلونکې کې له افغانستان څخه امريکا ته کوم تهديد او خطر نه وی.

۳ - له افغان سياستوالو، ځوانانو، علماوو، پوهنتون استادانو او متنفذينو سره د طالبانو تماسونه او اړيکې به هم په سم او قوي ډول پېل شي. ان شاء الله

د گډې اعلاميې اړوند، د ځينو ملحوظاتو له امله به نه وي شوې، لا هم د طالبانو دفتر رسمي نه دی، بل داچې د گډې اعلاميې د خپريدو له امله ممکن ځينو کړيو حساسيتونه ښودلې وای، کيدای شي راتلونکې کې گډې اعلاميې ته هم زمينه مساعده شي. اوس مهال دواړه لورې بايد د اعلاميو او جزياتو اړوند له پوره احتياط څخه کار واخلي، په ځانگړې ډول امريکايې لوری، چې معامله به د ځان په گټه نه گوري. بل خوا خليلزاد ضرورت لري چې د افغان حکومت په اړه هم جدې فکر ولري.
د جنوري پر ۲۷مه، ماښام مهال، خليلزاد په ارگ کې د گډ حکومت له مشر ډاکټر غني او لوړ پوړو چارواکو سره ولېدل، د ارگ رسمي ويب پاڼې د يادې ليدنې اړوند لاندې را پور خپور کړ.

## د ډاکټر خلیلزاد او ډاکټر غني لیدنه

### ډاکټر خلیلزاد په دوحه کې له طالبانو سره د خبرو جزئیات له جمهور رئیس غني سره شریک کړل

۰۸ - سلواغه - ۱۳۹۷

د افغانستان د سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړي استازي ډاکټر زلمي خلیلزاد پرون ماښام ناوخته د افغانستان د اسلامي جمهوریت جمهور رئیس محمد اشرف غني او د حکومت نورو غړو ته د قطر په دوحه کې طالبانو سره د خبرو جزئیات شریک کړل.

ډاکټر خلیلزاد د حکومت مشرتابه ته د معلوماتو ورکولو پر مهال په دوحه کې له طالبانو سره د خبرو په اړه په نړیوالو او کورنیو رسنیو کې خپاره شوي ناسم معلومات او ګنګوسې، رد کړې، وې ویل: "د افغانستان د نظام د راتلونکي جوړښت په اړه یې له طالبانو سره هیڅ راز خبرې او بحث نه دی کړی.

د موقت حکومت موضوع په بشپړه توګه ناسمه ده او په دغو خبرو کې په هیڅ وجه نه ده مطرح شوې او دا زما په صلاحیت او مسوولیت کې نه راځي، زما د صلاحیت موضوع دا ده چې یوازې بین الافغاني مذاکراتو ته زمینه برابره کړم."

ډاکټر خلیلزاد څرګنده کړه، چې له طالبانو سره یې د اوربند په مسئله بحث کړی خو تر اوسه په کې کوم پرمختګ نه دی شوی.

ډاکټر خلیلزاد وویل: طالبانو سره په خبرو کې امریکا په ټینګار سره ویلي چې په افغانستان کې دوامدارې سولې ته د رسېدو یوازینۍ حللاره بین افغاني مذاکرات دي.

هغه زیاته کړه، طالبانو په افغانستان کې د بهرنیو ځواکونو د وتلو غوښتنه کړې ده خو تر اوسه امریکایان ورسره هیڅ ډول پرېکړې ته نه دي رسېدلي. او که چیرې د بهرنیو ځواکونو په اړه هر ډول تصمیم نیول کیږي دا به په ټاکلي وخت له افغان دولت سره په همږغۍ په تفصیلي ډول تر بحث لاندې نیول کیږي.

ډاکټر خلیلزاد په دې اړه چې ایا طالبان به د بین الافغاني مذاکراتو په اړه تصمیم ونیسي او که نه، وویل: د پاتې موضوعاتو د تعقیب لپاره به بیا له طالبانو سره وګوري.

په پای کې د افغانستان د اسلامي جمهوریت جمهور رئیس محمد اشرف غني د افغانستان د سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د ځانګړي استازي ډاکټر زلمي خلیلزاد څخه د راپور د شریکولو په خاطر مننه وکړه او د بین الافغاني مذاکراتو د پیل په خاطر یې د امریکا د متحدو ایالتونو د دولت هڅې وستایلې.

## د ډاکټر غني ټلویزوني وینا

**د جنوري پر ۲۸مه، د ګډ حکومت مشر ډاکټر غني لاندي ټلویزوني وینا وکړه:**

بسم الله الرحمن الرحیم

ګرانو وطنوالو !

موږ غواړو د سولې فرصت چې د ټولو افغانانو غوښتنه ده، رامنځته کړو. دا هغه ارمان دی چې زموږ خلک ورته بې صبرانه منتظر دي، موږ نیت او کلکه اراده لرو چې د سولې بندې دروازې به خلاصوو. د سولې په برخه کې د امریکا د متحدو ایالتونو کوششونه زموږ د سولې د برنامې یوه برخه ده چې مالکیت یې د افغانستان د اسلامي جمهوریت تر چتر لاندې دی .

موږ سوله ژر غواړو په سرعت یې غواړو خو په تدبیر یې غواړو.

تدبیر ځکه مهم دی چې بیا پخوانۍ تېروتنې تکرار نشي.

هغه اشتباه چې د شهید داوود خان په وخت کې وشوه دا وه چې د سیمې له سیاست څخه حکومت خبر نه و او د همدې بې خبرۍ په نتیجه کې د ثور د اوومې فاجعه رامنځته شوه، دا اشتباه باید بیا تکرار نشي .

هموطنان عزیز!

ما بخاطری به تدبیر تاکید می کنیم که از تجربه زمان داکتر نجیب الله آگاهی کامل داریم. ما همه می‌دانیم که به او چگونه فریب داده شد. ملل متحد به وی تضمین تامین صلح داده بود اما متاسفانه به فاجعه انجامید .

من بحیث یک مسئول و رهبر منتخب ۳۵ میلیون افغان از نقش فعلی منطقه اگاهی دارم و این را نیز میدانم که خطرها و تهدیدات احتمالي بعد از موافقه صلح کدام ها اند .

هر افغان صلح مي خواهد، بر اساس همین خواست مردم، من از روز اول حکومت خود تا امروز برای برآورده شدن این خواست مقدس ملت کار کرده ام.

نباید فراموش کنیم که قربانیان جنگ افغان ها اند بناً ابتکار صلح نیز باید بدست افغان ها باشد.

روانه جگړه کې افغانان هم په هوايي بریدونو کې وژل کېږي او هم په ځمکني جنگونو کې، هیڅ افغان ته د منلو نه ده چې د سنګین په څیر دردونکې پېښې بیا بیا تکرار شي[53] .

هیڅ افغان ته د منلو نه ده، چې ځوانان یې د جنګ خوراک شي او یا پردیو هېوادونو کې سرگردانه او بي سرنوشته پراته وي.

هیڅ افغان ته د منلو نه ده چې د هېواد له نوم سره یې جنګ، فقر او بدبختي یاده شي او هیڅ افغان ته د منلو نه ده چې بهرني ځواکونه یې د اوږد مهال لپاره په هېواد کې میشت وي.

او دا هم هیڅ افغان ته د منلو نه ده چې موږ دې خپل فکر او قوي اراده ولرو، خو بیا هم نور راشي او موږ ته دې د وطن او نظام جوړولو نسخه وړاندې کړي.

---

[53] د جنوري پر ۲۴مه ۲۰۱۹، د هلمند ولایت سنګین ولسوالي کې د هوايي بمبارد له کبله د یوې کورنۍ ۱۶ غړي ووژل شول، چې میرمنې، ماشومان او سړي وو.

هیچ افغان نمیخواهد، در شفاخانه، در مکتب، در مسجد و پارک با انتحاري رو برو شود.

موږ کلکه اراده لرو چې د سولې په ټینګېدو سره به د تاریخ دا تور فصل چې څلویښت کلن جنګ دی بدلوو او د پخلاینې، ابادۍ، ترقۍ او په خپلو پښو ولاړ افغانستان نوی فصل به پرانیزو.

خوېندو او وروڼو !

موږ د ځینو هېوادونو د انزوا او د ځینو هېوادونو د مرستو جلبولو طرحه [54] د تېر کال په مارچ کې د امریکا دولت ته وړاندې کړه. د دغې طرحې مثبت نتایج موږ نن هره ورځ ګورو.

د تروریزم د حامیانو له منزوي کېدو څخه تر اوربنده او بیا ملت ته د سولې د پلان د وړاندې کولو پورې دا ټول هغه ابتکارات او اقدمات دي چې د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت له خوا ترسره شوي دي، چې د افغانستان د څلویښت کلن بحران د ختمولو په لار کې سابقه نهلري .

په افغانستان کې د بهرنیو ځواکونو حضور د یوې دوه اړخیزې او نړیوالې پرېکړې په اساس دي.

هیڅ افغان نه غواړي چې د دوی په خاوره کې بهرني ځواکونه د اوږدې مودې لپاره پاتې شي، خو اوسنی بهرنی حضور د یو ضرورت په اساس دی او په دې ضرورت همیشه غور شوی او کېږي چې د بهرنیو ځواکونو شمېر باید څومره وي او موږ هڅه کوو چې دغه شمېر صفر ته راټیټ شي.

د پایدارې سولې د رامنځته کولو لپاره موږ واضح پلان او تګلاره لرو.

---

[54] د پاکستان انزوا او د هند د مرستو جلبول.

تعهد ما این است که صلح را تامین میکنیم و جلو هر نوع فاجعه احتمالي و همپاشي را میگیریم، اما ارزش های وجود دارد که غیر قابل بحث است، مثلاً وحدت ملي، حاکمیت ملي، تمامیت ارضي، دولت مرکزي قوي و کارا و حقوق اساسي اتباع کشور .

اساسي ترین اصل برای ما، اصل غیر قابل انکار و غیر قابل سازش منافع ملي کشور عزیز ما افغانستان است، و روابط ما با تمام شرکای بین المللي و منطقوي استوار برهمین اصل است.

ما باورمند هستیم که با تطبیق شدن پروسه صلح نقش نیروهای امنیتي و دفاعي افغانستان درپاسداري از صلح و امنیت بوده و بیتشر خواهد شد. نیروهای دلیر امنیتی و دفاعي ما برای کمک رساني به آسیب دیدگان حوادث طبیعي بیشتر توجه خواهند کرد.

تعهد ما به صلح یک تعهد بي ریا و سچه است، همانگونه که تلاش های ما در پروسه پیچیده صلح مفید واقع شد، برنامه های انکشافي ما نیز طوري تدوین یافته است که در دراز مدت به رفاه، آبادي و ترقي کشور خواهد انجامید.

تنها دولت قوي و کارا متضمین واقعي عزت هر افغان است، و ملت عظیم افغانستان روی این اصل اجماع مستحکم دارند.

طالبان دوه انتخابه لري، یا به د افغانستان عظیم ملت سره په یو بږغ یو ځای کېږي او یا به د پردیو د اهدافو د تطبیق وسیله گرځي .

زه په طالبانو بږغ کوم چې د پردیو له شومو پلانونو را ووځي، خپله افغاني اراده تمثیل کړي او د افغانانو غوښتنو ته لبیک ووایي.

د طالبانو له خوا تاوتریخوالی او د جنگ دوام د قوي دولت د جوړېدو مخه نیسي او دا د افغانستان د بهرنیو دښمنانو غوښتنه هم ده .

غواړم په وضاحت سره ووایم چې که د طالبانو له خوا روانه جگړه نه وای د میلیونونو افغانانو ژوند به هوسا وای او موږ به خپلې ملي انکشافي پروژې تطبیق کړې وای.

ژوندی دې وي افغانستان

## د ملا عبدالسلام ضعیف مرکه له امریکا ږغ اشنا ټلویزون سره

د جنوري پر ۲۸مه، ملا عبدالسلام ضعیف له امریکا ږغ اشنا ټلویزون سره په مرکه کې وویل:"مذاکرات حساس پړاو کې دي، لاسته راوړنې لري، هغه حساس مسایل چې پخوا پرې بحث نه وو شوی، اوس پري بحث شوی او نتیجې ته هم اړخونه رسیدلي دي، لکه د افغانستان څخه د بهرنیو ځواکونو د وتلو مهالویش، او د افغانستان له خاوري نورو ته په راتلونکي کې نه گواښ.

سوله به دوه پړاوه ولري:

لومړی: هغه مسایل چې په بهرنیانو پورې تړاو لري، له هغوی سره حل شي.

دوهیم: د افغانانو تر منځ ناستې او خبرې.

د طالبانو لپاره د بهرنیو ځواکونو وتل مهمه موضوع ده، که اوس مهال افغان حکومت په خبرو کې شامل کیږي، بیا به امریکا د خپلو پوځیانو د وتلو خبره څنډه ته کړي. کله چې طالبانو ته یقینې شوه چې بهرني ځواکونه ووځي، بیا به له افغانانو سره تفاهم پیل کوي.

طالبان بین الافغاني تفاهم غواړي، خو له اوسني حکومت سره د منتخب حکومت په صفت خبرې نه کوي، او د ډاکټر غنی ژبه د طالبانو اړوند په دي حساس پړاو کې ډیره تیره وه. داسي لهجه په کار نه ده، غني وویل: طالبان د پردیو او د پردیو د منافعو لپاره کار کوي. او غني ځان ډیر خپلواک وښود چې دی بیا د افغانستان د منافعو لپاره کار کوي.

طالبان له افغانانو سره خبرې کوي، خو که حکومت فکر کوي چې د حکومت په صفت او طالبان یاغي ډله گڼي، خبري ورسره وکړی، دا نو فاصله ده.

د راتلونکي حکومت په اړه باید افغانان مناقشه وکړي، طالبان افغان شموله او غیر تحمیلي حکومت غواړي.

دا ناسم تبلیغ دی چې ویل کیږي طالبان به یوازي له امریکایانو سره اوربند وکړي، او له افغان پوځیانو سره به جگړې ته دوام ورکوي. دغه ډول تبلیغات د سولې ضد خلکو کار دی، غواړي د سولې پروسه سبوتاژ کړي.

امریکایان غواړي همهاله ټولو مسایلو باندي بحث وشي، طالبان غواړي قدم په قدم مسایل مخکې یوسي."

## د خلیلزاد مرکې

خلیلزاد نیویارک ټایمز ته د جنوري پر ۲۸مه وویل:"مونږ له طالبانو سره د سولې اړوند یو چوکاټ باندي توافق کړی، ولي د بشپړ توافق لپاره اړینه ده چې ډیر کار لا هم وشي.

طالبانو ژمنه کړې او مونږ ته یې ویلي چې نړیوالې ترهګرې ډلې او وسلوال به په افغانستان کې خوندي ځای نه لري او په دې برخه کې به اړین اقدامات کوي.

د دوحې په خبرو کې امریکا او طالبانو په عمومي توګه د سولې پر چوکاټ باندي موافقه وکړه، دا چې طالبان به ترهګرو ته د افغانستان له خاوري څخه د فعالیت اجازه نه ورکوي، همدارنګه امریکا به خپل ټول پوځیان له افغانستان څخه باسي. اور بند به کیږي، طالبان او افغان حکومت به له یول بل سره خبرې کوي. "

د جنوري ۲۹مه، د یو ټلویزون سره د زلمي خلیلزاد مرکه:

"سوله د امریکا د سیاست لومړیتوب دی، له ۴۰ کلنی جګړې وروسته د سولې اړوند لا هم کورنۍ، سیمېیزې او نړیوالې ستونزې شته.

طالبانو ژمنه کړې، ضمانت به ورکوي چې بیا به له افغان خاوري څخه نړۍ او ځانګړې ډول امریکا ته د ترهګرۍ ګواښ نه وي.

د اختلاف ټکي د غونډې پر مهال وو، سوله تر هغه وخت پوري نه شي راتلای، تر څو افغانان په خپل منځ کې سره کیناستلي نه وي.

جګړه د طالبانو او حکومت ترمنځ روانه ده، د حل لپاره یې باید سره کیني.

طالبان وايې حکومت مشروع نه دی، ورسره نه کینو، هغوی وايې که له حکومت سره کینو، بیا نو زموږ ۱۷ کلنه جګړه غیر مشروع ګڼل کیږي. او زموږ جګړه د اشغال پر ضد ده. زه د طالبانو له خبرو سره موافق نه یم، خو دوی همداسي وايې.

طالبان وايې که له ډاکټر غني سره کینو، هغه د ولسمشرۍ ټاکنو لپاره نوماند دی، هغه به زموږ له ناستې امتیاز واخلي.
دا د افغانانو کار دي چې یو له بل سره کیني، که زموږ مرستې ته اړتیا وي، موږ یې کوو، سوله تر هغو نه راځي تر څو افغانان په خپلو منځو کې سوله سره ونه کړي.

له طالبانو سره مو د لنډ مهاله حکومت اړوند خبرې نه دي کړي، د دې لپاره دي افغانان یو بل سره کیني، د امریکا د استازي په حیث زما له پاره ښه نه ده چې په دي اړه نظر ورکړم. د طالبانو او افغانانو مشران دي سره کیني او په دي اړه دي بحث وکړي.

دواړه لوري (طالبان او حکومت) حل لاره غواړي، خو بُن بست دی، که د بهرنیانو د مرستي اړتیا وي، امریکا نه، بلکې د نورو هیوادو له تجربو ګټه واخیستل شي او ستونزو ته حل لاره پیدا شي.

ځینې وایې چې د سولې لپاره سر قرباني کوي، خو د طالب ضد لوري لخوا ځانګړې د سولې تګلاره نه شته. د طالب ضد اړخ تر منځ اجماع نشته، کله دوی یوه لاره او کله بلې لارې ته ترجیح ورکوي. د طالبانو اړخ ته زه معلومات نه لرم، چې هغوی کوم ډول اجماع لوري ته ځي.

ددې پر ځای چې له ستونزې د وتلو لاره امریکا وښیې، ممکن ملګري ملتونه همدا کار وکړي.

که د طالبانو او افغان حکومت تر منځ بُن بست مات نه شي، دا ښه نه ده، ناکامي ده، له افغان ولس، یوازي اوسني نسل سره نه، بلکې راتلونکې نسل سره هم ظلم او جفا ده. هیله کوو چې د افغانانو ترمنځ اجماع راشي.

جګړه زیاته قرباني غواړي، د سولې برخه کې هم باید خطرونه ومنل شي، او له تاریخ څخه زده کړه وشي.

هیله لرم چې یو اړخ د واک دوام او ساتلو هڅه ونه کړي، امریکا د افغانانو ترمنځ د واک شریکېدل غواړي، ولي چې دا کار افغانان کوي یانه؟ ځواب به یې افغانان ورکوي. که د واک شریکېدل ونه شي، امریکا به له دغسي کړنې متاثره شي.

دا چې ځینې خلکو سره اندیښنه ده چې د امریکایې ځواکونو په وتلو به د تیرو کلونو لاسته راونې له لاسه ورکړو، او امریکایان غواړي یوازي خپله د وتلو لاره وګوري، موږ داسي فکر نه لرو چې د خپل ځان غم وخورو او له افغانستان سره خدای پاماني وکړو. راتلونکي کې هم ورسره اوږد مهاله ښې اړیکې په اقتصادي، ټولنیز، سیاسي، ډیپلوماسي او امنیتي برخو کې غواړو.

Download from:aghalibrary.cm

زموږ لپاره مهمه ده چې له افغانستان څخه د ترهګرې له نه ګواښ څخه ډاډه شو، او خپل پوځیان وباسو، ولې اندیښنه شته، چې زموږ تر وتلو وروسته افغانستان داسې حالت ته ولاړ نه شي، لکه د شوروي اتحاد د پوځیانو له وتلو وروسته چې له کوم برخلیک سره مخ شو.

داسې خلا به نه راځي چې کورنۍ جګړه پیل شي. موږ نه غواړو چې بیا ځل هغه ترخې تجربې تکرار شي.

په راتلونکي کې قوي او ښه افغانستان غواړو، ځینې (هیوادونه او کسان) د افغانستان او امریکا ښې اړیکې نه غواړي، دوی وایې چې امریکا به افغانستان هیر کړي، دا سم نه دي، دوی یوازې ناسم تبلیغات کوي.

امریکا او نړۍ نه غواړي چې طالبان دې د ۹۰مو کلونو په بڼه بیا ځل راشي. طالبان هم وایې چې هغه وخت ته نه ځو، او موږ "**طالبانو**" له پخوانیو تیروتنو زده کړه کړې. د طالبانو هغه ناکامه دوره وه، او دا ځل به هم امتحان شي. که جګړه ختمه شي، افغانستان به پرمختګ وکړي، افغانانو ته په کار ده چې د خپلې راتلونکې اړوند خپله پریکړه وکړي. امریکا غواړي د یو قوي افغانستان سره شراکت او ملګرتیا ولري."

له خلیلزاد پوښتنه وشوه چې په تیرو ۱۷ کلونو کې د ترهګرې ضد افغانانو او امریکایانو په ګډه قرباني ورکړې ده، اوس به د امریکا خلکو ته څه وایاست؟

خلیلزاد:"که د امریکا او افغانستان خلک وغواړي، موږ به یو بل سره دوستي ولرو، پرمختګ به ومني، افغانانو ته وایم چې موږ ستاسي ملګري او دوستان یو، او ستاسي په پرمختګ کې درسره ملګري یو."

پوښتنه: که طالبان له امریکا سره نظامي اډې ونه مني، بیا څه کوئ؟

خلیلزاد:"که له سولې وروسته د افغانستان حکومت د امریکا اډې ونه غواړي، موږ هم نه غواړو چې اډې ولرو، چیرته چې موږ څوک نه غواړي، موږ هم نه غواړو چې پاتې شو، خو چې د ترهګرۍ د ګواښ ستونزه حل شي.

دا معنی نه، چې اډې نه وي، نو دوستي به هم نه وي، بلکې زموږ او افغانستان ترمنځ به دوستي وي."

## امريکايې پوځيان ولي له افغانستان څخه وځي؟!

ملا عبدالسلام "ضعيف"

په اسلام اباد کې د افغانستان پخوانی سفير

امريکا ولي له افغانستان څخه وځي؛ د يوه امريکايې له خولې [55] د امريکا د ولس د لوی اکثريت نظر:

اول: د افغانستان – امريکا جګړه، د امريکا په تاريخ کې بې ګټې، اوږده او نه ګټونکې جګړه ده، چې تقريباً اوس نو ټول امريکايې وګړي له همدې اوږده جنګ څخه ناخوښ دي.

دويم: موږ په افغانستان کې پر نظام جوړوني بې حده ډېره سرمايه ګذاري وکړه، آن تر دې چې د بې کچې نظام او سياسي فشار تر څنګ مو د اسلامي هيوادونو په مرسته مذهبي فشار ته هم زور ورکړ، ولې په افغانستان کې حکومت نه جنګ وګټی، نه يې سوله راوستله، نه يې فساد او مخدره مواد ختم کړل، او نه يې د پام وړ اقتصادي پرمختګ کړی دی، بلکې ورځ تر بلې حالات او پورته ياد مسايل نور هم د خرابې لور ته روان دي چې دا نو د امريکايانو د بې باورۍ او مايوسۍ سبب ګرځيدلي دي.

دريم: تر ټولو مهمه دا چې کله امريکاپه ۲۰۰۱ ز. کال کې پر افغانستان يرغل کاوه، هغه وخت د امريکا اقتصادي قوت د افغانستان چاپيره څلورو هيوادونو (

[55] د جنوري پر ۲۹مه، ملا عبدالسلام ضعيف او مولوي وکيل احمد متوکل له زلمي خليلزاد سره ولېدل، ضعيف صاحب د جنوري پر ۳۱مه همدا پورته خبرې د خليلزاد له خولې ما (ليکوال) او استاد محمد زمان مزمل ته هم وکړي، او بيا دغه ليکنه د فبروري پر ۲مه نيته د ضعيف صاحب لخوا خپره شوه.

ضعيف صاحب موږ ته وويل:"خليلزاد ويل چې له ډاکټر اشرف غني سره مو خبرې کړي، کوشش مو کړی چې هغه پوه کړو، چې موږ نور دلته نه پاتې کيږو، خو هغه ځان نه پوهوي، کوم وخت چې هغه په دغو مسايلو پوهيږي، ډير وروسته به وي، موږ بيا هم کوشش کوو چې ډاکټر غني پوه کړو، چې د افغانستان مسئله په سم ډول سره حل شي."

چین، روس، پاکستان او ایران) په پرتله څلور برابره (۸۰ سلنه) لوړ وه، په ۲۰۱۸ ز. کال کې د امریکا اقتصادي وده د یادو هیوادو اړوند تر دوه برابره هم کمې کچې (۲۰سلنې) ته راټیټه سوې ده، اقتصادي پوهان فکر کوي که حالات همداسې روان وي، د ۲۰۱۹ ز. کال تر پایه به دغه سلنه مساوي سي، او له هغه وروسته به امریکا په اقتصادي لسټ کې لاندي ځای ته لویږي،کوم چې امریکایان یې د تحمل حوصله نه لري، د همدې مخ پر ځوړ اقتصادي کمزورتیا علت جنګ او بې ځایه لګښتونه ښودل سوې.

**زما نظر:**

په امریکا باندي نور حساب او باور کول ځان تیر ایستل (تیروتنه) او وخت ضایع کول دي، هغوی نه په زور او نه هم په زاریو دغه حالت ته دوام ورکولای سي، هغوی ته خپلي ګټې ښې معلومي او مهمي دي، د چا مشوره هم نه غواړي، ښه به دا وي چې افغانان ټوله د تعقُل، حوصلې او سړو مغزو څخه کار واخلي، د موجوده فرصت څخه د سولې او هیواد په ګټه اعظمي استفاده وکړي.

دا هیواد په ځانځاني، درواغو، تهمتونو، پیغورونو او باټو (پټکو کولو) نه جوړیږي.



## د طالبانو د سیاسي دفتر مخکېني مشر عباس ستانکزي مرکه

د جنوري پر ۳۰مه د نن ټکی اسیا ویب پاڼې لخوا د طالبانو او امریکا ٦ ورځنۍ مذاکراتو اړوند د طالبانو د سیاسي کمیسون او قطر دفتر د مخکېني مشر شیرمحمد عباس ستانکزي مرکه نشر کړه.

ستانکزي وویل:"د مذاکراتي ډلې ۸ غړو، د خلیلزاد په مشرۍ له امریکایې لوري سره مذاکرات درلودل، د پخوانیو مذاکراتو تسلسل دی، هغه وخت مو توافق کړی و چې دا ځل به پر دوو مسئلو بحث کوو:

لومړی: له افغانستان څخه د ټولو بهرنیو پوځیانو وتل،

دویم: د افغانستان خاوره بیاځل د داسي کسانو لخوا ونه کارول شي چې هغه د امریکا او امریکا د متحدینو په خلاف وي،او یا زموږ د ګاونډیو هیوادو په خلاف وکارول شي.

په تیرو ناستو کې موږ له امریکایانو سره د کورنیو مسئلو اړوند خبرې کول ونه منل، یوازي پر هغو مسئلو بحث او مذاکره مو ورسره ومنله چې په دوی پورې اړه لري.

له افغانستان څخه د بهرنیو ځواکونو وتل، له تور لست څخه د طالبانو د نومونو لیرې کول، د طالبانو د قطر د سیاسي دفتر رسمیت، د بندیانو خلاصون او تبادله، په امریکایانو پورې اړه لري، چې په همدې مسئلو موږ له دوی سره بحثونه درلودل. او پر دي هم توافق وشو چې په کورنیو مسایلو د افغانانو خپلمنځي ناستو کې بحث وشي.

امریکا غواړي چې په راتلونکې کې له افغانستان څخه ګواښ ورته متوجه نه وي، موږ غواړو چې له افغانستان څخه ټول بهرني ځواکونه چې د امریکا او ناټو تر چتر لاندي دي ووځي.

امریکایانو ته مو ښکاره ویلي چې د یو بهرني پوځي شتون هم د منلو نه دی، که چیرته یو پوځي هم وي، جهاد به دوام کوي."

ستانکزي وویل چې امریکایانو ډاډ راکړ، ویې ویل:" خپل ټول پوځیان له افغانستان څخه باسو، په افغانستان که دایمي شتون او اډې نه غواړو، مګر په دي شرط چې موږ

"د امریکا متحده آیالات" پر دې ډاډه شي چې د افغانستان خاوره زموږ او متحدینو پر ضد نه کارول کېږي."

ستانکزي وویل:"د همدې دوو موضوعاتو د جزیاتو اړوند له دواړو خواوو تخنیکې ډلې ټاکل کېږي، او هغوی به یې پر جزیاتو بحثونه کوي. او خپلې پریکړې / نظرونه به راتلونکې ناستې "د فبروري ۲۵مه" ته وړاندې کوي. د بهرنیو پوځیانو د وتلو پر مهالویش او کوم ډول به وځي، تخنیکي ډلې به پرې بحثونه کوي.

امریکایان پوهیدلي چې طالبان د هیواد په ډېره برخه کنټرول لري، او د کابل ادارې تر واک لاندې سیمو کې هم خلک له طالبانو سره خواخوږي لري. له همدې امله ده چې امریکا له موږ غواړي چې ډاډ ورکړو چې په راتلونکې کې د افغانستان خاوره د دوی او متحدینو پر ضد یې ونه کارول شي. طالبان به داعش او دا ډول نورو ډلو ته اجازه ورنه کړي چې د افغانستان خاوره د امریکا او نورو ګاونډیو هیوادو پر ضد وکاروي.

امریکایان دې قناعت ته رسیدلي چې اسلامي امارت به واک ته رسیږي، او په راتلونکې کې به افغانستان د اسلامي امارت لخوا اداره کېږي.

د امریکا لخوا کارې ډله کې به له ۵ تر ۷ مسلکي کسان وي، زموږ لخوا به د مذاکراتو ۸ غړي، او د ارکانو شورا ٦ غړي، د سیاسي دفتر ځینې اداري غړي وي، دارنګه په بهر کې ځینې مسلکي افغان حقوق پوهانو څخه به هم موږ مشورې اخلو.

په راتلونکي ناسته کې به دوه مسئلې"د بهرنیو ځواکونو وتل، له افغانستان څخه نورو ته نه ګوابن"نهایي کوو، اعلان به یې کوو، او بیا به کورنیو بحثونو ته له افغانانو سره ننوځو.

کله چې د امریکا- طالبانو ترمنځ توافق وشي، بیا به د ملګرو ملتونو، د اسلامي هیوادونو د همکارۍ سازمان، او ځینې قوي هیوادونه، د ضمانت کوونکو په توګه شتون لري، او تړون به صورت مومي.

امریکایانو په اجنډا کې په ځینو نورو موضعګانو د بحث غوښتنه هم درلودله، مګر تر دې مهال موږ ور سره نه ده منلې، دوی ویل:

الف: کله چې اِنخِلا "د بهرنيو ځواکونو وتل" صورت نيسي، په دي وخت کې بايد بشپړ اوربند وي.

ب: د کابل ادارې او طالبانو ترمنځ مخامخ خبرې دي پيل شي.
موږ "طالبانو" دا رد کړي، ځکه تر څو چې له افغانستان څخه ټول بهرني ځواکونه نه وي، وتلي، له کابل ادارې سره ناسته ناممکنه ده. کابل اداره غير مشروع، او د دوی "امريکا" لخوا منځته راغلي، له دوی سره کيناستل بې فايدي ده.

له افغان مخورو، سياستوالو، او د ګوندونو له استازو سره ناستې او خبرو ته هر وخت چمتو يو، او دا لړۍ روانه ده.

د ګډې اعلاميې د نه خپريدو لامل دا و، امريکايانو غوښتل چې پورته ۴ مسايل په ګډه اعلاميه کې راشي، او موږ پر دوو لومړنيو مسئلو ټينګار درلود.

موږ مسلمانان يو، او د اسلامي اصولو له مخې معاهدي ته به ژمن يو، مګر که مقابل لوري ژمنې ماتوي، بيا به موږ هم کړې ژمنې نه عملي کوو. ان شاء الله داسي څه به نه کيږي، ملګري ملتونه، د نړۍ ستر هيوادونه به په تړون کې د شوو ژمنو شاهدان او تضمين کوونکي وي.

د ټولو بهرنيو ځواکونو د وتلو په اړه په جزياتو هر اړخيز بحث وشو، امريکايانو په لومړي سر کې ويل چې دوی به يواځې جنګي پوځيان له افغانستان څخه وباسي، کوم کسان چې عملاً په جګړه کې ښکېل دي، مګر موږ "طالبانو" ورته وويل چې ټولې قواوي به وځي که جنګي يا غير جنګي وي. همدا اوس د امريکا لخوا افغان امنيتي ځواکونو ته روزونکي کسان، استخباراتي کسان، د دوی ملکي قراردايان او د سفارت د ساتونکو په نوم کسان شتون لري، موږ دا هيڅ يو ور سره ونه مانه، ورته مو وويل، چې تر هر نامه لاندي چې دلته بهرني وسلوال او استخبارات وي، هغوی به په بشپړ ډول له افغانستان څخه ووځي. او په راتلونکې کې دا د افغان حکومت دنده ده چې د امريکا سفارت ساتنه وکړي، مګر که بيا تاسي د سفارت د ننه خپل ساتونکي غوښتل، هغه به له راتلونکي حکومت سره پري بحث کيږي، د اوس لپاره يو بهرنی هم نه منو، که هغه

ملکي قراردادي، جنګي پوځي، روزونکي او یا د سفارت ساتونکي وي، ټول به په بشپړ ډول سره ووځي، او د وروستي بهرني پوځي تر وتلو به زموږ جهاد روان وي.

موږ هر وخت امریکایانو ته ویلي چې د افغانستان مسئله دوه "کورني او بهرني" اړخونه لري، بهرنی بعد یې په امریکا پورې اړه لري، چې د بهرنیو ځواکونو د وتلو لپار مناسب مهالویش او ځینې نور مسایل دي.

د افغانستان راتلونکی، د افغانستان اساسي قانون او په لسګونو نور کورنی مسایل دي، چې په خپل وخت به یې اسلامي امارت له افغانانو او د افغانستان له خلکو سره پرې بحثونه کوي، او موږ د واک انحصار نه غواړو. مګر واحد افغانستان غواړو.

زموږ له نظره په افغانستان کې اوسمهال حکومت شتون نه لري، کومه فاسده اداره چې امریکا جوړه کړې د افغان ولس استازولي نه کوي. د ډاکټر غني نظریات حتی د کابینې وزیران او د قومونو مشران ردوي، نوځکه خو له حکومت سره په کورني بُعد باندې خبرې نه کوو، اونه هم دوی د ولس په استازولي د خبرو کولو حق لري.

له سیاسي او مذهبي ګوندونو او قومي مخورو سره مخکې هم اسلامي امارت تفاهم کړی، د ټولو سیاسي ګوندونو له استازو او ځینو مشرانو سره موږ لېدلي، ټول همږغي دي چې افغانستان خپلواک وي، بهرني ځواکونه ټول ووځي، او دلته اسلامي نظام قایم شي. د اساسي قانون د تغیر او بدلون اړوند به هم خپلو منځو کې ان شاء الله توافق ته ورسیږو.

لنډمهاله حکومت به هم داسي حکومت وي لکه اوس چې د کابل حکومت دی، یوازې څېره به بدلیږي او د اشرف غني پر ځای به بل کس راځي، او د اشغال په صورت کې موقت حکومت هم هیڅ واک او اختیار به نه لري.

تر څو چې بهرني پوځیان شتون ولري، دا که د دوی په اصطلاح منتخب حکومت وي، او یا هم که موقت حکومت جوړیږي، خپلواک به نه وی، او د چارو اختیار به له بهرنیانو سره وي.

امریکایان په یوه ورځ یا یوه اونۍ کې نه شي وتلای، کیدای شي څو میاشتي وخت ونیسي، کله چې موږ ډاډه شو چې امریکایانو وتل پیل او وروستی پوځی هم باسي، موږ

به له سياسي او مذهبي ګوندونو او افغان مخورو سره ناستې پېل کړو، مخکې له دي چې بهرنيان په بشپړ ډول ووځي، موږ به يوې هوکړې ته ورسيږو، اسلامي امارت د واک انحصار نه غواړي، غواړو چې ټول افغانان په واک کې شريک وي.

داچې ځينې کسان انديښنه لري که بهرني پوځيان وځي، دلته به بيا هم جګړه روانه وي، همدا اوس هم جګړه روانه ده. که بهرنيان له افغانستان څخه ووځي، اسلامي امارت ټولو مسلمانو ورونو او خويندو ته ډاډ ورکوي چې بيا به جګړه نه وي، او زموږ له خوا به جنګ نه کيږي.

د امريکايانو مقابل کې جګړه د علماوو په فتوی جهاد دی، هغه وخت به بنديږي چې بيرته علماء فتوی ورکړي چې د جهاد سبب او علت ختم شوی، تر څو چې بهرني پوځيان په افغانستان کې وي، تر هغه مهاله به جهاد روان وي.

موږ امريکايانو ته ويلي چې کوم حکومت د بهرنيو ځواکونو د وتلو له اعلان وروسته منځته راځي، نړۍ به ورسره مرسته کوي، امريکايان به داسي نه ووځي لکه د شوروي اتحاد ځواکونه چې په ۱۹۸۹ کې ووتل، او افغانستان کې ګډوډۍ رامنځته شوه، بلکې د امريکا مسلکي متخصصين به د افغانستان بيا رغونه کې مرسته کوي.

موږ طبعي منابع لرو، چين هيواد يې په استخراج کې ليوالتيا لري، همدارنګه د افغانستان د ضرورت سره سم به د اردو او پوليسو شمير ټاکل کيږي، تر څو وکولای شو، چې اقتصادي ستونزو سره مخ نه شو.

کوم تړونونه چې کابل اداري د حامد کرزي او ډاکټر غني په وخت کې له امريکا، ناټو او نورو هيوادو سره کړي، قانوني نه دي، ټول تړونونه باطل او موږ ته د منلو نه دي.

له داخلي بُعد سره زموږ جنګ نه شته، له هغوی سره موږ د جهاد اعلان بيخي کړی نه دی، کله چې بهرنيانو پر افغانستان حمله وکړه، د هغوی مقابل کې جهاد اعلان شو، مګر وروسته بيا امريکايانو افغان امنيتي کسان د معاش په مقابل کې وګمارل او زموږ په مقابل کې يې جنګوي، کله چې امريکايان ووځي، نو بيا به دوی "امنيتي ځواکونه" هم جنګ نه کوي، او جګړه به پای ته رسيږي.

افغان امنیتي ځواکونو ته موږ ډیر ځله او هر وخت پیغام رسولی چې د اشغالګرو په څنګ کې ونه دریږي، د خپل ولس قاتلین ونه اوسي او خپل ولس ونه وژني، مګر که بیا هم دوی د اشغالګرو په څنګ کې ولاړ وي، او جګړه کوي، شرعاً موږ ته جواز شته چې جګړه ورسره وکړو. که چیرته دوی وسلې په ځمکه کیږدي، او نور د امریکا په ګټه جګړه نه کوي، بیا نو د اسلامي امارت لخوا هیڅ ډول ستونزه ورته نه شته.

**کله چې امریکایان وځي، اوسنی اردو به هم نه وی، اردو د امریکا لخوا جوړه شوې او دا به ختمیږي، د امریکا له وتلو وروسته خو د دوی اړتیا هم نشته، ، دا مهال خو دوی د امریکا لپاره جګړه کوي، که بیا هم ځینې افغان پوځیان په خپلو قرارګاوو کې پاتې وي، هغوی به بیا د طالبانو مقابل کې نه جنګیږي، دوی به له طالبانو سره یو ځای کیږي او ګډ ملي پوځ به جوړیږي[٥٦].**

له امریکایانو سره زموږ ډیر بندیان شته، که څه هم امریکایان وایې چې طالب بندیان له کابل ادارې سره دي، مګر د باګرام اډې ټول کنټرول له امریکایانو سره دی. کیدای شي په شنډنډ او خوست کې، حتی بهر کې ځینې افغان بندیان د بهرنیانو لخوا ساتل شوې وي. او دارنګه د کابل له فاسدې ادارې سره زموږ په زرګونو بندیان شتون لري، هڅې کوو چې را خلاص شي.

---

[٥٦] خطرناکه خبره ده، د اوسنۍ اردو او پولیسو جوړښت باید له منځه ولاړ نه شي، بلکې اصلاحات پکې راوستل شي، هغه تجربه بیا ځل تکرار نه شي، چې د ډاکټر نجیب الله د حکومت له سقوط سره د افغانستان اردو هم له منځه ولاړه.

ستانکزي په خپله مرکه کې واضح ویلي وو چې اوسنۍ اردو به ړنګیږي، د هغه دغه ډول څرګندونو ته په کور دننه او بهر پراخ غبرګون وښودل شو، چې بیا د ماسکو ناستې (۵ او ٦ فبروري) پر مهال ستانکزي له خبریالانو سره خپلې څرګندونې ترمیم کړي، ویې ویل چې په اردو کې به اصلاحات راولو، او طالبان د اردو اوسنی جوړښت له منځه وړل نه غواړي. مګر زما (لیکوال) له انده چې عباس ستانکزی په دي نظر دی چې اوسنۍ اردو د امریکا لخوا جوړه او تمویل شوې، باید له منځه یوړل شي، خو د نورو طالبان مشرانو دغه ډول نظر نه دی، او هغوی په اردو کې د ژورو اصلاحاتو خبره کوي.

له طالبانو سره د بهرنيو بنديانو د شتون په اړه هم بحث وشو، موږ چمتو يې چې تبادله يې کړو، د انس حقاني او حافظ عبدالرشيد اړوند مو خبرې کړې، خو نتيجې ته نه يو رسيدلي.

کيداى شي چې يوه اونۍ وروسته په ماسکو کې د افغانانو ترمنځ ناسته وشي، او بيا دلته قطر کې هم دغه ډول ناسته وشي، او هر ځاى کې چې د افغانانو غونډې جوړيږي، موږ يې هرکلى کوو، او ګډون پکې کوو، مګر د کابل اداره د دغه ډول ناستو، او پکې زموږ د ګډون مخه نيسي.

په سياسي دفتر، نورو کميسونو او نظامي برخه کې د اشخاصو بدلون، دا عادي سلسله ده، زموږ د مشر لخوا کيږي، مګر د دغه ډول بدلون له امله، نه زموږ او نه هم د امارت په تګلاره کې بدلون راځي.

داچې د سياسي دفتر مشر ملا برادر اخوند ټاکل شوى، د سياسي دفتر ټول غړي ورباندې خوشاله دي، له دې بدلون سره به زموږ قوت لا نور زيات شي، پخوا چې موږ کوم واکونه درلودل، په ټيټه کچه وو، مګر ملا برادر اخوند د اميرالمؤمنين سياسي مرستيال دى، او ډير واکونه به اوس ولرو چې له امريکايانو سره د مذاکراتو پر مهال به ګټه ورڅخه پورته کړو.

تر پخوانيو نورو امريکايانو چې له موږ سره يې مذاکرات کول، د خليلزاد واکونه لږ څه ورڅخه زيات دي، د امريکا اوسنۍ اداره هم جدي ده چې له افغانستان څخه خپل پوځيان وباسي.

ډاکټر اشرف غني نه د امريکايې پوځيانو د وتلو او نه هم په افغانستان کې يې د پاتې کېدو واک لري، داچې ويلي يې چې امريکايې پوځيان دي له افغانستان څخه ووځي، دا يې خپله خبره نه ده، امريکايانو به ورته ويلي وي[57].

---

[57] د جنورې پر ۲۸مه، ډاکټر غني د افغانستان د ملي راډيو ټلويزون له لارې د افغان سولې په اړه د خبرو پر مهال وويل: "په افغانستان کې د نړيوالو ځواکونو حضور د يو ضرورت پر اساس

د امریکایې پوځیانو وتلو مسئله زموږ په جهاد پورې تړلې ده، او زموږ د جهاد پر بناء به امریکا د خپلو پوځیانو د ایستلو پریکړه کوي، او زموږ د مجاهدینو د جهاد له کبله ده چې امریکایان نور مجبوره شوې چې له افغانستان څخه پښې سپکې کړي، زه ډاډه یم چې امریکایان به له افغانستان څخه ووځي.

په نظامي ډگر کې امریکایانو ماتې خوړلې، مگر د اسلامي امارت تگلاره داده چې د افغانستان مسئله د میز پر سر سولې ته رسیدو له لارې حل شي.

امریکایان نه غواړي چې بیا پر افغانستان برید او یا افغانستان ته راشي، دوی غواړي خپلې پښې سپکې کړي، بیا به د افغانستان لور ته را وهم نه گوري.

په افغانستان کې ولسمشرۍ ټاکنې ناقانونه او نا مشروع دي، که ټاکنې کیږی، ربنې به نه وي، خلک رایې نه کاروي، او که هر حکومت راځي، په زور به پر خلکو تپل کیږي، خلکو ته به د منلو وړ او خپلواک به نه وي،"



دی چې پر دغه ضرورت تل غور کیږي تر څو په افغانستان کې د نړیوالو ځواکونو شمېر د یو پلان له مخې صفر ته راټیټ شي."

## ځوانانو ته د ډاکټر اشرف غني وینا

د جنوري پر ۳۰مه، د ګډ حکومت مشر ـ ډاکټر غني د لويې جرګې خېمه کې د ۳۴ ولايتونو نږدې ۲۵۰۰ ځوانانو (نجونو او هلوکانو) ته د وينا پر مهال وويل:"زموږ ملي موخه پايداره سوله ده، اما تريخ حقيقت دادی چې بين المللي تجربو ښودلې چې پنځوس سلنه د سولې تړونونه د پنځو کلونو موده کې په سخت جنګ بدل شوي او دليل يې په سوله کې تلوار او په اوبو کې په لوټه تيرېدل دي.

بين المللي بنسټ د سولې په اړه بريالی تجربې نه لري، بناً واضح اړتيا ده چې د پايداره سولې موخه ملت ته د تائيد وړ وي، سوله په نيمه شپه کې د تړلو دروازو شاته، له اقليت سره نه لاسليک کيږي[58]، سوله بايد په روښانه ورځ او د ملت په اراده ترسره شي.

زموږ جګړه يو بعدي نه ده، چې له طالب سره نتيجې ته ورسيږو، او جګړه به ختمه شي، د جګړې بېلا بېل اړخونه بايد وڅيړو، تر څو د سولې ابعاد تامين شي.

مهالنی سوله [59] اقليت محوره سوله ده، نه پکې ځوان، نه ښځې او نه هم عالم په کې ګډون درلود، يوه کوچنی ډله ځان ته دا واک ورکوي، چې د دې لوی او عظيم ولس استازولي وکړي، دوی چا ټاکلي دي؟

د کوچنی ډلې سره سوله د هغوی منافع تامينوي او د اکثريت منافع يې قرباني کيږي، همدارنګه مهالنی سوله د ملي بنسټونو د وېش او د ملوک الطوايفی لامل کيږي.

---

[58] د ډاکټر غني له يادې خبرې هدف د طالبانو او امريکايې جهت (خليلزاد او ډلې) تر منځ يې په دوحه کې ۶ ورځني د سولې مذاکرات وو.

[59] هدف يې له طالبانو سره د سولې خبرې دي.

زه طالبانو ته وایم، د مشروعیت سرچینه د ولس ازاده اراده ده، زه د بهرنیانو په ټانک کې سپور ارګ ته ننوتلي یم؟ کومه وسلواله ملیشه مې درلودله او که زر او یا زور مې درلود؟ زما د ماغزو (فکر) لپاره تاسي ټاکلي او ارګ ته ننیسلې یم.

که حکومت مشروع نه دی، نو تاسي "طالبانو" خپل مشروعیت له کومه ځایه ترلاسه کړی، په داسې حال کې چې د اسلام جیدو علماو په اندونیزیا، کابل او سعودي عربستان کې وویل چې انتحار او انفجار جایز نه دی، نو د طالبانو د مشروعیت منبع چېرې ده؟

اې ډاکتر صاحب خلیلزاد! د سولې کیلي د عقل له نظره په کابل کې ده، ځکه د سولې لپاره علمې، اصولې او جامع طرحه لرو، اما د جنګ کیلي په اسلام اباد، کویټه او راولپنډۍ کې ده [۶۰].

طالبانو ځواب راکړئ، واک مو خپل که پردی دی، نن بهرنیان ویاړي چې تاسي یې په زور د مذاکرې میز ته کینولئ، ولس ته ووایاست چې واک لرئ یا نه، ستاسي د مذاکراتو نقشه نورو درته چمتو کړي یا خپله مو چمتو کړي؟

ستاسي لپاره ویاړ دادی چې پردی هیواد نقشه درته جوړه او یا له خپلو افغانانو سره په ګډه نقشه جوړه کړئ؟ "

[۶۰] ډاکټر غني د وینا پر مهال د خلیلزاد مرکې ته په اشاره سره ځینې خبرې وکړې.

## له بي بي سي سره د عباس ستانکزي مرکه

د فبروري پر ٦مه ۲۰۱۹، ماسکو کې د بین الافغاني ناستې په اړه، عباس ستانکزي بي بي سي سره مرکه کې وویل:" طالبان پر افغانستان په زور د ولکې نیت نه لري، موږ د ټول افغانستان ولکه کول نه غواړو، له دې سره افغانستان کې امن نشي-راتللی. تر څو چې ټول بهرني ځواکونه له افغانستان څخه وتلي نه وي، طالبان اوربند نه کوي.

کله چې په ۱۹۹۰ کلونو کې طالبان واکمن وو او مخالفو افغان ډلو ور سره وسلواله جګړه کوله، هغه وخت هم موږ ته مالومه شوه چې د ستونزو د حل غوره لار خبرې اترې دي، له جګړې ستونزمن شی امن دی، خو هیله ده چې افغان کړکیچ په خبرو سره اوار شي.

د جنورۍ وروستیو میاشتو کې له امریکا سره د هوکړې پر لومړني چوکاټ سلا شوي یو چې له افغانستان د امریکایي ځواکونو په وتلو ولاړ دی. او طالبانو له امریکا سره ژمنه کړې چې راتلونکي کې به افغانستان د نړیوالو وسلوالو ډلو د مرکز په توګه نه کارېږي.

د طالبانو له نفوذ ډېریدلو باید مېرمنې ونه وېرېږي، طالبان د شریعت او افغان کلتور له مخې د دوی د ټولو حقونو ور کولو ته ژمن دي. میرمنې ښوونځي او پوهنتون ته تللی شي او کار کولی شي."

## دطالبانو مذاکراتي ډله

د فبروري پر ۱۲مه ۲۰۱۹، د طالبانو لخوا د مذاکراتې ډلې ۱۴ کسیز لست اعلان شو.

**دا کسان څوک دي:**

ملا برادر اخوند: د طالبانو د مشر سیاسي مرستیال، د رهبري شورا غړی، د سیاسي کمیسون مشر، د طالبانو د نظام پر مهال د هرات والي، وروسته په کابل کې د مرکزي قول اردو قومندان، پر افغانستان د امریکا تر حملې وروسته د طالبانو د مشر ملا محمد عمر مجاهد نائب او د طالبانو ټولې سیاسي او نظامي چارې عملاً د ده لخوا مخته وړل کیدې.

د طالبانو مذاکراتي ډله:

له ګوانتانامو څخه د ۵ را خلاص او تبادله شوې بندیانو په شمول، دا ځل په یاده ډله کې ٦ تنه د رهبري شورا غړي، د ملامحمد عمر مجاهد ورور، د مولوي نصرالله منصور وراره، د مولوي یونس خالص بابا زوی او د مولوي جلال الدین حقاني زوی هم شتون لري.

۱ ــــ ښاغلی شیرمحمدعباس ستانکزی: د مذاکراتي ډلې مشر، د رهبري شورا غړی، د طالبانو د نظام پر مهال د بهرنیو چارو مرستیال وزیر، وروسته د عامې روغتیا مرستیال وزیر و.

۲ ــ مولوي ضیاءالرحمن مدني: د سیاسي کمیسون غړی، د طالبانو د نظام پر مهال د پروان او بیا وروسته د لوګر والي و.

۳ ــ مولوي عبدالسلام حنفي: د سیاسي دفتر مرستیال مشر، د رهبري شورا غړی، د طالبانو د نظام پر مهال د ښوونې او روزنې مرستیال وزیر و.

۴ ــ شیخ شهاب الدین دلاور: د سیاسي کمیسون غړی، د طالبانو د نظام پر مهال د کندهار د تمیز رئیس، پاکستان او سعودي عربستان کې سفیر تیر شوی.

۵ ـــــ ملا عبداللطیف منصور: د رهبري شورا غړی، د امریکا تر حملې وروسته یو ځل د سیاسي کمیسون مشر پاتې شوی، د طالبانو د نظام پر مهال د هلمند والي او بیا وروسته د ذراعت وزیر و.

٦ ــ ملا عبدالمنان عمري: د طالبانو د معنوي مشر ملامحمد عمر مجاهد ورور، د رهبري شورا غړی او د ملکي تلفاتو او شکایتونو اوریدو د کمیسون مشر.

۷ ــ مولوی امیرخان متقي: د رهبري شورا غړی او د طالبانو د اوسني مشر شیخ هبة الله د دفتر رئیس، د طالبانو د نظام پر مهال د اطلاعاتو او کلتور او بیا وروســته د پوهنې وزیر و.

۸ ـــــ ملا محمد فاضل مظلوم: د ګوانتانامو څخه راخلاص او تبادله شوی بندي، د طالبانو د نظام پر مهال د دفاع وزارت لوی درستیز و.

۹ ـــــ ملا خیرالله خیرخواه: د ګوانتانامو څخه راخلاص او تبادله شوی بندي، د طالبانو د نظام پر مهال د کورنیو چارو وزیر و.

۱۰ ــ مولوي مطیع الحق: د مولوي محمد یونس خالص بابا مشر زوی، د طالبانو د نظام پر مهال یې کومه دنده نه درلودله.

۱۱ ــ ملا محمد انس حقاني: د مولوي جلال الدین حقاني زوی، په بحرین کې د امریکایانو لخوا ونیول شـو، افغان حکومت ته ورکول شـو، اوس مهال په کابل کې بندي دی.

۱۲ ـــــــ ملا نورالله نوری: د ګوانتانامو څخه راخلاص او تبادله شـوی بندي، د طالبانو د نظام پر مهال د شمال زون تنظیمه رئیس او د بلخ والي و.

۱۳ ــ مولوي محمدنبي عمري: د ګوانتانامو څخه راخلاص او تبادله شوی بندي، د طالبانو د نظام پر مهال د مولوي جلال الدین حقاني د ښــي لاس ملګری او سلاکار او د افغانستان د سرحدي ځواکونو عمومي قومندان و.

۱۴ ـــــ ملا عبدالحق وثیق: د ګوانتانامو څځه راخلاص او تبادله شوی بندي، د طالبانو د نظام پر مهال د استخباراتو مرستیال مشر و.

## اسلام اباد کې د دویمې غونډې لغوه کېدل

د فبروري پر ۱۲مه ۲۰۱۹، ځینو بهرنیو او کورنیو رســنیو د پاکســتاني چارواکو له خولې راپور ورکړ چې طالبان په اســلام اباد کې د پاکســتان له لومړي وزیر عمران خان سره او خلیلزاد سره غونډه کوي، یوه ورځ وروسته د طالبانو د ویاند ذبیح الله مجاهد لخوا د یادې غونډې اړوند لاندې خبرپاڼه خپره شوه.

"داچې د اسلامي امارت او امریکا تر منځ د مذاکراتو سلسله شروع ده او تر اوسه پورې یې په قطر هیواد او متحده عرب اماراتو کې غونډې تر سره کړې دي، د تیر مجلس په جریان کې د شوي توافق سره سم به د روانې فبروري میا شتې په ۲۵ نیټه بیا هم د قطر په مرکز دوحه کې دوام پیدا کوي.

همدا ډول د پاکستان هیواد د حکومت په رسمي غوښتنه به د روان ۲۰۱۹ م کال د فبروري په ۱۸ نیټه له امریکایې ټیم سره د اسلامی امارت د مذاکراتي ټیم ناسته او مذاکرات په ا سلام اباد کې تر سره شي او د ا سلامي امارت مذاکراتي ټیم غړي به د پاکستان له صدراعظم عمران خان سره هم وګوري، د افغانستان او پاکستان په تعلقاتو، په پاکســتان کې د افغان مهاجرینو او افغان تجارانو په ســتونزو به هم تفصیلي خبرې وکړي."

د طالبانو لخوا په اســلام اباد کې د غونډې تر تایېد وروســته ډیر منفي غبرګونونه په ټولنیزو رسنیو او ټلویزونو کې راغلل، چې ډیر مهم پکې د ملا عبدالسلام ضعیف ټویټ د فبروري پر ۱۴مه و، هغه لیکلی و: " مور خو پر تا باندي ډیر حساب کاوه، تا ولي داسي وکړه؟"

هیڅوک نه پوهېدل چې د ضــعیف صــاحب هدف به څوک وي، ډیرو کســانو تبصرــې کولي چې له پورته جملې به یې هدف ملا برادر اخوند وي، خو ضــعیف صــاحب په یوه بړغیز پیغام کې ما (لیکوال) ته ویلي وو، چاته یې نه ښــیې، پرته له دي بله لاره نه وه، هغه کس چې ما غوښتل خپله خبره ورته ورسوم، بله هیڅ لاره نه وه، اوس دا دی هغه ته زما پیغام ورسېدی.

په همدې ورځ ما (ليکوال) هم په ټولنيزو رسنيو کې وليکل:"پاکستان کې له عمران خان سره لېدنه پر ځای، خو له امريکايانو سره د قطر دفتر کې خبرې په ګټه دي. د فشار نتيجه کې له امريکا سره د طالبانو خبرې اسلام اباد کې پوښتنې او انديښنې زېږوي.

امريکايانو وار له مخه انديښـــنه درلودله چې ملا برادر اخوند به د فبروري ۲۵مه، د قطر خبرو کې ګډون ولري يا نه؟

که طالبان لا هم قطر ته تګ کې ســتونزې لري او غواړي مخکې له قطر ناســتي د ملا برادر اخوند او خليلزاد ناسـته اسـلام اباد کې وشي، نو بيا هم انديښـنې پر ځای پاتې کيږي؛ او فکر به کيږي چې بالاخره د امريکا ــــ طالب د خبرو لاره پر ا سلام اباد ورغلي، او اســـلام اباد هر وخت دغه لاره کې خنډ پيدا کولای شي، او د خپل ځان لپاره به په هر حال امتياز اخيستلای شي.

په کار ده چې طالبان له امريکا سره د خبرو داسي لاره ولټوي چې پر اسـلام اباد نه وې ورغلي.

که د طالبانو مرکچيان قطر ته د هر ځل تګ پر مهال له اسـلام اباده لاره غواړي، او اســـلام اباد يې په مقابل کې ورځخه هر ځل امتياز غواړي؛ ناوړه پايلې به يې افغان ولس له ستونزو سره مخ کړي."

همدارنګه ډېرى افغان سيا ستوالو په ا سلام اباد کې له پاکستاني چارواکو او هلته له امريکايانو سره د ناستې مخالفت وکړ.

افغان حکومت په رســمي ډول، د فبروري پر ۱۵مه، ملګرو ملتونو ته په اســلام اباد کې د پلان شـوې ناسـتې اړوند شـکايت وکړ، همدارنګه يې له ملګرو ملتونو څخه وغوښــتل چې طالب مشرـانو ته چې نومونه يې په تورلســټ کې دي، بايد د ســفر کولو اجازه نورو هيوادونو او په ځانګړي ډول اسلام اباد ته ورنه کول شي.

افغان حکومت ملګرو ملتونو ته په ليک کې ځيني نومونه (شـيرمحمد عباس سـتانکزى، مولوي ضـياء الدين مدني، ملا عبدالسـلام حنفي، شـيخ شـهاب الدين

دلاور، مولوي عبداللطيف منصور، مولوي اميرخان متقي، ملا فاضل محمد مظلوم او ملا نورالله نوري) ذکر کړي وو چې په تورلسټ کې دي، او بايد د سفر او تگ راتگ بنديزونه په دوی عملي شي.

ځينو افغانانو ته منسوبو بريښنايي پاڼو راپور ورکړ چې د اسلام اباد غونډې اړوند د طالبانو د نظامي او سياسي مشرانو تر منځ ژور د نظر اختلاف پيدا شوی، چې د طالبانو وياند مجاهد د دغه ډول اوازو په غبرگون کې د فبروري پر ۱۵مه، لاندي اعلاميه خپره کړه.

**پاکستان ته د اسلامي امارت د پلاوي دتگ په اړه د استخباراتي کړيو پروپاگند حقيقت نه لري.**

"تاکل شوې چې دريمه ورځ به د اسلامي امارت يو رسمي پلاوی پاکستان هيواد ته سفر وکړي، د هغه هيواد له صدراعظم سره به وگوري او همدا ډول به هلته له امريکايي پلاوي سره هم ناسته ولري .

دغه سفر جوتوي چې اسلامی امارت د يوه قوي ځواک په توگه سياسي او نظامي ځواک بلل کيږي چې بيلا بيلو هيوادونو ته يې رسمي سفرونه نړيوال وجاهت پياوړی کوي.

خو د کابل ادارې پورې اړونده استخباراتي کړيو بيا د دغه سفر په اړه په منفي تبليغاتو پيل کړی او ويره لري چې اسلامی امارت د يوه موازي حکومت او ځواک په توگه مطرح نه شي.

د دغو تبليغاتو په لړ کې ځينې شيطاني انټرنټي پاڼې د اذهانو د تخريبولو او تشويش اچولو په مقصد پروپاگند کوي چې د دغه سفر په اړه داسلامي امارت د ليکو تر منځ اختلافات پيدا شوي او گواگې مجاهدين به سره وويشل شي چې په دې لړ کې په کاذب ډول د اسلامي امارت د ځينو مشرانو نومونه هم يادوي .

دغه ناخبره گوډاگيان په دې نه دي خبر چې د اسلامي امارت ليکې په دومره اومړې تار نه دي سره تړلي چې يوه مزدوره رسنۍ به يې په منځ کې درځ واچوي.

د ا سلامي امارت ټول مجاهدين په خپلو ټولو مشرانو باندې کلک باور او اعتماد لري، ترمنځ يې بشپړه هماهنګي او اطاعت موجود دی.

موږ ټول ولس او مجاهدينو ته اطمنان ورکوو چې د دغو د ښمنو کړيو پروپاګنډ ته هيڅ اهميت ورنه کړي او د تل په څير يې بې ارزښته او بابيزه وبولي.

هيڅ ستونزه نشته او هيڅ ډول اختلاف وجود نه لري".

وروسته رسنيو دا راپورونه هم ورکړل چې طالبان به په اسلام اباد کې د سعودي عربستان له وليعهد شهزاده سلمان بن محمد سره هم وګوري، پاکستان ته د سلمان دوه ورځنی سفر د فبروري پر ۱٦مه پلان شوې و، د هغه سفر يوه ورځ وځنډيد، چې پر ۱۷ فبروري به پاکستان ته ځي او ۱۸ فبروري به له طالبانو سره هم ګوري.

د غونډې تر ټاکلي نيټې يوه ورځ مخکې د طالبانو وياند د اسلام اباد غونډې اړوند لاندې خبرپاڼه خپره کړه، او په اسلام اباد کې غونډه لغوه اعلان شوه.

**په اسلام اباد کې د ناستې په اړه د اسلامي امارت د وياند څرګندونې**

"ټاکل شوې وه چې د روانې ميلادي مياشتې په ۱۸ تاريخ له امريکايي پلاوي سره د پاکستان هيواد پلازمينه ا سلام آباد کې د ا سلامي امارت د مذاکراتي ټيم غونډه وشي.

اسلامي ا مارت په ياده غونډه کې د خپلو استازو د ګډون تابيا نيولي وه، خومتاسفانه چې د اسلامي امارت د مذاکراتي ټيم زياترو غړو ته د امريکا او ملګرو ملتونو د تورلسټ له امله د سفر زمينه مساعده نه شوه، له همدې امله ياده غونډه وځنډيده، د يادونې وړده چې د غونډې ځنډيده په اسلامي امارت پورې اړه نه لري ځکه د ا سلامي امارت له لوري غونډې ته پوره چمتو والی نيول شوی وو .

نور چې په دې اړه په رسنيو کې کوم راپورونه اوريدل کيږي چې ګنې دا غونډه د اسلامي امارت لخوا لغوه شوي او يانور لامولونه يادېږي هغه هيڅ حقيقت نه لري." ذبيح الله مجاهد

## له طلوع نیوز سره د زلمي خلیلزاد مرکه

له طلوع نیوز ټلویزون سره خلیلزاد د مرکې (۱۸ فبروري ۲۰۱۹) پر مهال وویل:"بنه شو چې طالبانو له عمران خان سره ونه لېدل. ځکه پاکستان ته زه نه ولاړم، پریکړه شوې وه چې بله ناسته په دوحه کې کیږي، پلان لرم چې ملا برادر اخوند سره ووینم.

سعودي عربستان د افغان سولې اړوند رول لوبولی شي، که له پاکستان سره خپلې مالي مرستې د سولې پروسې پوري مشروط کړي[٦١]، تر څو پاکستان په دي برخه کې قوي قدمونه پورته کړي.

موږ له طالبانو سره تیر ځل ژمنه کړي چې د فبروري پر ۲۵مه بیا ځل غونډه ولرو، موږ تیر ځل د دوو مسئلو اړوند لومړنۍ موافقه کړي، او دهغه اړوند به دا ځل مفصل او دقیق بحث کیږي.

۱ - د امریکایې ځواکونو وتل.

۲ –له افغانستان څخه امریکا ته د ترهګري نه ګواښ. چې القاعده او نورې ترهګرې ډلې د طالبانو تر واک لاندي سېمو، او که طالبان حکومت کې برخه کیږي، چې د افغانستان خاوره د امریکا او نورو هیوادو په ضد ونه کارول شي. د دې لپاره تضمین او میکانیزم ته اړتیا لېدل کیږي، یوازي وعده کفایت نه کوي.

که سولې ته تر رسېدو وروسته د افغانستان حکومت وغواړي چې نور به په افغانستان کې امریکایې پوځیان نه وي، موږ نه غواړو په زور سره دلته پاتې شو.

په کار ده چې په اوربند خبرې وشي او د افغان حکومت په ګډون د افغانانو خپلمنځي تفاهم پیل شي.

---

[٦١] سعودي عربستان له پاکستان سره ژمنه کړي وه چې قرض به ورکوي، ځکه پاکستان له سخت مالي بحران سره مخ و، همدارنګه متحده عرب اماراتو هم له پاکستان سره د پیسو د قرض ژمنه کړي وه، چې دواړو هیوادونو بیا وروسته پاکستان ته قرض ورکړ.

د سولې اصلي دښمن نفاق، اختلاف او بېلا بېل موقفونه دي، د جګړې مسؤل طالبان او د هغوی پلویان دي، ځکه تر اوسه يې د افغانستان له مشروع حکومت سره مخامخ لېدل نه دي منلي، تر څو تفاهم ته ورسیږي.

باور لرم چې طالبان سوله غواړي، مګر دا چې څه ډول سوله غواړي، ښه ده چې افغانان خپل منځ کې د جګړې د ختم او سیاسي توافق لپاره سره کیني.

روسيې له موږ سره د ماسکو غونډې اړوند مشوره نه وه کړي، مګر زه له هغې ناستې چې د سولې ممد او ملاتړې وي، استقبال کوم[٦٢].

---

[٦٢] د طالبانو او امريکا ترمنځ ٦ ورځنیو (جنوري ۲۰۱۹) مذاکراتو کې د امريکا غوښتنه وه چې طالبان به کله بین الافغاني تفاهم پېل کوي. همدارنګه کله چې په ابوظبی کې غونډه وشوه، امريکا غوښتل چې د ماسکو فورمټ ناستې پیکه کړي، له همدې کبله وه چې طالبانو هم غوښتل چې بین الافغاني خبرې وکړي، او ماسکو هم غوښتل چې د ماسکو رول د افغانستان قضیه کې پېکه نه شي. همهغه و چې د فبروري پر ۵مه او ٦مه ۲۰۱۹، ماسکو کې لومړی بین الافغانی ناسته وشوه. افغان حکومت په غونډه کې د خپلو استازو ګډون رد، او افغان سیاستوالو د حامد کرزي په مشرۍ له طالبانو سره وکتل.
همدارنګه ماسکو کې دوېمه غونډه، د مئ ۲۸مه او ۲۹مه ۲۰۱۹ وه، د طالبانو پلاوی د ملا برادر اخوند په مشرۍ تللی و، د مئ پر ۲۸مه يې د روسيې د خپلواکی په سلمه کلیزه کې برخه واخیستله، او د مئ پر ۲۹مه يې له حامد کرزي او له هغه سره تللو افغان سیاستوالو سره خبرې وکړي.
ماسکو ته د ملا برادر اخوند په مشرۍ د طالب پلاوی د تللو موخه ملا امیرخان متقي داسي وښودله:" ماسکو ته زموږ راتګ د دې له پاره وو چې د افغانستان مجاهد ولس اواز نړیوالو ته ورسوو، وکولای شو چې د سیمې ملاتړ تر لاسه کړو، او د نړی قوي هیوادونه متوجه او ورته ووایو چې د افغانستان د خلکو په حقونو باندې تیری شوی او له افغانانو څخه ازادي سلب شوې.
راتلونکی داسې افغانستان چې له بهرنیانو پاک وي، دا د ټولو افغانانو او سیمې په ګټه ده. د طالبانو د نظام پر مهال د نشيي توکو د کښت کچه نږدې صفر ته را ټیټه شوې وه، مګر اوسمهال د نړی په کچه افغانستان ډېر نشيي توکې توليدوي او نوري نړی ته په قاچاق کې يې لوړ پوړي چارواکي لاس لري."

که ماسکو غونډه د افغانانو تر منځ نږدېوالی، د حکومت او افغان سیاستوالو تر منځ نږدیکت راولي، مثبت او که چیرته ماسکو غونډه د حکومت او سیاستوالو ترمنځ لیریوالی رامنځته کړي، بیا نو منفي قدم ګڼل کیږي. که افغان حکومت خپله فاصله نیسي، نو ځینې هیوادونه به هڅه وکړي چې افغان سیاسي ډلې پرته له حکومت څخه له طالبانو سره کینوي.

سولې ته د رسیدو لپاره ښه ده چې طالبان، حکومت او سیاسي ډلې په ګډه توافق وکړي.

یوه ملي د سولې ډله دې ژر ایجاد شي، چې د سیاستوالو استازي هم پکې شتون ولري، او ټول باید د یوه میز تر شا کیني او توافق ته ورسیږي، او زما پیغام ټولو

---

ملا امیرخان متقي زیاته کړه:" د ښځو حقونه دادي چې د هغوی بچیان ورته ونه وژل شي، د هغې میړه ورته ونه وژل شي، د هغوی کورونه ورته خراب نه کړل شي، پر هغوی بمبارد ونه شي، له خپله کور او هیواده ونه شړل شي، همدا حقونه باید ښځو ته ورکول شي.
له بندیانو سره سخت ظلم کیږي، د تبې لپاره یوه عادي ګولۍ نه ورکول کیږي، په زندانو کې مړه کیږي، نړیوال باید دغه ډول وحشت ته توجه وکړي.
افغانان په یو بږغ وایې چې موږ اشغال نه غواړو، اسلامي نظام غواړو، له نړۍ سره ښې اړیکې غواړو او په راتلونکې کې به له افغانستان څخه چاته ضرر نه رسیږي."
ماسکو ته د طالبانو د پلاوی غړي "شیرمحمد عباس ستانکزی، شیخ الحدیث شهاب الدین دلاور، شیخ الحدیث سید رسول، مولوي عبدالسلام حنفي، ملا محمد فاضل اخند، مولوي امیرخان متقي، ملا عبداللطیف منصور، قاري دین محمد حنیف، سهیل شاهین، ملا خیرالله خیرخواه، مولوي محمدنبي عمري، ملا نورالله نوري او مولوي محمدحسن"وو.
د حامد کرزي په مشرۍ له کابل څخه د پلاوي د ځینې مهمو غړو نومونه "استاد محمد محقق، استاد عطاء محمد نور، حنیف اتمر، مولوي عبدالله قرلق، ډاکټر سپنتا، عبدالکریم خرم، عمر زاخیلوال، حکمت کرزی" دي.
د ماسکو دوېمه غونډه پرته له پریکړه لیک او بې نتیجې پای ته ورسیده، حامد کرزي او ملګرو یې له طالبانو د اوربند غوښتنه کوله، او طالبانو د دوی غوښتنه رد کړه.
د لا زیاتو معلوماتو لپاره زما کتاب (ماسکو غونډه – د افغانانو خپلمنځي خبرو لومړۍ ناسته) وګورئ.

اړخونو ته دی، که داسي نه وي، د ماسکو غونډې په ډول به بیا هم هغه ستونزه تکرار شي.[٦٣]

ښه ده چې د حکومت تر چتر لاندي د سولې ملي ډله جوړه او طالبانو سره کیني. اوس د سولې خبرو لپاره څلور اړخه شتون لري، طالبان، حکومت، افغان سیاسي ډلې او سېمه، چې موږ ورسره په خبرو بوخت یو.
طالبان په حکومت کې شراکت مني؛ ځکه د طالبانو تیر حکومت د مجاهدینو او کمونستانو په څیر ناکام و."

## د اسلام اباد غونډې اړوند د ملا عبدالسلام "ضعیف" لیکنه

## ثمر ته رسیدونکی باغ؛ طالبانو ته د ساتنې اړتیا

زه کله هم د دې هڅه نه کوم چې د طالبانو په سیاسي لیدلوري کې ورگډ او یا وربانديې داسي انتقاد ونیسم چې زه په هغه انتقاد سره ځان ته د طالبانو سیاسي چارو کې د مداخلې حق ورکړم؛ ځکه زه اوس د هغه کاروان سره په سیاسي پریکړو کې، چې د ژوند په دغه حساس پړاو کې په کومه طریقه مزل کوي، گډون او برخه نه لرم، او نه هم د طالبانو د هغو تگلارو څخه معلومات لرم چې د دغه مزل د لارې پیروي کوي. زه د هغه حساسیتونوڅخه پوره معلومات هم نه لرم چې د دغه اغزن پېچومي په وړاندې پراته دي، خو دا ویلی سم چې په رښتیا سره دا اوږده مبارزه ډېره ستونزمنه او پېچلي وه، او کابو کول یې ساده او اسانه کار نه دی. زه د دغه کاروان د یوه پخواني غړي، د هیواد د خواخوږي او د سولي د یوه ملاتړي په توگه، هیواد او خلکو ته د خیر په نیت ځان مسؤل گڼم چې حد اقل د خیر هغه خبره چې زه یې درک کولای سم، یا یې تجربه لرم، د مسؤلیت له درک سره یې هڅه وکړم، او کله نا کله که څوک وغواړي، زما د پوهې، تجربې او معلوماتو مطابق د خیر مشوره ور سره شریکه کړم.

[٦٣] فکر کوم د خلیلزاد هدف به دا وي چې افغان حکومت هم د افغانانو خپلمنځي غونډو کې گډون ولري، که گډون ونه کړي، نو د ماسکو غونډې (٥ او ٦ فبروري ۲۰۱۹) په څیر به د حکومت له استازو پرته هم غونډه کیږي.

زه د یو مسلمان او افغان په توګه غواړم او هیله لرم چې د رښتیني سولې شاهد و اوسم، د همدې له پاره زما لید لوری او حل لاره په لاندې ډول ده: څنګه چې په ۲۰۰۱ ز کال کې د طالبانو د اسلامي امارت نظام د لویدیځ زبرځواکو په اشر او د امریکا په مشرۍ د یوي سازشي او کاذبې داعیې په مدعی په زور ونړیدی، دا هغه حقیقت دی چې جنګ ور څخه سرچینه اخیستي ده، او د اور لمبې یې تر اوسه هم بیچاره او بې دفاع افغانان په یو او بل نامه سوزوي، لا هم دا لړۍ د امریکا په مشرۍ په خونړۍ توګه دوام لري، اړینه ده چې د همدغي سرچینې سره د اعتماد، حساب او قوي ضمانت په باور دا لړۍ ودریږي، تر څو دغه پړاو یو مثبت مرحلې ته رسیدلی نه وي، هیڅوک د هر ډول هڅو د نتیجو او بریا پایله نسي تضمینولای، په دغه مرحله کې امریکا او طالبان د مخامخ مذاکراتو نتیجه کې داعتماد او باور حالت ته، د قوي تضمین په لرلو سره دحل لارې په نښه کولای سي، دا د طالبانو حق دی چې د راتلونکي له پاره، تر څو چې ملي او سیاسي مرحلې ته په عملي توګه داخلیږي، د عدم مداخلت، د خنډونو دلیري کولو، د سیاسي ادرس په لرلو او رښتوني ملي اقتدار په اړه ډاډ ترلاسه کړي، او له هغه ورسته بیا په بشپړ ډاډ او قوت سره دوېمې مرحلې ته ور ننوځي.

طالبانو ته په کار ده چې دغه لوی هدف ته د رسیدو په لاره کې ځیني مرحلې په پام کې ونیسي:

الف: هغه مذاکراتي ډله چې مشرتابه ته د اعتماد وړ او د پوره صلاحیت لرونکې وي، هغوی ته د مشرتابه له خوا، په مذاکراتو کې سرې کرښې وټاکل سي، ځکه په هره مسئله او خبره کې مشوره او نه صلاحیت درلودل، دا رنګه پرته له دې مذاکراتي ډلې؛ د ځینو نورو غیر ضروري مشورې، هغه څه دي چې هم دریځ ته تاوان رسوي، هم پرمختګ ټکنی کوي او هم د مذاکراتو پروسه اوږدوي.

ب: په مذاکراتي ډله کې شاملو اعضاوو ته دې زمینه برابره سي چې د مذاکراتو ټاکلې ځای ته د خپلو کورنیو سره یو ځای ولاړ سي، ترڅو ذهناً ارام او پریکړې په پوره صلاحیت او سړو مغزو، پرته د کوم چا او لوري د فشار او مداخلې وکولای سي.

ج: په اوله مرحله کې، تر څو طالبان او امریکا د تصویب مرحلې ته رسیږي، هیڅا ته دې د مداخلې حق نه ورکول کیږي، تر څو مذاکرات په سم ډول او بریا سره پر

مخ ولاړ او د سیمې هیوادونو له منفي رقابت څخه په امن کې پاته سي، ځکه ټوله سېمه او په ځانګړي ډول ګاونډي هیوادونه کوشش کوي چې په خپله ګټه د مذاکراتو له جریان څخه استفاده وکړي.
د: دا چې د هیواد په دننه او د باندي کې ټول هیواد وال منتظر او ځینې کسان د امریکایي او ناټو قواوو د وتلو وروسته د داخلي ناورین څخه اندیښنه لري، پکار ده چې د افغاني تفاهم سلسله چې د مسکو د غونډې څخه یې پېل سوی؛ بشپړه او دوامداره کړي، تر څو د خلکو اندیښنو ته جواب او د افغانانو خپلمنځي سیاسي جوړ جاړي ته لاره هواره سي.

**پاملرنه:**

ښه به دا وي که د ملکي تلفاتو، د بندیانو د ضرورتونو او انساني حقونو له پاره، د پرمختیایې پروژو او ملي تأسیساتو د ساتنې، د روغتیایې اړتیاوو او نورو ملکي خدمتونو لپاره، هراړخیز او واکمن کمیسون جوړ سوی وای، تر څو په یو ډول سره د جنګ سرې لمبې را کمې، اړمن او محروم خلک د خپلو حقونو څخه برخمن سي.
همدارنګه ښه به وي که پر داسي طرحه فکر وسي چې د سیاسي قُوې مرکزیت په هیواد کې دننه ځای په ځای سي،که دا کار شونی سي، کیدای سي دغه کرونده (فصل) چې میوه یې تقریباً پخېدو ته ډېره نږدې سوې ده، د غیرمترقبه افتونو څخه په ښه طریقه سره خوندي وساتل سي.

**پایله:**

زه په دې عقیده یم چې اوس مهال د سولې او سیاسي نوښت ګین (توپ) د طالبانو خواته پروت دی، هیواد وال او نړیوال ټول ورته منتظر دي چې دوی به دا ګین څنګه خپل هدف (ګُول) ته ورسوي.
د طالبانو تر ټولو لویه بریا به دا وي چې په ډېر حکیمانه تدبیر سره هم راغلي یرغلګر له هیواده وباسي او هم د مظلومو افغانانو روانه او بهیدونکي وینه ودرول سي، که دغه هدف ته په تحمُل او ښه تدبیر سره ورسېدل، هم به یې د خپلې اوږدې او سختې مبارزې ثمره لاس ته راوړي وي او هم به یې تاریخي ویاړ د تل له پاره ساتلی وي .
د سوکاله او خپلواک افغانستان په هیله

Download from:aghalibrary.cm

## قطر ته د ملا برادر د تګ اړوند اندیښنې

د فبرورۍ پر ۱۹مه (۳۰ سلواغه ۳۱۹۷ ل) ډاکټر فیض محمد ځلاند او ما (لیکوال) په کابل ښار کې د ناروې سفیر له افغان سلاکار سره ناسته درلوده، تر ډېره د ماسکو غونډې اړوند او د طالبانو او امریکا تر منځ مخامخ خبرو باندې بحث وشو.

له ناستې وروسته کور ته پر لاره ځلاند هغه اندیښنې را سره شریکې کړې، چې هغه ته په امریکا (۴ فبرورۍ – ۸ فبرورۍ ۲۰۱۹) کې د امریکایې چارواکو لخوا هلته ویل شوې او بیا وروسته هم په بریښنایې اړیکو کې ورسره د ملابرادر اخوند اړوند اندیښنې شریکې شوې وې.

**ځلاند**:"امریکایان اندیښنه لري چې د قطر را رواني غونډې ته به ملا برادر اخوند ور نه شي، او پاکستان به د ملا برادر اخوند او نورو طالبانو قطر ته د تګ مخه ونیسي. داسي هم ویل کیږي چې کیدای شي ملا برادر اخوند تر برید لاندي راشي، تر څو د سولې پروسه کې خنډ پیدا شي. ځکه پاکستان نه غواړي چې قطر کې خبرې وي، بلکې ښه ګڼي چې پاکستان کې خبرې وشي.

داسي اندیښنې هم دي چې د قطر او کوټې د مذاکراتي ډلو تر منځ ستونزې پیدا شوې دي، ځینې طالبان نه غواړي چې قطر ته ولاړ شي، بلکې ښه ګڼي چې په پاکستان کې له امریکایانو سره خبرې وکړي[٦٤].

ځینې امریکایان په دې نظر دي چې طالبان غواړي وخت تیر کړي، او سولې ته په رښتونې ډول لیوالتیا نه لري.

د فبرورۍ ۲۲مه ۲۰۱۹، خلیلزاد او ضمیر کابلوف په انقره کې سره ولېدل، دوی د طالبانو مذاکراتي ډلې باندې د سفر د بندیزونو لیرې کولو اړوند هم خبرې وکړې."

ځلاند زه (لیکوال) ډیر وهڅولم چې دې موضوع ته جدي پاملرنه وشي، او په هر ډول وي چې د قطر راتلونکې غونډه (۲۵ او ۲٦ فبرورۍ ۲۰۱۹) باید کامیابه شي. هغه له نن څخه څو ورځې وړاندې هم ورته اندیښنې زما سره شریکې کړې وې.

---

[٦٤] څو میاشتې وروسته، همدا خبره د طالب سرچینو لخوا ما (لیکوال) ته تاید شوه.

تیره شپه، د قطر د سیاسي دفتر همکار او د نن ټکی اسیا مشهوري ویب پاڼې مسؤل ښاغلي عبدالرحمن فداء له ما (لیکوال) سره ورته اندیښنه شریکه کړي وه، هغه راته ولیکل:"گومان کیږي چې له پاکستان څخه به د مذاکراتي ډلې کسان قطر ته را نه شي، ځکه تیره ناسته چې په اسلام اباد کې ترتیب شوې وه، له قطر څخه کسان ورنغلل، دا ستونزه اوس د قطر او پاکستان تر منځ را پیدا شوې، ورته ځرگندونې یې ځلاند صاحب ته هم کړي وي."

د فبروري پر ۹مه نیټه ما (لیکوال) د ناټو ملکي استازي دفتر له کسانو سره په کابل سرینا هوټل کې ناسته درلودله، هغوی ته مې یادونه وکړه چې دا خبره خپلو مشرانو ته ورسوي چې پاکستان ممکن وغواړي چې له پاکستان څخه قطر ته د طالب مشرانو د تګ لپاره ستونزې پیدا کړي، ښه به وي چې پاکستان ته وویل شي چې د طالبانو د تګ مخنیوی ونه کړي.
د طالبانو د سیاسي کمیسون د مشر او د شیخ هبة الله صاحب د سیاسي مرستیال ملا برادر اخوند تګ ما (لیکوال) ته دومره مهم نه ښکاریدی، زه په دي نظر وم چې ممکن پرته له ملا برادر اخوند څخه که نور طالب مشران هلته قطر غونډې کې گډون وکړي، همدا به بسنه وکړي، مگر په وروستیو کې د رسنیو راپوروونه، د عبدالرحمن فداء او ځلاند اندیښنو زه هم ډیر اندیښمن کړم.
په همدې ورځ (۱۹ فبروري) مې قطر کې ملا عبدالسلام ضعیف صاحب ته پیغام واستاوی، هغوی هم وار له مخې په همدې موضوع کې بوخت وو.
لیک مې ولیکی، له مختلفو لارو مې طالب مشرانوته واستاوی، په همدې ورځ ماښام متقي صاحب ته لیک ورسیدی، او له هغه مخکې د قطر سیاسي دفتر مرستیال مشر ملا عبدالسلام حنفي ته هم ورسیدی. فداء ورور ژمنه وکړه چې تر سبا به لیک ملا برادر اخوند ته هم ورسیږي.
مور خپلو هڅو ته دوام ورکړ، د متقي صاحب ورور سره مې اړیکه ونیوله، هغه ته مې د قطر غونډې اهمیت ووایه، همدارنگه مې ملا عبدالحنان همت ته وویل چې د یادې موضوع اړوند، او قطر ته د دوی د تګ پر اهمیت له متقي صاحب سره ځانگړې ناسته وکړي.

لیک په لاندې ډول لیکل شوی وو:

**نظرمحمد مطمئن**

بسم الله الرحمن الرحیم

نیټه: ۳۰ سلواغه ۱۳۹۷

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

ډېر محترمو مشرانو! الله ﷻ دې تاسې په خپل حفظ او امان کې وساتي.

سوله تر جگړې اسانه نه ده، او په دې برخه کې که پوره احتیاط ونه شي، خدای مه کړه، موږ بیا ځل د نور وخت لپاره په جگړه کې پاتې نه شو.

داسې هم نه ده چې د امریکا ټولې امنیتي ادارې، او ټول سیاستوال غواړي چې له افغانستان څخه د دوی پوځیان ووځي، دا ټرمپ دی چې د وتلو عجله لري، او له دې چانس څخه په سم ډول باید افغانان گټه پورته کړي.

یوه میاشت مخکې (جنوري ۱۸مه)، د پاکستان له خوا خلیلزاد ته تمه ورکول شوې وه چې په اسلام اباد کې به طالبان ورسره ویني، خو طالبانو هغه ناسته رد کړه، او بالاخره خلیلزاد د پاکستان څخه نهیلی د دوحې په لور ولاړ، هلته یې له طالبانو سره ٦ ورځې خبرې وشوې.

پوره یوه میاشت، همهغه ورځ (۱۸مه د فبروري)، بیا هم پاکستان خلیلزاد ته ویلي و چې په اسلام اباد کې به طالبانو سره وگوري، خو دا ځل خلیلزاد وغوښتل چې له پاکستان څخه د خپل تیر شرم غچ واخلي، او دادی دا غونډه هم د امریکایانو د نه لیوالتیا او پاکستان څخه ممکن د غچ له امله به وي، چې ونه شوه، او یا نور عوامل به ولري.

دا یوه ستونزه ده، چې د قطر څخه طالبان په ازادانه ډول اسلام اباد ته په خپل وخت سفر نه شي کولای، او له پاکستان څخه د مذاکراتو لپاره قطر ته د سفر اسانتیاوې په وخت نه وي.

داچې د فبروري ۱۸مې ته له قطر څخه طالبان اسلام اباد ته د بېلا بېلو عواملو له کبله را نغلل، او غونډه هم له عمران خان او هم امریکایانو سره ونه شوه، که اوس د فبروري ۲۵مې غونډې ته د مذاکراتي ډلې غړي قطر ته ولاړ نه شي، او یا ستونزې

ولري، دا به افغان ولس ډېر ناهيلی کړي. او همدارنگه کورنۍ او لويديځې رسنۍ به په پوره قوت سره د طالبانو د مذاکراتي ډلې تر منځ د اختلاف اوازې خپرې کړي.

امريکايانو وار له مخه له ځينو افغانانو سره دا انديښنه شريکه کړي، چې ملابرادر اخوند کيدای شي د قطر په غونډه کې ځکه گډون ونه کړي، طالبان غواړي د سولې خبرې په ځنډ سره مخکې ولاړې شي، او پاکستان کوشش کوي چې پر طالبانو خپل نفوذ وښيي او د سولې پريکړې بالاخره اسلام اباد کې وشي. که اوس قطر ته د مذاکراتي ډلې غړي سفر ونه شي کولای، ممکن چې په امريکا کې د جگړې پلويان او د ټرمپ مخالفين دا ښه فرصت د ځان لپاره وگوري، هغوی به دا تبليغات زيات کړي چې طالبان په سوله باور نه لري، او امريکايې پوځيان بايد په افغانستان کې پاتې شي.

زه د يوه کشر په صفت هيله کوم، خواهش کوم چې که هر ډول وي دا ځل قطر ته د سولې مذاکراتي ډلې کسان حداقل څو تنه ورشي، او که خپله محترم ملابرادر اخوند وکولای شي، دا به ډېر ښه وي.

که دا کار ونه شي، يو به کورنيو او بهرنيو رسنيو، د افغان –امريکا جگړې پلويانو ته دليل په لاس ورشي، چې د طالبانو مذاکراتي ډلې، د قطر او رهبرۍ شورا د غړو تر منځ اختلاف نظر دی، د قطر طالبان له امريکا سره په قطر کې او د رهبري شورا ځينې غړي له امريکا سره خبرې په اسلام اباد کې غواړي. بل داچې په قطر دفتر به هغه باور چې اوس يې خپل کړي، هغه به زيانمن شي. پای

د فبروري پر **۲۳**مه، طالب ملگري راته خبر راکړ چې قطر ته به د ملا برادر په گډون د سولې مذاکراتي ډلې مشران ځي، په تعرفي ناسته کې به ملا برادر اخوند گډون وکړي، او بيا به ناستې نور ملگري مخکې وړي.

هغه دا هم وويل چې پاکستان ډېر په عذاب دی، وايې چې موږ مو بای پاس کړو، مگر پاکستان څه کولای هم نه شي.

په سبا رښتيا هم ملا برادر اخوند، ملا اميرخان متقي، مولوي عبداللطيف منصور او مولوي مطيع الحق، ټول قطر ته ورسېدل.

د فبرورۍ پر ۲۳مه، ملا عبدالحنان همت هم زما (لیکوال) سره خبرې وکړې، هغه له ملا امیر خان متقي سره نېغ په نېغه کتلي وو، همت وویل: "امیرخان متقي اندیښمن ښکاره کېدی، د پاکستان لخوا پر طالبانو فشار شته، او طالبان هم ځینې مجبوریتونه لري."

او د فبرورۍ پر ۲۴مه ذبیح الله مجاهد ولیکل: "قطر کې مذاکرات به سبا دوشنبه بیا شروع شي. د فبرورۍ میاشتې په ۲۵ تاریخ به په دوحه کې داسلامي امارت د مذاکراتي ټیم د غړو او امریکایي پلاوي ترمنځ بیا خبرې پیل شي.

د غونډې احنډا به هغه پخوانۍ د اشغال خاتمه او له افغانستان څخه چاته د ضرر نه متوجه کېدل وي."

کله چې ملا برادر اخوند، متقي صاحب او څو نور لوړ پوړي طالبان قطر ته ولاړل، پاکستان هیواد نور هم نهیلی شو، او له بېلابېلو لارو یې د یادو مشرانو د کورنیو پر غړو او ملګرو فشارونه زیات کړل .

قطر ته تللیو طالب مشرانو (ملا برادر اخوند، مولوي امیرخان متقي، مولوي عبداللطیف منصور او مولوي مطیع الحق خالص) پریکړه وکړه چې خپلې کورنۍ هم قطر هیواد ته بوځي، تر څو بیا پاکستان ته د تګ اړتیا پیدا نه شي. همدارنګه پریکړه وشوه چې له امریکا سره به مذاکرات په قطر کې کیږي، او بل کوم هیواد کې به د بل چا په فرمایش له امریکایانو سره نه کښیني.

دا ډول پریکړې په پاکستان ښې ونه لګېدې او پاکستان د امریکا استخباراتي ادارو ته بیا ځل غلط معلومات پیل کړل[٦٥]، تر څو پر ملا برادر اخوند او متقي صاحب،

[٦٥] ډیری طالب مشران او افغان سیاستوال پر دی نظر دي چې پاکستان ناسم معلومات امریکا ته ورکړي و چې د طالبانو مشر ملا اخترمحمد منصور د سولې مخالف او له افغان حکومت سره مخامخ خبرو ته نه دی چمتو، کله چې منصور صاحب د پاکستان په نوښت او غوښتنه ۴ اړخیزو مذاکراتو کې د ګډون سره پریکون وکړ، پاکستان امریکا، چین او افغان حکومت ته په ورکړل شوو وعدو کې چې طالبان به ورسره مخامخ کینوي، ناکامه شو، له همدې امله د پاکستاني استخباراتو لخوا د امریکا استخباراتو ته ناسم معلومات ورکول شول

چې د مذاکراتو پر مهال يې وړتيا له هيچا پټه نه وه، زيات فشار راوړي، چې هغه په راتلونکې کې په مذاکراتو کې د پاکستان رول ته قانع کړي .

مګر ملا برادر اخوند او متقي صاحب د پاکستان هر ډول فشار ته ټټر ورکړ، او ويې نه منله چې د پاکستان فشار ته تسليم شي .

د پاکستان لخوا د امريکا ايف بي آی ته ناسم معلومات ورکول شول چې د متقي کشر ورور مولوي عبدالله د امريکا خلاف فعاليتونو کي خاص رول لوبوي .

په داسي حال کې چې مولوي عبدالله هيڅ سياسي فعاليت نه لري، هغه چې کله له مدرسي فارغ شو، په تعليمي برخه کې بوخت دی، په ښوونځي او مدرسه کې شاګردانو ته زده کړي ورکوي .

مګر دوی لاندي ناسم معلومات خپاره کړل:

"ايف بي آی د عبدالله په اړه معلومات کوي چې له طالبانو او حقاني شبکې سره د هغه د اړيکو پلټنه وکړي. دی به په افغانستان او يا پاکستان کې وي .

بايد د وسلوال او خطرناک سړي په توګه په نظر کې ونيول شي" .

---

چې د طالبانو مشر ملا اخترمحمد منصور د سولې مخ کې غټ خنډ دی، او هغه سوله نه غواړي، همهغه وو چې منصور صاحب د ۲۰۱۶ کال د مئ مياشتي پر ۲۱مه د امريکا د بې پيلوټه الوتکې په بريد کې د ډيورنډ کرښې ته نږدې د نوشکي په سېمه کې تر بريد لاندي راغی او ووژل شو.

د مئ پر ۲۳مه، ضعيف صاحب ما "ليکوال" ته وويل: څو ورځې مخکې مې د ملي امنيت مشر معصوم ستانکزی ولېد، هغه راته وويل:"پاکستان امريکا ته ويلي چې د طالبانو مشر د سولې مخالفت کوي، ممکن چې امريکا ډير خطرناک ګام پورته کړي."

طالب مشران او افغان سياستوال په يوه خوله وايي چې منصور صاحب د سولې په برخه کې ژمن و، خو ربنتونې او د استقلال په فضاء کې سوله يې غوښتله. د منصور صاحب تر مرګ وروسته د سولې خبرې او پرمختګونه ډير وخت ټکني شوو.

پاکستان پر دي هم بسنه ونه کړه، د پاکستان له استخباراتو سره تړلې ځینې رسنیو ته یې پلان ورکړ چې د متقي صاحب پر بل کشر ورور مولوي احمدالله پسې ناوړه تبلیغات خپاره کړي، همهغه وو چې د مولوي احمدالله په اړه ځینو افغانانو ته منصوبي، د پاکستاني استخباراتو سره تړلیو رسنیو ډیر ناوړه راپوررونه خپاره کړل .

یادو رسنیو راپور ورکاوه چې د طالبانو مشرتابه د مولوي امیرخان متقي پر ورور مولوي احمدالله بې باوره شوې، او هغه یې د فساد کولو او پټو معلوماتو خپرولو له امله بندی کړی. چې دا بشپړ دروغ راپوررونه وو او مولوي احمد د طالبانو په لیکو کي خپل فعالیت کاوه، او تر دې مهاله هغه د طالبانو په لیکو کې لا هم فعال دی .

بالاخره یادو رسنیو مخامخ پر مولوي امیرخان متقي پسې منفي راپوررونه خپاره کړل، چې ګواکي هغه د طالبانو د مشر لخوا له دندي ګوښه شوی، وروسته دا ټول تبلیغات بی اساسه او دروغ ثابت شول.

په دې تبلیغاتو کي له پېله یو ډول تناقض هم موجود و، کله به یې د طالبانو مشر شیخ هبة الله اخوندزاده او متقي صاحب یوبل ته ډیر نږدې بلل او داچی دواړه له آی ایس آی سره ګډې اړیکي لری، مګر کله به یې بیا د دوی لاري بېلې بللې.

په اصل کي متقي صاحب د طالبانو دریو واړو مشرانو "ملا محمد عمر مجاهد، ملا اختر محمد منصور او شیخ هبة الله اخوند زاده" ته خورا نږدې او داعتماد وړ پاته شوی، ځکه یې دا ډول تبلیغاتو حیثیت ته زیان ونه رسولای شو .

د متقي صاحب د ورونو او ده په اړه یادو ناوړه، راپوررونو تر هغه وخت پورې دوام درلود تر څو چې د طالبانو او امریکا ترمنځ په دوحه کې د فبروري پر ۲۹مه، د بهرنیو ځواکونو د وتلو تړون لاسلیک کیدی .

له آی اس آی او د افغانستان استخباراتو سره ځینو تړلو رسنیو د طالبانو د مذاکراتي ډلې په مشر شیرمحمد عباس ستانکزي پسې هم ډیر ناوړه تبلیغات خپاره کړل، رسنیو ستانکزي صاحب تورن کړ چې د پاکستان د آی ایس آی تګلارې مخکې وړي، او بالاخره دا لړۍ تر ملا برادر اخوند پورې دوی ورسوله، چې ګواکې ملا برادر اخوند د پاکستان آی ایس آی سره نږدې اړیکې لري خو د ملا برادر اخوند، ستانکزی صاحب او متقي صاحب عملي کړنو دا ډول تبلیغات ټول په اوبو لاهو کړل.

# دوحه کې پنځم پړاو خبرې

د فبروري پر ۲۵مه، طالب مشران او امریکایې پلاوی، ټول د قطر د بهرنیو چارو وزیر میلمانه وو، همهلته لومړي تعرفي ناسته هم وشوه، او پر سبا یې د طالبانو او امریکایانو تر منځ پر لاندي دوو موضوع ګانو بحثونه پېل شول.

لومړی: له افغانستان څخه د ټولو بهرنیو (امریکا/ناټو) ځواکونو د وتلو مهالویش او اړوند فرعي مسایل.

دوېیم: له افغانستان څخه امریکا او نورو هیوادونو ته په راتلونکي کې نه ګواښ.

د دوېمې ورځې په پای کې رسنیو راپور ورکړ چې خبرې څلور ورځو ته وغځیدي، مګر د پنجشنبې او جمعې (۲۸ فبروري او ۱ مارچ) ورځې بیا هم خبرې ونه شوې، سرچینو ویل چې تخنیکي او مسلکي کسان د بحثونو پر جزیاتو باندي بوخت دي، او د شنبې ورځې ناستې ته به خپل راپورونه وړاندي کوي.

همداسي د پټو دروازو تر شا خبرو دوام پیدا کړ، د جمعې ورځ (۸مارچ) بیا هم خبرې ونه شوې.

تمه وه چې د طالبانو او امریکا ترمنځ به پر یوې مسودې باندي توافق وشي، د مارچ پر ۱۲مه ۲۰۱۹ خبرې پای ته ورسیدي، طالبانو وویل چې توافقاتو ته نږدې شوې، خو زلمي خلیلزاد بیا د ټویټ د لارې څرګنده کړه، چې مسودې باندي توافق شوی، دواړه پورته مسایل منل شوې، ولي دوه نور مسایل لا هم بشپړې سولې ته د رسیدو لپاره پاتې دي.

لومړی: د طالبانو او افغان سیاسي ګوندونو تر منځ خپلمنځي خبري.

دوېیم: اوربند.

د خبرو له پېل مخکې، د خبرو په جریان کې د طالبانو لخوا ځیني وضاحتونه ورکول کېدل، همدارنګه طالبانو هم د خبرو اړوند له بېلابېلو د نظر خاوندانو څخه نظریات ټولول.

د فبروري پر ۲۳مه د پورته دوو موضوع ګانو اړوند زما (لیکوال) او یو شمیر افغانانو څخه یې په اړه نظر پوښتل شوی وو، چې لاندي موارد ما (لیکوال) د قطر سیاسي دفتر ته ور ولیږل.

**له امریکا سره مذاکراتو کې لاندي ټکي مهم دي:**

۱ ـ د تړون اصلي متن باید پښتو ومنل شي او له پښتو انګریزي ته وژباړل شي، خو واضح شي چې اصل پښتو او انګریزي ژباړه ده.

ځکه انګریزي کې یو لغت څو ډوله معناوي ورکوي، بل داچې دوی باید ځکه پښتو متن ومني چې تجاوز یې کړی.

۲ ـ د امریکا / ناټو ځواکونو د وتلو لپاره له ٦ تر ۹ میاشتې وخت؛ که څومره هم له دي زیاتیږي، هغه په تاوان ده.

۳ ـ که د بهرنیو پوځیانو د وتلو خبره لیکل کیږي چې د امریکا په مشري د ناټو ټولو ځواکونو وتل ذکر شي چې باید ووځي او د تړون شامل وي، د وتلو تضمین امریکا وکړي، ځکه له هر ناټو غړي هیواد سره د طالبانو مذاکرات نه دي په کار.

۴ ـ په تیرو ۱۸ کلونو کې د کابل اداري لخوا ټول امنیتي، دفاعي او ستراتیژیک تړونونه له امریکا، ناټو او نورو ټولو بهرنیو هیوادونو سره نه منل کیږي.

۵ ـ افغانستان د بي طرفه هیواد په توګه د نړیوالو او ملګرو ملتونو لخوا ومنل شي، لکه ترکمنستان.

٦ ـ د افغانستان سره د ګاونډیو هیوادونو اړوند هر ډول مسایلو کې د امریکا، روسیې، بریتانیا، چین او نورو هیوادو، نه مداخله، افغانستان به له ګاونډیو هیوادو سره ځینې امنیتې، سرحدي، اوبو او قبایلي ستونزې پرته د نورو له مداخلې حل کوي.

۷ ـ په افغانستان کې د امریکا / ناټو ځواکونو وتلو وروسته د امریکا سفارت فعالیتونه باید تعریف شي.

۸ - د امریکا / ناټو لخوا افغانستان ته راوړل شوې نظامي او ملکي تجهیزات د افغانستان امنیتي او دفاعي او ملکي ادارو ته وسپارل شي.

۹ ـ له افغانستان څخه د امریکا /ناټو ځواکونو تر وتلو وروسته، د معادنو استخراج، ذراعت، اوبو کنټرول، برق او انرژي، صناعتي او نورو عام المنفعه اقتصادي او مسلکي پروژو کې د امریکا، چین، روسیې په ګډون د نورو هیوادونو سره تړونونه او د هغوی مسلکي مرستو باندي بحث وشي .

۱۰ - د افغانستان کورنیو چارو کې د نړیوالو نه مداخله، افغانان به د راتلونکي نظام جوړښت او شکل د افغانانو د خپلمنځي مشورو په رڼا کي ټاکي.

۱۱ ـ نظامي طالبان به د ضرورت تر وخت پورې همداسي په خپل حال او له خپل ځانګړي تشکیل سره ساتل کیږي، مصارف به یې د افغانستان د امنیتي او یا هم ملګرو ملتونو امنیتي بودجې څخه اجرا کیږي، چې کله یې اړتیا د وخت په تیریدو رفع شي، بیا به یې امنیتي ادارو کې د یو ځای کیدو په اړه بحث کیږي.

۱۲ ـ د طالبانو او امریکا تر منځ له تړون وروسته؛ پرته له ځنډ څخه به ټول د طالب په نوم نیول شوې بندیان چې هر ځای وي، هغوی خوشي کیږي، او طالبان به د کابل ادارې اړوند بندیان خوشي کوي.

۱۳ ـ هغه بهرني اسلامي جنګیالي چې په تیرو ۱۸ کلونو کې د بېلا بېلا مجبوریتونو له کبله افغانستان کې ځینې یې پاتې او یا هم له امریکا او یا کابل ادارې سره بندیان دي، د هغوی د برخلیک ټاکلو او د هغوی په خوښه ځینو هیوادونو ته یې رسول، چې بیا ځل په کوم هیواد کې له ستونزو سره مخ نه شي.

۱۴ - د میرمنو لپاره حقونه او د بیان ازادي به د اسلامي اصولو او افغاني ارزښتونو په نظر کې نیولو سره مراعت کیږی.

۱۵ ـ د امریکا او نړیوالو سترو قدرتونو او یا ملګرو ملتونو لخوا تضمین ورکول چې د افغانستان انټرنیټي او مخابراتي سیسټمونه به د نورو هیوادونو او استخباراتو له لاس وهنې خوندي وي .

د مارچ میاشتې پر ۲مه نېټه، د طالبانو د قطر سیاسي دفتر څخه لاندي پېغام په نسبتاً پراخه کچه ځینو د نظر خاواندانو ته واستول شو، او د هغوی څخه یې په اړوند نظرونه واخیستل شول.

"سلامونه او درناوی، څرنکه چي د اسلامي امارت دریځ روښانه دی چې د اشغال په شتون کې له ګوډاګی اداري سره خبري او مذاکرات نه کوي. په دې اړه متفاوت نظرونه سته. تاسې د اسلامي امارت دغه موقف ته په کوم نظر ګورئ؟

ګټې او تاوانونه یې څنګه ارزوئ؟

او که دا ښه ګڼئ چې همدغه موقف ته ادامه ورکړل شي، کوم بدیلونه لرو چې استفاده ترې وکړو چې ټولو لوریو ته د منلو وي؟ څه ډول بدیل ستاسې په نظر بهتره دی؟

هغه په دي مانا چي هم د اسلامي امارت موقف په نظر کې ونیول شي. هم هغو افغانانو ته چي په اوسني حکومت کې برخه نه لري او د اسلامي امارت مخالفین شمیرل کیږي او هم دنیاوالو ته دقناعت وړ وي.

که په دي برخه کې ښه په سړه سینه یو څه راته ولیکئ مننډوي به مو یم.

ما (لیکوال) خپل نظر په لاندي ډول ورته واستاوه:

"همدا اوسنی دریځ ښه دی، د ماسکو ناسته دي تسلسل پیدا کړي، قطر کې دي بین الافغاني ناسته وشي، او له هغه وروسته داخل ته دغه ډول د افغانانو خپلمنځي ناستي راوړل شي.

له کابل سره مخامخ خبري به له امریکا سره خبرو باندي تاثیر ولري، او امریکایان به بیا وخت ضایع کیدل وغواړي، ځکه د امریکا لویه هیله همدا وه چې د طالبانو او افغان حکومت ترمنځ مخامخ خبرې پیل او دوی ته په کې ګټه ورسیږي.

که افغان حکومت د بین الافغاني تفاهم د خبرو جز شي، او د جز په شکل په قطر او راتلونکو ناستو کې ګډون وکړي، دا به ښه وي.

که چیرته بیا زیات فشار وي، نو تر هغه وخت پوري انتظار په کار دی چې له امریکا سره په خبرو کې لږ تر لږه څه پرمختګ وشي، کله چې لږ پرمختګ وشو، که بیا زیات فشار وي، نو که له افغان حکومت سره خبرې هغه وخت کیږي.

اوس خو حکومت کې هم یوه ځانګړې کړۍ حاکمه ده، سیاسي ګوندونه او هغه کسان چې پخوا یې له طالبانو سره جګړې کړي، حکومت کې نشته، او په حکومت کې واک له هغوی سره دی چې کورنۍ یې په بهر کې دي.

همدارنګه د حکومت مشر اشرف غني راتلونکو ولسمشرۍ ټاکنو ته نوماند دی، که له دوی سره خبرې کیږي، بیا نو حنیف اتمر او ځیني نور هم ولسمشرۍ ټاکنو ته نوماندان دي، هغوی به هم له طالبانو سره جدا خبرې کول غواړي.

ښه داده چې په تیرو ۱۷ کلونو کې کوم په کور دننه سیاستوال، سیاسي ډلې د حکومت برخه وو، هغوی دي ټول سره یو ځای او د طالبانو لخوا دي ورسره خبرې وشي. او یا داچې د ماسکو غونډې په ډول دي خپلمنځي خبرو ته دوام ورکول شي."

د مارچ پر ۵مه ما (لیکوال) ضعیف صاحب ولیدی، هغه وویل:"په قطر کې مې له ملا برادر اخوند او خلیلزاد سره لیدنې وشوې، هر یوه جلا جلا ویل چې دا ځل خبره ختمه نه شي؛ تر هغو به مذاکراتو ته دوام ورکوو، تر څو یوې نتیجې ته سره ورسیږو.

ځینې مسایل وو چې د امریکا او طالبانو ترمنځ پرې توافق کول سخت وو، مثلاً امریکا غوښتل چې طالبان باید القاعده وغندي، او طالبانو دا کار نه کاوه، طالبانو غوښتل چې تر دې لومړی باید ترهګري تعریف شي[٦٦]، کوم چې وروسته له دې خبرې امریکا په شا شوه، همدارنګه د افغانستان د راتلونکي نظام او اوربند په اړه امریکایانو لیوالتیا درلودله چې خبرې وشي، خو طالبانو ورته وویل چې دا زموږ افغانانو خپلمنځي خبرې دي."

---

[٦٦] طالبان پوهېدل که په سم ډول د ترهګرۍ تعریف وشي، نو په نړۍ کې تر ټولو ستره ترهګره امریکا ده. له همدې امله وه چې د طالبانو او امریکا ترمنځ تړون کې تر پایه د ترهګرۍ تعریف ونه لیکل شو.

د پنځم پړاو خبرو په جریان کې طالبانو او خلیلزاد د بریښنايي رسنیو د لارې لاندې وضاحتونو او څرګندونې وکړې.

**د اسلامي امارت سیاسي مرستیال محترم ملا برادر اخوند په قطر کې د مذاکراتي بهیر په غونډو کې ګډون وکړ**

"نن دوشنبه د ۱۴۴۰ هجري قمري کال د جمادي الثاني میاشتې په ۲۰ چې د ۲۰۱۹ میلادي کال د فبروري میاشتې له ۲۵ مې نیټې سره سمون خوري د اسلامي امارت سیاسي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر د قطر هیواد په مرکز دوحه کې د مذاکراتي بهیر په غونډو کې ګډون وکړ او د اسلامي امارت د مذاکراتي ټیم غړي یې ګډونوالو ته معرفي کړل.

نن ورځ د مذاکراتي جریان د پنځمې ناستې په لومړۍ ورځ په قطر کې د مذاکراتو په سلسله کې د اسلامي امارت او امریکایي لوري ترمنځ غونډه پیل شوه.

په یاده غونډه کې محترم ملابرادر اخوند چې تیره ورځ د فبروري په ۲۴ مه نیټه د قطر هیواد د بهرنیو چارو وزیر په رسمي غوښتنه او د هغه هیواد په ځانګړې الوتکه کې دوحې ته ورسید، هلته یې د اسلامي امارت د دفترد غړو او د قطر هیواد د بهرنیو چارو وزرات لخوا تود هرکلی وشو.

نن ورځ محترم ملابرادر اخوند په مذاکراتي غونډه کې ګډون وکړ او د مذاکراتي ټیم تر معرفي کیدو وروسته یې د خپلو خبرو په ترڅ کې د مذاکراتو پر اهمیت، د مذاکراتي ټیم پر صلاحیت او د راتلونکې تګلارې په اړه رڼا واچوله.

د یادونې وړ ده چې د مذاکراتو جریان به د اسلامي امارت د مذاکراتي ټیم د مشر محترم الحاج شیرمحمد عباس ستانکزي په مشري پر مخ بیول کیږي او د اړتیا په وخت کې به له محترم ملا برادر اخوند څخه هدایت اخیستل کیږي." مجاهد

**په دوحه کې د روانو مذاکراتو په اړه داسلامي امارت د ویاند څرګندونې**

"د قطر هیواد مرکز دوحه کې د اسلامي امارت د مذاکراتي ټیم او امریکایانو تر منځ د خبرو په جریان کې ووړمه ورځ او پرون تر غرمې پورې د بهرنیو ځواکونو د وتلو په څرنګوالي ژور بحثونه وشول او پرون له غرمې ورسته په دې موضوع خبرې

وشوې چې د افغانستان خاوره به د چا پر ضد نه کارول کیږي، مجلس تیر ماښام پای ته ورسید، نن او سبا به دواړه مذاکراتي ټیمونه په خپل منځ کې مشورې او د دریمې ورځې بیا ناستې لپاره تیاری کوي، راتلونکي غونډه به دوه ورځې بعد د شنبې په ورځ دایریږي.

له بلې خوا د اسلامي امارت سیاسي مرستیال محترم ملا برادراخوند د قطر هیواد د صدراعظم له مرستیال اود بهرنیو چارو له وزیر محمد عبدالرحمن ال ثانی، د نوموړي هیواد د ملي امنیت مشاور محمد المسند، د امریکا د بهرنیو چارو د وزارت له ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد او په افغانستان کې د اشغالګرو ځواکونو له قومندان سکاټ میلر سره وکتل، په یاده کتنه کې د مذاکراتو په روان بهیر او له افغانستان څخه د ټولو بهرنیو ځواکونو په وتلو بحث وشو، محترم ملا برادر اخوند د بهرنیو ځواکونو د وتلو او په افغانستان کې د راتلونکو تحولاتو په اړه د اسلامي امارت موقف بیان کړ او زیاته یې کړه چې موږ د مذاکراتو روان بهیر او په افغانستان کې د امن او اسلامي نظام راتلو ته ژمن یو." مجاهد ، ۲۸ فبروري ۲۰۱۹

**د مذاکراتو د روان بهیر په اړه وضاحت**

"داچې افغانان سولې ته نیږدې کیږي په هم هغه اندازه د سولې د دښمنانو منفي تبلیغات هم زیاتیږي او د روانې پروسې په اړه له حقیقت څخه لیرې شایعات خپروي.

د مذاکراتو په روانو ناستوکې نه په مؤقت حکومت خبره شوې، نه په انتخاباتو او نه هم تر اوسه پورې امریکایي لوري داسې کوم وړاندیز کړی چې څلور یا پنځه کاله به نور هم په افغانستان کې پاته کیږي.

حقیقت دادی چې د مذاکراتو په اوسنۍ ناسته کې د بهرنیو ځواکونو په وتلو او د وتلو په څرنګوالي، همدارنګه په راتلونکي کې له افغانستان څخه د اطمنان په څرنګوالي خبرې شوې دي، نورې اوازې او شایعات هیڅ حقیقت نه لري."

ذبیح الله مجاهد، ۱ مارچ ۲۰۱۹

**د مذاکراتو د روان بهیر په اړه وضاحت**

"په دوحه کې د مذاکراتو روان بهیر په تدریج سره مخ پر وړاندې ځي، دا چې موضوع ډېره مهمه او حساسه ده، په هغه اندازه په محتاطانه ډول پر مخ ځي، د تیرې جنوري میاشتي په مذاکراتو کې د اشغالگرو ځواکونو په وتلو او د چا پر ضرر د افغان خاورې په نه کارولو هوکړه شوې وه؛ خو دا ځل په مذاکراتو کې د همدې دوو موضوعاتو په جزئیاتو او څرنگوالي خبرې جریان لري.

د یادونې وړ ده چې لا تر اوسه پورې په کومه مسوده او سند باندې توافق نه دی راغلی.

څه چې پورته ذکر شول همدا حقیقت او جریان دی، نور اضافه شایعات او اټکلونه حقیقت نه لري." مجاهد، ۳ مارچ ۲۰۱۹

**د اسلامي امارت مرستیال محترم ملا برادر اخوند د ازبکستان د بهرنیو چارو له وزیر سره وکتل**

"تیر ماښام د قطر هیواد مرکز دوحې ته د ازبکستان هیواد د بهرنیو چارو وزیر ښاغلی عبدالعزیز کاملوف او د افغانستان لپاره د ازبکستان ځانگړی استازي عصمت الله د محترم ملا برادر اخوند لیدو ته ورغلي وو او هلته یې د اسلامي امارت له مرستیال او ملگري هیئت سره ولیدل.

په یاده غونډه کې د ازبکستان د بهرنیو چارو وزیر، د محترم ملا برادر اخوند په لیدو خوښي وښوده او د خپل هیواد د جمهور رئیس احترامات یې ورته وړاندې کړل.

د ازبکستان هیواد هیئت زیاته کړه چې موږ په افغانستان کې د سولې لپاره هر راز همکارۍ ته تیار یو، همدا ډول کوښښ کوو چې د افغانستان د خلکو د ښیرازۍ لپاره، هلته په اقتصادي برخه کې کار وکړو او د افغانستان په چارو کې د هیڅ راز مداخلې اراده نه لرو.

ورپسې محترم ملا برادر اخوند د ازبکستان هیواد د بهرنیو چارو له وزیر او ملگري هیئت څخه مننه وکړه چې د ده لیدوته راغلي وو.

محترم ملا برادر اخوند زیاته کړه چې اسلامي امارت د ازبکستان هیواد له ټولو هغو اقداماتو هرکلی او مننه کوي چې د افغانستان د سولې او اقتصادي پرمختګ په برخه کې یې کوي.

یاده غونډه تر اوږدې ناستې وروسته د دواړو هیوادونو د ښیرازۍ او کامیابۍ په دعا سره پای ته ورسیده." مجاهد، ۴ مارچ ۲۰۱۹

**د مذاکراتو د روان بهیر په اړه د اسلامي امارت د ویاند څرګندونې**

"ټولو ته واضح ده چې د قطر هیواد مرکز دوحه کې د اسلامي امارت د مذاکراتي ټیم او امریکایې لوري ترمنځ د ګران هیواد افغانستان د بشپړې خپلواکۍ په منظور ژور بحثونه جریان لري، داچې د افغانستان موضوع دوه اړخه لري، چې یو یې خارجي اوبل یې داخلي بعد دی او اوس مهال یې په خارجي بعد چې په امریکا پورې مربوط دی مذاکرات دوام لري، په دې پړاو کې د هغو دوو موضوعاتو په تفصیل او جزئیاتو خبرې کیږي، کومې چې د تیرې جنوري میاشتې په مذاکراتي غونډو کې توافق پرې شوی وو، چې هغه له افغانستان څخه د ټولو اشغالګرو ځواکونو وتل او د افغانستان خاوره د چا په ضرر نه کارول و.

په همدې دوو موضوعاتو تاوده بحثونه جریان لري، له دې ور هاخوا نور موضوعات چې داخلي بعد لري او په امریکا یانو پورې اړه نه لري، بحث ته ندې لویدلي، داچې ځینې اشخاص او کړۍ نور موضوعات ور پورې تړي یاخو ناخبره دي او یاهم کوم غرض تعقیبوي، د دغو مغرضو کړیو په افواهاتو دې څوک تشویش نه کوي." مجاهد، ۷ مارچ ۲۰۱۹

**د مذاکراتو د ورستي پړاو پای ته رسیدو په اړه داسلامي امارت د ویاند څرګندونې**

"د تیرې فبروري میاشتې په ۲۵ مه نیټه له امریکایي لوري سره پیل شوي مذاکرات نن ۱٦ مه ورځ د مارچ په ۱۲مه نیټه پای ته ورسیدل.

د مذاکراتو په دې بهیر کې په هغو دوو موضوعاتو چې د جنوري په میاشت کې توافق ور باندې شوی و تفصیلي او هر اړ خیز بحثونه وشول، هغه دوه موضوعات

له افغانستان څخه د ټولو بهرنیو ځواکونو وتل او د نورو په ضرر د افغان خاورې نه کارول و، داچې ټول بهرني ځواکونه به له افغانستان څخه څنګه او په څومره وخت کې وځي او د وتلو ترتیب به یې څنګه وي؟

همدارنګه له اینده افغانستان څخه به امریکا یان او ملګري یې څه ډول مطمئن کیږي؟ په دې دواړو برخو کې کافي پرمختګ وشو، د اوس لپاره به دواړه لوري په شویو پرمختګونو لا زیات غورکوي، له خپلو مشرانو سره به یې شریکوي او په راتلونکي غونډه کې به چې وخت به یې وروسته د دواړو مذاکراتي ټیمونو په موافقه تعینیږي امادګي نیسي.

د یادونې وړ ده چې په دې غونډه کې په اوربند او د کابل ادارې سره په مذاکراتو هیڅ کومه فیصله نه ده شوې او نه هم نور موضوعات په اجنډا کې داخل شوي دي، په دې اړه د ځینو رسنیو راپورونه حقیقت نه لري." مجاهد

د مارچ پر ۱۲مه ماخوستن مهال **د خلیلزاد** لخوا ټویټ کې لیکل شوې و:

"د بهرنیو ځواکونو وتل او افغانستان څخه نورو هیوادو ته نه ګواښ؛ دوه مسایلو مسودې (ډرافټ) باندي د دواړو لورو توافق وشو. دا به زه په واشنګټن کې له اړوند چارواکو سره شریک کړم.

د افغانانو خپلمنځي خبرو او اوربند باندي کوم توافق نه دی شوی، په دي اړه به طالبان له افغانانو سره خپلمنځي خبرې کوي، او دا به د سولې د تړون پای او تکمیل وي".[67]

[67] د مذاکراتو په ۱۶ ورځو کې طالبانو یې په اړه اړینې څرګندونې، د کورنیو او بهرنیو رسنیو په غبرګون کې کولي، خو د امریکایې پلاوي لخوا په دي اړه څه نه ویل کېدل. او مذاکراتو پای ته رسیدو په اړه یوازي یو ټویټ خلیلزاد وکړ.

## د ملا برادر اخوند مرکه

له امریکا سره له پنځم پړاو"۱٦ ورځنیو" مذاکراتو پای ته رسیدو، یوه ورځ وروسته، د مارچ پر ۱۳مه، د طالبانو ډلې مرستیال مشر او د قطر سیاسي دفتر رئیس ملا برادر اخوند د الامارة ستوډیو سره ځانګړې مرکه وکړه، چې موږ یې مرکه په لیکلي بڼه دلته را اخلو.

ملا برادر اخوند وویل:"مذاکرات ښه و، تر ډیره پکې پرمختګ وشو، په راتلونکې کې د لا ښه پرمختګ تمه ده، چې الله ج په افغانستان کې امن او اسلامي نظام راولي.

زموږ ملګري تر هغه موقف نه دي تیر شوې، کوم چې زموږ په زړونو او فکر کې و، خدای ج دي په راتلونکي کې هم موږ ته وس او توان راکړي چې له هر دښمن سره په داسي ډول خبرې وکړو چې خپل موقف، اصول او خپل قانون مو په خپل لاس کې نیولی وي او د اسلامي شرعي نظام هدف ته رسیدو ته هر وخت کې ژمن یو.

تمې ډیرې دي، دا ځل داسي بحثونه وشول چې راتلونکو مسایلو ته یې زمینه او د حل لاره برابره کړي. تمه لرو چې اسلامي نظام حاکم، خپلواکې تر لاسه، بهرني ځواکونه له هیواده ووځي، او هیوادوال له یو بل سره د ورونو په ډول ژوند ولري.

که څوک ښه تفاهم را سره وکړي، وروسته غدر او دښمني را سره ونه کړي، موږ به د ورونو په سترګو ورته ګورو، که دوی هم د ورونو په سترګه راته وګوري، الله ج ته امید لرم چې ټول مشکلات به حل شي.

ټولو هیوادوالو ته ډاډ ورکوم چې مطمئن اوسي او اندیښني ونه کړي، د اسلامي امارت مشران به پر ټولو رحم او حوصله کوي، تبعیض او نور ناوړه فکرونه له چا سره نشته، هیواد د ټولو ګډ دی، ټول افغانان، هر ځای چې دي؛ په هیواد کې دننه به یو ځای سره کینو، یو بل ته به احترام ولرو او پر یو بل رحم وکړو.

زه له شیخ هبة الله څخه ډیر خوشاله یم، چې د مذاکراتي ډلې په ټاکلو کې یې ما او د رهبري شورا غړو ته ښه لارښونه کړې، الحمد لله، مذاکراتي ډله ټول علماء دي، او تجربه هم لري، ډیر ښه استعدادونه لري، ښه ازمایښتونه یې ورکړي، مشرتابه، ولس او

موږ پر خپل ټیم باور لرو، کیدای شي الله ج د دوی په واسطه داسي د حل لاره را پیدا، چې د مسلمانانو او اسلام په خیر وي.

موږ د ولسي مشرانو، علمي او جهادي مشرانو په قدر ښه پوهیږو، داسي احترام به ورته لرو، لکه چې د اسلامي امارت مشران یې په خپلو منځو کې یو بل ته لري، دوی دي په خپل هیواد کې و اوسیږي، زموږ لخوا به احترام ورته کیږي، دا به یوازي تر امارت پورې حصر نه وي، ټولو افغانانو ته، که په کور دننه یا بهر دي، موږ هغوی ته یو ډول احترام لرو، او همداسي احترامانه فکر ورته لرو.

گاونډیو، د سیمې او نړۍ هیوادونو ته اطمنان ورکوو چې راتلونکی نظام به د هیچا په ضرر نه وي، موږ د چا تر اثر لاندي نه یو، چې نور را څخه تشویش وکړي، او نه هم چاته د ضرر رسولو اراده لرو، بلکې د ښو اړیکو غوښتونکي یو.

که چا له موږ سره ښې اړیکې لرل وغوښتل، موږ دوه برابره همدا غواړو، ور نږدې کیږو، له گاونډیو هیوادو غواړو چې له موږ سره ښې اړیکې ولري، هغه ډول اړیکې چې په اصولي او قانوني ډول د دوو هیوادو ترمنځ شتون لري.

تر لمر سپینه ده چې تر اوسه زموږ لخوا هیڅ گاونډي هیواد ته تاوان او تکلیف نه دی رسیدلی، په راتلونکي کې دي هم هیڅ هیواد له موږ څخه په دي برخه کې اندیښنه نه کوي.

ځومره مجلسونه او ناستې چې له امریکایانو سره شوې، داسي ټکي موږ نه دي کارولي چې هغه دي زموږ د قانون او اصولو خلاف وي.

موږ ویلي چې خپله خاوره د بل چا پر ضد نه کاروو، او نه بل چاته اجاره ورکوو چې زموږ خاوره د نورو په خلاف وکاروي، پخوا، اوس او په راتلونکې کې به مو هم همدا دریځ وي.

مجاهدینو ته مو پیغام دی چې الله ج په سیاسي او نظامي ډگر کې کامیابي ور په برخه کړه، غرور او تکبر ونه کړي، عاجزي وکړي او د الله ج شکر اداء کړي، د قدرت د شوق پر ځای د خپل ولس او د اسلام د خدمت کولو فکر خپل کړي. ولسي مشرانو ته د پلرونو، همزولو ته د ورونو او کشرانو ته د اولادونو په نظر وگوري."

## واشنګټن او کابل ته د خليلزاد تګ

له ۱۶ ورځنيو بحثونو وروسته، دا ځل زلمی خليلزاد د کابل پر ځای مخامخ واشنګټن ته ولاړی، له دي مخکې ۴ پړاوه خبرو، وروسته به هر ځل خليلزاد کابل ته راتلی، او دلته به يې د ګډ حکومت مشر ډاکټر غني او اجرائيه مشر ډاکټر عبدالله عبدالله لېدل او د مذاکراتو جريان به يې ورسره شريک کاوو.

جنرال ميلر چې تازه له قطر څخه را ستون شوی و، او د مارچ پر ۱۱مه يې له ډاکټر عبدالله سره ولېدل، ممکن له هغه سره به يې د قطر د ناستې اړوند ځينې جزيات شريک کړي وي.

د خليلزاد کابل ته نه راتګ، پر ډاکټر غني دروند تمام شو، بل داچې اوازي شوې چې د طالبانو او امريکا تر منځ پر لنډ مهاله حکومت هم خبرې شوې، له همدې امله کابل کې چارواکې ډېر په اندېښنه کې وو.

د مارچ پر ۲۱مه او ۲۲مه، واشنګټن کې، د افغانستان سولې او بيا پخلاينې لپاره د امريکا د بهرنيو چارو استازي زلمي خليلزاد Zalmay Khalilzad، د افغانستان لپاره د روسيې د ولسمشر پوتين استازي ضمير کابلوفZamir Kabulov او د چين هيواد استازي ډينګ جون Deng Xijun ترمنځ د افغانستان کشالې اړوند ناسته وشوه، چې د ناستي جزيات پټ وساتل شول.

داسي ښکاري چې امريکا به روسانو او چين ته د داعش او يغور جنګياليو او همدارنګه افغانستان څخه منځنۍ اسيا ته د نشيې توکو د قاچاق اړوند اطمنان ورکړی وي او يو پټ تفاهم ته به درې واړه لوی قدرتونه رسيدلي[٦٨].

د مارچ پر ۱۱مه، د امنيت شورا مشر ډاکتر حمد الله محب په واشنګټن کې د آسيا ټولنې له لوري چمتو شوې ناسته کې د خليلزاد د کړنو او هڅو خلاف خبرې وکړي، خليلزاد يې ځان غوښتونکی، راتلونکي افغان حکومت کې واک تر لاسه کولو

[٦٨] کيدای شي چې د يادو دريو مسايلو اړوند طالبانو هم د ۱٦ ورځو مذاکراتو په جريان کې امريکا ته اطمنان ورکړي وي.

باندی تورن کړ، ډاکټر محب وویل چې خلیلزاد فکر کوي چې د افغانستان لپاره بل وایسرای [۶۹] دی.

د ډاکټر محب دا ډول څرګندوني د واشنګټن د چارواکو د ناخوشي لامل شوې، د بهرنیو چارو وزرات لخوا خبرپاڼه خپره شوه، چې پر خلیلزاد نیوکې د امریکا پر بهرنیو چارو او امریکا پر حکومت نیوکه ده، موږ د ډاکټر حمد الله محب څرګندونې په کلکه غندو، او خلیلزاد افغان سولې ته د رسېدو لپاره د امریکا د بهرنیو چارو او امریکا حکومت استازی دی.

ډیر ژر د امنیت شورا مشر ډاکټر محب د امریکا د بهرنیو چارو مرستیال وزیر لخوا احضار او له امریکا څخه د وتلو امر ورته وشو [۷۰].

---

[۶۹] د بریتانوي امپراتورۍ پر مهال بریتانوي هند کې د انګریز لخوا ټاکل شوې وایسرای ټولې سیاسي چارې مخکې وړلې، له انګریزانو سره افغانانو درې لویې جګړې کړې، او بریتانوي امپراتورۍ ته یې ماتې ورکړې، پر افغانستان د انګریزانو د برید پر مهال؛ د افغانستان د چارو کنټرول په هند کې د انګریز لخوا ټاکل شوې وایسرای لخوا مخکې وړل کېدي.  په عملي ډول د هند او افغانستان د چارو ټول واک له وایسرای سره و. په ۱۹۱۹ کې امیر حبیب الله خان د هند وایسرای ته لیک واستاوه چې د افغانستان د خپلواکۍ سند ورته ورکړي، درې اونۍ وروسته امیر حبیب الله خان مړ، پر ځای یې زوی امیر امان الله خان پاچا او هغه د انګریز له موافقې پرته د افغانستان بشپړه خپلواکۍ اعلان کړه.

[۷۰] د ډاکټر محب د احضار په اړه د امریکا بهرنیو چارو وزارت لاندي اعلامیه خپره کړه:

**د متحد ایالاتو د بهرینو چارو وزارت د ویاند څرګندونې**

لاندې څرګندونې د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت د ویاند مرستیال رابرټ پالادینو ته منسوبې دي:

د سیاسي چارو مرستیال ډیویډ هیل د مارچ په ۱۴مه نېټه، د افغانستان د ملي امنیت سلاکار حمد الله محب احضار کړ ترڅو د متحده ایالاتو د سولې او پخلاینې د تګلارې په تړاو رسنیو سره د ملي امنیت سلاکار، محب ته منسوب شوې نیوکې رد کړي. د سیاسي چارو مرستیال، هیل افغانستان سره د متحده ایالاتو پر اوږد مهاله ملاتړ او مرستو ټینګار وکړ او د افغان حکومت د ټیکاو او د سولې په بهیر کې د بشپړ ګډون په برخه کې زمونږ د  ژمنتیا

له دي وروسته د امریکا لخوا وویل شول چې په افغانستان کې به د امریکا تر ټولو لوړ پوړي چارواکي، د امریکا سفیر او د امریکا/ناټو قواوو عمومي قوماندان خپلې ټولې اړیکې د امنیت شورا سره پرې کړي، او په هیڅ هغه غونډه کې به برخه وانه خلي چې د امنیت شورا مشر ډاکټر محب پکې شتون ولري[۷۱].

د مارچ پر ۲۶مه، راپور ورکول شو چې په ارګ کې د مارچ پر ۲۵مه، د ولسمشر غني سره د ناټو سفیرانو / استازو ناسته هغه وخت امریکایانو ترک او کاغذونه یې پر میزو پرېښودل چې کله د ناستي پر مهال ډاکټر محب هم سالون ته ور دننه شو.

همدارنګه د مارچ پر ۳۱مه راپور ورکول شو چې په افغانستان کې د ناټو د نظامي قومندانانو امنیتي غونډې ته ډاکټر محب د ارګ له ټینګار سره سره ور پرې نه ښودل شو.

د مارچ پر ۳۱مه خلیلزاد کابل ته را ورسېد، راپور ورکول شو چې خلیلزاد به د ډاکټر محب په شتون کې له ډاکټر غني سره ونه ګوري، او غواړي له ډاکټر محب پرته د ګډ حکومت له مشر سره خبرې وکړي.

د اپریل میاشتي پر لومړۍ نېټه خلیلزاد سهار مهال د سولې شورا د دارلانشاء د رئیس محمد عمر داودزي او د سولې مشورتي بورډ له مشر، د ګډ حکومت د دفتر رئیس

---

څخه ډاډ ورکړ. نوموړي د افغانستان د ملي امنیت سلاکار، محب ته یادونه وکړه چې ځانګړی استازی خلیلزاد د بهرنیو چارو وزیر استازی دی، او په زلمي خلیلزاد بریدونه په بهرنیو چارو وزارت بریدونه ګڼل کېږي او یوازې د دوو اړخیزو اړیکو او سولې بهیر پر وړاندې خنډ جوړوي.

[۷۱] پوره یو کال امریکایي لوړ پوړو چارواکو له ډاکټر محب سره نه لېدل، او د افغان حکومت په هغو غونډو کې یې برخه نه اخیستله چې ډاکټر محب به پکې ګډون درلود.
یو کال وروسته، مارچ ۲۰۲۰ کې چې کله ډاکټر خلیلزاد له ډاکټر غني سره په ارګ کې لیدل، تر څو د ډاکټر غني او ډاکټر عبدالله تر منځ د ولسمشرۍ ټاکنو د پایلو د اعلان په سبب را ولاړ شوې اختلاف کې منځګړیتوب وکړي، په غونډه کې امرالله صالح او ډاکټر محب هم ګډون درلود، چې له دې وروسته بیا ډاکټر محب له لوړ پوړو امریکایانو سره د ډاکټر غني په غونډو کې ګډون کاوه.

سلام رحیمي سره وکتل، همدارنګه یې له استاد سیاف، وروسته ډاکټر عبدالله عبدالله او ماښام مهال له ډاکټر غني سره لیدني وکړي.

خلیلزاد په لیدنو کې له چارواکو او افغان سیاستوالو سره پر افغان سوله خبرې وکړې، او له طالبانو سره د خبرو د پرمختګ په اړه یې ځینې معلومات ور سره شریک کړل.

د اپریل پر ۲مه خلیلزاد د کندهار په هوايي ډګر کې د کندهار والي، ولایتي شورا له رئیس او غړو او د خرقې شریفې له متولي سید مسعود اخوندزاده، د زابل ولایتي شورا رئیس او نورو قومي مشرانو سره وکتل.

خلیلزاد د لوی کندهار له خلکو وغوښتل چې د افغان سولې په برخه کې د ده د هڅو ملاتړ وکړي.

د اپریل پر ۳مه، خلیلزاد د ډاکټر غني په مشري هغه ناسته کې ګډون وکړ چې مخکیني ولسمشر حامد کرزي، اجرائیه رئیس ډاکټر عبدالله عبدالله، د دعوت ګوند مشر استاد سیاف، د حزب اسلامي ګوند مشر انجنیر حکمتیار، د حزب وحدت ګوند مشر او د سولې شورا رئیس استاد خلیلي، د حزب وحدت مردم ګوند مشر او د اجرائیه رئیس دوهم مرستیال استاد محمد محقق، د جمعیت اسلامي ګوند مشر او سرپرست بهرنیو چارو وزیر صلاح الدین رباني، عبدالسلام رحیمي او عمر دوادزي ګډون درلود، په یادو ټولو ناستو کې له خلیلزاد سره په کابل کې د امریکا سفیر جان باس او د امریکا/ناټو قواوو مشر سکاټ میلر هم ګډون درلود.

د اپریل پر ۳مه چې کله خلیلزاد، جنرال میلر او جان باس د ډاکټر غني، حامد کرزي، ډاکټر عبدالله، استاد سیاف، انجنیر حکمتیار، استاد خلیلي، استاد محقق او صلاح الدین رباني سره ناسته درلودله، د غونډې پرمهال خلیلزاد ورته ویلي وو:"دا خبره چې اوس یې زه کوم، جنرال سکاټ میلر به کوله، خو هغه بلې غونډې ته ولاړ [۷۲]، زه د حکومت مشرانو (ډاکټر غني) ته وایم! دلته (ارګ) کې چې تاسي یاست، په

[۷۲] د امریکا/ناټو قواوو عمومي قومندان جنرال سکاټ میلر هم په ناسته کې ګډون درلود، خو په همدې ورځ د ناټو اویایمې کلیزې د پوره کېدو اړوند د ناټو جنرالانو کابل کې غونډه درلوده، او جنرال میلر په هغې غونډه کې د ګډون لپاره له یاد مجلس څخه لږ مخکې وتلي و.

جګړه کې د وژل شوو ځوانانو استازولي نه کوئ، په جګړه کې نور خلک وژل کيږي، او تاسي ارګ کې ناست ياست، موږ (امريکا) غواړو چې جګړه ختمه او سوله وشي، قطر کې د افغانانو ناسته حتمې ده او هغه به کيږي.[۷۳] "

## شمشاد ټلويزون سره د خليلزاد مرکه

د اپريل پر ۴مه ۲۰۱۹، خليلزاد له شمشاد ټلويزون سره ځانګړې مرکه درلودله او د مرکې لنډيز په لاندي ډول و.

"له ډاکټر غني او نورو مشرـانو سره چې مو ناسـته درلودله، مهمه مسـئله پکې دا وه چې د سولې مذاکراتو لپاره يو ټول شموله د افغانانو هيئت انتخاب شي.

شپږ مياشتې مخکې چې ما دنده واخيستله، دوه غوښتنې مې درلودلې، يوه غوښتنه له طالبانو څخه چې واک لرونکی هيئت وټاکي، د هغوی لخوا وټاکل شــو، مګر بدبختانه چې حکومت او نور مشرـان تر دې مهاله پر ټول شـموله هيئت موافقې ته نه دي رسيدلي، موږ بيا هم په نا سته کې غو ښتنه وکړه چې ٦ ميا شتې تيري شوې، طالبان، حکومت او امريکا ټول وايې چې سوله غواړو، هره ورځ نږدې سل کسان وژل کيږي.

د افغانانو خپلمنځي خبرو کې په کار ده چې طالبان، حکومت او نور د ســياسي ګوندونو استازي او افغان مشران هم ګډون ولري.

هره ورځ څومره افغانان وژل کيږي، د دې مســؤل څوک دي، او ځينې مشرــان په کورونو کې ارام ناست دي، دوی دا هم نه شي درک کولای چې جګړه کې د وژل شــوې کورنۍ غړي څه احســاس لري، ٦ مياشــتې کيږي، د مذاکراتو لپاره هيئت

---

[۷۳] د اپريل پر ۵مه ما (ليکوال) او وحيد مژده د کرزي د دفتر له مشر محمد کريم خرم سره ناسته درلودله، هغه پورته خبرې د حامد کرزي له قوله وکړي.

باندي موافقې ته ونه رسېدل، د يادې پروسې مسؤل مشران او لومړی حکومت دی.

دا نو د امریکا دنده نه ده چې د سولې هيئت اړوند هم په حکومت او مشرانو فشار راوړي، دوی دي خپله موافقې ته ورسيږي[٧٤].

امریکا دلته مصارف کړي، او امریکا په افغانستان کې له ۱۸ کلنې جګړې خسته ده.

په کار ده چې د افغانانو خپلمنځي ناسته کې د هر لوري او هر چا، د حکومت په ګډون استازي شتون ولري. او بیا وروسته کوچني ګروپونه د سولې اړوند مذاکرات مخکې یوسي، موږ هر ډول مرستې ته چمتو یو، همدوی کولای شي له ملګرو ملتونو، د اسلامي هيوادونو د همکارۍ سازمان څخه مرسته وغواړي، خو دا عجیبه ده چې د سولې مذاکراتو لپاره د هيئت ټاکلو فیصله نه کيږي.

موږ قطر کې له طالبانو سره، نه له ترهګرو سره[٧٥]، ناست وو. زموږ سیاست د سولې دی نه د جګړې د زیاتوالي، موږ له جګړې خسته شوې یو، افغانان هم باید د یو بل له وژلو نور خسته شوې وي.

خو که له افغانستان څخه د امریکا منافعو ته خطر وي، د خپلو منافعو دفاع ته چمتو او مجبوره یو چې جګړه وکړو، مګر جګړه د حل لاره نه ده، د دې وخت دی چې حل لاره پیدا او بیړه په کار ده.

په ۱٦ورځو مذاکراتو کې مو له طالبانو سره پر ۴ مسئلو باندي بحث درلود:

۱- د افغانستان له خاوري امریکا ته نه ګواښ.

---

[٧٤] افغان حکومت د مارچ پر ۲٦مه ۲۰۲۰ کې د بين الافغاني خبرو لپاره د معصوم ستانکزي په مشرۍ ۲۱ کسيز پلاوی له طالبانو سره د خبرو لپاره اعلان کړ، چې د طالبانو او ځينو افغان سیاستوالو لخوا له دې امله رد شو چې یاد پلاوی یې ټولشموله نه باله.

[٧٥] ځينو افغان چارواکو څرګندونې وکړي چې امریکایان "خلیلزاد" په قطر کې له ترهګرو "طالبانو" سره ناستې کوي.

۲- افغانستان کې د امریکایي پوځیانو شتون.

۳- د افغانانو ترمنځ خبرې چې ستونزه حل شي

۴- د اوربند اړوند.

موږ له طالبانو سره یوازي پر لومړیو دوو مسئلو بحثونه درلودل، او لاره مو پرانیستې پرې ایښې چې د افغانانو ترمنځ په پاتې دوو مسئلو هم بحثونه وشي، د افغانانو ناستې خو پیل شوې، یوازي حکومت پاتې دي، ځکه خو موږ وایو چې په هیڅ شي موافقه نه ده، تر څو په ټولو موافقه وشي، چې افغانان تفاهم ته ورسیږي او اوربند وشي.

د امریکا ګټې راته اولویت لري، خو افغانان باید خپلمنځې خبرې وکړي، مګر په ۶ میاشتو کې هیئت ونه ټاکل شو، دا پوښتنه تاسي ولې له حکومت څخه نه کوئ؟

موږ د خپلو منافعو دفاع کوو، هدف دا نه چې همیشه په افغانستان کې زموږ پوځیان شتون ولري، او دلته اډې ولرو، که له افغانستان څخه موږ ته خطر نه وي، او ډاډه شو، او افغانان زموږ د پوځیانو شتون نه غواړي، موږ حاضر یو چې خپل پوځیان په بشپړ ډول سره وباسو.

له افغان حکومت سره د امریکا امنیتي تړون مسئله هم له طالبانو سره توافق کې وربانديي خبرې شوې، او راتلونکی حکومت به دا پریکړه کوي، چې د الغاء کېدو چانس هم لري[۷۶].

[۷۶] ولسمشر اشرف غني ارګ ته تر ننوتلو وروسته په دوېمه ورځ د سپټمبر ۳۰مه ۲۰۱۴ز. کال د ماسپښین درې بجې له امریکا او ناټو سره ستراتیژیک امنیتي تړون لاسلیک کړ. د امریکا او افغانستان ترمنځ دغه امنیتي تړون د افغان ولسمشر د ملي امنیت سلاکار محمد حنیف اتمر او کابل کې د امریکا د سفیر جیمز کننګهم ترمنځ په ارګ کې لاسلیک شو. د تړون د لاسلیک پر وخت ولسمشر غني، اجرایه رئیس عبدالله، د ولسمشر لومړی مرستیال عبدالرشید دوستم، د ولسمشر دوېم مرستیال سرور دانش، د اجرایه رئیس لومړی مرستیال انجنیر محمد خان، د اجرایه رئیس دوېم مرستیال استاد محمد محقق، د محاذ ملي اسلامي

موږ د افغانســـتان راتلونکي نظام، د حکومت ډول او مشرـــ په اړه د نظر ورکولو او مداخلې هیڅ حق ځان ته نه ورکوو، لنډمهاله، انتخابي یا هر ډول چې وي، دا د افغانانو اړوند مسئله ده[۷۷].

موږ د وتلو په لټه کې نه، بلکې سـولې ته رسـېدو، او په راتلونکې کې له افغانسـتان سره د ښو اړیکو په لټه کې یو.

ښه ده چې د ولسمشرۍ ټاکنو څخه مخکې سوله وشي، د ولسې جرگې ټاکنو ډېر مشکلات درلودل. ښه ده چې د دواړو؛ د ټاکنو لپاره هم تیاري او د سولې لپاره هم تیاري نیول په کار ده.

د ډاکټر غني او ډلې له خوا یې د سولې لپاره هوډ ته خوشبین یم، ډاډه نه یم.

ښه ده چې دوحه کې د افغانانو خپلمنځي نا سته وشي، او په خپل وخت وشي، که ونه شي زیان یې زیات دی، ټوله دنیا همدې ته معطله ده، موږ هم له طالبانو سره خپله ناســـته وځنډوله[۷۸]، تر څو لومړی د افغانان خپلمنځي ناســـته وشي[۷۹]، بیا به وروسته زموږ او طالبانو ناسته کیږي.

گوند مشر پیر سید احمد گیلاني، د نجات ملي اسلامي گوند مشر حضرت صبغت الله مجددي او د ولسمشر ارشد سلاکار د احمدشاه مسعود ورور احمدضیاء مسعود شتون درلود.

له دي مخکې د امریکا د ولسمشر اوباما او افغان ولسمشر حامد کرزي لخوا د مئ میاشتي ۲مه ۲۰۱۲ کې د تلپاتې ستراتیژیکې ملگرتیا تړون لاسلیک شوی و.

[۷۷] د پنځم پړاو مذاکراتو پر مهال ځینو کورنیو رسنیو راپور ورکاوه چې طالبانو او امریکا د افغانستان لپاره پر لنډ مهاله حکومت توافق کړی.

[۷۸] په پام کې وه چې د اپریل پر ۵مه، دوحه کې د طالبانو او امریکایانو ترمنځ ٦مه ناسته وشي.

[۷۹] د ماسکو دوه ورځنۍ ناسته د افغانانو لومړۍ خپلمنځي ناسته وه، د ناستې په وروستي ورځ (٦ فبروري ۲۰۱۹) پریکړه لیک کې لیکل شوي و چې د افغانانو راتلونکې خپلمنځي

خپله افغانان د راتلونکي ثبات او امن افغانســتان تضــمین کولای شي، دا په امریکا پوري اړه نه لري، ولي مرســته ورسره کولای شي، د امریکا مســؤلیت کمیږي او د افغانانو او سیمې مسؤلیت په دي برخه کې زیاتیږي.

د سولې اړوند نه ډیر ناهیلی او نه هم ۱۰۰ سلنه ډاډه یم چې هرڅه سم روان دي، مگر خوشبین یم او له افغانانو سره نږدې ملگري وو او یو به."

خلیلزاد دا ځل قطر ته نه ولاړی، مخامخ بیرته له کابل څخه واشــنگټن ته ولاړ، که څه هم ځینو رســنیو د اپریل پر ۱۴مه راپور ورکړ چې خلیلزاد قطر ته تللی، خو د اپریل پر ۱۵مه خلیلزاد ولیکل چې په واشــنگټن کي دی، او د رسـنیو پر راپور باور مه کوئ چې زه قطر کې یم.

---

ناسته به په قطر کې کیږي، او هڅه به کیږي چې تر یوې میاشتي دننه کې به دوېمه د افغانانو خپلمنځي ناسته وشي.

تمه کېده چې د مارچ تر ۱۵مې په قطر کې بین الافغاني ناسته وشي، داچې د امریکا او طالبانو دوه ورځنۍ خبرې ۱٦ ورځو (۲۵ فبروري تر ۱۲ مارچ ۲۰۱۹) ته ورسیدي، د خپلمنځي ناستي لومړی د تاخیر لامل شو، وروسته تمه کېده چې غونډه به د اپریل په لومړیو لسو ورځو کې وشي، د اپریل نیمايي ته وخت وغځید، او باالاخره د ښکېلو اړخونو او تنظیم کونکي اداري لخوا توافق وشو چې د اپریل پر ۲۱مه او ۲۲مه به دوحه کې د افغانانو ناسته کیږي، مگر بیا هم د افغان حکومت د مخالفت له امله یاده ناسته په ټاکلې نیټه ونه شوه.

بیاځل د خلیلزاد لخوا ډیرې هڅې وشوې تر څو د قطر بین الافغاني غونډه وشي، همهغه و چې بالاخره په قطر کې د طالبانو ناسته د افغان حکومت، میرمنو او مدني ټولنو او سیاسي گوندونو له استازو سره د جولای پر ۷مه او ۸مه ۲۰۱۹ کې وشوه.

## بهر میشتو افغانانو ته د متقي صاحب وینا

د اپریل پر ۲۰مه ۲۰۱۹، قطر کې مولوي امیرخان متقي، بهر میشتو افغانانو ته وویل:

په وروسته وختونو کې راپورونه ورکول شول چې امریکا ۷۰۰۰ بمونه په څو وروستیو میاشتو کې په افغانانو غورځولي[۸۰]، موږ همدا خبره له خلیلزاد، د امریکا له مذاکراتي ډلې، په افغانستان کې د امریکا او ناټو ټولو قواوو قومندان سکاټ میلر سره وکړه چې موږ تاسي ته خواست نه کوو چې تاسي پر طالبانو بمبارد مه کوئ، په مجاهدینو چاپې مه وهئ، مگر دا نو اخلاقي جرم او لویه بې انصافي ده چې تاسي پر ملکي افغانانو بمبارد کوئ، پر هغوی چاپې وهئ، او په یو کلي کې تر لس زیات بې گناه افغانان وژنئ. ستاسي (امریکا) لخوا د ملکي وگړو وژنه څه معنی لري؟

موږ (طالبانو) خپل مجاهدین متوجه کړي چې د ملکی تلفاتو اړوند پوره احتیاط وکړي، مگر امریکا دا کار نه کوي.

په کار ده چې د ملکي افغانانو د وژنې اړوند زموږ هیوادوال هر ځای ږغ پورته کړي.

د هلمند ولایت په گرمسیر ولسوالي کې په یوه کور کې لاندی (پسه حلال) شوی و، هغه سړي خپلې لوښې، او د کورنۍ غړي را ټول کړي، هلته ما شومان، میرمنې او ځوانان را بلل شوې، د شپې ۲۴ کسان په شهادت رسول شوې[۸۱]، څوک یې پوښتنه

---

[۸۰] د فبروري ۸مه ۲۰۱۹، نیویارک ټایمز راپور ورکړ چې د امریکا لخوا تیر کال ۲۰۱۸ کې پر افغانانو ۷۰۰۰ بمونه غورځول شوې.

د اکتوبر ۲۹مه ۲۰۱۹، بهرنیو رسنیو راپور ورکړ چې په تیره سپتمبر میاشت کې په افغانستان کې د امریکا/ناټو لخوا هره ورځ په اوسط ډول ۴۰ بمونه غورځول شوې.

[۸۱] د نومبر پر ۲۷مه ۲۰۱۸، د هلمند ولایت په گرمسیر ولسوالي کې د بهرنیو ځواکونو بمبار کې د یوې کورنۍ ۲۶ کسان ته مرگ ژوبله واوښتله.

د نومبر پر ۲۹مه، په افغانستان کې د ملگرو ملتونو د استازولي دفتر (یوناما) تاید کړه چې د بهرنیو ځواکونو په بمبارد کې په گرمسیر کې ۲۳ ملکي وگړي وژل شوي، او ۳ نور ژوبل شوې.

هم نه کوي، خو که دوه کسه امریکایان باګرام یا بل ځای ووژل شي، حکومت هم خواشیني ښکاره کوي.

مرغۍ چې ځان ته زاله جوړه کړي، خپلې زالې ته بله مرغۍ نه ور پرېږدي، خو زما خپل هیواد، زما د پلار اونیکه هدیري، زما کلی، او زما ا ستوګن ځای کې مې تاسي (امریکا) نه پرېږدئ، د ژوند، استوګنې، تعلیم حق نه راکوئ.

د تخار ولایت درقد ولسوالي کې کلیوالو ښارګوټی جوړ کړ، هلته وړوکی روغتون، ښوونځي، مسجد او هټۍ وي، خلکو په هغه ښار عمري نوم کېښود، د حکومت لخوا د همدې نوم په خاطر ټول ښار نړول کیږي او ویډیوګاني یې هم نشروي[۸۲].

په داسي حال کې چې تاسي مې وژنئ، چاپې را باندي وهئ، کور کې مې نه پرېږدئ، له تور نوملړ څخه نه ایستل کیږو، د ژوند حق نه راکول کیږي، اواز مو نه اوریدل کیږي، خو بیا تاسي (امریکا) را څخه غواړئ چې په دغه ډول حالت کې اوربند را سره وکړئ.

د سولې اړوند چې څومره حرکتونه شوې، د طالبانو لخوا پکې ناغیړي نه ده شوې، د هر چا خبر یې اوریدلي، له نن څخه ۱۸ کلونه وړاندي ملا محمد عمر مجاهد امریکا ته وړاندیز وکړ، هغه وخت ما (متقي) خپله د امریکا د بهرنیو چارو له مرستیال وزیر او د تروریزم اداري له مشر سره په اسلام اباد کې د افغانستان په سفارت کې وکتل.

[۸۲] د تخار ولایت په درقد ولسوالۍ کې د طالبانو تر کنټرول لاندي، په څلورسوه جریبه ځمکه کې د عمري په نوم جوړ شوي ښارګوټي چې ۱۲۰۰ هټۍ یې درلودلې، په بشپړ ډول سره د افغان امنیتي ځواکونو لخوا ویجاړ شو. سیمیزو چارواکو څرګنده کړه چې د یاد ښارګوټي څخه طالبانو ته اقتصادي ګټه په لاس ورتله. د یاد ښارګوټي د نیولو لپاره افغان امنیتي ځواکونو د فبروري پر ۹مه، د طالبانو ضد نظامي عملیات پیل کړي و، ښارګوټي ته له رسیدو سره سم یې د بازار په نړولو پیل وکړ، چې د فبروري پر ۱۳مه، رسنیو د یاد ښار ګوټي د نړولو راپور ورکړ.

موږ ورته وویل چې د اسامه موضوع به د مفاهمې د لارې حل کړو، تاسي پر اسامه بن لادن دعوه لرئ، اسناد زموږ ستړې محکمې ته وړاندي کړئ.

کله چې کلنټن په وخت کې په خوست کروز توغندي وویشتل شول، په کابل کې خلکو لاريون وکړ، د لاريون پر مهال یو بهرنی کس ووژل شو، موږ تورن کسان ونیول، او د وژل شوې کس هیواد ته مو خبر ورکړ چې راشي مقد مه ورسره وچلوي.

بیا مو وړاندیز وکړ چې د ۳ اسلامي هیوادونو علماء دي د اسامه بن لادن اړوند پریکړه وکړي، که دا هم نه منئ، د اسلامي همکاريو د سازمان غړي دي راشي، اسامه بن لادن به په ځانګړي ګوښه ځای کې وي، دوی دي د هغه ټول وسايل ورڅخه واخلي، د هغه څارنه دي کوي او د خطر ټول امکانات دي هم له منځه یوسي، نور به د اسامه بن لادن څخه امریکا ته د خطر مسئله حل وي.



## د خلیلزاد شپږم سفر

د خلیلزاد د سفرونو په هکله د امریکا د بهرنیو چارو وزارت لاندي اطلاعیه خپره کړه:

"خلیلزاد به د اپریل له ۲۱مې څخه بیا د مئ تر ۱۱مې پوري افغانســتان، هند، پاکستان، قطر، روسیې، او برتانیې ته سفرونه وکړي. د دې سفرونو هدف د عمومي سولي لپاره هغه هلي ځلي دي چې غواړی د افغانستان د کشالې لپاره سیاسي حل پیدا کړي.

په کابل کي به خلیلزاد د افغان حکومت او نورو افغانانو سره ســلا مشــورې وکړي، څو گرده دېته و هڅوي چې د افغانانو د خپلمنځي مذاکراتو لپاره کار وکړي چې پایله یې مفاهمه او سیاسي حل وي.

په لندن، مســکو، اســلام آباد او نوي ډهلي کې به خلیلزاد کوښــښ وکړي چې د افغانســتان د ســولي د بهیر لپاره ســیمېیز او نړیوال حمایت تر لاســه کړي، تر څو افغانستان کې پایداره سوله راشي.

په دوحه کی به خلیلزاد د طالبانو سره خپلو مذاکراتو ته دوام ورکړي، تر څو د محوري، ملي او امنیتي مســایلو په اړه یوې اجماع ته سره ورســېږي، طالبان به وهڅوي چې په ټول شموله بین الافغاني مذاکراتو کي برخه واخلي."

د اپریل پر ۲۳مه، په کابل کې د امریکا سفارت کې د ځوانانو جوړې شوې غونډې ته، له بهر څخه د ویډیو کانفرنس د لارې زلمي خلیلزاد وو یل:"د افغا نانو د خپلمنځي خبرو لپاره اړین گامونه نه دي اوچت شوې، سره له دې چې د سولې د مذاکراتو په برخه کې لومړني کارونه شوي او د اهمیت وړ دي، افغانان باید د تیرو کلونو لاس ته راوړنې وساتي، امریکا داسې سوله غواړي چې افغانستان کې د ثبات سبب شي، د افغانستان حکومت پیاوړی کړي، د کلونو لاس ته راوړنې وساتي او د ځوان نسل اندېښنې رفع کړي. ځوانانو ته په کار ده چې د سولې په برخه کې خپلې همکارۍ ډېرې کړي.

له افغانســـتان څخه د بهرنیو پوځیانو دایســـتلو، د چا پر ضـــد د افغان خاورې د نه کارولو، د اوربند او بین الافغاني مذاکراتو په اړه لومړنۍ خبرې شـــوې دي، همځه کوو چې دغه خبرې مهمو او اغېزناکو پړاوونو ته د ننه شي چې پایلې یې ټولو ته د منلو وړ وي."

د اپریل ۲۵مه، خلیلزاد په ماســـکو کې د افغانســـتان لپاره د پوتین اســـتازي ضـــمیر کابلوف او د چین هیواد له استازي سره د افغان سولې او افغان کشالې اړوند نا سته درلوده.

خلیلزاد له طالبانو د اوربند غوښتنه وکړه، او د سولې اړوند یې خپل جدیت یو ځل بیا څرګند کړ.

همدارنګه د اپریل پر ۲۴مه د افغانســـتان د بیا رغوني لپاره د امریکا ځانګړي سرمفتش، د سیګار مشر جان سپکو په وا شنګټن کې خبرې غونډې ته وویل:"که له طالبانو سره سوله او جوړجاړی کیږي، افغانستان کې ۱۸ کلنې لا سته راوړني به له خنډ سره مخ شي."

ســـیګار د اپریل پر ۲۳مه، د امریکا او ناټو بمبارد کې د ډېرو ملکي افغانانو د وژنې راپور هم ورکړ[۸۳]. او په راپور کې ویل شـــوي وو:"افغان حکومت په اقتصـــادي، امنیتي او ټولو اړوند چارو کې د امریکا پر مرســـتو ولاړ دی، له همدې امله شـــوني ده چې له سولې وروسته اوسنۍ اداره دوام ونه کړي."

د اپریل پر ۲۴مه، افغانســـتان کې د ملګرو ملتونو د اســـتازولي دفتر (یوناما) راپور ورکړ:"د طالبانو په پرتله؛ د ملکي وژنو ز یا ته ســـلنه د افغان حکومت او ناټو ځواکونو له خوا شوې."

د خلیلزاد، جان ســـپکو څرګندونو او یوناما له راپوره داسي بریښـــي چې امریکا او نړیواله ټولنه د سولې اړوند غواړي پر افغان حکومت خپل فشار زیات کړي.

---

[۸۳] سیګار – Special Inspector General for Afghanistan Reconstructio SIGAR د افغانستان بیا رغونې او مرستې لپاره د امریکا څارونکې اداره.

د اپریل پر ۲۵ مه، د ملګرو ملتونو د استازولي (یوناما UNAMA) دفتر مشر تاداماچي یاماماتو او ورسره هیئت د طالبانو مرستیال مشر او د قطر سیاسي دفتر رئیس ملا برادر اخوند او د سیاسي د فتر غړو سره په دوحه – قطر کې وکتل، دواړو لورو د افغان سولې، ملکي وژنو او د طالبانو تر کنټرول لاندي سیمو کې د بشري مرستو رسولو اړوند بحثونه او خبرې وکړې.

د اپریل ۲۵ مه، د کندز پخواني والي عمر صافي [84] د فیض ځلاند کور کې وویل: "ارشاد احمدي [85] ویل چې دوه اونۍ مخکې د سپمیزو ادارو (ارګانها محلي) د مشر متین بیګ کور کې ناست وو، هلته دفاع وزیر اسدالله خالد او د کورنیو چارو مسعود اندرابي هم وو.

اسدالله خالد وویل چې ټول ټال ۱٦۰ چورلکي دفاع وزارت ته اخیستل شوې وي، اوس مهال یې ۹۰ چورلکي خرابي دي، او ۷۰ روغي دي، په هره قل اردو کې موږ دوه چورلکي لرو.

کله چې د طالبانو لخوا پر موږ حمله وي، د دفاع وزارت لخوا چې له امریکا څخه د بمبارد او الوتکو مرسته وغوښتل شي، نو هغوی په بشپړ ډول مرستي ته چمتو نه وي، ۵۰ سلنه مرسته کوي، که طالبانو پر ٦ ځایونو کې په افغان امنیتي ځواکونو بریدونه کړي وي، امریکا یان بهانې کوي چې زموږ تیاری ٦ ځایو ته نه شي کیدای، په ۳ ځایونو کې به له تاسي سره هوایي مرسته وکړو.

[84] عمر صافی کابل کې امنیتي کمپنۍ لري، له همدې کبله ده چې د بلک واټر امریکایي امنیتي کمپنۍ له مشر ایرک پرنس سره هم نږدې اړیکې ساتي، صافی چې کله د کندز والي و، کندز ښار (۲۸ سپتمبر ۲۰۱۵) د طالبانو لخوا سقوط، وکړ، د جمعیت اسلامي غړي او د عطا محمد نور سره ډیرې نږدې اړیکې لري، د همده په توسط له طالب پلوه کسانو سره اړیکه ونیوله شوه، او بیا وروسته عطا نور د طالبانو د قطر د سیاسي دفتر له مشر عباس ستانکزي سره د ۲۰۱٦ ز کال په نیمایې کې په دوبۍ کې ولیدل.

[85] ارشاد احمدي د بهرنیو چارو پخوانی سیاسي معین او حامد کرزي ته نږدې کس دی، چې اوس مهال په سوداګرۍ بوخت دی.

کوم تیل چې د قراردادي امریکایې کمپنۍ له خوا اردو ته راوړل کیږي، په تیلو کې اوبه وي، د اردو اکثره وســایط د همدې ناپاکو تیلو له امله خراب شي، اوس چې کله امریکایې کمپنۍ تیل اردو ته ورکړي، بیا یې زموږ کسان دوېم ځل؛ هغه هم په غیر مسلکي ډول تصفیه کوي، له تیلو څخه اوبه جلا کوي او بیا یې کاروي."

صـافي وویل:"داسي ښـکاري چې امریکا فشـار راوړي چې سیسـتم کمزوری او افغان حکومت لوړ پوړي چارواکي سولې ته چمتو شي.

ډاکټر غني هم ډېر ویریدلی دی، ورته ویل  شوې چې کیدای شي کوم وخت دي الوتکه د امریکایانو له خوا په نښــه شي، اوس چې غني هر ځای ته په الوتکه کې ځي، د امریکا/ناټو قواوو عمومي قومندان جنرال میلر هم ورسره بیایې. تیره اونۍ چې ډاکټر غني د کابل ښار سیلاب ځپلو سیمو څخه لیدنه کوله، جنرال میلر ته یې هم ویلي و، خو هغه تر خپل وخت ۲ سـاعته وروسـته د الوتکي ځای ته راغلی و، او ډاکټر غني ورته منتظر و.

افغان حکومت چې فکر کوي امریکایې پوځیان له افغانســتان څخه وځي، په واشــنګټن کې د افغانســتان ســفیرې رویا رحماني لخوا د بلک واټر کمپنۍ مشر ـ اریک پرنس څخه غوښـتل شــوي چې د افغانســتان جګړې خصــوصي کولو کې مرسته وکړي، او افغان حکومت غواړي چې بلک واټر امنیتي کمپنۍ افغانستان ته راشي. مګر زما معلومات دادي چې بلک واټر جواب ورکړی، اوسمهال بلک واټر غواړي چې د افغانسـتان د معادنو اسـتخراج د امنیت برخه کې فعالیت ولري، همدا نن له دي ناســتې وروســته ځم، د بلک واټر اســتازی کابل ته راغلی، له هغه سره ګورم."

## د امریکا، چین او روسیې ګډه اعلامیه

د اپریل ۲۵مه ۲۰۱۹، ماسکو کې د امریکا د بهرنیو چارو لخوا د افغانستان لپاره ځانګړي استازي خلیلزاد، د افغانستان لپاره د روسیې د ولسمشر ځانګړي استازي ضمیر کابلوف او د چین هیواد ډینګ جون تر دوه ورځنیو ناستو وروسته په اته مادو کې د درې واړه هیوادونو لخوا ګډ پریکړه لیک ومانه او خپور شو.

**د افغان سولې بهیر اړوند د روسیې، چین او امریکا ګډ پریکړه لیک**

لاندي پریکړه لیک د افغانستان لپاره د متحده ایالتونود بهرنیو چارو وزارت د استازي، د روسیې د ولسمشر ځانګړي استازي او د چین هیواد د بهرنیو چارو وزارت د استازي، دري اړخیزه ناستې پر مهال د افغانستان د سولې بهیر اړوند ومنل شو.

ماسکو، د اپریل ۲۵مه، ۲۰۱۹

د متن پیل:

د متحده ایالتو، چین او روسیې استازو د اپریل ۲۵مه ۲۰۱۹، ماسکو کې غونډه وکړه، د افغانستان د سولې روان بهیر اړوند یې نظریات سره شریک او درې سره لوري لاندي توافق ته ورسیدل:

۱ - درې سره هیوادونه د افغانستان حاکمیت، خپلواکۍ او ځمکنۍ بشپړتیا ته درناوی کوي، همدارنګه افغانان حق لري چې څه ډول خپل پرمختګ غوره کوي. درې سره هیوادونه د سولې بهیر ودې لپاره د افغانانو ګټو ته لومړیتوب ورکوي.

۲ - درې سره هیوادونه د افغانانو په مشري او مالکیت د سولې بهیر ملاتړ، او د اړینو مرستو لپاره چمتو دي. درې سره هیوادونه طالبان هڅوي چې د افغانانو خپلمنځي خبرو کې برخه واخلي چې د افغان حکومت استازي هم پکې ګډون ولري.

ځرنګه چې فبروری ۲۰۱۹ ماسکو کې موافقه شوې وه چې د افغانانو خپلمنځي دوېمه ناسته به قطر کې کیږي، موږ ورځخه ملاتړ کو.[۸۶]

۳ – درې سره هیوادونه د افغان حکومت لاسته راوړنې؛ له نړیوالې ترهګرۍ او افراطي ډلو سره د مبارزې ملاتړ کوي. درې سره هیوادونه د طالبانو د هغې ژمنې یادونه کوي چې له داعش سره مبارزه او له القاعده او نورو نړیوالو ترهګرو ډلو سره خپل اړیکې پریکوي، دارنګه د طالبانو تر کنټرول لاندې سیمو څخه به نورو هیوادونو ته ګواښ او پر ضد به یې نه کارول کیږي.

پر طالبانو ږغ کوو چې د ترهګرۍ لپاره د کسانو د استخدام، روزنې، پیسو چمتو کولو او پېژندل شوو ترهګرو مخه ونیسي.

۴ – درې سره هیوادونه د افغانانو لخوا د هر اړخیز اوربند ټینګه غوښتنه په رسمیت مني، خو په لومړي قدم کې پر ټولو ښکېلو اړخونو ږغ کوو چې د تاوتریخوالي کمولو لپاره بیړني او قوي قدمونه واخلي.

۵ – درې سره هیوادونه د نشیې توکو پر کښت او د ناقانونه قاچاق په وړاندې د مبارزې پر اهمیت ټینګار کوي، پر افغان حکومت او طالبانو ږغ کوي چې په افغانستان کې د نشیې توکو د کښت او قاچاق اړوند اړین قدمونه واخلي، او له افغانستان څخه د نشیې توکو د تهدید او خطر مخه ونیسي.

۶ – درې واړه هیوادونه د افغان سولې بهیر د برخې په توګه؛ د بهرینو ځواکونو د منظم او مسؤلانو وتلو غوښتنه کوي.

۷ – درې سره هیوادونه د سیمې له هیوادونو غوښتنه کوي چې د همدې درې اړخیز توافق ملاتړ وکړي، او درې واړه هیوادونه د افغانستان اړوند د یو پراخ سېمه ایز او نړیوال توافق لپاره چمتو او هڅې کوي.

[۸۶] د فبروري پر ۶مه، د افغانانانو خپلمنځي ناستې (افغان سیاستوالو او طالبانو) پریکړه لیک کې ویل شوې وو چې د بین الافغاني تفاهم دوېیمه ناسته به په قطر کې کیږي.

۸– درې سره هیوادونو موافقه وکړه چې مخکې د بیجینګ له درې اړخیزه ناستې به هم په خپلو منځونو کې مشورو ته دوام ورکوي، د راتلونکي ناستي د نیتې او بڼې (جوړښت) په اړه به د ډیپلوماتیکو لارو موافقه کیږي. پای

یادونه: پورته درې اړخیز پریکړه لیک د اپریل ۲۶مه ۲۰۱۹ د روسیې بهرنیو چارو، او دارنګه د امریکا بهرنیو چارو وزارت له رسمي ویب پاڼو څخه خپور شو[۸۷].

## د ملي شورا ۱۷مې دورې پرانست غونډه او د ډاکټر غني وینا

د ۱۷مې دورې د ملي شورا پرانست غونډه [۸۸] کې د ګډ حکومت مشر ـ د ولسي ـ جرګې بریالي شوې وکیلان او د سنا مجلس ته وویل:"د پارلمان له شنه کارت پرته به د سولې هیڅ معامله او مذاکره ونه شي،"

ډاکټر غني د سولې بهیر او په هیواد کې د ثبات تامین کې د ملي شورا رول ارزښتناک وباله او ویې ویل:" سوله زموږ لومړنی اړتیا ده. د سولې منسجمه او منظمه طرحه مې برابره کړې، هغې ته متعهد او وربانديې باورمند یم.

ډاډه اوسئ چې تاسي به د سولې ټیم اساسي برخه یاست ؛ د سولې پروسې مالکیت یعنې دا چې د ملت استازي په ابهام کې نه وي.

تاسي ته ډاډ درکوم چې د سولې رمز زموږ په یووالي کې دی."

[۸۷]https://af.usembassy.gov/joint-statement-on-trilateral-meeting-on-afghan-peace-process/

[۸۸] د اپریل پر ۲۶مه ۲۰۱۹، د ډاکټر غني لخوا د ملي شورا (ولسي جرګې او مشرانو جرګې) پرانیسته وشوه.

## کابل کې د خلیلزاد لیدنې

د اپریل پر ۲۷مه، ارگ کې خلیلزاد له ډاکټر غني، ډاکټر عبدالله او لوړ پوړو افغان چارواکو سره ولیدل، د خپل پیل شوې سفر ا ړوند یې معلومات ور سره شریک کړل، او د افغانانو ترمنځ په خپلمنځي خبرو یې ټینگار وکړ.

همدارنگه د اپریل پر ۲۸مه، خلیلزاد په جلا ډول د اجرائیه مشر ـ ډاکټر عبدالله او د بهرنیو چارو سرپرست وزیر صلاح الدین رباني سره په سپیدار ماڼۍ کې ولیدل، او د افغان سولې اړوند یې خبرې وشوې.

د اپریل پر ۲۸مه خلیلزاد پغمان کې له عبد رب الرسول سیاف سره لیدنه درلودله، او ا ستاد سیاف د اپریل پر ۲۹مه، د گډ حکومت د م.شر ډاکټر غني لخوا د سولې مشورتې لویې جرگې رئیس وټاکل شو.

## طلوع نیوز سره د ډاکټر خلیلزاد مرکه

د اپریل پر ۲۸مه، د شپې ۸ بجې طلوع نیوز د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو استازي خلیلزاد تازه مرکه خپره کړه، هغه وویل:"د اروپا، چین، روسیې او امریکا ترمنځ د افغان سولې اړوند اجماع صورت نیولی دی، ځکه د افغانستان مسئله، داخلي، سېمئیزه او نړیواله ده. او منطقوي اجماع کې لا هم توافق ته نه یو رسیدلي، چې هند په دي برخه کې اندیښنه لري.

ایران ته اوسني وخت کې سفر نه شم کولای، پیغام مې دادی چې امریکا نه غواړي په راتلونکي کې افغانستان داسي هیواد وي چې د ایران پر ضد وي.

خلیج کې د قطر سره د متحده عرب اماراتو او سعودي عربستان ستونزې دي[89]، په دي اړه هم اجماع ته نه یو رسیدلي، او په دي برخه کې کار کوو.

[89] پر قطر د سعودي عربستان او متحده عرب اماراتو لخوا تور لگول شوی چې ترهگري پالي او الجزیره ټلویزون د یادو هیوادونه خلک د دوی د حکومتونو پر ضد پاروي. مگر

کوم توافق چې درې هیوادونو (امریکا، روسیې او چین) ترمنځ وشو، د اروپا په ملاتړ سره به د سیمې نور هیوادونه تشویق کړو چې په دې اجماع کې له موږ سره یو ځای شي.

د امریکا او طالبانو ترمنځ خبرو کې پرمختګ شوی، موږ ۴ مسایلو باندې بحث کوو.

۱ –طالبانو منلې چې له نړیوالې ترهګرۍ سره اړیکې پرې کړي، ځکه طالبانو پخوا له القاعده سره پیچلې اړیکې درلودلې. په دې برخه کې پرمختګ شوی، خو بشپړه شوې نه ده.

۲ –د نړیوالو ځواکونو د وتلو مهالویش.

۳ - د افغانانو ترمنځ خپلمنځي مذاکره، د افغان حکومت او افغان سیاستوالو او طالبانو ترمنځ مذاکره. د افغانستان اړوند د جګړې د پای ته رسیدو لپاره سیاسي پلان.

۴ –بشپړ اوربند.

ما هر وخت ویلي چې په هیڅ یوه شی توافق نه کیږي، تر څو په ټولو پورته څلورو مسایلو توافق نه وي شوی.

په تیرو ورځو کې زما هڅه داوه چې د افغانانو خپلمنځي خبرو اړوند هڅې وکړم، په دې برخه کې ډیر لږ پرمختګ شوی.

طالبانو منلي چې د دوی تر واک لاندې سیمو څخه هیڅ ډلې ته اجازه نه ورکوي چې د امریکا، د امریکا ملګري هیوادونو او هیڅ هیواد په ضد به ګواښ نه وي.

له افغانستان څخه د امریکا/ناټو پوځیانو د وتلو مهالویش موده نه ده تعین شوې، طالبان له امریکا غواړي چې د بهرنیو پوځیانو د وتلو یو معین مهالویش وي.

---

قطر یاد تورونه رد کړي. له همدې امله سعودي عربستان او متحده عرب اماراتو له قطر سره هر ډول ډیپلوماټیکې او سیاسي اړیکې (۵ جون ۲۰۱۷ تر دې مهاله) پرې کړې او له قطر سره یې خپلې ځمکنۍ او سمندري پولې تړلې، همدارنګه له سعودي عربستان او متحده عرب اماراتو څخه قطر ته پر الوتنو هم بندیز لګیدلی دی.

واشنګټن غواړي چې د افغانستان مسئله ژر حل شي، ولي مسؤلیت هم لري، غواړي چې مسؤلانه هر څه پر مخ یوسي. د شوروي اتحاد د پوځیانو وتلو او له هغه وروسته تجربه زموږ مخکې پرته ده[۹۰].

د دوحې غونډې اړوند ستونزې وي، مګر پرمختګ هم شوی، لومړی دا چې طالبانو منله چې له افغانانو سره یو ځای د حکومت له استازو سره هم د افغاني هیئت په جوړښت کې ګوري. ربښتیا هم ۲۵۰ تنه زیات وو[۹۱]، خو بیا هم په یوه لسټ توافق وشو[۹۲]. ملا برادر غوښتل چې ټولو ته میلمستیا وکړي، همدارنګه تماسونه هم یو له بله (طالبانو او کابل کې افغان سیاستوالو ترمنځ) سره پیدا شول.

ځیني تیروتني د بېلا بېلو اړخونو له خوا وشوې چې ناسته وځنډیدله، دا چې دوحې زیاتې هڅې وکړي، او ماسکو کې هم پریکړه شوې وه، اوس نو ښه نه ده چې د قطر بې عزتي وشي، دا معنی نه چې ټولې راتلونکي ناستې به قطر کې وي، ازبیکستان، ناروې، المان، اندونیزیا او ځینې نور هیوادونه هم غواړي چې د افغان سولې اړوند مذاکراتو کوربه و اوسي.

---

[۹۰] په ۱۹۸۹ز کال کې د پخواني شوروي اتحاد سرې لښکرې له افغانستان څخه ووتلې، په ۱۹۹۲ کې د افغانستان کمونستي نظام (د ډاکټر نجیب الله حکومت) سقوط وکړ، او کله چې مجاهدین کابل ته ننوتل، کورنۍ جګړه پیل، تر څو په ۱۹۹۶ کال کې کابل د طالبانو لخوا ونیول شو. بیا هم د طالبانو او شمال ټلوالې ترمنځ جګړې دوام وکړ، تر څو په اکتوبر ۲۰۰۱ کې امریکا پر افغانستان حمله وکړه، او د طالبانو حکومت ته یې سقوط ورکړ. او حامد کرزی یې د بُن غونډې پر مهال د افغانستان د لنډ مهالې اداري رئیس وټاکی، وروسته د انتقالي دورې رئیس او بیا د دوه ځله ټاکنو نتیجه کې کرزي ولسمشر وټاکل شو چې تر ۲۰۱۴ ز کال پورې په ارګ (واک) کې پاتې شو.

[۹۱] د قطر بین الافغانی غونډې لپاره د افغان حکومت لخوا د ۲۵۰ کسانو نوملړ خپور شو چې د ناستې پر مهال به له طالبانو سره خبرې کوي.

[۹۲] د امریکا، جرمني او قطر هیوادونو له پرله پسې هڅو وروسته، د جولای پر ۷مه او ۸مه، په قطر کې له طالبانو سره غونډه وشوه چې له افغانستان څخه ۴۵ کسانو (۱۱ میرمنې، ۱۲ حکومتي چارواکو او ۲۲ پخواني چارواکي او د ځینو سیاسي ګوندونو، مدني ټولنو او رسنیو استازو) ګډون درلود. او د طالبانو ۱۷ استازو غونډه کې برخه درلودله.

د طالبانو لخوا د پسرلني جنګي عملیاتو اعلان تیروتنه وه[۹۳]، او لومړی ځل دی چې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا لخوا وغندل شول. موږ له طالبانو سره همدې باره کې بحثونه درلودله، خو طالبانو ونه منله، هغوی ویل چې افغان حکومت لومړي د جنګي عملیاتو اعلان وکړ.

د وژنو د کموالي لپاره له طالبانو سره مذاکراتو او بحثونو ته اړتیا ده، او ډیر قیدونه او شرطونه هم باید وړاندي نه شي.

ملابرادر پر وطن مین او شمیرلي خبري کوي، له نظریاتو سره یې موافق نه یم، په کار ده چې افغانان نظریات تبادله او موافقې ته ورسیږي، جګړه او زور د حل لاره نه ده.

طالبان وایې چې لومړی باید زموږ او امریکا ترمنځ ستونزه حل شي، موږ ورغلو او په دي اړه مو ورسره خبرې کړي. مګر د افغانانو ترمنځ د تفاهم اړوند متوجه یو.

د طالبانو ټول هغه ۱۹ کاله پخوانی طالبان نه دي، ځینو افغانانو، پرته له امریکا، چې طالبانو سره لیدلي، هغوی هم مني چې پخواني طالبان نه دی، بدلون یې کړی. دا عقیده سمه نه ده چې ووایو طالبانو تغیر نه دی کړی، که فرض کړو طالبانو کې تغیر راغلی، باید چانس د لاسه ورنه کړو.
تاسي ټول زما او پاکستان د اړیکو اړوند خبر یاست، چې پخوا ما څه ډول اړیکي له پاکستان سره درلودلي[۹۴]، مګر اوس پوهیږم چې پاکستان ځینې قدمونه د دې کار لپاره اخیستي دي، او زموږ ځینو غوښتنو کې یې اقدام کړی.

---

[۹۳] د اپریل پر ۱۲مه ۲۰۱۹ / ۲۳وری، ۱۳۹۸ل، طالبانو د الفتح په نوم د نوي کال د پسرلني نظامي عملیاتو اعلان وکړ.

تر طالبانو مخکې د افغان حکومت دفاع وزیر اسدالله خالد، دفاع وزارت کې د هغه د کار په لومړۍ ورځ (۲۹ ډسمبر ۲۰۱۸) د طالبانو پر ضد د نظامي عملیاتو اعلان وکړ. هغه وویل: "له دې وروسته به د جګړې بڼه بدلیږي او د ملي اردو سرتیري به له دفاعي حالته راوځي، د وسله والو مخالفینو پر پټنځایونو به بریدونه کوي. او له دې وروسته به سر وهو، سنګر به یې نیسو".

[۹۴] مخکې له دي چې خلیلزاد د افغان سولې او بیا پخلاینې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړی استازی وټاکل شي، کورنیو او بهرنیو رسنیو راپور ورکاوه چې خلیلزاد به

د امریکا لپاره سوله لومړیتوب لري، موږ د دې طرفداره یو، ترجیح ورکوو چې که مخکې له ولسمشرۍ ټاکنو سولې ته ورسیږو، دا به پر ټاکنو هم مثبت تاثیر ولري. مګر همهاله د ټاکنو لپاره چمتوالی نیسو.

د اسلامي جمهوري نظام اړوند له طالبانو سره موږ بحث نه دی کړی[۹۵]، امریکا ځان ته اجازه نه ورکوي چې په دې برخه کې بحثونه ولري، د افغانانو ترمنځ به بحث کیږي، طالبانو موږ ته نه دي ویلي چې بیا ځل اسلامي امارت غواړي، د نړۍ ډیر هیوادونه او امریکا نه غواړي چې بیا ځل اسلامي امارت راشي، که څه هم دا مسئله په افغانانو پوري تړاو لري، مګر موږ نه غواړو چې بیرته شاتګ وکړو، او ۲۰ کاله وړاندي افغانستان وي.

که طالبان په خپل پخواني جوړښت (اسلامي امارت) ټینګار کوي، دا نو د جګړې په معنی ده. طالبان مني چې د دوی نظام کې ستونزې وي.

دواړو (اسلامي جمهوریت او اسلامي امارت) کې اسلامي کلِمه شته، په اسلامي کلِمه د طالبانو او امریکا ترمنځ توافق شته، که اراده وي نو د جمهوریت او امارت اړوند هم سمه حل لاره پیدا کولای شو، که کله په دې برخه کې بن بست راغی، موږ مرستې کولو ته چمتو یو، ممکن ملګرو ملتونو او یا بل هیواد څخه افغانان مرسته وغواړي، ځکه د نړۍ په ګټه ده چې دا جګړه پای ته ورسیږي.

د ایران د حکومت ډول هم ممکن په افغانستان کې کار ور نه کړي، ځکه د افغانستان او ایران ډیری مسایل یو له بل سره توپیر لري.

---

پر پاکستان د افغان سولې اړوند سختې نیوکې کولې، او پاکستان یې د ترهګرو ملاتړی هیواد باله.

[۹۵] ځینو کورنیو رسنیو راپور ورکړ چې امریکا له طالبانو سره په راتلونکي کې د جمهوریت "د افغانستان اسلامي جمهوریت) پر ځای امارت "د افغانستان اسلامي امارت" باندي توافق کړی، مګر دا ناسم خبرونه وو چې رسنیو د افغان حکومت او سولې ضد کړیو په غوښتنه خپرول، تر څو په دغه ډول څرګندونو او خبرونو خپرولو سره د سولې روان بهیر ته زیان ورسوي.

ډيموکراسي ښه سيستم دی، مشکلات لري، مګر بيا هم زموږ په نظر ښه سيستم دی، دا په افغانانو پورې اړه لري چې څه ډول د مختلفو سياسي عقايدو او مختلفو ارزښتونو په شتون کې، پرته له جګړې په سوله کې ژوند وکړي.

د ميرمنو اړوند شاتګ نه منو، د افغانستان اساسي قانون کې هم ميرمنو ته ډير حقونه[۹۶]، او په ولسي جرګه کې د ميرمنو شتون ۲۵ سلنه حق ورکول شوی. کله چې عراق ته د امريکا سفير په صفت ولاړم، د عراق په اساسي قانون کې هم د ميرمنو لپاره همدا حق شامل شو.

ځينې طالبان به د انحصار فکر لري، ځينې نور کسان هم شته چې د انحصار خيال او فکر کوي، مګر طالبان شراکت مني، پرته د واک له شريکولو بله لاره هم نشته. سياستوال بايد دا فکر ونه لري چې هميش په چوکۍ ناست وي.[۹۷]

لنډ مهاله يا سرپرست حکومت سولې ته رسيدو لپاره يوه مفکوره ده، مګر بېلا بېلې لارې شتون لري، په اوسني سيستم کې شراکت، انتقالي حکومت، په ټاکنو موافقه، او ځينې افغان سياستوال په ښکاره نه وايې خو يوه بله حل لاره هم وړانديز کوي[۹۸].

که موږ په لومړيو دوو مسايلو له طالبانو سره توافق ته ورسيږو؛ تر څو چې همدا د نظام او دايمي اوربند مسئله حل شوې نه وي، بيا هم ټوله مسئله نه ختميږي.

طالبان وايې چې د ټولو افغانانو په ګډون (همه شمول) حکومت غواړي، چې هر افغان پکې شتون ولري.

---

[۹۶] کورنيو رسنيو راپورونه ورکول که طالبان بيا ځل راشي د ميرمنو حقونه به ور نه کړي، او په تيرو ۱۸ کلونو کې د ميرمنو د حقونو برخه کې افغان حکومت او ميرمنې ډيرې لاسته راوړنې لري، چې د طالبانو په راتګ به د ميرمنو حقونه محدود شي.

[۹۷] د طلوع تلويزون د رئيس په ګمان چې د خليلزاد اشاره به ډاکټرغني ته وه، چې چوکۍ نه پريږدي، او د واک د انحصار په لټه کې دی.

[۹۸] د خليلزاد او ځينو افغان سياستوالو نظر داوو چې طالبان لنډ مهاله حکومت ومني، او همدا لنډ مهاله حکومت به راتلونکو ولسمشرۍ ټاکنو ته د چمتووالي چارې مخکې وړي، مګر طالبانو او ډاکټر غني د لنډ مهاله حکومت سره توافق نه در لود.

پرته له دي چې د افغانانو ترمنځ توافق ونه شي؛ د افغانستان ستونزه نه حل کیږي.

لومړي بُن کې د طالبانو نه ګډون تیروتنه وه، همدا خبره د هغه وخت د ملګرو ملتونو ځانګړي استازي لخضر ابراهمي هم کړي، ما هم په بُن کې کوچنی رول درلود، هغه وخت جګړه نه وه ختمه شوې، او طالبان لا هم واک کې وو[۹۹].

لخضر ابراهمي وویل چې له قطر څخه یې غوښتې و چې د بُن پر ځای دوحه کې دا پریکړه وشي، د قطر امیر منلي وه چې ټول مصارف منی، خو په دي شرط چې طالبان هم ګډون ولري.

اوس وخت کې امریکا په افغانستان کې د سولې لومړی درجه پلوي هیواد دی.

له طالبانو سره د سولې توافق په بشپړ ډول تاوتریخوالی پای ته نه رسوي، دا تمه زیاته ده چې موږ امریکا او افغان سیاستوال په نږدې راتلونکې کې له طالبانو سره توافق ته ورسیږو، خو داعش وسلواله ډله لا هم دلته فعاله ده، که طالب او حکومت د یو بل په وړاندي جګړه کې نه وی، امنیتي حالت به ښه شي."

---

[۹۹] د افغانستان د ملي پیوستون ګوند مشر سید اسحاق اغا په تکرار سره د ناستو پر مهال موږ ته دا خبره کړي چې کله لومړی بُن غونډه وه، ما (اسحق اغا)، خلیلزاد ته وویل چې غونډې ته د طالبانو او حزب اسلامي استازي هم را وبلل شي، مګر خلیلزاد به دواړه لاسونه سره وموښل وبه یې ویل: "نور طالبان او حزب اسلامي د تاریخ کندې ته لویدلي او هغوی نور نشته."

[۹۹] مګر امریکایانو طالبان نور ختم ګڼلي وو، او نه یې غوښتل چې د افغانستان په راتلونکي کې هغوی هم سیاسي رول ولري.

## د خلیلزاد سفر اسلام اباد ته

د اپریـل پـر ۲۹مـه، خلیلـزاد او د جنـوبي او مرکـزي اسـیا لپـاره د امریکـا د بهرنیـو چـارو وزارت ځـانګړي اسـتازي الـیس ویلـز اسـلام ابـاد تـه ولاړل، هلتـه یـې د پاکسـتان د بهرنیـو چـارو مرسـتیال وزیـرې تهمنیـه جنجوعـه سره خـبرې وشوي.

د اپریـل پـر ۳۰مـه خلیلـزاد او الـیس ویلـز د پاکسـتان بهرنیـو چـارو وزیـر شـامحمود قریشي ـ او د پاکسـتان د پـوځ لـه مشرـ قمـر جاویـد بـاجوه سره ولېدل.

خلیلـزاد لـه پاکسـتاني لـوري سره پـه ماسـکو کـې د درې اړخیـزه ناسـتې اړونـد ځینـې جزیـات شریـک کـړل، همدارنګـه خلیلـزاد څرګنـده کړه:"پاکسـتان د سیمه ییـزې اجـماع اړونـد موافقـه لـري او غـواړي پـه جوړیـدو کـې یـې رول ولوبوي.

پاکسـتان د بـین الافغـاني خـبرو لپـاره د هڅـو ملاتـړ کـوي، او پـه افغانسـتان کـې د تاوتریخوالي کمېدو ته ژمن دی."

د پاکسـتان بهرنیـو چـارو وزیـر قریشي ـ لـه خلیلـزاد سره تـر لیـدنې وروسـته وویل:"پاکسـتان هـر ډول ممکـن مرسـتې تـه چمتـو دی، زمـوږ هیلـه داده چـې افغانسـتان کـې امنیـت راشي، او مـوږ ټـول پـه ګـډه د افغانسـتان لـه امنیـت څخـه ګټه واخلو."

پـه همـدې ورځ تـر لیـدنې وروسـته خلیلـزاد او ډلـه یـې دوحـې تـه روان شـول. او د مـئ پـر لـومړۍ نیټـه یـې لـه طالبـانو سره د شـپږم پـړاو مخـامخ خـبرې پیـل کړي.

## د طالبانو او امریکا ٦م پړاو خبرې

د مئ پر لومړۍ نیټه ۲۰۱۹، په دوحه کې له طالبانو سره د امریکایې هیئت شپږم پړاو خبري پیل شوې.

په همدې ورځ د طالبانو د مرستیال مشر ــ او د قطر سیاسي دفتر رئیس ملا بردار اخوند او مذاکراتي ډلې ځینو غړو، د خلیلزاد په مشرــې د امریکا مذاکراتي هیئت سره وکتل، د طالبانو د مرستیال مشر ـ ملا برادر اخوند لخوا له امریکایانو وغوښتل شول چې پر دوو مهمو مسایلو باندې بحثونه باید پای ومومي (د بهرنیو ځواکونو د وتلو مهالویش او له افغان خاوري نورو هیوادونو ته نه ګواښ).

مګر امریکایې رسنۍ UPI د خلیلزاد له قوله راپور ورکړ چې له طالبانو سره به پر ۴مسایلو (۲ پورته مسایل، بین الافغاني تفاهم او اوربند) خبرې کوي.

د مذاکراتو تر پیل لږ مخکې طالبانو ملا محمد فاضـــل اخوند د مذاکراتي ډلې مرستیال مشر وټاکی، او داډول د مذاکراتي ډلې مشرې به عباس ستانکزی کوي.[100]

په همدې ورځ طالبانو د خبرپاڼې په خپرولو ومنله چې ٦م پړاو خبرې پیل شوي.

**خلیلزاد د اسلامي امارت له سیاسي مرستیال ملا برادر اخوند سره وکتل**

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړي ا ستازي او د مذاکراتي ټیم مشر خلیلزاد د افغانستان ا سلامي امارت له سیاسي مرستیال او د سیاسي دفتر له رئیس محترم ملا عبدالغني برادر سره وکتل.

په دغه لیدنه کې د افغانســـتان د مســـئلې د ســـوله ایز حل په مهمو اړخونو خبرې وشوې.

---

[100] تر ډیره داسي انګیرل کیږي کله چې ملا امیرخان متقي په ناستو کې ګډون ولري، پرته له دي چې د طالبانو لخوا د مذاکراتي ډلې مشرې څوک کوي، یو ډول سترګې متقي صاحب ته اوړي، او د هغه د خپل شخصیت له امله ډیر ځله د مذاکراتو مشرې عملاً د هغه لخوا کیږي، چې دې کار عباس ستانکزی او په ځانګړي ډول ملا فاضل اخوند ماښیجن کړي، د همدې له پاره به وي چې د ملا برادار اخوند لخوا دا ځل ملا فاضل اخوند د مذاکراتي ډلې مرستیال مشر ټاکل شوي وي.

د اسلامي امارت سیاسي مرستیال څرګنده کړه:

دا مهمه ده چې لومړی د تیرې ناستې د اجنډا دوه مهم ټکي (له افغانستان څخه د ټولو خارجي ځواکونو وتل او د نورو په ضرر د افغانستان د خاورې نه استعمالیدل) نهایي شي.

دا به د مسئلې د نورو اړخونو حل ته لاره پرانیزي؛ خو له دې څخه مخکې نورو خبرو ته نشو داخلیدای.

مجلس کې فیصله وشوه چې خبرې به نن د چهارشنبې په ورځ پیلیږي او په نوموړو ټکیو به په تفصیل سره بحث کیږي، ترڅو د بهرنیو ځواکونو د وتلو په ګډون د ټولو موضوعاتو په اړه موافقه بشپړه شي.

ذبیح الله مجاهد د اسلامي امارت ویندوی
۱۴۴۰/۸/۲۶هـ ق
۱۳۹۸/۲/۱۱هـ ش ــ ۲۰۱۹/۵/۱م

دمئ پر لومړۍ نیټه په کابل کې د قطر هیواد سفارت رسماً پرانستل شو، د قطر هیواد سفیر سعید مبارک الخیارین الهاجري خپل کار په کابل کې پیل کړ.

له خلیلزاد سره تر لیدنې یوه ورځ مخکې د طالبانو مرستیال مشر د اندونیزیا هیواد د بهرنیو چارو وزیرې رینټو مارسودی سره هم په دوحه کې کتلي و.

## د اندونیزیا د بهرنیو چارو وزیرې له ملا برادر اخوند سره وکتل

د افغانستان اسلامي امارت د سیاسي چارو مرستیال او د سیاسي دفتر رئیس محترم ملا عبدالغني برادر او ورسره مل هیئت یې تیره ورځ ۲۵/۸/۱۴۴۰ هـــق چې د میلادي کال ۳۰/۴/۲۰۱۹ نیټې سره سمون خوري، د اندونیزیا د بهرنیو چارو وزیرې آغلې ریټنو لیستاري او ورسره هیئت سره وکتل.

په کتنه کې محترم ملا برادر د اندونیزیا د بهرنیو چارو وزیرې سره د افغانستان د مسئلې په سوله ایز حل او د امریکایي ټیم سره د اسلامي امارت د مذاکراتي ټیم په روانو مذاکراتو نظر تبادله کړ.

همدا راز يې هغه لاملونه په ګوته کړل کوم چې په دوحه کې د بین الافغاني کنفرانس د لغوه کیدو سبب ګرځیدلي وو.

دواړو خواوو د افغانستان د مسئلې د حل لپاره په خپل منځي اړیکو او تماسونو ټینګار وکړ، په مقابل کې د اندونیزیا د بهرنیو چارو وزیرې د اړتیا په وخت کې د افغانستان د مسئلې په حل کې د خپل هیواد د مرستې او مثبت رول لوبولو اطمنان ورکړ او هیله يې څرګنده کړه چې هر څومره ژر وي د افغانستان مسئله يو معقول حل ته ورسیږي. ذبیح الله مجاهد د اسلامي امارت ویندوی

۱۴۴۰/۸/۲۶هـ ق - ۲۰۱۹/۵/۱م

په کابل کې د جرمني هیواد ځانګړي استازي مارکس پوتزیل Markus Potzel له ډاکټر غني، حامد کرزي او نورو افغان سیاستوالو سره تر لیدنې وروسته مخامخ قطر ته ولاړ، د مئ پر ۲مه يې دوحه کې د طالبانو مرستیال مشر ملا برادر اخوند ولیدل.

**د افغانستان لپاره د المان ځانګړي استازي د اسلامي امارت له سیاسي مرستیال سره وکتل**

د افغانستان لپاره د آلمان هېواد ځانګړي استازي مارکس پوتز یل او ورسره لوړپوړي ډیپلوماټیک هیئت يې، د اسلامي امارت د سیاسي چارو له مرستیال او د سیاسي دفتر رئیس محترم ملا عبدالغني برادر او ورسره هیئت سره يې وکتل. دغه کتنه تیره ورځ د قطر هېواد مرکز دوحه کې ترسره شوه. په لیدنه او کتنه کې د افغانستان د مسئلې په سوله ایز حل، له امریکایانو سره په روانو مذاکراتو او د ملکي تلفاتو د مخنیوي په هکله يو له بل سره نظریات شریک شول.

دواړو خواوو په دې ټینګار وکړ چې په هیواد کې سوله د افغانستان، سیمې او نړۍ په ګټه ده او د افغانستان د مسئلې حل لپاره باید له موجوده فرصتونو څخه استفاده

وشي. همدارنگه د المان هیواد خاص استازي د سولې په برخه کې د خپل هیواد د مرستې او مثبت رول لوبولو اطمنان ورکړ. محمد سهیل شاهین

د مئ پر ۲مه، ماسپښین مهال خلیلزاد پر ټویټر ولیکل:"د خبرو په پیل کې مو طالبانو ته ویلي چې، نور افغانان چې ستاسو ورونه او خوندي دي، غواړي چې دغه جگړه ختمه شي او اوس د وسلې ایښودو، تاوتریخوالي کمېدو او د سولې له بهیر سره د یو ځای کېدو وخت رارسېدلی دی.

سولې ته د رسېدو لپاره په کار ده چې ۴ سره یو له بل سره تړلو مسایلو "د بهرنیو ځواکونو پر وتلو، د ترهگرۍ پر ضد د مبارزې په اړه ډاډ، بین الافغاني خبرو، سرتاسري اوربند او د تاوتریخوالي کمېدو" ته لاره ومومو، او پر یادو ۴ واړه مسایلو خبرې کېږي، تر څو چې پر ۴ سره مسایلو هوکړه نه وي شوې، هیڅ مسئله به وروستۍ نه شي."

د خلیلزاد په جواب کې د طالبانو ویاند ذبیح الله مجاهد د مئ پر ۲مه، ماخوستن مهال پر ټویټر ولیکل:"خلیلزاد دې له موږ څخه د وسلې ایښودلو فکر نه کوي، د دا ډول خیالي غوښتنې پرځای دې امریکایان په دې پوه کړي چې نور دې له زور څخه کار نه اخلي او نه دې هم د کابل شړیدلې ادارې لپاره له دې زیات ځاني او مالي تاوان پریکوي.

د ناکامه ستراتیژیو تکرار دې بند کړي، ځکه چې نتیجه نه لري. بهتره داده چې خلیلزاد روانو حقایقو ته غاړه کېږدي."

د مئ ۳مه د جمعې ورځې له امله خبرې ونه شوې، خو د مئ پر ۴مه د طالبانو او خلیلزاد تر خبرو ورو سته ما سپښین مهال، خلیلزاد د ټویټر د لارې څرگنده کړه:"د هرې سولې د بهیر پایله دا وي چې ټول ښکېل اړخونه وسلې په ځمکه کېږدي، همدې هدف ته د رسېدو لپاره ټول اړخونه باید د تاوتریخوالي کمېدو لپاره اړین قدمونه واخلي، دا یو اخلاقي مسؤلیت دی، موږ د همدغسې یوه اقدام ملاتړ کوو، موږ چمتو یو."

## عبدالکریم خُرم سره ناسته

۱۰:۱۵ تر ۱۱:۴۰ سهار

۵ مئ ۲۰۱۹

ځای: کارته پروان، د خُرم صاحب کور، کابل

ګډونوال: خُرم صاحب، وحید مژده او زه (مطمئن)

**خُرم**: داسي ښکاري چې د قطر روانو خبرو کې پرمختګ شته، ویل کیږي چې دواړه لوري (طالبان او امریکا) د هوکړې لاسلیک ته نږدې شوې، مګر طالبان غواړي چې په هوکړه لیک کې د افغانستان اسلامي امارت او امریکا غواړي چې د طالبانو اسلامي تحریک ولیکل شي.[۱۰۱]

تیره اونۍ [۱۰۲] د حامد کرزي په کور کې د ناستي پر مهال موږ امریکایانو ته وویل چې پر تګلارو یې شک لرو، که امریکا غوښتي وای د قطر ناسته نه ځنډول کېده، دا خبرې په کابل کې د امریکا مرستیال سفیر باندي ښې ونه لګېدلي.

خلیلزاد چې اسلام اباد ته سفر وکړ، له هغه وروسته د پاکستان لومړي وزیر عمران خان او د ډاکټر غني ترمنځ تلیفوني خبرې وشوي، موږ ته خلیلزاد ویلي و چې پر پاکستان فشار راوړو چې طالبان له افغان حکومت سره خبرو ته کینوي.

د سولې مشورتي لویې جرګې لخوا په ۳مه ماده کې لیکل شوې:

"په افغانستان کې د جګړې یو لامل دادی چې د اسلام له سپیڅلي دین څخه مختلف برداشتونه او قرائتونه کیږي، د سولې د مشورتي لویې جرګې غړي، دولت،

---

[۱۰۱] د مئ ۴مه، د روسیې سفارت کې د ماښامنۍ پر مهال د ناروي شارژدافیر پئر ما (لیکوال) او مژده صاحب ته وویل:" نن ورځ د طالبانو او امریکا تر منځ پر همدې خبره روانه وه چې په هوکړه لیک کې کوم نوم ولیکل شي، طالبانو غوښتل چې د افغانستان اسلامي امارت او امریکا غوښتل چې د طالبانو اسلامي تحریک ولیکل شي."

[۱۰۲] خلیلزاد د اپریل پر ۲۷مه کابل ته راورسید، دوه ورځې کابل کې پاتې شو، له مهمو افغان سیاستوالو سره یې ولیدل.

د طالبانو تحریک او علماوو ته وړاندیز کوي څو د اسلام له سپیڅلي دین څخه خپل تفسیر واحد کړي، او همدا تفسیر د همږغۍ او ملي یووالي وسیله وګرځوي."

دا ډیره خطرناکه خبره ده، موږ ټول مسلمانان یو، په دي ډول حکومت او سیاف غواړي چې امریکا ته برائت ورکړي، دا جملې ډیرې ژورې معناوي لري، امریکا په ډیر سیستماتیک ډول غواړي ځینې کلِمات راپورته او په ځینو مواردو کې یې ځای کړي، امریکا ځینې غیر مهم الفاظ په غیر مهم ځای کې کاروی، د استاد سیاف او سولې مشورتې جرګې د پورته خبرو معنی دا کیدای شي، چې دلته د افغانانو ترمنځ د اسلامي قرائتونو څخه د بېلابېل برداشت له امله ۱۸ کاله جګړه وه، او هڅه شوي چې د امریکا له ۱۸ کلنې جګړې مسؤلیت منلو څخه تیښته وشي. او همدا ډول څرګندونې د داعش ډلې لپاره فکري تهداب ایښودلو په معنی هم کیدای شي.

که د اسلامي فقهي اړوند بېلابېل نظریات نه وای، نو څلور مذاهب به هم نه وای، د مسایلو په تفسیر کې امامانو اجتهاد کړی، د استاد سیاف دا خبرې سمې نه دي چې وایې جګړه د اسلام له دین څخه د مختلف برداشتونو او قرائتونه له امله ده.

کله چې د قطر ناستي اړوند بحثونه کېدل، هغه وخت فضل الهادي مسلمیار ټینګار درلود چې قطر ته باید په مذاکراتي ډله کې جنګې کسان ولیږل شي.

امریکا د سیاسي طالبانو او نظامي طالبانو اړیکې ډیرې ژورې څارې او څیړي، تر څو پوه شي چې د دوی ترمنځ اړیکې، اوسمهال چې د سولې مذاکرات روان دی، څه ډول دي.

داسي هڅې به کیږي چې ځینې نظامي طالبان د سولې له پڅو او کرارو خبرو بې حوصلې شي، او بیا د داعش افراطي وسلوالي ډلې سره ملګري شي[۱۰۳].

[۱۰۳] کابل کې دغه ډول څرګندونو زور اخیستی وو که طالبان له امریکا سره تړون لاسلیک کړي، د دې ډلې ځینې جنګیالي به له داعش ډلې سره یو ځای شي، مګر داسي ونه شول، بلکې تر تړون لږ مخکې په ننګرهار او کونړ کې د داعش وسلوال په بشپړ ډول د طالبانو لخوا وځپل شول، او بالاخره د اپریل پر ۴مه ۲۰۲۰، د داعش خراسان مشر اسلم فاروقي

د سولې مشورتې جرګې ۱۵مه ماده [۱۰۴] هم داسې ده چې د سولې اړوند ناستو محوریت په حکومت پورې منحصر کوي، او د ماسکو بین الافغاني ناستې په ډول، د نورو همداسې ورته بین الافغاني ناستو مخه ډب کوي.

که افغان سیاستوال له طالبانو سره اړیکې ولري، بیا متوجه ضررونه کمیږي، داسې نه چې د امریکا لخوا روسیه او چین مصروف وساتل شي، او بیا خپلې تګلارې دلته سیمه کې عملي کړي.

د سولې مشورتې لویې جرګې له کېدو سره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت مخالفت درلود، خو بل خوا د امریکا استخباراتي ادارو، د هند استخباراتو او ممکن د اسرائیلو استخباراتو لاس هم وو چې دغه جرګه وشي.

**مژده**: جوزجان کې چې د داعش په خلاف طالبانو جګړه وکړه، داسې هم ویل کیږي چې په سیمه کې د سعودي عربستان نظامي کسانو شتون درلود، او د داعش ډلې د مشرانو د خوندیتوب لامل هم ممکن د سعودي په غوښتنه شوی وي.

اوسمهال په بدخشان او د کنړ په چپه دره ولسوالۍ کې د داعش وسلوال مخ په زیاتېدو دي.

---

"عبدالله" چې په ننګرهار کې له طالبانو پټ و، ځان یې افغان حکومت ته له دوو نورو قوماندانانو او ۱۷ وسلوالو سره یو ځای په خیوه ولسوالۍ کې تسلیم کړ.

ما (لیکوال) او ځلاند به په هره ناسته کې بهرنیانو ته ویل چې طالبان عقیدوي خلک دي، هغوی خپل مشر ته درناوی او بشپړ اطاعت یې کوي، دا اوازه سمه نه ده چې د طالبانو سیاسي او نظامي مشران په دوحه کې له امریکا سره پر تړون توافق وکړي، او بیا به یوه ډله نظامي طالبان د خپلو مشرانو د هوکړې مخالفت کوي.

[۱۰۴] "د سولې مشورتې لویې جرګې غړي د رایو په اتفاق سره د افغانستان له حکومت څخه غواړي چې د افغانستان د اسلامي جمهوریت د ښه ګاونډیتوب پر سیاست ټینګار وکړي او د افغانستان په چارو کې د سیمئیزو مداخلو د دوام په صورت کې دي په رسمې توګه د ملګرو ملتونو د امنیت شورا ته د افغانستان شکایت وړاندې کړي." د سولې مشورتې لویې جرګې ۱۵مه ماده.

هڅې کيږي چې طالبان وويشل شي، په طالبانو کې ډير د لوی ملا صاحب "ملا محمد عمر مجاهد" تګلاره تعقيبوي، او د هغه په کړنو عمل غواړي، پخوا د طالبانو مشري د لوی کندهار سره وه، اوس د شمال طالبان هم په مشرتابه کې شتون لري، او دا ښه قدم دی.

ما (مژده) ته قدير مومند وويل چې له طالبانو سره د امريکا دهيئت په جوړښت کې ټول د خبرو کسان نه دي، ځينې پکې سايکلوجيسټ (انسان پېژندونکي) دي، هغوی د مذاکراتو په جريان کې د طالبانو د مذاکراتي ډلې د غړو حرکات او هر څه په ځير څاري، بيا د خپلو ارزونو له امله فکر کوي چې پلانی طالب مشر په کومه موضوع کې ليوالتيا لري، او له کومو مسايلو سره زياته علاقه لري او کوم څه يې خوښيږي.

دا ځل (جولای ۲۰۱۹) قطر ته چې کوم افغانان ورغلي وو، هغوی ځينې ميرمني هم له ځان سره بيولي وي، او په دغه ډول ميرمنو باندي، چې په سم ډول يې ونه پېژني باور کول هم ښه نه دی.

امريکا او افغان حکومت داسي سوله غواړي چې طالبان هم د حزب اسلامي په څير کابل ته راشي، دا نو د طالب سياسي انتحار ګڼل کيږي.

**خُرم**: پرته له امريکا، نور بهرنيان او په ځانګړي ډول اروپايي ټولنه وايي چې افغان سياستوال دي په خپل منځ کې موافقه وکړي، متحد دي شي، چې ووايې د جوزا مياشتي له لومړي نيټې وروسته ډاکټر غني په واک کې نه غواړو، موږ يې ملاتړ کوو، او همدارنګه کوشش کوو چې ولسمشری ټاکنې هم ونه شي.

داسي ښکاري چې د سولي اړوند پرمختګ لپاره د امريکا لخوا سپټمبر مياشت وروستۍ ده، له هغه وروسته ممکن لنډ مهاله حکومت جوړ شي، ځکه بهرنيانو د لنډ مهاله حکومت اړوند خپلمنځي خبرې کړي دي.

**مژده**: داسي ښکاري چې ملا برادر اخوند او مولوي اميرخان متقي بيرته پاکستان ته ولاړ نه شي، تر څو د طالبانو او امريکا مذاکرات د پاکستان له فشار څخه خوندي پاتې شي.

د طالبانو کامیابي د دوي په ګټوډي کې ده، که دوی هم د نورو ډلو په څیر منظم وي، بیا دوی هم ویشل کیږي او ستونزي پکې پیدا کیږي.

**مطمئن**: د داعش وسلوالي ډلې اړوند طالبان ډیر ښه پوهیږي چې امریکا یې ملاتړ کوي، او د بغدادي په وروستۍ مرکه کې هم داسي ښکاري چې د افغانستان داعش ډلې مستقیم کنټرول نه، بلکې دوی اړیکي ورسره لري.

زه چې څومره معلومات لرم، په حکومت کې ځینې مهمو کسانو راته ویلي چې داعش د حکومت په ملاتړ وسلوال پیداکړل، او د قوي کیدو لپاره یې هڅې کېدلي.

تیر ځل چې د طالبانو او امریکا ترمنځ خبرې کېدي، ډیر په جزیاتو وشوې، ۱۶ ورځې وخت یې ونیو، دا ځل ممکن د خبرو پر مهال ډیر جنجالي مسایل نه وي.

داسي هڅې رواني دي چې د طالبانو او امریکا وروستۍ خبري او هوکړه لیک په اسلام اباد کې وشي، فکر کوم په دي اړه امریکا هم له پاکستان سره هم نظره ده.

**خُرم**: ایران غواړي چې د طالبانو او امریکا د خبرو اړوند مسایل تر ډیره نور پټ پاتې نه وي.

**مژده**: ایران د روسانو له وتلو وروسته د مجاهدینو پر ځای د ډاکټر نجیب الله د حکومت ملاتړ وکړ، اوس هم داسي نښې ښکاري چې د طالبانو پر ځای د ډاکټر غني د حکومت ملاتړ وکړي[۱۰۵].

ایران په افغانستان کې سیکولر نظام مني، خو د طالبانو لخوا اسلامي حکومت په افغانستان کې نه غواړي.

[۱۰۵] ایران همدا تګلاره غوره کړه، د افغانستان له ولسشمرۍ ټاکنو یې ملاتړ وکړ، د بین الافغاني خبرو لپاره یې د افغان حکومت مالکیت ته ترجیح ورکوله، او کله چې د ټاکنو د پایلو تر اعلان وروسته، د ډاکټر غني او ډاکټر عبدالله ترمنځ ستونزه راغله، ایران د ډاکټر عبدالله خوا ونیوله.

## هند ته د خلیلزاد سفر

د مئ پر ٦مه (د رمضـــان المبارک لومړۍ ورځ) بیا هم خبرې نه وې، له همدې رخصـــتي څخه خلیلزاد اســـتفاده وکړه، او په همدې ورځ یې ډهلي کې د هند د بهرنیو چارو وزیرې سـوشـما سـوراج سره لیدنه وشـوه، هندي چارواکو ته یې د روســیې، افغانســتان، پاکســتان او دوحې غونډو اړوند لنډ معلومات ور کړل، همدارنګه یې له هند څخه وغوښـتل چې په ماســکو کې د درې اړخیز تړون او د افغان سولې اړوند د سیمې په کچه اجماع ملاتړ وکړي.

هند ته له دوه ورځني سفر وروسته، خلیلزاد د مئ پر ۷مه، قطر ته ولاړ او هلته یې د طالبانو او امریکا د مذاکراتو په وروستي ساعت کې برخه واخیستله.[۱۰۶]

## د شپږم پړاو خبرو پای

د مئ پر ۹مه، له ۹ ورځو بحثونو وروسته د طالبانو او امریکا خبرې په قطر کې پای ته ورسیدې، طالبانو د مذاکراتو اړوند د نسبي پرمختګ راپور او خلیلزاد په مذاکراتو کې د ډیر کرار او په افغانستان کې د تاوتریخوالي نه کمیدو څرګندونې وکړې.

داسې ښکاري چې دواړه لوریو کوم ښکاره پرمختګ نه درلود، همدارنګه د قطر ٦م پړاو خبرو باندې د پاکستان او هند د غوښتنو او اندیښنو تاثیرات به هم وو.

پاکستان تمه لري چې د امریکا او طالبانو د وروستي پړاو خبرې په اسلام اباد کې وشي. هند غواړي چې د افغان سولې مذاکاراتو کې غوښنه برخه افغان حکومت ولري، او د طالبانو له راتګ او طالبانو سره د امریکا مخامخ خیرو او مخامخ پریکړو اړوند اندیښنې لري.

---

[۱۰۶] په همدې ورځ د طالبانو د قطر سیاسي دفتر غړي، د ګوانتانامو پخوانی بندی، د طالبانو د نظام پر مهال د استخباراتو مرستیال مشر، ملا عبدالحق وثیق زما (لیکوال) څخه د داعش په اړه معلومات وغوښتل، د هغه ټینګار داوو چې داسې ثبوتونه ته اړتیا ده چې وښیې کابل حکومت او امریکا د داعش وسلوالي ډلې سره مرستندوی دي.

د ٦م پړاو خبرو تر پای ته رسیدو؛ د طالبانو د قطر سیاسي دفتر ویاند سهیل شاهین پر خپل ټویټر ولیکل:"تن په دوحه کې د افغانستان د اسلامي امارت او امریکې ترمنځ د خبرو شپږم پړاو پای ته ورسید. په دې پړاو کې، د تیر پړاو په ترتیب شوې مسودې بحث وشو او په ځینو نقطو پرمختګ حاصل شو. په نورو نقطو به په راتلونکي پړاو کې خبرې کیږي.

دواړه لوري به په اړوندو موضوعاتو غور او مشورې کوي او د راتلونکي پړاو لپاره به آمادګي نیسي. په مجموع کې، دا پړاو مثبت و. دواړو خواوو د یوه او بل خبرې په توجه او حوصلې سره واوریدې.

په دې پړاو کې په یو لړ موضوعاتو بحث وشو او حل شول. په پاته نورو موضوعاتو به په راتلونکې غونډه کې بحث کیږي. إن شالله"

خلیلزاد بیا پر خپل ټویټر داسي ولیکل:"په دوحه کې مو د خبرو بل پړاو هم پای ته ورساوه، د مسایلو جزیاتو اړوند دوام لرونکی خو کرار پرمختګ دی، تر څو افغان جګړه پای ته ورسیږي.

د سولې اړوند مسایلو جزیاتو ته ننوتي یو، خو په جزیاتو کې هر کله ستونزي هم وي.

د سولې اوسني مذاکرات کافي نه دي، ځکه لا هم د خبرو په جریان کې ډیر بې ګناه خلک ووژل شول، موږ لا زیات او تیز پرمختګ ته اړتیا لرو.

د شخړو اړوند لورو ته، د تاوتریخوالي د کمېدو په برخه کې لا هم زموږ وړاندیز دوی ته په میز ایښی دی."

د طالبانو د ویاند ذبیح الله مجاهد لخوا لاندي خبرپاڼه خپره شوه.

**له امریکا سره د اسلامي امارت د مذاکراتو شپږم دور پای ته ورسید**

نن مازدیګر مهال د قطر هیواد مرکز دوحه کې د اسلامي امارت د استازو او د امریکایانو د مذاکراتي ټیم تر منځ د مذاکراتو شپږم پړاو پای ته ورسید.

په دې پړاو کې په تیرو مذاکراتو کې په ترتیب شوې مسوده بحث وشو، په ځینو برخو کې پرمختګ وشو او ځینې برخې یې لا پاتې دي.

په راتلونکي مذاکراتي غونډو کې به په پاتې مواردو هم بحث وشي.

د مذاکراتو شپږم پړاو په مجموع کې مثبت و، دواړو خواوو د یو بل نظریات په ښه حوصله سره واوریدل.

اوس به دواړه طرفونه تر بل پړاو پورې د اړوندو موضوعاتو او پرمختګونو په اړه غور او مشورې کوي او راتلونکي پړاوته به آمادګي نیسي.

ذبیح الله مجاهد د اسلامي امارت ویندوی
۱۴۴۰/۹/۴هـ ق
۱۳۹۸/۲/۱۹هـ ش ــ ۲۰۱۹/۵/۹م

د مئ پر ۱۰مه، غرمه مهال د طالبانو د قطر سیاسي دفتر ویاند سهیل شاهین د واټس آپ د لارې ما (لیکوال) ته وویل:"له امریکا سره د خبرو په لومړي پړاو کې پر دوو (له هیواده د بهرنیو پوځیانو بشپړ وتل او له افغان خاوري امریکا او نورو هیوادونو ته نه ګواښ) مسایلو د بحث خبره شوې وه، بیا وروسته هر پړاو کې امریکایانو پر دوه نورو (افغان حکومت سره خبرې او اوربند) مسایلو د بحث ټینګار هم کاوه.

موږ امریکایاتو ته وویل چې د افغانستان مسئله بهرنی او کورنی بُعد لري، راځئ اوس مو چې په بهرني بُعد باند خبرې پېل کړي، همدا پای ته ورسوو.

کورني اړخ زموږ افغانانو ترمنځ مسئله ده، او هغه به له افغانانو سره موږ ور باندي خبرې کوو، خو امریکایان لا هم وايې چې دا ۴ واړه مسایل یو له بل سره تړلي دي.

یعني امریکا غواړي چې د کورني او بهرنی اړخ اړوند مسایل همهاله مخ کې یوړل شي، موږ (طالبان) غواړو چې د بهرني اړخ اړوند پېل شوې مذاکرات پای ته ورسوو

او په جریان کې دادی له افغانانو سره مو په ماسکو کې خپلمنځي ناسته وکړه، او دوام ورکوو.

د خبرو پر مهال بله ستونزمنه مسئله د اصطلاحاتو (ترمینولوژي) کارول دي، چې پر دغو هم زیات وخت ووتی، مثلاً د افغانستان اسلامي امارت، د طالبانو اسلامي تحریک، د پوځیانو بشپړ وتل، د ټولو (امریکا/ناټو) پوځیانو په بشپړ ډول، داسي چې تر هیڅ کوم نوم لاندي بیا دوی دلته (هیواد) کې پاتې نه شي.

درېیمه ستونزمنه مسئله په راتلونکې کې په افغانستان کې د امریکا رول دی، موږ (طالبان) په راتلونکي کې د امریکا له ملکي شتون سره ستونزه نه لرو، مګر تر هر نوم او په هر عنوان د دوی له پوځي شتون سره مخالفت کوو، او په هیڅ ډول د ډولونو د دوی پوځي، لیږ یا ډیر استخباراتي شتون نه منو.

د خبرو پر مهال پر جزیاتو بحثونه کیږي، ځکه وخت زیات نیسي، تیر ځل (۲۵ فبروري تر ۱۲ مارچ ۲۰۱۹) امریکا یوه ترتیب شوې مسوده وړاندي کړه، خو موږ طالبانو له امریکا سره د مذاکراتو په جریان کې مسوده ترتیب او هغه مو ورته وسپارله، امریکایانو وویل چې دا به له خپلو مشرانو سره شریکه، او د هغوی نظرونه به هم ورباندي واخلي.

دا ځل (۱ مئ تر ۹ مئ ۲۰۱۹) د همهغې مسودې اړوند چې موږ ترتیب کړي وه، پر جزیاتو یې خبرې وشوې، او په جزیاتو کې په ځینو ټکو موافقه وشوه، او ځینې موارد لا هم پاتې دي. اوس به امریکایان، همدا ټکي چې موافقه ورباندي شوې، له خپلو مشرانو سره او موږ (طالبان) به یې هم له مشرانو سره شریکوو.

موږ نه غواړو چې په تیزي سره هر څه ومنل شي، ځکه دلته ۴۰ کاله جګړه شوي، او نه غواړو چې د خپل ولس ۴۰ کلنه قرباني مو ضایع شي، هر څه په دقت ګورو، خو ولس بیا په تنګ دی، ژر سوله غواړي.

ځینو هیوادونو ته د خلیلزاد سفر، ممکن دوی به خپلې اجنډاوي لري."

د مئ پر ۱۰مه، د دوحې مذاکراتو د ٦م پړاو اړوند د نعمت میوندي لاندي لیکنه خپره شوه، زما (لیکوال) په اند ممکن لیکوال سعید خوستی، او معلومات به یې ممکن د طالبانو د مذاکراتي ډلې له غړي مولوي امیرخان متقي څخه تر لاسه کړي وي.

## د دوحې مذاکرات کوم لور ته روان دي...!؟

لیکوال: نعمت میوند

د رواني میلادي/ مئ میاشتي پر لومړۍ نېټه د قطر پلازمېنه دوحه کې د امریکایی او طالب پلاوي ترمنځ د شپږم پړاو خبري اتري په داسي حال کې پیل شوي، چې تر وړاندي یې یو بل ته اخطاري ټویټونه هم سره تبادله شول، خلیل زاد ولیکل: "طالبان باید وسلې پرځمکه کښېږدي."

ذبیح الله مجاهد یې په ځواب کې ولیکل:" خلیلزاد دې له دې خوبونو تیر شي، طالبان وسلې ایښودلو ته تیار نه دي، په وینا یې د دې غوښتنې پرځای دې خلیل زاد، امریکا د خپلو ځواکونو ایستلو ته قانع کړي."

چې بیا یې په ځواب کې خلیلزاد نرم ټویټ وکړ او ویې لیکل:" امریکا هم د سولې لپاره وسلې ایښودلو ته تیاره ده" .

پرون مازیگر د مئ میاشتې پر ۹مه نیټه ذبیح الله مجاهد د یوې اعلامیې په خپرولو سره خبر ورکړ چې د شپږم پړاو دا مذاکراتي مجلس پای ته ورسید. نوموړي خوشبیني ښودلي وه چې گویا پر دوو مهمو موضوعگانو چي یو یې د امریکایي سرتیرو ایستل او بل د افغانستان د خاورې د بل چا پر ضد نه کاریدل دي؛ پرمختگ کړی دی.

دا چې دا پروسه اوس کوم لور ته روانه ده؛ او ولي دومره وروسته او مخ ته کیږي؛ په داسي حال کې چې هیوادوال څومره ورته تږي دي؛ په اړه به یې د ځنډ او خنډ څو عوامل د ترلاسه شویو مالوماتو په رڼا کې درسره شریک کړم:

**د ځنډ او خنډ عوامل یې:**

څرنگه چې دا مذاکرات د بندو دروازو ترشا روان دي، په اړه یې هیڅوک مالومات نه لري، د رسنیو له لارې فقط دومره خبرېږي چې د مذاکراتو بل پړاو پیل شو او بل پړاو یې پای ته ورسید. خبري وخت ډېر اخلي خو پرمختگ پکې لږ ترسترگو کیږي، د دې څو عوامل کیدای شي:

۱ - طالبان لکه څنگه چې په جگړه کې پرشا تگ نه مني، داسې ښکاري چې په سیاسي ډگر کې یې هم نړیوالو ته روښانه کړه چې له خپل موقف څخه به هیڅکله شا ته نه شي. په داسې حال کې چې امریکا غواړي ځان ته یوه داسې د اوړو پوزه جوړه کړي چې نړیوال ورته "ماتې خوړلې امریکا" ونه وایي. همدا لامل دی چې مذاکراتي مجالسو طول پیدا کړ.

۲ ـ د طالب او امریکا ترمنځ مذاکرات داسې نه دي لکه د حاکم او محکوم، چې تنها د زورور خبره به منل کیږي، د کابل حکومت او امریکا ترمنځ هم د امنیتي تړون پر سر خبري وشوي، خو هغه څه پکې لاسلیک شول، څه چې یوازې امریکا لیکلي و، د کابل ادارې ته یې نه وخت ورکړ او نه یې د نظر څرگندولو اجازه. مگر له طالب سره د خبرو اترو مسئله کاملاً متفاوته ده، ځکه یې پرمختگ ورو دی.

۳ - دا چې طالبان له یوې خوا د خپلو اسلامي ارزښتونو او ملي منافعو په رڼا کې پریکړې کوي، خو بل پلو د امریکا او نړیوالې ټولنې له نورمونو سره د ټکرونو د مخنیوی په لټه کې هم دي، چې دا نو یوې منځنۍ لارې ته اړتیا لري او دا منځنۍ لاره را ایستل آسان او د لږ وخت کار نه بریښي.

۴ - بله مهمه خبره دا ده چې مذاکراتي لوری که څه هم هر څومره واکمن او باصلاحیته وي، خو بیا هم مجبور دي چې وخت په وخت خپل پرمختگونه او چیلنجونه له خپلو مشرانو او اړونده مراجعو سره شریک کړي، او له هغوی څخه هدایات تر لاسه کړي.

۵ - له دې څخه پرته داسې ټکي هم شته چې طرفینو ته سره خطونه دي، مثلاً: طالبان دا نه مني چې د ترهگر یا ټروریست ټکی، چې تر اوسه یې ټول منلی تعریف نه دی

شوی؛ په مسوده کی په همدې نامه ځای کړي، هو د یوې معلومي ډلي نوم اخیستلای او په اړه یې د شرعي اصولو په رڼا کې موقف اعلانولای شي، خو طالبان وایې چې په دې اړه د امریکا خود ساخته تعبیرات نه شي منلای.

٦ - طالب لوری هڅه کوي چې داسی څه په مسوده کې ځای کړي چې په راتلونکي کې هم د امریکا د مداخلې مخه ډب کړي. د طالبانو یوې سرچینې وویل:" دغي مسئلې له موږ څخه ډېر وخت واخیست چې په جانب مقابل باندي په مسوده کې دا ډول عبارات ومنو" .

۷ - دا چې راتلونکی نظام به اسلامي وي، په کوم او د چا په تعبیر؟! دا هم هغه مسئله وه چې د وخت اخیستلو سبب شوه.

۸ - له امریکایي لوري سره په مسوده کې په شد او مد دا خبره ځایول چې د دوی ټول ائتلافیان، اتحادیان او قراردادیان، به د مسودې پابند وي، د طالب سرچینې په وینا دا د امریکایي لوري لپاره تر ټولو ستر کار و چې ډېر وخت یې ونیو، ځکه چې امریکا هم مجبوره وه تر څو خپل ائتلافیان په اعتماد کې کړي، او وکالت ترې واخلي چې په همدې موخه یې ډیري دروازې وټکولې.

۹ - د مذاکراتي پروسې څخه باخبري سرچینې وویل، چې تر ټولو مهمه خبره د امارت نوم و چې دا د امریکایي لوري لپاره خورا تریخ غړپ و چې بالآخره یې مجبوراً ومانه، البته په پوښ کې.

۱۰ - په مجموع کی یو قانوني لاسوند او مسوده تیارول او د عمل میدان ته را ایستل، او بیا یی بند پر بند له خپل سرسخت جانب مقابل سره چني وهل؛ طبعاً د ورځو یا اونیو نه؛ بلکې د میاشتو کار دی.

**د کتونکو ارزونه**:

ځیني کتونکي فکر کوي چې د مذاکراتي پروسې د ځنډ او خنډ علت دا هم دی چې امریکایان د مذاکراتو تر څنګ یوه بله نا اعلان شوې ستراتیژي هم پرمخ وړي، هغه داچې دوی هڅه کوي چې د شدید بمبار، شپنیو چاپو او وحشت له لاري یا

خو طالبان د سنګرونو څخه پر شا کړي او یا یې هم د مذاکراتو پر میز تر فشار لاندي ونیسي.

خو د کتونکو له نظره دا کار ځکه غیر منتج ثابت شوی چې د دې لپاره هم امریکا د ټرمپ د وروستۍ جنګي ستراتیژۍ په سلسله کې یو ضرب الاجل ټاکلی و چي په هغه ټاکلي وخت کي یې هیڅ کومه ملموسه نتیجه ترلاسه نه کړای شوه، نه یې طالبان له سنګرونو شاته کړل او نه یې د مذاکرې پر میز تر داسي اغیز لاندي راوستل چې خپلو غوښتنو منلو ته یې اړ کاندي،

برعکس د دغه وحشت له امله امریکا او ملګري یې هم په نړیواله کچه او هم په کورنۍ برخه کي له فشارونو سره مخ شول، په مخالفت کې یې د اکثریت رغونه راپورته شول، په افغان ولس کې کرکه نوره هم ورسره سِوا شوه، او په مقابل کي یې جهادي مقاومت په اتومات شکل، نور هم د ولسي ملاتړ له پلوه غښتلی شو، نو د دغه څرګند تاوان له کبله امریکایي چارواکي اوس مجبور دي چي د مسئلي اصلې او چټک حل ته به هرومرو غاړه ږدي.

ځکه چي نور د بې ګټې نظامي فشار لپاره مالي او ځاني مصارف کول بیځایه هڅه ده، او چټک حل ته به یې ځکه ترجیح ورکړي چې امریکا نوري نړۍ ته ځان داسي نشي ښودلای چي ګویا د امریکا په اند د (طالب) په شان یو کمزوري جهت سره په میاشتو میاشتو توافق ته نشي رسیدلای.

نو دې ته په کتو سړی ویلای شي چې ښایي امریکایان نور د وحشت له دغه آپشن څخه تېر شي، کوم چې یې د ضمني ستراتیژۍ په بڼه د مذاکراتو ترڅنګ روان کړی و، او د مذاکراتي پروسې د ځنډ یو بل عامل ګرځیدلی و.

له همدې ځایه ده چې د مذاکرې د شپږم پړاو له پای ته رسیدو څخه طرفین خوشبیني څرګندوي، که څه هم د مذاکراتو په جزیاتو د نا خبرتیا له امله په ولس کې یو ډول مایوسي محسوسیږي. پای

## د کای آیډې لیکنه

کای آیدې د ناروې هیواد اوسیدونکی او په افغانستان کې د ۲۰۰۸ ز کال څخه تر ۲۰۱۰ کال پورې د ملګرو ملتونو ځانګړې استازي او د ملګرو ملتونو استازولۍ UNAMA دفتر مشر و. د همده په وخت کې د افغانستان د ولسمشرۍ جنجالي ټاکنې (۲۰۰۹) وشوې، چې د ټاکنو پر سر د هغه وخت ولسمشر حامد کرزي او ډاکټر عبدالله عبدالله تر منځ ناندرۍ روانې وې، ډاکټر عبدالله د حامد کرزي لخوا د ټاکنو ګټل نه منل، دوېم پړاو ټاکنې یې غوښتلې، او بالاخره حامد کرزي د دوېم ځل ټاکنو اعلان وکړ، چې وروسته بیا ډاکټر عبدالله په شا شو، او د ټاکنو پایله د حامد کرزي په ګټه اعلان شوه. ویل کیږي ډاکټر غني ته هغه مصارف او لګښتونه ورکول شول چې د ټاکنو پر مهال یې کړي وو.

د کای آیډې Kai Eide لاندې لیکنه د مۍ پر ۸مه ۲۰۱۹، د طلوع نیوز ټلویزون ویب پاڼه (انګریزي برخه) کې خپره شوه[۱۰۷].

**آیا په افغانستان کې د سولې خبرې به له پېل مخکې له ناکامۍ سره مخ شي؟**

ایا د افغانستان د سولې بهیر وار له مخه له جدي ستونزې سره مخ دی؟ په دوحه کې د امریکایانو او طالبانو ترمنځ خبرې روانې دي، چې یو ښه کار دی. سولې او پخلاینې ته ځانګړې شوې لویه جرګه جوړه شوه خو ډیرو مخورو سیاستوالو تحریم کړه. په مسکو کې هم د افغان سیاستوالو یوې ډلې د فبرورۍ په میاشت کې له طالبانو سره د مذاکراتو د پیل په موخه غونډه وکړه خو د دې ډول خبرو اترو د دوام هڅې هغه وخت له ستونزې سره مخامخ شوې کله چې کابل د ۲۵۰ کسانو یو نه باور کیدونکی نوملړ وړاندې کړ. دا چې د دې ناکامۍ مسؤلیت د چا په غاړه دی، زه یې په اړه قضاوت کول نه غواړم.

[۱۰۷] د لیکنې پښتو ژباړه له نن ټکی آسیا ویب پاڼې څخه را اخیستل شوې.

حقیقت دا دی چې لا تر اوسه د افغانانو په مشرۍ او مالکیت خبرې نه دي پیل شوې او ۹ میاشتې کیږي چې امریکایي لورى له طالبانو سره له افغانستانه د خپلو پوځونو د وتلو په سر مذاکرات پیل کړي دي. د بین الافغاني مذاکراتو د نه پیل لامل یوازې دا نه دی چې طالبان لا تر اوسه افغان حکومت د یو مشروع حکومت په توګه په رسمیت نه پیژني. دا دومره ساده هم نه ده. که چیرې له طالبانو دا تمه ولرو چې ناڅاپي دې هغه حکومت چې له ۱۸ کلونو راهیسې ورسره په جګړه کې ښکیل دی په رسمیت وپیژني، دا به ډیره غیر واقع بینانه وي.

اوسنی په ټپه ولاړ حالت له دې امله هم رامنځته شوی دی چې افغان سیاسي لورى په دې نه دی توانیدلی چې یو حقیقي مذاکراتي ټیم جوړ کړي چې په ټولیزه توګه د افغان ټولنې استازولي وکړای شي. د ۲۵۰ کسانو د نوملړ وړاندې کول چې په دوحه کې له طالبانو سره کتنه ولري، د ستونزې اساسي اړخ را برسیره کوي. له بله پلوه د ولسمشرۍ را رواني ټاکنې ستونزه نوره هم پیچلې کوي او له ننګوونو سره یې مخامخ کړې ده. په خواشینۍ سره باید وویل شي چې د سولې بهیر د راتلونکو ټاکنو قرباني کیږي. که چیرې افغان سیاستوال دواړه بهیرونو ته په جلا نظر ونه ګوري، د سولې بهیر به له پیلیدو مخکې له بشپړې ناکامۍ سره مخامخ شي.

نو بیا د حل لاره څه ده؟ زما په اند دوه بنسټیز ځنډونه مهم دي چې باید له منځه یوړل شي.

تر ټولو لومړی، افغان حکومت باید نور دوحې ته د یو حکومتي پلاوی پر استولو ټینګار ونه کړي. ولسمشر غني کولای شي یو شمیر د اعتماد وړ کسان طالبانو سره د خبرو لپاره وټاکي، خو په پلاوي کې باید داسې کسان شتون ولري چې په ښه توګه د افغان ټولنې استازولي وکړای شي.

دویم، نور ټول لوري باید دا خبره ومني چې که په مذاکراتو کې ټول شاملیدل وغواړي نو واقعي مذاکرات ترسره کول به ناممکن شي. سترې غونډې لکه د مسکو ناسته، د بحث او خبرو اترو لپاره ګټورې دي خو که واقعي مذاکرات تر سره کیږي نو بیا کوچنی مذاکراتي پلاوی جوړول اړین دی.

پورته خبرو ته په کتو سره پایله دا شوه د اساسي مذاکراتو د پېل لپاره واقعیت پالنه او نظم یا ډسپلین ډېر مهم دي. پرته له دغه ډول واقعیت پالنې او ډسپلین څخه به هیڅکله د سولې واقعي بهیر شتون ونلري. بدترین حالت به هغه مهال رامنځته شي چې نړیواله ټولنه نوره د ستړتیا احساس وکړي او له افغان کشالې پښې وباسي.

زما په اند، په کابل کې ټول سیاسي اړخونه باید هڅه وکړي چې د یو څو کسانو پر کوچني ټیم چې ۱۰ تر ۱۵ کسان وي سره سلا شي. زه پر کسانو ځکه ټینګار کوم چې باید داسې وانګیرل شي چې دوی د یوې ډلې یا لوري استازولي هم نه کوي، بلکې د افغان ټولنې استازي دي. د بیلګې په توګه، په پلاوې کې باید د ښځو با مفهومه ګډون ته چې د خپلو اړوندو ادارو لخوا پیژندل شوي وي، هم پام وشي.

طالبان نه شي کولای دغه ډول پلاوي سره له کتلو مخ واړوي، په داسې حالت کې چې دغه پلاوی په مستقیمه توګه له حکومت او یا کوم بل سیاسي لوري څخه استازولي ونه کړي. څرګنده خبره ده چې د پلاوي هرغړی به یوې ادارې یا یو کس ته مسؤلیت لري او راپور به ورکوي. خو دا بیا په طالبانو پورې اړه نه لري چې نوموړي کسان چاته مسؤلیت لري او په چا پورې اړه لري.

هیله لرم چې دغه ډول واقعیت پالونکی چلند به مرسته وکړي چې د افغانانو ترمنځ د مذاکراتو د چمتووالي بهیر پیل شي.

زه موافق یم چې باید د ټولو خواوو حضور یقیني شي. خو دا موخه هغه مهال ترلاسه کیدای شي چې د راپور ورکوونې او همږغي منظم میکانیزم رامنځته شي.

سربیره پر دې، زه پر دې عقیده یم چې د سولې د بهیر لپاره د یو نړیوال استازي ټاکنه هم ډېره اړینه ده. که چیرې دغه ډول استازي د ملګرو ملتونو د امنیت شورا لخوا وټاکل شي نو بهتره به وي. د متحده آیالاتو مذاکره کوونکی، زلمی خلیلزاد نه شي کولای دغه رول ولوبوي. هغه د منازعې د یو اړخ استازولي کوي او هیڅکله بې طرفه نه شي پاتې کیدای. د نوموړي نړیوال استازي رول به د هرې ناستې آسانچاري تر سره کول، د اجنډا جوړول او د پریکړو راټولول او ورڅخه پایله اخیستل وي. سربیره پر دې، د ورته بهیر په دوران کې به داسې حالات هم رامنځته

شي چې پرته له شکه به خبرې له ماتیدو او په ټپه ولاړ حالات سره مخامخ شي. آسانچاری به بیا مرسته وکړي چې د دغه ډول خنډونو مخه ونیول شي او پرې برې حاصل شي.

څرګنده خبره ده چې دغه ډول نړیوال استازی باید داسې څوک وي چې ټول اړخونه ور باندې باور ولري او ټولو ته د منلو وړ وي. او دا هم مهمه ده چې دغه ډول نړیوال استازی باید طرفینو سره پیژندګلوي ولري او د افغانستان له موضوعاتو څخه پوره باخبره وي. وخت ډیر کم دی او د نوي کس ټاکل به پکې ممکن نه وي او ملګري ملتونه به هم و نه شي کړای چې د داسې یو شخصیت په لټه کې شي چې د ځانګړي هیواد تابعیت ولري او یا په کومې ځانګړې ادارې پورې اړه ولري. دا د تجربو وخت نه دی.

زما په اند، ډیره جدي ننګوونه د تشریفاتو او رسمیاتو او یا د وړ استازي نه موندل، نه ده، بلکې اساسي ننګوونه په افغان ټولنې پورې اړه لري. آیا دا به ممکنه وي چې پر یو کوچني مذاکراتي پلاوي سره سلا شي او واقعي مذاکرات ترسره شي؟ اوسمهال زه دومره خوشبینه نه یم. خو بله چاره همه نشته، که ټولې خواوې غواړي افغان جګړه پای ته ورسیږي او افغانانو ته یو سوله ییزه او هوسا ژوند برابر کړي، باید د غه ډول موافقه رامنځته شي. پای

## د پوټین او پمپیو لیدنه

د مئ پر ۱۴مه نیټه، د روسیې په سوچي ښار کې د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پمپیو د روسیې د بهرنیو چارو وزیر سرګې لاروف سره ولیدل، او دا رنګه یې د روسیې له ولسمشر پوټین سره لیدنه وشوه.

دوی د امریکا او روسیې د اړیکو په رغولو باندې بحثونه درلودل، همدارنګه یې د افغانستان سولې او افغان کشالې اړوند هم بحثونه وکړل.

پمپیو ویلي چې د افغانستان اړوند یې ډیر کارونه کړي، او د ترهګرۍ پر ضد به ګډ کار کوو.

پوټین ویلي چې افغانستان کې د حل لاره پیچلې ده، په کار ده چې مناسبه او د منلو وړ حل لاره د افغان کشالې د ختم لپاره پیدا شي.

امریکا ږغ راډیو د پوټین او پمپیو د لیدنې اړوند لاندې راپور خپور کړ:

په دغه لیدنه کې د روسیې ولسمشر د افغانستان د ستونزې حل «نسبتاً پېچلی» بللې او زیاته کړې یې ده چې د سولې خبرو په جریان کې د طالبانو دریځ د قوي کېدو په حال کې دی.

کرملین په یو بیان کې ویلي چې د روسیې ولسمشر په افغانستان کې د امریکا او روسیې ترمنځ د واک توازن یوه مهمه اړتیا بللې ده.

د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پمپیو په دغه کتنه کې ویلي:"زموږ ځینې همکارۍ ډېرې ښې وې، په ځانګړي ډول د شمالي کوریا او افغانستان په اړه، موږ له تروریزم سره د مبارزې په برخه کې ښه کارونه کړي دي".

کرملین همدارنګه د «مئ پر ۱۵مه» په خپاره شوي بیان کې د روسیې د ولسمشر پوټین د بهرنیو چارو سلاکار یوري اوشاکوف له قوله ویلي:"زموږ ولسمشر یادونه وکړه چې په افغانستان کې د جګړې سوله ییز حل یو څه پېچلی دی، ځکه دغه بهیر خپله ستوزمن دی، همدارنګه په دغه هېواد کې د طالبانو دریځ هم د قوي کېدو په

حال کې دی، نو په دې خاطر موږ اړتیا لرو چې د همکارۍ لپاره ګډ ګامونه پورته کړو چې په دغه سیمه کې یو متوازن واک ته ورسېږو."

د مئ پر ۲۸مه، خلیلزاد د ټویټ د لارې ځینې څرګندونې وکړې:"په دې وروستیو ورځو کې څو مبصرینو په افغانستان کې زموږ د لومړیتوبونو په اړه پوښتنې راولاړې کړي دي، د سولې یو بهیر چې پایله یې سیاسي هواری وي، لومړیتوب دی، افغانانو ته تر بل هرڅه سوله لومړیتوب لري.

له دې سره سره چې موږ د سولې لپاره چې افغانان یې مستحق دي هڅې کوو، باید د ټاکنو پلان هم پر مخ ولاړ شي[۱۰۸]."

د مئ پر ۱۸مه، په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو ویاند ډیو بټلر Dave Butler له ازادي راډیو سره ځانګړې مرکه کې وویل:"متحده ایالات، افغان حکومت او د افغانستان ټول خلک له طالبانو سره سولې ته تیار دي، خو دغه ډله پر جګړې ټینګار کوي.

طالبانو د سولې ردولو ته ادامه ورکړې، د افغانستان خلکو تل ویلي چې سوله غواړي، افغان امنیتي او د فاعي ځواکونه سوله غواړي او موږ هم پر سوله ټینګار کوو، خو طالبانو جګړې ته دوام ورکړی، موږ غواړو جګړه همدا نن ختمه او نه غواړو چې افغانان نور ووژل شي.

هره ورځ په دواړو لورو کې سلګونه افغانان وژل کېږي، خو اوس د طالبانو تلفات ډېر شوي دي. اوس هم جګړه روانه ده او افغان ځواکونه او طالبان یو د بل پر وړاندې په تهاجمي حالت کې دي.

---

[۱۰۸] د جنوبي او مرکزي اسیا لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړې استازې الیس ویلز د مئ پر ۱۲مه، کابل ته راغله او د ګډ حکومت له مشر ډاکټر غني سره یې د راتلونکو ولسمشرۍ ټاکنو په اړه بحثونه وکړل، هغې د خپل څو ورځني سفر په جریان کې له اجرائیه رئیس، راتلونکو ولسمشرۍ ټاکنو ته نوماند حنیف اتمر، استاد سیاف او ګڼو افغان سیاستوالو سره لیدنې درلودلې، او د افغانستان راتلونکو ولسمشرۍ ټاکنو په اړه یې بحثونه ورسره درلودل. دا ځل الیس ویلز ټول تمرکز په راتلونکي ولسمشرۍ ټاکنو کړی و.

که طالبان د سولې خبرې ونه مني، امریکایي ځواکونه به یې پروړاندې جنګ ته ادامه ورکړي".

په ورته وخت کې د افغانستان لپاره د جرمني هیواد ځانګړي استازي مارکس پوتزیل Markus Potzel په کابل کې د ګډ حکومت له مشر ډاکټر غني، له مخکېني ولسمشر حامد کرزي او نورو افغان سیاستوالو سره تر لېدنو وروسته د مئ پر ۱۸مه، بیاځل په دوحه کې له ملا برادر اخوند سره وکتل، او د افغانانو د راتلونکي خپلمنځي ناستې په اړه یې ورسره خبرې وشوې، په پام کې ده چې د افغانانو خپلمنځي ناستې د ترتیب او تنظیم لپاره، دا ځل د جرمني مسلکي کسان "برغوف بنسټ" د دوحې د شخړو او بشري مطالعاتو انسټیټوټ سره مرسته وکړي.

## د افغانستان لپاره د المان خاص استازي د اسلامي امارت له سیاسي مرستیال سره وکتل

د افغانستان د اسلامي امارت د سیاسي چارو مرستیال او د سیاسي دفتر رئیس محترم ملا عبدالغني برادر او ورسره هئیت یې د افغانستان لپاره د المان هیواد له خاص استازي مارکس پوتزیل او ورسره مل هئیت سره وکتل.

دغه کتنه د ۱۳/۹/۱۴۴۰ هـ ق چې د میلادي کال له ۱۸/۵/۲۰۱۹ نیټې سره سمون خوري په دوحه کې ترسره شوه.

دواړو خواوو د افغانستان په روانو حالاتو، د افغانستان د مسئلې د سوله ایز حل په بیلا بیلو اړخونو او په دې برخه کې د المان هیواد د هڅو په باره کې خبرې وکړې.

همداراز د المان هیواد خاص استازي د سولې په اړه د خپل هیواد د مثبت رول لوبولو اطمنان ورکړ او ټینګار یې وکړ چې په دې هکله به د اسلامي امارت سیاسي دفتر سره خپل تماس ته دوام ورکوي.

محمد سهیل شاهین، د اسلامي امارت د سیاسی دفتر ویاند

قطر هیواد کې له طالب مشرانو سره د نړۍ د مشرانو لېدنو دوام پیدا کړ، او د مئ پر ۲۱مه، د اروپايي ټولنې ځانګړي استازي په دوحه کې له ملا برادر اخوند سره ولېدل، په اړه يې د طالبانو د قطر دفتر وياند سهيل شاهين لخوا اعلاميه هم خپره شوه.

## د افغانستان لپاره د اروپايي اتحاديې خاص استازي د اسلامي امارت له سياسي مرستيال سره وکتل

د افغانستان لپاره د اروپايي اتحاديې خاص استازي "رولانډ کوبيا" د افغانستان د اسلامي امارت د سياسي چارو مرستيال او د سياسي دفتر رئيس محترم ملا عبدالغني برادر او ورسره هئيت سره وکتل.

دغه کتنه نن ورځ د قطر هيواد په مرکز دوحه کې ترسره شوه.

د اسلامي امارت سياسي مرستيال محترم ملا برادر د اروپايي اتحاديې خاص استازي سره د افغانستان په روانو حالاتو، له امريکايانو سره په مذاکراتو، په افغانستان کې د ملکي تلفاتو په مخنيوي او بشري مرستو خبرې وکړې.

له دې سربيره د اروپايي اتحاديې خاص استازي د افغانستان په هکله د اروپايي اتحاديې د پاليسي وضاحت وکړ او د ياد سازمان په نمايندګي يې په افغانستان کې د سولې په برخه کې د مثبت رول لوبولو اطمنان ورکړ.

نوموړي هيله څرګنده کړه چې په راتلونکي کې به هم د اسلامي امارت سياسي دفتر سره خپل تماس ته دوام ورکوي. سهيل شاهين

زما (ليکوال) له نظره چې د ځينو هيوادونو د استازو او نړيوالو ټولنو د مشرانو لېدنې له ملا برادر سره، د دې لپاره دي چې امريکا له بېلابېلو لارو پر طالبانو فشار راوړي، او له طالبانو وغواړي چې له افغان حکومت سره خبرو ته کيني، همدارنګه طالبان د ځينو هيوادونو د استازو او نړيوالو ادارو د مشرانو لخوا وهڅول شي چې اوربند ته غاړه کيږدي.[۱۰۹]

---

[۱۰۹] داچې د اوربند مسئله مهمه ده، زما (ليکوال) څخه د طالبانو د فرهنګي کميټې مرستيال مشر احمد الله وثيق وغوښتل چې د اوربند په اړه نظريات ورسره شريک کړم، داچې د احتمالي اوربند ګټې او تاوانونه به څه وي.

## خلیلزاد د امریکا کانګرس ته له طالبانو سره د مذاکراتو په اړه معلومات ورکړل

څه موده مخکې د کانګرس غړو د بهرنیو چارو وزیر مایک پمپیو ته لیک استولی وو او ورڅخه یې غوښتي وو چې ډاکټر خلیلزاد کانګرس ته ور ولیږي، تر څو له طالبانو سره د سولې د روانو مذاکراتو په اړه د کانګرس غړو ته معلومات ورکړي. د کانګرس غړو دا هم ویلي وو چې د طالبانو او امریکا ترمنځ د سولې خبرو کې روڼتیا "شفافیت" نشته.

د مئ پر **۲۲**مه، د افغانستان د سولې او بیا پخلاینې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو ځانګړي استازي زلمي خلیزاد د امریکا کانګرس غړو ته له طالبانو سره د سولې د مذاکراتو په اړه د تړلو دروازو تر شا معلومات ورکړل.

د امریکا د سنا د بهرنیو چارو د کمیټې مشر- جېم ریش وویل:"اصل مسئله دا ده چې څومره پرمختګ شوی دی او کله یوې حتمي نتیجې ته رسیدلی شي.

خلک غواړي ژر دغې مسئلې ته د حل لار پیدا کړي، ولي دا یوه ډېره پیچلې مسئله ده  او زه د نیوکو نیت نه لرم."

د نیو جرسي ایالت ډیموکراټ سناتور باب میننديز وویل:"د هر چا په ډول مونږ هم غواړو چې خپل عسکر بیرته خپلو کورونو ته راولو. خو دغه هدف ته مونږ څنګه رسیږو، دا ډېره مهمه ده".

سناتور منینديز وویل:"  امریکایي عسکر باید ژر تر ژره خپل وطن ته راستانه سي."

---

مګر په ټوله کې طالبان تر دې مهاله(مئ ۲۰۱۹) د اوربند لپاره هیڅ ډول لیوالتیا او تیاری نه لري.

د افغانستان په اړه د متحده ایالاتو د سنا د بهرنیو اړیکو د کمېټې په پټه استعماعیه غونډه کې د دې کمېټې د مهم ډیموکراټ غړي، باب مېنېنډیز، د وینا مهم ټکي:

"زه له افغانستانه د امریکایي عسکرو ژر تر ژره راوتل غواړم. د افغان جنګ ډېر اوږد سو، او زموږ عسکرو او ډیپلوماټانو زیاتي قرباني ورکړي دي. خو دا چې موږ څرنګه له افغانستانه راووځو، حیاتي اهمیت لري. که چیري یوه دایمي سوله قایمه نه شي، افغانستان به خامخا بیا د ۱۹۹۰مو کلونو په څېر یوې دوامداري انارشي ته ور ټېل وهي.

البته، زه شخصا دې مهم مقام ته د خلیلزاد د مقررېدو تود هرکلی کوم، او د سیاسي موافقې لپاره د هغه له هلو ځلو څخه کلک ملاتړ کوم.

اول، دا هم باید زیاته کړم چې د افغان کشالې سیاسي موافقه باید د ښځو او اقلیتونو په شمول د ټولو افغانانو بشري حقوق تضمین کړي. موږ پوهېږو هغه ټولني چې ښځو ته مساوات نه مني، هغوی همیش بې ثباته او د قانون حاکمیت په کښې کمزوری وی. د افغان سولې موافقه باید د ټولو افغانانو او اقلیتونو سیاسي غوښتني را ونغاړي. امریکا باید پر بین الافغاني مذاکراتو باندي ټینګار وکړي، او د دې مذاکراتو مادې او جهت ور تنظیم کړي. څرنګه چې امریکا د افغانستان په سیاسي او نظامي فضا کي یو مهم عنصر دی، له دي کبله، دا به نه منصفانه او نه به هم د منلو وي چې د افغان سیاستوالو څخه دا تمه وکړو چې خپل ټول خپلمنځي اختلافات زموږ له مرستي پرته فیصله کړي.

دوهم، دا څرګنده خبره ده چې طالبان د داعش مخالف دي، او هغوی خپل حریفان ګڼي. خو په افغانستان کي یوازي داعش فعال نه دي. هلته القاعده، لشکر طیبه، او د حقاني ډله هم فعالیت کوي. طالبان به د هغوی سره څرنګه چلن وکړي؟ حتی که چیري طالبان د دې سیاسي اراده هم

وکړي چې دا ډلې لـه افغانسـتان څخـه وباسي، ایـا طالبـان د دې قـدرت لـري؟ زه خپله شکمن یم.

دریـېم، اروپـا بایـد پـدې خـبرو کـې راګـډه سي. اروپایـانو پـه افغانسـتان کـې زموږ سره کومک کړی دی. موږ نه سو کولای چې اروپا حذف کړو.

محترم خلیلـزاد! زه غـواړم چې پـدې پـوه سـم چـې جمهـوررئیس ټرمـپ تـاسي تـه څـه ډول هـدایات درکـړي دي. زیـاتره خلـګ بـاور لـري چـې ټرمـپ غـواړي لـه افغانسـتان څخـه پوځیـان پـه چټکـې را وبـاسي، او همـدا مسئله بـل کـال د خپـل ځـان د بیـا انتخابېـدو لپـاره وکـاروي. ایـا ټرمـپ او د بهرنیـو چـارو وزارت تاسي ته کومه معلومه نیټه یا ضرب الاجل ټاکلي دی؟

ښـاغلی خلیلـزاد! د بهرنیـو چـارو وزارت غـواړي چـې د کابـل پـه سـفارت کـې خپـل مـامورین ۵۰سـلنه را کـم کـړي. البتـه کـه چیـري زه طالـب وای، مـا بـه لـه دې اقـدام څخـه داسي انګېـرلي وای چـې امریکایـان پـه هـر صـورت وځـي. تـاسي پـوهېږئ چـې مـذاکرات د زیګنـالونو او اشـارو هـنر دی. خـو پـدې وخت کې داسي زیګنال ور کول واقعاً یو حیرانونکی کار دی.

ښـاغلی خلیلـزاد! زه سـتا موفقیـت غـواړم. سـتا بـری د امریکـا کامیـابي ده. زه پـوهېږم چـې سـتاسي وظیفـه ډېـره مغلقـه او ګرانـه ده. خـو زه اندېښـمن یـم چـې جمهـور رئیـس ټرمـپ تـاسي تـه لازم او پـه کـافي انـدازه وخـت نـه دی در کـړی چـې یـوه دومـداره سـوله ترلاسـه کـړئ، ځرنګـه چـې تـه د وخـت لـه کمـوالي سره مخ یې، او د وخـت پـه تنګسیا کـې واقـع یې، زه هیلـه منـد یـم چې تـاسي پدې غونډه کې وکولای شئ چې زموږ یادو اندېښنو ته ځواب ووایست".

داچې خلیلـزاد د کـانګرس غـړو تـه د پټـو دراوز شـاته څـه وویـل، پـه اړه یـې نـه رسنیو، نه خلیلزاد او نه هم د کانګرس غړو ځرګندونې وکړې.

## د طالبانو د مشر د اختریز پیغام غټې ټکې

د جون پر اوله، د کوچني اختر په مناسبت د طالبانو د مشر شیخ هبة الله پیغام خپور شو، چې موږ یې له مذاکراتو سره تړلې ځینې مهم ټکي دلته را اخلو:

"بهرني اشغالګر که هرڅومره په خپل پوځي او تخنیکي قوت مغرور دي او د بېوزله افغانانو خلاف یې له وحشته ډک موقف نیولی؛ خو بیاهم د هغوی ټول پوځي غرور ستاسي د دفاعي مقدس جهاد په وړاندې په شکست محکوم شوی او ستاسي جهاد او تاریخي سرښندنې د دې لامل ګرځیدلې چې د هیواد د ټولو پوځي او سیاسي اقداماتو ابتکار اسلامي امارت تر لاسه کړي.

د دغه ابتکار په ترڅ کې که اسلامي امارت په جهادي جبهاتو کې فاتحانه عملیات ترسره کوي او که په سیاسي ډګر کې له امریکایانو سره د افغانستان د اشغال د خاتمې لپاره مذاکرات کوي د دې دواړو غرض او هدف د اشغال خاتمه او داسلامي نظام قیام دی.

بهرني یرغلګر او کورني ملګري یې د جګړې د ټولو قوانینو او اخلاقي مقرراتو خلاف په سخت وحشت سره زموږ په کلیو، بازارونو، جوماتونو، کلینیکونو، مدارسو او نورو ځایونو باندې داسې ړندې بمبارۍ او ظلمونه کوي، چې د بشر تاریخ یې مثال نه لري.

عام ولسي وګړي په شهادت رسوي، د کورونو پرېښودلو ته یې اړباسي، په نیمو شپو د خلکو شخصي حریم ماتوي، دروازې یې په بمونو الوزوي، ښځې او ماشومان له خواږه خوبه په وحشت سره را پاڅوي، د هیڅ ډول عزت خیال یې نه ساتي، نارینه یې د ښځینه وو، خویندو میندو په وړاندې په بې رحمانه ډول په شهادت رسوي.

په زرګونو افغانان په زندانونو کې په شکنجو ځوروي، د کابل ادارې له وحشي زندانونو څخه د سختو او نامساعدو شرایطو له وجې د یو شمېر مظلومو بندیانو د شهادت خبرونه را رسیږي، حتی په دا وروستیو کې یې په زندانونو کې په بې وسلې او لاس تړلو بندیانو مرمۍ و اوورولې، چې پر مظلومو زندانیانو ډزې کول د جنګي جنایت تر څنګ ستره بزدلي او نامردي هم ده.

اسلامي امارت د خپل اصولي دريځ او سوله ييزې تګلارې له مخې په دې توانيدلی چې د افغانستان د ګاونډ او سيمه ييزه اجماع د ځان کړي، په مسکو کې د افغانستان د ګاونډيانو په ګډون د ۱۲ هيوادونو لومړی کانفرانس، د اسلامي امارت له سياسي استازيو سره د نړۍ د هيوادونو اړيکې او د هغوی د سياسي لوړ پوړو چارواکو رسمي ليدنې کتنې او د بين الافغاني تفاهم په سلسله کې غونډې او تماسونه زموږ د خبرې ښکاره ثبوت دی.

د کابل اداره هڅه کوي د خپل ځان په مطرح کولو سره د اسلامي امارت او افغان سياسيونو د تفاهم مخه ډب کړي، چې دې بې ګټو هڅو او د بين الافغاني تفاهم په مخ کې سياسي مزاحمت ته يې اسلامي امارت هيڅ اعتناء نه کوي.

سلامي امارت د واک انحصار نه غواړي، موږ پر دې باور يو چې ټول افغانان به په ريښتيني توګه په نظام کې خپل ځان ويني.

د موجوده بنسټونو په برخه کې به اسلامي امارت د اصلاح او سمون له لارې داسلامي اصولو په رڼاکې د آينده افغانستان لپاره مثبت کار واخلي.

**د بهرني سياست په اړه:**

د اسلامي امارت په اند د يوه سوله ييز افغانستان وضعيت دا ايجابوي چې دلته نور له خارجي اشغال نه خلاص يو داسې افغانستان وجود ولري چې نه يې څوک خپلواکي او حريت نقض کړي او نه يې هم ځمکه او فضا د بل چا په ضرر وکاريږي.

اسلامي امارت د ټولې نړۍ او خاصتا د سيمې له هيوادو سره په مثبتو اړيکو باور لري او له ګاونډيانو سره د ښه ګاونډيتوب اصولو ته ژمن دی؛ خو امريکا او په کابل کې د هغوی تپل شوې اداره دلته د جګړې د غځولو، قومي، سمتي او سياسي تعصباتو را پارولو له لارې دا هڅه کوي ترڅو زموږ هيواد د ټولې سيمې او ګاونډيانو په وړاندې د يو سنګر په حيث وکاروي، فتنه ګرې ډلې راپيدا او تقويه کړي، خو لله الحمد د مجاهدينو په وړاندې فتنه او فتنه ګره مفسده ډله له شکست سره مخ او مغرور امريکايي جنرالان او داخلي ملګري يې د افغان ولس جهادي عظمت ته سر ټيټي شوي دي.

**د مذاکراتو په هکله:**

اسلامي امارت د خپل سوله ییز موقف له مخې امریکایي لوري ته بلنه ورکوي چې د تعقُل او تفاهم موقف غوره کړي، په مذاکراتي بهیر کې په صادقانه ډول سهیم و اوسي او د دې بهیر د تحرک لپاره د اسلامي امارت معقولې طرحې ومني.

اسلامي امارت غواړي چې په ګران هیواد کې د افغانانو د خوښې یو خپلواک، اسلامي، او افغان شموله نظام حاکم شي، همدې هدف ته د رسیدو لپاره مو د مسلح جهاد ترڅنګ د تفاهم او مذاکراتو دروازه هم پرانیستې پرېښې ده، چې همدا اوس له امریکایي لوري سره د اسلامي امارت د سیاسي دفتر له طریقه د مذاکراتي ټیم په وسیله د تفاهم سلسله جریان لري، الله تعالی ته سوال کوو چې هیوادوال یې د ښو پایلو شاهدان و اوسي.

په دې خبره باید دوست او دښمن پوه شي چې موږ په سیاسي تعاملاتو کې پر دوه مخي سیاست هیڅ ډول باور نه لرو، د مذاکراتو په پلمه وقت تلفي، تر پردې لاندې سازشونه او دوه ګونی چلند مو نه خوښ دی او نه یې د بریالیتوب لار بولو.

هیڅوک دې داتمه نه راڅخه کوي چې خپل هدف ته تر رسیدو مخکې به د جهاد ګرم سنګرونه ساړه او څلویښت کلنې قربانۍ هیرې کړو.

له امریکایانو سره د مذاکراتو ترڅنګ مو د بین الأفغاني تفاهم په برخه کې هم کافي پرمختګ کړی اونور به هم وشي ان شاء الله، ترڅو خواخوږي او د وطن په درد دردمن افغانان وکولای شي له اشغال څخه تر خلاصون وروسته خپلمنځي ټولې ستونزې په تفاهم سره حل وفصل کړي.

**ولس ته:**

اسلامي امارت به د معیاري (دیني او عصري) تعلیم، کار، تجارت، ترقي ، آبادۍ اوپه ټولو اجتماعي برخو کې د پرمختګ زمینه سازي کوي، ځکه دا د افغانانو بنیادي حق او زموږ د ټولنې د رفا او کامیابي لپاره حیاتي او لازمي اړتیا ده.

اسلامي امارت همدا اوس ټولو مجاهدینو ته ځانګړي هدایات کړي چې د عام المنفعه پروژو ساتنې، پالنې او پرمختګ ته خاصه توجه وکړي" .

د جون پر ۲مه خیلزاد د طالبانو د مشر شیخ هبة الله د کوچني اختر د پیغام په جواب کې ولیکل:"د طالبانو د مشر د اختر پیغام د افغان د سولې د بهیر اړوند ځینې ښه ټکي له ځان سره لري، په پیغام کې له افغانانو سره د بین الافغاني مذاکراتو اړوند لیوالتیا لېدل کیږي، او د واک د وېش خبره هم پکې شوي، دا ټول ښه ټکي دي.

له دې سره په پیغام کې جنګې ژبه کارول اړینه نه وه، موږ د سولې بهیر پر مخ وړو، په داسې حال کې چې د سولې خبرې روانې دي د طالبانو تُنده لهجه به روانې خبرې پیچلې او له خنډ سره مخامخ کړي.

د طالبانو پیغام کې راغلي چې امریکا د تاوتریخوالي هڅه کوي، موږ تاوتریخوالی نه غواړو، په افغانستان کې د تاوتریخووالي کچه د منلو نه ده او موږ نه غواړو چې تاوتریخوالی نور هم زیات شي.

راشئ پر داسې لارو چارو کار وکړو چې تاوتریخوالی ورسره کم شي او افغان وژنه هم پای ته ورسېږي."



شیخ هبةالله اخوندزاده

## د خلیلزاد اووم سفر

د ۲۰۱۹ جون په لومړۍ نیټه خلیلزاد ولیکل:" په واشنګټن کي وروسته له دوو هفتو څخه ما یو ځل بیا خپل سفرونه پیل کړل. موږ په تېره میاشت کي د پام وړ پرمختګ وکړ. پدې اوسني پړاو کي، زه غواړم چي د افغان د سولي پروسه چټکه او پیاوړې کړم.

زه غواړم چي (الف): د سولي لپاره سیمه ایز او بین المللي هڅي سره راجمع کړم، (ب): زه غواړم چي د سولي د موافقې د چوکاټ دوه مهم مسایل پای ته ورسوم. موږ پر مخ روان یو. زه خوشبین یم؛ البته بشپړ موفقیت د دې تقاضا کوي چي د دې موافقې نور غړي هم انعطاف وښیي. پر هیڅ شي به موافقه و نه شي، تر څو پر ټولو موافقه نه وي سوې .

په خاص ډول، لوموړی به، د سولې لپاره سیمه ییز او نړیوال ملاتړ راجلب کړم، د سولې طرحې لومړنیو دوو برخو د بشپړولو هڅه به وکړم، زه هیله من یم، کامیابۍ ته رسېدو لپاره اړتیا ده چې نورې غاړې نرمښت وکړي".

په همدې ورځ د امریکا د بهرنیو چارو وزرات لخوا خپره شوې خبرپاڼه کې لیکل شوې و:" د افغانستان د سولې او بیا پخلاینې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړی استازي زلمی خلیلزاد د مئ له ۳۱مې د جون تر ۱۶مې افغانستان، بلجیم، جرمني، پاکستان، قطر او متحده عرب اماراتو ته سفر کوي، تر څو د سولې برخه او افغان کشالې د پای ته رسېدو لپاره زمینه مساعده کړي. افغانستان کې به له بېلابېلو سیاسي څېرو، مدني ټولنو او چاروکو سره افغان سولې ته د رسېدو اړوند، او په نورو هیوادو کې د لېدنو پر مهال به هڅه وکړي چې نړیوال ملاتړ د افغان سولې برخه کې تر لاسه شي."

خلیلزاد خپل سفر له پاکستان څخه را پیل او د جون پر دوېمه ورځ یې اسلام اباد کې د پاکستان لومړي وزیر عمران خان، د بهرنیو چارو له وزیر شاه محمود قریشي، د پوځ له مشر جنرال قمر جاوید باجوه سره پر افغان سوله خبرې وکړي.

د جون پر ۳مه خلیلزاد ولیکل:"اسلام اباد کې ۲۴ ساعته ګټور وخت موږ درلود، پاکستاني چارواکو ته مې د تیرې میاشتي د پرمختګونو اړوند معلومات ورکړل، پر دي مو بحث وکړ چې پاکستان د سولې خبرو د لا ښه پرمختګ لپاره څه کولای

شي. د افغان سولې بهیر کې د پاکستان مرسته د سیمې په کچه گټې لري او دارنگه د پاکستان او امریکا ترمنځ قوي اړیکې جوړولای شي."

د جون پر ۴مه خلیلزاد ولیکل:"برلین کې مې له جرمني چارواکو؛ د جرمني د ملي امنیت او بهرنیو چارو له سلاکار جان هیکیر، د بهرنیو چارو له مرستیال وزیر اندریاس او د افغانستان لپاره د جرمني له ځانگړي استازي مارکوس پوتزیل سره، تر بُن کنفرانس (۲۰۰۱ز کال) وروسته پر لاسته راوړنو او په افغانستان کې تلپاتې سولې ته د رسېدو پر لارو چارو دوه ورځې خبرې وکړې.

المان د افغان سولې په اړه د امریکا ـ اروپا د دوهمې غونډې کوربه و، د سولې بهیر په اړه د معلوماتو تر شریکولو وروسته، موږ د اوسلو د راتلونکې غونډې او د المان او قطر په کوربتوب راتلونکې بین الافغاني خبرې وڅېړلې، زموږ تمرکز پر بین الافغاني خبرو وو چې د یوې سیاسي نقشې حل لارې ته ورسېږو او دا چې د ژر تر سره کولو لپاره یې څوک څه کولای شي او کوم کار کولای شي".

د افغانستان لپاره د اروپايي ټولنې ځانگړې استازي رولانډ کوبیا هم پر خپل ټویټر ولیکل:"نن په برلین کي د اروپایي او امریکایي استازو تر منځ غونډه وشوه، موږ د افغانستان د سولې اړوند مسایلو باندي بحث وکړ، بین الافغاني مذاکرات لومړیتوب لري، ولې ډېر نور کارونه لا مخته پراته دي، که چیري ټول اړخونه، افغانان او نړیواله ټولنه له ژور فکر څخه کار واخلي او نرمښت وښیې، بیا نو د افغانستان د تلپاتي سولي لپاره تمه شته."

د جون ۵مه مایک پمپیو له واشنگټن پوسټ ورځپاڼې سره په خبرو کې وویل:" له طالبانو سره د سولې مذاکراتو برخه کې په کابل کې زموږ سفیر (جان باس) په منظم ډول ډاکټر اشرف غني ته معلومات ورکوي. دا خبرې رښتیا نه دي چې ډاکټر غني د سولې له خبرو څخه څنډې ته شوی[110].

[110] کورنیو او بهرنیو رسنیو راپور ورکاوه چې له طالبانو سره د امریکا د مذاکراتو جزیات، د امریکایي پلاوي له لوري له ډاکټر غني سره نه شریکیږي، او ډاکټر غني د مذاکراتو له

ولسمشر ټرمپ غواړي له افغانستان څخه پوځیان را وباسي، هغه د امریکا ټولو اړوند ادارو ته لارښوونه کړې چې د امریکایي پوځیانو په را ایستلو کې خپله دنده په ښه ډول سر ته ورسوي. همدې موخې ته د رسېدو لپاره خلیلزاد کار کوي."

د جون پر ۵مه د ناټو غړو هیوادونو عمومي سرمنشي سټولټنبرګ ولیکل:" د ناټو ۴۴ غړي او ادارې د زلمي خلیلزاد د سولې له هڅو څخه ملاتړ کوي، او په دې برخه کې د ښه پرمختګ تمه کیږي. "

خلیلزاد ولیکل:"د ناټو منشي سټولټنبرګ ته مې لنډ معلومات ورکړل، د دوی له ملاتړ څخه مننه کوم، موږ (امریکا) او ناټو یو ځای (افغانستان) ته راغلي یو، او په ګډه به په افغانستان کې د شتون په اړه پریکړه کوو، که موږ له (افغانستان) څخه وځو، په ګډه به ټول وځو."

د جون ٦مه، خلیلزاد ولیکل:"د اروپایي ټولنې له استازي میرمن فیدریکا موګ سره مې ولیدل، موږ پر دې موافق یو چې سوله لومړیتوب ده، څه ډول بین الافغاني مذاکرات ښه پر مخ ولاړ شي، او څه ډول د سیمې په کچه اقتصادي پرمختګ وشي. زه له افغانستان سره د اروپایي ټولنې د اوږدې مودې لپاره ژمن پاتې کېدو مننه کوم."

د جون پر ٦مه، د امریکا د کانګرس ۷۵ سناتورانو د امریکا د بهرنیو چارو وزیر ته لیکلي وو چې له طالبانو سره د سولې مذاکراتو کې د ښځو ګډون ته جدي پاملرنه وکړي، او د میرمنو د حقونو د خوندیتوب ضمانت دې په پام کې ونیول شي. او د افغانستان د راتلونکي په اړه دې هم د میرمنو رږغ واورېدل شي[۱۱۱].

---

جریان څخه ناخبره ساتل کیږي. له همدې کبله ډاکټر غني د روانو مذاکراتو له جریان څخه خوښ نه دی.

[۱۱۱] د افغانستان په رسنیو کې په تکرار سره ځینو لویدیځ پلوه میرمنو ویل چې له طالبانو سره په مذاکراتو کې دې امریکا د افغان میرمنو پر حقونه خبرې وکړي، که له طالبانو سره د امریکا لخوا توافق کیږي او د میرمنو د حقونو اړوند ۱۸کلني لاسته راوړنې په نظر کې نه نیول کیږي، موږ ته دغه ډول تړون د منلو نه دی.

د جون پر ۸مه، د طالبانو د قطر د سیاسي دفتر ویاند سهیل شاهین عرب نیوز سره په مرکه کې ویلي و:"د بهرنیو پوځیانو د وتلو پریکړه باید امریکا وکړي، د اووم پړاو خبرو کې به د بهرنیو ځواکونو د وتلو مسئله ډیره مهمه وي، تر څو د امریکا لخوا د خپلو ځواکونو د وتلو مهالویش تعین او اعلان شي، موږ به امریکا ته ضمانت ورکوو چې د افغانستان خاوره به د هیچا پر ضد په راتلونکي کې ونه کارول شي."

د جون ۹مه ۲۰۱۹، خلیلزاد کابل ته راورسید، له ډاکټر اشرف غني او چارواکو سره یې ماښام مهال ولیدل، د جون پر ۱۱مه یې له حامد کرزي او نورو افغان سیاستوالو سره لیدنې وکړې.

په کابل کې د امریکا سفارت کابل ته د خلیلزاد د راتګ په اړه اعلامیه خپره او لیکلي یې وو:"د افغانستان لپاره د بیا پخلاینې ځانګړی استازی سفیر خلیلزاد کابل ته را ورسید، هغه به د ګډ حکومت له مشرانو، سیاسي رهبرانو، مدني او میرمنو ټولنو له استازو سره د امریکا د سولې بهیر لاسته راوړنو باندې وږغیږي، وروسته به هغه اسلام اباد، برلین او برسلز ته ولاړ شي.

څرنګه چې د سولې خبرې یو ډیر نازک حالت ته رسیدلې، د سولې په خبرو کې به ډیر نور افغانان هم را ګډ کړل شي، تر څو د خبرو نتیجه کې وکولای شي چې تلپاتې سولې ته ورسیږي. خلیلزاد به د بېلابیلو ټولنو له استازو، ځوانانو، محصلینو، سوداګرو میرمنو، چارواکو او دیني علمانو سره ووینې[۱۱۲]."

همدارنګه خلیلزاد ولیکل:"له ډاکټر غني سره موږ ښه مجلس درلود، د سولې اړوند موږ رغونکی بحث وکړ، د سیمې په کچه د سولې برخه کې اړتیاوې، او پر افغان سوله یې اغیز، د افغانستان او پاکستان تر منځ اوسنی مثبت پرمختګ او ښې اړیکې

داسې ښکاریده چې ځینې میرمنې د افغان حکومت او ځینو سفارتونو لخوا هڅول کیدې چې په ټلویزوني بحثونو کې ګډون وکړي، او طالبان د میرمنو د حقونو په نه ورکولو سره ونګوي.

[۱۱۲]https://af.usembassy.gov/visit-of-special-representative-for-afghanistan-reconciliation-zalmay-khalilzad/

یو ښه فرصت دی، تر څو وتوانیږو چې د سیمې سره تړلو مسایلو کې هم ښه پرمختګ وشي."

د جون پر لسمه خلیلزاد د افغان میرمنو غونډه کې برخه واخیستله او ویې لیکل:"د افغان مخښکه سیاستوالو او دولتي میرمنو سره مو د افغان سولې اړوند نظریاتو تبادله وشوه، د افغان میرمنو لاسته راوړنو او د راتلونکي په اړه یې اندیښنو باندي بحث وشو، د امریکا تګلاره دا ده چې میرمني باید بین الافغاني مذاکراتو کې برخه ولري.
"

د جون پر ۱۱مه، خلیلزاد مزار شریف ته ولاړ، هلته یې د حزب وحدت مردم افغانستان له مشر استاد محمد محقق او د بلخ پخواني والي او د جمعیت اسلامي اجرائیوي مشر استاد عطامحمد نور، ځینو میرمنو او نظامي چارواکو سره ولیدل.

د ملا برادر اخوند په مشرۍ د طالبانو لوړ پوړي پلاوي د جون پر دویمه، د کوچني اختر په لومړي ورځ ایران ته نااعلان شوی سفر وکړ، د ایران د بهرنیو چارو له مرستیال وزیر، همدرانګه د ایران د بهرنیو چارو له لوړ پوړو چارواکو سره یې د افغان سولې، له ایران سره په راتلونکې کي د اړیکو، او د امریکا – طالبانو د تړون اړوند د ایران د اندیښنو په اړه خبرې وکړی.

د جون پر ۱۱مه هم د ملا برادار اخوند په مشرۍ، د طالبانو جګپوړی پلاوي چین ته نااعلان شوی سفر وکړ، او هلته یې د چین د بهرنیو چارو مرستیال وزیر او لوړ پوړو چینایې چارواکو سره د افغانستان د سولې په تړاو خبرې وکړي. دواړو لورو په راتلونکې کې د افغان – چین په اړیکو هم بحثونه او د دواړو هیوادو ترمنځ د ښو ډیپلوماټیکو او اقتصادي اړیکو پر اړتیا بحثونه درلودل.

## له کورنیو رسنیو سره د خلیلزاد مرکې

خلیلزاد په مزار شریف کې د جون پر ۱۳مه، د عطامحمد نور اړوند خصوصي **ټلویزون ارزو** سره مرکه وکړه، د مرکې مهمې برخې یې په لاندي ډول دي:

د خبرو په تیرو پړاونو کې یوې قانع کوونکي پایلې ته رسیدلي یو، زموږ غوښتنه وه چې طالبان له نړیوالي ترهګري سره اړیکې پرې کړي، او ترهګر پرې نه ږدي چې د دوی تر واک لاندي سیمو څخه د نړۍ پر ضد کړنې وکړي، په دې برخه کې توافق شوی.

راتلونکې ناسته کې په پاتې نورو درېو مسایلو باندي بحث کوو، په افغانستان کې د بهرنیو پوځیانو شتون، د بین الافغاني مذاکاراتو پیل کېدل او اوربند.

مخکې له دې چې له طالبانو سره خبرې پیل کړو، موږ پوهیدو چې د بهرنیو پوځیانو شتون په افغانستان کې د طالبانو لپاره یوه حیاتي موضوع، او د طالبانو غوښتنه ده چې له افغانستان څخه ووځي، تر دې مهاله د ځواکونو د وتلو پر مهالویش باندي توافق ته نه یو رسیدلي.

داچې په لومړۍ مسئله زموږ او طالبانو ترمنځ توافق وشو، هغه مهمه مسئله وه، دوېیمه مسئله د بهرنیو ځواکونو شتون په اړه هم توافق ممکن دی.

څکه طالبانو ومنله چې د دوی تر واک لاندې سیمو کې ترهګرو ته ځای ورنه کړي، هغوی ته به د خلکو د جلب او جذب اجازه نه ورکوي، او دا اجازه به هم نه ورکوي چې دلته نظامي تمرینات وکړي او پیسې را ټولې کړي، دې مسئلې ډیر وخت ونیو، طالبانو ته سخته وه، خو ښه پریکړه یې وکړه.

موږ د یادو مسایلو عملي کېدو ته منتظر یو، عملي کېدل هغه وخت پیل کیږي چې پر ټولو ۴ واړه مسایلو باندی موافقه وشي.

ما (خلیلزاد) هر وخت ویلي چې په هیڅ مسئله وروستۍ موافقه نه کیږي تر څو په ټولو ۴ واړه مسایلو موافقه نه وي شوې.

امریکا افغانستان ته پر شرایطو راغلي او د شرایطو له مخې به وځي، زموږ هدف دلته دایمې پاتې کېدل او دایمي حضور نه دی، که له افغانستان څخه امریکا او نړۍ ته ګواښ نه وي، که افغانستان ونه غواړي، لکه څرنګه چې طالبان وایي چې بهرني پوځیان دلته نه غواړي، امریکا حاضره ده چې خپل پوځیان له افغانستان څخه وباسي.

امریکا د اسلامي امارت په نوم کوم څه په رسمیت نه پېژني، موږ غواړو چې راتلونکې کې له افغانستان سره سیاسي، امنیتي او تجارتي اړیکې ولرو، مګر داچې د امریکایي پوځیانو شتون، چې په هر ډول وي، دلته به وي؛ دا د امریکا مستقل هدف نه دی.

هغه څه چې په امریکا پورې اړه لري، د ځواکونو د وتلو مهالویش دی، موږ تمه لرو چې ژر یوې موافقې ته ورسیږو، او دا په طالبانو پورې هم اړه لري چې څومره منطقي او عملي موقف به نیسي[۱۱۳].

په قطر کې د افغانانو دخپلمنځي خبرو د اسانتیاو برخه کې المان حاضر شوی چې مرسته وکړي، همدارنګه کیدای شي په راتلونکې کې د بین الافغاني مذاکراتو د کوربتوب لپاره نور هیوادونه هم حاضر شي، او ځینې د درېیمګړي رول ولوبوي، موږ هم مرستې ته حاضر یو.

طالبانو ویلي چې له افغانانو سره د خپلمنځي ناستو پر مهال به لومړی موضوع د اوربند وي چې بحث ورباندې وکړي، موږ هم هڅه کوو چې سولې ته له ولسمشرۍ ټاکنو وړاندې ورسیږو.

---

[۱۱۳] د بهرنیو ځواکونو د وتلو د مهالویش اړوند د طالبانو غوښتنه دا وه چې څومره ژر کیدای شي امریکایي او ناټو ځواکونه له افغانستان څخه ووځي، امریکایانو غوښتل چې په درې کلونو کې د بهرنیو ځواکونو پر وتلو له طالبانو سره توافق ته ورسیږي.
لومړي سر کې طالبانو درې میاشتې، وروسته ٦ میاشتې، بالاخره ۹ میاشتې او بیا یو کال ته، د مذاکارتو په بېلابېلو پړاونو کې یې له امریکایي لوري سره خبرو کې پرمختګ وکړ، بالاخره د بهرنیو ځواکونو د وتلو لپاره پر ۱۴ میاشتې مهالویش باندی دواړه لوري لومړنی توافق ته په اتم پړاو خبرو او په دې اړه نهایي پریکړې ته نهم پړاو خبرو کې ورسېدل.

د افغانستان ۴۰ کلنه جګړه ډېرې ستونزې او بېلابېل اړخونه لري، نه یوازې کورنۍ بُعد، سیمئیز او نړیوال بُعد هم لري.

له همدې امله ده چې د سیمې او نړۍ له هیوادو سره هم زه د افغانستان سولې په تړاو غونډې لرم، او موږ د سولې ملاتړ لپاره د نړیوالي اجماع برخه کې پرمختګ کړی دی.

د اروپا او امریکا لخوا یوه ډله (ګروپ) د سولې په ملاتړ جوړه شوي، د روسیې او چین سره هم په دي برخه کې تفاهم ته رسیدلي یو، اوس هڅه کوو چې د سیمې هیوادونه هم په دي برخه کې را سره ملګري کړو.

ولسمشر ټرمپ او زه (خلیلزاد) بیړه لرو، سخته وه چې په ٦ میاشتې کې دا ټولې ستونزې حل شي، او ٦ میاشتي کافي وخت نه و[۱۱٤]. افغان باید حوصله وکړي، زه هم ډیره بیړه لرم.

د طالبانو مذاکراتي ډله هم له خپله اړخه له مشکلاتو سره مخ ده، هغوی ته هم د سولې بهیر مذاکرات سخت دی، هغه څه چې دوی پخوا کړي، کومې ستونزې چې خپل منځ کې لري، په داخل کې نظامي قومندانان، د کویټې ، پېښور او نورې شوراګانې، هغه نظامي او د سیمې فشارونه چې په دوی دي، او سېمه چې له دوی سره مرسته کوي، حتماً له دوی غوښتنې هم لري.

دا ډول د دواړو لورو (امریکا او طالبانو) تر منځ باور هم نشته، سمه ده چې د سولې خبرې یو له بل سره کوو، خو هممهاله یو له بل سره جګړه هم دوام لري.

څو ځله مې طالبانو ته وړاندیز کړی چې راځئ جګړه لږ او اوربند وکړو، مګر هغوی ته سخته وه چې ویې مني، فکر کوي چې جګړه د دوی د فشار یوازینۍ آله ده.
د طالبانو لپاره هم اسانه نه ده، له بلې خوا د دې لپاره چې سولې ته حاضر شي، موږ هم پر دوی په بعضې مواردو کې فشارونه زیاتوو، ماسکو کې طالبانو د ناستې پر مهال شکایت کړی و چې جګړې شدت پیدا کړي[۱۱۵].

---

[۱۱٤] د ټرمپ لخوا د افغان سولې لپاره خلیلزاد ته ٦ میاشتي وخت ټاکل شوی و.

[۱۱۵] ماسکو کې طالبانو وویل چې شپنۍ چاپې او بمبارد زیات شوي چې له امله یې ډیره مرګ ژوبله بې ګناه ملکي کسانو ته اوړي.

که طالبان سولې ته چمتو شي، موږ د دې لیواله یو چې سوله وشی، جګړه پای ته ورسیږي.

ملا برادر چې په قطر کې د طالبانو مشر ټاکل شوی، پر طالبانو ډېر نفوذ لرونکی کس دی، طالبان ډېر احترام ورته لري، او داسي څوک دی چې له ملامحمد عمر سره یو ځای یې د طالبانو تحریک پیل، داسي څوک دي چې د جګړې په لیکو کې یې هم رول درلود، اوس دادی په سیاست کې هم رول لري، ملا محمد عمر هغه خپل ځای ناستي ټاکلی و، هغه ډېر وزن لري. داچې د سولې لیواله و، د پاکستان لخوا یې د بند پر مهال زجر لیدلی[۱۱۶].

زه باور لرم چې د ملا برادر په مشري، د طالبانو په استازولي له یو ه قوي او صلاحیت لرونکي مذاکراتي ډلې سره مذاکرات لرو.

په سیمه کې ځینې هیوادونه د طالبانو طرفدار دي[۱۱۷]، او کیدای شي چې همدا اوسنی حالت په افغانستان کې وغواړي[۱۱۸]، ځینې هیوادونه بیا له امریکا سره ستونزه لري، غواړي امریکا دلته له خنډونو او ستونزو سره مخ کړي[۱۱۹]، ځینې هیوادونه بیا د ستونزو د حل اړوند خپلې اندیښنې لري، دوی اندیښنه لري داسي نه چې د افغانستان د شخړي حل کېدو سره، هغه وسلوالې ډلې چې دلته فعاله دي، د هغوی توجه د دوی لور ته شي.

[۱۱۶] ملا برادر اخوند د ملامحمد عمر اخوند نایب و، د طالبانو اړوند چارو کې یې د پاکستان غوښتنې په نظر کې نه نیولي، سولې ته ژمن و، د پاکستان د استخباراتو لخوا دفبروري ۸مه ۲۰۱۰ سهار مهال ونیول او زنداني شو. د سپټمبر ۲۱مه ۲۰۱۳ په ښکاره د سولې پروسې سره د همکاري په نوم له زندان څخه خوشی شو، مګر ډېر ژر بیرته د پاکستاني استخباراتو لخوا ونیول او زنداني شو.

کله چې د امریکا او طالبانو مخامخ خبرې د اکتوبر پر ۹مه، په اسلام اباد کې وشوې، د اکتوبر پر ۲۴مه ۲۰۱۸، ملا برادر اخوند له پاکستاني زندان څخه ازاد شو.

[۱۱۷] ممکن هدف یې پاکستان وي.

[۱۱۸] ممکن هدف یې ایران وي.

[۱۱۹] ممکن هدف یې چین او روسیه وي.

ځينې بيا فکر کوي که دلته سوله وشي، نو د امريکا اړيکې به د دوی له رقيب هيواد سره ښې شي، دوی غواړي خپل رقيب د امريکا په مرسته په انزوا کې واقع کړي[۱۲۰].

د سيمې په کچه، سعودي او امارت له قطر سره رقابت لري، پاکستان له هند سره ستونزه لري او امريکا له ايران سره ستونزه لري، دا ډول حالت د افغانستان سولې بهير باندي تاثير لري.

په نړيواله کچه، د اروپا، چين، روسيې او امريکا ګټې په دې کې دي چې افغانستان کې سوله او امن راشي.

په دوه دليله مې دا مهم ماموريت ومانه، لومړی داچې د افغانستان په اړه مې د مسؤليت احساس کاوه، دلته پيدا شوی او دلته لوی شوی يم. دويم داچې امريکا هم پر ما زيات باور کړی، زه مزار شريف کې پيداشوی يم، خو امريکايانو په دې برخه کې پر ما باور او اعتماد کړی.

افغانان بايد هيڅ شک ونه لري چې د امريکا له پاره لومړيتوب سوله ده، له همدې امله ده چې هڅه کوو که چيرته مخکې له ولسمشرۍ ټاکنو يوې پايلې ته ورسيږو.

د راتلونکې نظام لپاره به افغانان (حکومت، سياسي ګوندونه، د ګوندونو مشران، ميرمنې او دمدنې ټولنو استازي) له طالبانو سره يوې موافقې ته رسيږي، او پر هغه به عمل کيږي، که د طالبانو او نورو افغانانو تر منځ توافق وشي، د دې لامل به شي چې نړيوال له افغانستان سره مرستې وکړي.

موږ اوسني حالت ته متوجه يو، داچې ځينې د ولسمشرۍ ټاکنو نوماندانو له ډاکټر غني غوښتي چې يا خو له واکه ليرې شي او يا هم ولسمشرۍ ټاکنو ته له خپلې نوماندې څخه ليرې شي[۱۲۱]، موږ پوهيږو چې د سترې محکمې پريکړه څه وه، او د

---

[۱۲۰] ممکن هدف يې هند وي، هند فکر کوي چې د افغان سولې له امله د امريکا او پاکستان اړيکې ښې کيدای شي.

[۱۲۱] د اپريل پر ۲مه ۲۰۱۹، د ولسمشرۍ يوشمير نوماندانو د ګډې اعلاميې په ترڅ کې غوښتنه وکړه چې د ملي يووالي حکومت واک د غبرګولي مياشتې په لومړۍ نيټه پای ته رسيږي او له دې نيټې وروسته يې د کار دوام مشروعيت نه لري.

سیاستوالو نظر څه وو، دا رنګه د مشرانو نظر هم راته معلومیږي، دا ټول د سیاسي رقابتونو له امله ده.

د طالبانو او افغانانو ترمنځ سوله به د امنیت راوستلو برخه کې یو لوی پرمختګ وي، او افغانان به په یو قوي موقف کې راشي، تر څو؛ که هغه وخت هم داعش وسلواله ډله وي، له یادې ډلې سره په ګډه مقابله وکړي، که بیا هم له سولې وروسته له داعش سره جګړه دوام پیدا کوي، فکر کوم یو کوچنۍ او محدوده جګړه به وي، او جګړه به د کنټرول وړ وي، په نوره نړۍ کې هم دا ډول وړې ترهګرۍ ډلې شته، خو د کنټرول وړ وي.

د مرکي پای

---

مګر د ډاکټر غني مرستیال ویاند د اپریل پر ۲۱مه رسنیو ته وویل:"د هیواد سترې محکمې د ولسمشر د واک غځولو پریکړه کړي."

رسنیو د اپریل۲۲مه ۲۰۱۹ راپور ورکړ چې د سترې محکمې هغه مکتوب ورته رسیدلي چې پکې لیکل شوې: "د سترې محکمې رسمي مکتوب چې اریانا نیوز ټلویزون تر لاسه کړی پکې راغلي چې د اساسي قانون د رعایت او د ټاکنو د خپلواکو کمیسیونو ستونزو ته په کتو د ولسمشر کاري موده د نوي ولسمشر تر ټاکل کیدو پورې تایدوي."

دولسمشرۍ دکاندیدانو شورا د جون ۲۵مه ۲۰۱۹، له ډاکتر غني وغوښتل چې د جوزا له لومړي نیټې /د مئ له ۲۲مې وروسته په واک کې پاتې کېدل یې غیر قانوني دي، یا دي له واکه لیري شي او یا دي هم د ولسمشرۍ ټاکنو له نوماندي څخه لاس په سر شي، ولسمشرۍ ټاکنو ته وتلي نوماند حنیف اتمر د غونډې ګډونوالو ته وویل:"مونږ نو دا نامشروع حکومت نه غواړو دا نامشروع حکومت نه شي کولی چې ملت ته دمشروع انتخاباتو زمینه برابره کړي او دا نامشروع حکومت به له هغه مصیبت او ناورین سره چې دولسې جرګې انتخبات یې مخامخ کړل د ولسمشرۍ راتلوونکي ټاکنې به هم له ورته برخلیلک سره مخامخ کړي".

د جون پر ۱۴مه خلیلزاد له **اریانا نیوز ټلویزون** سره مرکه وکړه، موږ يې دلته د مرکې مهمې برخې را اخلو:

د امریکا اساسي او لومړنۍ موخه اوس مهال افغانستان کې د سولې راوستل دي، داسي سوله چې د طالبانو، حکومت، افغان سیاستوالو، میرمنو او ولسې خلکو لخوا وي.

داسي سوله چې په راتلونکې کې امریکا او متحدینو ته يې د افغانستان له خاورې څخه ګواښ نه وي، څکه د امریکا دلته (افغانستان) ته راتګ لامل په امریکا کې د ۱۱/۹ برید و.

امریکا غواړي چې په راتلونکې کې هم په امنیتي، اقتصادي او سیاسي برخو له افغانستان سره اوږد مهاله ښې اړیکې ولري.

موږ پر ۴ مسایلو موافقه کړي، له افغانستان څخه امریکا او متحدینو ته نه ګواښ، د بهرنیو پوځیانو وتل، د افغانانو خپلمنځي مذاکرات او د جګړې پای ته رسید او تلپاتې اوربند.

موږ له طالبانو سره لومړي مسئله پای ته رسولې، هغه سیمې چې د طالبانو تر واک لاندي دي، او که په راتلونکې کې د حکومت برخه دوی ګرځي، نو هغه مسؤلیتونه چې دوی منلي چې له افغانستان څخه به امریکا او متحدینو ته يې ګواښ نه وي، طالبان به همدې هوکړې ته ژمن پاتې وي.

اوس دلته له افغان حکومت او سیاستوالو سره بوخت یو چې پاتې درې مسایلو باندي هم مخکې له ولسمشرۍ ټاکنو (۲۸ سپټمبر ۲۰۱۹) څخه یوې پایلې ته ورسیږو.

نن مې له ډاکټر غني سر ولیدل، ناسته ښه وه، ستونزې به وي، که د نظر اختلاف او ستونزې نه وای، جګړه به هم نه وای، د دواړه لورو (حکومت او طالبانو) لومړیتوبونه توپیر کوي. داسي کړۍ هم شته چې سوله د ځان لپاره خطر ګڼي، دا ډول. په سوله کې په کار ده چې یو څه د لاسه ورکړي او یو څه تر لاسه کړي.

ستونزې شته، ولی د سولې لپاره ولسي فشار هم په اړخونو شته، او تمه ده چې دا ولسي فشارونه پر طالبانو او ټولو ښکېلو اړخونو لا زیات شي.

له طالبانو سره په تیرو ۱۹ کلونو کې زموږ لویه ستونزه د ترهګرۍ په اړه وه، دا ډیره پیچلې مسئله ده، زه ویلای شم چې اوس په دي برخه کې له طالبانو سره موږ پرمختګ کړي او زه راضي یم.

طالبانو موافقه کړي چې د افغان حکومت په ګډون له هر افغان سره کیني، که افغانان خپلو منځو کې سره کیني، له درد، تمو او غوښتنو څخه تیر شي، بلکې خپلې ۴۰ کلنې تجربې له یو بل سره شریکې کړي، خپلمنځي مذاکرات وکړي، زه تمه لرم چې پرمختګ به وشي. د افغانانو ترمنځ ګډ ټکي زیات دي، کیدای شي یو بل ژر په غیږ کې ونیسي.

افغانستان کې ټولې ستونزې د جګړې له امله دي، ډیرې کورنۍ بې سرپرسته دي، طالبان چې د بندیانو کوم شمیر یادوي، هغه د حکومت له رسمي شمیرو سره توپیر کوي[۱۲۲].

کوم څلور مسایل چې ما مخکې وویل داسي نه ده چې ټول مسایل همدا دي، پر همدې مسئلو توافق، د نورو اړوند ستونزو او مسئلو لپاره د حل لپاره دروازه خلاصوي.

ځینې موارد دي چې غواړم تاسي ته یې ووایم.

۱ – امریکا پریکړه کړي چې دلته سوله راشي.

۲ - موږ توانېدلي یو او له اروپا، چین او روسیې سره د افغانستان سولې په اړه یو تفاهم ته رسیدلي یو.

۳ – هڅه کوو چې د سیمې هیوادونه او د افغانستان ګاونډي هیوادونه هم د افغانستان سولې برخه کې اجماع کې داخل کړو. دادی د افغانستان او پاکستان ترمنځ هم

---

[۱۲۲] طالبان د خپلو بندیانو شمیر لسګونه زره ښيي، خو افغان حکومت نه مني چې په دومره لوړ تعداد طالب بندیان ور سره دي.

اړيکې په ښه کېدو دي، افغانستان له پاکستان او پاکستان له افغانستان څخه باید احساس د خطر ونه کړي.

۴ - داسي سوله چې د سيمې په اقتصاد باندي ښه اغيز ولري.

موږ په دي برخه کې پرمختگونه هم کړي دي.

اوس مهال افغانستان په خپلو پښو نه دی ولاړ، د بهرنيو هيوادو مرستو ته زياته اړتيا لري، د جغرافيې له مخې هم افغانستان په نورو گاونډيو هيوادو متکې او گاونډي هيوادونه يې پر افغانستان متکي دي، په کور دننه هم د افغان سياستوالو ترمنځ نفاق شتون لري.

په کار ده چې لومړی په کور دننه د افغان سياستوالو او حکومت ترمنځ اختلافات او ستونزې حل شي.

داچې امريکا او ناټو قواوي دلته په افغانستان کې شتون لري، نړيواله ټولنه هم متوجه ده چې دلته څه روان دي. موږ غواړو ښه پرمختگ وشي، موږ درې واړه مسايلو (داخل، سيمه او نړۍ) باندي بوخت يو چې په دي درې واړو برخو کې اجماع را منځته شي. موږ په نړيواله کچه د اجماع رامنځته کيدو برخه کې پرمختگ کړی، ځينې لوی او قوي هيوادونه (چين او روسيه) له موږ سره د افغانستان سولې برخه کې ملگري شوې، المان او ناروي هم حاضر شوې چې د افغانانو خپلمنځي مذاکراتو کې مرسته وکړي. اروپا هم چمتو شوې چې مرسته وکړي.

موږ بيړه لرو، نړۍ هم بدلون کړی، د جگړې ۱۹ کلونه هم تير شوې، او په امريکا کې ولسشمرۍ ټاکنې هم راتلونکي دي، دا چې هر څه په افغانستان کې د پلان له مخې سم مخکې ولاړ شي، دا ۵ او ۱۰ کلونو وخت ته اړتيا لري، ولي موږ هڅه کوو چې په افغانستان کې د ولسمشرۍ ټاکنو وړاندي په يادو ۴ اساسي مسايلو توافق ته ورسيږو.

همدا نن چې له ډاکټر غني سره زما ناسته وه، هغه هم ومنله چې کوشش وشي که له ټاکنو مخکې موږ خپل هدف (پر ۴ مسايلو توافق) ته ورسيږو. په دي برخه کې

طالبان هم مسؤلیت او ډیر مهم رول لري، که حکومت، امریکا او افغان سیاستوالو وغواړي، خو طالبان ونه غواړي، بیا نو نه کیږي.

سوله لومړیتوب او مهم هدف دی، د امریکا ولسمشر واضح وایې چې سوله لومړیتوب دی.

که موږ وتوانیږو چې له ټاکنو مخکې یو سیاسي جوړجاړي ته ورسیږو، ولي که سوله نه کیږي، نو د ټاکنو لپاره هم باید چمتووالي وي.

طالبانو هم له ما (خلیلزاد) پوښتنه وکړه، چې تاسي لومړیتوب سولې که جګړې ته ورکوئ، هغو ته مې وویل: تاسي څه ډول اوربند ته حاضر یاست چې له موږ سره پري موافقه وکړئ، د جګړې څه ډول کموالي باندي له موږ سره موافقې ته حاضر یاست، که تاسي یې په اړه وړاندیز لرئ هم ښه ده، که موږ (امریکا) څخه یې غواړئ هم حاضر یو، مګر داسي نه کیږي چې یو لوري به جګړه کوي، او بل لوری به جګړه نه کوي.

موږ څو ځله طالبانو ته د اوربند وړاندیز وکړ، هغوی وایې چې کله د افغانانو خپلمنځي مذاکرات پېل شي، اوربند به پکې یو له لومړنیو مسئلو څخه وي.

که موږ دي نتیجې ته رسیدلې یو چې هیڅوک دا جګړه نه شي ګټلای، نو حل لاره یوازي سیاسي موافقه کیدای شي، تر څو د افغانانو له وژلو څخه مخنیوی وشي.

دا چې امریکا او طالب یو د بل دښمنان دي، موږ سولې ته د رسېدو لپاره یوه حل لاره پیدا کړي، افغانان هم باید ګډ درد، ګډې راتلونکې، ګډې جغرافیې، ګډ هیواد په نظر کې نیولو سره له ستونزو څخه د وتلو لاره پیدا کړي.

که هر څوک خپلې ګټې په نظر کې ونیسي، بیا نو د سولې هڅې هم نتیجه نه ورکوي. په کار ده چې له پخوانیو تجربو، د دودیزو کورنیو شخړو د حل او نورو تجاربو په نظر کې نیولو سره افغانان سولې ته درسېدو لاره پیدا کړي.

په کار ده چې پر ځینو اساسي مسایلو باندي توافق وشي، او هغه مسایلو کې د کوم دریمګړې، کوم هیواد، ځینو هیوادو مرسته هم وغواړي.

موږ په همدې کار کوو، چې چیرته مذاکرات وشي، څوک درېیم ګړی څوک یې کوربتوب وکړي.

همدارنګه کار کوو چې د افغانانو تر منځ ستونزې څه دي، او د ستونزو د حل لارې څه دي. سره له دې چې د نړۍ، سیمې په کچه هم کار کوو، مګر په دې برخه کې هم بوخت یو، موږ چمتووالی پېل کړی، المان د سولې برخه کې د تجربه لرونکو المانیانو تشکیل جوړ کړي تر څو پدې برخه کې خپل رول ولوبوي.

موږ له طالبانو سره د لنډ مهاله حکومت په اړه موافقې ته نه یو رسیدلي، طالبانو ټینګار درلود او موږ هم له حکومت سره په موافقې سره ومنله، چې دوه مسایل چې نړیواله جنبه لري، لومړي داچې د طالبانو او طالبانو له ملګرو څخه نړۍ ته نه ګواښ، او دوېیم داچې د بهرنیو قواوو دلته شتون دی. موږ له افغان حکومت سره هم بحث کړی، که دا دوه مسایل حل شي[۱۲۳]، نو د افغانانو خپلمنځي تفاهم ته دروازه پرانیستل کیږي.

داچې څه ډول راتلونکي حکومت به وي، دا به د افغانانو ترمنځ خپلمنځي ناستو کې، د ځینو بهرنیو هیوادو او یا هم کوم نړیوال یا بهرني درېیمګړي په مرسته صورت مومي.

که موږ له خپل ۱۹کلن دښمن طالب سره یوې موافقې ته رسیږو، دا یو ښه پرمختګ دی، افغانان هم باید پرته له مخکې شرط ایښودلو، په خپلو منځو کې تفاهم ته سره ورسیږي.

په جګړه کې کې کیدای شي یو لږ شمیر کسان شخصي ګټې ولري، ولې زیات خلک ورڅخه متضرره شوې او کیږي، په کار ده چې له دې تاریخې فرصت څخه

---

[۱۲۳] له دې مخکې به خلیلزاد څرګندوله چې ټول ۴واړه مسایل باید یو ځای له طالبانو سره حل شي، مګر دا لومړی ځل و چې له اریانا نیوز سره د مرکې پر مهال یې ومنله چې له طالبانو سره په لومړنیو دوو مسایلو خبرې کوي.

په ښه ډول استفاده وشي، ځکه امریکا، روسیه او چین په ګډه لګیا دي. په کار ده چې دا ۴۰ کلنه جګړه پای، او یو سوکاله، پرمختللی او ازاد افغانستان وي.

نړۍ او سیمې بدلون کړی، نړۍ او سېمه غواړي چې اقتصادي پرمختګ ولري، اروپا چمتو ده چې د افغانستان سره په دې برخه کې مرسته وکړي، چې دا ځای د اقتصادی ودې د پُل په توګه جوړ، او اروپا دلته پانګه اچونه وکړي.

ځینې افغانان له ایران سره اړیکې لري، او ماته ویل شوې چې د ایران لخوا ورته ویل کیږي چې دا کار (بین الافغاني خبرې) تر هغه مه کوئ تر څو چې د ولسمشرۍ ټاکنو مسئله نه وي یو طرفه شوې، که دا کار وکړئ دا به د پلاني او که هغه بل کار وکړئ دا به د هغه پلاني نوماند په ګټه وي، دا ډیر بد کار دی [124]، زما پیغام دوی ته دا دی چې د شرم خبره ده چې یو بهرنی له تاسي داسي څه غواړي، چې تاسي کورنیو رقابتونو ته وهڅوي، موږ د خپل ټول نفوذ کارولو سره دې کار ته اجازه نه ورکو، چې په دي کار کې دوی بریالي شي، او دې ته هم متوجه یو چې څوک دا کارونه کوي. موږ دي نه مجبوره کوې چې بیا موږ د دوی نومونه واخلو چې پلاني سړي د پلاني هیواد سره اړیکه ونیوله، او هغوی ورته وویل چې دا کار وکړئ او دا کار مه کوئ [125].

[124] عملاً امریکا همدا ډیر بد کار کوي، او بوخت دي، ویل کیږي چې همدې خلیلزاد حنیف اتمر او حکمتیار ته ویلي چې ټاکنې نه کیږي، موږ یې ځنډو. بلخوا بیا وروسته له هغه چې حنیف اتمر خپل ټاکنیز ټیم، د سپټمبر۲۴مه ۲۰۱۹، لغوه اعلان کړ، ویل کیږي چې خلیلزاد ورته ویلي چې خپل ملګري ډاکټر عبدالله عبدالله ته ور ولیږي، تر څو د ډاکټر غني په وړاندي د ډاکټر عبدالله ټاکنیز ټیم قوي شي.

[125] همدا امریکا ده چې پرته د دوی له اجازې په حکومت کې نه وزیر، نه والي او نه هم کوم بل لوړ پوړي کس ګمارل کیدای شي. همدا امریکا ده چې په حکومت کې دننه او بهر په لسګونو زره افغانو ته په بېلابېلو وختو کې د بېلابېلو مسایلو په اړه لارښونه کوي، او له هغوی څخه غواړي چې هغه څه وکړي کوم چې په کابل کې د امریکا سفیر او یا د امریکایي قواو عمومي قومندان ورته وایې. او کله چې د امریکا – افغانستان ترمنځ د ستراتیژیک تړون اړوند دودیزه لویه جرګه (۱٦ تر ۱۹ نومبر ۲۰۱۳) جوړه شوه، هغه وخت

ایران یو مهم هیواد دی، امریکا له ایران سره ډېرې ستونزې د خلیج او منځني ختیځ اړوند مسایلو کې لري، خو موږ نه غواړو چې افغانستان کې داسي څه وشی چې ایران د خطر احساس وکړي.

که ایران وغواړي چې دلته ستونزې، او زما په کارونو او هڅو کې هم ستونزې پیدا کېدل وغواړي، زما عکس العمل به هم بیا د ایران په وړاندي ډېر منفي وي.

هغه خلک چې له ایران سره اړیکې لري، هغوی ته په کار ده چې ایران وپوهوي، ایران او افغانستان په سیمه کې ډېر مشترکات لري، د افغانستان خلکو کافي صدمه لیدلې، او کافي قرباني شوې، ایران ته نه ده په کار چې د نورو ځایو ستونزې همدلته را انتقال کړي، که دا کار وشي په اړیکو به منفي تاثیرات ولري.

---

راپورونه ورکول شول چې د لویې جرګې غړو ته او په ځانګړې ډول د دودیزې لویې جرګې رئیس حضرت صبغت الله مجددي ته د امریکا سفارت ډالر ورکړل.
دارنګه، کله چې له امریکا سره د ډاکټر غني د واک ته رسېدو پر دوېمه ورځ امنیتي تړون لاسلیک؛ او د تائید لپاره ولسي جرګې ته واستول شو، راپورونه ورکول شول چې امریکا د ولسي جرګې ډیرو وکیلانو ته ډالر ورکړل، او له هغوی سره یې ژمنه وکړه چې نوی پارلمان به نه جوړوې او دوی به دوېمه دوره کې هم وکیلان وي، د ولسي جرګې د غړو لخوا په لوی اکثریت له امریکا سره د افغانستان ستراتیژیک تړون مسوده د نومبر ۲۳مه ۲۰۱۴ تاید، او ومنل شوه چې امریکا ته به په افغانستان کې ۹ هوایې او پوځې اډې د باګرام پوځې اډه او هوایې ډګر، د شنډنډ پوځې اډه او هوایې ډګر، دکندهار پوځي اډه او هوایې ډګر، د جلال اباد پوځې اډه او هوایې ډګر، په هلمند کې د شوراو پوځي اډه، د کابل د ریشخورو پوځي اډه او هوایې ډګر، او په ګردیز کې پوځي اډه) ورکول کیږي. امریکا هم له وکیلانو سره پر ژمنه وفا وکړه، او د افغانستان د پارلمان ۱٦مې دورې وکیلانو د ۵ کلونو پر ځای ۹ کلونه د ولسي جرګې غړي پاتې شول.
په ولسي جرګه کې د افغانستان - امریکا ترمنځ د امنیتي تړون پر خلاف یوازې څلورو کسانو او له ناټو سره د موافقې په مخالفت کې یوازې پنځو کسانو سره کارتونه پورته کړل.
ډاکټر اشرف غني د ولسي جرګې له لوري له امریکا او ناټو سره د امنیتي همکاریو د تړونونو د تاییدولو هرکلی وکړ، او له مشرانو جرګې یې د ورته ګام پورته کولو غوښتنه وکړه.

زه غواړم چې ایران ته اطمنان ورکړم چې امریکا نه غواړي په هغو نورو سېمو کې چې له ایران سره ستونزې لري، هغه دلته (افغانستان) ته را انتقال کړي.

د سیمې په کچه اجماع اړینه ده، او ایران په دې برخه کې ستونزې پیدا کولای شي، همدارنگه په پاکستان کې د طالبانو شتون، چې هلته اوسیږي، په کار ده چې افغانستان هم د هغه چا پر مرکز بدل نه شي چې د پاکستان پر ضد وي[۱۲۶]، او پاکستان هم باید د طالبانو مرکزونه په باوري او یقیني ډول سره په خپله خاوره کې وتړي.

د پاکستان له لومړي وزیر عمران خان او د پوځ مشر جنرال باجوه سره مې بحثونه کړي، هغوی اقتصادي ستونزې لري، له هغوی مې واورېدل چې اقتصادي پرمختگ ورته مهم او حیاتي مسئله ده، ددې لپاره چې اقتصاد یې قوي شي، ورته په کار ده چې له افغانستان سره ښې اړیکې ولري، راکړه ورکړه ولري، او د افغانستان د لارې له مرکزي اسیا او سیمې سره خپله اقتصادي راکړه ورکړه کولای شي.

څو کاله مخکې له پاکستان سره زموږ اړیکې ډېرې خرابې شوې وې، موږ غواړو چې له دې مهم هیواد سره ښې اړیکې ولرو، د افغانستان مسئله کې د پاکستان مرسته د دې لامل کیږي چې د امریکا او پاکستان ، لویدیځ او پاکستان ترمنځ اړیکې ښې او مرسته زیاته شي.

موږ نه غواړو چې له افغانستان څخه په بیړه ووځو، موږ سولې ته ترجیح ورکوو، داسې سوله چې په افغانستان کې د امریکا مصرف کم، او د خپلو پوځیانو شمیر کم، او که امریکا ډاډه شي چې د افغانستان له خاورې ورته گواښ نه متوجه کیږي، او د افغانستان حکومت او خلک ونه غواړي چې امریکایان دلته پاتې شي، امریکا چمتو ده چې له افغانستان څخه خپل پوځیان وباسي، او هدف سوله ده.

څرنگه چې زموږ دلته شتون په شرایطو پوري تړلی، همدارنگه زموږ له دې ځایه وتل هم په شرایطو (شروطو) پوري تړلي دی، او که بالاخره په بشپړ ډول موږ له افغانستان څخه وځو، د دې معنی نه ده چې موږ به افغانستان هیر کړو، غواړو چې

---

[۱۲۶] ممکن هدف یې د پاکستاني طالبانو د ډلې وسلوال وي.

اوږد مهاله ښې اړیکې له افغانستان سره ولرو، حتی هغه ملکي او پوځي امریکایان چې دلته افغانستان کې یې کار کړی، چې بېرته امریکا ته تللي، هغوی هم وایې چې موږ افغانستان کله هم نه شو هېرولای او افغانستان موږ نه شي هېرولای.

طالبان هم وایې چې په راتلونکې کې له امریکا سره په سیاسي او اقتصادي برخه کې ښې اړیکې غواړي، موږ هم وایو چې په راتلونکې کې هم له افغانستان سره ښې او جارې اړیکې غواړو، زه همدا اوس وایم که له سولې وروسته زموږ مرستو ته اړتیا وي، موږ دوام ورکوو.

طالبان پوهیږي چې په افغانستان کې د زده کړو، روغتیا، بنسټیزې رغونې او نورو برخو کې، نه یوازې د امریکا، بلکې د نورو هېوادو مرستو ته اړتیا لري.

د یوې پوښتنې جواب کې چې ما ویلي و چې که له طالبانو سره سوله هم وشي، په دې معنی نه ده چې افغانستان کې جګړه ختمه شي، هدف مې دا و چې کېدای شي طالبان سوله ونه مني، همدانګه د داعش ستونزه هم پر ځای پاتې ده، ولې فکر کوم که افغان حکومت، سیاستوال او نور افغانان له طالبانو سره توافق ته ورسیږي، افغانستان به هغه وخت په ډېر قوي موقف کې ځای ولري، تر څو د نورو ستونزو د له منځه وړلو لپاره په ګډه کار وکړي.

له طالبانو سره باید سوله وشي، مګر که بیا هم په کومو سیمو کې لږ ستونزې وي؛ د ځینو هېوادو، حتی لویو او قوي هېوادو په ځینو برخو کې هم دا ډول امنیتي ستونزې وي.

یوه بله لاره هم سولې ته د رسیدو داده چې دښمن اړخونه دې نتیجې ته ورسیږي چې هیڅ لوری جګړه نه شي ګټلای[۱۲۷]، او د ستونزې د حل لپاره سیاسي حل لاره پیدا شي.

---

[۱۲۷] یوه افغان سیاستوال د سولې خبرو ته د کیناستلو لپاره درې لارې وښودلې.
۱ – دا چې په زور یوه ډله واک تر لاسه کړي، او سوله او امنیت راولي.
۲ – دا چې کمزوري شي او د جګړې توان له لاسه ورکړي او له جګړې ستړي شي.

طالبانو ما (خلیلزاد) ته ویلي چې موږ جګړه نه شو ګټلای، او تاسي (امریکا) هم جګړه نه شي ګټلای، په کار ده چې د کشالې د ختم لپاره سیاسي حل لاره ورته پیدا کړو.

میرمنې باید له طالبانو سره د مذاکراتو برخه کې شتون ولري، او د میرمنو او اقلیتونو د حقونو په اړه ور سره مخامخ خبرې وکړي.

په سوله کې د سیمې د هیوادو د مرستې برخه کې موږ له **۳** لارو کار اخلو، داچې فشار په کوم هیواد راوړو، داچې کوم ډول منفعت هغه هیواد په سوله کې لري، لکه چې ځینې هیوادونه ویره لري که امریکا له افغانستان څخه وځي، دلته به ستونزې او جګړې زیاتي شي، دا هم یو د فشار آله ده [۱۲۸].

د مرکې پای

---

۳ – دا چې تر شا یې کوم ملاتړ او مرستې وي، هغه له لاسه ورکړي، نو د سولې مذاکراتو ته اړ شي.

طالبان نه خو امریکا په زور مات کړلای شوای، نه له جګړې ستړې شول، او نه یې هم د خپلو ملګرو ملاتړ له لاسه ورکړی، بلکې له قوي موقف څخه د سولې خبرو ته له امریکا سره کیناستلي دي.

[۱۲۸] ممکن هدف یې چین او روسیه وي، چې د امریکا یو ناڅاپي او غیرمسؤلانه وتلو سره موافق نه وو، ځکه روسیه فکر کوي چې داعش وسلوال د امریکا ملاتړ له ځان سره لري، او دا به د روسیې له پاره په راتلونکې کې سرخوږی وي، همدارنګه چین هیواد هم د داعش وسلوالي ډلې او یغور مسلمانو جنګیالو په اړه د افغانستان له خاوري چین ته د ګواښ اندیښنې لري.

## قطر ته د خلیلزاد پټ تګ

خلیلزاد دا ځل په افغانستان کې ډېر وخت تیر کړ، په پټه سره (غالباً د جون ۱٦مه) قطر ته ولاړ، هلته یې له قطري چارواکو او طالبانو سره پټې غیر رسمي ناستې وکړې.

د جون پر ۱۸مه د طالبانو د قطر سیاسي دفتر ویاند سهیل شاهین ولیکل:"کله دا پوښتنه کیږي چې په مذاکراتو کې څه پرمختګ شوی، په مذاکراتو کې امریکا منلې چې خپلې ټولې قواوې به باسي. او په راتلونکې کې به په افغانستان کې هیڅ ډول مداخله نه کوي، دا یو ښه پرمختګ دی".

د جون پر ۱۸مه خلیلزاد د شاهین د ټویټ په غبرګون کې ولیکل:" پداسي حال کې چې مونږ د طالبانو سره د مذاکراتو بل پړاو پیلوو، دا یادونه ضروري ده چې مونږ د پوځیانو د وتلو نه؛ بلکې د سولې د یو بشپړتړون په لټه کې یو.

د سولې بشپړ تړون یو له بل سره تړلې څلور برخې لري، د ترهګرۍ د مخنیوي تضمین، پوځیانو وتل، بین الافغاني مذاکرات چې سیاسي جوړ جاړي ته لاره هواره کړي او یو هراړخیز او تلپاتی اوربند. دا هغه چوکاټ دی چې طالبانو پرې توافق کړی دي.

څو ځله مې مخکې ویلي چې پر هیڅ شي توافق نه شي کیدای تر څو پر ټولو مسایلو توافق نه وي شوی."

ممکن خلیلزاد قطر ته د جون پر ۱٦مه رسیدلي وي، خو دا ځل یې د خپل تګ اړوند معلومات خپاره نه کړل، د جون تر ۲۲مې یې دوه ځله په قطر کې له طالبانو سره غیر رسمي ناستې درلودلي، او بیا وروسته خلیلزاد او طالبانو څرګنده کړه چې د جون پر ۲۹مه به په قطر کې د اووم پړاو رسمي مذاکرات پیل شي.

د جون پر ۲۱مه نن ټکی آسیا پاڼې راپور ورکړ چې خلیلزاد په قطر کې دی او له طالبانو سره یې غیر رسمي ناسته هم شوې ده.

د جون پر ۲۲مه، ماخوستن خلیلزاد ولیکل:" موږ له طالبانو سره د اووم پړاو خبرې د جون پر ۲۹مه پیل کوو."

## د عبدالکریم خُرم کور کې ناسته

۱:۰۰ تر ۳:۲۰ ماسپښین

۱۷ جون ۲۰۱۹

ځای: کارته پروان، د خُرم صاحب کور، کابل

ګډونوال: خُرم صاحب، وحید مژده، استاد مزمل، احسان الله کاموال، عبدالستار سعادت، زبیر شفیقي، غلام جیلاني ځواک، نذیر سحر، اسد وحیدي او زه (مطمئن)

**خُرم**: کله چې حامد کرزي له خلیلزاد سره لومړی ناسته (۱۱ جون) وکړه، د امریکا لخوا د ملکي وژنو او بمبارد په اړه یې هم خلیلزاد سره خپله اندیښنه شریکه کړه، دویم مجلس کې د امریکا / ناټو قواوو عمومي قومندان جنرال سکاټ میلر هم د خلیلزاد سره وو، میلر وویل:"طالبان دي تاوتریخوالی کم کړي، موږ اوربند ته چمتو یو، همدا تاسي له طالبانو وغواړئ.

موږ بېلابېلې اداري (سي آی اې، پنټاګون، بهرنو چارو وزارت او سپینه ماڼې) یو، خو ټول د ټرمپ د سولې تګلاره تعقیبوو، او سولې ته په ګډه کار کوو"

له دي مجلس وروسته په کندهار کې د حامد کرزي د ورور شاولي کرزي په کور راکټې برید وشو، له هغه وروسته په ارزګان کې کرزي ته نږدې کسانو باندي چاپې ووهل شوې، ځینې ووژل شول، او ځینې یې ونیول شول، کابل ته راوړل شوې[129].

[129] د جون پر ۱۶مه، ویسا ورځپاڼې راپور ورکړ:"جنرال مېلر ته د پخواني ولسمشر له سپینو خبرو وروسته؛پخواني ولسمشر ته نږدې کسان پرلپسې وژل کېږي او بندیانېږي

د دې بریدونو په لړ کې درې ورځې وړاندې په ارزګان کې د کنډک پر پخواني قوماندان دستګیر نومي په خپل کور کې بهرنیو او افغان ځواکونو چاپه اچولې او نوموړی یې کابل ته راوړی دی.

همدغسې وړمه ورځ د پولیسو د پخواني قوماندان نورزي پر کور یې هم چاپه اچولې چې نوموړی یې وروسره بېولی دی.

کله چې خلیلزاد له اسلام اباد، برلین او ځینو نورو هیوادو کې تر لېدنو وروسته، د جون پر ۹مه، کابل ته راغی، دوه ځله نور یې هم له حامد کرزي سره وکتل، او یو ځل خو خلیلزاد د هند د سفارت کارکوونکي هم مجلس ته له ځان سره راوستي وو.

امریکا له طالبانو نظامي اډې په افغانستان کې غوښتې وي، خو ظاهراً طالبانو دا ور سره نه ده منلي، امریکا ځکه په جګړه کې تشدد کوي، تر څو پر طالبانو فشار راوستل شي. همدارنګه ددې لپاره نظامي فشار چې طالبان په ډلو وویشل شي.

خلیلزاد او ډلې ته یې حامد کرزي وویل:

۱ – نظامي عملیات او د ملکي خلکو وژنه دي بنده شي.
۲ – ټاکنې او د سولې بهیر په یو وخت کې نه کیږي، ټاکنې د سولې مخکې د تخریب په معنی دي.
۳ – بین الافغاني تفاهم دې جریان پیدا کړي.
دا ځل ممکن له طالبانو سره خلیلزاد دوه لومړي مسایل (له افغانستان څخه د بهرنیو پوځیانو وتل او له افغان خاوري امریکا او نورو هیوادونو ته نه ګواښ) پرته د نیټې له معلومولو څخه لاسلیک کړي،

په سیمه کې د امریکا د ګټو مخالف هیوادونو سره اندیښنه پیدا شوې چې امریکا د سولې تر نوم لاندي یوازي وخت تیروي، هغوی د راتلونکو ټاکنو اړوند ټینګار کوي، چې په خپل وخت ټاکنې وشي، ځکه د امریکا څخه یې تمه نشته چې سوله به وشي.

---

پرون یې په خاص ارزګان کې په ولایتي اداره کې د بریښنا د رییس سمع پر کور هم چاپه اچولې، له تلاشیو او ځورونو وروسته بېرته ستانه شوي دي."

مګر د کندهار ښار په عینو مېنه کې د حامد کرزي د ورور شاولي کرزي په کور راکټي برید؛ له میلر سره د کرزي تر اوسنۍ لیدنې واندي د جون پر دوېمه، ماخوستن مهال شوی و، مرګ ژوبله یې نه درلودله.

بل خوا حکومت فکر کوي چې طالبان کمزوري شوې، يوه لوړ پوړي دولتي چارواکي وويل:

"طالبان نور په ختمېدو دي، نظامي طالبان د خپلو مشرانو خبره نه مني.[۱۳۰]"

پاکستان له روسيې او چين هيوادو سره نږدې شوی، اوس پاکستان يوازې امريکا ته نه دی ور پاتې.

**سعادت**: خليلزاد له حنيف اتمر سره د ناستې پر مهال هغه ته ويلي و، که ټاکنې کيږي، نو د سولې بهير ته زيان رسوي، اتمر ورته ويلي و، که د سولې لپاره قرباني ته اړتيا وه، موږ حاضر يو چې هغه وخت له حکومت څخه ليري او موقت حکومت اعلان شي، خو که طالبان په واک کې شريک شي، دا نو بيا تر موقت حکومت ښه ده. مګر خليلزاد په ليکلي ډول له اتمر څخه دا غوښتل چې که سوله کيږي، او دوی په واک کې (ولسمشر) وي، له واک څخه بايد هغه وخت بيا تير شي[۱۳۱].

**اسد وحيدي**: د امريکا دغه ډول ډير بمبارد او حملې دوام پيدا کړي، کيدای شي طالبان له امريکا سره مذاکرات وځنډوي. همدا اوس هره ورځ تر ۲۰ زيات بمونه د امريکايانو لخوا کارول کيږي، او پلان لري چې همدا شمير درې برابره کړي، يعني هره ورځ به نږدې ۷۰ بمونه دوی پر افغانانو اچوي.

طالبانو ته هم په کار ده چې امريکا ته په نظامي برخه کې يو قوي پيغام ور کړي، که دا کار ونه کړي، پر دوی به د امريکا نظامي فشار همداسي جريان ولري.

**سعادت**: د سولې بهير هم پيچلی دی، که طالبان فکر کوي چې جګړه ګټي، نو بيا به ولي هغوی سوله کوي؟

---

[۱۳۰] دا اتلس کلونه د امريکا/ناټو پوځيانو قومندانان او افغان چارواکې همدا خبره کوي چې طالبان نور ختم دي، د دوی ترمنځ اختلاف شتون لري، او نظامي طالبان له جګړې ستړي دي.

[۱۳۱] حنيف اتمر د ولسمشرۍ ټاکنو لپاره نوماند و.

د افغان سياستوالو اوس ټوله توجه دې ته ده چې څه ډول ډاکټر غني له ارګ څخه وباسي، دا سمه نه ده، دوی بايد د افغانستان اړوند لويو ملي مسايلو ته ډيره توجه وکړي، که ډاکټر غني له ارګ څخه وباسي، کوم بل کس هلته ورځي، ارګ خالي نه پاتې کيږي.

**مژده**: پاکستان، ايران او روسيه هم طالبانو ته اړتيا لري، له امريکا سره د مذاکراتو ۴م پړاو پر مهال طالبانو امريکا ته وښودله چې نظامي شتون نه مني، په هلمند کې يې د امريکا پر لويه پوځي اډه (شوراب) باندي سخته حمله وکړه، درانه مالي او ځاني زيان يې بهرنيانو ته واړاوو. که جګړه اوږده شي، طالبان به کوشش وکړي چې د چورلکو ضد توغندي پيدا کړي.

**خُرم**: طالبان د اوسنی وخت په ارزښت بايد پوه وي، داسي نه چې همدا وخت هم تير شي، او د افغانستان مسئله پکې حل نه شي، داسي نه چې موږ له اوس څخه هم بل خراب حالت ته ولاړ شو، که بيا له طالبانو سره روسيه او يا کوم بل هيواد د وسلو مرسته هم وکړي، هغه وخت به يې ګټه نه وي.

**مزمل**: په کار ده چې طالب ته وويل شي چې په ٦ پړاه مذاکراتو کې دوی ولي مسئله حل نه کړه، تر کوم وخته به مذاکرات وي؟ همدارنګه طالبان پوهول په کار دي چې د کاميابي فکر د زوال پيل دی.

همدلته په کور دننه ۷۰سلنه خلک د طالبانو په ګټه لګيا دي، خو طالبان هيڅ ځان نه پوهوي، حتی اړيکه ورسره نه نيسي.

حامد کرزي هم د سولې برخه کې سم تحرُک ونه شو ساتلای، که په دي برخه کې لږ متحرک وای، ښه به وای.

**خُرم**: د قطر د بين الافغاني ناستي ځنډ او د سولې مشورتي جرګې جوړېدو، د ماسکو لومړۍ بين الافغاني ناستې تاثيرات کم کړل، او دا کار امريکا وکړ.

## د حامد کرزي کور کې ناسته

۲۲ جون ۲۰۱۹

ګډونوال: مخکېنی ولسمشر حامد کرزی، د ملي پیوستون ګوند مشر سید اسحق اغا، د سولې او نجات شورا مشر قاضي ګلرحمن، د حزب اسلامي (حکمتیار) د اجرائیه شورا غړی استاد محمد زمان مزمل، د جمعیت اصلاح مؤسس شورا، د سولې او نجات شورا غړی مولوي عبدالسلام عابد، د حزب اسلامي د اجرائیه شورا غړی قاضي نجی الله، د حزب اسلامي د اجرائیه شورا غړی مولوي جانباز سرفراز، لیکوال او سیاسي شنونکی استاد وحید مژده، د سولې او نجات شورا غړی قومندان دیدار، د جمعیت اصلاح رئیس استاد فخري، د جمعیت اصلاح مؤسس غړی دکتور صفت الله قانت، د جمعت اصلاح مؤسس غړی دکتور عبدالباقي آمین، ولسمشرۍ ټاکنو ته د نوماند حکمتیار لومړی مرستیال دکتور فضل الهادي وزین (د جمعیت اصلا ح پخوانی مؤسس غړی)، د سولې محور غړي" استاد فیض محمد ځلاند، خیرالله شینواری، شفیع اعظم، ذاکر جلالي، مطمئن"، د حامد کرزي د دفتر مشر عبدالکریم خرم او د کرزي د دفتر غړی شهزاده مسعود.

**حامد کرزی**: ماسکو کې له ملابرادر اخوند سره زموږ ناسته بین الافغاني مذاکرات نه وو، د روسیې او افغانستان د ۱۰۰ کلنو ډیپلوماټیکو اړیکو لمانځغونډه وه.

ګناه د طالب نه وه، تېروتنه زموږ وه، په ناحقه شي (اوربند) باندي ټینګ وو، لومړی زه هم متوجه نه وم، ماته دا نورو افغان سیاستوالو ویل چې له طالبانو په کلکه د اوربند غوښتنه کوو، پرته له دي چې د اوربند پر پایله فکر وکړم، نا اګاهانه مې دا خبره کوله او له طالبانو مې د اوربند غوښتنه کوله، مګر کله چې زه له ملا برادر اخوند سره کیناستم، یو څه خو زموږ تر منځ شخصي خبرې وي، خو د اوربند په اړه یې راته وویل:"تاسي امریکایې سوله غواړئ، د امریکا غوښتنې دلته وړاندي کوئ، اوس هم د امریکا کلک ملاتړ کوئ."

هغه ته مې وویل چې یا! موږ افغاني سوله غواړو، د امریکا ملاتړ نه کوم.

ملا برادر اخوند ماته وویل:"اوربند د امریکا غوښتنه ده، که موږ د راتلونکي اختر په درو ورځو کې د اوربند اعلان وکړو، د داعش په نوم به د هیواد په بېلابېلو ځایو کې د امریکا په ملاتړ حملې وشي، بیا به امریکا وو‌ایې چې یوازي له طالبانو سره د سولې خبرې نتیجه نه ورکوي، دلته نورې وسلوالې ډلې هم شته، او په لویه کې به اوربند زموږ طالبانو او امریکا تر منځ د سولې روانې خبرې هم له خنډ سره مخ، او همدغه ډول لنډ مهاله اوربند به امریکا ته د جګړې د ادامې بهانه هم وګرځي ."

زه (کرزی) چې کله پوه شوم، چې رښتیا هم په اوس وخت کې اوربند منفي تاثیرات زیات لري، او امریکا به همداسې کوي، څه ډول چې ملا برادر اخوند وویل، بیا مې خپلو ملګرو ته وویل چې له دې خبرې باید تیر شو، مګر زموږ سره ملګرو افغان سیاستوالو بیا هم پر اوربند ټینګار کاوه.

امریکایانو د ماسکو ناستې په اړه منفي تبلیغات وکړل، امریکا نه غوښتل چې ناسته ښه نتیجه ورکړي، په دواړه خواوو (طالبانو او افغان سیاستوالو) کې یې کار کړی وو، چې غونډه بې نتیجې او خرابه شي.[۱۳۲]

طالبانو هم د خلیلزاد څخه شکایت درلود، ویل یې چې زموږ سره یوه خبره کوي، مګر عمل یې بل ډول وي. له ماسکو څخه مې خلیلزاد ته ټلیفون وکړ، چې طالبان ستا څخه سخت شکایت لري، هغه وویل:" تاسي ورسره خبرې وکړئ، درې خبرې دي ومني، تاسي یې ورته وو‌ایاست.

۱ – موږ د ځواکونو د وتلو اعلان کوو، خو په ۱۳۵ ورځو کې به طالبان له افغان سیاستوالو سره د موقت حکومت پر جوړیدو نتیجې ته رسیږي.
۲ – موږ چمتو یې چې له طالبانو سره د سولې هوکړه د اسلامي امارت په نوم

---

[۱۳۲] ماسکو کې د مئ پر ۲۸مه او ۲۹مه د طالبانو او ځینو افغان سیاستوالو ترمنځ لیدنه وشوه، د جون پر ۲مه، خُرم صاحب ما (لیکوال) او مژده صاحب ته وویل:" امریکا په دواړو لورو (طالبانو او افغان سیاستوالو) کې کار کړی وو چې دا غونډه بې نتیجې او تاثیر یې منفي شي. موږ شک لرو چې د طالبانو په ډله کې هم د آی ایس آی خلکو کار کړی وو، او د غونډې د کامیابېدو مخه په لوی لاس؛ دواړو لورو ته ځینو کسانو نېوله."

لاسلیک کړو، مگر نړیوال او افغان سیاستوال یې نه مني، هغوی وایې چې د طالبانو د اسلامي تحریک په نوم دي د طالبانو او امریکا ترمنځ هوکړه لیک لاسلیک شي.

۳ – طالبان دي روښانه کړي چې راتلونکي کې به د دوی او افغان سیاستوالو ترمنځ څه کیږي (څه ډول معامله به له افغان سیاستوالو سره کوي). "

حامد کرزي وویل: د امریکا او طالبانو ترمنځ ستونزې وي، طالبانو له خلیلزاد څخه شکایت درلود، خو کله چې طالبان چین او ایران ته ولاړل، بیا خبره لږ سمه شوه.

وړمه ورځ (۲۰ جون ۲۰۱۹) د خلیلزاد او طالبانو ترمنځ ناسته په قطر کې شوې وه، خلیلزاد د ټلیفون پر کرښه راته وویل:" مجلس ښه و، طالبان د ماسکو غونډې څخه هم خوشاله وو، موږ پایلې ته نږدې شوې یو، سبا ماښام بیا ځل سره کینو. پر گډو ټکو مو کار کړی، هغه کاغذ به تاسي (کرزي) ته در ولیږم.[133] "

کرزي زیاته کړه: خلیلزاد امریکا کې و، هغه ته مې ټلیفون وکړ چې ستاسي او د ټرمپ تگلاره یوه خو د نور حکومت (نظامیانو) مو بله تگلاره ده، هغوی بمباري زیاته کړي، لومړي تاسي امریکایان پر یوه تگلاره جوړ او بیا د سولې خبرې مخکې یوسئ.

خلیلزاد، جنرال سکاډ میلر او کابل کې د امریکا سفیر جان باس کور ته راغلل، له خیلزاد سره خبرې ښې، خو له ملیر سره زما خبرې ډیرې جنجالي وي، هغه ته مې وویل چې بمبارد کې ملکي خلک وژل کیږي، انسان وژنه کیږي، څه ډول به پر تاسي طالبان اعتماد وکړي.
میلر وویل: "تاسي د اوربند ضمانت وکړي چې طالبان به یې کوي، موږ هم بمبارد بندوو. [134] "

---

[133] په همدې ورځ ماخوستن خلیلزاد ولیکل:" موږ له طالبانو سره د اووم پړاو خبرې د جون پر ۲۹مه پیل کوو".
د جون پر ۲۱مه نن ټکی آسیا پاڼې راپور ورکړ چې خلیلزاد په قطر کې دی او له طالبانو سره یې غیر رسمي ناسته هم شوې ده.

[134] د جون پر ۱۱مه د دوی تر منځ د کرزي په کور کې ناسته شوې وه.

ما (کرزي) ورته وويل چې لومړی بمبارد بند کړئ، اوس چې دا ۱۵ ورځې موږ ګورو، راپورنه داسي دي چې د امريکايانو لخوا بمبارد کې کموالی راغلی دی.

سېمه سولې ته چمتو هم ده او نه هم ده، روسيه، چين او ايران په افغانستان کې داسي سوله غواړي چې افراطيت پکې نه وي.

د امريکا او ايران تر منځ د جګړې ناندرۍ[۱۳۵]، د امريکا او چين ترمنځ اقتصادي شخړې پر افغان سوله ناوړه تاثير لري، زموږ او طالبانو پر امريکا شک زيات شوی.

دا مهمه ده چې موږ په کور دننه څه کولای شو:

پرته له دي چې په نوره نړۍ کې څه روان دي؛ په کار ده چې د سولې پراخ افغاني بړغ پورته شي، او له نړيوالو سره د افغان سولې اړوند ښې اړيکې جوړې شي.

طالبانو ته به احوال ورکړو چې د بين الافغاني مذاکراتو لپاره ژر چمتوالی ونيسي، او موږ خپلو منځو کې افغاني پريکړې وکړو.

ملا برادر اخوند ته مې وويل چې جګړه بس کړئ، راځئ چې يوه افغاني جرګه را وغواړو، چې د ټولو اړخونو خلک پکې وي، امريکايانو ته به سره کرښه کش او ورته به ووايو؛ که زموږ شرايط منئ ښه ده، کنه يې منئ زموږ له هيواده ووځئ.

او يا داچې تاسي (طالبان) بيخي امريکا نه پرېږدئ، امريکا ته به په ګډه جواب ورکړو، په جرګه کې به هر څوک ناست وي، او دا پريکړه به وکړو چې امريکا له هيواده ووځي[۱۳۶]. اوس خو امريکا زموږ په نوم دلته شتون لري، وايې چې دوی (په کور دننه افغان سياستوال) مو شتون مني.

---

[۱۳۵] د جون پر ۱۷مه د نړيوالو اوبو په هرمز تنګي کې د ايران له خوا د امريکا بې پېلوټه الوتکه را نسکوره شوه، مقابل کې يې د امريکا ولسمشر ټرمپ د جون پر ۲۰مه، پر ايران د راکټي بريد امر وکړ، مګر د بريد ټاکلي وخت څخه لس دقيقې مخکې ټرمپ له خپلې پريکړې په شا شو.

[۱۳۶] کله چې کرزي ويل چې له طالبانو سره په ګډه به امريکا ته د وتلو ووايې، زما (ليکوال) ذهن کې و چې دا جواب ورکول شي چې تاسي چې امريکايان راوستل او افغان ولس د

## کابل ته د امریکا د بهرنیو چارو د وزیر سفر

د جون پر ۲۵مه، د نا اعلان شوې سفر پر مهال، د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پمپیو کابل ته راغی، هغه د ګډ حکومت له مشر ډاکټر غني، اجرائیه رئیس ډاکټر عبدالله، د افغانستان بهرنیو چارو سرپرست وزیر صلاح الدین رباني او مخکېني ولسمشر حامد کرزي سره په ارګ کې وکتل، د سولې په اړه یې بحثونه کړي وه.

همدارنګه مایک پمپیو د دفاع سرپرست وزیر اسدالله خالد او د ملي امنیت له مشر معصوم ستانکزي سره جلا، او د دعوت ګوند مشر استاد سیاف او سولې عالي شورا له رئیس عبدالکریم خلیلي سره هم بېل په همدې ورځ وکتل. همدارنګه د مدني ټولنو او رسنیو له ځینو استازو سره یې هم لېدنه وکړه. په یادو ټولو مجلسونو کې له پمپیو سره ډاکټر خلیلزاد، کابل کې د امریکا سفیر جان باس، په افغانستان کې د امریکا/ناټو قواوو عمومي قومندان جنرال سکاټ میلر هم ناست وو.

کابل ته تر راتګ مخکې مایک پمپیو د جون پر ۲۴مه په جده کې د سعودي پاچا ملک سلمان او له هغه وروسته په همدې ورځ په ابوظبۍ کې د متحده عرب اماراتو له امیر شیخ زاهد بن نهیان سره وکتل، له هغوی سره یې د ایران ضد ټلوالي جوړولو باندي بحث درلود.

مایک پمپیو د ګډ حکومت له مشرانو، افغان سیاستوالو، د مدني ټولنو او رسینو استازو سره په خبرو کې څرګنده کړه چې تر ولسمشرۍ ټاکنو وړاندي؛ د روان کال د سپټمبر میاشتي مخکې به له طالبانو سره د سولې تړون نهایي او لاسلیک شي. هغه وویل:"که څه هم د طالبانو سره په خبرو کې مو واضح کړې چې حاضر یو خپل ځواکونه (له افغانستان څخه) وباسو، خو غواړم چې واضحه کړم چې تر اوسه د هیڅ کوم زماني جدول په هکله مو موافقه نده شوې."

---

هغوی سره سختې جګړې وکړي، د افغان ولس د قربانیو په نتیجه کې امریکا مجبوره کیږي چې زموږ له هیواد څخه ووځي، نو اوس تاسي غواړئ چې په دي ویاړ کې ځان شریک کړئ، په داسي حال کې چې تاسي همدا امریکایان هیواد ته راوستل، ښه و، همدا خبره شفیع اعظم په ښه ډول سره ورته وکړه.

ښاغلي پمپیو زیاته کړه: "ټول اړخونه پدې موافق دي چې د ترهګرۍ او بهرنیو سرتیرو د شتون په هکله د طالبانو او امریکا تفاهم بین الافغاني مذاکراتو ته لاره پرانیځي. دا وروستی ګام زمونږ د هڅو محور دی. مونږ د افغانستان د دولت او خلکو په استازیتوب له طالبانو سره نه ږغیږو[۱۳۷] ".

د جون پر **۲۶**مه پمپیو ډهلی ته ورسید، هلته یې د هند له لومړي وزیر نریندرا مودي سره د افغان سولې، د ایران سره د امریکا د کړکیچنو اړیکو اړوند بحث درلود.

د جون پر ۲۷مه، په برسلز کې د ناټو غړو هیوادو سر منشي ینس سټولټنبرګ د ناټو د غړو هیوادونو د دفاع وزیرانو د غونډې په پای کې وویل: "په افغانستان کې د سولې راتللو لپاره له دې ښه وخت نه شي پیدا کیدلی. که څه هم ننګونې لا شته، خو په افغانستان کې سولې ته بېساری امکان جوړ شوی دی ، سره له دې چې طالبانو سره خبرو اترو کې ډیر پرمختګ شوی ده خو لا هم له افغانستان څخه د بهرنیو ځواکونو د وتلو په کومې طرحې باندې هوکړه نه ده شوې. او تر سپټمبر میاشت پوري له طالبانو سره د یوه تړون هیله کیدای شي.

طالبانو ته زما مشوره داده چې پر جګړه ټینګار ونه کړي، جګړه نه شي ګټلای، په تیرو څو اونیو کې افغان امنیتي ځواکونو له دوی څخه یو شمیر ولسوالۍ ونیولي او د طالبانو زندانونه یې مات کړل.

زمونږ موخه له افغانستان څخه د وتلو لپاره د یوې نیتې پیدا کول نه دي، مونږ غواړو سوله رامنځ ته شي. باید د بهرنیو ځواکونو د وتلو لپاره زمینه برابره شي او زمونږ لاسته راوړنې وساتل شي. ناټو د افغان سولې له خبرو اترو څخه ملاتړ کوي او جرمني به د دغه بهیر د بریالیتوب لپاره ګامونه پورته کړي."

---

[۱۳۷] د پمپیو همدارنګه د خلیلزاد او ځینې نورو امریکایي چارواکو د انګلیسي ټویټو او یا لنډو څرګندونو پښتو ژباړه په کتاب کې په ځینو مواردو کې د (امریکا ږغ) له ویبپاڼې څخه را اخیستل شوي.

## د طالبانو او امریکا ترمنځ د اووم پړاو رسمي خبرې

د جون پر ۲۹مه، له غرمې وروسته په دوحه کې د طالبانو او امریکا ترمنځ اووم پړاو خبرې په رسمي توګه پیل شوي، مذاکراتو د شپې تر ۹ نیمو بجو دوام درلود، دواړه لوري د همدې ورځ مذاکراتو څخه خوشاله ښکاره کېدل. یوه مهم پرمختګ د مذاکراتو په لومړۍ ورځ دا وو  چې دواړه لوري د ترهګري (تروریزم) پر تعریف یوې نسبې هوکړې ته ورسېدل[۱۳۸].

دا ډول په کابل کې د امریکا سفیر جان باس د اووم پړاو مذاکراتو اړوند رسنیو ته وویل:" سوله او ټاکنې دواړه مهم دي، اوسمهال سوله لومړیتوب لري، تمه لرو چې تر ټاکنو مخکې له طالبانو سره د سولې تړون وشي."

د جون پر ۳۱مه، د افغان حکومت د بهرنیو چارو وزرات ویاند صبغت الله احمدي خبریالانو ته وویل:"جرمني د وسله والو طالبانو او د افغان حکومت د استازو ترمنځ مخامخ خبرو د پیل لپاره د بهرنیو چارو وزیر صلاح الدین رباني ته ډاډ ورکړی دی.

بین الافغاني خبرې کیدای شي په یوه یا دوه اونیو کې پیل شي او جرمني د طالبانو د استازو او د افغان دولت د استازو ترمنځ د مخامخ خبرو د ترسره کیدلو ضمانت کړی دی."

د جولای پر لومړۍ نیټه د طالبانو د قطر د سیاسي دفتر ویاند سهیل شاهین پر ټویټر ولیکل:"کله چې د نړیوالو شاهدانو په حضور کې د بهرنیو ځواکونو دوتلو مهالویش اعلان شي بیا به له افغاني جهتونو سره مذاکرات شروع کیږي خو د کابل له اداري سره به دحکومت په حیث خبرې نه کیږي" .

[۱۳۸] امریکا چې القاعده یې د ترهګرو ډلو له جملې ښودله، پر دي یې ټینګار و چې له طالبانو سره د تړون په متن کې د القاعدې د نوم له ذکر کولو سره یو ځای د "ترهګرۍ" کلِمه هم ولیکي، مګر طالبانو ونه منله، بالاخره امریکا ومنله چې طالبان له القاعده ډلې سره خپلې اړیکې پرې کوي، او له القاعده سره د ترهګرې کلِمي یو لیکلو څخه تیر شول.

د جولای پر دوېیمه د امریکا ولسمشر ټرمپ له فاکس نیوز سره مرکه کې وویل:"امریکا به له افغانستان څخه د خپلو سرتېرو د وتلو تر توافق وروسته هم په دغه هېواد کې «ډېر قوي استخباراتي حضور» ولري.

موږ غواړو چې له افغانستان څخه خپل سرتېري وباسو، ولي دا اندیښنه شته چې د امریکایي سرتېرو د نشتوالي په صورت کې به له افغانستان څخه د تروریستي حملو د تر سره کولو د مرکز په توګه استفاده وشي. ځکه افغانستان د ترهګرو لابراتوار دی، او زه یې د ترهګرو هاروارډ بولم[139].

امریکایي جنرالان په افغانستان کې د امریکایي سرتېرو په پاتې کېدو سره په ټینګار د امریکا پر ځای په افغانستان کې د تروریستانو پر مرکزونو حملو ته لومړیتوب ورکوي.

که چیري امریکایي سرتېري له افغانستان څخه ووځي، واشنګټن به په افغانستان کې «قوي استخباراتي حضور» ولري".

ټرمپ تېره اونۍ له «ټایمز» ورځپاڼې سره هم مرکه کې ویلي و چې په افغانستان کې به د خپلو سرتېرو شمېر ۸ زرو ته راټیټ کړي.

امریکا دا مهال د ناټو په چوکاټ کې په افغانستان کې ۹ زره سرتېري لري چې د ماموریت عمده برخه یې افغان سرتېرو ته سلا مشورې ورکول او روزنه ده[140]."

د جولای ۳مه مایک پمپیو ولیکل:"ما تیره اونۍ د افغانستان د مشرانو سره د لېدنو پر مهال ویلي و چې په افغانستان کې د سولې وخت را رسیدلی دی. امریکا په افغانستان کې سولې او د سولې کوشش کوونکو کسانو سره مرستې ته ژمنه ده.

---

[139] هاروارډ Harvard University په امریکا کې یو له ډېرو مشهورو او پخوانیو پوهنتونو (۱٦۳٦ ز کال کې پرانستل شوی) څخه ګنل کیږي، او په کمبریج ښار کې ده.

[140] د ولسمشر ټرمپ د مرکې پښتو ژباړه، امریکا ږغ اشنا راډیو څخه په مننې.

پداسې حال کې چې په نړۍ کې ډیر څه روان دی، افغانستان له فکر څخه وتل اسانه خبره ده، خو خلکو ته وایم چې ولسمشر ټرمپ او د امریکا ولس افغانستان نه دی هیر کړی.

امریکا کوښښ کوي چې افغان ټولې خواوې د سیاسي حل لپاره یوې موافقې ته سره ورسیږي.

نن مو په راتلونکې کې د افغانستان د امنیت او پرمختګ لپاره د یو پلان د لټولو په هدف ملاقاتونه کړیدي چې هلته د امنیت او پرمختګ لپاره ډپلوماټیک حضور ولرو".

د جون پر **۳**مه د حامد کرزي له دفتر څخه لاندي اعلامیه خپره شوه:

"د ترهګرۍ د ودې یوازینی لامل د امریکا مبهم سیاست دی

د هېواد پخواني ولسمشر حامد کرزي د افغانستان په اړه د ټرمپ وروستیو څرګندونو ته په اشارې ویلي چې په افغانستان کې د ترهګرۍ د ودې لامل د امریکا مبهم سیاست دی. د ولسمشر کرزي د مطبوعاتي دفتر له خوا په خپرې شوې خبرپاڼه کې د ټرمپ له قوله ویل شوي، افغانستان د تروریزم لابراتوار دی. کرزي زیاته کړې چې د ترهګرۍ اصلي قرباني افغانستان دی او دې هېواد کې روانې ترهګرۍ د امریکا د مبهم سیاست له امله وده کړې او کوي یې. هغه ویلي په افغانستان کې د امریکا له پراخ پوځي، سیاسي او استخباراتي حضور سره سره د داعش ډلې فعالیت د دې خبرې ښه ثبوت دی. پخواني ولسمشر زیاته کړې، د روان تاوتریخوالي یوازینی حل سیاسي ډیالوګ او خبرې اترې دي څو په دې هېواد کې روانې اوږدې جګړې ته د پای ټکی کېښودل شي."

## د اووم پړاو خبرو کې ځنډ

د جولای ۵مه، د جمعې ورځ د طالبانو او امریکا ترمنځ خبرې د یوې ورځې لپاره د جمعې لمانځه او همدې ورځې په خاطر و نه شوي، د جولای ٦مه، تمه وه چې طالبان او امریکایان به د اووم پړوا خبرې پای ته ورسوي او کیدای شي ګډ پریکړه لیک او یا هم پر چمتو شوې مسوده باندي توافق ته ورسیږي او د دواړو خواوو په کښته کچه لاسلیک هم ورباندي وشي، ولي د ورځي په اخر کې دواړو لورو اعلان کړه چې د بین الافغاني غونډې له امله به د اووم پړواو خبرې د دوه ورځو لپاره وځنډوي، او د جولاي پر ۹مه به بیا ځل د طالبانو او امریکا تر منځ د سولې خبرې دوام ولري.

## د اووم پړاو او بین الافغاني مذاکراتو په اړه د طالبانو او خلیلزاد څرګندونې

د جولای پر ٦مه نیټه د طالبانو ویاند ذبیح الله مجاهد پر ټویټر ولیکل:

**په قطر کې د بین الافغاني کنفرانس په اړه د اسلامي امارت د ویاند څرګندونې**

"ټاکل شوې ده چې افغان سولې د حل لارو د لټون په منظور د روان میلادي کال د جولایي میاشتې په (۷او ۸) تاریخونو د قطر هیواد مرکز دوحه کې یو بین الافغاني کنفرانس دایر شي.

دا کنفرانس د قطر او جرمني هیوادونو په هلو ځلو دایریږي چې په کې به څه باندې شپیته تنه افغانان په شخصي ډول برخه واخلي او افغانستان کې د سولې په لارو چارو باندې به بحث او د نظریاتو تبادله وکړي.

په دې کنفرانس به کې د محترم شیرمحمدعباس ستانکزي په مشري د اسلامي امارت ۱۷ کسیز هیئت هم ګډون کوي او هلته به د اسلامي امارت په موقف او دریځ رڼا واچوي.

د همدې کنفرانس د دایریدو لپاره به، په دوحه کې له امریکایي پلاوي سره د مذاکراتو جریان د دوو ورځو لپاره متوقف کړل شي او د جولاي په ۹ تاریخ به بیرته له سره پیل شي. ان شاءالله"

همدارنگه په همدې ورځ د طالبانو د قطر د سیاسي دفتر ویاند سهیل شاهین په ټویټر ولیکل:" نن هم په خاصو گروپونو کې مذاکراتو دوام درلود. سبا او بله ورځ به د بین الافغاني کانفرانس له امله مذاکرات نه وي. په نهم د جولای به بیا مذاکرات شروع کیږي. موږ د مذاکراتو له پرمختګ څخه راضي یو او امید لرو چې پاته کار هم ژر بشپړ شي. تر اوسه له کوم خاص خنډ سره نه یو مخ شوې. "

همدارنگه د جولای پر ٦مه خلیلزاد ولیکل:"د دې تیرو شپږو ورځو خبرې تر بل هر وخت ټاکونکي او گټورې وې. موږ د سولې موافقې پر ټولو څلورو ټکو باندې د پام وړ پرمختګ وکړ: د ترهگرۍ پر وړاندې د مبارزې ضمانتونه، د ځواکونو وتل، په بین الافغاني خبرو اتر او مذاکراتو کي برخه اخیستل، او دایمي او هر اړخیز اوربند.

موږ نن د بین الافغاني ناستې د ملاتړ لپاره په مذاکراتو کې وقفه وکړه. ځکه دا مذاکرات د افغان سولې په بهیر کې حیاتي ارزښت لري. د عمومي موافقې د بشپړېدو لپاره یو څه اړین کارونه پاتې دي. موږ به خپلې خبرې د جولای پر نهمه بیا پیل کړو."

خلیلزاد د جولای ۸مه د شپې ناوخته پر خپل ټویټر ولیکل:" اوس نیمه شپه ده او د سولې بین الافغاني کانفرانس په مثبته فضأ کې پای ته ورسید. زه ټولو گډونوالو، د افغاني ټولنې د ټولو نسلونو استازو، لوړ پوړو حکومتي چارواکو او طالبانو ته د گډ تفاهم موندلو مبارکي وایم. زه د قطر او آلمان څخه د دې کانفرانس د تنظیمولو مننه کوم.

دغه خبرې اترې د افغانانو د څلوېښت کلنې جگړې او ناوړه کړاونو د پای ته رسولو لپاره د لا پرمختګ هیله ور بخښي. مونږ به نن سهار د طالبانو سره د خپلو خبرو په بیا پیلولو سره په خپلو هڅو ټینگار وکړو".

د جولای پر ۹مه خلیلزاد ولیکل:"نن سهار مې د طالبانو سره غونډه درلوده. اوس چین ته روان یم او بیا به د افغان سولې بهیر د راپور ورکونې او مشورې لپاره واسنګټن ته ستنېږم.

د جولای پر ۹مه، د طالبانو د قطر سیاسي دفتر ویاند سهیل شاهین په ټویټر ولیکل: "نن مو د ډاکتر خلیلزاد سره داجنډا په وروستیو ټکیو تفصیلي بحث وکړ او اتفاق پدې شو چې اوس به وقفه وکړو. هر لوری به بحث شوي موضوعات له خپلو مشرانو سره شریک او مشوره وکړي او ژر به د یادو ټکیو د نهایي کولو لپاره کښېنو" .

داچې پلان کې وه چې د جولای پر ۹مه، به د اووم پړاو پاتې بحثونه دوام کوي، د نامعلومو لاملونو له امله خبرو دوام ونه کړ، خلیلزاد مخامخ چین او له هغه ځایه واشنګټن ته ولاړ.

د جولای پر ۹مه د قطر امیر شیخ تمیم الثاني هم په سپینه ماڼې کې د امریکا له ولسمشر ډونالډ ټرمپ سره ولېدل، او په افغان سوله کې یې د قطر هیواد له خوا د هر ډول مرستې ژمنه ورکړه.

د جولای پر ۱۰مه او ۱۱مه، بیجینګ کې د امریکا، روسیې، چین او پاکستاني چارواکو تر منځ د افغان سولې په اړه څلور اړخیزه ناسته وشو، د ماسکو د تیرې ناستې (د اپریل ۲٦مه ۲۰۱۹) ګډه اعلامیه تاید شوه، او د څلور واړو هیوادونو استازو اړینه وګڼله چې د افغان سولې لپاره د سیمې په کچه او نړیواله اجماع را منځته شي.

په یاده څلو اړخیزه غونډه کې د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد ترڅنګ، د روسیې ځانګړي استازي ضمیر کابلوف، د چین ځانګړي استازي ډینګ جون او د پاکستان استازي هم ګډون کړی و.

پر همدې ورځ ضعیف صاحب موږ ته وویل:"طالبان غواړي چې له امریکا سره تړون د ځینو سترو هیوادونو په حضور او د هغوی لخوا د تړون د مادو د تطبیق

تضمین کولو سره له امریکا سره لاسلیک کړي، طالبانو ونه منله چې د اسلامي همکاریو هیوادونو سازمان او یا هم ملګري ملتونه د تړون د عملي کیدو تضمین وکړي، بلکې د طالبانو غوښتنه دا وه چې چین او روسیه د طالبانو او امریکا ترمنځ د تړون د تطبیق لپاره د تضمین کوونکو هیوادونو په توګه ومنل شي. همدارنګه په سمبولیک ډول، له چین او روسیې سره یو ځای قطر هیواد هم د دوه اړخیز (طالبانو او امریکا) تړون تضمین کوونکي هیواد وي، له همدې کبله ده چې اوس خلیلزاد چین ته تللی تر څو له هغوی او روسیې سره د قطر د اووم پړاو خبرو جزیات شریک کړي."

د جولای پر ۱۲مه، جاپاني رسنۍ راپور ورکړ چې شېرمحمد عباس ستانکزي د مرکې پر مهال ورته ویلي:"ځینې اروپایي او ځینې اسیایي هیوادونه، په ځانګړې ډول جاپان به زموږ او امریکا ترمنځ د سولې له تړون د تضمین کونکي هیواد رول ولري.

له افغانستان څخه د امریکایي ځواکونو د وتلو بهیر له پیل سره سم به، طالبان له امریکا سره د تړون مادې عملي کړي.

د بهرنیو ځواکونو په شتون کې د افغانستان ولسمشرۍ ټاکنې کول، زموږ لپاره د منلو وړ نه دي.

که چېرې ټاکنې د سولې له تړون څخه مخکې وشي، طالبان به په افغانستان کې پر امریکایي ځواکونو بریدونه لا زیات کړي، د بهرنیو ځواکونو تر ښکېلاک لاندې هر ډول ټاکنې، ناقانونه او موږ ته د منلو نه دي."

د جولای پر ۱۱مه د چین بهرنیو چارو وزارت ګډه اعلامیه خپره کړه، او د جولای پر ۱۲مه یې انګلیسي متن د امریکا بهرنیو چارو وزارت لخوا خپور شو.

# د څلور اړخیزه غونډې ګډه اعلامیه

د ویاند دفتر

د لاندي اعلامیې متن د امریکا متحده ایالاتونو، روسیې، پاکستان او چین هیوادونو لخوا په ګډه، د افغان سولې په تړاو خپور شوی، او دا څلور اړخیزه ناسته د جولای پر ۱۰مه او ۱۱مه په بیجینګ کې وشوه.

د چین، روسیې، او امریکا استازو د افغان سولې په تړاو خپله درېیمه مشورتې ناسته په بیجینګ کې وکړه.

درې واړو هیوادونو د پاکستان هرکلی په یاده ناسته کې وکړ، او باوري دي چې پاکستان د افغان سولې تسهیلاتو چمتو کولو کې مهم رول لوبولی شي.

د پاکستان لخوا د چین، روسیې او امریکا لخوا د افغان سولې بهیر کې د هغوی د رغنده هڅو ستاینه وشوه.

په افغانستان او سېمه کې د روان حالت، افغان سولې، ثبات او سوکالي لپاره د څلورو هیوادونو د استازو ترمنځ د ګډو هڅو په اړه د نظر تبادله وشوه.

څلورو اړخونو په ماسکو کې د اپریل پر **۲۵**مه **۲۰۱۹**، د درې اړخیزه موافقې پر ضرورت ټینګار درلود.

ټول اړخونه د اوسني مثبت پرمختګ په اړه خوشبین او هرکلی یې کوي، دارنګه مهمه ده چې څه ډول اندیښنې شریکې او د پرمختللو خبرو لپاره تماسونه له یو بل سره زیات شي، همدارنګه ټول اړخونه په ماسکو او دوحه کې د بین الافغاني تفاهم او خبرو هرکلی کوي.

څلور واړه اړخونه پر ښکېلو اړخونو بږغ کوي چې د سولې دا فرصت له لاسه ورنه کړي، او ژر تر ژره بین الافغاني خبرې او مذاکرات د طالبانو، افغان حکومت او نورو افغانانو ترمنځ پیل شي، او بیا تائید شوې خبرې باید د افغانانو په مالکیت او مشرۍ وي.
موافقه وشوه چې ژر تر ژره د مذاکراتو نتیجه کې د سولې لپاره چوکاټ جوړ شي.
همدا د سولې چوکاټ باید د امنیت منظم او مسؤل انتقال، د تړون جزئیات او د

راتلونکي منظم او ټول شموله سیاسي بهیر، داسې چې ټولو افغانانو ته د منلو وړ وي؛ تضمین کړي.
ځلور واړه اړخونه پر ټولو اړخونو ږغ کوي او هڅوي یې چې د تاوتریخوالي د کموالي لپاره قدمونه واخلي، چې په نتیجه کې یې هر اړخیز او دایمي اوربند ته لاره هواره، او د بین الافغاني مذاکراتو سره سم اوربند پېل شي.

ځلور واړه اړخونه موافقه کوي چې دا مشورتي حرکت او هڅې جاري وساتي، او نورو مهمو برخه اخیستونکو / هیوادونو ته به هم بلنه ورکړي چې هغوی هم د ماسکو له دري اړخیزه توافق سره موافقه وکړي، کوم چې د اپریل پر ۲۵مه۲۰۱۹ په ماسکو کې شوی، همدا پراخه ډله/هیوادونه به هغه وخت سره کیني چې کله بین الافغاني مذاکرات پیل شي، د بلې مشورتې ناستې نیټه او ځای باندي به د ډیپلوماټیکو چینلو د لارې موافقه کیږي. [۱۴۱]

خلیلزاد هم پر خپل ټویټر د جولای پر ۱۲مه ولیکل:"پرون مو د چین او روسیې سره د افغانستان د سولې په اړه دري اړخیزه غونډه لرله. په دې غونډه کې پاکستان هم د څه وخت لپاره ګډون وکړ[۱۴۲].
موږ موافقه وکړه چې د طالبانو، افغان حکومت، او نورو افغانانو تر منځ بین الافغاني مذاکرات باید سمدستي پیل شي؛ دا مذاکرات باید ژر تر ژره د سولې یو چوکاټ وړاندې کړي؛ او د راتلونکي لپاره یو داسې همه شموله سیاسي طرحه وړاندې کړي چې ټولو افغانانو ته دمنلو وړ وي.

---

[۱۴۱] د ګډې اعلامیې انکلیسي متن د امریکا او چین بهرنیو چارو وزارتو په ویبپاڼو کې:
https://www.state.gov/four-party-joint-statement-on-afghan-peace-process/#.XSiZc۰BCD۷I.twitter
https://www.fmprc.gov.cn/mfa_eng/wjdt_٦٦٥٣٨٥/٢٦٤٩_٦٦٥٣٩٣/t١٦٨٠٤٨١.shtml

[۱۴۲] ویل کیږي چې پاکستان د چین په غوښتنه یادې غونډې ته ور بلل شوی و، روسانو وړاندیز کړی و چې په راتلونکې ناسته کې ایران هم ګډون ولري. له همدې امله امریکا او چین په راتلونکو غونډو کې د پاکستان له ګډون څخه هم په ښکاره صرف نظر شول، ځکه که پاکستان د افغان سولې اړوند دري اړخیزه (ماسکو، واشنګټن او بیجینګ) ناستو کې ګډون کوي، نو روسان به ټینګار وکړي چې ایران ته هم په ناستو کې ګډون ورکول شي.

موږ همدارنگه موافقه وکړه چې اوس باید تاوتریخوالی راکم شي او یو جامع او دایمي اوربند د بین الافغاني مذاکراتو له پیل سره سم شروع شي. موږ موافقه وکړه چې له نورو بین المللي شریکانو وغواړو تر څو د مذاکراتو د شروع کېدو سره په دې پروسه کې راګډ شي. ډېر مثبت".

## له ازادي راډیو سره د جان باس مرکه

۱۱ جولای ۲۰۱۹

په کابل کې د امریکا سفیر جان بس وایي، د هېواد هدف یې دا دی چې په افغانستان کې جګړې ته د پای ټکی کېښودل شي، نه دا چې له دغه هېواده خپل ځواکونه وباسي. ده له ازادي راډیو سره په خبرو کې وویل:" لومړی غواړم روښانه کړم چې د سپټمبر تر لومړۍ نېټې زموږ هدف د طالبانو او افغانانو تر منځ یوې هوکړې ته رسېدل دي چې د دې لپاره موږ هڅه کوو، زموږ لوی هدف دلته د روانې اوږدې جګړې ختمول دي، نه د وتلو یوې هوکړې ته رسېدل؛ بلکې د سولې یوې داسې هوکړې ته رسېدل چې دا جګړه پای ته ورسوي.

امریکا به یوازې د طالبانو پر خبرو او ژمنو تکیه نه کوي او طالبان باید خپلې ژمنې افغانانو ته عملي کړي.

موږ هیله لرو او له افغانانو سره مرسته کوو چې د دوحې د دوه ورځنۍ ناستې څخه ترلاسه شوې مثبتې او رغوونکې پایلې په داسې ډول منسجم کړو چې په لنډ وخت کې د دې شاهدان و اوسو چې افغانان خپلې هغې هیلې ته چې له کلونو راهیسې یې له یو بل څخه جلا کړي او د جګړې د زیاتوالي لامل شوی ورسېږي.

موږ د طالبانو هغو خبرو ته چې وایي له ترهګرو ډلو څخه ملاتړ نه کوي او د افغانستان هغه خاوره چې د دوی تر کنټرول لاندې ده امریکا او ملاتړو ته به یې ګواښ نه وي، خو موږ له هغوی غواړو څو دا ژمنې په عمل کې ثابتې کړي او وښیې چې خپلې ژمنې عملي کوي".

د جولای پر ۱٦مه رسنیو د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر شاه محمود قریشي خبرې خپرې کړي، هغه ویلي و:" د طالبانو او امریکا ترمنځ د خبرو د زمینې برابرولو لپاره د دې هیواد هڅې د واشنګټن سره د اسلام آباد د اړیکو د ښه کیدو سبب شوي.

امریکا ته د عمران خان د سفر په ترڅ کې به د دواړو هیوادونو په عمومي اړیکو خبرې وشي، او له طالبانو سره د سولې مذاکرات به د دې خبرو عمده مسئله وي.

پاکستان د افغانستان لپاره د سیاسي حل لارې د پرمخ بیولو په اړه د جمهور رئیس ټرمپ د تصمیم هر کلی کړی دی، هغه څه چې په حقیقت کې د اوږدې مودې راهیسې د پاکستان دریځ هم دی.

د افغانستان په هکله د امریکا او پاکستان د تګلارو یو شان والي د افغانستان د لانجې د حل لپاره هیلې رامنځ ته کړي دي."

د جولای پر ۱٦مه، د امریکا د پوځ ورځپاڼې (میلیټري ټایمز) ولیکل:"د امریکا د متحده ایالاتو د دفاع وزارت په یوه تازه رپوټ کي ر اغلي، که چیرته له طالبانو سره په قطر کي د امریکا رواني خبري نتیجې ته ورسیږي، سیاسي موافقه هم وشي، خو بیا به هم القاعده، داعش، او د طالبانو ځیني افراطي غړي د افغان حکومت، عادي افغانانو، امریکا، او د امریکا متحدینو ته ګواښ وي.

همدا د ترهګري ګواښونه د امریکا متحده ایالات، نړیواله ټولنه، او افغان امنیتي قواوي دېته مجبوروي چي په افغانستان کي د راتلونکو کلونو په جریان کي د تروریزم ضد قوي قابلیتونه او ظرفیتونه وساتي.

که له طالبانو سره د سولې تړون هم وشي ، بیا هم له ترهګرو ډلو سره د مبارزې لپاره قوي امریکایي ځواکونو ته اړتیا لیدل کیږي" .

د پنټاګون له دې راپور څو ورځې مخکې، د جولای پر ۱۱مه، د امریکا د لوی درستیزانو نوماند رئیس جنرال مارک میلي د امریکا سناجرګې ته ویلي و:"له افغانستان څخه د امریکایي پوځیانو په بیړه ایستل تېروتنه ده، د سولې موافقي په صورت کې هم په افغانستان کې د پیاوړو امریکایي ځواکونو شتون ته اړتیا ده".

## امارت په خلکو په زور منل شوی و

د جولای ۱۶مه، د ارگ په فیسبوک پاڼه د ډاکټر غني هغه مرکه خپره شوه چې د ترکيې د ټي آر ټي نړيوالي شبکې سره يې کړې وه، هغه په مرکه کې وويل:"امارت تر دې وړاندې هم په خلکو په زور منل شوی و او تر دې وروسته هم د منلو وړ نه دی.

هغه سوله چې په ټاکنو باندې منفي اغېز کوي د منلو وړ نه ده، راتلونکي مذاکراتو کې طالبان له افغان حکومت سره مخ کېږي، دا له امريکا سره د طالبانو مذاکرات نه دي.

موږ له امريکا او نورو متحدينو سره په دې برخه کې همږغي يو چې سوله بايد تر ټاکنو وړاندې وغوښتل شي خو ټاکنې اړينې دي، د افغانستان سوله سختې پريکړې په ځان کې رانغاړي او په تړاو يې فيصله بايد د افغانستان راتلونکی حکومت وکړي.

د موقت حکومت غوښتنه غير عقلاني پريکړه ده، د انتخاباتو له لارې راغلی مشروع حکومت هيڅوک نشي ـ منحل کولای، او هيڅ اداره نشي ـ کولای مؤقت حکومت تشکيل کړي.

انتخابات مهم دي. ځکه انتخابات د اساسي قانوني له مخې يوه حتمي پروسه ده او د افغانستان راتلونکی ولسمشرـ هغه که زه وم که بل څوک بايد د سولې لپاره واک ولري، ځکه سوله سختې پريکړې، سختې چانې وهل غواړي او بايد وکولی شي چې بېرته يې د افغانستان پر خلکو ومني.

د طالبانو د ډلې امارت د افغانستان خلکو منلی نه و بلکې په زور پرې تحميل شوی و، سوله بايد د جمهوريت په چوکاټ کې وي نه د امارت، هيله مند يم چې د سولې ابتدايي توافق تر انتخاباتو مخکې د سپټمبر تر لومړۍ نېټې پورې وشي. ورپسې به جامع هوکړه کېږي چې د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د مذاکراتو په نتيجه کې به ترلاسه کېږي او ورپسې به عملي کېږي.

هر ډول سوله چې کیږي باید د افغانستان خلک یې د ملي شورا (ولسي جرگې او مشرانو جرگې)، لویې جرگې او یا ټولپوښتنې له لارې تائید کړي.

پاکستان ته په خپل وروستي سفر کې مې د پاکستاني چارواکو سره د مخامخ خبرو پر مهال د افغانستان په اړه د هغوی په لید لوري کې د بدلون نیت درک کړی.

د پاکستان په دولت کې په لوړه کچه د لیدلوري بدلون په دې معنی نه دی چې په منځنۍ کچه هم د افغانستان په اړه لیدلوری بدل شوی.

لا هم د پاکستان له خاورې د افغانستان خلاف نااعلان شوې جگړه روانه ده".[۱۴۳]

د مرکې پښتو ژباړه له نن ټکی آسیا او امریکا رږغ څخه را اخیستل شوې.

د جولای ۱۸مه، د امنیت شورا مشر ډاکټر محب الله محب په پروان کې د غونډې پر مهال وویل:" افغانان باعزته سوله غواړي، خو که چیري د سولې روان بهیر د افغان نظام رنگولو یوه دسسه وي په وړاندې به یې ودریږي.

د افغانستان د خلکو دښمنان د اوسني نظام د رنگولو هڅې کوي.

موږ د افغانستان خلک غواړو چې زموږ هېواد ته یو واقعي سوله راشي، باعزته سوله، خو که چیري سوله یوه پروژه وي، او یا یوه دسیسه وي چې زموږ نظام رنگ

[۱۴۳] د جون پر ۲۷مه ۲۰۱۹، ډاکټر غني په اسلام اباد کې د ستراتیژیکو مطالعاتو انسټیټیوټ کې د وینا پر مهال وویل: "پاکستان او طالبان سره نه شلېدونکې او ځواکمنې اړیکې لري. د هڅونې تگلاره موږ ته اجازه راکوي چې یوه ښه تگلاره جوړه کړو. دې برخه کې پاکستان مهمه ونډه لري، ځکه پاکستان او طالبان پر یوه او بل ډېر تکیه دي. موږ باید دا مشخصه کړو. په دې اړه منظم کار وکړو، څو د تاوتریخوالي پر ځای، همکارۍ ته ولاړ شو.
د دې لپاره چې مخکې ولاړ شو، نه غواړم چې تېر مسایل یاد کړم، خو غواړم چې د دوو ټکو پر توپیر قایل شو. یوه بده لار ده چې د تگلارې د نشتون په مانا نه ده، بلکې د غلطیو د تکرار په مانا ده. نن داسې مهال پاکستان کې یوو چې بده تگلاره روښانه شوې او موږ د ښې تگلارې د جوړېدو په لټه کې یوو. "
د ډاکټر غني د خبرو پر مهال د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر شاه محمود قریشي هم ناست و.

کړي، د کورنیو جګړو لامل شي، ټول یې په وړاندې مبارزه کوو. او افغان حکومت به هیڅ کله د افغانستان خلک د یوې "پروژې" قرباني نه کړي.

موږ له خپلو نړیوالو همکارانو مننه کوو، چې زموږ سره یې په وروستیو کلونو کې همکاري کړې، خو که چیري موږ یو فکر ونه لرو، او که چیري اړتیا پیدا شي چې موږ خپل لاره بیله کړو، دا کار هم کوو، هر شخص او هر هېواد خپلې ګټې په نظر کې نیسي، موږ ته د افغانستان له ګټو څخه پرته هیڅ یوه ګټه لوړه نه ده.

پر خپل وخت د ولسمشرۍ ټاکنو تر سره کېدل د افغان حکومت لپاره تر بلې «هرې پروژې او پروسې» لومړیتوب لري.

یو شمېر کړۍ هڅه کوي، د افغان حکومت په سر معامله وکړي او په راتلونکي کې داسې یو حکومت رامنځته کړي چې مشروعیت یې د څو کسانو څخه تر لاسه کړي."



ډاکتر اشرف غني او ډاکتر زلمی خلیلزاد

## افغانان په سوله کې میلمانه نه؛ باید اصلي مالک وي

د جولای ۱۸مه، مخکېني ولسمشر حامد کرزي په کابل سرینا هوټل کې د سولې اوامنیت یوې غونډې ته وویل:" امریکا او نور متحدین یې باید د افغان سولې په اړه روانو هڅو کې د افغانستان د ټولو ګاونډیانو اعتماد او باور له ځان سره ولري، د سولې پر بهیر د ګاونډیانو له باور پرته سوله نشي راتلی، د سولې پر بهیر د باور رامنځته کېدو په هدف باید د ایران په ګډون ټول ګاونډیان په دغه بهیر کې شامل شي.

موږ غواړو چې امریکا او ملګري یې د سولې په اړه روانو خبرو کې د افغانستان د ګاونډیانو بشپړ باور له ځان سره ولري؛ هغوی باید برعکس فکر ونه کړي چې دا د سولې پروسه نه؛ بلکې دا د هغوی په وړاندې د افغانستان له خاورې یوه نوې معامله ده.

افغانان سوله غواړي، خو پر افغان خاورې د امریکا او نورو هېوادونو ترمنځ معاملې نه غواړي.

ایران د افغانستان د ګاونډي په صفت او دارنګه هند هم باید د سولې په بهیر کې شامل شي او امریکا باید له ایران سره کړکېچ کې د افغانستان له خاورې څخه استفاده ونه کړي.

سولې ته د رسېدو لپاره افغانان باید د سولې په غونډو کې د مېلمه په صفت نه بلکې د اصلي مالک په توګه ګډون وکړي.

جنګ په افغانستان کې پاکستان او امریکا پیل کړی دی او دوی به یې پای ته رسوي[۱۴۴]. امریکا باید د سولې په روانه پروسه کې رښتینې وي او دا باید د یو بل ناورین پیل نه وي. ټول افغانان باید ځانونه په سوله کې ګډ وبولي، دوی باید د سولې

[۱۴۴] کله چې امریکا پر افغانستان برید وکړ، هغه مهال حامد کرزی د پاکستان له جیک اباد هوایي ډګره په امریکایي چورلکو کې د افغانستان ارزګان ولایت ته یوړل شو. پر افغانستان د برید پر مهال پاکستان د سند ایالت د جیک اباد او بلوچستان ایالت شمسي اډې د امریکا په واک کې ورکړي وي.

کوربانه وي نه مېلمانه د سولې لپاره هر ډول همکارۍ ته تیار یو، خو پر افغان سوله د امریکا او نورو هېوادونو ترمنځ معامله د منلو وړ نه ده. د افغانستان د سولې په پروسه کې باید د سیمې هېوادونه په تېره ایران او هند هم ګډ کړل شي. د سیمې هېوادونه د سولې لپاره هڅه کوي او موږ یې منندوی یو، مګر له دې پروسې باید ایران او هند هم ګوښه و نه ساتل شي. د سولې اوسنۍ هڅې خورا مهمې دي، دا سوله به د یوه نوي افغانستان بنسټ کېږدي[۱۴۵]، نوی بنسټ باید کوږ نه وي او د یوه بل بحران سبب نه شي."

همدارنګه اجرائیه رئیس ډاکټرعبدالله عبدالله د سولې او امنیت غونډې ته وویل: "طالبان یو لورته له افغانستان څخه د بهرنیو ځواکو وتل غواړي، او بل خوا بیا له افغان حکومت سره خبرې نه کوي، دا دوه کارونه په یو وخت کې ناشوني دي. که طالبان فکر کوي چې د بهرنیو پوځیانو تر وتلو وروسته به په زور واک واخلي، دا هم شونې نه ده، طالبان باید له افغان حکومت سره خبرو ته کیني.

که موږ ونه توانېږو د افغانستان په داخل کې هغه څوک چې د سولې په اړه ۹۹ په سلو کې یو ډول فکر وکړي، د سولې ږغ په واحد ږغ بدل کړو، نو حق نه لرو چې ملامتي د بل چا پر غاړه واچوو، رښتیا همدا ده، که ووایي چې راځئ پلاوی دې خبرې وکړي، که شمېر یې ۴۰۰ ته هم ورسېږي، موږ نه سره جوړېږو.
که طالبان رښتیا هم سوله غواړي نو په ټول هیواد کې دي اوربند اعلان کړ."

---

۱۴۵ کله چې ۲۲ ډسمبر ۲۰۰۱ کې د امریکا لخوا حامد کرزی واک ته ورسید، هغه مهال حامد کرزي او د امریکا ولسمشر جورج ډبلیو بوش دواړو ویل چې دوی د یو نوي افغانستان بنسټ کیښود.

# د کارټر خبرې

د جولای پر ۱۸مه، ډاکټر فیض محمد ځلاند ما (لیکوال) ته وویل چې پرون ورځ مې د ناټو قومندانې کې کارټر ولېد، هغه وویل:" له طالبانو سره په شپږم او اووم پړاو خبرو کې ما هم په امریکایې ډله کې شتون درلود، ځینې داسي څه مې ولیدل چې په نورو افغانانو کې هغه نشته، په هر صورت ځینې ستونزې شته.

۱ – د اسلام او امریکا (کافر) له امله ده چې طالبان له موږ څخه نفرت کوي.

۲ – د ملا فاضل اخوند په سترګو کې له ورایه زموږ د ډلې او امریکایانو سره نفرت ښکاري، د هغه سترګې سرې او ویرونکې دي، که افغانستان ته راغی، د هغه له سترګو به ټول خلک ویریږي.

کیدای شي علت یې دا وي چې په ګوانتانامو کې له هغه سره امریکایانو ډېر ظلم کړی وي.

۳ – امریکا په افغانستان کې ډېر ظلمونه کړي، کیدای شي له همدې امله به وي چې طالبان له امریکایانو څخه ډېر زیات نفرت لري.

۴ – د مذاکراتو پر مهال طالبان وخت تیروي، جدي نه ښکاري، کیدای شي په دې فکر به وي چې امریکایان ښه ذلیل شي.

۵ – طالبانو موږ ته سلام نه را اچوي، حتی خلیلزاد ته هم، او کله چې موږ ورته سلام واچوو، یو نفر جواب راکوي، ټول یې نه راکوي، او چې موږ ور سره روغبړ وکړو، بیا دوېم ځل د افغانانو د دود سره سم، دوی له موږ سره جوړ په خیر نه کوي، بلکې موږ دوی ته وایو چې څرنګه یاست.

۶ – کله چې دوی طالبان ټول ډله سره ولاړ وي، موږ چې ورشو، هغوی ټول له موږ سره خبرې نه کوي، بلکې یو نفر را سره خبرې کوي، هغه نور زموږ سره خبرې نه کوي، له خلیلزاد سره هم دا ډول چلند کوي، که څه هم خلیلزاد ځان مسلمان او افغان ګڼي.

طالبان کله هم پر موږ سلام نه اچوي، او که موږ سلام ورته وکړو، نو یو نفر ووایې چې وعلیکم، او بس، او دویم ځل روغبړ خو بیخې نه را سره کوي[۱۴۶].

کله چې زه له کوم طالب سره په پښتو خبرې وکړم، هغه فکر کوي چې زه جاسوس یم، بیا بیخې خبرې را سره نه کوي.

یو ځل مې مولوي عبداللطیف منصور ته وویل: اندړه! ستړی مه شي، هغه خفه شو[۱۴۷]. اوس زما سره هیڅ کار نه لري.

طالبان له موږ سره بیخې داسي چلند نه کوي لکه افغانان او په ځانګړي ډول پښتانه.

دوی خپلو منځو کې چې خبرې کوي هم ډیر وخت عربي کلِمات کاروي، او موږ یې په خبرو هیڅ نه پوهیږو.

د دوی په ډله کې ملا امیرخان متقي، مولوي عبداللطیف منصور او حاجي محمد نبي عمري په خبرو پوهیږي، همدا کسان به د سولې خبرې کیدای شي مخکې یوسي، او له نورو کسانو سره یې خبرې نه کیږي.
سوله ۳۰ سلنه امکان لري چې وشي، او ۷۰ سلنه امکان لري چې ونه شي[۱۴۸]."

---

[۱۴۶] د افغانانو دود داسي دی چې کله له میلمنو او یا نورو خلکو سره لومړی ځل روغبړ وکړي، بیا وروسته په ځینو سېمو کې دوېم ځل او په ځینو سېمو کې درېم ځل هم له میلمانه او یا بل شخص سره جوړ تازه او د هغوی د حال او احوال پوښتنه کوي، داسي کله هم نه وي چې له لومړي روغبړ وروسته دي دوېم ځل د جوړ په خیر په ډول د میلمه او یا بل شخص پوښتنه ونه کړي. که داسي وکړي، میلمه یې د ځان توهین ګڼي.

[۱۴۷] کارټر په پښتو خبرې کوي، او د افغانانو د لهجو په اړه د هري سیمې په کچه معلومات هم لري، هغه ویلی و چې پکتیکا او غزني کې چې سلیمان خیل له اندړو سره روغبړ کوي، نو ورته وایې چې اندړه ستړی مه شي.
کارټر تر دې مهاله له طالبانو سره په مذاکراتو کې د امریکایي پلاوي په جوړښت کې ګډون کاوه. او د امریکا د متحده ایالاتو د ګډو ځواکونو لوی درستیز جنرال جوزف ډانفورډ سیاسي سلاکار و.

[۱۴۸] رښتیا هم، په سپټمبر میاشت کې د امریکا – طالبانو د سولې خبرې د ډونالډ ټرمپ لخوا وځنډول شوې.

## د مولوي عبداللطيف منصور خبرې

د طالبانو اړوند حقيقت مجلې سره د مولوي عبداللطيف منصور مرکه چې د سپټمبر پر ۳مه، ۲۰۱۹ خپره شوه، موږ يې ځينې برخې دلته را اخلو:

منصور صاحب د حقيقت مجلې خبريال ته وويل:

په مذاکراتو کې دواړه لوري غواړي چې په وطن کې مو رواني ستونزي د مذاکراتو له لارې حل شي. اسلامي امارت هم لوړو ارمانونو او شرعي مقاصدو ته د رسېدو کوښښ کوي چې په وطن کې د اشغال پای ته رسول او دلته د اسلامي نظام حاکمول دي، امريکايانو هم نور د جگړې توان له لاسه ور کړی، نو له همدې وجې دواړه لوري په پلان کې لري چې د افغانستان ستونزه بايد له سوله ايزې لارې پای ته ورسېږي او موږ تمه لرو او تاسي ته هم زېری درکوو چې ډېر زر به د گټور او نتيجه بښونکی خبر واورئ. ان شاء الله.

**د مجلې اداره**: که بهرنيو هېوادونو ته د سفر او ياهم له امريکايي لوري سره د مذاکرې د مهال کومه د پام وړ خاطره لرئ که وايې ورو خوشال به شو؟

**منصور صاحب**: خاطرې ډېرې دي، خو ډېره د يادولو هغه دوه دي. يوه دا چې زموږ اسلامي او ملي لباس ډېر اغېزناک دی. موږ په خپلو سفرونو کې د خپل لباس تاثير گورو. دا لباس عجب ښايست لري، وقار لري او ډېر ځانگړی لباس دی. دويمه دا چې په مذاکراتي مجالسو کې د طالب استازو برلاسی دريځ او روڼ منطق ډېر خوښوونکی دی. له امريکايي استازو سره دغه ډول زړور چلن به ممکن د ډېرى دولتونو مشران په تصور کې هم ناشونی وگڼي، خو طالب عملاً ورسره سترگې په سترگې مخامخيږي، چې وغواړي خبره يې ردوي، چې وغواړي تعديلوي يې، چې وغواړي نقدوي يې. په مذاکراتو کې عموماً د طالب لوري بريمنه فضاء ډېره جالبه ده.

## د افغان سولې اړوند څرګندونې

د جولای پر ۱۹مه خلیلزاد ولیکل:"په واشنګټن کې مې خپلو مشرانو ته معلومات ورکړل، د جرمنې سفیر هابر، د هند سفیر شرینګل او د ازبکستان د بهرنیو چارو وزیر کامیلوف سره مې د افغان سولې په تړاو خبرې وکړې، د سولې برخه کې د لا زیات پرمختګ لپاره د بل ماموریت د پیل کیدو لپاره چمتوالی نیسم."

د جولای پر ۲۰مه، د نړیوال کړکیج اداري د افغانستان څانګې مسؤل عثمان برهان ما (لیکوال) ته وویل:"تمه ده چې دا ځل به د طالبانو او امریکا ترمنځ تړون لاسلیک شي، د خلیلزاد د ډلې دوه مهمو امریکایانو راته وویل چې هر څه خلاص شوي، دا ځل لاسلیک ته چمتووالی نیول کیږي، دوه مسایل نهایي شوي نه دي، خو ستونزمن هم نه دي، یو داچې په تړون کې د اسلامي امارت نوم ولیکل شي، او بل داچې  د امریکا/ناټو ځواکونو د وتلو وخت به څومره موده وي."

د جولای پر ۲۰مه، د ملګرو ملتونو د عمومي سرمنشي ـ مرستیالې امنې محمد په کابل کې د خبرې ناستې پر مهال وویل:"موږ د سولې له هغې هوکړې ملاتړ کوو چې ټولو افغانانو ته د منلو وړ او د ښځو حقونه پکې خوندي وي، او د سولې ناستو کې د خلکو رښتونې استازولې ته اړتیا ده.

د تلپاتې سولې او عدالت د ټینګښت لپاره وخت ته اړتیا ده، د سولې بهیر باید د ټولو افغانانو لپاره منلي وي، ولسمشرۍ ټاکنې بل بحث دی چې سپټمبر کې به وي، دواړه (سوله او ټاکنې) مهم بحثونه دي، یو بل پوري تړلي دي."

## د ټرمپ جنجالي څرګندونې

د جولای پر ۲۲مه د امریکا ولسمشر ټرمپ د پاکستان له لومړي وزیر عمران خان[۱۴۹]سره په سپینه ماڼۍ کې د خبرې ناستې پر مهال وویل:"که وغواړم چې د افغانستان جګړه ختمه کړم، په یوه اونۍ کې دا کار کولای شم، او یوازې لس ورځې غواړي چې زه باید لس میلیونه افغانان ووژنم، او افغانستان د نړۍ له نقشې څخه ورک کړم. خو دا کار نه کوم، نه غواړم چې افغانستان یو مخې برباد او تباه کړم. موږ په افغانستان تر ټولو لوی (موربم) وغورځاوه، همدا کار په تکرار سره کولای شو، ولې نه غواړم چې افغانستان پوپنا کړمخ[۱۵۰].

موږ له پاکستان او نورو هېوادونو سره پر دې کار کوو چې څه ډول امریکایي پوځیان له افغانستان څخه ووځي، ځکه امریکا نه غواړي چې په سیمه کې د پولیسو

---

[۱۴۹] امریکا ته د عمران خان د سفر پر مهال له هغه سره د پوځ مشر جنرال قمر جاوید باجوه، او د بهرینو چارو وزیر شاه محمود قریشي هم واشنګټن ته تللي وو. عمران خان، باجوه او قریشي جلا جلا د امریکا بهرنیو چارو وزیر مایک پمپیو سره لېدنې کړې وې.

[۱۵۰] د ولسمشر ډونلډ ټرمپ په امر د اپریل ۱۳مه ۲۰۱۷، ماښام پر ۷:۳۲، د ننګرهار ولایت، اچین ولسوالۍ کې تر ټولو غټ غیر اټومي ۱۱ ټنه بم "مور بم Mother Of All Bombs - MOAB " وکارول شو.

مور بم د امریکا د پوځ لخو په اچین کې د داعش وسلوالي ډلې په تونل وکارول شو، افغان چارواکو راپور ورکړ چې د برید له امله ۹۶ داعش وسلوال وژل شوې. مګر د سیمې خلکو بیا ویل چې د مور بم تر کارونې څو ورځې وړاندې یاد تونل د داعش وسلوالو لخوا خالي کړل شو، او په یاده سېمه کې د مور بم له امله خلکو ته مرګ ژوبله نه ده اوښتې. افغان شنونکو په یوه خوله ویل چې امریکا غوښتل د مور بم اغیز او د تخریب ساحه او اړوند ارزونه په یاده سېمه کې وکړي. اوسمهال په یاده سېمه کې د مور بم ناوړه اثرات په زیږېدونکو ماشومانو کې لېدل کیږي.

ځینو افغان سیاستوالو وویل چې امریکا غواړي په دې ډول داعش ډله لویه او خطرناکه وښیې، او د مور بم کارول یې د امریکا لخوا د داعش ډلې لپاره نړیوال کمپاین وباله.

رول ولوبوي. موږ په افغانستان کي ۱۹ کاله پاته شوي یو، نور بس دی، او ډېر ژر به د افغانستان د سولې په اړه ښه خبرونه واورئ" .

د پاکستان لومړي وزیرعمران خان وویل:"د افغانستان جګړه نظامي حل نه لري، د ولسمشر ټرمپ د سولې تګلاره سمه ده، موږ به د امریکایې بندیانو د ازادولو لپاره خپلې هڅې وکړو."

د ولسمشر ټرمپ او لومړي وزیر عمران خان تر لېدو وروسته بهرنیو رسنیو راپور ورکړ چې امریکا به له پاکستان سره ځنډول شوې کلنۍ مرستې بیرته پیل او هر کال به د پاکستان پوځ ته ۱،۳ میلیارډه ډالر ورکوي.

بلخوا بیا هندي رسنیو د ټرمپ او عمران خان د لېدنې په اړه اندیښنه ښودلې، او د یادو مشرانو لېدنه د هند لپاره خطرناکه بولي. هندي رسنیو لیکلي چې پاکستان هڅه کوي هند د افغانستان د سولې په مسئله کې ګوښه وساتي.

## ډیورنډ کرښه د بریتانیا لخوا کښل شوې

د سپټمبر پر ۲۳مه، د پاکستان لومړي وزیر عمران خان په نیویارک ښار کې د امریکا د بهرنیو اړیکو شورا څېړنیز مرکز Council on Foreign Relations - CFR کې د خبرو پر مهال د ډیورنډ کرښې په اړه وویل:"ډیورنډ کرښه هغه کرښه ده چې انګلیسانو جوړه کړې او هلته کوم سرحد نشته."

د هغو تورونو د شتون په اړه چې ګواکې یاغیان له پاکستان څخه افغانستان ته ځي په "ډیورنډ کرښه" باندې ازغن تارغځول شوی.

عمران خان وویل: "په پاکستان کې ۲،۷ میلیونه افغان مهاجر اوسیږي او د پاکستان حکومت ته ستونزمنه ده چې پوه شي څوک څه وخت ځي او څه وخت راځي".

## د افغان حکومت غبرګون

د امریکا متحدو ایالتونو د جمهور رئیس د څرګندونو په اړه د افغانستان اسلامي جمهوري دولت مطبوعاتي اعلامیه

۰۱ - زمري - ۱۳۹۸

ارګ، کابل: افغانستان د نړۍ له پخوانیو ملت –دولتونو څخه یو دی چې د تاریخ په اوږدو کې له ځو بحرانونو څخه راوتلی دی. د افغانستان ملت هیڅ بهرني قدرت ته د خپل برخلیک د ټاکلو اجازه نه ده ورکړې او نه به یې ورکړي.

له نړۍ او په ځانګړي ډول له امریکا متحدو ایالتونو سره زموږ شراکت او همکاري د متقابلو ګټو او متقابل درناوي پر اساس دی. موږ د سولې په راوستلو کې د امریکا د همکارۍ ملاتړ کوو، اما زموږ د هیواد اساسي برخلیک د بهرنیو دولتونو د مشرانو په ناستو کې د افغانانو د زعامت له حضور پرته نشي ـ ټاکل کېدلای. زموږ افغانستان به تل د نړۍ د سیاست صحنه کې په صلابت او عظمت پاتې شي.

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د دوه همکارو دولتونو ترمنځ هراړخیزو اړیکو ته په کتو له ډیپلوماټیکو او دولتي لارو له واشنګټن څخه د پاکستان لومړي وزیر سره د جمهور رئیس ټرامپ د څرګندونو صراحت او توضیحات غوښتي دي.

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت به د دې مسالې اړوند تحولات په دوامداره توګه د افغانستان ازادو خلکو سره شریک کړي.

## د ټرمپ څرگندونو اړوند د طالبانو غبرگون

### د ټرمپ د وروستیو خبرو په اړه د اسلامي امارت د ویاند څرگندونې

تیره ورځ د امریکا جمهور رئیس ډونالډ ټرمپ په واشنگټن کې د پاکستان له صدراعظم سره د خبرو پر مهال ویلي چې که دی وغواړي د افغانستان جگړه په لس ورځو کې د لسو میلیونو افغانانو په وژلو سره گټلی شي او ځینې نورې خبرې.
د ټرمپ دا دریځ چې نه غواړي نور په افغانستان کې د پولیس رول اداء کړي او دا جگړه له یوه بشپړ ملت سره ده چې د دې ملت په ژوند یې نشي گټلای، مثبت ټکي دي، خو دا ادعا چې که وغواړي افغان ملت به له منځه یوسي، لس میلیونه افغانان به ووژني او گواکې بایللې جگړه به په دې ډول وگټي بې مسئولیته خبرې دي چې موږ یې په کلکه غندو.
همدا ارمان چنگیز، انگریز او پخواني شوروي واکمنو گورته ورسره یوړ، برعکس یې امپراطورۍ د ځمکې له نقشې محوه شوې خو افغان ملت لا هسکه غاړه موجود او ژوندی دی او بیا به هم موجود، ژوندی او سرلوړی وي، ان شاء الله تعالی.
امریکا په تیرو اتلسو کلونو کې هم د افغانانو په وژنو کومه صرفه نه ده کړې، د بمونو د مور په شمول یې د ډلېیز قتل مختلف النوع وسلې استعمال کړې، خو اتلس کلنې زور ازمایې ثابته کړه چې د تجاوز او زورزیاتي انتخاب کړې لار یې بې نتیجې ده او د افغانستان له تاریخ څخه چې د امپراطوریو هدیره ده په ناخبرۍ دلالت کوي.
زموږ په نظر ښه داده چې ټرمپ د بې مسئولیته خبرو پرځای د ستونزې اصلي حل ته متوجه شي، د ناکامه دریځونو او غیر عملي ادعاوو پر ځای د منازعې د حل لپاره عملي گامونه پورته کړي.
افغان مسلمان ملت د ښه تعامل او مثبتو اړیکو خورا ښه دود او روښانه تاریخ لري، نو ښه به داوي چې د موضوع پر اساسي سولېیز او معقول حل غور وشي او د اسلامي امارت له مذاکراتي سولېیزې حل لارې او طرحې چې ټول ملت یې همدا ستا سي په اعتراف تر شا ولاړ دی گټه پورته شي.

ذبیح الله مجاهد د اسلامي امارت ویندوی

۱۴۴۰/۱۱/۲۰هـ ق - ۱۳۹۸/۵/۱هـ ش ــ ۲۰۲۹/۷/۲۲م

## بيځايه غرور د ماتي لويه نښه!!...

**د ورځې خبره[۱۵۱]:**

امریکـايي مشرـ ډونالـډ ټرمـپ يوځـل بيـا زمـوږ د گـران هيـواد افغانسـتان پـه اړه داسي له بشري پولـو وتلې خـبرې وکـړې چـې يـو ولسمشرـ څـه چـې هـيڅ يـو د سليم عقل وگړی يې هم نشي کولای.

امریکـا چـې لـه يـوې خـوا نـړۍ تـه د بشريـت د خواخـوږۍ درس ورکـوي، خـو لـه بـلي خـوا بيـا بشرـي نـړۍ تـه د يـو ناسـالم وگـړي پـه خولـه داسي پيغـام ليـږي چـــې لـــه هـــر ډول انســـاني فراســـت او خواخـــوږۍ څخـــه عـــاري وي. د ظـاهري اسـبابو لـه پلـوه يـو ناتوانـه ملـت تـه داسـې انسـاني ضـد اخطـار ورکـول، چـې گويـا د ځمکـي لـه نقشـې بـه مـو محـوه کـړم؛ د دې گـواهي ورکـوي چـې اصـلاً دوی (امریکايـان) هـيڅ بشرـي حـس نلـري او د بشرـيت په نوم دعوې يې ټولي په دروغو بناء دي.

د ټرمـپ لـه ناسـنجيده څرگنـدونو څخـه دا هـم ښـه واضـحه شـوه چـې هغـوی افغانسـتان تـه هيڅکلـه د آبـادۍ پـه نيـت نـه، بلکـې د تبـاهۍ پـه اراده راغـلي وو. د گوډاگيـانو هغـه توجيهـات چـې د امریکـا يرغـل تـه بـه يـې تراشـل؛ هـم د ټرمپ خبرو دروغ ثابت کړل.

ځکـه خـو يـې پـه اتلـس کالـه کـې يـوه د پـام وړ پـروژه افغانـانو تـه پـه سـوغات کـې ورنکـړه. پرتـه لـه دې چـې شـپه او ورځ يـې ورتـه مرگونـه او زخمونـه ډالـۍ کړي.

امریکـايي ټرمـپ بايـد پـه دې پـوه شي چـې افغـان ملـت يـو سـپيځلی مسـلمان تـاريخي ملـت دی، کـه څـه هـم د ظـاهري اسـبابو لـه پلـوه ناتوانـه دی، خـو پـه معنـوي لحـاظ دومـره سـتر دی چـې شـل امریکـاوي يـې سـيالي نشيـ کـولای،

[۱۵۱] د ورځې خبره، د طالبانو رسمي نظرياتو اړوند سياسي تبصره ده، چې د دوی په رسمي ويب پاڼه شهامت او الامارة کې خپريږي، ياده سياسي تبصره د جولای پر **۲۳**مه خپره شوې.

افغان ولس پر هغه ذات یقین او باور لري، د چا په ولکه کې چې د دنیا د ورانۍ او آبادۍ مکمل اختیار دی، همغه واحد او لاشریک ذات دی چې د انساني تاریخ په اوږدو کې یې تر ټرمپ په څلونو ستر فراعنه د کمزورو خو ریښتینو انسانانو په لاس را نسکور کړي دي.

ټرمپ چې نن په ډېر حقارت سره د افغانستان نوم یادوي او وایي چې که مې غوښتلای د ځمکې له نقشې به مې حذف کړی وای؛ همدا وړوکی افغان ولس و چې په تېره یوه پیړۍ کې یې تر ده وړاندې دوې سترې امپراتورۍ را نسکورې کړې، درېیمه یې همدا ستا امریکا ده چې اوس د تیښتې په لټه کې لالهانده گرځي.

افغان ولس پر هیچا ظلم نه کړی او نه به یې وکړي، خو چې څوک مغرور په نړۍ کې پیدا کیږي او په ظلم سره وربانډې تیری کوي، بیا افغان داسې ملت نه دی چې څوک دې روغه ککرۍ تري وباسي، ټرمپ باید خپل غرور بیرته واخلي، او په دې پوه شي چې افغانستان تش نوم نه دی، بلکې دا په تاریخ کې ثابته د امپراتوریو هدیره ده. بیا هم افغان ملت د امریکا پر ټول ولس داسې گمان نه کوي چې هغوی ټول د ټرمپ غوندې ناسنجیده او له انساني زړونو خالي مخلوق دی، ښایي ډېری لږ وگړي یې د ټرمپ همږغي انسانان وي، ځکه هیڅ سلیم الفطرته انسان د دا ډول ناسمو څرگندونو جرأت نه کوي.

حقیقت دا دی چې د امریکا یرغلگر واکمن او پوځي جنرالان لومړی د خپل غرور پر نیلي سپاره افغانستان ته په دې هیله داخل شول چې گویا دا جغرافیه به هرو مرو د دوی تلپاتې قرارگاه وي، دوی داسې فکر نه کاوه چې د یو کمزوري خو په معنوي لحاظ باتور ملت له لاسه به بالاخره، د نړیوال زبرځواک اجنډاوې په خوب او خیال بدلیږي، او د ماتې پر داسې گړنگ به دریږي چې که په تیښته ځان ونه ژغوري؛ ور لویدل به یې حتمي چاره وي. همدا ستر لامل گڼل کیږي چې اوس د هغه نا اتکل شده شکست د پټولو په موخه دا ډول ناسنجیده څرگندوني کوي.

## په ټولنیزو رسنیو کې غبرګون

په ټولنیزو رسنیو کې ډېرو افغانو د ټرمپ دا ډول څرګندونې وغندلې، او ټرمپ یې لیونی وباله، ځینو داسې پخوانیو چارواکو هم د ټرمپ خبرې وغندلې چې په تېرو ۱۸ کلونو کې یې هیڅکله د امریکا د جنایتونو غندنه نه وه کړې.

د ملي امنیت مخکیني مشر او ولسمشرۍ ټاکنو ته نوماند رحمت الله نبیل یو له همدې کسانو څخه و، چې په لومړی ځل یې د امریکا په اړه منفي غبرګون وښود، او هغو سیا ستوالو ته یې پېغور ورکړ چې د ټرمپ پر څرګندونو غبرګون ونه ښیې، نبیل ولیکل:"هغه افغان سیاستوالو چې د رئیس جمهور ټرمپ د خبرو په غبرګون کې تر اوسه دریغ ندی نیولی او یا یې هم محافظه کارانه دریغ نیولی، په دی هیله دی چې دوی ته به پاکستان په راتلونکی "اسلامی امارت"کي کومه چوکۍ ورکړی! (سپی هیله!)"

نبیل له طلوع نیوز سره مرکه کې وو یل:"زه د یوه افغان په توګه، خپل رسمي احتجاج ټرمپ او د هغه ستراتیژیک ملګرو (افغان حکومت) ته وړاندې کوم، زما مشوره ورته داده چې د یو میلیون افغانانو د وژلو پر ځای د پاکستان د استخباراتي ادارې او افسرانو ۳۰ لوړ پوړي کسان په تور لسټ کې شامل کړي.

ټرمپ په دا ډول څرګندونو؛ نه یوازې د افغان جګړې افغان امنیتي ځواکونو وینې ته سپکاوی کړی، بلکي د هغو امریکایې پوځیانو وینو ته یې هم سپکاوی کړې چې په افغانستان کې یې له ترهګرې سره د جګړې پر مهال وینه تویه شوې."

له امریکا رغ سره د نبیل مرکه: "درې مسایل دی، لومړی دا چې ټرمپ د افغانستان له تاریخ څخه ډېر بې خبره ساتل شوی، دویم داچې امریکا د پاکستان سره د افغانستان په اړه ځواکمنه تګلاره ښیي، دریم داچې امریکا غواړي بیا پخوانۍ ناکامه تجربه تکرار او د افغانستان مسئله د پاکستان له لارې حل کړي.

اوس چې د امریکا ولسمشرۍ ټاکنې را نږدې شوي، ټرمپ چې تیر ځل کومې ژمنې له امریکایانو سره کړې وې، غواړي چې ورته وښیي چې زه د افغانستان

جګړه ختموم، دا د پاکستان په ګټه تماميږي، پاکستان غواړي چې پر دوی نړيوال فشارونه ور باندي کم شي.

پاکســـتان غواړي چې طالبان بيا واک ته ورســـوي، کله چې د ډاکټر نجيب الله د حکومت پر مهال، د شوروي پوځيانو له وتلو وروسته ځينې جهادي مشرانو غوښتل له هغه سره خبرې وکړي، د پاکســـتان اســـتخباراتو د جګړې په ډګر کې له ځينو قومندانانو سره اړيکې ټينګې کړي، او ويې نه غوښـــتل چې د مجاهدينو مشرـان د هغه وخت ډاکټر نجيب الله د حکومت له اســـتازو سره خبرې وکړي، پاکســـتان همهغه پلان لري[۱۵۲].

پاکســـتان غواړي چې د افغانســـتان کورنۍ او بهرني تګلاره د دوی تر نفوذ لاندي وي، او ډيری د افغانستان مسايل د پاکستان په ګټه تمام شي. "

نبيل پر ټويټر ټرمپ ته وليکل:"زه باوري يم چې د ټرمپ د رسنيو دفتر به، په هيواد مينو افغانانو عکس العمل در سره شريک کړي، تاسي (ټرمپ) د غه کمزوري، بلکي وياړلي او چوپ خوله (انعطاف منونکي) ولس ته درناوی نه لرئ، ســـتاسي د معلوماتو لپاره وايم، موږ کمزوري نه يو، سړي جګړې او له ترهګري سره جګړو موږ کمزوري کړي يو، مګر تر اوسه مات شوې نه يو.

افغانستان د نړۍ په تاريخ کې ۵۰۰۰ کلن شاليد لري، زموږ هيواد مصنوعي نه دی، او نه هم د ۷۰ کلونو دروغجن تاريخ لرونکي، موږ له امريکا سره ســـتراتيژيک

---

[۱۵۲] د ډاکټر نجيب الله استازو د حکمتيار په ګډون، د بېلابېلو ګوندونو له رهبرانو سره اړيکې نيولي وې، چې په يو ايتلافي حکومت هوکړې ته ور سره ورسيږي، مجاهدينو له افغان کمونستانو سره د ايتلافي حکومت جوړول رد کړل. درانګه د مجاهدينو د هغه وخت رهبرانو د خپلمنځي اختلاف له امله وه چې د ملګرو ملتونو د طرحې مطابق په سولېيز ډول د ډاکټر نجيب الله لخوا واک ورته ونه سپارل شو، بلکې احمد شاه مسعود د ببرک کارمل د پرچم ډلې او په شمال کې د قومي ميلشو له مشر عبدالرشيد دوستم سره د ايتلاف په نتيجه کې کابل ته داخل او ګډوډې را منځته شوه.

امنیتي تړون لرو، او د تړون یوه ماده داسي ده که چیرته د افغانســتان ځمکنۍ بشپړتیا ته ګواښ وي، امریکا به د افغانستان ملاتړ کوي.

اوس تاسی د افغانستان حاکمیت زموږ د ښمن پاکستان ته پریږدئ. زه غواړم چې زیات کړم چې افغانســتان، امریکا، ســیمه او نور هیوادونه به بیا ځل د د اسي کړنو درنه بیه پري کوي، چې پر پاکســتان باور وکړي، په کار ده چې د بیا ځل ۱۱/۹، ۲۰۰۱ پیښو د واقع کیدو مخه ونیسو."

د مالیې پخواني وزیر، په اسلام اباد کې د افغانستان مخکېني سفیر ډاکټر حضرت عمر زاخیلوال د جولای پر ۲۳مه پر خپل ټویټر ولیکل:"چنګیز او له هغه څخه مخکې او وروســته یرغلګر هم په همدې نیت راغلل او لاړل مګر دا هیواد لا هم ځلیږي لکه ستوری په آسمان! خو ستا خبرې ډالۍ هغو ته چې د بمونو د مور په ګډون یې پر خپلو کلیو ستاسې د هرې نوې وسلې د امتحان هرکلی وکړ او لایې کوي."

د کاردان پوهنتون اســتاد، ســیاسي شــنونکي او په ټولنیزو رســنیو کې فعال ذاکر جلالي ولیکل:"ټرمپ طالبان یاد نه کړل، ویل یې افغانســتان د ځمکې له مخې ورکولی شم!

مانا د ټرمپ جګړه له افغانستان سره ده!

هغوی (د امریکا ملاتړي افغانان) چې ویل یې لطفاً د امریکا پر نیت شـــک مه کوئ، هدف به یې همدا و چې امریکا مو د ځمکې له مخې هم ورکولی شي. نو ترهګري مرهګري هسې ګپ و، جګړه د افغان-امریکا وه! "

او ما (لیکوال) هم ولیکل:" اوبو اخیستي امریکایي مشران ځګ ته لاس اچوي، د ماتې په وخت کې چارواکې تر حد زیاتي غټې خبرې کوي.

افغان ـ امریکا جګړې؛ د ټرمپ لیونتوب لا ډیر کړی، که دا جګړه دوام کوي، ټرمپ به بشپړ لیونی شي.
خدایه! ته یې ګونګ، کوڼ او شل کړي. آمین"

## د ټرمپ څرګندونو اړوند د مخکېني ولسمشر حامد کرزي غبرګون

د حامد کرزي مطبوعاتي دفتر

حامد کرزی د ټرمپ وروستۍ څرګندونې چې د پاکستان لومړي وزیر سره د لېدنې پر مهال يې کړي، په سختو ټکو غندي. کوم چې ټرمپ ويلي:"که وغواړم کولای شم چې د افغانستان جګړه په يوه اونۍ کې وګټم... مګر زه نه غواړم چې لس مېليونه خلک ووژنم."

"که ما غوښتي وای چې د افغانستان جګړه وګټم، نو دا هیواد به مې په لس ورځو کې د ځمکې له کُرې څخه محوه کړي وای."

د ټرمپ دا ډول څرګندونې د افغانستان ولس ته غټ سپکاوی دی، او په کلکو ټکو يې غندم.

دټرمپ دا ډول څرګندونې د افغان ولس او زموږ هیواد په اړه د امریکا د رهبري داخلي نظريات دي، دا د دې څرګندوی ده چې دوی د خلکو ژوند او کرامت ته هيڅ ډول احترام نه لري. دوه کلونه وړاندې پر افغانستان د امريکا لخوا تر ټولو غټ غیر اټومي بمب په کارولو، څرګنده شوه چې دوی زموږ د خلکو او هیواد په اړه ښه نيت نه لري، زموږ ملي حاکميت او انساني ارزښتونو ته درناوي نه کوي.

د افغانستان خلک د امريکا او پاکستان د وروستنيو پټو معاملو په اړه اندېښنه لري، چې له مودې راهسې جريان لري، او په ځانګړي ډول د سولې پروسې له پیله دا اندېښنه شته. د پاکستان د لومړي وزير په شتون کې د ټرمپ وروستۍ څرګندونې ښيي چې د افغانستان د خلکو اندېښنې پر ځای او پر حقه دي.

په يووالي کې زموږ بری دی.

## د ټرمپ د څرګندونو اړوند د مشرانو جرګې د رئیس مسلمیار اعلامیه

۲۳ جولای ۲۰۱۹

د امریکا متحده ایالاتو ولسمشر د نامناسبو څرګندونو په اړه مطبوعاتي اعلامیه!

افغانستان د نړۍ یو له هغو هېوادونو څخه دی چې ډیرو سترو امپراطوریو او زبر ځواکونو ته یې ماتې ورکړې ده، او تاریخ ګواه دی چې هر چا د افغانستان د نیولو او ورانولو نیت کړی دلته له تاریخي او شرموونکې ماتې سره مخ شوي دي.

زه د امریکا د متحده ایالاتو د ولسمشر ډونالډ ټرمپ دغه نامناسبې او غیر ډیپلوماټیکې څرګندونې په سختو ټکو غندم او ده ته وریادوم چې د شوروي اتحاد او انګلیس له شرموونکو ماتو دې عبرت واخلي او د دې ویاړلي ملت سربښندنې، قربانۍ او د زبرځواکو ماتول دې د تاریخ له پاڼو مطالعه کړي.

ټرمپ باید له تاریخ څخه ځان خبر کړي چې په افغانستان کې ګوډ تیمور، انګریز، چنګیز، شوروي او نورو زبرځواکونو هم ستا په شان خوبونه لیدل خو بیا ترې سرونه او تنې دلته پاتې شوې او امپراطورۍ یې ړنګې شوې.

د امریکا ولسمشر بدبختانه چې د افغانستان له تاریخ او تاریخي قُدامت څخه ناخبره دی ځکه یې د یوه باتور ملت او مظبوط وطن په اړه دغه ډول غیر معقولې او بېځایه څرګندونې کړې دي.

د امریکا په شمول هیڅ هېواد دې د افغانستان د نیولو، ورکولو او مهارولو خوبونه نه ویني او نه به یې دا ارمان پوره شي، تر دوی د مخه روس او انګلیس هم دا خوبونه لیدل چې په داسې سرنوشت اخته شول چې بیا ترې د تېښتې لار ورکه وه.

له امریکا سره د افغانستان اړیکې پر متقابلې همکارۍ او احترام ولاړې دي، خو موږ هېڅکله امریکا ته اجازه نه ورکوو چې د یو عظیم او نه ماتیدونکي ملت او د نړۍ پر مخ د یو ویاړلي، قهرمان او باتور وطن د سرنوشت او برخلیک په اړه خبرې وکړي. افغانستان به تل د نړیوال سیاست په ډګر کې د خپلواکې ارادې او خپلواک دریځ خاوند وي او په خپلو ټولو سرنوشت ټاکونکو مسایلو کې به له لوړ موقف او خپلواک ادرس څخه برخمن وي.

څو چې ژوند په دې جهان وي: څو چې دا ځمکه اسمان وي

څو چې پاتې يو افغان وي: تل به دا افغانستان وي : تل به دا افغانستان وي

همدارنګه مسلميار پر خپل فيسبوک وليکل:"د امريکا ولسمشر يو بې حافظې او درواغجن سړی دی، د افغانستان په اړه څرګندونې يې په کلکه غندم

امريکا په دومره اوږده موده کې د ترهګرۍ په له منځه وړلو ونه توانېده، نو د افغانستان نابودول او له منځه وړل يو خيال او خوب دی"

## افغان سوله او عمران خان

د جولای پر ۲۲مه، عمران خان په واشنګټن کې د امريکا د سولې نړيوال انسټيټوټ کې د وينا پر مهال وويل:"کوشش کوم چې له طالبانو سره وګورم، ډاکټر غني هم په دي برخه کې ستونزه نه لري چې زه له طالبانو سره لېدنه وکړم، زه به کوشش وکړم چې طالبان له افغان حکومت سره خبرو ته کينوم، او دارنګه د افغان – امريکايي پوهنتون دوه استادان چې له طالبانو سره بنديان دي، د هغوی په اړه به هم ډېر ژر تاسي ښه خبرونه واورئ، او په کار ده چې په افغانستان کې داسي ولسمشرۍ ټاکنې وي چې ټول افغانان د طالبانو په ګډون پکې برخه واخلي."

د عمران خان د څرګندونو په غبرګون کې د طالبانو د قطر د سياسي دفتر سهيل شاهين د جولای پر ۲۴مه رسنيو ته وويل:"موږ د سيمې او نړۍ له هيوادو سره د دوه اړخيزو اړيکو پاللو په موخه ګڼو هېوادونو ته سفرونه کړي، که پاکستان موږ ته رسمي بلنه راکړي. موږ به پاکستان ته له تګ څخه انکار ونه کړو، موږ د افغانستان اړوند مسايلو او پريکړو کې د هيچا تر تاثير لاندي نه راځو، نه هم د هيواد په کورنيو چارو کې چاته د مداخلې اجازه ورکو.

موږ غواړو چې د افغان کشالې د پای ته رسېدو لپاره لومړي له اصلي لوري امريکا سره مذاکرات وروستي کړو، او له هغه وروسته به د افغان کشالې داخلي اړخ باندی له افغانانو سره خبرې کوو."

## د خلیلزاد اتم سفر

د افغانستان د سولې او بیا پخلاینې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد خپل اتم سفر د جولای پر ۲۲مه له واشنګټن څخه پیل، او د جولای پر ۲۳مه کابل ته را ورسید.

د خلیلزاد د سفر په اړه د امریکا د بهرنیو چارو اعلامیه (۲۲ جولای) کې لیکل شوې:"زلمي خلیلزاد سولې ته د زمینې برابرولو او جګړې پای ته رسولو په موخه نوی سفر پیل کړ، چې د جولای له ۲۲مې نېټې د اګسټ تر لومړۍ نېټې به دوام ولري او په ترڅ کې به يې نوموړی له قطر او افغانستان څخه لیدنه وکړي.

خلیلزاد به په کابل کې د افغان حکومت له مشرانو سره د یو داسې ملي ټیم په جوړلو مشورې وکړي چې ټولو لورو ته د منلو وړ وي او په بین الافغاني مذاکراتو کې برخه واخلي.

خلیلزاد به کابل ته د خپل سفر په ترڅ کې د مدني ټولنې له غړو، د سولې او ښځو د حقونو له فعالانو سره خبرې وکړي او له هغه وروسته به دوحې ته له طالبانو سره د بیا ځل خبرو کولو لپاره ولاړ شي".

د جولای پر ۲۳مه خلیلزاد پر خپل ټویټر ولیکل:"پرون د عمران خان سره خبرو کې، د متحده ایالاتو ولسمشر نړۍ ته بیا ټینګار وکړ چې په افغانستان کې د جګړې لپاره معقوله پوځي حل لاره شتون نه لري او سوله باید د یوه سیاسي جوړ جاړي له لارې ترلاسه شي. پاکستان ژمن دی چې سولې ته د رسېدو لپاره هر څه چې يې په توان کي دي ترسره کړي.

زه نن ورځ کابل ته رسیږم، ټوله توجه به مې دېته وي چې څه ډول جګړه ختمه او سولې ته ورسیږو. او اطمنان تر لاسه کړو چې ترهګر به افغان خاوره د امریکا، د امریکا د ګټو او زموږ د ملګرو (متحدینو) پر ضد نه کاروي، د هغو قربانیو درناوی چې امریکا او زموږ ملګرو هیوادونو او افغانانو ورکړي دي، او په راتلونکي کې قوي او ښې اړیکې له افغانستان سره ولرو."

د جولای پر ۲۳مه، د ارګ رسمي ټویټر باندي ولیکل شول:"د افغانستان د اسلامي جمهوريت جمهور رئیس محمداشرف غني نن مازدیګر د افغان سولې لپاره د امریکا متحدو ایالتونو د بهرنیو چارو وزارت ځانګړي استازي ډاکتر زلمي خلیلزاد سره وکتل.

په دغه کتنه کې چې په ارګ کې وشوه، د وروستیو تحولاتو او د افغانستان په هکله د امریکامتحدو ایالتونو د جمهور رئیس د څرګندونو په اړه هراړخیز بحث وشو او لازمه وګڼل شوه چې ډاکټر زلمی خلیلزاد د څه مودې لپاره په کابل کې پاتې شي.

دغه راز ډاکټر زلمي خلیلزاد د هیواد جمهوررئیس ته، سولې ته د رسېدو په برخه کې د خپلو وروستیو فعالیتونو او هڅو په اړه معلومات ورکړل."

خلیلزاد په کابل کې له دولتي مشرانو سره ولیدل، د جولای پر ۲۵مه یې ولیکل:"نن مو په کابل کې د سولې د پروسې په اړه مفید مجلسونه درلودل. ما د ولسمشر غني، اجرائیه رئیس عبدالله، د بهرنیو چارو وزیر رباني او نورو سره وکتل، زموږ خبرې پر آینده ګامونو او د یو جامع او مؤثر مذاکراتي ټیم جوړولو لپاره پر روانو هڅو متمرکزې وې."

ډاکټر اشرف غني له خلیلزاد څخه وغوښتل چې دا ځل په کابل کې تر ټاکلي نیټې زیات پاتې شي، ممکن ډاکټر غني به تمه ولري چې خلیلزاد د حکومت او سیاستوالو د نږدیوالي لپاره مرسته وکړي، تر څو د سولې لپاره جامع او موثر مذاکراتي ټیم جوړولو کې رول ولوبوي.

د جولای پر ۲۴مه د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پمپیو د ګډ حکومت له مشر ډاکټر غني سره پر ټلیفون خبرې وکړي، پمپیو یوه ورځ وروسته پر خپل ټویټر ولیکل:"له ډاکټر غني سره پرون موږ ښې خبرې وکړي، پر دي مو توافق وکړ چې هغه وخت را رسیدلي چې د افغانستان د جګړې د ختم او سولې ته رسېدو لپاره ټولې هلې ځلې ګړندی کړو، ټول اړخونه باید د افغان سولې بهیر د پرمختګ لپاره مخکښ او کار وکړي."

د جولای پر ۲۵مه، د امریکا د بهرنیو چارو وزارت له لوري د مایک پمپیو او ډاکټر غني د خبرو اړوند لاندي اعلامیه خپره شوه.

## د ډاکټر غني او مایک پمپیو د ټلیفوني خبرو ګډه اعلامیه

د امریکا د بهرنیو چارو وزیر پمپیو او د ګډ حکومت مشر ډاکټر غني د جولای پر ۲۴مه ټلیفوني خبرې وکړي، او دواړو موافقه وکړه چې اوس د دي وخت دي چې د افغانستان د جګړې د ختم او سولې ته رسېدو لپاره ټولې هلې ځلې ګړندی کړو، همدارنګه د پمپیو لخوا ډاکټر غني ته ډاډ ورکول شو چې د جنوبي اسیا لپاره د ولسمشر ټرمپ په تګلاره کې بدلون نه دی راغلی. او امریکا په مشروط ډول د پوځیانو وتل غواړي.

ډاکټر غني ته پمپیو وویل چې د امریکا د پوځ لوی درستیز جوزیف ډنفورډ او سفیر خلیلزاد افغانستان ته د دې لپاره درغلي چې له تاسي سره د راتلونکي مذاکراتو (ګامونو) په اړه د سولې پر تګلاره په جزئیاتو باندي بحث وکړي.

ډاکټر غني د افغان سولې بهیر کې د پمپیو د هڅو او د امریکا د ښکیلتیا او لیدونکې رول ستاینه او هرکلی وکړ، او ژمنه یې وکړه چې له امریکا سره به څنګ پر څنګ د ثبات، سولئیز او ډیموکراټیک افغانستان لپاره کار کوي، نه پرېږدي چې بیا ځل افغانستان د ترهګري مرکز جوړ شي.

## د امریکا او بریتانیا د لوي درستیزانو سره د ګډ حکومت د مشرانو لیدنه

د جولای پر ۲۵مه، ډاکټر غني د امریکا متحده ایالاتو د پوځ لوی درستیز جنرال جوزف ډنفورډ او بریتانیې د پوځ لوی درستیز جنرال نیکولا پتریک کارتر سره په ارګ کې وکتل، دواړو لوریو له ترهګري سره د مبارزې، د افغانستان سولې او ثبات او ګډو ګټو د ارزښت په اړه چې د یادو هیوادونو ترمنځ د اړیکو بنسټ تشکیلوي، بحث او خبرې وکړې. دوی د افغان امنیتي او دفاعي ځواکونو د ظرفیت او مهارتونو لوړولو او له دغو ځواکونو څخه د ملاتړ، په ګډو موخو کې د پرمختګونو، ترهګري او افراط ګرایۍ سره د مبارزې په برخو کې د یادو هیوادونو پر مشارکت او ګډو موخو هم خبرې وکړې.

ډاکټر غني وویل چې افغانستان هره ورځ نړیوالي ترهګرۍ سره د مبارزې په لومړۍ کرښه کې قرباني ورکوي، تروریزم مشترک ګواښ دی او په کار ده چې له دې ګډ ګواښ سره مبارزه دوام وکړي.

جنرال جوزیف ډنفورډ او جنرال پټریک په همدې ورځ له اجرائیه مشر ـ ډاکټر عبدالله سره هم د افغان امنیتي وضعیت او او ټاکنو په اړه خبرې وکړي.

## د ډنفورډ له سیاسي سلاکار کارټر سره لیدنه

د جولای پر ۲۵مه ۲۰۱۹، ما (لیکوال) او ډاکټر فیض محمد ځلاند د امریکا د پوځ د لوی درستیز جوزیف ډنفورډ د سیاسي سلاکار، او له طالبانو سره د امریکا د مذاکراتي ډلې له غړي کارټر ملکیژن Carter Malkasian سره، کابل ښار کې د ناټو په عمومي قومندانۍ کې ناسته درلوده.

**کارټر**: د طالبانواو امریکا تر منځ د سولې په خبرو کې ښه پرمختګ شوی دی، افغانان سوله غواړي.

ولسمشر ټرمپ غواړي چې امریکایي پوځیان بیرته امریکا ته ولاړ شي، نه غواړي چې په افغانستان کې پاتې شي، مګر داسي هم نه غواړي چې د امریکا د پوځیانو تر وتلو وروسته دلته افغانستان کې جګړه وي. ټرمپ نه غواړي چې بیاځل او بیرته افغانستان ته د امریکایي پوځیانو اړتیا پیدا شي.

په دوحه کې بین الافغاني ناسته (۷ او ۸ د جولای ۲۰۱۹) ښه قدم و، د طالبانو او حکومت د کسانو ترمنځ خبرې وشوي، که څه هم د حکومت کسان په شخصي ډول غونډې ته ورغلي وو، خو هغوی هلته د افغان حکومت دریځ وړاندي کړ.

ځیني مسایل لا هم پاتې دي چې له طالبانو سره توافق ور باندي نه دی شوی، طالبان د امریکایي پوځیانو ژر وتل غواړي، مګر امریکا له افغانستان څخه مشروط وتل غواړي، داسي چې د تړون ځیني مواد عملي کیږي، د هغه مطابق به امریکا د خپلو پوځیانو شمیر هم کموي. همدارنګه امریکا له طالبانو څخه تاید او ځینې ضمانتونه غواړي.

خلیلزاد به له ملا برادر اخوند  او عباس ستانکزي سره د همدې یادو مسایلو په اړه خبرې کوي، او کیدای شي کومه حل لاره ورته پیدا کړي.

موږ له طالبانو سره چل او دوکه نه کوو، چې سوله وشي، موږ به له افغانستان څخه ځو، موږ په دې برخه کې جدي یو.

موږ ځینې شرطونه لرو، له طالبانو سره مشروط تړون او د پوځیانو مشروط وتل غواړو؛ دا چې طالبان له ترهګرو سره خپلې اړیکې پرې کړي، همدارنګه اوربند ډیر مهم دی، او دا چې بین الافغاني مذاکراتو کې پرمختګ وشي.

د امریکا د بهرنیو چارو وزیر کابل ته راغی، او هغه وویل، تمه لري چې تر سپټمبر میاشتې مخکې د سولې تړون وشي.

**ځلاند**: افغان حکومت د ولسمشرۍ ټاکنو لپاره د کمپاین د وخت نیټه اعلان کړه[۱۵۳]، امریکا په دې اړه څه نظر لري، سوله غواړي او که ولسمشریزې ټاکنې؟

**کارټر**: له خلیلزاد سره همدا نن ما (کارټر) خبرې وکړې، د امریکا لپاره سوله لومړیتوب لري، ولې داچې تر اوسه سوله نه ده شوې، نو په کار ده چې ټاکنو ته هم چمتووالی وي، که په سوله کې پرمختګ وشي، بیا ممکن ده چې ټاکنې ونه شي.

**مطمئن**: ځینې لاندې مسایل دي چې تاسې امریکایان ورته متوجه و اوسئ:

۱ – خلیلزاد فکر کوي چې پر طالبانو له بېلابېلو لارو فشار به د امریکا په ګټه نتیجه ورکړي، مګر داسې نه ده، د خلیلزاد فشار په افغان حکومت او دلته په کور دننه سیاستوالو نتیجه ورکوي، مګر طالبان داسې خلک نه دي چې د خلیلزاد فشار ته غاړه کیږدي، او خلیلزاد همدا کارونه وکړل.

۲ – که امریکا فکر کوي چې محدود شمیر او یا تر کوم نامه لاندې به د دوی نظامي او یا استخباراتي شتون په افغانستان کې طالبان ومني، بیا نو سوله نه کیږي، امریکایانو ته په کار ده چې پوه شي چې د دوی نظامي او استخباراتي شتون دلته افغانستان کې څوک ورسره نه مني، افغان ولس د امریکایې پوځیانو بشپړ وتل غواړي.

۳ – که امریکا پلان لري چې افغان سوله کې پاکستان ته رول ورکړي، له پاکستان څخه افغانان دغه مهال د ښو تمه نه لري، ځکه د مجاهدینو د بریا پر مهال هم چې

[۱۵۳] ٦ زمری ۱۳۹۸ / ۲۸ جولای ۲۰۱۹، د ولسمشرۍ ټاکنو د کمپاین لومړۍ ورځ، او ٦۰ ورځې به دوام کوي. کمپاین به د رایې کارلو له ورځې ۴۸ ساعته مخکې پای ته رسیږي.

کوم حکومتونه په راولپنډۍ او پېښور[۱۵۴] کې جوړ شول، نتیجه یې ښه نه وه، بل داچې طالبان به هم پر پاکستان باور ونه کړي، ځکه د طالبانو مشر ملا اخترمحمد منصور، د طالبانو دفاع وزیر ملا عبیدالله اخوند، د طالبانو د فرهنګي کمیټې مشر استاد یاسر او په زرګونو طالبان د پاکستان لخوا وژل شوې، همدا ملا برادر اخوند د پاکستان په زندان کې نږدې لس کاله بندي و، کله به طالبان د پاکستان له دومره جفا سره بیا هم پر پاکستان باور وکړي.

۴ – که امریکا غواړي چې بین الافغاني تفاهم کې جرمنیانو ته رول ورکړي، او د جرمنیانو لخوا دا بهیر مخکې یوړل شي، او یا هم د هغوی له خوا مدیریت شي، نو فکر کوم چې نتیجه به یې ښه نه وي، او کیدای شي طالبان هم د جرمني دا ډول رول ونه مني، ځکه جرمني درې ځله د افغانستان اړوند مسایلو کې پاتې راغلی.

الف: د لومړی بُن غونډې پر مهال چې جرمني رول درلو او په جرمني کې وشوه، طالبان او حزب اسلامي نالیدلي وګڼل شول، او د لومړي بُن نتایج موږ ولیدل،چې هغه پروسه ناکامه وه.

ب: د دویېم بُن کانفرنس پر مهال (۲۰۱۱ ز کال) جرمنیانو له طالبانو سره ژمنه کړې وه، او پر دې ډیر کار شوی و، له جرمنیانو سره ناستې او پرمختګ شوی و، چې د طالبانو د قطر سیاسي دفتر به رسماً منل کیږي او سید طیب اغا به د غونډې په وروستۍ وخت کې ګډون کوي، جرمنیان له امریکا، طالبانو، افغان حکومت سره په

---

[۱۵۴] په راولپنډۍ کې د مجاهدینو افغان موقت حکومت په ۱۹۸۸ کال کې جوړ شو، د استاد سیاف مرستیال انجنیر احمدشا احمدزي د حکومت رئیس وټاکل شو. مګر د پریکړو واک له رهبري شورا (د مجاهدینو ۷ رهبرانو) سره وو.

د پېښور په ګورنر هاوس ( د والي کوټې) کې د اپریل ۲۵مه ۱۹۹۲، د مجاهدینو د مشرانو لخوا پریکړه وشوه، چې د دوو میاشتو لپاره به حضرت صبغت الله مجددي ولسمشر وي، انجینر حکمتیار به صدراعظم وي، دوه میاشتې وروسته به واک استاد برهان الدین رباني ته انتقال کیږي، په داسي حال کې چې استاد سیاف هم تمه درلودله چې د لنډ مهاله حکومت مشر به شي، خو هغه ته د کورنیو چارو وزارت او د صدراعظم (حکمتیار) مرستیالي ورکول شوه.

دي اړه تفاهم کړی وو، مگر کله چې حامد کرزي د قطر دفتر له رسمي منلو سره مخالفت وکړ، او جرمنیانو سره د افغان حکومت لخوا تفاهم او اسناد هم موجود وو، هغوی دا مسئله همداسي پرېښودله او د قطر دفتر پرانستل ونه شو.

ج – کله چې په **۲۰۱۳** ز کال په قطر کې د طالبانو دفتر په رسمي ډول پرانستل شو، او بیا هم حامد کرزي ورسره مخالفت وکړ، او یوه ورځ وروسته وتړل شو، په دې برخه کې هم جرمنیانو او قطریانو کار کړی وو، او له ښکېلو اړخونو سره یې ځینې تفاهمونه کړي وو، امریکایانو ورسره منلي وه چې د طالبانو په دفتر کې دي د هغوی بیرغ او د طالبانو د اسلامي امارت لوحه وي، مگر د ستونزې پر مهال جرمنیانو سکوت وکړ، او دا ټول اسناد له دوی سره وو، خو هیڅ یې هم ونه ویل چې ستونزه په کوم ځای کې وه.

۵ – د داعش مسئله مهمه ده، که د امریکا لخوا طالبانو ته په دې اړه لازم قناعت ورنه کول شي، سولې ته رسېدل به ستونزمن وي.

**ځلاند**: طالبان وایې چې کله موږ پر داعش حمله وکړو، د هغوی د خلاصون لپاره امریکایان او افغان امنیتي ځواکونه سیمې ته راشي، او د داعش ملاتړ کوي. د جوزجان په درزاب کې چې کله طالبانو داعش محاصره کړ، بیا افغان حکومت د داعش مشران په چورلکو کې خوندي ځایو ته یوړل.

**کارټر**: دا سمه نه ده، داعش د امریکا دښمن دی، په عراق او سوریه کې امریکایانو ډیر داعش وسلوال په نښه او له منځه یې یوړل، موږ غواړو چې له طالبانو سره په گډه د داعش مقابله وکړو.

**مطمئن**: چې سوء تفاهم ونه شي، طالبان کله هم نه غواړي چې له امریکایانو سره یو ځای د داعش پر ضد جگړه وکړي، طالبان دا کار خپله یوازي هم کولای شي، خو له امریکا غواړي چې د داعش په ملاتړ د جگړې پر مهال پر طالبانو بمبارد ونه کړي.

که تاسي د افغانستان په هره گوښه کې له کوم چا د داعش په اړه پوښتنه وکړئ چې د چا لخوا تمویل کیږي، بیا تاسي پوهیږئ.

۶ – افغان حکومت او پاکستان له تاسي (امریکا) سره ۱۸ کلونه چل او فریب وکړ، ستاسي مرستې یې غلا او بې ځایه ولګولي، اوس په کار ده چې د نړیوالو لخوا، نه د امریکا لخوا، همدا ډول مرستې د چارواکو او پاکستان پر ځای، د سولې له تړون وروسته د افغانانو له رښتني استازي حکومت سره د ډیرو کلونو لپاره وشي. او د پاکستان دپوځ سره چې کومه مرسته کیږي، هغه د سیمې د امنیت لپاره راتلونکي استازي افغان حکومت سره وشي.

۷ – د ټرمپ وروستۍ څرګندونې (د جولای ۲۲مه ۲۰۱۹) له طالبانو سره مرسته کوي، ځکه د ټرمپ له څرګندونو ښکاري چې له ټول افغان ولس سره په جګړه کې دی، او حقیقت هم داسي دی، اوس نو چې کوم کسان نه پوهېدل هغوی به هم د طالبانو ملاتړې شي.

۸ – دا خبره هم ډیره اورېدل کیږي که د طالبانو د قطر سیاسي دفتر له امریکا سره د سولې تړون وکړي، ځینې نظامي طالب قومندانان به یې مخالفت وکړي.

لومړی دا چې په قطر کې د طالبانو د ډلې مرستیال مشر او پخوا د کابل د مرکزي قول اردو قومندان ملا برادر اخوند چې خپله هم نظامي سړی دی، او نظامي طالبان ډیر زیات احترام ورته لري، کله چې د طالبانو د نظام پر مهال د ملا محمد عمر اخوند په امر د طالبانو پېژندل شوې قوي او غښ نظامي قومندان ملا دادالله خالي سلاح کېدی، هغه وخت وزیر دفاع، لوی درستیز او یا بل چا دا کار ونه کړ، بلکې ملا برادر اخوند له ملا دادالله او ملګرو څخه یې وسلې واخیستلي، او ملا دادالله او ټولو نظامي قومندانانو ملا برادر اخوند ته زیات احترام درلود.

همدارنګه ملا فاضل اخوند چې د طالبانو د وخت لوی درستیز و، ملا خیرالله خیرخوا د طالبانو د لومړۍ کرښې سړی او د کورنیو چارو وزیر و، ملا نور الله نوري د شمال کرښو نظامي مسؤل او د شمال زون تنظیمه رئیس و، ملا عبدالحق وثیق د استخباراتو مرستیال مشر او مولوي محمد نبي عمري د سرحدي څواکونو مسؤل و، دا ټول نظامي کسان دي، نو بیا دا اندیښنه بې ځایه ده.

۹ - په افغانستان کې د معادنو موضوع مهمه ده، امریکایان هم دا غواړي، موږ هم اړتیا لرو چې معادن استخراج شي، تر روسیې او چین موږ ته امریکا ښه ده، خو داسې نه لکه د طالبانو د نظام پر مهال چې یونیکال کمپنۍ هر څه په خپله گټه غوښتل[155]، بلکې په نړیوالو معیارونو به دواړه هیوادونه قراردادونه کوي. روسیه موږ ته نږدې ده، خو گوزاره به وکړي، یعنې سر زوري به نه کوي، ځکه هغوی دلته ماتې خوړلې، همدارنگه امریکا به هم بل وخت زړه ښه نه کړي چې پر افغانستان حمله وکړي، خو چین لا دا کار (پر افغانستان برید) نه دی کړی، کیدای شي کوم وخت پر افغانستان د تاړاک سوچ ورته پیدا شي، مگر چین او روسیه هم په نظر کې نیول او په اعتماد کې اخیستل او د افغانستان معادنو په قراردادونو کې ونډه ورکول په کار ده.

۱۰ – افغانان لا هم اندیښنه لري چې امریکا به پر خپلو ژمنو ونه دریږي، ځکه ټرمپ له ایران سره تړون لغوه کړ، اوباما ویلي و چې تر ۲۰۱۴ ز کال پورې به ټول پوځیان وباسي، او دارنگه د گوانتانامو زندان تړلو خبره یې هم کړې وه، خو یو کار یې هم ونه کړ. همدارنگه که ټرمپ وعده وکړي، او د امریکا ولسمشرۍ ټاکنې هم وگټي بیا به وروسته له خپلو ژمنو په شا شي.

**کارټر:** د ولسمشر ټرمپ غلطې پریکړې نه خوښیږي، له ایران سره تړون کې تیروتنې وې، ځکه ټرمپ هغه ونه مانه، که سم تړون وي، بیا ټرمپ هم هغه مني.

---

[155] یونیکال امریکایي کمپنۍ په ۱۹۹۷ ز.کال کې په کابل او کندهار کې دفترونه درلودل، غوښتل یې چې د ترکمنستان څخه هند ته د گازو د نل لیکې تیریدو قرارداد ترلاسه کړي. دغه لویه پروژه د ټاپي په نوم یادیږي.

د یونیکال کمپنۍ لخوا ځیني طالب مشران په ډسمبر ۱۹۹۷ کې امریکا ته دعوت شوې وو، څو تنه پکې د طالبانو وزیران وو.

ځیني طالبان بیا وروسته په ۱۹۹۹ جولای – اگسټ کې هم امریکا ته ولاړل، او هلته یې لیدنې درلودلې

د طالبانو په وخت کې بیا وروسته یاد قرارداد د ارجنټاین د بریډاس کمپنۍ سره په ترکمنستان کې لاسلیک شو، چې د طالبانو پرضد د امریکا دحکومت غوسه له همدې ځایه راپیدا، د طالبانو د نظام د نړولو پر پلان کار کیدی.

بین الافغاني تفاهم لپاره څه کول په کار دي چې نتیجه ورکړي؟

**مطمئن**: ښه داده چې تاسي امریکایان د بین الافغاني تفاهم ملاتړ وکړئ، نه داچې مداخله وي؛ او د بین الافغاني تفاهم لپاره د افغانانو څو کسانو څخه جوړ یو گروپ چې د سکرتریټ چارې مخکې یوسي، او یا هم د بین الافغاني تفاهم د ناستو د تیاریو لپاره د اړینو چارو د چمتووالي دنده ولري، همدارنگه د طالبانو او افغان سیاستوالو ترمنځ د ځینې اختلافي ټکو لپاره د یوبل نږدیوالي رول ولوبوي، تر څو مذاکرات نتیجه ورکړي.

**کارټر**: آیا داسي کسان شته چې همدا کار وکړلای شي؟

**مطمئن**: هو، حاجي نعیم کوچی داسي څوک ده چې ټول اړخونه ورباندي باور کولای شي، ملا عبدالسلام ضعیف، ډاکټر فاروق اعظم، استاد محمد اکبري... او داسي نور کسان، په کار ده چې له خلکو سره ورباندي مشورې وشي، او دا ډول بې طرفه کسان پیدا او له هغوی څخه کار واخیستل شي.

**کارټر**: طالبان څه ډول نظام غواړي؟

**مطمئن**: دا واضح ده چې طالبان د واک انحصار نه غواړي، د نظام په اړه به افغانان خپلو منځو کې خبرې سره کوي، یو بل ته به قناعت ورکوي، کیدای شي په موقت حکومت، سرپرست حکومت، امارت او یا هم د لویې جرگې له لارې حکومت انتخاب کړي، ولي په افغانستان کې دننه پخواني جهادي رهبران او کیدای شي طالبان هم ښه وگڼي که د اهل عقد وحل د لارې زعامت وټاکل شي.

## د ملا برادر په مشرۍ اندونیزیا ته د طالبانو د پلاوي تګ

د جولای ۲٦مه ۲۰۱۹، د ملا برادار اخوند په مشرۍ د طالبانو لوړ رتبه پلاوی جاکارتا – اندونیزیا ته ولاړي، په هیئت کې ملا امیرخان متقي، ملا خیرالله خیرخوا، ملا عبدالحق وثیق، ملا نورالله نوري، ملا عبدالسلام حنفي، سهیل شاهین او یو بل طالب و، ټول اته کسان وو.

طالب پلاوی د جولای پر ۲۷مه، د اندونیزیا د مرستیال ولسمشر یوسف کالا میلمانه وو، د اندونیزیا د بهرنیو چارو وزیرې او نورو لوړ پوړو چارواکو هم شتون درلود، طالبانو له هغوی سره د افغانستان پر سوله باندي خبرې وکړي.

ملا برادر اخوند او ورسره د پلاوی غړو، د جولای پر ۲۸مه، د اندونیزیا له ستر جومات "استقلال" څخه لیدنه وکړه، د مسجد له خطیب او علماوو سره یې هلته ناسته درلودله، او د جولای پر ۲۹مه، طالبانو د اندونیزیا د نهضت العلما له مشر پروفیسور سید عاقل سراج او د یاد ګوند له مدیره هیئت سره وکتل. په یاده غونډه کې د علماوو تر منځ په روابطو او په افغانستان کی د روان جګړئیز او سیاسي وضعیت په اړه هراړخیزی خبری وشوې.

د جولای پر ۳۰مه، د طالبانو پلاوي د اندونیزیا د مجلس العلماء په مرکزي دفتر کې په غونډه کې ګډون وکړ، دواړو لورو د افغانستان د روانو حالاتو په اړه بحثونه وکړل.

د جولای پر ۳۱مه، د طالبانو هیئت له اندونیزیا څخه دوحې ته ورسید.

د سفر اړوند طالب ویاند ذبیح الله مجاهد ولیکل:" داندونیزیا هیواد ته د محترم ملا برادر اخند په مشرئ د اسلامي امارت تللی پلاوی، بیرته پخیر سره دوحې ته ورسید .اندونیزیا ته داسلامي امارت دپلاوي سفر له لاسته راوړنو ډک وو .دافغانستان او اندونیزیا هیوادونو ترمنځ دښو اړیکو او یو له بل سره لازمې همکارئ په اړه ښه پرمختګونه وشول" .

## د سولې عالي شورا د دارالانشاء لغوه کېدل

د جولای پر ۲۷مه، افغان حکومت اعلان وکړ چې د سولې عالي شورا د دارالانشاء ریاست یې لغوه، او چارې به یې د سولې وزارت مخکې وړي، همدارنګه د سولې وزیر سلام رحیمي اعلان وکړ چې په دوه اونیو کې به دوی له طالبانو سره مخامخ خبرې پیل کړي.

د جولای پر ۲۸مه، خلیلزاد پر خپل ټویټر ولیکل:"کابل کې د افغانانو خپلمنځې ناستې په تړاو ډېرې خبرې کېږي. چې روښانه یې کړو، دغه خبرې اترې به زموږ له تړونونو وروسته وشي.

له طالبانو سره به د افغانانو دا خبرې د طالبانو او یو ټول شمول، اغېزناک او ملي مرکچي ډلې سره کېږي، چې په کې لوړ پوړي حکومتي چارواکي، د مهمو سیاسي ګوندونو استازي، مدني ټولنې او ښځي ګډون ولري".

د جولای پر ۲۸مه، د طالبانو ویاند ذبیح الله مجاهد ولیکل:"بین الافغاني مذاکرات به د ټولو سیاسي جهتونو له مشترک مذاکراتي ټیم سره وي، د کابل اداره به د حکومت په حیث نه بلکې د نورو سیاسي جهتونه په څیر یو جهت وي او دا کار به له امریکایانو سره د مهال ویش تر اعلان وروسته کیږي" .

همدارنګه د طالبانو د قطر د سیاسي دفتر ویاند سهیل شاهین ولیکل:"د خارجي عسکرو د وتلو د مهالویش له اعلان وروسته به د ټولو سیاسي جهتونو له مشترک مذاکراتي ټیم سره بین الافغاني مذاکرات پیلیږي. دکابل اداره به د حکومت په حیث نه، بلکې دنورو سیاسي جهتونه په څیر یو جهت وي" .

د افغانانو خپلمنځې ناستې په تړاو د زلمي خلیلزاد، طالب ویاند ذبیح الله مجاهد، او سهیل شاهین څرګندونې له هغه وروسته وشوې چې سلام رحیمي وویل چې په دوو اونیو کې به د افغان حکومت ۱۵ کسیز هیئت له طالبانو سره مخامخ خبرې پیل کړي. درې واړو وویل:"د افغانانو خپلمنځې مذاکرات به د طالبانو ـ امریکا ترمنځ د سولې توافق وروسته پیل کیږي".

حامد کرزي په ټویټر ولیکل:"له طالبانو سره د سولې خبرې په مهم پړاو کې دي، تر څو په هیواد کې سوله او ارامي راشي، دا یوه ملي پروسه ده، افغان حکومت او ټول افغانان باید یو له بل سره کار وکړي تر څو دا ملي بهیر کامیاب کړي."

امریکایي جنرال خلیلزاد ته:

## قوي اوسه افغان جګړه ختمېدونکې ده

له انګریزي پښتو ته ژباړه: واحد فقیري

د نشنل انټرسټ په نوم خپرونې د افغان سولې لپاره د امریکا د ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد د ماموریت په اړه د یو امریکایي جنرال څرګندونې را اخیستې دي. نظامي جنرال چې سکاټ اومیرا نومېږي ویلي، د افغان سولې برخه کې د خلیلزاد ماموریت ستونزمن خو ډیپلوماسي یې پر ټولو هغو استدلالونو بهتره ده چې د جنګ د دوام لپاره کېږي. هغه خلیلزاد ته سپارښتنه کړې چې پیاوړی اوسي او استقامت ولري ځکه دا جګړه د قوي ډیپلوماسۍ له لارې پای ته رسېږي. سرچینې د سکاټ له قوله لیکلي چې د امریکا د پخواني سفیر راین کراکر او د پاکستان د پخواني سفیر حسین حقاني په څېر منفي ګرایانو ته باید هیڅ توجه ورنه کړل شي، ځکه هغوی غواړي امریکا یو ځل بیا د دې جګړې دوام ته وهڅوي، په داسې حال کې چې دا جګړه نظامي حل نه لري او یوازې پیاوړې ډیپلوماسي کولی شي دې جګړې ته د پای ټکی کېږدي.

## د افغان جګړې د حساب او کتاب وخت رارسېدلی دی

له انګریزي پښتو ته ژباړه: واحد فقیري

امریکایي متقاعد ډګروال، ډېنیل مورګن، په افغانستان او عراق کې څو ځله جنګونه کړي دي. هغه د جولای پر ۲۸مه، د امریکا په مشهور سیاسي ویب پاڼه (د هیل) کې ولیکل:"امریکا باید په افغانستان کې د خپل اوږده جنګ د مقصد او هدف په اړه جدي او ژور غور وکړي. په افغانستان کې د امریکایي عسکرو د تلفاتو لپاره نور هیڅ مواجه دلیل نشته. په افغانستان کې زموږ اصلي او ستراتیژیکه تېروتنه دا ده چې موږ ژر نه یو راوتلي. هلته لا پاته کېدل او یا کرار کرار راوتل زموږ غرور او استکبار ښیې. موږ ته په افغانستان کې جګړې په ملیاردونو ډالر تاوان را رسولی دی.

په افغانستان کې زموږ کلنی لګښت ۴۵ ملیارده ډالره دی[۱۵۶]. که څه هم ۱۹کاله کېږي چې امریکا په افغانستان کې نظامي حضور لري، خو افغانستان د نړۍ تر ټولو غریب، فاسد او رشوتخوره هیواد دی. ظاهراً، د امریکا تر نظامي مداخلې مخکې هلته اداري فساد او رشوتخوري کمه وه. د اداري فساد یو ستر عامل دا دی چې امریکا په غیر مسولانه توګه په ملیاردونو ډالره هلته مصرف کړل .

د افغانستان ملي اردو د طالبانو د ماتولو نه ظرفیت او نه هم قابلیت لري. د افغان پوځ ساتل هر کال پنځه ملیارده ډالره لګښت غواړي. په اردو کې د عسکرو تېښته زیاته ده. د ۲۰۱۴ ز. کال راهیسې تر ۴۵۰۰۰ زیات عسکر وژل شوي دي[۱۵۷]. په افغان اردو کې فساد زیات خو د مدیریت وړتیا پکې کښته ده .

له نېکه مرغه د افغان سولې مذاکرات پرمختګ کوي، او باید پایله یې د امریکایي عسکرو راوتل و اوسي، او دا کار باید ژر وشي. له افغانستان څخه راوتل باید سل سلنه نه وي، بلکې لکه د نورو هیوادو په څیر، هلته هم باید زموږ سفارت فعال وي. او د ترهګرۍ پر ضد یوه کوچنۍ مشورتي نظامي ډله هلته وساتو. خو امریکایي عسکر باید په جنګ کې نه وي .

زموږ اصلي ستراتیژیکه تېروتنه په افغانستان کې زیات وخت پاته کېدل ول، خو دا به بله ستراتیژیکه تېروتنه وې که چیري موږ دا ګومان وکړو چې ژر او چټک راوتل به زموږ په زیان وي . موږ باید پوه شو چې زموږ د راوتلو وخت رارسېدلی دی. نور وخت نشته" .

[۱۵۶] په افغانستان کې د امریکا د کلني مصرف په اړه بېلابېل ارقام ښودل شوي.

[۱۵۷] ډاکټر غني د جنوري ۲۵مه ۲۰۱۹، د سویس په ډاووس ښار کې د نړیوال اقتصادي فورم غونډې په څنډه کې د مرکې پر مهال وویل:"زما حکومت په لومړیو ۴کلونو کې ټولټال تر ۴۵ زره زیات افغان امنیتي ځواکونه وژل شوي."

## ټرمپ راته امر کړې چې پوځیان کم کړو

د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پمپیو د جولای پر ۲۹مه، د واشنګټن په اقتصادي کلپ کې د بحث پر مهال [۱۵۸] وویل:" له طالبانو سره د سولې په خبرو کې رښتونی پرمختګ شوی، ولسمشر ډونلډ ټرمپ غواړي، له ۲۰۲۰ کاله مخکې له افغانستانه د ځواکونو ایستل پیل کړي، زه نه غواړم چې یو مهالویش وټاکم، خو هیله مند یم، ماته د ټرمپ لخوا امر شوی چې په افغانستان کې خپل پوځي شتون په امریکا کې تر ټاکنو (۲۰۲۰ز کال) وړاندې را کم کړو، او په دې برخه کې به زه دوه زړی ونه اوسم، په افغانستان کې د پوځیانو راکمول یوازې تمه نه، بلکې زما د دندې د ساتلو مسئله هم ده، زه تمه لرم چې په ټوله سیمه کې زموږ د پوځیانو د شتون اړتیا را کمه کړو[۱۵۹] .

موږ یوازې له طالبانو سره نه ږغیږو، بلکې په حقیقت کې له ټولو افغانانو سره خبرې کوو، خلیلزاد په افغانستان کې له ټولو سره لیدلي، وروستی وار چې زه خپله هلته افغانستان کې وم، له بېلابېلو مؤسسو، د ښځو له ډلو او د افغانستان د ټولو پاړکیو له خلکو سره مې خبرې وکړې، موږ غواړو چې هغوی هېواد خپل کړي، موږ غواړو د کال لسګونه میلیونه ډالره مصارف او د امریکا لپاره ستاسو د جنګیالیو زامنو او لمسیانو ژوند ته متوجې لوی خطر کم کړو، موږ فکر کوو چې د تاوتریخوالي د کمښت لپاره یوه لاره شته. او موږ غواړو چې دا بې پایه جګړې باید پای ته ورسول شي او له افغانستان څخه را ووځو" .

---

[۱۵۸] د پمپیو د خبرو ویډیو چې پښتو ژباړه یې د بېلابېلو رسنیو له بریښنایي پاڼو را اخیستل شوې: https://www.c-span.org/video/?٤٦٣٠٥٩-١/secretary-state-pompeo-kansas-senate-bid-off-table

[۱۵۹] د پمپیو له څرګندونو ښکاري چې د امریکا/ناټو پوځیانو د وتلو مهالویش کې له طالبانو سره انعطاف ته حاضر دي، ځکه پخوا ویل کېدل چې امریکا له طالبانو غواړي چې د دوی د پوځیانو د وتلو لپاره ۳ کلونه او حد اقل ۱۸ میاشتې باید ور سره ومنل شي، خو طالبانو د امریکا/ناټو پوځیانو د وتلو لپاره ٦ میاشتې او تر ۹ میاشتې او ممکن زیات وخت ومنې.

## د افغان حکومت غبرگون

د مایک پمپیو له څرگندونو یوه ورځ وروسته، د افغان حکومت د مشر ډاکټر غني ویاند صدیق صدیقي پر خپل ټویټر ولیکل:"د ولسمشر غني او د امریکا د بهرنیو چارو وزیر په وروستي ټلیفوني خبرو کې، د امریکا لخوا ژمنه شوې چې د امریکایې پوځیانو کمول به د افغانستان شرایطو ته په کتو صورت مومي، د بهرنیو چارو وزیر ډاډ ورکړ چې د امریکا په تگلاره کې بدلون نه دي راغلی، او د ځینو پوځیانو کمول به د افغانستان شرایطو ته په کتلوسره کیږي."
همدارنگه د افغانستان د ملي امنیت شورا ویاند کبیر حقمل له امریکا غږ راډیو ټلویزون سره د خبرو پر مهال وویل:"موږ او امریکا له یو بل سره د همکاریو تړونونه لرو، چې له مخې افغانستان له پوځي اړخه پر ځان بسیا شي، د پوځیانو وتل نوې خبره نه ده او اوس هم د جگړې ډېر مسؤلیت زموږ د وسله والو ځواکونو پر غاړه دی، امریکایي ځواکونه اوس زموږ سره یوازې په حمایوي او هوایي برخه کې مرسته کوي".

## د مشرانو جرگې د رئیس غبرگون

د امریکا د بهرنیو چارو د وزیر پمپیو د څرگندونو په غبرگون کې د مشرانو جرگې غبرگون دا و، چې امریکایې پوځیان باید له افغانستان څخه په بیړه ونه وځي، دوی له افغانستان سره ستراتیژیک او امنیتي تړون لاسلیک کړی، او باید هغه تړون ته ژمن و اوسي. د بهرنیو پوځیانو غیر مسؤلانه وتل به ډېرې بدې پایلې ولري.

د اگسټ پر **۴مه**، د مشرانو جرگې رئیس «فضل هادي مسلمیار» چې د یوه لوړپوړي دولتي پلاوي په مشرۍ ایران ته تللی و، په تهران کې یې د ایران د ولسي جرگې له رئیس او گڼو نورو لوړپوړو چارواکو سره ولیدل.

مسلمیار د ایران د ولسي جرگې له رئیس سره په گډه د ایران پارلمان ته په خبرو کې وویل:" امریکایان د افغانستان او ایران گډ دښمنان دي او له اسلام او بشریت سره دښمني پالي، هغوی په افغانستان کې ریښتیني سولې ته ژمن نه دي او د هیواد په شمال کې د داعش ډلې تحرکات یې ښه بېلگه ده.
امریکا یوازې ایران نه بلکې د افغانستان په گډون ټولې سیمې ته مشکلات زیږولي."

## داسلام اباد څرګندونې

په اسلام اباد کې د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر شاه محمود قریشي د رسنیو مخکې د جولای پر ۳۰مه وویل:" که د افغان سولې بهیر کې امریکا کوچنۍ تېروتنه کوي، پام بل لورته اړوي، افغانستان به لوی تاوان وکړي.که د عراق جګړه نه وای پېښه شوې، د افغانستان جګړې دومره زیات دوام نه کاوه.

عمران خان به کوشش وکړي چې طالبان وهڅوي چې له افغان حکومت سره مخامخ خبرو ته کيني. تیرې ۱۸کلنې جګړې پر افغانستان او پاکستان ناوړه اغیز درلود، نور دا حالت د زغم نه دی".

همدارنګه د جولای پر ۳۱مه قریشي د کشمیر له یو شمیر سیاستوالو او مشرانو سره د ناستې پر مهال وویل:"د افغانستان د امنیت مسئله د کشمیر مسئلې پورې تړلي ده، د کشمیر امن کېدل د پاکستان لپاره ضروري ده، او دا د پاکستان او کشمیر د پولو له خوندیتوب سره تړلي مسئله ده" .

## د حامد کرزي مرکه

د جولای پر ۳۱مه، مخکینې ولسمشر حامد کرزي د ملي راډیو ټلویزون سره مرکه کې وویل:"د افغانستان د روانې جګړې او شخړې ستر او اساسي لامل په هیواد کې بهرني پوځیان دي، سولې ته د رسېدو لپاره امریکايې پوځیان باید له افغانستان څخه ووځي. روانه جګړه پردۍ ده، او قربانیان یې افغانان دي.

امریکا او پاکستان د افغان سولې په وړاندي په ګډه دسیسې جوړوي، موږ او افغان سیاستوال باید د دوی د دسیسو مخه ونیسو."

د اګست پر لومړۍ ورځ سهار مهال ما (لیکوال) ته د حامد کرزي د دفتر مشر عبدالکریم خُرم وویل:"کوم ۱۵ کسیز لسټ چې د سولې مذاکراتو لپاره د حکومت لخوا ترتیب شوی، په اړه یې له حامد کرزي او نورو سیاستوالو سره مشوره نه ده شوې، خلیلزاد او ډاکټر غني په ګډه لسټ ترتیب کړی، موږ نه پوهیږو چې په لسټ کې به د چا نومونه وي، داسي ښکاري چې خلیلزاد او ډاکټر غني په مشوره او ګډه

همدا کار کوي. د کرزي لخوا ډاکټر سپنتا او زه (خُرم) معرفي شوی وم، خو اوس داسي ښکاري چې دوی له هغو کسانو څخه نومونه انتخاب کړي چې د قطر بین الافغاني مذاکراتو (۷او ۸ جولا) کې یې ګډون درلود.

پرون ماښام خلیلزاد له کرزي سره ولېدل، موږ هم ناست وو، د دوی ترمنځ ډېر جدي بحث وشو، او تر منځ یې تیزي خبرې وشوې، مجلس ښه نه و، کرزی اندیښنې لري."

## د افغان حکومت لخوا د ۱۵ کسیز پلاوي اعلان

د جولای پر ۳۱مه، د افغان حکومت لخوا اعلان وشو، چې له طالبانو سره د مذاکراتو لپاره یې ۱۵ کسیزه ډله ټاکلي او وروستي کړي ده، مګر نومونه یې رسنیو ته په واک کې ورنه کول شول [۱۶۰]، تر دي چې یاد ۱۵ کسیز لسټ له مهمو افغان سیاستوالو سره هم نه وو شریک شوی، له همدې امله وه چې حامد کرزی هم په غوسه وه، او حامد کرزي غوښتل چې بین الافغاني مذاکراتو کې محوري او کلیدي رول ولري، مګر د ده دغه ډول هڅې په ماسکو کې له طالبانو سره تر لېدنې (۲۸ او ۲۹ مئ ۲۰۱۹) وروسته پېکه شوي. طالبانو د کرزي په وړاندي په ماسکو کې له زښت چلند څخه کار واخیست، او د کرزي غوښتنه چې اوربند و، هغه یې ونه منله، بلکې کرزي ته یې وویل چې د امریکا د ګټو لپاره د سولې برخه کې هڅې کوي.

د جولای پر ۳۱مه، له طالبانو سره د افغان حکومت او افغان سیاستوالو د لسټ تر نهایې کولو وروسته زلمي خلیلزاد پر خپل ټویټر ولیکل: "له هغه وخت راهیسې چې د افغان سولې لپاره د ځانګړي استازي په توګه مې کار پیل کړی، تر ټولو ګټور سفر

---

[۱۶۰] افغان حکومت ته ځیني نږدې سرچینو د ځینو کسانو نومونه ښودلې وو: عبدالحکیم منیب د حج اوقافو وزیر، محمد ناطقي د حزب وحدت (محقق) مرستیال، نادر نادري د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د خپلواک کمیسون رئیس، حاجي دین محمد د سولې شورا مرستیال، حفیظ منصور د نظار شورا استازی، محمد عالم خلیلي د سولې شورا د رئیس محمد کریم خلیلي زوی، عطاالله لودین د سولې شورا مرستیال، انوارالحق احدي د نوي جبهې مشر او باتور دوستم د جنبش ګوند مشر.

مې په افغانستان کې پای ته رسوم. متحده ایالتونه او افغانستان پر راتلونکو گامونو موافقه کړې، مذاکرتي پلاوی او تخنیکي ملاتړې ډله د وروستي کېدو په حال کې ده.

زه د دوحې په لور روان یم خو په اسلام اباد کې به دمه ولرم. په دوحه کې، که طالبان د خپل اړخ چارې تر سره کړي موږ به خپلې چارې تر سره کړو، او هغه هوکړه به نهایي کړو چې تر اوسه مو کار پرې کړی دی".

په کابل کې تر ۱۰ ورځو تیرولو وروسته، د اگسټ په لومړۍ نیټه خلیلزاد اسلام اباد ته ولاړ، هلته یې د پاکستان لومړي وزیر عمران خان او د بهرنیو چارو وزیر شاه محمود قریشي سره لېدنې درلودلې، د طالبانو او امریکا ترمنځ توافق ته رسیدو او افغان سولې اړوند پرمختگونو په اړه یې معلومات ورسره شریک کړل، همدارنگه یادو لوړ پوړو پاکستاني چارواکو له خلیلزاد سره ژمنه وکړه چې د طالبانو او افغان حکومت مخامخ خبرو ته زمینه برابرولو کې به خپلې هڅې گړندۍ کوي.

د پاکستان بهرنیو چارو وزیر شاه محمود قریشي پر خپل ټویټر ولیکل:"سفیر خلیلزاد نن ورځ را ورسید، د افغان سولې او بیا پخلاینې بهیر باندې موږ مهم بحث درلود، پاکستان پر خپله ژمنه ولاړ او د افغان سولې بهیر ملاتړ کوي."

## ملا عبدالسلام ضعیف سره ناسته

د جولای پر ۳۱مه، ماښام مهال، ملا عبدالسلام ضعیف موږ (ډاکټر څلاند او مطمئن) ته وویل:" دا ځل به د طالبانو او امریکا تر منځ تړون وروستی او لاسلیک شي، دوه مسایل پاتې وو، د طالبانو لخوا پر دي ټینګار چې اسلامي امارت په تړون کې ولیکل شي، او د امریکا/ناټو پوځیانو د وتلو لپاره لړ وخت ټاکل. د وتلو اړوند امریکا انعطاف وښود، او اسلامي امارت به هم په تړون کې ذکر شي، خو لاندې به د امریکا لخوا یادښت ورته ولیکل شي، چې امریکا د افغانستان اسلامي امارت په رسمیت نه پېژني[۱۶۱].

کله چې د طالبانو او امریکا تر منځ تړون لاسلیک شي، بیا به همهغه موارد او مواد د امریکا او افغان حکومت ترمنځ لاسلیک کیږي، ځکه امریکا او نړیوال وایې چې دوی د افغانستان اسلامي جمهوریت په رسمیت پېژندلی، او له دوی سره به همدا تړون هم لاسلیک کوي.

له دي وروسته به د طالبانو او افغانانو ترمنځ، چې د افغان حکومت استازي به هم وي، مخامخ خبرې پیل کیږي، او همدوی به بیا د راتلونکي نظام په اړه بحث کوي.

طالبان له امریکا سره په افغانستان کې هیڅ ډول امریکایې اډه نه مني، په کابل کې د امریکا سفارت د ننه به کیدای شي ډیر کم شمیر امریکایې امنیتي کسان وي، چې د باندي وتلو اجازه به نه لري.

امریکا هم په افغانستان کې له راتلونکو ولسمشری ټاکنو (سپټمبر ۲۰۱۹) سره موافقه نه ده، خو دا کار به د افغانانو په غوښتنه کیږي، او همدا افغانان چې له طالبانو سره

---

[۱۶۱] کله چې امریکا له طالبانو سره تړون د یوه قوي جهت په ډول لاسلیک کوي، او د افغانستان اسلامي امارت هم پکې لیکل کیږي، بیا نو دغه ډول یادښت یوازې د دې لپاره دی چې خپلو متحدینو او افغان حکومت ته ووایې چې اسلامي امارت یې ورسره نه ده منلې، مګر عملاً د اسلامي امارت په نوم امریکا ورسره خبرې او تړون لاسلیک کوي.

خبرې کوي، دوی به غوښتنه کوي چې اوسمهال ولسمشرۍ ټاکنې باید ونه شي، او سوله لومړيتوب ده.

د هند سره زه ډير مخکې ولاړم، ډير کوشش مې وکړ چې هغوی سره د طالبانو اړيکې سمې شي، خو هند ونه غوښتل[۱۶۲].

هند په افغانستان کې د سولې پلوي نه دی، هغوی فکر کوي که دلته سوله راشي، نو بهرني اسلامي جنګيالي به کشمير ته ولاړ شي، او هلته به د هند ضد جګړو کې برخه واخلي. او همدارنګه ځينې افراطي جنګيالي به هم کشمير ته مخه کړي. دوی غواړي چې همدا جنګيالي همدلته په افغانستان کې په جګړه کې ښکېل پاتې شي.

نن مې د ايراني ډيپلوماټانو سره ناسته درلودله، ايران هم په افغانستان کې د ولسمشرۍ ټاکنو کلک ملاتړ کوي، او چين غونډې (د جولای ۱۰مه او ۱۱مې) ته هم دوی نه وو ورغلي، ايرانيان وايې چې په غونډه کې د افغانانو استازی (حکومت) نه و.

ما (ضعيف) ايرانيانو ته وويل چې دا غونډه د سيمې او سترو هيوادو ترمنځ وه، د افغانان لپاره نه وه، او که بيا داسې غونډې کيږي، افغان حکومت د افغانانو استازولي نه شي کولای، بيا نو طالبان هم بايد شتون ولري."

---

[۱۶۲] مګر د ۲۰۱۹ له نيمايې وروسته، هند هڅه کوله چې له طالبانو سره مخامخ اړيکې جوړې کړي، خو طالبان چمتو نه وو.

## د افغان سولې اړوند د بهرنیانو څرګندونې

د جـولای **۳۱**مـه  د افغانسـتان پـر بیـا رغـوني د امریکـا د ځـانګړې څـارونکې اداري (سـیګار SIGAR) مشرـ جـان سـوپکو راپـور ورکـړ چـې د بهرنیـانو لـه ملاتـړ پرتـه افغـان ځواکونـه پـه خپـل حـال نـه شي پـاتې کېـدای، هغـه لـیکلي وو:"د بهرنیـو ځواکونـو لـه مرسـتې پرتـه افغـان ځواکونـه کمـزوري او لـه مـالي سـتونزو سره بـه مـخ شي. کـه لـه طالبـانو سره د امریکـا توافـق وشي، بیـا هـم افغـان ځواکونـه بـه د تلپـاتې سـولې سـاتلو وړتیـا ونـه لـري. اداري فسـاد د افغـان حکومت او افغان حکومت د پرمختګ لپاره لوی خنډ دی."

د جـولای **۳۱**مـه، د ایـران د بهرنیـو چـارو سـیاسي معـین سـید عبـاس عراقچـی وویـل:"د افغانسـتان د سـولې بهیـر کـې بایـد ګاونـډې هیوادونـه هـم برخـه ولـري، د دایمـې سـولې لپـاره پـه کـار ده چـې د سـیمې ټـول هیوادونـه د افغـان سـولې پروسـه کـې مرسـتندوی وي، مګـر اوس مهـال د سـولې بهیـر د څـو هیوادونـو لخـوا یرغمـل شـوی، او د افغانسـتان لـه ګاونـډیو هیـوادو سره پـه دې اړه هـیڅ ډول سـلا نـه کیـږي. ایـران د افغانسـتان د ګاونـډي هیـواد پـه توګـه د افغانسـتان د سـولې بهیـر پـه اړه ځینـې اندیښـنې او پوښـتنې لـري، پـه کـار ده چـې ځـواب ورتـه وویـل شي، مـوږ د افغـان جګـړې ختمولـو کـې د امریکـا پـر نیت شک لرو."

د جـولای پـر **۳۱**مـه د امریکـا ولسمشرـ ټرمـپ یـو ځـل بیـا لـه امریکـایې رسـني سره پـه خـبرو کـې وویـل:"  څـومر ژر چـې کیـدای شي، لـه افغانسـتان څخـه خپـل پوځیـان را باسـو، نـور بایـد دا جګـړه ختمـه شي، زه لـه اړونـدو ادارو سره پـه خـبرو بوخـت یـم، مـوږ غـواړو چـې خپـل ځواکونـه لـه افغانسـتان څخـه را وباسو او امریکایي ځواکونه په دې اوږده جګړه کې ښکېل پاتې نه شي."

## د حامد کرزي خبرې ناسته

د اگست په لومړي نیټه، مخکینې ولسمشر حامد کرزي په کابل کې د خبرې ناستې پرمهال رسنو ته وویل:

امریکا غواړي د خپلو دسیسو له امله د افغانانو ترمنځ بې باوري او نفاق پیدا کړي، که له یو لوري له طالبانو سره د سولې کول غواړي، خو بل لور ته په افغانستان کې د داعش ودې ته زمینه برابروي او په گڼو ولایتو کې اوس داعش فعالیت لری.

د طالبانو او امریکا ترمنځ د سولې تړون ته هرکلی کوو، خو ښه به دا وای چې د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ لومړی تفاهم شوی وای او بیا یې په نتیجه کې له امریکا سره تړون لاسلیک شوی وای.

د داعش زیاتېدونکي فعالیتو ته په کتو ښکاري چې سوله نه، بلکې د جگړې بله مرحله پیل کیږي، او دا د افغانستان د خلکو په خیر نه ده. موږ داسې سوله غواړو چې داعش پدیده پکې له منځه ولاړه شي.

افغانانو ته په کار ده چې د تلپاتې سولې لپاره یوځای شي او امریکا ته اجازه ور نه کړي چې د سولې په نوم زموږ هیواد د پاکستان لمنې ته واچوي، او هیواد مو د بلې خونړۍ جگړې په ډگر بدل شي.

زه پر حکومت ږغ کوم چې ځان د امریکا له دسیسو خبر کړي، طالبانو ته په کار ده چې ځان د نورو له خوا له کارولو څخه خلاص کړي.

که طالبان له افغانانو سره یو ځای د امریکا د دسیسو پر خلاف ودریږي، هیواد کې به جگړه پای ومومي.

زموږ هڅه باید دا وي چې د سولې بهیر افغاني شي چې تر اوسه نه دی، او په دې تړاو هڅې هم روانې دي چې دغه بهیر د امریکا او پاکستان په واک کې پاتې شي، د سولې بهیر واک د دواړو هېوادونو له خوا زموږ په زیان دی.
ولسمشرۍ ټاکنې د امریکا دسیسه ده، د ټاکنو واک له افغانانو سره نشته، یوازې د دې لپاره دي چې سولې ته خنډ او داعش وده وکړي، د ولس ترمنځ نفاق پیدا شي. سوله باید تر ټاکنو مخکې وي، ځکه د سولې په شتون کې بیا د رڼو او افغاني ټاکنو شونتیا وي.

## د ټرمپ جنجالي څرګندونو تکرار

د اګسټ پر لومړۍ نېټه واشنګټن پوسټ راپور ورکړ چې د ټرمپ اداره چمتووالي نیسي چې له افغانستان څخه ۶۰۰۰ زره پوځیان را وباسي، اوس مهال هلته ۱۴۰۰۰ امریکایي پوځیان شتون لري. مګر ټرمپ یو ځل بیا د اګسټ پر ۲مه نېټه په سپینه ماڼۍ کې خبریالانو ته وویل چې افغان جګړه په څو ورځو کې ګټلی شي، خو نه غواړي چې د افغان جګړې ګټلو لپاره میلیونونه خلک ووژل شي، هغه وویل:"د افغانستان په اړه خبرو کې پرمختګونه شوي دي، موږ هلته د خپلو سرتېرو شمېر کموو، که موږ وغواړو د افغانستان جګړه په دوو یا څلورو ورځو کې ګټلی شو، خو نه غواړو چې میلیونونه خلک ووژل شي".

**اسلام اباد کې د امریکا سفارت خبرپاڼه**

خلیلزاد د اګسټ پر ۲مه، پر خپل ټویټر ولیکل:" اسلام اباد کې مې لېدنې بشپړې کړې، له عمران خان، قریشي او باجوه سره مې ولېدل، واشنګټن ته د عمران خان د سفر او راتلونکي مسایلو اړوند، د افغان سولې برخه کې د پاکستان رول، د هغوی ملاتړ او دا چې کوم نور مثبت قدمونه په دي برخه کې اخیستلای شي، پر دي مسایلو مو بحث وکړ. همدارنګه د افغان سولې په اړه مې هغوی ته لنډ معلومات ورکړل.

سوله د افغانستان او پاکستان له لورې ضمانت کولو ته اړتیا لري چې د هیڅ یو هیواد خاوره به د بل د ګواښولو لپاره نه کارول کیږي. دغه تضمین د یو هر اړخیز بین الافغاني توافق سربیره، سیمه ایزو اقتصادي همکاریو زیاتولو او پرمختیا ته لاره برابروي. اوس وخت کې ډیره تمه شته، او دواړه هیوادونه باید دا وخت او فرصتونه له لاسه ور نه کړي.."

پاکستان ته د سفیر خلیلزاد دوه ورځنې سفر په اړه، په اسلام اباد کې د امریکا سفارت لخوا د اګسټ پر ۲مه، خبرپاڼه خپره شوه. په خبر پاڼه کې یوازي د خیلزاد

د ټویټ تشریح شوې وه، او همدا مفهوم پکې لیکل شوی و، کوم چې خلیلزاد په ټویټ کې ویلي وو[۱۶۳].

## د ینس سټولټنبرګ څرګندونې

د ناټو عمومي منشي- ینس سټولټنبرګ د اګست پر ۲مه، په بروکسل کې د افغان سولې په اړه وویل:"موږ د سولې د ټولو هڅو هرکلی کوو، موږ د بین الافغاني خبرو د پیل کېدو کلک ملاتړ کوو، ځکه د افغانستان حکومت باید د سولې د پروسې برخه وي، موږ باید هره هغه هڅه وکړو چې موږ هغه پرمختګونه وساتو چې په افغانستان کې شوي، تر څو افغانستان بیا د نړیوالو تروریستانو مرکز نه شي.

له طالبانو سره د امریکا د خبرو هرکلی کوو، خو لا هم ډېرې ستونزې په مخکې پرتې دي چې باید حل شي.

ناټو به د امریکا له متحدو ایالاتو سره په ګډه په مناسب وخت کې د خپلو عسکرو د برخلیک پرېکړه کوي".

[۱۶۳] په اسلام اباد کې د امریکا د سفارت خبرپاڼه:
https://pk.usembassy.gov/statement-on-ambassador-khalilzads-visit-to-pakistan/

## اتم پړاو خبرې

د اگست پر ۲مه، د شپې ناوخته (۱۰:۳۸) خلیلزاد پر خپل ټویټر ولیکل:"همدا اوس دوحې ته راورسېدم چې د طالبانو سره خبرې بیا پیل کړم. موږ د سولې یوه داسې هوکړه غواړو چې له مخې یې د ځواکونو وتلو ته زمینه برابره شي. په افغانستان کې زموږ شتون د شرایطو له مخې دی او وتل به مو هم شرایطو ته په کتو وي.

طالبانو داسې اشارې ښودلې چې غواړي هوکړه نهایي شي. موږ یوې ښې هوکړې ته چمتو یو".

د اگست پر درېیمه د قطر په وخت، سهار لس بجې د طالبانو او امریکایانو تر منځ اتم پړاو خبرې پیل شوې، په همدې ورځ لنډه ناسته او خبرې وشوې، او د سبا لپاره چمتووالي په موخه دواړو لوریو له خپلو ډلو سره د لا زیاتو مشورو شریکولو لپاره، په همدې ورځ لنډ مذاکرات وکړل. په لومړۍ ورځ د طالبانو لخوا یوازې ٦ کسانو او همدارنگه همدومره کسانو د امریکا لخوا گډون کړی وو، په همدې ورځ د ملا برادر اخوند او خلیلزاد تر منځ لیدنه ونه شوه.

د اگست پر درېیمه سهل شاهین پر ټویټر ولیکل:"نن مو مذاکرات پیل کړل ممکن څو ورځې جریان پیدا کړي. که توافق نامه نهایي شي نو له مخې به یې په ټاکلې موده کې ټول بهرني پوځونه له افغانستان څخه وځي او هم به له افغاني جهتونو سره مذاکراتو ته لاره خلاصه شي".

## د ډاکټر غني څرګندونې

د اګسټ پر ۳مه، ډاکټر غني د هوايي ځواک قومندانۍ د سوق او ادارې نوي مرکز کې افغان پوځيانو ته د وينا پر مهال وويل:" ترڅو چې دا زړور سرتېري وي، نو د افغانستان اسلامي جمهوريت به تلپاتې وي.

د سولې مذاکراتو اړوند اوازو ته غوږ مه نيسئ، د سولې تر پيلېدو پورې د دښمن پر ځپلو تمرکز وکړئ. زموږ د وياړلو امنيتي او دفاعي ځواکونو د سرښندنو او مېړانې له برکته به افغانستان تلپاتې سولې، امنيت او ثبات ته رسېږي.

له امريکا سره پر ګډه اعلاميه موافقه شوې، په دې اعلاميه کې د نړيوالې ټولنې اساسي شريک د افغانستان اسلامي جمهوريت او د افغانستان دفاعي او امنيتي ځواکونه دي، ټول پوهېږي چې له دې ځواکونو پرته به سيمه او نړۍ له بحران سره مخامخ شي، له دې امله موږ بشپړ ډاډ لرو چې له نړيوالو سره زموږ ټول تړونونه به پرځای وي".

د اګسټ پر ۴مه، د قطر په وخت مازيګر ۵مه بجې د طالبانو او امريکا تر منځ د دويمې ورځې مذاکرات پيل او ماخوستن ۱۱ بجې پای ته ورسېدل.

د اګسټ پر ۵مه خليلزاد پر خپل ټويټر وليکل:"په کابل کې د تيرې اونۍ خبرو د ډير ښه پرمختګ وروسته، په تيرو څو ورځو کې په دوحې کې وم او پر پاتو هغو مسايلو مې غور کاوه چې له طالبانو سره يوه شونې معامله بشپړولی او د شرايطو په اساس، د ځواکونو وتل شوني کولای شي. موږ ډير ښه پرمختګ کړی دی.

زما مذاکراتي ډله او د طالبانو استازي به پر تخنيکي جزئياتو او د څلورو مسايلو توافق د بريالي پلي کولو پر هغو اړينو ميکانيزمونو بحثونو ته دوام ورکړي چې زما له ټاکنې را پديخوا موږ وربانديې کار کاوو. توافق پر يادو ۴ جزئياتو ډير مهم دی.

همدا نن ورځ به ډهلي ته ولاړ شم او هلته به له وړاندې تنظيم شوې لېدنې وکړم تر څو د افغانستان د سولې د بهير په ملاتړ نړيواله اجماع نوره هم پياوړې کړو".

د اګسټ ۵مه، د قطر سياسي دفتر وياند سهيل شاهين لخوا وليکل شول:"په روانو مذاکراتو کې دقطر هيواد څخه علاوه د نورو هيوادونو هيڅ کوم استازی ګډون نه

لري او نه هم څوک راغلي. په دې اړه ناسم خبرونه د خبریالانو په اړه باور ته زیان رسوي او په دنده او هدف یې شکونه پیدا کیږي"[١٦٤] .

## د اتم پړاو خبرو په جریان کې په کابل کې خونړی برید

داګسټ پر ۷مه، طالبانو د کابل ښار ٦مې حوزې په مرکز او د عسکرو د جلب او جذب په مرکز موټر بم برید وکړ.

د رسنیو د راپور له مخې ۲۰ کسان وژل شوي او تر ۱۵۰ زیات زخمیان دي، طالبانو یې پړه پر غاړه واخیستله.

یو عیني شاهد ما (لیکوال) ته له برید څو ورځې وروسته وویل:" برید دومره قوي و چې د ٦مې حوزې ودانۍ یې په بشپړ ډول ویجاړې کړې، او د حوزې اړوند هیڅ کس ژوندی نه دي پاتې شوی، همدارنګه د جلب او جذب مرکز کې یې هم ګڼ شمیر کسانو ته مرګ ژوبله واړوله."

د طالبانو د ویاند لخوا په کابل کې د خونړي برید په اړه وویل شول:" دغه دروند برید د دښمن د هغو چاپو په غبرګون کې ترسره شو چې د هیواد په مختلفو سیمو کې ملکي خلک، مساجد، کورونه، کلینیکونه او عام خلک په بمبارونو او چاپو کې په شهادت رسوي."

---

[١٦٤] ځینو خبري ویب پاڼو راپور خپور کړ چې په اتم پړاو خبرو کې د پاکستان استازي هم ګډون لري، او هغوی د مذاکراتو پر مهال طالبانو ته لارښووني هم کوي.

## د خلیلزاد او مجاهد ټویټرې جګړه

د اګست پر ۷مه، خلیلزاد د کابل خونړي برید په تړاو لاندې ټویټ وکړ:"داسي برید چې پرته له توپیره، په قصدي ډول وي او د ملکي خلکو ژوند پکې نه وي تضمین شوی، زه په کابل کې د طالبانو د نن ورځې برید غندم، کوم چې د راپورونو پر اساس ۱۴۵ کسان، د ملکي خلکو په ګډون پکې وژل شوي او ژوبل شوي.

سمدستي ټوله توجه باید د تاوتریخوالي کمولو ته وي، ځکه موږ بین الافغاني خبرو ته نږدې شوي یو، او دا به سیاسي حل او اوربند ته لاره هواره کړي."

د اګست پر ۸مه ، ذبیح الله مجاهد د خلیلزاد په جواب کې ولیکل:" خلیلزاد ته به ووایو چې ښاغلیه! آیا تشدد یوازې د طالبانو برید ته ویل کیږي، که د امریکایي ځواکونو لخوا په ملکیانو بمبار، ډرون حملې او شپني عملیات، د هاوان ړانده وارونه او نور جنګي فجایع هم د تشدد په کټه ګورۍ کې راځي؟

ظاهراً خو داسي ښکاري چې تاسي یوازې د طالبانو په برید سره له خوبه راویښیږئ. د امریکایي او داخلي عسکرو په ظلمونو مو ځان ناخبره اچولی وي. ستاسي په قاموس کې لکه چې تشدد یوازې د طالبانو پوځي عملیاتو ته ویل کیږي او بس" .

د کابل خونړی برید د ډاکټر غني لخوا وغندل شو، او په اړه یې ارګ اعلامیه خپره کړه:"طالبان د سولې مذاکراتو کې د امتیاز اخیستلو په موخه پر ملکي وګړو، عامه تاسیساتو او جوماتونو ترهګریز بریدونه کوي. ترهګر باید پوه شي چې د دغه ډول ترهګریزو بریدونو او بشري جنایتونو په ترسره کولو سره نه شي کولی د سولې په مذاکراتو کې امتیاز واخلي، بلکې د امنیتي ځواکونو له لوري به د هېواد په هره څنډه کې وځپل شي."

## د اتم پړاو د مذاکراتو اړوند څرګندونې

د اګسټ پر ۷مه، خليلزاد هند ته د خپل سفر په تړاو لاندې ټويټ وکړ:" د هند د بهرنيو چارو له وزير سابرهمنيام جايشنکر سره مې په حيدر اباد ماڼۍ کې د افغان سولې په تړاو مفصل بحث وکړ، هغه ته مې معلومات ورکړل او د هغه د نظريات مې واوريدل.

هند د افغان سولې په تړوا مهم رول لري، تر څو په دې برخه کې مرسته وکړي او په افغانستان کې پايداره او تلپاتې سوله وشي."

د اګسټ پر ۷مه، سهيل شاهين وليکل:"په مذاکراتو کې تخنيکي ټيمونه په دوامداره توګه کار کوي. موږ کوشش او دقت کوو چې راتلونکې ته ستونزې پاته نه شي او افغانستان ته بيا څوک د مداخلې لاس را اوږد نکړي."

د اګست پر ۷مه، افغان - امريکايي پوهنتون له طالبانو سره د خپلو دوو بهرنيو بندي استادانو د خوشي کېدو غوښتنه وکړه، پوهنتون په خپله اعلاميه کې ليکلي و:" درې کاله وړاندې په همدې ورځ زموږ د پوهنتون دوه تنه پروفيسران (کېون کېنج) او (ټيموتي) د طالبانو له لوري ونيول شول، له کومې ورځې چې ياد دوه تنه پروفيسوران نيول شوي د افغان - امريکايي پوهنتون اداره، استادان او محصلين د هغوی د خلاصون هيله لري چې تمه ده طالبان يې ومني.

دوی دواړه له خپلو هيوادونو څخه په دې تمه افغانستان ته راغلي وو، څو افغانانو ته زده کړه ورکړي، او د هغو افغان ځوانانو په روزنه کې مرستندوی شي څوک چې د يو ښه ژوند او راتلونکې د جوړولو په موخه دوی ته راتلل.

تمه ده چې د پوهنتون ښوونکي دې په هيڅ ډول شخړو کې هدف نه ګرځول کېږي او ياد دوه تنه ښوونکي چې پرته له کوم څرګند هدف څخه د طالبانو په بند کې دي، بايد ژر تر ژره له بند څخه خلاص شي".

د اګسټ پر ۸مه، د ناټو عمومي سرمنشي ينس سټولټنبرګ د اسټرليا په سډني ښار کې د خبرو پر مهال وويل:" موږ افغانستان ته د دې لپاره ولاړو څو د ترهګرۍ ځالې

له منځه يوسو، هلته زموږ د تګ يوازېنی هدف دا وو چې افغانستان بيا ځلې د ترهګرو لپاره په يوه خونديې سنګر بدل نه شي.

اوس موږ په افغانستان کې سولې ته نږدې شوې يو؛ خو دا ويل کېدای نه شي چې د سولې هوکړه ليک به کله لاسليک کېږي ځکه مذاکرات سخت دي".

خليلزاد د اګست پر ۹مه، وليکل: "پرون مې په اوسلو کې ګټوره ورځ وه، ناروې د سولې بهير اسانتياو برابرولو کې نړيواله مشرې کوي، او کولای شي د افغان سولې راوستلو کې مرسته وکړي.

د ناروې د بهرنيو چارو وزيرې ماري اريکسون سورياييد ته مې د خپلو اوسنيو لاسته راوړنو، او راتلونکو کارونو په اړه لنډ معلومات ورکړل، د ناروې له مرستې څخه خوښ او مننه کوم."

د اګست پر ۱۰مه، خليلزاد وليکل:" نن په برلين کې وم، د جرمني د بهرنيو چارو له وزير ماس او جرمني هيواد اوږدې ملګرتيا څخه مننه، همدارنګه همدا اوس وخت کې د بين الافغاني مذاکراتو لپاره د جرمني د پرمختګ له امله مننه کوم.

د جرمني د بهرينو چارو وزير ته مې د افغان سولې او راتلونکو کارونو په اړه معلومات ورکړل.

له جرمني هيواد څخه مننه کوم چې د بين الافغاني مذاکراتو چې د سولې بهير حياتي برخه ده، ورڅخه ملاتړ کوي. "

د اګست پر ۸مه، هم د طالبان او امريکا د تخنيکې ټيمونو ترمنځ خبرې په دوحه کې راونې وې. په داسې حال کې چې د طالبانو له لورې د خبرو مشرې شيرمحمد عباس ستانکز ي کوله، ملا برادر اخوند په ازبکستان کې و، او له بلې خوا د امريکايې لورې د مذاکراتې ډلې مشر خليلزاد هم هند، ناروې او برلين ته په سفر وتلې و، خو د خبرو لپاره يې تخنيکې ډله په دوحه کې پرې ايښې وه.

د اګست پر ۹مه، د جمعې ورځ هم د طالبانو او امريکا تخنيکې ټيمونو ترمنځ مذاکرات د شپې ناوخته پاوکم يولس بجې پای ته ورسېدل.

او د مذاکراتو اهمیت ته په کتلو سره، د عرفې ورځ (۱۰ اګسټ ۲۰۱۹) او د لوی اختر لومړي ورځ هم په دوحه کې د طالبانو او امریکا د تخنیکې ډلو ترمنځ د سولې مذاکرات روان و.

ذبیح الله مجاهد د اګسټ پر ۱۱مه، پر خپل ټویټر ولیکل:"مذاکراتو پرون د عرفات په ورځ او نن د اختر په ورځ هم له غرمې وروسته جریان لاره، تیرې څو ورځې دواړو ټیمونو د شپې تر یولس، دولس، حتی یوې بجې پورې کار کاوه، موږ کوښښ کوو چې د تړون ټول مواد، د اسلامي او ملي ګټو په اساس په دقت سره نهایي او اعلان ته چمتو کړو."

## د اتم پړاو مذاکراتو پای

د اګسټ پر ۱۲مه، مجاهد پر خپل ټویټر ولیکل:"د مذاکراتو اتم پړاو بیګا شپه تر دوه نیمو بجو د مذاکراتي ټیمونو په مسلسل کار کولو سره بشپړ شو، اوږده او ګټور مذاکرات و، موافقه مو وکړه چې د راتلونکو ګامونو په اړه هر لوری له خپل مشرتابه سره مشورې وکړو."

دواړو لورو (طالبانو او امریکا) ادعا درلودله، چې په مذاکراتو کې پرمختګ شوی.

داسي تمې وي چې اتم پړاو خبرو کې به د طالبانو او امریکا ترمنځ مسوده وروستۍ شي، او توافق به وشي. مګر بیا هم چمتو شوی تړون باید دواړه لوري د خپلو مشرانو وروستي تایید ته وړاندي کړی وای.

دواړو لورو د اتم پړاو خبرو د پرمختګ د شریک کولو په موخه اړتیا لېدله چې له خپلو مشرانو سره جزئیات شریک کړي، له همدې امله وه چې خلیلزاد له برلین څخه مخامخ واشنګټن ته ولاړ، هغه د اګسټ پر ۱۲مه، پر خپل ټویټر ولیکل:"موږ د سولې د خبرو دا پړاو، چې د اګسټ پر ۳ نېټه د متحده ایالاتو او طالبانو تر منځ پیل شوی و، پشپړ کړ. په تېرو څو ورځو کې دواړو خواوو پر تخنیکي جزییاتو تمرکز

درلود. دا خبرې ګټورې وې. زه واشنګټن ته روان یم، ترڅو د راتلونکو ګامونو په اړه سلامشورې وکړم."

همدارنګه د طالبانو له لوري مولوي شهاب الدين دلاور، قاري دين محمد حنيف او مولوي ضياء الحق مدني هم له لوی اختر (۱۱ تر ۱۳ اګسټ) وروسته پاکستان ته سفر وکړ، او غالباً چې له هغه ځايه د ډيورنډ ليکې سره نږدې خپل پټ شوې مشر شيخ هبة الله ته ولاړل، هلته يې خپل مشر ته د اتم پړاو مذاکراتو جزئيات وړاندې کړل.

ځينو کورنيو او بهرنيو رسنيو ته د افغان حکومت د ځينو لوړ پوړو چارواکو له خوا وويل شول چې د طالبانو او امريکا ترمنځ د سولې تړون مسوده يې تر لاسه کړې، او په دې اړه ځينې نيوکې هم لري، چې بيا وروسته د افغان حکومت د وياند صديق صديقي لخوا دا خبره رد شوه، او د طالبانو وياند يې په غبرګون کې د اګسټ پر ۱۳مه وليکل:"د کابل ادارې د چارواکو څرګندونې له عملي جريان سره سمون نه خوري، داسې ښکاري چې ياخو د مذاکراتو له روان بهيره هيڅ خبر نه دي، يايې درک نشي کولای، يا خو خپل وزن او حيثيت نه ور معلوميږي او يا هم د حقيقت په اظهار سره د خپلې ادارې د لا شړيدلو ويره لري" .



له مولوي اميرخان متقي سره د امريکا ږغ ټلويزون خبريال ايوب خاورين مرکه کوي، خو مرکه يې کله هم نشر نه شوه . د فبروري ۲۹مه ۲۰۲۰

## له لوړ پوړو امریکايي مشرانو سره د ټرمپ ناسته

د اگسټ پر ۱۷مه، د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ د امریکا له مرستیال ولسمشر مایک پنس، د بهرنیو چارو له وزیر مایک پمپیو، دفاع وزیر مارک اسپر، د ملي امنیت سلاکار جان بولټون، لوی درستیز جوزف ډانفورد، د «سي ای اې» مشرې جینا هاسپل او د افغانستان د سولې لپاره د دغه هېواد له ځانگړي استازي زلمي خلیلزاد سره د افغانستان سوله کې د پرمختگ په اړه ناسته درلودله، له ناستې وروسته ټرمپ پر خپل ټویټر ولیکل:"پر افغانستان ډېره ښه غونډه وشوه. د دې ۱۹ کلنې جگړې پورې تړلي ډیر مخالف لوري او موږ د یوې معاملې په تمه یو، که ممکنه وه."

د سپینې ماڼې اعلامیه کې د یادې غونډې په اړه لیکل شوي و:

"د امریکا له لوړپوړو چارواکو سره د ولسمشر ډونالد ټرمپ خبرې د افغانستان سولې په ارتباط ډېرې ښې وې او له طالبانو سره به خبرې ادامه پیدا کړي.

د افغانستان له حکومت سره له نږدې همکاري روانه ده او لاهم دې ته ژمن یو چې یوه جامع سوله وشي چې په دې کې د شخړو کمېدل او اوربند شامل وي، همداراز دا ډاډ ترلاسه شي چې د افغانانو له خاورې بیا کله هم متحده ایالاتو او د هغې متحدانو ته گواښ نه وي او افغانان سره یوځای کړي چې په همکارۍ د سولې لپاره هڅې وکړي."

د اتم پړاو خبرو او په خبرو کې د طالبانو او امریکا ترمنځ د توافق ځنډ، له ځینو سره اندیښنې پیدا کړي، چې ولې د امریکا او طالبانو ترمنځ توافق له یوې ورځې بلې ته ځنډول کیږي، او کوم لاملونه دي چې دواړه لوري توافق ته نه رسیږي.

فکر کیږي چې سعید خوستي به د ملا امیرخان متقي د معلوماتو پر بنسټ لاندي لیکنه کړي وي، چې د اگسټ میاشتې پر ۱۵مه د نن ټکی اسیا ویب پاڼې لخوا خپره شوه.

## د مذاکراتو د وروستي پړاو په اړه څو خبري!!...

لیکوال: نعمت میوند

درې ورځې وړاندې د طالبانو وياند ذبیح الله مجاهد اعلان وکړ چې د قطر پلازمینه دوحه کې د دوی د استازو او زلمي خلیلزاد په مشرۍ د امریکایي پلاوي ترمنځ اتم پړاو مذاکرات نهایی شول، په وینا يې اوس به دواړه لوري د وروستي ځل خبرو جریانات له خپل مشرتابه سره شریک کړي.

حقیقت دا دی چې د راوني مذاکراتي پروسې مثبتو پایلو ته که له یوې خوا افغانان د خپلو مجبوریتونو له امله تږي او بې تابه دي، له بلې خوا يې د نړیوالو توجه هم په بې کچې انداز له دې امله جلب کړي چې دا مذاکرات په معاصر تاریخ کی کمېساري بلل کیږي.

دا ځکه چې دغه مذاکرات د داسي لوریو ترمنځ روان دي چې د ټکنالوژۍ او اقتصاد له نګاه له یو بل سره ډېر ستر توپیر لري، یو اړخ ډېر پیاوړی او بل اړخ ډېر ناتوانه دی.

دوېیم دا چې د دواړو لوریو ترمنځ نه یوازې نظامي او سیاسي اختلاف دی، بلکې ترمنځ يې د تهذیب، دود/کلتور، عقیدې او فکري اختلاف، موضوع نوره ورته پیچلې کړې ده.

درېیمه ځانګړتیا يې دا ده چې دلته زورور اړخ (امریکا) تر اوسه په دې کې ناکامه بریښي چې خپل کمزوری جانب مقابل اړخ (طالبان) د زور، زر، پخې ډیپلوماسۍ او نړیوالي یکه تازۍ په مټ، بلیک میل او یا تطمیع کړي، او بیا د خپلو شرایطو په رڼا کې ورسره تفاهم ته دوام ورکړي.

له همدې ځایه ده چې مذاکراتي مجلسونه يې له لږ پرمختګ سره یو او بل پړاو ته غځیږي، دا چې په دې تېرو پړاوونو، خصوصاً په وروستي هغه کې څه تېر شوي؛ په اړه به يې مذاکراتو ته د نږدې منابعو څخه د تر لاسه شویو معلوماتو په اساس یو لړ حقایق درسره شریک کړم.

— لومړی خو د امریکا هڅه دا وه چې څان دربیمگړی کړي، په کابل کې خپل تحت الحمایه موجوده سیټپ ژوندی وساتي او طالبان د یو کمزوري جهت په شکل ورسره پتلېز کړي، خو طالبانو نټه وکړه، پرځای د دې چې امریکا په طالبانو خپل دا موقف ومني؛ برعکس امریکا اړه شوه چې د طالبانو شرط ورسره ومني او خپله د یو اصلي جنگي جهت په بڼه ورسره خبرو ته اماده شي.

— بیا امریکا غوښتل چې ترڅنگ یې د کابل حکومت هم د یو دربیم جهت په حیث په مذکراتو کې برخه ولري، چې دا هم طالبانو مسترد کړ، حتی چې له امریکا سره تر توافق وروسته په بین الأفغاني بحثونو کې به هم د دولتي جهت په حیث ورسره نه گوري. دغه ټکي کې هم طالبانو امریکا تنزل ته اړه کړه او دا خبره یې له طالبانو سره ومنله.

— ویل کیږي چې امریکایانو داسي پلان درلود چې په نظامي یونیفورم کې ځواکونه به وباسي، خو په غیر نظامي بڼه، د قراردادیانو او یا سفارت ساتونکې عملې په شکل به بیا هم د دوی کسان په افغانستان کې پاتي وي. ولي طالبانو یې له هر ډول موجودیت سره کلک مخالفت وکړ، ترڅو چې ټول بهرني پرسونل یې د اخراج په لیسټ کې ځای پرځای کړل شول، پرته له رسمي سفارتي کارکوونکو نور به ټول بهرنیان وځي. ویل کیږي چې د مذاکراتو له اوږدو بحثونو څخه یو هم همدا ټکی و.

— سرچینې وایی چې طالبانو پر دې خبره ټینگار کاوه چې له وتلو وروسته به امریکا په افغانستان کې د نه لاسوهني لیکلی ډاډ ورکوي، او داسي شرایط به له دوی سره مني چې په آینده کې د هغوی د مغرضانه لاسوهنو مخه ډب کړای شي. چې امریکا د طالبانو دا غوښتنه ومنله او په معاهده کې یې شامله کړه، چې بیا به د نړیوالو گواهانو په وړاندي وربانديِ لاسلیک کوي.

— بل جالب ټکی دا دی چې ویل کیږي امریکا د مذاکراتو په جریان کې پرځینو داسي شیانو توافق ته هم اماده شوه چې د هغوی له رسنیز کیدلو یې جدي ډډه کوله او هم یې ټینگار کاوه چې باید رسنیز نشي.

د شنونکو په باور دا دوه احتماله لري يو دا چې په رسنيز کېدو سره يې په امريکا کي د سولي مخالفين پرى ونه پاريږي او بل احتمال دا دى چې ښايي له رسنيز کيدلو سره به يې دوى وېره محسوسوي چې د دوى تحت الحمايه د کابل رژيم د مورال بايللو او سقوط سبب به شي.

د طالبانو يوې سرچينې د دې پوښتني په ځواب کې چې ولي د امريکايي لوري زياتره چارواکي له مذاکراتي ناستي وروسته ضد او نقيض څرگندوني کوي؛ لکه د سپيني ماڼۍ چارواکي د ځواکونو د وتلو خبره وکړي، خو د پنټاگان او يا په افغانستان کې ميشت جنرالان دا خبرونه په کلکه رد کړي؛ وويل، دا ځکه چې امريکايان د مذاکراتو پر مهال ځيني خبري په يو شکل مني خو په ميډيا کې يې له دې ويرې چې هسي نه د کابل رژيم د امريکايي ځواکونو له وتلو سره هم مهاله ونه شړيږي؛ ضد او نقيض اظهارات کوي.

مگر ځيني شنونکي بيا د امريکا تاريخي شاليد ته په کتو د دې خبري احتمال هم نه ردوي چې کيداى شي دا طالبانو ته چل جوړول وي، ښايي په آينده کې امريکايان دې ته لار پرانيستي پريږدي چې له توافق څخه په ځينو برخو کې سرغړونه وکړاى شي، خو قوي احتمال دا دى چې امريکايان چې د طالبانو د شرايطو منلو کوم تريخ غړپ کوي؛ نو لومړى په ميډيا کي په آزاده بڼه کوم خبر نشر کړي، بيا يې لږ وخت وروسته د کوم چارواکي په خوله رد کړي، تکراراً داسي کوي، بيا وروسته چي کله عامه ذهنيت ورسره عادي کړي، بيا يې نو عملي کړي، ممکن د نيوزويک مجلې وروستۍ خبره هم همداسي وي چي ويلي يې و، امريکايې ځواکونه به د طالبانو پرضد تهاجمي بريدونه ودروي.

— د يو طالب چارواکي په خبره، د امريکايي پلاوي له لومړي سره هڅه دا وه چې د مذاکراتي پروسې سره سم بايد په وقفه يي شکل، اوربند هم تر سره شي، خو طالبانو تري انکار کاوه، چې بلآخره امريکا مجبوره شوه، د اوربند مسئله يې بين الأفغاني ناستې ته پريښودله.

دا چې امریکا پر اوربند ولې ټینګار کاوه او طالب لوري ولې ترې ویره محسوسوله، د دې لامل داسي ښودل کیږي چې په دې توګه امریکا غوښتل چې پخپل موجودیت کې د طالبانو جنګي ماشین ور پخ کړي، او طالبانو دا نزاکت حِس کړی، ځکه د بهرنیانو په شتون کې له اوربند کولو څخه تل ډډه کوي، طالب ویاند هم په یو ټویټ کې د دې وضاحت داسي وکړ: "د مسئلې تر حل مخکې یا هدف ته تر رسیدلو مخکې اوربند د مبارزې د پرېښودلو په معنا دی."

**د لاسلیک مرحله**:

سره له دې چې دواړو خواوو له هر پړاوه وروسته د پرمختګ خبر ورکاوه، خصوصاً امریکایي لوري په ټینګار سره ویل چې په نژدې وخت کې به له طالبانو سره یو نهایي توافق ته ورسیږي، بیا ولې د لاسلیک مرحله وځنډېده؟

په دې اړه مذاکراتو ته نژدې د طالبانو یوې سرچینې وویل، که څه هم د اتم پړاو مذاکرات خورا جدي او ستړي کوونکي وو، حتی چې په وینا یې د شپې له مخې به هم تر دوو او درو بجو پورې جدي بحثونه روان ول، د جمعې، عرفې او اختر په ورځو شپو کې هم خبرو جریان درلود، خو په وینا یې بیا هم څنګه چې توقع وه؛ ټولې مسئلې په کلي توګه حل نه شوې، ځیني اختلافي ټکي لا بیا هم پاتې دي چې بحث ته اړتیا لري، که څه هم یادې سرچینې لاینحله ټکي په ګوته نکړل خو په خبره یې، په راتلونکي پړاو کې به په قوي احتمال سره هغه هم حل شي. او له هغه وروسته به د نړیوالو شاهدانو په حضور کي تړون اعلان او بیا لاسلیک شي. پای

تر پورته ليکنې مخکې، ما ليکوال د اګسټ پر ۱۳مه) د خلکو پوښتنو او انديښنو ته د ځواب په موخه لاندې ليکنه خپره کړه:

## افغان سوله او د سيمې هيوادو ناغيرې

د طالبانو او امريکا تر منځ د سولې خبرې وروستي پړاو ته نږدې شوې، داسې تمې وې چې د اتم پړاو په وروستيو کې به د طالبانو او امريکا ترمنځ تړون لاسليک او بيا به په رسمي توګه د روسيې او چين هيوادونو له خوا د تړون د ښه پلي کېدو د تضمين اړوند نړيواله غونډه جوړيږي، د ملګرو ملتونو او اسلامي همکاريو سازمان نړيوالې ادارې به هم شتون لري، له دې سره سره به له قطر هيواد سربېره د پاکستان او ايران استازي هم د تړون پر مهال موجود وي، او هغوی به هم د شاهدانو او يا ناظرينو رول لري، او له ياد تړون څخه به په نړيواله او د سيمې په کچه ملاتړ کيږي.

چينايي چارواکې؛ چې په هيواد کې يې له ګڼ شمير چينايي مسلمانانو سره د بد چلند په اړه راپوررونه ورکول کيږي، کيدای شي انديښنه ولري چې د طالبانو واک ته رسېدو سره به يغور مسلمانان هم د چين دغه ډول له کړکې ډک چلند له امله غبرګون وښيې. ولې ښکاري چې بيا هم چين چمتو دی چې د امريکا او طالبانو ترمنځ د سولې تړون د پلی کېدو لپاره د تضمين کوونکي هيواد په توګه رول ولوبوي.

روسيه چې لا هم په افغانستان کې د داسې نظام پلوی ده چې په راتلونکي کې د دوی ګټې هم په سېمه او افغانستان کې خوندي وي، پرته له شکه د طالبانو اړوند به يې ټولې انديښنې له منځه نه وي وړل شوې، ولې اوس مهال روسيه ښه ګڼې چې د افغانستان د نظام چارې طالبانو ته وسپارل شي، او د سولې تړون د تضمين کوونکي هيواد رول ته چمتو دي.

**پاکستان امتياز غواړي:**

پاکستان هيواد چې هر وخت يې غوښتې او غواړي چې د افغانستان له جګړې او سولې څخه امتياز تر لاسه کړي، اوس مهال چې د طالبانو او امريکا ترمنځ مخامخ خبرو کې ځنډې ته پاتې شوی، هغوی کيدای شي چمتو به نه و چې د طالبانو او امريکا ترمنځ د سولې تړون لاسليک مراسمو کې برخه واخلي، ځکه د پاکستان

لومړي وزیر په سپینه ماڼۍ کې له ټرمپ سره د لیدنې پر مهال ویلي و چې طالبان به وهڅوي چې له افغان حکومت سره مخامخ خبرو ته کیني او له طالبانو سره د افغان – امریکایې پوهنتون دوه بندي استادانو په خوشي کولو کې به هم مرسته وکړي.

تر دې مهال چې د طالبانو او امریکا ترمنځ د اتم پړاو خبرې پای ته رسیدلي، له عمران خان سره طالبانو نه و کتلي.

همدارنګه د کشمیر مسئله هم د پاکستان لخوا د افغانستان مسئلې پورې تړل کیږي، چې دا د پاکستان ناسم او ناکاره سیاست دی، ځکه په افغانستان کې د جګړې اوږدېدل د هند په ګټه او د پاکستان په زیان ده.

**ایران د ګډ حکومت او ټاکنو ملاتړ کوي:**

ایران چې اوس مهال یې د افغانستان د ګډ حکومت سره اړیکې ډیرې نږدې شوې، هغوی ټینګار کوي چې د سولې مذاکراتو کې محوري رول باید افغان حکومت ولري، له همدې امله ده چې اوس مهال ایران د افغانستان د راتلونکو ولسمشرۍ ټاکنو ننګه کوي، او د امریکا – طالبانو د سولې تړون پلوي نه کوي، ایران فکر کوي که د طالبانو او امریکا ترمنځ سوله وشي، نو بیا به د امریکا لخوا ایران ضد کړنو ته لا ډیره زمینه برابره شي.

ایران په تیرو څو میاشتو کې ډیره هڅه وکړه چې طالبان وهڅوې چې له افغان حکومت سره مخامخ خبرې وکړي، ولې طالبانو ونه منله. ایران د همداسې سولې خبرو بې خونده تجربه د استاد رباني د حکومت پر مهال د تاجکستان د اسلامي نهضت (عبدالله نوري) او تاجکستان حکومت ترمنځ هم لري، چې پایله کې یې د تاجکستان اسلامي نهضت په بشپړه توګه له منځه ولاړی او د تاجکستان لپاره ایران او د هغه وخت افغان حکومت لوی خدمت وکړ[۱۶۵].

[۱۶۵] ۲۷ جون ۲۰۱۷، د بي بی سي فارسي راپور چې د تاجکستاني شنونکي نورعلي دولت لخوا ترتیب شوی، لیکل شوې: " په ۱۹۹۳ز کال کې چې په روسیې پوځیانو د اسلامي نهضت د جنګیالیو لخوا حمله وشوه، کوم چې د تاجکستان او افغانستان ترمنځ پر پوله ځای په ځای شوې وو. همدا حمله د روسیې او تاجکستان حکومت لخوا د تاجکستان

ایران هم په افغانستان کې د خپلو ګټو پر بناء تګلاره جوړوي، د هلمند سیند اوبه، د اهل تشیع مذهب اړوند به تیرو ۱۸ کلونو کې لاسته راوړنې، او دا رنګه له طالبانو سره مذهبې توپیر هغه څه دي چې ایران په افغانستان کې طالبانو ته د ډیر واک په لرلو کې اندیښنې لري.

**ولي هند د افغان سولې مخالفت کوي؟**

د هند اوسنۍ اداره په خپل ټول توان په افغانستان کې د سولې مخالفت کوي، هغوی غواړي چې دلته جګړه دوام وکړي، د ځینو افغان سیاستوالو له نظره دوه لامله یې کیدای شي:

لپاره د کورنۍ جګړې د ویرې او اندیښنې سبب شوه، له حملې دوه اونۍ وروسته د منځنۍ ختیځ پېژندونکی او د روسیې د بهرنیو استخباراتو مشر یوګني پریماکوف افغانستان ته ولاړ، تر څو له افغان حکومت سره د تاجکستان د کورنۍ جګړې او سولې ته رسیدو مسایلو باندې بحث وکړي.

پریماکوف د هغه افغان حکومت له مشر برهان الدین رباني او دفاع وزیر احمدشاه مسعود سره ولیدل، د دوی ترمنځ توافق وشو، هرڅومره ژر چې کیدای شي باید په تاجکستان کې سوله راشي، ځکه جګړې ادامه نه د ماسکو او نه هم د کابل په ګټه ده.

د استاد رباني او احمدشاه مسعود په واسطه د پریماکوف او عبدالله نوري ترمنځ د لیدو زمینه برابره شوه، او عبدالله نوري هم د مذاکرتو لپاره د چمتووالي اعلان وکړ. له دې وروسته پریماکوف تهران ته ولاړ، او د ایران د ولسمشر هاشم رفسنجاني او بهرنیو چارو وزیر علي اکبر ولایتي سره یې ولیدل، د هغوی باور او د تاجکستان سوله کې مرسته یې هم تر لاسه کړه.

د تاجکستان د حکومت او تاجکستان د اسلامي نهضت لومړي د سولې مذاکرات د ۱۹۹۴ کال اپریل میاشت کې پیل او د جنوري ۱۹مه ۱۹۹۷ په تهران کې د ښکیلو اړخونو د مذاکراتو نتیجه کې د تاجکستاني تښتیدلو (فراریانو) وسلوالو اړوند دوه مهم سندونه د تاجکستان او اسلامي نهضت ترمنځ لاسلیک شول. همدارنګه د فبروري ۲۰مه ۱۹۹۷، د تاجکستان د پوځ مشر دولت عثمان تهران ته ولاړ او له عبدالله نوري سره یې د سولې اړوند درې نور سندونه هم لاسلیک کړل."

لومړی: هند لا هم اندیښنه لري چې کیدای شي پاکستان پر طالبانو زیات نفوذ ولري، که طالبان واک ته رسیږي، نو په افغانستان کې به د هند ګټې له ننګونو سره مخ کیږي، له تیرو ۲۶ کلونو راهیسي هند په همدې ناسم فکر او د طالبانو اړوند یې تګلاره له بدبینې او بې ځایه اندیښنې ډکه ده.

دویم: هند ځکه په افغانستان کې د جګړې پلوي دی، دوی فکر کوي که په افغانستان کې سوله او امن راشي، نو ډیری اسلامپال جنګیالي به د کشمیر لورته ولاړ شي، له کشمیري مجاهدینو سره به یوځای او د هند په ضد به جګړې کوي، ښه ګڼي چې اسلام پاله جنګیالي د کشمیر پر ځای په افغانستان کې مصروف وساتل شي.

له همدې امله ده چې هند په خپله هند - افغان تګلاره کې د خپلو ګټو ساتلو لپاره د پاکستان په نسبت عمیق سوچ کړی، ځکه خو موږ مخکې وویل چې افغانستان کې سوله د پاکستان په ګټه هم ده، ولي پاکستان لا هم لا زیات امتیازات غواړي.

**پاکستان ځینې امتیازات هضمول غواړي:**

ځینې سیاستوال فکر کوي چې پاکستان به افغان سولې کې د هغه امتیازاتو د هضم کېدو فکر کې وي چې د حامد کرزي د حکومت پرمهال او بیا د ګډ حکومت لخوا دوی ته په تیر ۵ کلونو کې ورکول شوې، مثلاً پر ډیورنډ لیکه د اغزن تار غځول، په تورخم دراوزې باندي موانع، د کندهار سپین بولدک او شورابک ولسوالیو، د ننګرهار د ګوشتې ولسوالي، د خوست د ګربزو ولسوالي او کونړ ځینو سیمو کې د پاکستاني پوځیانو لخوا د افغان خاورې لاندې کول.

**د سولې تړون ځنډ د چا په ګټه دی؟**

که له امریکا سره د سولې تړون نور هم وځنډیږي، د دې امکان شته چې ولسمشریزی ټاکنې وشي، خو پایلې به یې جنجالي او د بیا ځل ګډ حکومت امکان به هم تر ډیره نه وي، ولي اوس مهال د امریکا د بهرنیو چارو وزارت تګلاره داده چې ولسمشریزې ټاکنې ونه شي، خو ممکن د پنټاګون او سي آی اې تګلاره دا نه وي.

کیدای شي د ټرمپ اداره د امریکایې پوځیانو ژر وتل غواړي، خو په امریکا کې هم پریکړه د یو شخص او یوې ادارې لخوا نه کیږي، له همدې امله ده چې خلیلزاد بیړه لري، خو د امریکا نظامي او استخباراتي ادارې ممکن هڅه کوي چې له طالبانو سره د سولې تړون ژر ونه شي.

داسي فکر کیږي چې که د سولې تړون نهایې کیږي او یا هم ځنډول کیږي، پر طالبانو به یې تاثیر نه وي، بلکې په دواړو حالتو کې طالبان ګټه کوي، ځکه خو لویدیځې او امریکایې رسنۍ هم راپورونه ورکوي چې طالبان بیړه نه لري.

که د سولې تړون لاسلیک له ځنډ سره مخ کیږي، تر ډیره بریده د پړې ګوته د امریکا او افغان ولس لخوا د امریکا دولت ته نیول کیږي، همدارنګه له طالبانو سره د امریکا د سولې تړون اړوند افغان حکومت هم پر امریکا نیوکې کوي، له همدې امله ده چې بیا هم د سولې د تړون اړوند ډیر فشار به امریکا ته متوجه وي، نه طالب ته.

**طالب په زور که سوله راځي:**

لویدیځوال پوهیږي او وایې که له طالبانو سره سوله وشي او په سولئیز ډول کابل ته راشي، نو د ۱۸کلونو په جریان کې ډیر پرسول شوې او شتمن شوې به په امن کې وي، د دوی شتمنۍ به هم خوندي وي، خو که طالبان په زور کابل ته راځي بیا به د امریکا پلوو افغان چارواکو هر څه له خطر سره مخ وي، ولي لا هم زموږ ځینې افغان سیاستوال دغه باریکې نه حِس کوي، او له طالبانو سره د سولې د تړون مخالفت کوي، زما د معلوماتو له مخې، د ګډ حکومت مشران، ځینې پخواني جهادي رهبران، حامد کرزی او ځینې مطرح سیاستوال له طالبانو سره د امریکا د سولې تړون اړوند اندیښنې لري، مګر په ټوله کې د پخوانۍ شمال ټلوالې مطرح سیاسي اشخاصو بیا خپلې اندیښنې کیدای شي له طالبانو سره شریکې کړي وي او هغوی د امریکا او طالبانو ترمنځ د سولې تړون اړوند زیاتې اندیښنې نه لري.

**کومې اندیښنې؟**

ځینې نور مسایل دي چې خلک غواړي په اړه یې پوه شي، ډیری ولسي خلک په دي نظر دي که طالبان د اوسنیو چارواکو سره په حکومت کې په یو شکل د اشکالو

شریک شي، دا چې ولس له پخوانیو او اوسنیو چارواکو ښې خاطرې نه لري، نو ولس به د طالبانو په اړه هم بدگمانه شي، او دا رنگه د موقت حکومت خبره کیږي، چې کیدای شي موقت اداره به ډیر واک او کنټرول ونه لري، او بیا به هم گډوډې روانه وي.

بله خبره د اوربند ده، پخوا داسي فکر کیدی چې د طالبانو او امریکا تر منځ د سولې تړون لاسلیک شي، طالبان به له افغان حکوت او افغان سیاستوالو سره سمدستي خبرې پیل او په ټول هیواد کې به اوربند اعلان شي، اوس ښکاري چې طالبان به لومړي جز ته چمتو وي، ولی چې ځان گټونکي گڼي، دوېم جز (اوربند) ممکن سمدستي اعلان نه کړي، کیدای شي له افغان سیاستوالو + حکومت سره د خبرو پر مهال به طالبان پر دوو مسئلو له دوی سره بحث او بالاخره ممکن توافق ته رسیدل غواړي:

۱ – د راتلونکي نظام بڼه او د حکومت نوم، د واکونه ویش،

۲ – د شرایطو په نظر کې نیولو سره اوربند.

بله اندیښنه د بهرنیو ځواکونو له وتلو وروسته په افغانستان کې د امریکا استخباراتې فعالیت اړوند ده، زما په اند چې طالبان دې مسئلې ته متوجه دي، او کیدای شي په اتم پړاو کې پر دي باندي بحث شوی وي، زه باوري یم چې د امریکا / ناټو پوځیانو تر وتلو وروسته به امریکا او ناټو په افغانستان کې استخباراتي او نظامي فعالیت تر هیڅ یو نوم لاندي ونه لري.

د نیوزویک ورځپاڼې وروستی راپور چې امریکایې پوځیان به پر طالبانو حملې نه کوي، د افغان امنیتي ځواکونو روزنه به دروي، داسي ښکاري چې امریکا غواړي افغان حکومت باندي د سولې برخه کې فشار راوړي، او حکومت ته وښیې چې د جگړې پر ځای سولې ته چمتو و اوسي.

**کوم فشارونه شوني دي:**

که طالبان خپلو سیاسي هڅو او د بهرنیو هیوادو سفرونو ته دوام ورکړي، دا پر افغان حکومت فشار دی، او دارنگه که حکومت نظامي تګلارې ته ترجیح ورکوي، نو پرته له شکه چې ولس به لا زیاته فاصله ور سره نیسي.

اوس چې ایران کرار کرار د سولې مخالف جهت کې ځای نیسي، او بل خوا سعودي عربستان په لومړي ځل په تیرو ۱۸ کلونو کې غیر مستقیم له طالبانو سره د اړیکو رغولو هڅې پیل کړي، همدا یو فشار کیدای شي، چې ایران بالاخره د افغان سولې له مخالفت څخه په شا شي.

پاکستان چې اقتصادي حالت یې ډیر خراب دی، په کور دننه د پښتون مېښتو ځوانانو او بلوچ بېلتون پالو له مخالفت سره مخ دی، او په دې برخه کې امریکا او انګلستان د مرستې ژمنې ورسره کړي، تر څو د پاکستان مرکزي حکومت مخالفین ارام کړي.

که پاکستان د افغان سولې مخالفت کوي، نو بیا امریکا کولای شي، چې پر پاکستان د فشار له پاره د پښتون میشتو سېمو ځوانانو او بېلتون پاله بلوچو په ځپلو کې د پاکستان تګلاره کې ورسره مرسته ونه کړي.

د هند اړوند چې د افغان سولې له مخالفت څخه لاس واخلي، یوازینی فشار د امریکا او روسیې په ګډه همکاري کیدای شي، او چین هم له هند سره پر پوله ستونزې لري، ښه داده چې یاد هیوادونه هند وهڅوي چې د افغان سولې له مخالفت څخه لاس واخلي. مګر افغان ولس هم د فشار ځینې موارد لري، که اړتیا یې ولېدل شوه، او هند خپل سولې ضد تګلارې ته دوام ورکړ، بیا ولس مجبوره کیږي، چې عکس العمل وښیې. پای

## افغان سوله، او د کشمیر کړکیچ

د اګست پر ۵مه، د هند لومړي وزیر نریندرا مودې د فرمان له مخې د هند برخه کشمیر نیمه خپلواکې لغوه اعلان کړه، د هند کورنیو چارو وزیر امیت شاه پارلمان ته وویل چې د لومړي وزیر د فرمان له مخې یې د اساسي قانون **۳۷۰**مه ماده چې کشمیر ته ځانګړې په کور دننه خپلواکې ورکوي لغوه کړې.

د اګست ٦مه، د پاکستان لومړي وزیر وویل:"د کشمیر پر سر له هند سره د خونړۍ جګړې امکان شته، که هند پر پاکستان برید وکړ، خونړی ځواب به ورکړي او د وینې تر وروستۍ څاڅکي به یې پر ضد وجنګیږي".

عمران خان د پاکستان ملي شورا ته وویل:"هند د کشمیریانو حقونه او ځمکې غصب کړي، د هغوی د خپلواکۍ د له منځه وړلو هڅه یې کړې او که هند له خپلې پریکړې لاس وانخیست، د کشمیر پر سر به ورسره خونړۍ جګړه ونښلي" .

په همدې ورځ د پاکستان پارلمان کې د اپوزیسیون او د مسلم لیګ نواز ګوند مشر شهباز شریف وویل:"پاکستان د افغانستان د سولې برخه کې له امریکا سره مرسته کړې، خو د امریکا ولسمشر ډونلډ ټرمپ اوس د کشمیر په اړه د پاکستان خبره نه اوري او له پاکستان سره چل کوي".

د اګست ۷مه، د پاکستان پلازمېنه اسلام اباد کې تر ټولو امن (سره سیمه) کې د پاکستان ضد پیغامونه په ټوټو لیکلي او په دیوالونو ټومبل شوې وو.

ځینې لیکل شوې پیغامونه چې د پاکستان د استخباراتي ادارې (آی ایس آی) مرکزي دفتر ته نږدې سیمه کې ټومبل شوي وو، د هند د یوه سخت دریځه ګوند ( شېو سینا) د مشر (سنجي راوت) پاکستان ضد پیغامونه ورباندې لیکل شوي.

په یوه بینر لیکل شوي و: "نن مو کشمیر در څخه واخست، سبا د بلوچستان وار دی، موږ هیله لرو چې لومړی وزیر به د یو موټي هندوستان د تشکیل ارمان پوره کړي."

په کور دننه (افغانستان) کې کورنیو رسنیو مسلسل راپورونه ورکول چې شهباز شریف د پاکستان پارلمان کې ویلي چې د کشمیر مسئله د افغانستان د سولې له

مسئلې سره تړلي ده، او له هند سره د کشمیر پر سر د پاکستان شخړه د افغانستان پر سوله مخامخ تاثیر لري، بل خوا د هند له لوري د کشمیر کورنۍ ازادي اخیستلو په افغانستان او پاکستان کې سیاسي بحثونه رامنځته کړي وو، په رسنیو کې د کشمیر په اړه زیات بحثونه کېدل.

د پاکستان لخوا د هندي کشمیر مسئلې له افغان سولې سره تړلو له امله په کابل کې د پاکستان سفیر اړ کړ چې د سیاستوالو او سیاسي بحثونو اړوند غبرگون وښیې. ځکه د اگسټ پر ۷مه د پاکستان د مسلم لیگ (نواز) گوند او د حکومت د اپوزیسون مشر شهباز شریف ویلي وو:"د افغانستان او کشمیر مسئلې یو له بل سره تړلي دي، که چیرته کشمیر کې شخړې او ستونزې وي، په افغانستان کې سوله موږ ته د منلو نه ده. د کشمیر په قیمت په کابل کې سوله نه غواړو، دا نه شي کېدای چې کابل کې دې د سولې خوشالۍ لمانځل کیږي او کشمیر کې دې خلک وژل کیږي."

د یاد گوند بل مهم مشر، د بهرنیو چارو پخواني وزیر خواجه اصف هم ویلی و:"تر څو چې کشمیر کې شخړې او ستونزې وي، دا مسئله حل نه شي، افغانستان کې سوله نه شي راتلای. داسي ښکاري چې لومړي وزیر عمران خان د کشمیر پر سره معامله کړي ده."

د اگسټ پر ۸مه، په کابل کې د پاکستان سفیر زاهد نصرالله د خبرې ناستې پر مهال وویل:"د کشمیر مسئله د افغانستان د سولې بهیر باندی کوم اغېز نه لري او په دې اړه شوې څرگندونې بېځایه دي".

طالبانو د هند لخوا د کشمیر د کورنۍ ازادي اخیستلو په اړه لاندي اعلامیه خپره کړه.

**په کشمیر کې د روان وضعیت په اړه د اسلامي امارت د ویاند څرګندونې**

راپورونه خپریږي چې د هند هیواد لخوا د کشمیر اوسیدونکو ته نیمه ورکړې آزادۍ تري اخیستل شوې او هغې سیمې ته پوځیان استول شوي، اضطراري حالت نافذ شوی او هلته میشت مسلمانان یې له ستونزو او ځورونو سره مخ کړي.

اسلامي امارت په دې اړه خپله ژوره خواشیني ښیي، له هند او پاکستان دواړو څخه غواړي چې داسې ګامونه پورته نه کړي چې په سیمه کې د تشنج او مشکلاتو لپاره لار پرانیزي او د کشمیري ولس حقونه تلف کړي.

موږ له جنګ جګړو څخه د ترخو تجربو په درلودلو سره په سیمه کې د آرام او د مسایلو په معقولو لارو د حل غوښتنه کوو.

په ذیدخله هیوادونو، اسلامي کنفرانس، اسلامي هیوادونو، د ملګرو ملتو په سازمان او نورو با صلاحیته جهتونو بږغ کوو چې په کشمیر کې د بې ثباتۍ د مخنیوي لپاره خپل رغنده رول ولوبوي، له خپل نفوذ څخه په استفاده دواړه خواوې دې ته وهڅوي چې د فتنو د خپریدو مخه ونیسي او پیښ مشکلات په سړه سینه او حوصله سره حل کاندي.

ورسره د ځینو جهتونو لخوا د کشمیر مسئلې ته د افغانستان په مسایلو پورې ربط ورکول، د وضعیت له ښه والي سره هیڅ مرسته نشي کولای، ځکه چې د افغانستان موضوع هیڅ ربط نه ورسره لري او نه باید افغانستان د نورو هیوادونو د سیالۍ ډګر وګرځي.

ذبیح الله مجاهد د اسلامي امارت ویندوی

۱۴۴۰/۱۲/۷ هـ ق، ۱۳۹۸/۵/۱۷هـ ش ــ ۲۰۱۹/۸/۸م

## ازبکستان ته د طالبانو سفر

د اګسټ پر ۷مه د ملابرادر اخوند په مشرۍ د طالبانو پلاوی (ملا امير خان متقي، ملا فاضل مظلوم، شيخ سيدرسول حليم، قاري دين محمد حنيف، شيخ شهاب الدين دلاور، مولوي مطيع الحق خالص، مولوي محمد نبي عمري، ملا عبدالاحد جهانګيروال، سهيل شاهين، عمار ياسر، د کتور صالح او دکتور نعيم وردګ ازبکستان ته سفر وکړ.

د اګسټ پر ۷مه، سهيل شاهين وليکل:"نن د محترم ملا برادر اخوند په مشرۍ د سياسي دفتر هئيت د ازبکستان پلازمينې تاشکند ته ورسيد او په هوايي ميدان کې يې دافغانستان لپاره د ازبګستان د ولسمشر د خاص استازي عصمت ايرګاشيف له خوا تود هرکلی وشو او سبا ته ملا صاحب د ياد هبواد له لوړ پوړو چارواکو سره ملاقات لري" .

د اګست پر ۸مه يې وليکل:" نن ملا صاحب برادر اخوند او ورسره هئيت يې د ازبکستان خارجه وزير عبدالعزيز کاملوف، د هغه هيواد خاص استازي عصمت ايرګاشيف او ورسره هئيت سره د خارجه وزارت په مقر کې وليدل.

دواړو لوريو د امريکې سره د روانو مذاکراتو، د سولې په پروسې، په افغانستان کې د ازبکستان له خوا د ترسره کيدونکو رغنيزو او پرمختيايي پروژو او دوه اړخيزو اړيکوخبرې وکړي" .

د اګست پر ۸مه، ذبيح الله مجاهد وليکل:" د محترم ملابرادر اخوند په مشرۍ د اسلامي امارت استازي دازبکستان هيواد د بهرنيو چارو وزير او نورو لوړ رتبه استازو سره وکتل. په دغو ليدنو کتنو کې د دواړو هيوادونو ترمنځ د ښه ګاونډيتوب، مثبتو اړيکو، متقابل درناوې او په سياسي او اقتصادي برخو کې د همکاريو په دوام ټينګار وشو" .

د اګست ۸مه، په کورنيو رسنيو کې راپور ورکول شو چې د ازبکستان هيواد بهرنيو چارو وزير عبدالعزيز کاملوف د طالبانو پلاوي ته له ميلمستيا وروسته، ملا برادر

اخوند ته ازبکي چپنه او ازبکې خولۍ په تحفه کې ورکړي[۱۶۶]، له دي وروسته د اګست پر ۹مه، چې کله د طالبانو پلاوی ثمرقند ته ولاړ، هلته د هغه ځای د والي لخوا ملا برادر اخوند ته سپینه ازبکي چپنه ور واغوستل شوه، چې د ازبکستان حکومت لخوا طالبانو ته تود هرکلي له امله افغان حکومت په غوسه شو، او ازبکستان ته د طالبانو د پلاوي د تود هرکلي په وړاندي یې غبرګون وښود، چې بیا وروسته په کابل کې د ازبکستان سفیر یادګار خواجه شادمانوف د ملي امنیت سلاکار ډاکتر حمد الله محب سره ولېدل او د حکومت اندیښنو ته یې ځواب ووایه.

۹ اګست، مجاهد ولیکل:" د اسلامي امارت سیاسي مرستیال او ورسره پلاوي یې نن دجمعې لمونځ د ازبکستان هیواد په سمرقند کې د امام بخاري صاحب رح په مسجد کې اداکړ. د جمعې له لمانځه وروسته په داسې حال کې چې د سمرقند والي هم ورسره ملګرى و، د امام بخاري صاحب او مشهور صحابي قثام بن عباس رض له زیارتونو یې لیدنه وکړه.

د اسلامي امارت سیاسي مرستیال محترم ملابرادر اخوند او ورسره ملګري پلاوي یې نن ماښام په هغه میلمستیا کې ګډون وکړ چې د ازبکستان هېواد د سمرقند د والي ایرکین توردیموف لخوا ورته تیاره شوې وه او له خپل دود سره سم د سمرقند د والي لخوا ملابرادر اخوند ته چپنه هم په تحفه کې ورواغوستل شوه".

ازبکستان ته د طالبانو د رسمي سفر په اړه د طالبانو رسمي ویب پاڼه کې د اګست پر ۹مه، لاندي راپور خپور شو.

---

[۱۶۶] ازبکي چپنه او ازبکي خولۍ د مسلمانانو لپاره د ازبکستان د خلکو تر ټولو ستره معنوي تحفه ګڼل کیږي. او یو چاته چپنه ور اغوستل په دي معنی ده چې هغه د مشرۍ توان لري.

## ازبکستان هېواد ته د اسلامي امارت د استازي د سفر جزئيات

د اسلامي امارت سياسي مرستيال او د سياسي دفتر مشر محترم ملابرادر اخوند تيره ورځ د ازبکستان د بهرنيو چارو وزارت په مقر کې د ازبکستان د بهرنيو چارو له وزير عبدالعزيز کاملوف او د افغانستان لپاره د ازبکستان هيواد د جمهورئيس د خاص استازي عصمت ايرگاشيف سره وکتل، په کتنه کی د دواړو اسلامي هيوادونو پرتاريخي او دوستانه اړيکو، له امريکايانو سره پر روانو مذاکراتو او په افغانستان کې د بشپړي سولي او ثبات د تامين، د افغانستان د بيا رغوني او د ازبکستان هيواد لخوا په افغانستان کې د تر سره کيدونکو اقتصادي او رغنيزو پروژو په اړه هر اړخيزي خبري وشوي.

محترم ملابرادر اخوند د ازبکستان د بهرنيو چارو له وزير څخه وغوښتل، تر څو هغه اقتصادي پروژې او عمراني کارونه چې ازبکستان پيل کړي دي لکه د افغانستان شمال ته د بريښنا رسول او د دواړو هيوادونو تر منځ د تجارت د پراختيا په منظور د مزار ښار ته د اورگاډي د پټلۍ غزول او ورته نورې پروژې، تکميل کړي او ډاډ يې ورکړ چې اسلامي امارت په يادو برخو کې ترخپل کنټرول لاندي سيمو کې هر ډول همکارۍ ته تيار دی، ځکه دا پروژې نه خاص په اسلامي امارت پورې اړه لري او نه هم د کابل د اداري د مشرانو ملکيت دی، بلکه دا د ټول ملت ملکيت دی، د عامو افغانانو په گټه او د هغوی د هوساينې لپاره دي.

د ازبکستان د بهرنيو چارو له وزير څخه وغوښتل شول چې د کابل له ادارې څخه هم په ټينگه وغواړي چې هغه خنډونه چې هغوی د يادو پروژو د تطبيق په وړاندې ايجاد کړي دي ژر تر ژره لري کړي.

بل خوا نن د جمعې په ورځ د اسلامي امارت مرستيال او ورسره ملگري پلاوي يې د ځانگړي اورگاډي له لارې د ازبکستان هيواد د سمرقند ولايت ته سفر وکړ چې د سمرقند د والي ښاغلي ايرکين توردېموف لخوا تود هرکلی ورته وويل شو، وروسته ملابرادر اخوند او ملگري هيئت يې د احاديثو د ستر پيشوا امام بخاري رحمه الله او ورسره د شهيد شوي صحابي قثام بن عباس رضي الله له مزارونو څخه

لیدنه وکړه او د جمعې لمونځ یې د امام بخاري رحمه الله په مسجد کې ادا کړ. همدا ډول نن ماښام د اسلامي امارت استازو ته د سمرقند د والي لخوا ځانګړې میلمستیا تیاره شوې وه چې محترم ملا برادر اخوند او ملګرو یې په کې ګډون وکړ او بیا له سمرقند څخه بیرته د تاشکند په لور د رخصتیدو په وخت کې د سمرقند د والي لخوا ملا برادر اخوند ته د هغوی له رسم سره سم یوه چپنه ور واغوستل شوه او نور تحایف هم ورکړل شول.

ذبیح الله مجاهد د اسلامي امارت ویندوی

۱۴۴۰/۱۲/۸هـ ق

۱۳۹۸/۵/۱۸هـ ش ــ ۲۰۱۹/۸/۹م

د اګست پر ۱۱مه، د لوی اختر لمونځ ملا برادر اخوند او د طالب پلاوي نورو غړو د ازبکستان هیواد دپلازمینې تاشکند په جامع مسجد کې اداء او هلته یې له ازبک وګړو سره اختر مبارکیاني وکړي. د پلاوي ملګرتیا د ازبکستان د ولسمشر ځانګړی استازی عصمت ارګاشف کوله.



عبدالعزیز کاملوف د ازبکستان بهرنیو چارو وزیر د طالبانو سیاسي مرستیال مشر ملا برادر اخوند ته ازبکې چپنه تحفه کې ورکوي.

له اتم پړاو خبرو وروسته، د اګسټ پر ۸مه، د لوی اختر په مناسبت د طالبانو د مشر لخوا پیغام خپور شو، چې د سولې اړوند مذاکراتو ته هم پکې اشاره شوې وه. موږ یې دلته له سولې سره تړلې ټکي را اخلوو:

## د نیکمرغه لوی اختر په مناسبت د عالیقدر امیر المؤمنین شیخ الحدیث هبة الله اخوندزاده صاحب پیغام

مجاهدینو ورونو!

ــ تاسي ته مې هدایت دا دی چې د اختر په ورځو کې د خپل مؤمن اولس هوساینې، خدمت او خوندیتوب ته پوره توجه وکړئ. د هیواد والو د خوشحالۍ او ارامۍ لپاره ټول لازم اقدامات ترسره کړي. د شهیدانو، معیوبینو او بندیانو د کورنیو پوښتنه وکړئ او د خپل توان په اندازه ورسره مرسته وکړي.

**مؤمنو هیوادوالو!**

ــ لکه څرنګه چې خبر یاست په دې وروستیو کې د دښمن لخوا په عام ولس بمبارونه، چاپې، د ولسي خلکو وژل، ځورول او د کورونو، مدرسو،کیلنیکونو او جوماتونو د تخریب واقعات خورا زیات شوي دي. دښمن د ډیرې وار خطایۍ له امله له ولس سره ښکاره دښمني ته ملا تړلې او له هیڅ وحشت څخه دریغ نه کوي. څرنګه چې د ظلم انجام زوال دی موږ باور لرو چې د دغو ظالمانو زوال او ذلت را نږدې شوی دی. ان شاءالله تعالی.

ــ که له یوې خوا دښمن د شکست او وارخطایۍ په حالت کې زموږ ولس وژنې ته مخه کړې، لله الحمد د اسلامي امارت مجاهدین د الله تعالی په نصرت او بیا د خپل میړني ولس په ملاتړ په نظامي او سیاسي دواړو ډګرونو کې په ډیر حکمت او تدبیر سره د بریا او پرمختګ مراحل طی کوي. د الفتح عملیاتو په لړ کې مجاهدینو د هیواد په بیلابیلو برخو کې ډیرې سیمې فتحه کړې دي. له اطرافي سیمو علاوه په لویو لارو او استراتیژیکو نقطو د مجاهدینو واکمني پراخه او ټینګه شوې ده. د ځمکې په مخ له دښمن څخه هر ډول نظامي ابتکار اخیستل شوی او اوس

یوازې هوايي ړانده بمبارونه وریاته دي، د مجاهدینو تر منځ اتحاد، هماهنگي، نظم او د اطاعت روحیه په ډیر ښه حالت کې ده.

ـ په سیاسي ډګر کې که له یوې خوا په نړیواله او منطقوي سطحه د اسلامي امارت سیاسي روابط پراخ شوي، د اسلامي امارت داعیه او پالیسي ورته تشریح شوې او دوه اړخیز اعتماد او تفاهم رامنځته شوی. په هیوادنی کچه هم اسلامي امارت د سولې او جوړ جاړي په موضوع کې د محور په رول کې را څرګند شوی، له سیاسي جهتونو او ګڼو سیاسي او مخورو شخصیتونو سره یې د راتلونکي په اړه رغنده پرمختګ کړی، دا خورا مهمه پرمختیا ده چې اوس د افغانستان سیاسي قشر مطلق اکثریت د اسلامي نظام د حاکمیت او بهرنیو اشغالګرو د وتلو په داعیه کې له اسلامي امارت سره همږغي دي او زموږ د دې اتلس کلنې برحقې داعیې ملاتړ کوي.

**مؤمنو هیوادوالو!**

موږ که د الله تعالی په لاره کې مسلح جهاد کوو او یا که د مذاکراتو او تفاهم پروسه پر مخ وړو، په دواړو کې مو مقصد داشغال خاتمه او په افغانستان کې د اسلامي نظام حاکمیت دی.

یقین لرو چې د هر افغان وګړي چې د ټولنې له هر قشر سره تړاو ولري خیر په اسلامي نظام او خپلواک هیواد کې دی.

ـ موږ غواړو چې هیواد وال مو د منصفانه قضاء، ریښتني سیاست، قوي اقتصاد، سالم ثقافت، معیاري تعلیم، سوکاله اجتماعي ژوند او د اسلامي فرهنګ له ټولو معیارونو او مزایاوو برخمن وي.

ـ په هیواد کې د ټولګټو پروژو ساتنه، د خیریه موسسو د بې غرضه فعالیتونو ملاتړ، د ملي شتمنیو حفاظت، او په ټوله کې د هیواد هراړخیز پرمختګ زموږ هدف او د پالیسي برخه ده.

**په مخالف صف کې ولاړو افغانانو ته وایو چې:**

موږ ستاسو خیرخواهان یو، باور وکړئ چې په تاسو مو د دنیا او آخرت بدمرغي نه لوریږي. ستاسو سره زموږ د مخالفت لامل دا دی چې تاسو د اشغالگرو په صف کې ولاړ یاست، موږ د زرگونو بندي عسکرو په خوشي کولو سره ثابته کړې چې که تاسو د پردیو لپاره له جگړې او خدمت نه لاس واخلئ زموږ ورونه یاست، تاسې چې د وطن د دفاع په نوم له اشغال گرو سره په څنگ کې ولاړیاست او له خپلو هیواد والو سره په جنگ یاست نو وطن له چا څخه ساتئ؟

راځئ د هیواد د ازادۍ او د ولس د جهادي ارمانونو د پوره کیدو له مهیا شوي فرصت نه په گډه استفاده وکړو. د اشغالگرو د وتلو او په هیواد کې د حقیقي اسلامي نظام د جوړښت لپاره زمینه سازي وکړو. تر څو مو اولس له اوږده بحران او دوامدارو کړاوونو څخه نجات ومومي.

**امریکایې چارواکو ته وایو!**

په تېرو اتلسو کلونو کې د بیلابیلو پوځي ستراتژیو ناکامي کافي ده چې د مسئلې د حل لپاره په سوله ییزو لارو غور وشي. اوس چې په دې اړه د مذاکراتو پروسه جریان لرې، نو لکه څنگه چې اسلامي امارت په جدیت دغه پروسه پر مخ وړي او له پخوا څخه یې سیاسي دفتر په دې برخه کې دپام وړ قدمونه اخستي او اوس یې ټول مذاکراتي جریان د مشرتابه د سیاسي مرستیال له لوري اداره کیږي، قوي مذاکراتي ټیم یې په کار گمارلی، تاسو هم باید په رښتیني معنی دغه پروسه مخته بوځئ ترڅو د مسئلې د حل په لوري اغیزناک گامونه واخلو او اتلس کلني غمیزي ته د پای ټکی کیږدو.

اما د مذاکراتو د پروسې په جریان کې د امریکا لخوا د ظالمانه او ړندو بمباریو زیاتوالی، په ملکي سیمو بریدونه او ستاسي د بېلابیلو پوځي او سیاسي چارواکو ضد او نقیض اظهارات هغه څه دي چې د دغې پروسې په اړه تشویش او ستاسي په اراده شک پیدا کوي. دا چې د مذاکراتي پروسې د بریا لپاره اساسي شرط دوه اړخیز اعتماد دی نو لازمه ده چې د دغسې منفي کړنو مخه ونیول شي.

**د افغانستان مؤمن او غیور اولسه!**

سږ کال لوی اختر په داسې حال کې لمانځو چې په نږدې ورځو کې( د اسد په اته ویشتمه) له انگریزي ښکیلاک څخه زموږ د اسلامي هیواد افغانستان د خپلواکۍ اخیستلو سل کاله پوره کیدونکي دي. د دې ستر تاریخي مناسبت له امله دا یادونه ضروري بولم چې هیوادوال په خاص ډول ځوان نسل دې د خپل ویاړمن هیواد او رښتینو مجاهدو اسلافو تاریخ په پوره دقت سره ولولي تر څو پوه او چمتو شي چې د خپلو نیکونو په شان د اشغالگرو پر ضد جهاد ته دوام ورکړي او د بشپړې خپلواکۍ د ترلاسه کولو او اسلامی نظام دحاکمیت تر وخته خپله مبارزه جاري وساتو، تر اشغال لاندې د آزادۍ شعاري لمانځل مفهوم نه لري، د اوسني اشغال سره هم هغه ډول مبارزه او مقابله وکړو، لکه سل کاله وړاندې چې همدې میړني اولس کړې ده.




زه (لیکوال) او مشهور طالب لیکوال او مبصر عبدالرحیم ثاقب صاحب - دوحه

## د لوی اختر په مناسبت د ډاکټر غني پېغام

د لوی اختر په لومړۍ ورځ (۱۱ اگسټ ۲۰۱۹ / ۲۰ زمری ۱۳۹۸)، د اختر لمانځه وروسته، ډاکټر غني د رسنیو له لارې ولس ته وویل:

دا چې زموږ امنیتي او دفاعي ځواکونه زموږ د ملي هویت، ملي اقتدار او د هیواد د استقلال دفاع کوي، مننه ورڅخه کوم.

د ملکي او نظامي شهیدانو ورثې ته رسیدگي د دې ملت د هر فرد اړتیا او دنده ده.

که څوک فکر کوي چې د ترور او وحشت له لارې د افغانستان اسلامي جمهوري حکومت د خپل اطاعت په خط کې راولي، سلگونه ځله دې فکر وکړي. دا ملت تسلیمېدونکی نه دی، اما سوله د هر افغان غوښتنه او راتلونکې ده.

موږ داسې سوله غواړو چې د هر افغان عزت په کې وي او هغه سوله چې په هغه کې زموږ خلک بې وطنه شي؛ نه غواړو. زموږ خلک بې وطنۍ او د مغزونو او د پانگې فرار ته نوره اجازه نه ورکوي.

په کیبل د افغان نجونواو ښځو د وهلو وخت تېر شوی او د افغانستان عظیم ملت د هغه اجازه نه ورکوي.

په سوله کې باید هر افغان له بل افغان سره مساوي وي او زموږ د ژبو او قومونو تنوع زموږ ویاړونه دي. دا باید هېره نه کړو چې سوله سمتي، حزبي او قومي نه، بلکې ملي ده.

موږ سولې ته د رسېدو لپاره د ملي یووالي حکومت تشکیل، حزب اسلامي سره د سولې، جمهوررئیس ټرامپ سره مذاکرات چې د امریکا ستراتیژي یې پر سوله زیاته متمرکزه کړه، د کابل کنفرانس چې د سولې د مذاکراتو لپاره پیش شرطونه په کې رفع شول، په نېکمرغه کوچني اختر کې د اوربند او د سولې مشورتي لویې جرگې د جوړېدو شپږ مهم پړاوونه بشپړ کړل، نو سوله راتلونکې ده او د افغانستان خلک سوله غواړي.

ټاکنې زموږ اسلامي او ملي عنعنه او حیاتي اړتیا ده. ملت په خپل انتخاب سره راتلونکي جمهوررئیس ته صلاحیت ورکوي چې سخت تصامیم په قوت او عزت ونیسي. ټاکنې یوه اساسي اړتیا ده او د ترسره کېدو لپاره یې چمتووالی نیول شوی دی.

د افغانستان ملت قوي او مسوول دولت غواړي او دا له ټاکنو پرته ممکن نه دی. افغانستان د چا هدیه نه دی، بلکې له پېړیو راهیسې مو د دې وطن د اولادونو په وینو ګټلی دی.

اراده زموږ خپله ده او موږ پر وړاندې څو، عزت، حیثیت، شرافت، اتفاق او اتحاد په وطن کې دی او په بې وطنۍ کې عزت نشته.

د هیواد د خپلواکۍ د سلم کال مبارکي ټولو ته وایم، دا جشن مې د خپل شخصیت په خاطر نه دی نیولی، بلکې زموږ څو زره کلن ملي هویت ښیي او د دارالامان ماڼۍ بیارغاونه زموږ د ارادې، ملي ژمنتیا او وطنپالنې نمونه ده او د دارالامان ماڼۍ بیارغاونې وښوده چې زموږ په قاموس کې غیرممکن نشته.

موږ ملي یووالی، ملي عزت، ملي اراده، ملي اقتدار او ملي پرمختګ غواړو او کله چې افغانان یووالی، اتفاق او اتحاد ولري، هیڅ قوت یې مخه نشي نیولای.

د افغانستان راتلونکی د افغانستان داخل کې د افغانانو له لوري د دې وطن په هره ګوښه کې ټاکل کېږي.

د افغانستان خلک د امنیتي او دفاعي ځواکونو ترشنګ قرار لري، ځکه زموږ زړور ځواکونه د افغانستان د عزت او اساسي قانون ساتنه کوي. زموږ درې رنګه بیرغ زموږ ملي سمبول دی او دا ښکلی بیرغ دې تل رپاند وي.

# ولسمشرۍ ټاکنې

## د ولسمشرۍ ټاکنو د کمپاین پیل

د جولای پر ۲۸مه، په رسمي ډول د افغانستان د ولسمشرۍ ټاکنو دوه میاشتني کمپاین پیل او ډاکټر غني وویل: "که دا ځل هم تاسي ماته رایه راکړه، د حضرت عمر رض او حضرت علي رض په څیر عدالت به پلي کړم، او په تیرو ۵ کلونو کې ما ډیر لنډغر او جنایت کوونکي لیري کړل. که بیا هم زه واک تر لاسه کړم، د هیواد ټولو ولسوالیو ته به برېښنا ورسوم. او د تلپاتې سولې لپاره به کار وکړم.

سوله یوازې د مشروع حکومت په شتون کې راتلی شي، چې د خلکو له هیلو سره سم کورنۍ او بهرنۍ تګلاره جوړه کړي او هېواد ته تلپاتې سوله راولي" .

ډاکټر غني خپله ډله د دولت جوړونکي ټیم نومولي، د ډاکټر غني د وینا په ځواب کې د ثبات او همګرایې ډلې مشر، ولسمشرۍ ټاکنو ته نوماند ډاکټر عبدالله خپلو پلویانو ته د خبرو پر مهال وویل:"یوه نوماند ویلي، چې په هېواد کې به عمري عدالت پلی کړي، هغه په ټولو خلکو تورونه ولګول او اوس یې پر صحابه کرامو هم تورونه پیل کړل. که څوک له اصل تاریخه نه وي خبر او د اشرف غني نظام وګوري، نو د عمري عدالت په اړه به یې عقیده خرابه شي.

زه داسې یو ټیم پېژنم، چې لومړی مرستیال (امرالله صالح) یې خلکو ته د قناعت ورکولو دلیل نه لري او وایي، چې ولسمشر ناروغ دی، په درې څلورو میاشتنو کې مري او بیا به دی ولسمشر شي.

ځینې کسان (ډاکټر غني) ځان د فساد ضد بولي، خو څو ورځې مخکې یې د ګمرکاتو مرستیال داسې څوک ټاکلی، چې په محکمه کې یې د فساد دوسیه پرته ده.

د ملي یووالي حکومت په پنځه کلنه دوره کې ځینې ادارې له اشخاصو سره د دښمنۍ له امله لغوه شوې او ځینې نورې ادارې بیا د خلکو لپاره پرته له اړتیا جوړې شوې" . دغه متن له نن ټکی اسیا څخه را اخیستل شوی.

د ولسمشرۍ ټاکنو په لومړي ورځ، د شین بهیر (امرالله) صالح په ټاکنیز دفتر، په کابل ښار کې د ۵ تنو لخوا برید وشو، ولسمشرۍ ټاکنو کې د ډاکټر غني لومړی مرستیال امرالله صالح د ودانۍ د بام له لارې ځان خوندي ځای ته ورساو، سربیرن په شیشو باندي زخمي شوی هم و، خو د اته ساعته برید پایله کې د امرالله صالح تر ۲۰ زیات پلویان مړه او تر ۳۰ زیات ژوبل شول. په مړو کې د امرالله صالح غالباً دوه نږدې دوستان هم ووژل شول. د برید پړه هیچا هم پر غاړه وا نه خیسته.

د اگست ۶مه، د ولسمشرۍ ټاکنو اړوند د طالبانو لخوا لاندې اعلامیه خپره شوه:

## د تش په نامه انتخاباتي پروسې په اړه د اسلامي امارت اعلامیه

له څو ورځو راهیسې یو ځل بیا د انتخاباتو تیرایستونکي پروسه گرمه شوې او کاندیدانو یې په ټاکنیزو کمپاینونو پیل کړی، د دې موضوع په اړه اسلامي امارت خپل موقف په لاندې ډول اعلانوي:

- دا چې افغانستان د پردیو یوځیانو لخوا اشغال دی، بهرني ځواکونه د هیواد په ټولو چارو واکمن دي، حتی د ټاکنیزې پروسې اکمال، رهبري، نظارت او نهایي پریکړې د بهرنیانو په اختیار کې دي او په کابل کې د بهرنیو سفارتونو لخوا یې وخت په وخت څار او لارښوونه کیږي، دې ته په پام سره د ټاکنو پروسه یوازې د خلکو سترگو ته خاورې شیندل او د عامه ذهنیت تیرایستل دي، ځکه هر څوک په دې پوهیږي چې د اشغال تر سیوري لاندې ټاکنو کې د ولسي ارادې پر ځای د اکمالوونکو بهرنیانو اراده او انتخاب ټاکونکی رول لري.

- د هیوادوالو به په یاد وي چې په ۲۰۱۴م کال کې د ولسمشرۍ په نوم دوه ځله ټاکنې ترسره شوې، په سلگونو میلیونه ډالر مصرف شول، څو میاشتې د ټاکنو پروسه روانه وه خو کله چې د نهایي پریکړې وخت شو، د هغه وخت د امریکا د بهرنیو چارو وزیر جان کیري راغی، د رایو پاڼې یې باطلې اعلان او بیا یې په خپله خوښه د حکومت چلولو لپاره دوه کسان انتصاب کړل.

دا چې هوښياران وايي (آزموده را ازمودن خطا است) هيوادوال بايد بيا بيا د مکارو سياسيونو د فريب ښکار نشي او نه دې هم په هغه پروسه کې ګډون کوي چې د دوی رايې په کې هيڅ اعتبار او ارزښت نه لري.

- حقيقت دادی چې د کابل اداره د افغانستان د خاورې پر ډېره کمه برخه واک لري او ټاکنې به يوازې په ځينو ښارونو کې ترسره کيږي، چې اکثره ښاريان هم ګډون نه پکي کوي، له بله اړخه د اشغال د پای ته رسيدلو مذاکرات او د بين الافغاني تفاهم لپاره ترتيبات روان دي، دې خاص وضعيت او شرايطو ته په پام سره هم دا تش په نامه انتخابات يوازې د محدود شمير سياسي دوکه بازانو د هوس پوره کيدل دي چې يوازينۍ نتيجه يې د وخت، پيسو او امکاناتو بېځايه ضياع ده او بس.

- دا چې را روان تش په نامه انتخابات هم د تيرو په شان يوه تيرايستونکي پروسه ده، اسلامي امارت به يې په کلکه د مخنيوي هڅه وکړي، موږ پر ټولو هيوادوالو ږغ کوو چې په دې پروسه کې له اشتراک څخه ډډه وکړي، د کانديدانو په غونډو او تبليغاتي کمپاينونو کې دې ګډون نه کوي، ځکه د دوی له ګډون څخه يوازې اشغالګر او ګوډاګيان د خپل اعتبار د زياتولو لپاره استفاده کوي، موږ باور لرو چې اولس به د پخوا په شان په خپل سرتاسري پريکون سره د اشغالګرو دا پروسه هم شنډه او خنثی کړي.

- داچې اوس اوس د همدې نمايشي انتخاباتو لپاره کمپاينونه شروع شوي، غونډې جوړيږي د اسلامي امارت مجاهدين يې مانع ګرځي، د دې لپاره چې خدای مه کړه عامو هيوادوالو ته زيان ونه رسيږي، بايد هغو غونډو او تجمعاتو ته ورنشي چې د بريد او زيان خطر وي.

- اسلامي امارت پر ټولو هغو بهرنيو اړخونو هم ږغ کوي چې وخت په وخت له دغې جعلي پروسې څخه خپل حمايت اعلانوي او يا په دې برخه کې بې ځايه مصارف په غاړه اخلي، د دې پرځای بايد په افغانستان کې د اشغال د پای ته رسيدو او واقعي سولې په لاره کې انرژي او منابع په کار واچول شي، ترڅو په رښتوني بڼه

افغانستان ته خدمت وشي او په دغه حساسه مرحله کې د څو اشخاصو لخوا د سولې روان جریان سبوتاژ نشي.

- اسلامي امارت په ټول هیواد کې مجاهدینو ته لارښوونه کوي چې په ټول توان سره د دښمن د دغې نمایشي او جعلي پروسې په مقابل کې ودریږي او دښمن پرینږدې چې په خپل دغه شوم پلان کې بریالی شي.

د افغانستان اسلامي امارت

۱۴۴۰/۱۲/۵هـ ق، ۱۳۹۸/۵/۱۵هـ ش، ۲۰۱۹/۸/٦م

د حنیف اتمر د سولې او اعتدال ټاکنیزې ډلې په منځ کې جنجالونه پیدا شول، عطاءمحمد نور له حنیف اتمر څخه وغوښتل چې د کمپاین پر مهال به دده انځور هم د شعارونو او کمپاین په ټوټو کې وي، او د صدراعظم لقب به ورسره لیکل کیږي.

له همدې امله وه چې د سولې او اعتدال ټیم کې خپلمنځي جنجالونه زیات شول، له امله یې د یاد ټیم لخوا د کمپاین د دریدو اعلان د اگسټ پر ۸مه وشو، او په ښکاره یې لامل په هیواد کې نا امني او د سولې ګړندی بهیر وښود.

د اګسټ پر ۱۱مه د سولې او اعتدال ټیم د پاشل کېدو له امله د دغه ټیم مشر حنیف اتمر له خپلو مرستیالانو سره په خپلمنځي غونډه کې د خپل ټاکنیز ټیم د منحل کېدو اعلان وکړ.

همدارنګه، ډیری سیاسي ګوندونو د ولسمشرۍ ټاکنو پر کېدو او شفافیت شک وښود، او د سولې په ملاتړ یې اواز پورته کړ.

د اګسټ پر ۲۱مه، کورنیو رسنیو راپور ورکړ چې ډاکټر غني د امریکایې ځواکونو له قومندان ولټېر او د ناټو له ملکي استازي نیکولاس کي سره د ناستې پر مهال ورته

ويلي چې: "ټاکنې د سولې په پرتله ورته لومړيتوب لري او له ټاکنو پرته سوله تامينېداى نشي.

ټاکنې ترسره کېږي او د افغانستان خلک به په غښتلې ارادې خپل راتلونکی حکومت او زعيم وټاکي، له ټاکنو پرته سوله نشي تامينېداى او په ډېر تاسف چې طالبانو له ملي پروسو سره خپله دښمني ښودلې ده.

ټاکنې د افغانانو برحقه غوښتنه ښيي او ترسره کېدل يې د نظم د تامين لامل گرځي.

که د سولې پروسه په سم ډول رهبري نشي ناوړه پايلې له ځانه سره درلودلای شي . "

د اگسټ پر ۲۲مه، د سولې شورا مشر کريم خليلي رسنيو ته وويل:" د حکومت د اوسنۍ رهبرۍ په شتون کې سوله ناشونې ده، رهبري بايد بدلون وکړي او که چېرې راتلونکې دوره کې هم اوسنۍ رهبري په واک کې راشي، هيواد به پنځه کلونه نور هم په جگړه کې پاتې شي.

سوله د افغانستان د خلگو اړتيا ده او د پوره کولو لپاره يې د اوسنۍ رهبرۍ بدلول اړين دي[۱۶۷]."

[۱۶۷] د فبروري ۴مه ۲۰۲۰، په دوبۍ کې استاد محمد زمان مزمل ما"ليکوال" ته وويل: د استاد محقق کور کې (۲۵جنوري) د افغان سياستوالو ناسته وه، محمد کريم خليلي وويل:" موږ د سولې برخه کې د طالبانو له مشر شيخ هبة الله سره اړيکې ونيولې، هغوی ته مو پيغام ورساوه، چې له افغان حکومت سره خبرې وکړي، مگر هغه وويل چې ډاکټر غني د سولې منطق نه لري، تاسي (خليلی) زما استازی شئ او خبري ور سره وکړئ.
کله چې ما (خليلي) له ډاکټر غني سره خبرې وکړې، هغه شل ورځې وخت وغوښت، خو دا شل ورځې کله هم پوره نه شوې، دادې يو کال او ۳ مياشتې تيرې شوې، ډاکټر غني د سولې برخه کې هيڅ ليوالتيا نه لري.
که کابل وغواړي د سولې لپاره شرايط برابر دي، طالبان خپلې خبرې عملي کوي، او پر خپلو ژمنو ولاړ خلک دي، او پښتانه دا توانمندي لري."

د اگست پر ۲۴مه، د امریکا سفیر په مزار شریف کې سیاستوالو ته وویل:."سوله او ټاکنې دواړه د افغانانو لپاره اړینې دي، خو په دې وخت کې افغانان له ټاکنو زیات سولې ته اړتیا لري.

د امریکا او طالبانو ترمنځ د سولې خبرې برخلیک ټاکونکې پړاو ته داخلې شوي، دغه خبرې ډېرې مثبتې روانې دي او په لنډ وخت کې به افغانان د تلپاتې سولې او ثبات زیری واوري." .

تر څو چې د طالبانو او امریکا ترمنځ د سولې مذاکراتو د پرمختګ راپورونه ورکول کېدل، د ولسمشرۍ ټاکنو اړوند کمپاین ډېر پېکه وه، ډېرو دا فکر کاوه چې ټاکنې ځنډېږي او پیسې باید مصرف نه کړي.

کله چې د سپټمبر پر ۸مه، د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ درې یو له بل سره ترلې ټویټونه وکړل، ویې لیکل:" د یکشنبې ورځ، د سپټمبر ۸مه، د طالبانو له مشرانو سره پلان شوې پټه ناسته او په جلا ډول د افغانستان له ولسمشر سره پټه ناسته په ډیوډ کمپ کې لغوه کوم، ځکه طالبانو په کابل کې تیره ورځ (۵ سپټمبر) یو امریکایې پوځي او ۱۲ بې ګناه کسان ووژل."

له هغه وروسته چې د طالبانو او امریکا ترمنځ د سولې مذاکرات ودریدل، او پایله یې اعلان نه شوه، په همدې وخت کې د سولې د بهیر په پرتله د ټاکنو پله درنه او یو ځل بیا د ټاکنو لپاره د ډاکتر غني او ډاکټر عبدالله عبدالله د ډلو ترمنځ کمپاین زور واخیست، او د ټرمپ له ټویټو سره په ډاکټر غني کې نوي ځاه پو کړل شوه، هغه د ټاکنو لپاره خپل دریځ قوي ولید.

---

په یاده ناسته کې حامد کرزي، ډاکټر عبدالله، یونس قانوني، حاجي دین محمد، وحیدالله سباون، سید اسحاق ګیلانی، محمد ناطقی، ذوالفقار امید، عبدالستار مراد، باتور دوستم، بابر فرهمند، استاد مزمل، جمعه خان همدرد، ضرار احمد مقبل، داود علی نجفی او ځینو نور ګډون درلود.

د سپټمبر پر ۱۸مه، د طالبانو له لوري، د ټاکنو اړوند لاندې اعلاميه خپره شوه:

**د کابل ادارې د تش په نامه انتخاباتو په اړه د اسلامي امارت د تعليم او تربيي او عالي تحصيلاتو د کميسيون خبرتيا!**

د ټولو ښونيزو او روزنيزو اداراتو مسئولينو ته!

السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته

الله ﷻ مو په خپلو ديني او تعليمي امورو کې کامياب او بريالي ولره.

البته د ګران هېواد افغانستان د موجوده وضعيت په اړه پوره معلومات لرئ

چې اشغالګر او داخلي ګوډا ګيان که له يوې خوا د پوځي عملياتو او وحشي بمباريو سلسله جاري ساتلي، له بلې خوا په سياسي ډګر کې هم هڅې کوي چې خپلو اجيرانو ته په يوه ډول مشروعيت ترلاسه او عامه ذهنيت تيرباسي.

اشغالګر غواړي يو ځل بيا د ولسمشرۍ ټاکنو ترنامه لاندې يو تش په نامه ولسمشر رامنځته کړي او بيا د خپل اشغال د تداوم لپاره زمينه برابره اوپر دې مظلوم ملت باندې دځه وخت لپاره د وحشتونو لړۍ جاري وساتي.

د همدې هدف لپاره دوی هڅه کوي د ولسمشرۍ ټاکنو تر عنوان لاندې انتخابات ترسره کړي.

 څرنګه چې دا پروسه له پيله تر پايه د اشغالګرو لخوا پلان شوې او نهايي ګټه به هم ترې اشغالګر اخلي، نو دا د هر مؤمن مسلمان او مجاهد افغان ديني او ملي وجيبه ده چې د اشغالګرو دغه د چل او تزوير پروسه شنډه کړي او د تر سره کيدو مخه يې ونيسي.

دا چې د ټاکنو د پروسې ترسره کوونکي اراده لري چې په تعليمي ادارو کې کامپاينيز او ټاکنيز مراکز جوړ کړي او له دې مراکزو، تعليمي منسوبينو او استاذانو څخه په دې لار کې ګټه واخلي.

د افغانستان اسلامي امارت د ښوونې او روزنې او لوړو زده کړو کمېسیون د هیواد په ټولو ښاري او اطرافي سیمو کې د معارف له کارکوونکو، معلمینو، مدرسینو او د مکاتبو له مدیرانو څخه غواړي چې په خپلو تعلیمي ادارو کې هېڅ ډول کمپاینیز او ټاکنیز مراکزو جوړیدو ته اجازه ورنه کړي او نه دې هم ښوونکي او یا زده کونکي د ټاکنیزو کارکوونکو په حیث دنده اجراء کوي.

اسلامي امارت نه غواړي چې د مجاهدینو په بریدونو کې عام ولس یا د تعلیمي ادارو استاذانو او شاګردانو ته مالي او ځاني زیان ورسیږي.

د تعلیمي ادارو استاذان او ښوونکي باید د دښمن له سیاسي پروسو ځان کاملاً لرې وساتي او اجازه دې نه ورکوي چې اشغالګر او اجیران یې له ښوونځیو څخه د خپلو شیطاني پروسو د اجراء لپاره کار واخلي.

په پای کې یو ځل بیا وایو چې د ټاکنو په نوم جعلي پروسه هیڅ اسلامي او افغاني ماهیت او مشروعیت نه لري، بلکې د اشغال د تداوم، په پوځي یرغل د پردې اچولو او د عامه اذهانو د تیر ایستلو یوه هڅه ده، چې د کفري اشغالګرو لخوا تمویلیږي او نهایي نتیجه یې هم د هغوی په واک کې ده.

نو په دې اساس دا د هر واقعي مسلمان او افغان دنده ده چې په خپل ټول توان سره د دې دسیسې د شنډیدو هڅه وکړي.

د اسلامي امارت د تعلیم او تربیي او عالی تحصیلاتو کمېسیون

۱۴۴۱/۱/۱۹هـ ق، ۱۳۹۸/٦/۲۷هـ ش، ۲۰۱۹/۹/۱۸م

د ټاکنو د کمپاین پر مهال، د سپټمبر پر ۱۴، ۱۵ او ۱٦مه، د طالبانو تر کنټرول لاندې سیمه، ډنډ شهاب الدین او حسن ټال - بغلان کې د بریښنا درې پایې ونړول شوې، په ښکاره یې پړه پر طالبانو اچول کېده، پر کابل بریښنا کمه شوه، او د ولسشمرۍ ټاکنیز کمپاینو ته یې زیان و، همدارنګه کابل ښاریانو هم د بریښنا له کموالي سره ستونزې زیاتې شوې.

د امریکا سفیر جان بس د سپټمبر پر اتلسمه پر ټوېټر ولیکل:"ما اورېدلي چې د تدارکاتو ملي اداره د کابل د حرارتي برېښنا لپاره د تېلو د اخیستلو اجازه نه ورکوي، دا په داسې حال کې ده چې امریکا او د ناټو د غوښ ملاتړ ماموریت د افغانستان د امنیتي ځواکونو ملاتړ کوي چې د برېښنا نړېدلې ستنې بیا ورغوي، ایا دا خبر سم دی؟"

د سپټمبر پر ۱۸مه، د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پمپیو لخوا، د افغانستان د ټاکنو په اړه اعلامیه خپره شوه، په اعلامیه کې لیکل شوې و:" امریکا او نورو مرستندویانو بیا بیا له افغان حکومته غوښتې چې د شفافو او باوري ټاکنو لپاره چمتوالی وکړي.

افغان رایې ورکونکي چې د سر له خطر سره رایې ورکوي حق لري چې د رایو پایلې هماغسې ووینې چې رایې ورکونکو ورکړې وي او دغه راز هغه اتحادي پوځونه چې افغانانو ته یې د خپل مشرتابه ټاکلو جوګه کېدو لپاره قربانۍ ورکړي، هم د داسې باور درلودلو حق لري [۱۶۸].

[۱۶۸] د مارچ پر ۲۳مه ۲۰۲، پمپیو کابل ته راغی، تر څو د ولسمشرۍ ټاکنو د وروستیو جنجالي پایلو په اړه د ډاکټر غني او ډاکټر عبدالله ترمنځ جوړجاړی وکړي، مګر ونه توانېد.
په همدې ورځ پمپیو دوحې ته ولاړ، هلته یې د شپې ناوخته له ملا برادر اخوند سره وکتل، او د مارچ پر ۲۴مه د امریکا بهرنیو چارو وزارت اعلامیه خپره کړه:" امریکا د هغو پوځي عملیاتو ملاتړ نه کوي چې د سیاسي موخو لپاره کېږي او نه هم د هغو مشرانو ملاتړ کوي چې د دې عملیاتو امر ورکوي او نه د هغو کسانو ملاتړ کوي چې د موازي حکومت خبره کوي."
په اعلامیه کې لیکل شوې و:
همدارنګه د مایک پمپیو لخوا په اعلامیه کې لیکل شوې و:" متحده ایالات په کلکه خواشیني ده چې د افغانستان ولسمشر اشرف غني او پخواني اجرائیه رئیس عبدالله د بهرنیو چارو وزیر پومپیو ته خبر ورکړ چې دوی په دې نه دي توانیدلي تر څو پر داسې یو ټول شموله حکومت باندې موافقه وکړي چې د حکومتدارۍ، سولې او امنیت ننګونو سره مقابله وکړي او د افغانستان ولس د سوکالي او روغتیا لپاره کار وکړي.

موږ په سختو ټکو د طالبانو هغه ګواښونه غندو چې نن یې پر ټاکنیزو کارکوونکو او رایې ورکوونکو د بریدونو په تړاو کړي" .

همدارنګه د امریکا د بهرنیو چارو د وزیر په اعلامیه کې راغلي و:" د امریکا حکومت هغه سل ملیونه ډالره بېرته د امریکا خزانې ته سپاري چې ټاکل شوې وه په افغانستان کې د انرژۍ پر یوې لوې پروژې ولګول شي او له افغان حکومت سره د ٦۰ ملیونه ډالرو جلا مرسته هم د اوس لپاره ځنډوي.

افغان حکومت او مشران یې باید د بهرنیو مالي مرستو په اړه په رڼه توګه حساب ورکړي.

امریکا د هغو کسانو پر ضد ده چې د خپل واک او نفوذ په زور افغانان د بهرنیو مرستو له ګټو بې برخې کوي.

---

متحده ایالات د دوی څخه مایوسه ده او د دوی له دغه چلند څخه، چې د افغانستان او زموږ مشترکو ګټو ته څه معنی لري. د دوی ناکامي د متحده ایالاتو – افغانستان اړیکو ته زیان رسولی او له بده مرغه هغه افغانان، امریکایان او د ایتلاف ملګرو ته سپکاوی دی چې د دې هیواد د نوي راتلونکي جوړولو په مبارزه کې یې خپل ځان او مال قربان کړی دی. ځکه چې د افغان مشرانو پاتې راتګ د متحده ایالاتو ملي ګټو ته مستقیم ګواښ دی، سمدلاسه به، د متحده ایالاتو حکومت له افغانستان سره د همکارۍ پر اړخونو بیا کتنه پیل کړي. د نورو ګامونو تر څنګ، نن ورځ موږ په افغانستان کې د خپلو مصارفو لپاره مسؤلانه بدلون اعلانوو او په سمدستي توګه په روان کال کې ۱ ملیارډ ډالرو مرسته کموو. موږ غور کوو چې په ۲۰۲۱ کال کې د ۱ ملیارډ نورو ډالرو مرسته کمه کړو. موږ به همداسې د نورو کمښتونو مالومولو لپاره د خپلو ټولو پروګرامونو او پروژو بیا کتنه پیل کړو، او د افغانستان لپاره راتلونکي نړیوالو تمویلوونکو کنفرانسونو کې به زموږ پر ژمنو له سره غور وکړو. افغان مشرانو ته مو څرګنده کړه چې موږ به د هغو امنیتي عملیاتو ملاتړ نه کوو چې د سیاسي اهداف په موخه وي، او نه به د هغو سیاسي مشرانو ملاتړ وکړو څوک چې د ورته عملیاتو امر کوي یا هغه څوک چې د موازي حکومت ملاتړ کوي" .

د افغان حکومت د ملي تدارکاتو ادارې په چارو کې روښوالی نشته، او دا وضعیت د امریکا لپاره د اندېښنې وړ دی[169].

د امریکا حکومت به د روان کال په پای کې له یادې افغان ادارې (ملي تدارکاتو) سره مرستې دروي، او تمه لري چې افغان حکومت به د فساد پر ضد مبارزې او د خلکو خدمت ته ښکاره شونتیا ښيي.

له هغو افغان مشرانو سره باید حساب وشي چې دا معیار نشي ساتلی.

موږ دې پایلې ته رسېدلي یو چې د افغان حکومت د څار او ارزونې کومیټه د دې وړتیا نه لري چې د افغانانو د ښه راتلونکي لپاره په نړیوالو هڅو کې همکاري وکړي .

لومړي سل ملیونه ډالره د غزني او کندهار او همدا راز د کجکي او کندهار ترمنځ د سب سټېشنونو او نورو زېربناو لپاره ځانګړي شوي وو.

د غني حکومت د مرستو په مصرف کې شفاف نه دی او حساب یې هم نه دی ورکړی.

د امریکا حکومت ژمن دی چې دا پروژه بشپړه کړي، خو د یو بل میکانېزم له لارې."

امریکا د افغان حکومت سره د بریښنا برخه کې ۱۰۰ میلیونه ډالرو مرسته، د فساد له امله بیرته امریکایې بانک ته وګرځوله، او په همدې ورځ یې نور ٦۰ میلیونه ډالر هم، پر افغان حکومت د فساد له امله ورځخه وګرځول، په یوه ورځ کې د امریکا لخوا

---

[169] د تدارکاتو ادارې د پامپیو په ځواب کې خبرپاڼه خپره کړه، ویې لیکل: "موږ د خپلو ټولو کړنو او فعالیتونو په تړاو جواب ویلو او حساب ورکولو ته چمتو یو.
د تدارکاتو ملي اداره خپلې ټولې چارې د اقتصاد د ملي کمېسیون، د قاطع ماموریت د څارونکو او د سیګار په ګډون د نړیوالو څارندویانو تر سترګو لاندې په مخ وړي او یادو ټولو بنسټونو د شفافیت په برخه کې د تدارکاتو د ادرې ستاینه کړې."

۱۶۰ میلیونه ډالر، په افغان حکومت کې د فساد له امله بیرته ورڅخه گرځول، پرته له شکه پر افغان حکومت منفي تاثیر درلود.

په تیرو ۱۸ کلونو کې دا لومړی ځل و چې د امریکا لوړ پوړي چارواکې (د بهرنیو چارو وزیر) پر افغان حکومت د فساد تور د اعلامیې په خپرولو سره پوري کړ، او په ټاکنو کې یې د نه روښتیا خبره وکړه، همدارنگه ۱۶۰ میلیونه ډالر یې له افغان حکومت څخه بیرته وگرځول.

د سپټمبر پر ۱۸مه، ملا عبدالسلام ضعیف له کابل نیوز سره د مرکې پر مهال وویل:"په ټاکنو کې گډون کول په روانه جگړه کې برخه اخیستل او د هغې اوږدول دي، نور د هر چا خوښه چې جگړه غواړي او که سوله."

د سپټمبر پر ۱۹مه، د ډاکټر غني دوېم مرستیال سرور دانش، جاغوري ولسوالی کې د کمپاین پر مهال وویل:"ځیني کسان هر ه ورځ تکرراوي، چې سوله د ټاکنو په پرتله لومړیتوب لري، دوی د سولې له نامه څخه په گټه اخستنې غواړي افغانستان یو ځل بیا د مخالفینو لاسونو ته په دواړو لاسو تسلیم کړي او یو ځل بیا د امارت منفور نظام په خلگو حاکم کړي.

که فرض کړو، چې د حکومت رهبري همدا اوس سولې ته لومړیتوب ورکړي، نو افغانستان به سمدستي د طالبانو لاس ته ولوېږي او د تېرو لسیزو ترخې خاطرې به یو ځل بیا تکرار شي."

د سپټمبر پر ۲۳مه، په کابل کې د امریکا سفارت پر ټویټر ولیکل:" د افغانستان ولسمشرۍ ټاکنو د امنیت په اړه گڼ شمېر شکایتونو موږ اندېښمن کړي یو. د ولسمشرۍ د ټاکنو ټول نوماندان د کمپاین لپاره یو ډول اسانتیاوې نه لري، او ټاکنو کې د درغلیو وېره هم شته.

موږ د ټاکنو پر ټولو نوماندانو ږغ کوو چې ټاکنیز اصول دې مراعت کړي، او له ټاکنیزو او امنیتي ادارو غواړو چې د رڼو او باوري ټاکنو لپاره هر لازم گام پورته کړي."

د سپټمبر پر ۲۳مه، د مخکینې ولسمشر حامد کرزي، او ګڼ شمیر پېژندل شویو افغان سیاستوالو لخوا خبرې ناسته وشوه، دوی تر ټاکنو سولې ته لومړیتوب باندي قایل وو، او سوله یې د افغان ولس لپاره حیاتي او ضروري کڼه وبلله، په اوسنیو شرایطو کې یې د ټاکنو پر رڼوالي باندی شک او ټاکنې یې د افغان کشالې دحل لاره ونه ګڼله.

په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي و:" افغان سیاستوال په دې باور دي چې په داسې یوه وضعیت کې چې د ټاکنو د پروسې مالکیت او رهبري هم د افغانانو په لاس کې نه وي، د انتخاباتو ترسره کېدل به روان کړکیچ نور هم پیچلی او وضعیت به بحراني کړي.

اوس مهال باید ټول پام د سولې پروسې ته واوړل شي او د دې مهمې او ملي پروسې لپاره دې په کور د ننه اجماع رامنځ ته او دغه پروسه دې چټکه شي. رښتینی سوله هغه مهال تامینداې شي، چې دغه پروسه افغان شموله او د افغانستان ملي حاکمیت او ارضی تمامیت ته پکې درناوی شوي وي. د سولې ټینګښت لپاره دې ژر تر ژره د امریکا او طالبانو ترمنځ مذاکرات بیا پیل شي، تر څو بین الافغاني خبرو ته زمینه برابره کړي. "

د سپټمبر پر ۲۴مه، حنیف اتمر د اعلامیې په خپرولو سره په ټاکنو کې د نه ګډون اعلان وکړ، د اتمر لخوا په خپره شوې اعلامیه کې راغلي: ".... غواړم چې یو واربیا د ۱۳۹۸ د تلې د شپږمې نیټې په انتخاباتو سیالیو کې د نه ګډون په اړه عزیزو هېوادوالو ته خپله پرېکړه واوروم، خو که ټاکنې ځنډول کیږي، د کاندید په توګه خپل حق خوندي ساتم. همدغه راز په را روانو ټاکنو کې به بېطرف یم او د هېڅ یوکاندید ننګه نکوم" .

د سپټمبر پر ۲۴مه، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د استازولي دفتر UNAMA مشر تاداماچي یماماموتو، په دوحه کې له طالبانو سره ولېدل، له هغوی یې وغوښتل چې پر ټاکنیزو مرکزونو او رایې کاروونکو خلکو له بریدونو څخه ډډه وکړي. یاماماموتو له طالبانو سره تر لېدنې وروسته وویل:"که هر څوک پر ټاکنیزو مرکزونو

او خلکو بریدونه وکړي، کېدای شي دا جنګي جنایت وګڼل شي او طالبان باید له دا ډول بریدونو ډډه وکړي" .

داسي ښکاري چې طالبانو د ټاکنو اړوند د یوناما د مشر او د ملګرو ملتونو د سرمنشي د ځانګړې استازي یاماماموتو غوښتنې نه دي ور سره منلي.

د سپټمبر پر ۲۶مه، له ټاکنو دوې ورځې وړاندي د طالبانو د نظامي کمیسون لخوا لاندي اعلامیه خپره شوه:

## د انتخاباتو په جعلي پروسه کې د خلکو د نه ګډون په هکله د اسلامي امارت د نظامي کمیسیون خبرتیا!

څرنګ چې هیوادوال خبر دي، ټاکل شوې ده چې د روان هجري شمسي کال د میزان په شپږمه په افغانستان کې یوځل بیا د انتخاباتو په نامه امریکایي پروسه ترسره شي.

وروسته له هغه چې امریکایي اشغالګرو اتلس کاله وړاندې زموږ هیواد اشغال کړ دا ثووم ځل دی چې همدا جعلي پروسې د خلکو د تیرایستلو، افتراق اچولو، تعصبونو او اختلافاتو پارولو په منظور او د اشغالګرو د اهدافو د تحقُق په هدف ترسره کیږي.

افغانان شاهدان دي چې یوځلې هم نه دغه پروسه په سمه توګه ترسره شوې، نه یې کومه نتیجه درلودلې اونه یې هم زموږ د کړیدلي ولس کوم درد دوا کړی دی.

کوم رژیم او اداره چې د داسې جعلي او پردیو پروسو په نتیجه کې منځته راځي هغه به د هیڅ افغان په رایه او نظر نه؛ بلکې د امریکایي سفارت او په ټوله کې د اشغالګرو د هیلو په اساس وي.

بناً د اسلامي امارت د نظامي چارو کمیسیون په ټول افغان مؤمن او آزادۍ غوښتونکي ولس ږغ کوي چې له دښمن سره د هغوی د اهدافو په تر لاسه کولو کې هیڅ راز مرسته ونه کړي، په انتخاباتو کې هرډول ګډون تحریم کړي، نور خپل خپلوان هم په دغه نمایشي پروسه کې له ګډون څخه را منع کړي.

د اسلامي امارت مجاهدينو د الله تعالی په نصرت او د خپل ولس په ملاتړ پتيلې ده چې د امريکايي اشغالگرو او د هغو د څو تنو تالی څټو غلامانو لخوا دغه جعلي پروسه به مختل کوي، په ټولو هغو امنيتي کسانو عسکرو او پوليسو به بريدونه کوي چې د دغې پروسې څخه ساتنه کوي، همدا ډول هغه مراکز او دفترونه به هم تر بريد او هدف لاندې نيسي چې د دغې نمايشي د سيسي لپاره په فعاليت بوخت دي.

د جعلي انتخاباتو په ورځ به د هيواد ټولې لوی او وړې لارې د مجاهدينو لخوا بندې وي، له هيوادوالو څخه هيله کيږي چې په دغه ورځ له خپلو کورونو څخه را ونه وځي، ترڅو خدای مه کړه چاته کوم زيان ونه رسيږي.

اسلامي امارت خپلو مجاهدينوته امر کړی چې د انتخاباتو په ورځ په ټول هيواد کې د يادې پروسې د مخنيوي لپاره خپل ممکنه وسايل استعمال او د دغې دسيسې د شنډولو لپاره خپل پلانونه په کار واچوي.

نو د دې لپاره چې عام هيوادوال کوم زيان ونه ويني، د اسلامي امارت مجاهدين يوځل بيا د اتمام حجت په ډول ټولو هغو کسانو ته چې په ياده پروسه کې د گډون نيت لري، خصوصاً ښار ميشتو ته خبرداری ورکوي چې د انتخاباتو په ورځ انتخاباتي مراکزوته له ورتگ څخه کلکه ډډه وکړي او ځانونه په خطر کې وانه چوي.

د کومې ستونزې او تلفاتو د پيښيدو په صورت کې به مسئوليت پخپله په دغه امريکايي پروسه کې د گډونوالو په غاړه وي. وما علينا الا البلاغ

د افغانستان اسلامي امارت د نظامي چارو کميسيون

۱۴۴۱/۱/۲۷هـ ق، ۱۳۹۸/۷/۴هـ ش، ۲۰۱۹/۹/۲٦م

## ٦ د میزان او ولسمشرۍ ټاکنې

د میزان ٦مه ۱۳۹۸ (۲۸ سپټمبر۲۰۱۹) د ولسمشرۍ لپاره ټاکنې وشوې، خو ډېرو لږو خلکو د لاندي ۵ مهمو لاملو له کبله پکې ګډون وکړ.

۱ – ولس پر ټاکنو بې باوره شوی او خپلې رایې ټاکونکي نه ګڼي.

۲ – د طالبانو لخوا پرله پسې ګواښونه چې خلک په ټاکنو کې ګډون ونه کړي.

۳ – د ټاکنو لپاره سوړ کمپاین د ولسمشرۍ نوماندانو لخوا.

۵ – د امریکا لخوا هم سیاستوالو ته دا خبره چې سوله لومړیتوب او ټاکنې هم اړینې دي.

د سپټمبر پر ۲۸مه، د رایې ورکولو پر مهال ډاکټر غني وویل:"د خدای ﷻ شکر ادا کوم چې نن د افغانستان اسلامي جمهوریت دوام د ولس په ازاده رایه عملي کېږي.

جمهوریت تېر کال زموږ په ملي قاموس کې په کلیدي کلِمه بدل شو او د افغانستان ولس جمهوریت حیاتي وباله او د جمهوریت بقا په ټاکنو کېویني.

د شکایتونو مرجع د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون دی چې هر شکایت ته به رسیدګي وکړي.

سوله د ولس لومړنۍ غوښتنه ده او د ټاکنو ترسره کېده د باعزته او تلپاتې د سولې تامین ته چې د ولس اساسي غوښتنه ده، زمینه برابروي.

زموږ طرحې تطبیق ته تیارې او د ولس ارادې ته منتظر یو چې واک راکړي.

زه له ټولو هیوادوالو څخه جمهوریت ته د ژمنتیا او د رای ورکولو پروسه کې د ګډون له امله مننه کوم، د پنځو کالو بااقتداره دولت به د ولس استازیتوب او خدمت وکړي".

افغان حکومت له خلکو مننه کوله، چې په ټاکنو کې یې برخه واخیستله او دا یې له جمهوریت سره د خلکو لیوالتیا وبلله.

بلخوا بیا طالبانو له افغان ولس څخه مننه وکړه، چې په ټاکنو کې د خلکو ګډون کم رنګه او خلکو د ټاکنو پر ځای سولې ته لومړیتوب په عمل کې وښود.

د سپټمبر پر ۲۸مه، د افغان حکومت لخوا سخت امنیتي تدابیر نیول شوې و، د ټاکنو د امنیت لپاره په ټول هیواد کې ۷۰ زره امنیتي سرتیري ګمارل شوي وو.

همدارنګه د ورځې په وروستیو کې دفاع وزیر، کورنیو چارو وزیر او د ملي امنیت شورا مشر له افغان امنیتي ځواکونو څخه مننه وکړه چې د ټاکنو امنیت یې تامین کړ.

بلخوا بیا طالبانو د ټاکنو په ورځ د رایې اچولو په مرکزونو د ټولو بریدونو جزیات په لاندي ډول خپاره کړل.

**په انتخاباتي بهیر د بریدونو وروستي جزئیات**

ټولټال (۵۳۱) بریدونه شوي، ۴ ولسوالۍ، یوه قرارګاه، یوه حوزه او ۷ پوستې فتحه (۴۲۲) تنه عسکر او پولیس مړه او ژبل دي.

د الفتح عملیاتو په ګړندي بهیر کې نن ټوله ورځ، په هیواد کې د دښمن د جعلي انتخاباتو په بهیر باندې د مجاهدینو لخوا مجموعاً(۵۳۱) بریدونه وشول.

دغه بریدونه د کابل، کنړ، پکتیا، پروان، میدان وردګو، غزني، لغمان، پکتیکا، خوست، لوګر، بلخ، کاپیسا، جوزجان، بامیان، ننګرهار، بدخشان، کندز، تخار، نورستان، سرپل، هلمند، هرات، نیمروز، کندهار، فراه، بادغیس، فاریاب، دایکندي او زابل په ولایتونو کې د دښمن په امنیتي کسانو او انتخاباتي مراکزو ترسره شول.

د عملیاتو په لړ کې له دښمن څخه د تخار ولایت (بهارک، خواجه غار او چاه آب ولسوالۍ ګانې) او د جوزجان ولایت (درزاب ولسوالۍ)، په بغلان کې یوهستره قرارګاه، په پکتیکا کې یوه امنیتي حوزه او په کندز، غزني او کاپیسا کې ۷ پوستې په بشپړ ډول فتحه شوې.

په عملیاتو کې تر ماښام پورې د ۳ قومندانانو په ګډون (۲۵۸) تنه عسکر، پولیس او اربکیان چې د انتخاباتي مراکزو په امنیت ساتلو بوخت وو، وژل شوي، ۱۶۴ تنه نور ټپیان شوي دي.

ور سره د دښمن ۲۲ عرادې هاموې ټانګونه او ۴ رینجر موټر له منځه وړل شوي، یو هاموې ټانګ، لسګونه میله سپکه او درنه وسله او ډیر مهمات هم تر لاسه شوي دي.

د کابل اداره هڅه کوي چې د انتخاباتو د ډرامې په وړاندې د خلکو پریکون پټ کړي، او دغه امریکایي دسیسه بریالي وښیي.

ذبیح الله مجاهد د اسلامي امارت ویندوی

۱۴۴۱/۱/۲۹هـ ق، ۱۳۹۸/۷/۶هـ ش، ۲۰۱۹/۹/۲۸م

افغان حکومت د ټاکنو په ورځ د ښه امنیت نیولو خبرې وکړي، او طالبان یې خپلو موخو ته په رسیدو کې پاتې وګڼل. د دفاع سرپرست وزیر اسدالله خالد او د کورنیو چارو سرپرست وزیر مسعود اندرابي وویل چې دوی په ډیرو ځایونو کې د طالبانو د بریدونو مخه ونیوله.

اندارابي خبریالانو ته وویل:" افغان امنیتي او دفاعي ځواکونه وتوانېدل چې د ټاکنو په ورځ د رأیې ورکوونې د ٦٨ مرکزونو پر وړاندې د طالبانو د بریدونو مخنیوی وکړي" .

همدارنګه اسدالله خالد وویل: "د تېرو ټاکنو په پرتله په ځلونو د دښمن بریدونه کم وو، دا په دې مانا نه ده چې دښمن مو بریدونه نه دي کړي او دوی یعنې طالبانو چمتووالی نه درلود، بلکې څو ځایه یې بریدونه وکړل، یوازې په ۲۲ برخو کې د ځانګړیو ځواکونو لهخوا عملیات وشول او دا سبب شول چې دښمن خپلې شومې موخې ته ونه رسیږي" .

د سپتمبر پر ۲۸مه، له خلکو د مننې لپاره طالبانو لاندي اعلاميه خپره کړه:

**د کابل اداري انتخاباتو د ناکامۍ په اړه د اسلامي امارت اعلاميه**

افغان مسلمان او مجاهد ملت د کابل اداري په تيرايستونکو انتخاباتو کې په نه ګډون او د دغې دسيسې په ناکامۍ سره يوځل بيا ثابته کړه چې د هيڅ اجنبي جهت فرمايشونه او اشغال ورته د منلو وړ نه دی.

نن د کابل لاسپوڅې اداري خپل ځان ته د کاذب مشروعيت ورکولو لپاره د انتخاباتو په نامه جعلي پروسه په لاره واچوله چې الحمدلله د ملت لخوا په قاطع اکثريت سره تحريم او ناکامه کړل شوه.

په محدودو ښارونو کې د يوشمير دولتي رسمي مامورينو، معاش خورو او څو تنو غوليدلو څيرو ماسوا نور ملت په اکثريت او ميړانه سره دغه بهرني تپل شوې پروسه رد کړه او ګډون يې په کې ونه کړ.

اسلامي امارت له خپل ټول ځوريدلي او مسلمان ملت څخه د زړه له کومې مننه کوي چې د اسلامي امارت غوښتنې ته يې لبيک ووايه، د انتخاباتو په نامه پردۍ دسيسه يې رد کړه، له خپلو مجاهدينو ورونو څخه يې پراخ حمايت وکړ، مجاهدينوته يې لاس ورکړ او له هغوی سره يې خپل کلک پيوستون ثابت کړ.

د تپل شوې انتخاباتي پروسې له ناکامۍ څخه لاندې ټکي په څرګند ډول روښانه شول:

۱ــ ملت مو په اکثريت سره په هيواد کې د اشغال خاتمه او دلته قوي اسلامي نظام غواړي.

۲ــ د کابل په اداره کې بوخت غوليدلي افغان نما څيرې بايد نور ځانونه تير نه باسي، د بهرنيو په ملاتړ د خپل ولس له اسلامي باورونو او غوښتنو سره لوبې ونه کړي او د حقايقو په درک کولو سره له پردۍ غلامۍ څخه لاس واخلي.

۳ــ دا چې بې پرې رسنيو او څارونکو سازمانونو هم تائيد کړه چې په انتخاباتو کې د خلکو د ګډون کچه ډيره ټيټه وه، نو د افغان ولس له دې سرتاسري پريکون څخه

اشغالګر جهت هم باید درک کړي چې افغان ملت اشغال او له بهر څخه را واردې شوې پروسې او دسیسې نه مني. په دې لاره کې د بهرنیو اشغالګرو مصارف، هڅونې او بې ځایه وخت ضایع کول هیڅ جهت ته په ګټه نه تمامیږي. نو باید بې له فاصلې حقایقو ته غاړه کیږدي، د افغان غیور ولس غوښتنې ومني، خپل اشغال پای ته ورسوي، نور دا ملت او خپل سرنوشت سره پریږدې او زموږ په هیواد کې له مداخلو څخه ځان لرې وساتي.

۴ ــ د اسلامي امارت مجاهدین باید لاهم د خپل ولس قدر وکړي، همدا ولس و چې نن یې د دښمن له سترې دسیسې سره په میړانه مقابله وکړه، له پریمانه پیسو، تبلیغاتو، هڅونو، دسیسو او فریبونو سره سره یې د هغوی له لومې ځان وژغوره، له بدخشانه تر ارزګانه، له هراته تر ننګرهاره، له کندز او بلخ څخه تر کندهار او پکتیکا پورې ټول ملت په یوه خوله د خپلو مجاهدینو ورنو په غوښتنه عمل وکړ او د دښمن ستره حربه یې ناکامه کړه. الحمدلله و المنة

د افغانستان اسلامي امارت

## د ډاکټر غني د مننې پیغام

زه (ډاکټر اشرف غني) له امنیتي او دفاعي ځواکونو څخه مننه کوم چې د ټاکنو لپاره یې بشپړ امنیتي تدابیر نیولي وو، تر څو هیواد وال په ارامه فضا کې خپلې رایې وکاروي، او هغه وېره یې له زړه څخه ووځي چې دښمن به د ټاکنو مخه ونسیي او د رایې اچونې په مرکزو باندي وحشیانه بریدونه وکړي. د دې هر څه لپاره زمونږه امنیتي او دفاعي ځواکونو پوره چمتوالی نیولی وو، ځکه خو دښمن بریالی نشو چې دا لویه پروسه ګډه وډه کړي او له افغانانو څخه خپل حق واخلي.

تاسي (امنیتي ځواکونه) واقعاً د دې هیواد اتل او زړور بچیان یاستئ او تر بل هر چا له هیواد او ولس سره زیاته مینه لرئ. او نن تاسي خپله واقعي مینه ثابته کړه، دښمن ته مو خپل زور وښود چې مونږه هم کمزوري نه یوو.

## د ټاکنو د ګټلو ادعاوې

د سپټمبر پر ۳۰مه ډاکټر عبدالله عبدالله د خپلو پلویانو په غونډه کې وویل چې ټاکنې په لوی اکثریت سره ده ګټلې دي.

د ډاکټر عبدالله د ډلې لخوا ویل کېدل چې ۱،۳ میلیونه بایومټریک رایې کارول شوې چې تر ۷ لکه زیاتې رایې دوی ګټلې دي.

مګر ځینو سرچینو راپور ورکاوه چې ۱،۵ میلیونه غیر بایومټریک (نا رښې) رایې کارول شوي، که غیر بایومټریک رایې هم د ټاکنو خپلواک کمیسون لخوا منل شي، نو بیا ډاکټر غني ګټونکی دی.

د اکتوبر پر لومړۍ نېټه د مشرانو جرګې مشر فضل الهادي مسلمیار وویل:"وامې وریدل چې د ټاکنو د خپلواک کمیسون مشرې "هوا عالم نورستانۍ" ویلي چې دوی به غیر بایومټریک رایې نه شماري، د دې "نورستانۍ" په پلار به یې هم وشمارو، تاسي "هوا" وړلاه شئ له خلکو پوښتنه وکړئ، د خلکو حق تاسي څه ډول خورئ؟"

په همدې ورځ د مسلمیار په جواب کې هوا علم نورستانۍ له امریکا ږغ سره مرکه کې وویل:"نشم کولی غیر بایومټریک رایې وشمېرم، د ټاکنو پروسه په "بایومټریکه طریقه" ترسره شوې او موږ غیر بایومټریک رایې نه شو شمېرلی."

دواړو ډلو، د عبدالله عبدالله په مشرۍ د "ثبات او همپالنې" او محمد اشرف غني په مشرۍ د "دولت جوړونکي" ټیمونو په ټاکنو کې د بري ادعاوې درلودلې.

د سپټمبر پر ۳۰مه، د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پمپیو پر ټویټر ولیکل:"موږ د افغان رایو ورکوونکو د ټاکنو د کار کوونکو او امنیتي ځواکونو زړه ورتیا ستایو، چې د افغانستان ټاکنې یې له تخنیکي او امنیتي ګواښونو سره سره ممکنې کړې. د افغانستان بنسټونه باید ټول هغه اقدامات وکړي چې د ټاکنو د نتایجو شفافیت خوندي کړي او شکایتونه وڅېړل شي".

د اکتوبر په لومړۍ نیټه د جنوبي او مرکزي اسیا لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړي استازي الیس ویلز له خولې د بهرنیو چارو وزارت پر ټویټر پاڼه ولیکل شول:" یوازې د افغانستان د ټاکنو خپلواک کمېسیون د پایلو د اعلانولو صلاحیت لري، نوماندان او د هغوی پلویان باید پر خپل سر وړاندوینې ونه کړي.

د افغانستان خلک په دې برخه کې د شفافیت او حساب ورکولو مستحق دي" .

د اکتوبر پر لومړۍ نیټه په کابل کې د امریکا سفیر جان باس پر خپل ټویټر ولیکل:"په دې اړه ضد او نقیض رپوټونه چې د افغانستان د انتخاباتو خپلواک کمیسیون به څه وخت د رائیو د جمع بندۍ ملي مرکز پرانیځي، اندیښمن یم.

دا هم مهم دي چې د افغانستان د ټاکنو کمیسیون کورنیو څارونکو او د افغانستان خلکو ته دا موضوع روښانه کړي."

د اکتوبر پر ۳مه، د ملګرو ملتونو امنیت شورا لخوا خبرپاڼه کې د افغانستان د ولسمشرۍ له ټولو نوماندانو وغوښتل چې د ټاکنیز چلند هغه هوکړه مراعت کړي چې د ټاکنیز بهیر د درناوي او د ټاکنو د سلامتیا د ساتنې لپاره یې لاسلیک کړې ده.

خبرپاڼه کې راغلي:" موږ د هغو کسانو غندنه کوو چې د ټاکنو په ورځ یې د نوماندانو او کارکوونکو په ګډون د ملکي وګړو په وړاندې د بریدونو ګواښ کړی وو.

موږ په ټاکنیزو ادارو او په دې ډله کې له ټاکنیزو کمېسیونونو غوښتنه کوو چې د افغانانو رایې په ځیر وشمېري او د دې ضمانت وکړي چې پایلې عادلانه او رښې وي."

د اکتوبر پر ۷مه، د جرمني له "دیر شپیګل" اونیزې سره ډاکټر غني په مرکه کې وویل:"داسې ښکاري چې پنځه کاله نور هم ولسمشر یم"

ډاکټر غني وویل:"دا په افغانانو پورې اړه لري، خو داسې ښښې ښانې شته چې زه به پنځه کاله نور هم ولسمشر یم چې د افغانستان لپاره ډېر کار وکړم. خو د نورو په څېر باید موږ هم د ټاکنو پایلو ته انتظار وباسو".

هغه وویل:"له طالبانو سره په هر ډول جوړ جاړي کې باید د افغانستان اساسي قانون، د بشري حقونو او د ښځو د حقونو مسئلې او ډموکراسي په پام کې ونیول شي، له دوی پرته مذاکرات مانا نلري. موږ په حکومت او ټولنې کې له قوي (وسپنیز) ضمانت پرته طالبان نشو منلی... ما په خپل ژوند کې له ثبوت پرته پر هېڅا هم باور نه دی کړی".

ښاغلي غني له طالبانو سره د سولې اړوند وویل:" طالبانو ته نه تسلیمېږو او که طالبان دا فکر کوي چې کابل ته به راځي او دا شوي پرمختګونه به ختموي، هغوی تېروتلي دي.

طالبانو د تاوتریخوالي په زیاتولو سره کوښښ وکړ چې وښيي د سولې تړون هغو ته د بري په مانا دی او ګواکې افغان ځواکونو ماتې خوړلې ده، خو کابل ویتنام نه دی چې خلک له هېواد څخه د تېښتې لپاره په الوتکې پسې ځانونه ځوړند کړي".

د ډسمبر پر ۲۲مه ۲۰۱۹، د ټاکنو لومړنۍ پایلې په لاندي ډول اعلان شوې:

ډاکټر اشرف غني ټول ټال ۹۲۳۸٦۸ (۵۰،٦۴ سلنه) رایې ګټلې وي.

ډاکټر عبدالله ټول ټال ۷۲۰۹۹۰ (۳۹،۵۲سلنه) رایې ګټلې وي.

انجنیر ګلبدین حکمتیار ټول ټال ۷۰۲۴۳ (۳،۸۵سلنه) رایې خپلې کړي.

رحمت الله نبیل ټول ټال ۳۳۹۲۱ (۱،۸٦) رایې خپلې کړي.

ټول ټال ۱۸۲۴۴۰۱ کسانو رایه کارولې وه، چې ۳۱ سلنه میرمنو برخه په ټاکنو کې اخیستې وه.

نتایج ابتدائی انتخابات ریاست جمهوری 6 میزان 1398، به ترتیب بالاترین رأی کاندیدان قرار ذیل است:

| نام کاندید | تعداد آرای کاندیدان | درصدی |
|---|---|---|
| محمد اشرف غنی | 923868 | 50.64% |
| دکتور عبدالله عبدالله | 720990 | 39.52% |
| گلبدین حکمتیار | 70242 | 3.85% |
| رحمت الله نبیل | 33921 | 1.86% |
| دکتور فرامرز تمنا | 18066 | 0.99% |
| سید نورالله جلیلی | 15526 | 0.85% |
| عبداللطیف پدرام | 12608 | 0.69% |
| عنایت الله حفیظ | 11374 | 0.62% |
| محمد حکیم تورسن | 6504 | 0.36% |
| احمد ولی مسعود | 3942 | 0.22% |
| محمد شهاب حکیمی | 3324 | 0.18% |
| پوهاند پروفیسور دوکتور غلام فاروق نجرابی | 1606 | 0.09% |
| محمد حنیف اتمر | 1565 | 0.09% |
| نور رحمان لیوال | 865 | 0.05% |
| | 1,824,401.00 | 100.00% |

د پايلو تر اعلان سمدستي وروسته د ثبات او همپالنې د ټيم مشر د ډاکټر عبدالله د پايلو نه منلو اعلان وکړ او خبرپاڼه  يې خپره کړه چې ۳ لکه مشکوکې رايې باطلي او موږ ته د منلو وړ نه دي.

د فبروري ۱۸مه ۲۰۲۰ / د سلواغې ۲۹مه ۱۳۹۸، د ولسمشرۍ ټاکنو وروستۍ پايلې اعلان شوې، ډاکټر غني د ۵۰،۶۴ سلنه (۹۲۳۵۹۲) رايو باندي ګټونکي اعلان شو.

ډاکټر عبدالله عبدالله ۳۹.۵۲ سلنه (۷۲۰۸۴۱) رايو په ګټلو ناکام او دوېم اعلان شو.

انجنير حکمتيار ۳،۸۵ سلنه (۷۰۲۴۱) رايو په ګټلو درېم کس اعلان شو.

د پايلو د اعلان غونډه مازيګر په ۴ نيمې بجې پېل او مازيګر ۵ بجې د ټاکنو خپلواک کميسون لخوا ډاکټر غني ګټونکی اعلان شو.

ډاکټر عبدالله د ټاکنو پايلې ونه منلې، ډاکټر غني د خپلو پلويانو منځ کې خپل بری ولمانځه، او چمتووالی يې نياوه چې د فبروري پر ۲۷مه د لوړې مراسم تر سره کړي، مګر د امريکا د فشار په نتيجه کې يې د لوړې مراسم وځنډېدل او د مارچ پر ۹مه،

په ارګ او سپيدار ماڼۍ کې په يو وخت سره، دواړو "ډاکټر غني او ډاکټر عبدالله" د لوړې مراسم تر سره، او هر يوه خپل ځان ولسمشر ونوماوه.
د حامد کرزي، استاد سياف، استاد عبدالکريم خليلي او يونس قانوني لخوا هڅې وشوې چې دواړه ډاکټران جوړجاړي ته وهڅوي، مګر ونه توانېدل.
د اپريل پر ۲۳مه، مايک پمپيو کابل ته راغی، هڅه يې وکړه چې ډاکټر غني او ډاکټر عبدالله وهڅوي چې ټول الشموله افغان حکومت باندي توافق ته ورسيږي، مګر ډاکټر غني چمتو نه و چې له ډاکټر عبدالله سره ۵۰ سلنه "مساوي" واک ومني.
بيا هم د استاد سياف، حامد کرزي، خليلی او يونس قانوني له خوا د ډاکټرانو د جوړجاړي هڅو ته دوام ورکول شو چې بالاخره د مئ پر ۱۷مه ۲۰۲۰ / د غويي ۲۸مه ۱۳۹۹، د ډاکټر غني او ډاکټر عبدالله ترمنځ د مساوي واک ويشنې هوکړه لاسليک شوه.
داسي چې ډاکټر عبدالله به د ملي پخلاينې د عالي شورا مشرې کوي، د هيواد د دويم کس پروتوکول به ورکول کيږي، په کابينه کې به ۵۰ سلنه وزيران لري، په هر ولايت کې چې هر يوه له دوی دوو زياتې رايې ګټلې وی، والي به د همهغه لخوا معرفي کيږي، او په بهرنيو هيوادو کې ۵۰ سلنه سفيران به هم د عبدالله لخوا معرفي کيږي.
دواړو ډاکټرانو له حامد کرزي او استاد سياف څخه مننه وکړه، مګر يونس قانوني د ډاکټر عبدالله او ډاکټر غني په هوکړه خوښ نه و.
د ډاکټر غني او ډاکټر عبدالله ترمنځ د هوکې مخالفت د حزب اسلامي "حکمتيار" ګوند او جمعيت اسلامي ګوند لخوا وشو.
دغه ډول جوړښت ناکامه تجربه وبلله، ويې ويل چې ګډ حکومتونه د حل لاره نه ده، او د امريکا متحده آيالاتو – طالبانو د تړون علمي کېدل سولې ته د رسيدو لاره ده.
د ډاکټر غني لخوا د جون پر لومړۍ نيټه د حامد کرزي ورور محمود کرزی د ښارجوړولو او ځمکو وزير وټاکل شو، او د جون پر ٦مه د وزارت کارکونکو ته ور وپيژندل شو.

## د افغانستان سولې او جګړې اړوند بېلابېلې څرګندونې

د اګست پر ۹مه، فارن پالیسي ولیکل چې د امریکا متحده ایالات به د پوځیانو تر وتلو وروسته هم په افغانستان کې خپل استخباراتي شتون وساتي. څکه د امریکا لخوا خوست ولایت کې "د خوست ساتنې ځواک" په مستقیم ډول د سي آی اې لخوا روزل شوې او تمویل کیږي.

د اګست پر ۷مه، کورنیو رسنیو راپور ورکړ چې د افغان حکومت او افغان سیاستوالو ترمنځ د افغاني مذاکراتو لپاره د ۱۵ کسیز پلاوي پر ټاکنې لا هم اختلاف شته، سیاستوالو اندیښنه ښودله چې افغان حکومت د خپلې خوښې ډیر کسان په لسټ کې ځای کړي دي.

د اګست پر ۲۱مه، د طالبانو د قطر د سیاسي دفتر ویاند سهیل شاهین پر ټویټر ولیکل:"د سیاسي جهتونو له لوري د بین الافغاني مذاکراتو لپاره د ټیم د غړو نومونه پټ ساتل یا خو د اختلاف له امله دي او یا هم د خاصي زورواکې کړۍ په اختیار کي دي چي بیا نو د ټولو جهتونو مشترک ټیم نه بلل کیږي او نه هم د فیصلې واک او د سیاسي جهتونو ملاتړ لري. سیاسي جهتونه دي هم خپل موقف ښکاره کړي."

د اګست پر ۲۲مه، د سولې شورا مرستیال مشر حاجي دین محمد رسنیو ته وویل:" د بین الافغاني مذاکراتو لپاره د پلاوي په نومونو کې د ولسمشر لخوا بدلون راوستل شوی، دا ځل شاید زما نوم هم پکې نه وي، حکومت له دې وېرې چې د افغان سیاستوالو او حکومت تر منځ جنجال راپورته نه شي، د پلاوي د غړو نومونه نه اعلانوي."

همدارنګه د اګست پر ۱۷مه، په کابل کې د مرکزي اسیا، ازبکستان، تاجکستان، قرغیزستان، قزاقستان او ترکمنستان د هیوادونو سفیرانو په ګډه غونډه کې د افغان سولې بهیر څخه خپل ملاتړ اعلان کړ.

د اګست پر ۱۰مه، په افغانستان کې د امریکا/ناټو پخوانې عمومي قومندان، او د سې آی اې پخوانې مشر ډیویډ پټریوس خپله لیکنه کې ویلی و:"له افغانستان څخه د امریکا او ناټو ځواکونو وتل د اندیښنې وړ خبره ده، امریکا دي له افغانستان څخه د پوځیانو په ایستلو سره تېروتنه نه کوي، که امریکا دا کار وکړي، د عراق د تېروتنې تکرار به وي.

د اګسټ پر ۱۸مه، ډونالډ ټرمپ په نیو جرسي کې خبریالانو ته وویل:" امریکا غواړي په افغانستان کې د خپلو سرتېرو شمېر له ۱۳زرو څخه راکم کړي، خو یو شمېر «موثر» استخباراتي ځواک به هلته پرېږدي.

هلته زموږ د حضور دلیل دادی ترڅو افغانستان د ترهګرو په لابراتوار بدل نشي، او موږ په دې اړه ډېر ښه نظریات او پروګرامونه لرو، زما هدف دا دی چې په راتلونکو اونیو کې به ډېر ښه کارونه تر سره او اعلان شي.

موږ کولی شو له لږ پوځي ځواک سره وضعیت تر خپل کنټرول لاندې وساتو. موږ به د خپلو ځواکونو شمیر راکم کړو. راتلونکی په طالبانو او افغان حکومت پوري اړه لري. دلته باید یو مسئله روښانه شي، او هغه دا چې موږ به په افغانستان کې موثر استخباراتي حضور ولرو. او دا حضور د هغو دلایلو له امله دی چې ما تاسي ته وویل".

د اګسټ پر ۱۷مه، د امریکا د کانګرس غړي لنډسي ګراهام پر خپل ټویټر ولیکل:"هیله مند یم ولسمشر او کاري ډله یې د اسلام پاله سخت دریځو ډلو د ګواښ په اړه چې فکر کېږي د سپټمبر د یوولسمې پېښه له افغانستان څخه پلان شوې وه سمه پریکړه وکړي".

ګراهام په بل ټویټ کې لیکلي:"هر ډول تړون چې د ترهګری سره د مبارزې لپاره د امریکا وړتیا په پام کې ونیسي، د سولې تړون نه دی، پرځای به یې، دا به په امریکایي خاوره د لا زیاتو حملو او په ټوله نړۍ کې د متحده ایالاتو پر ګټو د حملو لپاره لاره هواره کړي".

د اګسټ پر ۱۵مه، ډاکټر اشرف غني د افغانستان د ملي راډیو ټلوېزیون په ځانګړي پروګرام کې وویل:"جمهوریت غواړئ که طالبان، که طالبان غواړئ بېرته شاته ځئ، که جمهوریت غواړئ د جمهوریت په چوکاټ کې سوله راځي. که جمهوریت ټینګ شي افغانستان به خپلو هیلو ته په رسېدو کې بریالی شي.

د افغانستان خلک باید د شخصیت پرستۍ له دایرې څخه ووځي او داسې یوه تګلاره رامنځته کړي، چې د کورنی اجماع لپاره د منلو وړ وي.

د یو لوی ملت د استازیتوب لپاره باید یو قوي دولت شتون ولري، ترڅو خپل راتلونکی خپله وټاکي.

دلته ولسواکي ضرور ده، بې له ولسواکۍ څخه موږ دا وطن نشو اداره کولای او پر ولسواکۍ باندې انشاءالله هر شی کېږي".

## په مسجد او واده کې چاودنې

د زمري ۲۶مه ۱۳۹۸/ ۱۷ اگسټ ۲۰۱۹، د خپلواکۍ د سلمې کلیزې دوه ورځې وړاندې، په کابل ښار کې د شهر دبۍ په نوم د ودونو سالون کې د اهل تشیع د واده مراسمو باندې د شپې ۱۰:۳۰ بجې برید وشو، چې پایله کې یې ۶۳ کسان مړه او ۱۸۲ ژوبل شول، د برید پړه داعش وسلوالې ډلې په غاړه واخیستله، د خلیلزاد لخوا برید وغندل شو، هغه د اگسټ پر ۱۸مه وليکل:"موږ باید د سولې مذاکراتو ته، د بین الافغاني مذاکراتو په شمول سرعت ورکړو، دا به د افغانانو دریځ لا غښتلی کړي، د دې لپاره چې داعش مات شي".

بل خوا د یاد برید پړه د ګډ حکومت مشر ډاکټر غني او د کورنیو چارو وزیر اندرابي پر طالبانو واچوله، ډاکټر غني د اگسټ پر ۱۸مه وویل:" د تیرې شپې ترهگریزې پیښې ته طالبانو زمینه برابره کړې، دوی جگړې کوي، او د برید په نه منلو سره ځان ته برائت نه شي ورکولای."

د افغان حکومت په غبرگون کې د طالبانو ویاند ذبیح الله مجاهد د اگسټ پر ۱۸مه ولیکل:" اسلامي امارت د کابل ښار په یو هوټل کې په ملکي خلکو چاودنه کول او هغوی ته تلفات اړول په کلکه غندي، دغه ډول وحشیانه قصدې وژنې او ښځې او ماشومان په نښه کول هیڅ ډول توجیه او جواز نه لري.

د کابل غونډې برید ته امریکایي اشغالگرو او د هغوی کورنیو غلامانو زمینه مساعده کړې. په ۹۵سلنه افغانستان کې امن او آرام چا خراب کړ؟ غلامان د دې پرځای

چې د واشنګټن او نیویارک امنیت ساتلو دعوه کوي [۱۷۰] په کابل کې دې خپل مسئولیت ادا کړي، هغوی له برید مخکې چیرې وو چې معلومه کړي حمله د چا کار ده؟"

افغان حکومت د ازادۍ سلمې کلیزې (۲۸ زمري) مراسم هم په کابل کې د یادي حملې له کبله وځنډول.

د ازادۍ د سلمې کلیزي یوه ورځ مخکې، د اکسټ پر ۱٦مه، په کچلاغ کې د شیخ هبة الله په مدرسه او د هغه په پخواني مسجد کې برید وشو، د شیخ هبة الله د ورور حافظ محب الله په ګډون ۴ نور کسان پکې ووژل شول او تر ۲۰ زیات پکې ژوبل شول، ماین د جمعې ورځ د خطبې پر مهال د خطیب د کیناستلو تر ځای لاندې ځای په ځای کړل شوی و.

[۱۷۰] د اګسټ **۱۳**مه **۲۰۱۹**، امنیتي ځواکونو ته د وینا پر مهال ډاکټر غني وویل:" په واشنګټن او نیویارک کې ستاسې د قربانیو له امله امن دی، که تاسې "امنیتي ځواکونه" قرباني ور نه کړې، یاد ښارونه به هم امن کې نه وي.

## د سولې خبرو نهم پړاو

د اګست پر ۲۰مه، د امریکا د بهرنیو چارو وزارت لخوا لاندي اعلامیه خپره شوه:

"د افغانستان بیا پخلاینې لپاره ځانګړی استازي زلمی خلیلزاد به قطز او افغانستان ته ولاړ شي.

د ویاند دفتر، د اګست ۲۰مه، ۲۰۱۹

د اګست پر ۲۰مه به د افغانستان د بیا پخلاینې لپاره ځانګړی استازی سفیر خلیلزاد قطر او افغانستان ته سفر وکړي. په دوحه کې به سفیر خلیلزاد له طالبانو سره د سولې هر اړخیزو خبرو ته دوام ورکړي، تر څو په افغانستان کې شخړې او جګړه پای ومومي.

په کابل کې به د سولې بهیر په اړه د حکومت له مشرتابه سره مشورې وکړي، او هغوی به د بین الافغاني تفاهم لپاره وهڅوي، خو کابل ته سفر لا هم نهایي شوی نه دی."

د اګست پر ۲۰مه، مایک پامپیو فاکس نیوز ته وویل:" ولسمشر ټرمپ له افغانستان څخه د خپلو ځواکونو ایستلو ته ژمن دی؛ خو دا ګام به د افغانستان امنیتي شرایطو ته په کتو اخستل کیږي ځکه موږ نه غواړو افغانستان یو ځل بیا د ترهګرو په ځاله بدل شي او له دې ځایه د امریکا په متحده ایالاتو برید وشي.

ولسمشر ټرمپ غواړي، په افغانستان کې هغه څه وساتي چې متحده ایالاتو ته د میلیاردونو ډالرو او زرګونو امنیتي سرتېرو د مرګ په بیه تمام شوي.

د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو او دفاع وزارتونه په ګډه په افغانستان کې د عسکرو د شمېر په راکمولو کار کوي".

همدارنګه د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ لاندي څرګندونې وکړي:"امریکایي عسکر به له افغانستان څخه راوباسو؛ خو افغانستان د ترهګرو لپاره د هارواره

پوهنتون دی، موږ به خامخا هلته استخباراتي شتون ولرو او اړتیا ده چې هلته یو څوک وساتو[۱۷۱].

امریکایي ځواکونه په افغانستان کې د سوله ساتونکو په حیث دنده اجراء کوي؛ موږ نور دې دندې ته د پای ټکی ږدو او نه غواړو په نړۍ کې د پولیسو دنده سرته ورسوو.

مذاکراتي ټیم له طالبانو سره په خبرو کې پرمختګ کړی، په دې نړۍ کې په هیڅا باور کېدای نه شي، خو د تلفاتو د زیاتوالي له امله هغوی (طالبان) نور نه غواړي له موږ سره جګړه وکړي."

د ټرمپ دغه ډول څرګندونې چې په افغانستان کې به استخباراتي شتون وساتي، په بېلابېلو وختونو کې د طالبانو د ویندویانو (ذبیح الله مجاهد او سهیل شاهین) لخوا رد شوې، او طالبانو ویلي چې د امریکا هیڅ ډول شتون ورته د منلو نه دی، او نه به هم د امریکایې پوځیانو تر وتلو وروسته امریکا ته اجازه ورکړي چې په افغانستان کې

[۱۷۱] د اپریل ۱۷مه ۲۰۲۰، نیویارک ټایمز د لوړ پوړي امریکایې چارواکې له خولې راپور ورکړ چې امریکا غواړي له طالبانو سره د لاسلیک شوې (۲۹ فبروري ۲۰۲۰) هوکړې له مخې غواړي له افغانستان څخه د سي آی اې یو شمېر پوځیان وباسي.
د نیویارک ټاټمزپه راپور کې لیکل شوې و:" که څه هم چې له افغانستان څخه د امریکایي ځواکونو له وتلو وروسته په دغه هېواد کې د استخباراتي ځواک زیاتول د امریکا پلان و، خو د طالبانو د مشرتابه په غوښتنه او د تاوتریخوالي د کمښت په موخه یې دا پرېکړه کړې ده. داسې ښکاري چې اوسمهال په افغانستان کې د سي ای اې سلګونه پوځیان میشت وي، خو شمېر یې ډېر کله د تغیر په حال کې وي. ویل کېږي د امریکا استخباراتي پوځیانو په تېرو دوه لسیزو کې په افغانستان کې محلي ځواک ته روزنه ورکوله او تجهیز کول یې، څو له القاعدې سره مبارزه وکړي. امریکایي چارواکي وایي، چې د مذاکراتو پر مهال د طالبانو مشرتابه تر ډېره د سي آی اې د کار کوونکو پر ایستلو ټینګار کاوه. او اوس دغه کار په افغانستان کې د تاوتریخوالي د کمښت په موخه کوي."

استخباراتي شتون ولري، تر هغه وخت پوري به جګړه کوي، چې تر څو ټول بهرني پوځیان چې تر هر نوم لاندي په افغانستان کې شتون لري؛ له هیواد څخه ووځي.

د اګست پر ۲۱مه، خلیلزاد پر خپل ټویټر ولیکل:"په واشنګټن کې مې ګټوره اونۍ درلوده، د واشنګټن ادارې ته مې د خپلو لاسته راوړنو او راتلونکي په اړه معلومات وړاندي کړل.

زه بیا روان شوم، لومړی به دوحې ته ځم، تر څو پاتې مسایل را ونغاړو، موږ چمتو یو، وبه ګورو چې طالبان هم چمتو دي کنه."

## د سولې مذاکراتو د نهم پړاو پېل

د اګست پر ۲۲مه، مازیګر مهال په دوحه کې د طالبانو او امریکایانو ترمنځ د سولې نهم پړاو مذاکرات پېل او د شپې تر ناوخته ۱۱ بجو یې دوام وکړ.

په همدې ورځ مجاهد ولیکل:" نن له غرمې وروسته په دوحه کې د امریکا او اسلامي امارت د مذاکراتي ټیمونو تر منځ نهم پړاو مذاکرات پیل شول. په دې مذاکراتو کې د امریکایي ټیم مشري زلمي خلیلزاد او د اسلامي امارت د مذاکراتي ټیم مشري محترم شیرمحمد عباس ستانکزي کوله. په مذاکراتو کې د اشغالګرو قواوو مشر سکاټ میلر هم حاضر و".

په همدې ورځ د قطر د لومړي وزیر مرستیال او د بهرنیو چارو وزیر شیخ محمد بن عبدالرحمن آل ثاني د طالبانو او امریکایي لوري سره د شپې تر ناوخته جلا جلا لیدنې درلودلې.

د اګست پر ۲۲مه، ما (لیکوال) ته طالب سرچینو وویل:" نهم پړاو کې کیدای شي چې د طالبانو او امریکا ترمنځ د بهرنیو ځواکونو د وتلو د مهالویش او ۵۰۰۰ طالب بندیانو خوشي کیدو پر میکانیزم خبرې وشي، او دارنګه چې په کومه کچه مشرانو ترمنځ به د سولې تړون لاسلیک کیږي."

دکتور جعفر مهدوي [۱۷۲] چې تازه له قطر څخه راستون شوی و، هغه هم ما (ليکوال) ته وويل:"شيخ دلاور راته وويل چې دا ځل به د بهرنيو ځواکونو او په ټوله کې د سولې اړوند مسايلو پر ميکانيزم خبرې کيږي."

له همدې کبله و چې ما (ليکوال) د اګسټ پر ۲۲مه، پر خپل ټويټر وليکل:"د طالبانو او امريکا ترمنځ د سولې نهم پړاو خبرې پيل شوې، کيدای شي چې د بهرنيو ځواکونو وتلو، د بنديانو د خوشي کېدو، د امريکايي –افغان پوهنتون د دوو استادانو تبادلې پر ميکانيزم خبري وشي، همدارنګه چې په کومه کچه مشرانو لخوا به تړون لاسليک کيږي، او د بين الافغاني تفاهم پيل او اړوند مسايلو به بحث کيږي."

په داسي حال کې چې د طالبانو او امريکا ترمنځ د نهم پړاو لومړۍ ورځ وه، د ارګ پاڼې يوه اعلاميه خپره کړه، چې د ډاکټر غني له قوله پکې ليکل شوي و:"طالبان يوه ورانکاره ډله ده او تل هڅه کوي چې خلکو او عام المنفعه تاسيساتو ته زيان ورسوي، نو پدې خاطر ستاسو وظيفه ده چې دغه ورانکاره ډله له منځه يوسئ او اجازه ورنکړئ چې هيواد او خلکو ته زيان ورسوي."

د ډاکټر غني له خولې ليکل شوې و:"زمونږ جهاد، برحقه جهاد دی او د سولې تر ټينګيدو پورې د دې هيواد دښمنان د هيواد په هر ګوټ کې وځپئ."

د اګسټ پر ۲۳مه، د جمعې ورځ د امريکا او طالبانو ترمنځ مذاکرات ونه شول، دواړو لورو د سولې اړوند خپلمنځي مشورې درلودلې.

د اګسټ پر ۲۴مه، اوږده مذاکرات وشول، په همدې ورځ د الجزيرې ټلويزون لخوا راپور ورکول شو چې طالبان او امريکا پر ۱۴ مياشتنې لنډمهاله حکومت موافقې ته رسېدلي دي.

فکر کوم چې د الجزيرې راپور کې تيروتنه شوې وه، داسي ښکاري چې طالبانو او امريکا تر منځ د بهرنيو پوځيانو د وتلو لپاره ۱۴مياشتي مهالويش باندی توافق شوی و.

[۱۷۲] مهدوی د اهل تشيع د هزاره قوم ځوان مشر دی، د جنبش روشنايې له مشرانو او د عدالت ګوند مشر دی، او تيره دوره کې د ولسې جرګې غړی و.

په همدې ورځ لږ وروسته، سهیل شاهین ولیکل:"کوم خبر چې د موقت حکومت د هوکړې په هکله په رسنیو کې خپریږي، حقیقت نلري".

په تعقیب یې زلمي خلیلزاد هم ولیکل:"هماغسې چې د طالبانو ویاند ویلي، موږ د لنډمهاله حکومت په اړه نه یو بږغیدلي. د حکومتدارۍ پریکړې د افغانانو پورې اړه لري چې په بین الافغاني مذاکراتو کې یې وکړي."

د درېمې ورځې مذاکرات د شپې نږدې ۱۲ بجې پای ته ورسېدل، خو لا پر ټولو مسایلو وروستي توافق ته دواړه لوري ونه رسېدل.

د اگسټ پر ۲۵مه، سهیل شاهین د دوحې په ډیپلوماټ کلوپ کې خبریالانو ته وویل:"په مذاکراتو کې زیات پرمختگ شوی، کیدای شي تر راتلونکو دوو ورځو په ټولو جزيې اختلافي مسایلو بحث وشي او مذاکرات هم ختم شي."

د همدې ورځې مذاکراتو په اړه سهیل شاهین داگسټ پر ۲۶مه ولیکل:" نن دشپې تر لس نیمو بجو پورې مو د امریکایي ټیم سره مذاکرات درلودل. سبا سهار مو خپلمنځې مجلس دی اوله مازدیگر وروسته به د نوموړي ټیم سره بله ناسته ولرو، انشاالله."

د اگسټ ۲۶مه، هم د دواړو ډلو ترمنځ مذاکراتو د شپې تر ناوخته دوام درلود، لا هم طالبان او امریکایان نهایې توافق ته ونه رسېدل.

د اگسټ پر ۲۷مه، شاهین ولیکل:"د ورځې لس نیمې بجې به د امریکایې ټیم سره مذاکرات دوام کوي. هڅه کوو چې د توافقنامې وروستي ټکي نهایي کړو".

د شپې تر ناوخته (۱۲:۵۰) پورې مذاکراتو دوام پیدا کړ، خو بیا هم نهایې توافق ونه شو.

د اگسټ پر ۲۸مه، شاهین ولیکل:" نن هم مذاکرات دوام کوي. وروستي توافق ته نږدې شوي یو. هیله ده ژر به خپل مسلمان او خپلواکي غوښتونکي ولس ته ښه زیری ولرو".

د دې ورځې مذاکراتو د شپې تر دوه نیمو بجو دوام وکړ، بیا هم دواړه لوري توافق ته ونه رسیدل، او په اړه یې د اگسټ پر ۲۹مه، شاهین ولیکل:" نن د امریکا مذاکراتي ټیم سره مو د شپې تر دوه نیمو بجو پورې خبرو دوام درلود. محترم ملا صاحب

برادر او ډاکتر خلیلزاد هم موجود وو. په مهمو ټکیو پرمختګ وشو. سبا د ورځې یوه بجه به د یاد ټیم سره بله ناسته لرو، .ان شاءالله"

داګست پر ۲۸مه، نن ټکي اسیا لاندې ټویټ وکړ:"د طالبانو مذاکراتي ټیم یوه غړي نن ټکي اسیا ته وویل چې د امریکا سره یې د تړون په مسوده کې له خپله اړخه ټول اسلامي او ملي ارزښتونه سنجولي. چې کله اعلان سي، د نن زمانې قانون پوهان او سیاسي کارپوهان به هم حیران کړي، چې څرنګه په شریعت، سیاست او قانون برابر تړون مو جوړ کړی".

د اګست ۲۹مه، چې بیا هم خبرې د ماسپښین یوه بجه پیل شوې، طالبانو او امریکا نیمه ورځ او یوه بشپړه شپه تر سهاره د سولې تړون د وروستي کېدو لپاره یو بل سره خبرې وکړې، ولې بیا هم موافقې ته ونه رسېدل، په دې ورځ خبرې سهار پنځه بجې پای ته ورسیدې، طالبانو همهلته په ډیپلوماټیک کلوپ کې د سهار لمونځ په جماعت سره وکړ.

د اګسټ ۳۰مه، د جمعې ورځ وه، طالبانو دا ورځ د جمعې لمونځ، او دواړه لورو خپلمنځي مشورو ته ځانګړې کړې وه.

د اګسټ پر ۳۱مه، بیا هم د طالبانو او امریکا تر منځ د سولې مذاکرات د سهار پر ۹ بجې پیل او د شپې تر ناوخته یې دوام وکړ، او بالاخره د نهم پړاو مذاکرات پرته له اعلامیې او یا داچې د لورو لخوا د سولې توافق نهایې کېدو تائید وشي؛ خبرې پای ته ورسېدې.

د همدې ورځې (۳۱ اګسټ) مذاکراتو په اړه زلمي خلیلزاد د سپټمبر په اوله، سهار وختې ٦:۱۸ ولیکل:" موږ په قطر کې له طالبانو سره د خبرو دغه دور پای ته ورساوه. زه به نن وروسته د سلا مشورو لپاره کابل ته سفر وکړم.

موږ د یوه داسې توافق په درشل کې یو چې زورزیاتی به لږ کړي او افغانانو ته به ور پرانیزي چې سره کښیني او د یوې باعزته او پایدارې سولې او د یوه متحد او بااقتداره افغانستان په اړه چې متحده ایالتونو، متحدینو ته یې؛ او بل هیواد ته ګواښ ونکړي، مذاکرات وکړي".

د سپټمبر پر لومړۍ نېټه شاهین هم سهار وختي ۸:۴۲ ولیکل:"د مذاکراتو اوسنی دور مو د شپې ناوخته په کامیابي سره پای ته ورساوه، البته پدې توافق وشو چې نن د ورځې دوه بجې د امریکایي ټیم سره ځینې تخنیکي خبرې هم بشپړې کړو. خپل مجاهد او مسلمان ولس ته ډاډ ورکوم چې د اشغال د خاتمې او د افغانستان د مسئلې دسوله ایز حل په درشل کې یو" .

د طالبانو او امریکا ترمنځ د نهم پړاو خبرو لس ورځې ونیولې، چې دوه ورځې پکې د جمعې لمانځه له امله مخامخ مذاکرات ونه شول، بلکې دواړه ډلو خپلمنځې مشورې درلودلې.

د اګسټ پر ۳۱مه، واشنګټن پوسټ او نورو رسنیو راپور ورکړ چې د افغانستان د سولې مسئله کې د ټرمپ د ملي امنیت سلاکار جان بولټن د ټرمپ لخوا له خبرو ګوښه ساتل شوی او څنډې ته شوی دی.

واشنګټن پوسټ ته یوه امریکایې چارواکې ویلي و:"بولټن او ټیم یې د افغانستان په موضوع کې تر دې حده ګوښې ته شوي، چې کله نوموړي له طالبانو سره د احتمالي توافقنامې کاپي غوښته، د ټرمپ ادارې یې له ورسپارلو انکار کړی" .

د نهم پړاو مذاکرات تر ټاکلي نیټې او توقع زیات وخت ونیوی، تمه وه چې د اګسټ پر ۲۷مه به بشکېل لوري توافق ته ورسېږي، او د شپې مهال به خلیلزاد کابل ته راشي، خو مذاکراتو دوام پیداکړ.

همدارنګه د اګسټ پر ۲۸مه، کورنیو او بهرنیو رسنیو راپور ورکړ چې د طالبانو او امریکا ترمنځ د سولې تړون وروستی شوی، او کیدای شي خلیلزاد له افغان حکومت او افغان سیاستوالو سره د تړون جزئیاتو شریکولو په موخه کابل ته راشي.

له دي وروسته رسنیو راپور ورکړ چې درې ژبو (پښتو، دري او انګریزي) کې د سولې تړون د متن چمتو کولو او ورسره ضمیمو او معادل کلِمات او اصطلاحاتو باندي د امریکا او طالبانو د تخنیکې ډلو ترمنځ زیات وخت ونیول شو.

## پر کندز او بغلان د طالبانو حملې

طالبانو د شپې مهال پر کندز ښار له څلورو لورو حملې وکړې، او د اګست ۳۱مه، ټوله ورځ ښــار ته نږدې او دننه کې درنه جګړه د طالبانو او افغان ځواکونو ترمنځ روانه وه، د جګړې د مهارولو لپاره امریکا/ناټو ځواکونو له افغان ځواکونو سره هوايي مرســته کوله، په همدې ورځ د امریکا/ناټو قواوو عمومي قومندان جنرال ســکاټ میلر، د افغانســتان دفاع وزیر اســدالله خالد او کورنیو چارو وزیر مســعود اندرابي د کندز ښــار ته ولاړل، جګړه کنټرول شــوه، خو دواړه لورو ته درنه مرګ ژوبله واوښتله.

طالبانو د کندز ښــار ځینې حوزې او امریتونه ونیول، ښــار ته ننوتل، ځینې افغان پولیس ورته تسلیم، او د هوايي بمبارد له امله طالبانو ته مرګ ژوبله واوښتله، چې له ښار څخه بیرته وتلو ته اړ شول.

د کندز پر امنیه قومندان او پولیسو د طالب لخوا ځانمرګی برید وشو، د قومندان د ویاند په ګډون لس پولیس ځای پر ځای ووژل شــول، او د امنیه قومندان منظور ستانکزي په ګډون لس پولیس ژوبل شول.

د یادې جګړې په اړه خلیلزاد د اګســت پر ۳۱مه لاندي ټویټ وکړ:"ما نن په خبرو کې د کندز برید یاد کړ او طالبانو ته مې وویل چې دغه ډول زور زیاتی باید ودرول شي. سربیره پر دې، جنرال میلر نن د کندز ښــار څخه لیدنه وکړه او افغان ځواکونو ته پر مرستې تمرکز کوي چې د ښار دفاع کوي.

بلاخره، جګړه به یوازې هغه مهال ختمه شي چې ټولې غاړې یې پر ختمولو موافقه وکړي. ټول افغانان باید د یو ســیاسي جوړجاړي او هر اړخیز اوربند ترلاســه کولو لپاره، په بین الافغاني مذاکراتو کې سره راټول شي. ډاډه یم چې موږ د زور زیاتي د لږولو او د سولې د ترلاسه کولو پر یوازنۍ عملي لارې یو".

د شپې مهال طالبانو د بغلان مرکز پلخمري ښار باندي له څلور خواو برید وکړ، او د سپټمبر لومړۍ نیټه ټوله ورځ جګړې دوام درلود، طالبان ښار ته ننوتل، د والي پر میلمستون او د فتر یې بریدونه وکړل، دواړو لورو ته ګڼه مرګ ژوبله واوښتله.

ما (لیکوال) ته ضـعیف صـاحب وویل:" افغان حکومت په امریکا او ځینو بهرنیو هیوادونو کې داسي کمپاین پېل کړی و چې طالبان د افغان حکومت او ناټو د زیات بمبارد او شپنیو چاپو له امله ډېر کمزوري شوي، اوس یې د لویو حملو توان له لاسه ورکړي، له همدې امله به وه چې طالبان وښیې چې اوس هم پر ولایتونو د لویو حملو کولو توان لري."

پر کندز د حملې په اړه د طالبانو ویاند هم لیکلي و چې دوی د ښـار د نیولو په موخه نه، بلکې د وسلو او نظامي تجهیزاتو تر لاسه کولو په موخه برید کړی و.

د سـپتمبر په لومړۍ نیټه خلیلزاد ولیکل:" موږ په قطر کې له طالبانو سره د خبرو دغه دور پای ته ورساوه. زه به نن وروسته د سلامشورو لپاره کابل ته سفر وکړم.

موږ د یوه دا سې توافق په درشل کې یو چې زور زیاتی به لږ کړي او افغانانو ته به ور پرانیزي چې سره کښـیني او د یوې باعزته او پایدارې سـولې او د یوه متحده او بااقتداره افغانســتان په اړه چې متحده ایالتونو، متحدینو یې او بل هیواد ته گواښ ونکړي، مذاکرات وکړي".

د سپتمبر په لومړۍ نیټه سهیل شاهین ولیکل" د مذاکراتو او سنۍ دور مو د شپې ناوخته په کامیابي سره پای ته ورساوو، البته پدې توافق و شو چې نن د ورځې دوه بجې د امریکایي ټیم سره ځینې تخنیکي خبرې هم بشـپړې کړو. خپل مجاهد او مسلمان ولس ته ډاډ ورکوم چې دا شغال دخاتمې او د افغانستان د مسئلې د سوله ایز حل په درشل کې یو."

## کابل ته د خلیلزاد راتګ

د سپټمبر پر لومړۍ ورځ، خلیلزاد کابل ته راغی، ماښام مهال یې له ډاکټر اشرف غني سره وکتل، او د طالبانو او امریکا ترمنځ د سولې تړون مسودې متن یې ورته واوراوه، ولي د مسودې د متن کاپي یې د ګډ حکومت د مشرانو په واک کې ور نه کړ.

همدارنګه خلیلزاد له ډاکټر غني څخه وغوښتل چې له طالبانو سره د بین الافغاني مذاکراتو لپاره ۱۵ کسیز پلاوي لسټ اعلان کړي، مګر دا چې د پلاوی لسټ کې ډاکټر غني تغییرات راوستي و، او ځینې کسان یې ورڅخه لیري کړي وو [۱۷۳]، پر ځای یې نور خپل کسان ور اضافه کړي وو، له همدې امله هم د خلیلزاد او ډاکټر غني ترمنځ مجلس لېدنه ښه نه وه.

د سپټمبر پر ۴مه، کورنیو رسنیو راپور ورکړ چې د خلیلزاد او ډاکتر غني ترمنځ ترینګلیتا، له طالبانو سره د سولې مسودې له امله زیاته شوې، او په درې ورځو کې خلیلزاد ۴ځله له ډاکټر غني سره په ارګ کې لیدلي دي.

رسنیو راپور ورکړ چې ډاکټر غني د امریکا او طالبانو ترمنځ د سولې تړون باندي نیوکې لري[۱۷٤].

خلیلزاد له ډاکټر عبدالله عبدالله، حامد کرزي او ځینو نورو افغان سیاستوالو سره هم د قطر خبرو او له طالبانو سره د سولې مسودې په اړه معلومات شریک کړل.

---

۱۷۳ د سولې عالي شورا مرستیال مشر حاجي دین محمد، مخکېنۍ د ولسې جرګې وکیله فوزیه کوفي، د طلوع ټلویزون د رئیس لطف الله نجفي زاده او ځینو نورو کسانو نومونه له لسټ څخه لیري کړل شوې او پر ځای یې ډاکټر غني خپل کسان له طالبانو سره د مذاکرې لپاره په لسټ کې ځای کړي وو.

۱۷٤ زما (لیکوال) له انده، ډاکټر غني د امریکایې پوځیانو په وتلو اندیښنه لري چې دده واک به هم ور سره را ټول شي، او نه غواړي چې له طالبانو سره سوله وشي، بلکې ټینګار کوي چې ولسمشرۍ ټاکنې وشي، او فکر کوي چې د ۵ نورو کلونو لپاره به هم د ولسمشر په چوکۍ پاتې شي.

د خلیلزاد او ډاکټر غني ترمنځ ناستې ښې نه وې، ډاکټر غني د طالبانو – امریکا د سولې پر تړون نیوکې درلودلې، او پر ټاکنو یې ټینګار درلود، همدارنګه د بهرنیو پوځیانو پر وتلو یې اندیښنه ښودله، بل خوا خلیلزاد د امریکا – طالبانو د سولې له تړون څخه ملاتړ کاوه، خبره غالمغال ته رسیدلې وه، او د ډاکټر غني او ډاکټر زلمي خلیلزاد ترمنځ سپکې خبرې یو بل ته شوې وې، بړغونه یې لوړ شوې وو.

د سپټمبر پر ٦مه، حاجي سید داود اغا چې له خلیلزاد سره یې په کابل کې داخل دوه واره لیدلې و، هغه ما (لیکوال) ته وویل چې د خلیلزاد او ډاکټر غني ترمنځ خبره جنګ ته رسیدلې وه، او یو بل ته یې سخت او زښت الفاظ کارولي وو.

د سپټمبر په لومړۍ نیټه، د ولسمشر دوهم مرسیتال سرور دانش وویل:" د سولې روانه پروسه پېچلې او بې نتیجې ده، دسولې روان بهیر ته په کتو، ولسمشریزې ټاکنې لومړیتوب لري.

د سولې بهیر پېچلې ده، دغه بهیر ډېر وخت ونیو او د نړیوالو له لوري له نهو میاشتو هڅو سره سره لاهم دوی کومې نهایي او ښکاره نتیجې ته نه دي رسېدلي."

د سپټمبر پر ۳مه، د نهو پخوانیو سفیرانو او ډیپلوماټانو لخوا اعلامیه د اتلانتیک شورا څېړنیز مرکز لخوا خپره شوه، په اعلامیه کې راغلي:

د بهرنیو سرتېرو ایستل افغانستان کورنۍ جګړې ته بیایي، که امریکا په افغانستان کې له طالبانو سره له یو داسې"حقیقي" جوړجاړي مخکې چې افغان حکومت هم په‌کې دخیل وي، خپل سرتېري له دې هېواده وباسي افغانستان به یوې "بشپړې کورنۍ جګړې" سره مخ شي. موږ د امریکا له حکومت څخه غواړو چې له افغانستانه د سرتېرو په ایستلو کې بېړه ونه‌کړي.

په زیات شمېر د سرتېرو ایستل باید له نهایي سولې سره مشروط وي او باید د سولې په یو رښتینې هوکړې پسې وي نه تر هغې مخکې.

د امریکایي سرتېرو په شمېر کې لومړنی کمی باید دومره زیات یا دومره چټک نه‌وي چې طالبان باور وکړي پوځي بریا ترلاسه کولای شي.

دا روښانه نه‌ده چې سوله امکان لري که نه. طالبانو د هغو شرطونو په اړه څرګندې خبرې نه‌دي کړي چې خپلو نورو هېوادوالو سره پرې یوه سوله‌ییز جوړجاړي ته رسېدلی شي. بله دا چې طالبان له نورو سیاسي ځواکونو سره د کار کولو کومه ماضي هم نه‌لري.

طالبانو ته د دې لار ورکول چې د افغانستان له حکومت سره خبرې رد کړي، دې ډلې ته دا واک ورکوي چې دوی وټاکي له چا سره خبرې وکړي .

د افغانستان خلک د دې مستحق دي چې خپل حکومت او دا چې څوک یې د سولې په خبرو کې استازولي وکړي وټاکي".

په دغو ډیپلوماتانو کې پنځه تنه په کابل کې د امریکا سفیران پاتې شوي، یو یې د افغانستان لپاره د امریکا د ځانګړي استازي په توګه دنده ترسره کړې او یو یې د امریکا د بهرنیو چارو وزارت پخوانی مرستیال دی.



پئړ، څلاند، خلیلزاد، سفیر، مطمئن او بارنیټ روبین. دوحه - فبروري ۲۹مه ۲۰۲۰

## له طلوع ټلویزون سره د خلیلزاد مرکه

د سپټمبر پر ۲مه، خلیلزاد له طلوع نیوز ټلویزون سره په قطر کې له طالبانو سره د مذاکراتو په اړه نږدې یو ساعت مرکه درلودله، زه یې مهم ټکي له تاسي سره شریکوم.

له طلوع ټلویزون سره مرکه کې خلیلزاد وویل:" له طالبانو سره د تړون یوه موخه دا ده چې په افغانستان کې د امریکا مصارف او دلته ښکېلتیا کمه کړو، ځکه ولسمشر ټرمپ د امریکا خلکو ته د افغانستان د جګړې د ختمېدو وعده ورکړې وه.

دوېمه موخه داده چې د افغانستان له خاوري امریکا او متحدینو ته یې ګواښ متوجه ونه اوسي.

درېم داچې د افغانانو ترمنځ جګړه؛ د طالبانو او د طالبانو د مخالفینو ترمنځ (حکومت) جګړه ختمه شي او د راتلونکي لپاره په یوه سیاسي نقشه باندي موافقه وشي.

څلورم داچې په افغانستان کې تلپاتې اوربند وشي.
موږ په څلور سره مسایلو کې پرمختګ کړی.
موږ له طالبانو سره د ځواکونو وتلو باندي په ټوله کې توافق ته رسیدلي او د کاغذ پر مخ لیکل شوې او کاغذ (مسوده) هم بشپړ شوی، تر څو چې ولسمشر ټرمپ موافقه نه وې کړي، دا مسوده نهایې نه ده، کیدای شي ولسمشر ټرمپ یې ومني، او کوم بدلون پکې را نه ولي.
زموږ مسوده دوه برخې لري، یوه برخه یې داده چې د ۴ واړه مسایو په اړه ټولیزه موافقه ده، ولي په ځانګړي ډول په لومړیو دوو مسایلو (د بهرنیو ځواکونو وتل او له افغانستان څخه امریکا او متحدینو ته یې نه ګواښ) باندي موافقه شوې، موږ چې د افغانستان خبره کوو، دا معنی چې موږ له طالبانو سره د یوې ډلې په ډول خبرې کړي، دوی د ټول افغانستان استازولي نه کوي، کله چې طالبان د حکومت برخه ګرځي، چې هغه وخت بیا له دغو سیاستونو څخه ملاتړ وکړي[175].

---

[175] امریکا ډیره هڅه وکړه چې له طالبانو سره مسوده د طالبانو اسلامي تحریک په نوم لاسلیک شي، خو طالبانو په څو پړاوه خبرو کې له امریکا سره ونه منله، بلکې امریکایې

دوېمه برخه د مسودې جزئیات او ضمیمې دي، چې د تړون اړوند پکې جزئیات او وضاحتونه په دقیق ډول شتون لري.

موږ افغان حکومت د بین الافغاني مذاکراتو او اوربند اړوند مسایلو کې په جریان کې ساتو، همدارنگه د طالبانو او امریکا اړوند مسایلو (د بهرنیو ځواکونو وتل او له افغانستان څخه امریکا او متحدینو ته یې نه گواښ) په اړه هم موږ له حکومت سره مشوره کړې.

له طالبانو سره توافق شوی چې ۵۰۰۰ امریکایې پوځیان له ۵ اډو څخه په ۱۳۵ ورځو کې له افغانستان څخه وځي، او اډې به خالي پرېږدي.

موږ د خپلو ځواکونو وتل نه، بلکې د سولې موافقه غواړو، تر څو امریکایې پوځیان کم او بالاخره له افغانستان څخه ووځي.

په تړون کې دا نشته چې طالبان به د بهرنیو ځواکونو وتلو او یا هم زموږ (امریکا) سره تر تړون وروسته پر افغان امنیتي ځواکونو حملې نه کوي، بلکې جگړه او تاوتریخوالي به کم شي، اوربند نه کیږي، د اوربند مسئله به په بین الافغاني مذاکراتو کې بحث او توافق ورباندې کیږی.

دا چې تر اوسه جگړه نه ده کمه شوې، په کندز حمله وشوه[۱۷٦]، تر دې مهال موږ له طالبانو سره تړون نه دی لاسلیک کړی، نظامي پوهان وایې چې څومره د سولې

لوري ته یې وویل چې تاسي زموږ اسلامي امارت را نړولي، او پر افغانستان مو حمله کړي، باید د سولې تړون کې اسلامي امارت د یو جهت په توگه ومنئ. د اتم پړاو خبرو پر مهال ما (لیکوال) د یادې پوښتنې په جواب کې د ناروې سفیر ښځې ته وویل چې کیدای شي امریکا بالاخره له طالبانو سره ومني چې د اسلامي امارت په نوم تړون ورسره لاسلیک شي، هغه ډیر زیات وخندل، دا خبره ورته بابیزه معلومه شوه، او بیا یې ماته وویل چې امریکا به دا ور سره ونه مني.

ناروې د افغانسان سولې مذاکراتو (بهرني او کورنی اړخ) دواړو کې دخیل هیواد دی، او په ځانگړي ډول ښځې چې دا مهال د افغانستان لپاره د ناروې هیواد ځانگړی استازی دی.

[۱۷٦] په رسنیو کې حکومت پلوه تحلیل کوونکو ویل چې امریکا دي له طالبانو سره مذاکرات ودروي، ځکه طالبانو پر کندز او بغلان حملې وکړي، او طالبان جگړې کوي.

مذاکرات وروستي حالت ته نږدې کیږي، جګړه هم شدت پیدا کوي، او هر لوری غواړي چې د سولې مذاکراتو کې قوي موقف ولري.

داچې ټرمپ ویلي چې ۸۶۰۰ پوځیان به په افغانستان کې پریږدي، تړون کې نشته، موږ چې له طالبانو سره کوم تړون کوو، د هغه تړون موافق عمل کوو، د تړون خلاف کړنه باید ونه شي.

که تړون لاسلیک شي، په کابل او پروان کې کیدای شي تاوتریخوالی کم شي[۱۷۷]. موږ له طالبانو غواړو چې تر خپل کنټرول لاندې سیمو کې د ترهګرو هر ډول فعالیت مخه ونیسي.

د نړیوالې ترهګرۍ په وړاندې به په افغانستان کې طالبان عمل کوي، موږ د القاعده او داعش په وړاندی له ځانه دفاع کوو، او موږ پوهیږو چې طالبان هم د داعش په ضد جګړه کوي. مګر زه نه وایم چې امریکایي پوځیان او طالبان دي د تړون له مخې یو ځای د داعش پر ضد جګړه وکړي، په تړون کې داسي څه نه شته.

په افغانستان کې دننه، له کوم ځایه چې امریکا ته د ترهګرو خطر متوجه وي، طالبان یې باید په ضد عمل وکړي، موږ له طالبانو سره استخباراتي او پوځي مرسته نه کوو، ځکه د تړون له مخې طالبانو منلي چې ددغه ډول پیښو په وړاندې عمل وکړي.

له طالبانو سره د امریکا تړون د اسلامي امارت په نوم کیږي، مګر موږ دا هم لیکلي چې د دولت په حیث یې په رسمیت نه پیژنو، بلکې د طالبانو په نوم یې پیژنو[۱۷۸].

---

[۱۷۷] په کابل او پروان (باګرام) کې د امریکا/ناټو زیات پوځیان ځای په ځای شوې دي، او د باګرام اډه د بهرنیو ځواکونو تر ټولو لویه پوځي اډه او هوایي ډګر دی.

[۱۷۸] دا مسئله مهمه ده، طالبان وایې چې د امریکا لخوا یې حکومت له منځه وړل شوی، او افغان حکومت په رسمیت نه پیژنو، بلکې زموږ نظام مشروع و، بالاخره امریکا ورسره ومنله چې تړون د افغانستان اسلامي امارت په نوم ور سره وکړي، ولې ددې لپاره چې یوه حل لاره ورته پیدا شي، د افغانستان اسلامي امارت په اړه به په متن کې داسي یادښت هم لیکل کیږي چې د امریکا لخوا په رسمیت نه دی پیژنل شوی، ربښتیا هم داده چې امریکا د افغانستان اسلامي امارت په رسمیت نه و پیژندلی.

کومه اعلامیه چې له افغان حکومت سره ورکوو، په هغه کې وایو چې افغان حکومت مشروع او د نړیوالو له خوا په رسمیت پېژندل شوی.

له افغان حکومت سره هم موږ د سولې اړوند اعلامیه نهایي کړې، او امکان لري چې د واشنګټن څخه د کابینې ځینې غړي کابل ته راشي[۱۷۹].

په کار وه چې د افغانستان اسلامي جمهوریت لخوا همه شمول او واک لرونکی هیئت ټاکل شوی وای، متاسفانه چې تر اوسه هم دغه پلاوی نه دی ټاکل شوی، تر څو له طالبانو سره توافق ته ورسیږي، که چیرته د نړیوالې ټولنې او زموږ مرستې ته اړتیا وه، موږ چمتو یو.

ښه به وي چې داسې پلاوی وټاکل شي چې همه شمول وي، ځکه اوسنی حکومت هم ګډ دی، که داسې نه وي، بیا مخالفتونو ته زمینه برابروي، او په مذاکراتو به منفي تاثیر ولري.

تمه ده چې افغان حکومت قوي پلاوی مذاکراتو ته وټاکي، او ګډوډي پکې نه وي، که داسې ونه شي، مضر به وي، د افغانستان او امریکا په ګټه یې نه ګڼم، موږ له افغان حکومتي ځواکونو څخه ملاتړ کوو، که حملې ورباندې کیږي، موږ یې مرسته کوو.

موږ د افغان حکومت مشرانو (ډاکټر غني او ډاکټر عبدالله) ته دا چانس ورکړ چې د طالبانو او امریکا د سولې تړون مسوده ولولي، دوی یوازې د تړون متن ولوست، ورکول شوی نه دی[۱۸۰]. دا د دوی او طالبانو ترمنځ نه؛ بلکې زموږ او طالبانو ترمنځ تړون دی، که دوی یې استقبال کړي یا نه، کوم تاثیر هم نه لري.

---

۱۷۹ کله چې د طالبانو او امریکا ترمنځ تړون لاسلیک کیدی، په هغه ورځ د افغان حکومت او امریکا/ناټو ګډه اعلامیه خپره شوه، په کابل کې د امریکا دفاع وزیر او د ناټو سرمنشي له افغان حکومت سره د مرستو د دوام ژمنې وکړې.

۱۸۰ دا نو ډیر له سپکاوي ډک چلند دی، چې حتی د خلیلزاد لخوا له طالبانو سره د امریکا د سولې مسودې متن هم د ګډ حکومت مشرانو په واک کې نه ورکول کیږي، یوازې متن یې ور ښکاره کیږي، او هغوی ته یوازې د لوستلو اجازه ورکول شوې.

داچې حکومت د سولې تړون اړوند کومه نیوکه ولري، ښه به دا وای چې موږ (امریکا او افغان حکومت) په ګډه د طالبانو ضد جګړه ګټلې وای، چې ونه شوه[۱۸۱]، بلکې جګړې شدت پیدا کړ، امریکا غواړي چې جګړه ژر ختمه شي.

زموږ او طالبانو ترمنځ مذاکرات مخ په خلاصېدو دي، اوس بین الافغاني مذاکراتو ته دروازه خلاصه ده.

په بین الافغاني مذاکراتو کې به د جګړې د پای ته رسیدو لپاره خبرې کیږي، ځکه یو زموږ (امریکا) او طالبانو ترمنځ جګړه وه، او داچې موږ له افغان حکومت څخه ملاتړ کاوو، بل لورته کورني مسایل دي چې د دوی ترمنځ څه ډول معامله وشي، تر څو جګړه ختمه او اوربند وشي.

همدارنګه د افغانستان د راتلونکی لپاره پر سیاسي پلان بحث وشي، ځکه په دې اړه د نظر او عقیدو اختلاف شتون لري. د افغانانو کورنیو مسایلو باندې موږ له طالبانو سره بحث نه دی کړی، یوازې دومره خبره ده چې توافق شوی چې د افغانانو تر منځ به خبرې کیږي او په اوربند به هم د دوی ترمنځ بحث کیږي، تر څو وشي.

د مذاکراتو سخته برخه موږ تیره کړي، موږ نوي وو، مسئلې پېچلې وې، د افغانانو خپلمنځې مذاکرات کیدای شي اسانه وي، او که خدای وکړي چې په ګډه ژر توافق ته سره ورسیږي.

تمه ده چې ډیر وخت او میاشتې ونه نیسي، په کار ده چې د نړیوالو او خلکو فشارونه هم وکارول شي، تر څو ژر توافق صورت ومومي.
که اړتیا وي موږ مرستې ته چمتو یو، نړیوال هم لیوالتیا لري، باور وکړئ داسي ورځ به نه وي چې زما سره د کوم هیواد د بهرنیو چارو وزیر او یا هم سفیر اړیکه نه وي

بل داچې په جزئیاتو باندې متن نه دی ور ښودل شوې، هغه تولیز (لومړی برخه) د سولې تړون ورسره شریک شوې، ضمیمې او جزئیات له امریکا او طالبانو سره تر دې مهاله پټ پاتې دي.
[۱۸۱] خلیلزاد ډیر په ښکاره ډول اعتراف کوي چې افغان – امریکا جګړه دوی ونه شوای ګټلای، نو ځکه له افغانستان څخه وځي او جګړه ختموي.

نیولي، هغوی وایې چې موږ د افغانستان سولې برخه کې کومه مرسته کولای شو، او غوښتنه کوي چې د سولې مذاکرات د دوی هیواد کې وشي.

د افغان سولې د خبرو د کوربه توب لپاره د اسیا لیري هیوادونه، منځنۍ اسیا، منځنی ختیځ او اروپایې هیوادونه غوښتنه کوي چې د دوی په هیواد کې وشي، یو ډول رقابت روان دی، چې کوم هیواد مرسته کولای شي او کوم هیواد یې کوربه توب وکړي، دا یو ډیر ښه چانس دی.

ناروې هیواد د سولې برخه کې نړیواله تجربه لري، او موږ هم ترجیح ورکوو که په ناروې کې مذاکارات وشي.

د بین الافغاني مذاکراتو لپاره کیدای شي ناروې هیواد کوربه توب وکړي [۱۸۲]، المان، اندونیزیا، قطر هیوادونه هم لیوالتیا لري؛ ملګري ملتونه به مرسته کوي، او باید د دوی

---

[۱۸۲] ناروې هیواد دا مهال د بین الافغاني مذاکراتو لپاره او د طالبانو – امریکا د تړون لاسلیک کولو کوربتوب لپاره پوره چمتووالی نیولی. ناروی هیواد تمه لري چې د طالبانو – امریکا ترمنځ تړون به په ناروې کې لاسلیک شي.
د بین الافغاني مذاکراتو د ښه پرمختګ لپاره یې ځانګړی ټیم جوړ کړی، چې د سولې برخه کې افغان سلاکارانو په ګمارنه هم بوخت دي.
د سپټمبر پر ٦مه، ما (لیکوال) ته حاجي سید داوود اغا وویل: "دوه ورځې وړاندی مې په کابل کې د ناروې سفیر ولید، هغه ویل چې موږ د بین الافغاني مذاکراتو لپاره په ناروې کې چمتووالی نیسو، د طالبانو او افغان حکومت تر منځ د مذاکراتي ډلې د مرستې لپاره موږ په پام کې لرو چې درې کیمټې جوړو کړو، د کمیټو غړي به د طالبانو او حکومت له پلاوي سربیره نور مسلکي افغانان وي، دوی به اړین او قانوني مواد چمتو کوي، بیا به خپلې سپارښتنې طالبانو او د حکومت پلاوي ته سپاري، تر څو د بین الافغاني مذاکراتو پر مهال د مسلکي کمیټو سپارښتنې په پام کې ونیسي.
۱ – د بشر او میرمنو د حقونو کمیټه.
۲ – د قانون د حاکمیت کمیټه.
۳ – د بیان ازادي کمیټه.

له وړتیاوو څخه استفاده وشي او طبعاً امریکا هم لیوالتیا لري چې په دي برخه کې مرسته وکړي.

د امریکا لپاره سوله لومړیتوب لري، د هر هغه قدم او کړنې په ضد ده چې د سولې مخالف وي، د ټاکنو په اړه اندیښنې شته، چې رنې ټاکنې به وشي کنه؟ پایلې به یې نور جنجالونه پیدا کړي یانه؟ او د خلکو لپاره به د منلو وړ وي کنه؟ دا ټولې پوښتنې او اندیښنې دي.

موږ له طالبانو سره په دي اړه بحث نه دي کړي، د ټاکنو بحث کورنی دی، ځینې سیاستوال په دي نظر دي چې تر څو د سولې مذاکراتو پایلې نه وي معلومې شوې، ټاکنې باید وځنډول شي. که د ټاکنو پایلې د سولې مخ کې خنډ کیږي، دا بیا مثبت کړنه نه ده. اوس مهال پر دي موافقه شوې چې د امریکا – طالبانو د سولې تړون مخکې له ولسمشرۍ ټاکنو څخه وشي.

له تاسي سره چې د ولسمشر غني مرکه (۲۲ اگست ۲۰۱۹) وه، هغه وویل چې د سولې مذاکراتو ډیر وخت ونیو، زه ور سره موافق یم، هره ورځ له ځپل ځان څخه هم پوښتنه کوم چې له دي زیات ما کولای شوای چې د سولې مذاکرات کړندي شي؟ مگر ډیرې ستونزې وي، داچې د امریکا او طالبانو ترمنځ د سولې خبرې پای ته رسیږي او بین الافغاني تفاهم پیل کیږي، دا یو لوی پرمختگ دی.

---

همدوی به مواد چمتو کوي او بیا به یې دواړوه مذاکراتي ډلو ته په واک کې ورکوي، تر څو په راتلونکي حکومت کې په دي برخو کې د حکومت مسؤلیتونه تعریف او ومنل شي."

زما (لیکوال) سره له نږدې دوه نیم کلونو وروسته د ناروې د بهرنیو چارو وزارت یو لوړ پوړي چارواکې (فروډ) بیا ځل له ناروې څخه اړیکه ونیوله، او له ما څخه یې وغوښتل چې د سولې برخه کې له هغه سره له افغانستان بهر ناسته وکړم، ځکه د امنیتي گواښونو له امله هغه ته د ناروې هیواد لخوا افغانستان ته د راتگ اجازه نه ورکول کیږي، او بل خوا نږدې درې کلونه کیږي چې عرب متحدده امارات ما (لیکوال) ته ویزه نه راکوي، له همدې کبله ما ونه شوای کولای چې فروډ په همدې حساس او مهم وخت کې په دوبۍ او یا ترکیه کې وگورم.

په افغانستان کې تر ۲۵۰۰ زیاتو امریکایانو خپل ژوند له ترهګرۍ او طالبانو سره په جګړو کې له لاسه ورکړی[۱۸۳] ، د مختلفو لاسته راوړنو څخه یوه هم د امریکا د امنیت مسئله وه، که د امنیت مسئله نه وه، امریکا دلته پوځیان نه رالیږل.

د امریکا لپاره د افغانستان راتلونکې کې هم ارزښتونه مهم دي، په راتلونکي کې به هم امریکا خپل سیاسي، اقتصادي، امنیتي او له افغانستان سره ښې اړیکې پالي. زموږ لپاره بیا ځل په افغانستان کې د امارت منځته راتلل د منلو وړ نه دی. موږ وایو چې داسي حکومت دي راشي چې د ټولو افغانانو په توافق سره وي، نه داچې د زور د لارې راشي، دا موږ د سولې تړون متن کې هم لیکلي چې له مذاکراتو وروسته کوم حکومت منځته راځي، موږ به له هغه حکومت سره ښې اړیکې ولرو.

طالبانو بدلون کړی، ښه نه ده چې وایم یې، ما پخوا فکر کاوه چې طالبان د بل هیواد تر کنټرول لاندې د بهرني هیواد (پاکستان) پیاده عسکر دي، مګر له طالبانو سره تر د ۱۰ میاشتو مذاکراتو په جریان کې دې پایلې ته رسیدلی یم چې زما خبرې ساده او له حقیقت څخه لیرې وې، ځینې به وي، همداسې اړیکې به ولري، ولې دې نتیجې ته رسیدلی یم چې داسې طالبان شته چې پر هیواد مین او د جګړې پای ته رسېدل غواړي، او داسې طالبان شته چې پرمختللی افغانستان غواړي، او له نړۍ سره د مقابل احترام پر بنسټ تعامل ولري، او د ټولو افغانانو لپاره د قبول وړ نظام وي.

طالبان وایې موږ پخواني طالبان نه یو، موږ له خپلو تیروتنو درس او پند اخیستی دی، موږ د پخوانیو تجربو په رڼا کې بدلون غواړو.

اوس خو بې باورې ده، دښمنې ده، جګړه ده، مګر امریکا دا تجربه لري، له ځینو ډلو سره چې یو وخت ور سره جګړه کې و، وروسته یې اړیکې ورسره ښې شوې دي. په اوږده راتلونکې کې له امکان څخه لیرې نه ده چې امریکا له طالبانو سره هم ښې اړیکې ولري.

---

[۱۸۳] دا د امریکا د رسمي ادارو راپور دی، مګر په حقیقت کې په افغانستان کې په زرګونو امریکایې پوځیان د افغانانو لخوا وژل شوي او ژوبل شوې، په هیڅ ډول دومره لږ شمیر حقیقي نه دی.

افغان دولت د امریکا دوست دی، زه پر دې ویاړم چې ما هم پکې رول درلود، کوم پرمختګونه چې شوې ، د بیان ازادي، د فیلمونو نندارتون، د سپورټ په برخه کې، دا ټولې لاسته راوړنې دي. دلته ښه استعدادونه روزل شوې او را پیدا شوي.

د ارزښتونو توپیر په ټوله دنیا کې د خلکو تر منځ شتون لري، په افغانستان کې هم داسې ده، حتی امریکا کې هم د ارزښتونو په برخه کې د خلکو ترمنځ توپیر لېدل کیږي، مګر په کار نه ده چې یوه ډله پر بلې د زور او جګړې له لارې خپل ارزښتونه ومني.

له طالبانو سره هم د نورو افغانانو د ارزښتونو برخه کې یو دا دی چې د سیاسي نظام برخه کې، داچې کوم ډول نظام ومنل شي، کوم ډول قوانین او کوم ډول تشکیلات ومنل شي. ښه داده چې داسې نظام قایم شي چې ټول اړخونه ور باندی را ټول او باور وکړي.

موږ تمه درلودله، او خوشبین وو چې د طالبانو د رژیم له چپه کېدو او د امریکا له راتګ سره به دلته افغانستان کې داسې نظام را منځته شي چې ډلو او خلکو ته مساوي حقونه ورکړي، له خلکو سره ښه او عادلانه چلند وکړي، یو فرصت و، مګر زموږ له لوري هم تیروتنې وشوې او په بېلابېلو دورو کې د افغان چارواکو او مسؤلینو څخه هم تیروتنې وشوې، او دارنګه له طالبانو او د افغانستان ګاونډیو هیوادونو څخه هم تیروتنې وشوي.

اوس د دې وخت دی، د دې پر ځای چې شاته ولاړ شو، باید فکر وکړو، پند واخلو، دا بل چانس له لاسه ورنه کړو، د سولې په راتګ کې پخوانۍ تیروتنې اصلاح شي.

طالبانو هم د خپلو تیروتنو له امله خپل ټول نظام له لاسه ورکړ، او ۱۹ کاله یې د خپلو تیروتنو قیمت ورکاو، همدارنګه دي لور ته نورو افغانانو یې هم د جګړې ډګر کې قیمت ورکاوو. اوس د دې وخت دي چې له تیرو تیروتنو څه زده کړه شوې وي، او څه کول په کار دي.

موږ غواړو چې د سولې مذاکراتو او توافق له امله کومه کورنۍ جګړه[۱۸۴] چې اوس روانه ده، همدا ختمه شي، او دارنګه د افغانانو د خپلمنځي مذاکراتو توافق له امله اوسنۍ جګړه ختمه او د راتلونکو جګړو مخه هم ډب شي. د افغانانو ترمنځ هوکړه به هر اړخیزه وي، دا ډول افغانستان خپلو ګاونډیو هیوادونو ته اطمنان ورکړي چې د هغوی په ضد به یې له خاوري استفاده نه کیږي، او په مقابل کې یې ګاونډي هیوادونه هم باید افغانستان ته همدا ډول اطمنان ورکړي.

که اوسنۍ جګړه لا زیات شدت پیدا کوي، په دې معنی به وي چې موږ ونه توانیدو چې سوله راوستلای شو، موږ ونه توانیدو چې د سولې هوکړه وکړو، افغانان خپلو منځو کې پر یو سیاسي جوجاړي موافقې ته ونه رسیدل، او دا به لویه ناکامې وي، زه تمه لرم چې دواړه لوري افغانان (طالبان او حکومتي چارواکي + افغان سیاستوال) دې مسئلې ته متوجه و اوسي، له ځان غوښتنې تیر او له دې فرصت څخه ګټه پورته کړي.

داعش د امریکا دښمن دی، تمه ده چې د طالبانو او نورو افغانانو ترمنځ سوله، د امریکا په ګډون د نړیوالو په مرسته افغانستان په ډیر قوي موقف کې راشي، او په کونړ او ختیځ کې چې د داعش ډلې کوم وسلوال پاتې دي، هغوی له منځه یوړل شي.

[۱۸۴] امریکایې چارواکو په رسمي ناستو کې دافغانستان جګړه کورنۍ بللې، ولې نړې او افغانان دا جګړه "امریکا – افغان" جګړه بولې، او جګړه کورنۍ نه، بلکی له بهرنیو "امریکایې او ناټو" پوځیانو سره جګړه یې ګڼې، چې په حقیقت کې همداسې هم ده، ځکه امریکا د طالبانو نظام له منځه یوړ، او د خپلې خوښې نظام (ډیموکراسي) یې د حامد کرزي په مشرۍ کې پر افغانانو وتاپه، افغان ولس ورسره مقاومت وکړ، او بالاخره امریکا مجبوره شوه، چې وروسته له اتلس کلنۍ جګړې له طالبانو سره د سولې مذاکراتو او افغان – امریکا جګړې د ختم لپاره د میز شاته کښیني.

پرته له دي چې د امریکا مربوط کیږي؛ طالبانو خپله د داعش په ضد د جګړې او جهاد اعلان کړی او له داعش سره دښمني لري، که ټول افغانان یې په ضد یو شي، د کامیابي چانس لا زیات دی.

طالبانو موافقه کړي چې په افغانستان کې تر خپل کنټرول لاندي سیمو کې به ترهګرو ته ځای نه ورکوي، که بریالی شول خو ښه ده، که چیرته طالبانو داعش له منځه یوړلای نه شو، ترهګری ته د فعالیت اجازه ورکړي، هغه وخت کې به بیا موږ هم ازاد یو چې خپل نظر ته تغیر ورکړو او د امریکا د قواوو عمومي قومندان دلته شتون لري، چې اړتیا وي هغه به کوي، امریکا د داعش او نورو ترهګرو په وړاندي خپل لاسونه شاته نه تړي.

که چیرته له طالبانو سره د سولې تړون لاسلیک کیږی، بیا هم امریکا له افغان قواوو سره مرستو ته دوام ورکوي، همدارنګه د داعش او القاعدې سره د مقابلې لپاره فعال پاتې کیږي، او د افغانستان له مختلفو اړخونو سره دوامداره همکاري غواړي.

داچې د طالبانو جنګیالي به په حکومت کې مدغم کیږي، په دي اړه لږ بحث شوی، مګر کوم څه چې ماته ویل شوې، دادی چې طالبان غواړي چې د افغانستان امنیتي قواوي اصلاح (ریفورم) شي، او طالب وسلوال هم په راتلونکي کې د امنیتي قواوو جز شي.

داچې طالبان به بې وسلې کیږي، په دي اړه به افغانان خپلو منځو کې بحثونه او پریکړې کوي.

اړینه ده چې د افغانستان له خاوري د پاکستان او د پاکستان له خاوري د افغانستان په ضد استفاده ونه شي، زه د دواړو هیوادو ترمنځ د یادې مسئلې په اړه د یوې موافقې طرفدار یم، او پاکستان ویلي چې داسي یو څه غواړي[۱۸۵].

---

[۱۸۵] دا مهمه مسئله ده، پاکستان غواړي چې ډیورنډ کرښه د افغانستان او پاکستان ترمنځ رسمي پوله شي، مګر افغانان ډیورنډ کرښه د سرحد په توګه نه مني. امریکایې چارواکو په بېلابېلو وختونو کې په شخصي ډول داسي څرګندونې کړي چې امریکا ډیورنډ کرښه د

پاکستان اوس مهال له اقتصادي ستونزو سره مخ دی، زيات قرضداره دی، اقتصادي لازم پرمختګ نه لري.

پاکستاني چارواکي وايې چې زموږ سياست اوس له سياسي رقابت څخه حکومتي سياست (جيو پوليټيک)، اقتصادي او د پراختيا سياست (جيو ايکونوميک او جيو ډيولوپمنټ) ته بدلون کړی.

پاکستان چې د خپل لوی ګاونډي هيواد (هند) سره کوم رقابت لري، اوس غواړي چې اقتصادي حالت يې ښه شي.

امريکا هم غواړي چې له پاکستان سره ښې اړيکې ولري، او په دې وخت کې ښې شوې هم دي. پاکستان لوی هيواد دی او په سيمه کې مهم ځای لري.

پاکستان د طالبانو او امريکا ترمنځ د سولې برخه کې مرسته کړې، د تلپاتې سولې لپاره د پاکستان مرسته، د دې نتيجه شوه چې د امريکا او پاکستان ترمنځ ښې اړيکې وي.

زه د افغانستان ولس ته اطمنان ورکوم چې موږ تر دې مهاله له پاکستان سره د ډيورنډ مسئلې په اړه بحث نه دی کړی.

داچې روسيه او چين غواړي چې له افغانستان څخه ټول بهرني پوځيان ووځي، اصلاً موږ خپله وايو چې افغانستان بايد پريږدو، که اړتيا نه وي، موږ کله هم نه دي ويلي چې زموږ دايمې اډې دي دلته شتون ولري، هغوی هم نه غوښتل چې موږ په ډيره بيړه له افغانستان څخه ووځو، په افغانستان کې زموږ شتون د دوی په ګټه هم

---

دواړو هيوادو ترمنځ د سرحد په توګه مني. اوس هم امريکا غواړي چې د افغان سولې لپاره همدا امتياز پاکستان ته ورکول شي.

د ډاکټر غني د واکمنۍ پر مهال د ډيورنډ پر کرښه د پاکستان لخوا اغزن تار ودرول شو، چې مصارف يې د امريکا لخوا ورکول شول. په ځينو ځايو کې ميشت قومونو د پاکستان لخوا پر ډيورنډ کرښې له اغزن تار لګولو سره مخالفت وکړ، خو د افغان حکومت لخوا به د قومونو مشران ارام کړل شول، او بيا به اغزن تار ولګول شو.

وو، ځکه دلته ترهګرۍ زموږ مشترک دښمن و. هغه مشترکې درې اړخیزه اعلامیې چې موږ خپرې کړې، موږ له یو بل سره پکې په یوه نظر وو.

موږ د افغانستان او چین، افغانستان او روسیې ترمنځ خرابې اړیکې نه غواړو، موږ هم د دوی په ډول غواړو چې له افغانستان څخه هیڅ ځای (هیواد) ته خطر نه وي.

سمه ده چې په ځینو نورو ځایونو کې زموږ او دوی (روسیې او چین) ترمنځ ځینې ستونزې شتون لري، خو د افغانستان مسئلې اړوند چې کله موږ بحثونه کول، ترمنځ مو ډېره فاصله نه وه. او د امریکا – طالبانو له مذاکراتو یې ملاتړ کړی، او په جریان کې وو، د سولې تړون د لاسلیک لپاره ژر ده چې بلنه ورکول شي، ډېر امکان شته چې دغه تړون په دوحه کې وشي.

تمه ده چې یو کال وروسته د افغانانو خپلمنځي ناستې مثبت نتیجه ورکړې وي، هر اړخیز اوربند شوی وي، او افغانانو یو بل زغملی او یو بل ته متقابل احترام ولري، او خپلواک افغانستان وي.

## قطر ته د خلیلزاد او میلر ناڅاپي سفر

د سپټمبر پر ۵مه، یو ناڅاپه زلمی خلیلزاد او جنرال میلر له خپل مذاکراتي ټیم سره یو ځای دوحې ته ولاړل، د پخوانیو ۹ پړاونو او معمول خلاف، دا ځل یې په همدې ورځ مازیګر ۵ بجې له طالبانو سره د سولې مذاکرات پیل او د شپې تر ۲:۳۰ بجو یې دوام درلود.

د سپټمبر پر ۷مه، ماښام مهال بیا هم ملا برادر اخوند، خلیلزاد او جنرال میلر د قطر د بهرنیو چارو له وزیر سره ناسته درلودله.

داسې ښکاريده چې د طالبانو او امريکا ترمنځ د سولې ترون وروستی شوی، او د ټولو مسايلو پر ميکانيزمو دواړه لوري توافق ته رسيدلي دي، کيدای شي د قطر د بهرنيو چارو له وزير سره به يې د ترون د لاسليک د مراسمو په اړه بحث درلود[۱۸٦].

د نهم پړاو خبرو پر مهال د سولې ترون د پښتو او انګريزي متن په يوه ماده کې ښکاره توپير طالبانو ته معلوم شوی و، چې له امله يې امريکايانو په انګريزي متن ټينګار درلود او طالبانو غوښتل چې هغه متن د خپل پوهاوي او درک مطابق اصلاح شي، له همدې امله دغه ستونزې په ۹م پړاو کې پر خپل ځای پاتې وي، کيدای شي ځينې نور واړه مسايل به هم پاتې وو، چې دا ځل بيا د زلمي خليلزاد په مشرۍ طالبانو سره مذاکراتو نه نيم ساعته وخت ونيو.

د سپټمبر پر شپږمه، د شپې ۱۰:۱۴، سهيل شاهين پر ټويټر وليکل:" پرون مو له امريکايې لوري سره دشپې تر دوه نيمو بجو مذاکراتي مجلس درلود او نن ماښام محترم ملا برادر اخوند او ورسره هئيت يې له ډاکتر زلمي خليلزاد، جنرال ميلر او د قطر دبهرنيو چارو له وزير سره ګډ مجلس درلود. دواړه مجلسونه مثبت وو او ښه پر مختګ وشو."

په همدې ورځ ماته مولوي احمد هم پيغام راکړ، چې د ترون د لاسليک د مراسمو د پوشش لپاره همدا نن د طالبانو د فرهنګي کميسون دوه تنه قطر ته ولاړل.

همدارنګه شيخ دلاور صاحب هم راته ليکلي و چې انديښنې نشته، هر څه سم روان دي.

[۱۸٦] وروسته ښکاره شوه چې خليلزاد او ميلر د طالبانو مشرانو ته بلنه ورکړې وه چې کمپ ډيويډ ته ولاړ شي، او له ترون مخکې د امريکا له ولسمشر ټرمپ سره ووينې، مګر د طالبانو لخوا ورته ويل شوې وو چې د ترون تر لاسليک وروسته به امريکا ته د ولسمشر ټرمپ سره د خبرو او ناستې لپاره ولاړ شي.

## د امریکا کانګرس سپیناوی وغوښت

د سپټمبر پر ۵مه، رسنیو راپور ورکړ چې د امریکا متحده ایالاتو د کانګرس د بهرنیو اړیکو کمیټې له زلمي خلیلزاد څخه غوښتي چې د طالبانو سره د سولې د هوکړه لیک په اړه دې په یوې علني غونډې کې د کانګرس غړو ته توضیحات ورکړي.

د دغې کمیټې رئیس ایلیوټ ایل انجل د امریکا له بهرنیو چارو وزارت څخه غوښتي چې نور دې خلیلزاد د قطر غونډې ته نه لیږي او همدغه راز دې له طالبانو سره د سولې د هوکړه لیک په اړه د جزیاتو پټول بند کړي.

د کانګرس په لیک کې راغلي:"تر کومې چې زه "ایلیوټ" خبر یم دغه هوکړه لیک د ولسمشر–ټرمپ له ادارې او ولسمشر–غني سره شریک شوی دی. اوس د امریکا او افغانستان ولس هم حق لري چې د خپلو هیوادونو په تګلارو پوه شي. سره له دې چې تاسي (خلیلزاد) ډیر ناوخته دغه غونډې ته رابولو خو بیا هم ناوخته نه ده. ستاسي حضور او په دغه اړه وضاحت به د امریکا خلکو ته دا فرصت ورکړي چې د طالبانو په اړه د امریکا د پالیسۍ او طالبانو سره د سولې کولو سیاسي تهدیدونو په اړه پوه شي".



انځور: قطر کې له ملا برادر اخوند سره زموږ ناسته، نومبر ۲۰۱۹

## د تړون اړوند څرګندونې

د سپټمبر پر ٦مه، د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پمپیو له ویچیټا ایګل The Wichita Eagle ورځپاڼې سره مرکه کې وویل:"امریکا لیواله ده چې له طالبانو سره د سولې تړون لاسلیک کړي".

تر دې له مخه ټایمز ورځپاڼې راپور ورکړی و، چې پمپیو له طالبانو سره د تړون لاسلیک کېدو څخه انکار کړی دی، ځکه د پمپیو لخوا د تړون لاسلیک کېدل به طالبانو ته مشروعیت ورکړی.

په تازه مرکه کې پمپیو دغه ډول راپورونه رد کړل، ویې ویل چې امریکا به له طالبانو سره د سولې تړون لاسلیک کړي.

د امریکا خارجه وزیر مایک پمپیو په تازه څرګندونو کې وویل:" اوس د دې وخت را رسیدلی ترڅو مونږ افغانستان کې خپل نظامي ماموریت ختم کړو، د امریکا هدف افغانستان کې د القاعده له منځه وړل و او دغه کار کې امریکا کامیابه شوې او نور د پوځي حضور لپاره کوم دلیل نه لیدل کیږي."

د سپټمبر پر ٦مه، کورنیو او بهرنیو رسنیو راپور ورکړ چې د ګډ حکومت مشر ډاکټر غني به سبا واشنګټن ته ځي، او هلته به د سپټمبر پر ۸مه، په سپینه ماڼۍ کې له ولسمشر ټرمپ سره ګوري، چې بیا وروسته د حکومت سرچینو رسینو ته وویل چې د ډاکټر غني سفر امریکا ته ځنډول شوی[۱۸۷].

[۱۸۷] ولسمشر ټرمپ پلان درلود چې د سپټمبر پر ۸مه، طالبان او ډاکټر غني په کمپ ډیوډ کې وګوري، دارنګه د طالبانو او ډاکټرغني سره یو ځای د رسنیو په وړاندې څرګنده کړي چې امریکا د افغانستان د جګړې پای ته رسولو په موخه له طالبانو سره تړون کوي، او له افغان حکومت سره خپلو مرستو ته ژمن دی.
په دې کار سره امریکا غوښتل چې د طالبانو – امریکا ترمنځ تړون کې افغان حکومت هم دخیل وښیې.

د سپټمبر په ۷مه، د افغانستان، چین او پاکستان د بهرنیو چارو وزیران په اسلام اباد کې د سولې په بهیر او امنیتي همکاریو بحث لپاره سره را ټول شول.

پاکستاني چارواکو وویل چې په یاده غونډه کې به د افغان سولې په تړاو خپل لیدلوری له افغانستان او چین سره شریک کړي.

په قطر کې د طالبانو او امریکایانو ترمنځ هر څه سم روان و، پریکړه شوې وه چې په راتلونکې اونۍ کې به د امریکا د بهرنیو چارو وزیر د سولې تړون لاسلیک لپاره دوحې ته ورځي.

د طالبانو فرهنګي کمیسون هم د سولې تړون د لاسلیک د رسنیز پوښښ لپاره د فرهنګي کمیټې مرستیال مشر احمدالله وثیق او یو بل کس د سپټمبر په اوومه نیټه دوحې ته ولیږل.



انځور: د افغان –امریکایې پوهنتون استرالیایې پروفیسور ټیموتي، مطمئن او انس حقاني. دوحه –فبروري ۲۰۲۰

## له سولې ترړون د ټرمپ په شاکېدل

له طالبانو سره له دوو ورځو خبرو وروسته، د سپټمبر پر اوومه، د ټرمپ لخوا خیلزاد له قطر څخه واشنګټن ته وغوښتل شو.

ټرمپ غوښتل چې طالبان له ده سره په کمپ ډیویډ کې ووینې، په دې برخه کې خلیلزاد هم ټوله هڅه وکړه چې طالبان راضي کړي، او قطر هم خپل رول درلود، خو د طالبانو مشرتابه شورا پریکړه کړې وه چې کمپ ډیویډ ته به د دوی استازي ور نه شي.

دا هر څه څکه یو ناڅاپه وشول، ټرمپ کله هم داسې فکر نه و کړی چې د ده بلنه به د طالبانو لخوا رد کیږي.

د سپټمبر پر ۸مه، د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ درې یو له بل سره تړلې ټویټونه وکړل، ویې ویل چې د یکشنبې ورځ، د سپټمبر ۸مه، د طالبانو له مشرانو سره پلان شوې پټه ناسته او په جلا ډول د افغانستان له ولسمشر سره پټه ناسته په کمپ ډیویډ کې لغوه کوم، څکه طالبانو په کابل کې تیره ورځ (۵ سپټمبر) یو امریکایې پوځي او ۱۲ بې ګناه کسان ووژل.[۱۸۸]

ټرمپ پر خپل ټویټر ولیکل:" ټاکل شوې وه د یکشنبې په ورځ د کمپ ډیویډ په تفریح ځای کې د طالبانو د لوړ پوړو مشرانو او د افغانستان د جمهور رئیس سره

---

[۱۸۸] د سپټمبر پر ۵مه، د کابل ښار شش درک سیمه کې پر بهرنیو پوځیانو د طالبانو لخوا موټر بم برید وشو، چې پایله کې یې امریکا ومنله چې یو پوځي یې وژل شو.
رسنیو راپور ورکړ چې د برید له امله یو امریکایي سرتیري، د ناټو ځواکونو یو رومانیایي سرتیری او لس افغان ملکي وګړي ووژل شول او ۴۲ تنه ټپیان شول.
طالبانو د برید پړه پر غاړه واخیستله او د طالبانو ویاند ذبیح الله مجاهد پر خپل ټویټر ولیکل:"ټن لس بجې د کابل ښار ۹مه حوزه کې د کابل اداري د استخباراتو د ریاست چهل په نظام قراول کی د بهرنیو اشغالګرو په هغه قطار فدایي برید وشو چې دغه ریاست ته داخلیده، ۳ لنډکروزر موټر بشپړ ویجاړ شول، ۱۲ بهرني اشغالګر او ۸ تنه د کابل اداري د ملي امنیت په نامه عسکر ووژل شول".

جلا جلا په پټه توګه ووینم، دوی همدا نن شپه امریکا ته راتلل، متاسفانه د طالبانو ډلې د کاذب فشار راوړلو په خاطر په کابل کې د یو برید مسولیت ومانه چې په هغه کې زمونږ یو ستر سرتیری او ۱۱ تنه نور ووژل شول.

ما سمدستي دا لېدنه لغوه کړه، او د سولې مذاکرات مې ودرول، څه ډول کسان بیشمیره خلک په ظاهره د خپلو چانه وهلو د موقف د قوي کولو لپاره وژني؟

دوی (طالبانو) په کابل کې په وروستي برید سره د خپلو چانه وهلو موقف غښتلی نه بلکه "خراب" کړ.

که چیري هغوی(طالبان) د سولې د دې مهمو خبرو په جریان کي پر اوربند کولو باندي موافقه نه سي کولای، او حتی د دې توان لري چي۱۲ تنه بې ګناه خلګ ووژني، نو ښایي هغوی د دې توان هم و نه لري چي د سولې یوه ګټوره او با مفهومه هوکړه لاسلیک کړي. هغوی (طالبان) د څو نورو لسیزو لپاره جګړه کول غواړي."

په کومه ورځ چې طالبانو په شش درک کې برید وکړ، امریکایې پوځي یې وواژه، په همهغه ورځ، په افغانستان کې د امریکایې / ناټو قواوو عمومي قومندان جنرال سکاټ میلر په قطر کې له طالبانو سره ولېدل، او نږدې ۹نیم ساعته خبرې یې یو له بل سره وکړې، مګر د جنرال میلر او خلیلزاد له خوا له طالبانو سره د کابل برید په اړه دا ډول اندیښنه نه وه شریکه شوې.

د سپټمبر پر ۷مه، خلیلزاد، جنرال میلر او ملا برادر اخوند قطر هیواد د بهرنیو چارو وزیر سره په میلمستیا کې ګډون وکړ.

ښکاري چې کله طالبانو د ټرمپ بلنه رد کړه، ټرمپ غوسه شو، او پرته له دې چې له خلیلزاد او یا پمپیو سره مشوره وکړي، د غوسې له امله یې د سپټمبر پر ۸مه، پورته ټویټونه وکړل. د ټرمپ به په تصور کې نه راګرځېدل چې طالبان دې کمپ ډېویډ ته د هغه بلنه رد کړي، په داسي حال چې ډاکټر غني خپل ټول چمتووالی کمپ ډېویډ ته د ورتګ نیولی و.
ټرمپ غوښتل چې امریکایې ولس او نړۍ ته وښیې چې کولای شي طالبان او ډاکټر غني په یو ځای کې کینوي او له افغانستان څخه د خپلو پوځیانو پریکړه وکړي.

## ولې طالبانو کمپ ډېوېډ ته له تګه نټه وکړه؟

کیدای شي چې طالبانو به د لاندي لاملونو له کبله نه وي غوښتي چې کمپ ډېوېډ ته ولاړ شي.

۱ – داچې راپور ورکول شو چې د شنبې ورځ به ډاکټر غني واشنګټن ته ځي، بیرته د هغه سفر وځنډول شو، او په عجله خلیلزاد قطر ته ولاړ، کیدای شي طالبانو به نه وي منلي چې واشنګټن ته ولاړ شي او هلته له ټرمپ سره وګوري.

۲ – ممکن طالبانو به ښه ګڼلې وه چې له ټرمپ سره کوم بل هیواد کې وګوري، او دا ممکن وه چې ټرمپ هم په تړون لاسلیک وکړي، ځکه خلیلزاد هم اشاره ورته کړي وه.

۳ – طالبانو به نه غوښتل چې په یو وخت کې په یوه ورځ او یوه نیټه، د طالبانو او امریکا ترمنځ د سولې تړون لاسلیک سره هم مهاله په همدې ورځ په بل اطاق کې د امریکا او افغان حکومت تر منځ ګډه اعلامیه هم لاسلیک شي، چې امریکا همداسي یو پلان درلود.

که په یوه ورځ د طالبانو- امریکا ترمنځ تړون، او بل خوا د امریکا – افغان حکومت ترمنځ اعلامیه لاسلیک شوې وای، بیا نو امریکا ویل او په خپلو رسمي یادښتونو او تاریخې پاڼو کې به یې لیکل چې  د افغانستان د مشروع حکومت په غوښتنه خپل پوځیان له افغانستان څخه  وباسي. له همدې امله به طالبانو نه وي منلي چې امریکا کې له ټرمپ سره لیدنه وکړي.

لنډیز: کیدای شي طالبانو د امریکا تګ ته زړه نه وي ښه کړی، او ټرمپ همدې کار په غوسه کړي وي. ټرمپ یوازې د مجلس د لغوه کېدو ویلي، او د خبرو د ځنډ، د مذاکراتو لغوه کېدل نه دي ویل شوي، کیدای شي سپینه ماڼې پر دي بیا ځل بحثونه وکړي.

## د سپټمبر ۸مه

موږ په دې تمه شیبې شمیرلې چې کله به د تړون د لاسلیک نیته او ځای اعلان شي، زه (لیکوال) ډاډه وم چې هر څه وروستي شوې، او د تړون د لاسلیک ورځې او شیبې ډیرې را نږدې شوې.

د سپټمبر ۸مه، ځورونکی سهار و، له معمول سره سم، د سهار له لمانځه وروسته، غوښتل مې د "طالبان په جاپان کې" کتاب سمونې په کمپیوټر کې وکړم، شاوخوا اته بجې وې چې پر ټویټر مې د ټرمپ ټویټ تر سترګو شو.

د ټرمپ ټویټ لوستلو سره یو ډول بې هوشه شوم، هیڅ نه پوهیدم چې څه وکړم، د ژور خفګان جوپه را باندې راغله، دومره خفګان، چې نږدې لس دقیقې د میز شاته په چورتونو کې ډوب ناست وم، نه پوهیدم چې څه وکړم، د کتاب ایډیټ نور پاتې شو، او د هیڅ کومې رسنۍ راپور مې نه شو کتلای چې څه پیښه شوې.

فکر را سره پیدا شو، زه (لیکوال) چې د سولې خبرو له جریان څخه کیدای شي تر ډیرو هیوادوالو ډیر خبر یم، چې پر ما دغه ناوړه خبر دومره بد تاثیر وکړ، دا به پر نورو ځوانانو او هیوادوالو څومره بد تاثیر ولري.

نه پوهیدم چې څه ولیکم، مګر دا مې د ځان مسؤلیت وګاڼه چې موضوع ته له بلې زاویې وګورم، او دا ممکن نه ده چې د یوه امریکایې پوځي پر وژنه دې ټرمپ دومره خپه او مذاکرات دې وځنډوي.

داچې زه د طالبانو له طبیعت سره په نسبې ډول بلد یم، ژر مې په فکر کې راغلل چې کیدای شي طالبانو به نه وي منلي چې کمپ ډیویډ ته ورشي، نو له همدې امله به ټرمپ په غوسه شوي او د سولې مذاکراتو د ځند پریکړه به یې کړې وي.

ومې غوښتل چې د یادې موضوع په اړه خپل فکر تر نورو ورسوم، کله چې ما فیسبوک خلاص کړ، په همدې ورځ زه د ۳۰ ورځو له پاره له څرګندونو په لیکه کولو څخه بند شوی وم.

هغه مهال په افغانستان کې ډېرى ځوانانو ټويټر نه کاراوه، پر ټويټر مې په انګريزي او پښتو لاندې خبرې وليکلې:

لږ انتظار به وکړو، هر څه به روښانه شي، ټرمپ ولي غوسه شوى؟

۱ – داچې راپور ورکول شو چې د شنبې ورځ به ډاکټر غني واشنګټن ته ځي، بيرته د هغه سفر وځنډول شو، او په بېړه خليلزاد قطر ته ولاړ، کيداى شي طالبانو به نه وي منلي چې واشنګټن ته ولاړ شي او هلته له ټرمپ سره وګوري.

۲- کيداى شي چې طالبانو به ښه ګڼلې وه چې له ټرمپ سره کوم بل هيواد کې وګوري، او دا ممکن وه چې ټرمپ هم په تړون لاسليک وکړي، ځکه خليلزاد هم اشاره ورته کړې وه.

۳ – طالبانو به نه غوښتل چې په يو وخت کې په يوه ورځ او يوه نيټه، د طالبانو او امريکا ترمنځ د سولې تړون لاسليک سره هم مهاله په همدې ورځ په بل اطاق کې د امريکا او افغان حکومت تر منځ ګډه اعلاميه هم لاسليک شي، چې کيداى شي امريکا به همداسې يو پلان درلود.

که په يوه ورځ د طالبانو-امريکا ترمنځ تړون، او بل خوا د امريکا –افغان حکومت ترمنځ اعلاميه لاسليک شوې واى، بيا نو امريکا ويل او په خپلو رسمي يادښتونو او تاريخې پاڼو کې به يې ليکل چې د افغانستان د مشروع حکومت په غوښتنه خپل پوځيان وباسي. له همدې کبله به طالبانو نه وي منلي چې امريکا کې له ټرمپ سره ليدنه وکړي.

لنډيز: کيداى شي طالبانو د امريکا تګ ته زړه نه وي ښه کړى، او ټرمپ همدې کار په غوسه کړي وي.

همدارنګه ما (ليکوال) پر ټويټر وليکل:" د امريکا عسکر ۳ ورځې مخکې ووژل شو، ټرمپ اوس ټويټ وکړ .اصلي خبره دا وه چې طالبانو ونه غوښتل چې امريکا ته ورشي او په سپينه ماڼۍ کې له ټرمپ سره وګوري، طالبانو به غوښتل کوم دريم هيواد کې ور سره وګوري. ټرمپ به وروسته خپله غوسه کنټرول کړي.

په هغه ورځ چې کابل کې امریکایې پوځي ووژل شو، قومندان یې جنرال میلر په دوحه کې له طالبانو سره غونډه وکړه، په سبا طالبانو، میلر او خلیلزاد د قطر بهرنیو چارو وزیر سره د سولې تړون لاسلیک مراسمو باندې خبرې کولې، څلور ورځې وروسته ټرمپ ولې یو پوځي یادوي؟ امریکا ته له تګه د طالبانو نټه وه چې ټرمپ یې غوسه کړی.

د افغانانو دود دی، تر څو یې له دښمن سره جوړه نه وي شوی، د دښمن کور ته نه ورځي، جوړه هم په دریم کور/ځای کې ور سره کوي .له روغې وروسته دښمنان یو بل ته ډوډۍ کوي او د یو بل کور ته ورځي.

د سولې خبرو دریدو سره سم، ځینو رسنیو طالبان بیا ځل بغاوت کونکې ملیشې یادې کړي [189]. "

د سپټمبر پر ۹مه، هم ما (لیکوال) ځینې خبرې پر ټویټر ولیکلې:" طالبانو پر امریکا بل ریکارډ هم جوړ کړ، لومړی داچې اسامه بن لادین یې امریکایې/ناټو پوځیانو ته د هغوی د فشار په نتیجه کې ونه سپاره، دویم داچې امریکا مجبوراً له طالبانو سره مخامخ خبرې پیل کړي، او دریم داچې طالبانو کمپ ډیویډ ته د ولسمشر ټرمپ بلنه ونه منله.

ښه شو چې د سولې دا ارزښتمن تړون د کمپ ډیویډ په نوم، ونومول نه شو.

که طالبانو کمپ ډیویډ کې د سولې پر تړون وروستۍ موافقه له ټرمپ سره کړې وای؛ پرته له شکه دا به د کمپ ډیویډ سولې تړون په نوم نومول کیدی. کمپ ډیویډ کې د مصر ـ اسرایلو او فلسطین ـ اسرایلو ډیر بدنام تړونونه شوی ."

او د سپټمبر پر ۱۰مه، ما (لیکوال) ولیکل:" که طالبانو کمپ ډیویډ که د سولې تړون له ټرمپ سره لاسلیک کړی وای، دې کړنې به د طالبانو ـ روسیې، طالبانو ـ چین،

[189] په همدې ورځ په اریانا نیوز ټلویزون کې طالبانو ته د بغاوت کونکي ملیشې کلِمه وکارول شوه.

طالبانو ـ ایران، طالبانو ـ پاکستان، طالبانو ـ قطر او طالبانو او ځینې نورو هیوادو پر سیاسي او ډیپلوماټیکو اړیکو منفي او ناوړه اغیز کړی وای.

خلیلزاد به ډیر ژر له ټرمپ سره ووینی، له ټرمپ څخه به وغواړي چې یا خو د سولې خبرې بیرته پیل، او یا داچې خلیلزاد به د سولې بهیر کې د امریکا بهرنیو چارو وزارت ځانګړي استازې له دندې خپله استعفی وړاندي کوي."

د قطر سیاسي دفتر له غړو سره مې اړیکه ونیوله، د هغوی لخوا ویل کېدل چې تر دې مهاله موضوع روښانه نه ده، او خلیلزاد واشنګټن ته پر لاره دی، هغه هم نه پوهیږي چې ولې ټرمپ دغه ډول ټویټ کړی.

د قطر سیاسي دفتر غړو پر دې فکر کاوه چې په سختو او یا نرمو کلِماتو د ټرمپ د ټویټ ځواب ووایې.

مازیګر مهال د قطر دفتر یوه مهم غړي سره زما اړیکه ونیول شوه، وویل: "موږ نه پوهیدو چې خلک (طالبان او ولس) به اوس څه وایې، اندیښنه را سره وه چې د مذاکراتو د ځنډ پړه به د قطر سیاسي دفتر پر غړو واچول شي، او دا به د سیاسي دفتر په راتلونکې هم ناوړه اغیز وکړي، خو وروسته کرار کرار زموږ اندیښنه هغه وخت کمه شوه، چې ځینو ولیکل چې کمپ ډیوید ته د طالبانو تګ د امریکا په ګټه، او د افغان ولس په زیان و. "

د قطر سیاسي دفتر غړي راته وویل: "خلیلزاد په مسلسل ډول زموږ له ملګرو سره اړیکې نیسي او غوښتنه کوي چې د ټرمپ د ټویټ په اړه سخت  غبرګون ونه ښیاست، زه (خلیلزاد) واشنګټن ته پر لاره یم، او هڅه کوم چې د ستونزې پر اصلي لامل ځان پوه کړم، خو که تاسي هم سختې څرګندونې وکړئ او د مذاکراتو پای یا ځنډ اعلان کړئ، نو دا به د سولې پر روان بهیر ډیر ناوړه اغیز وکړي."

له همدې کبله و چې د طالبانو غبرګون د ورځې په اوږدو کې ډیر ناوخته او نرم و.

## د ټرمپ ټویټ ته غبرگونونه

د ټرمپ د ټویټ او څرگندونو اړوند افغان حکومت مثبت نظر درلود، یو ځل بیا یې ټینگار درلود چې ټاکنې اړینې او پر سوله لومړیتوب لري، افغان حکومت د ټرمپ تر څرگندونو څو ساعته وروسته لاندې اعلامیه خپره کړه.

## د سولې د خبرو اترو په اړه د افغانستان اسلامي جمهوري دولت مطبوعاتي اعلامیه

۱۷ - وږي - ۱۳۹۸

ارگ، کابل: د افغانستان خلک او دولت د باعزته او تلپاتې سولې غوښتونکي او د سولې په تړاو ټولو هلو ځلو ته ژمن دي او د سولې په روانه پروسه کې د رامنځته شوي خنډ لامل د افغانانو پر وړاندې د طالبانو روانه جگړه او تاوتریخوالی گڼي. موږ تل ټینگار کړی چې واقعي سوله هله راتلی شي چې طالبان افغان وژنه بس کړي، اوربند ته غاړه کېږدي او افغان دولت سره مخامخ خبرو ته حاضر شي.

د افغانستان دولت د سولې د طراح، مدافع او تطبیقوونکي په توگه د سولې مشورتي لویې جرگې پرېکړو ته درناوی کوي او د دې جرگې له خوا د سولې لپاره د افغانستان د خلکو پر محوریت او د افغان دولت پر مالکیت، د وړاندې شوې کرښې تعقیب خپل مسئولیت گڼي[۱۹۰].

[۱۹۰] د سولې مشورتي لویه جرگه د ۱۳۹۸ کال د غویي د میاشتې له ۹مې تر ۱۳مې نېټې (۲۹ اپریل تر ۳ مئ ۲۰۱۹) پورې، د استاد سیاف په ریاست، په کابل کې د لویې جرگې په خېمه کې د پنځو ورځو لپاره جوړه شوه، چې په ۲۳مادو کې یې پرېکړه لیک خپور کړ او له طالبانو یې وغوښتل چې له تاوتریخوالي لاس واخلي، اوربند وکړي او له افغان حکومت سره مخامخ خبرې ژر پیل کړي.

د افغانستان دولت د سولې په تړاو د خپلو متحدینو صادقانه هڅې ستایي او ژمن دی چې په راتلونکي کې د امریکا متحده ایالاتو او نورو متحدینو سره د تلپاتې او باعزته سولې په راوستو کې په ګډه کار وکړي.

افغان دولت د روان کال د میزان په ٦مه نېټه د جمهوري ریاست پر ټاکنو او له دې لارې د یوه قوي، قانوني او مشروع حکومت په رامنځته کېدو ټینګار کوي، تر څو د سولې روانه پروسه په بشپړ دقت او تدبیر مخ ته یوسي.

د ټرمپ د څرګندونو په غبرګون کې، پاکستان کې د چین، افغانستان او پاکستان له درې اړخیزه ناستې وروسته، د چین د بهرنیو چارو وزیر وانګ یې له امریکا وغوښتل چې له طالبانو سره د سولې مذاکراتو ته دوام ورکړي.

وانګ یې وویل چې امریکا ته په کار ده چې له افغانستان څخه په منظم او مسؤلانه ډول خپل پوځیان وباسي.

ملګرو ملتونو هم د ټرمپ د څرګندونو په غبرګون کې د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د مخامخ خبرو غوښتنه وکړه.

د ملګرو ملتونو سرمنشي انتونیو ګوتېرېش وویل:" طالبان او نورې ترهګرې ډلې دې د ټاکنو کارکوونکي او رایه ورکوونکي نه په نښه کوي."

اجرائیه رئیس ډاکټر عبدالله عبدالله هم غبرګون وښود، د اجرائیه ریاست څخه لاندې اعلامیه خپره شوه:

**د امریکا د ولسمشر د پریکړې په اړه د اجرائیه ریاست اعلامیه**

تلپاتې او باعزته سوله د افغان ولس اساسي اړتیا او غوښتنه ده، موږ تل د افغانانو په مالکیت د باعزته، عادلانه او تلپاتې سولې لپاره د نړیوالو متحدینو او په ځانګړې ډول د متحده ایالاتو له هڅو څخه ملاتړ کړی.

موږ په ډیوېډ کمپ کې جوړېدونکې ناستې ته د یو ښه فرصت په سترګه ګورو، له بده مرغه د افغان ولس د غوښتنو خلاف؛ د سولې دغه هڅې او تمې د طالبانو له لوري د تاوتریخوالي او ترهګریزو حملو د زیاتوالي او نورو لاملونو له کبله سبوتاژ شوې.

موږ د تېر په څیر، د باعزته، عادلانه او تلپاتې سولې لپاره ژمن یو، د افغانستان د اوسنۍ شخړې حل د افغانانو په مشرۍ او مالکیت په رښتونې او مخامخ مذاکراتو کې ګورو، همدارنګه د نړیوالو متحدینو د هڅو او مرستو څخه هرکلی کوو.

مخکینې ولسمشر حامد کرزي د ټرمپ د څرګندونو په غبرګون کې لاندي اعلامیه خپره کړه:

**سوله د افغانانو ستره آرزو ده او تر بل هر څه لومړیتوب لري**

کله چې د امریکا متحده ایالاتو او د طالبانو اسلامي تحریک ترمنځ د سولې په نامه هڅې پیل شوې، دغه اقدام د افغانستان د خلکو له تود هرکلي سره مخ شو، خو اوس چې دغه خبرې له خنډ سره مخ شوې دا په دې معنی نه ده چې د سولې لپاره دې افغاني هڅې هم اغېزمنې شي بلکې برعکس دغه هڅې باید تر بل هر وخته ګړندۍ شي. په همدې منظور په هېواد کې د پردو ګټو لپاره په روانه جګړه کې له افغاني ښکیلو خواوو غواړم چې له جګړې لاس واخلي او په پوره صداقت او هوښیارۍ سره د بین الافغاني مذاکراتو له لارې د تل پاتې او سرتاسري سولې د ټینګښت لپاره خپلې هڅې لا ګړندۍ کړي. د سیمې له سترو هېوادونو هم غواړم چې د سولې په راوستو کې د افغانستان له خلکو سره نه یوازې خپلو همکاریو ته دوام ورکړي بلکې سرعت هم ور وبخښي .

همداراز هیله لرم، چې د طالبانو اسلامي تحریک او امریکا متحده ایالاتو ترمنځ د سولې خبرې یو ځل بیا، له شفافیت او وضاحت سره، پیل او په افغانستان کې د دایمی سولې او ثبات سبب شي

## د ټرمپ څرګندونو ته د طالبانو غبرګون

طالبانو هم د سپټمبر پر ۸مه، مازیګر ۴:۲۱ د ټرمپ د څرګندونو په غبرګون کې لاندې اعلامیه خپره کړه:

**د مذاکراتو په اړه د ډونالد ټرمپ د ټویټ په هکله د افغانستان د اسلامي امارت اعلامیه**

موږ له امریکایې مذاکراتي ټیم سره ګټور مذاکرات درلودل او توافق نامه نهایې شوه، د امریکا مذاکراتي ټیم تر پرونه پورې له شویو پرمختګونو راضي و او خبرې مو په ښه فضا کې پای ته ورسولې، دواړه لورې د توافقنامې د اعلان او لاس لیک لپاره په تیاریو بوخت وو.

د توافقنامې تر لاسلیک او اعلان وروسته مو د رواني سپټمبر میاشتې **۲۳** نېټه د بین الافغاني مذاکراتو د ناستې لومړۍ ورځ ټاکلې وه.

د سیمې او نړۍ هیوادونو او نړیوالو سازمانونو هم د دې پروسې ملا تړ کړی وو.

اوس چې د امریکا جمهور رئیس ټرمپ له اسلامي امارت سره د مذاکراتو د بهیر درول اعلان کړل، دا به تر هر چا ډېر تاوان په خپله امریکا ته ورسوي، اعتبار به یې زیانمن، د سولې ضد دریځ به یې نور هم نړۍ ته ښکاره، د سر او مال زیان به یې زیات او په سیاسي تعامل کې به یې کردار متزلزل معرفي کړي.

د مذاکراتو په جاري ساتلو سره اسلامي امارت نړۍ ته ثابته کړه چې جګړه د نورو لخوا پر موږ تپل شوې، او که د جګړې پر ځای د تفاهم لاره خپله شي، موږ تر پایه ورته ژمن یو.

د توافقنامې تر لاسلیک مخکې په یوه برید عکس العمل ښودل، نه د حوصلې او نه هم د کومې تجربې ښودنه کوي، په داسې حال کې چې تر یاد برید لیږ وړاندې متحده ایالاتو او داخلي ملاتړو یې په ګڼو بریدونو کې سلګونه افغانان په شهادت ورسول او شتمنۍ یې د اور خوراک کړې.

د امریکا متحده ایالاتو ته د جمهور رئیس ټرمپ له لوري د ورتګ بلنه ډاکټر زلمی خلیلزاد د اګسټ د میاشتې په ورستیو کې راکړه، موږ یاد سفر په دوحه کې د توافقنامې تر لاسلیک پورې ځنډولی و.

اسلامي امارت پخه پالیسي او غیر متزلزل دریځ لري، موږ شل کاله مخکې هم د تفاهم بږغ کړی و نن مو هم هغه دریځ دی او باور لرو چې امریکایې جهت به بیرته همدې دریځ ته راځي.

زموږ د تیرو اتلسو کلونو مبارزې به امریکا ته ثابته کړې وي چې موږ بې له دې چې د هیواد اشغال مو په ټولیزه توګه پای ته ونه رسیږي او افغانان خپلې خوښې ته پرېښودل شي په بل هیڅ شي نه قانع کیږو، د همدې ستر هدف لپاره به روان جهاد ته دوام ورکوو او په نهایي بري باندې کلک باور لرو. ان شاءالله و ماذلک علی الله بعزیز

د افغانستان اسلامي امارت

۱۴۴۱/۱/۹هـ ق

۱۳۹۸/٦/۱۷هـ ش ــ ۸/۹/۲۰۱۹م

په همدې ورځ د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پمپیو له سي ان ان ټلویزون سره مرکه کې وویل:"امریکا لیواله ده چې له طالبانو سره د سولې تړون وکړي، مګر طالبان باید وښیي چې دوی د سولې لپاره ژمن او رښتیني دي."

پاکستان هم غبرګون وښود، د سپټمبر پر ۹مه، د پاکستان بهرنیو چارو وزارت خبربانه کې لیکل شوي و:"طالبانو او امریکا ته په کار ده چې د سولې خبرې ونه دروي، د افغانستان ستونزه پوځي حل نه لري، باید سیاسي حل لاره ورته پیدا شي."

د سپټمبر پر ۹مه، د ایران بهرنیو چارو وزیر جواد ظریف وویل:"په افغانستان کې د روان حالت په اړه موږ اندیښنه لرو، له دې حالت څخه به بهرنیان د خپلو ګټو لپاره استفاده وکړي. په افغانستان کې به د جګړې او وینو بهېدو نوی او بل پړاو پیل شي، چې دا به د هیچا په ګټه هم نه وي.

امریکا دي په افغانتسان کې خپله ماتې ومني او له دي هیواده دي خپل پوځیان وباسي. موږ د افغان جګړې د ختم لپاره د سیاسي حل ملاتړ او په دي برخه کې مرستې ته چمتو یو."

په کابل کې د بریتانیا سفارت په خبرپاڼه کې لیکل شوې و:"طالبانو ته په کار ده چې وښیې چې دوی د سولې تړون ته ژمن پاتې کیږي، ځکه طالبانو د سولې خبرو سره یوځای جګړې ته زور ورکړ او بریدونه یې زیات کړل. که طالبان د سولې هوکړې ته ژمن پاتې شي، بیا نو د سولې خبرې مثبت پایلې هم درلودای شي."

د افغانستان لپاره د روسیې د ولسمشر پوټین ځانګړي استازي ضمیر کابلوف د سپټمبر پر ۱۰مه وویل:"د امریکا له لوري د سولې مذاکاراتو درول منفي عمل دی، بلخوا د مایک پمپیو څرګندونې هیله بښونکي دي.

روسیه د دې ملاتړ کوي چې د افغانستان روانه جګړه د خبرو له لاري پای ته ورسیږي، مګر د ټرمپ څرګندونې سیاسي هڅې نفي کوي.

موږ هڅه کوو چې له امریکا سره د افغانستان پر حالاتو او سولې ته رسېدو باندي خبرې وکړو، زه هیله من یم چې د طالبانو او امریکا ترمنځ به د سولې مذاکرات بیرته پېل شي."

د روسیې د بهرنیو چارو وزارت ویاندې ماریا زاخارووا د سپټمبر۱۲مه، د خبرې کنفرانس پرمهال له دواړو لورو د یادو مذاکراتو د بېرته پیلولو غوښتنه وکړه.

د روسیې د بهرنیو چارو ویاندې د طالبانو له هغه بیانه هرکلی وکړ، چې له امریکا سره یې د یادو مذاکراتو د بېرته پیلولو غوښتنه کړې وه.

زاخارووا وویل:"دواړه اړخونه هڅوو، چې هر څومره ژر کېدای شي، د سولې هوکړې ته د رسېدو په هدف مذاکرات پیل کړي، په ورته وخت کې په دې باور یو، چې له افغانستان څخه د بهرنیو سرتېرو وتل د تلپاتې سولې له ټینګېدو سره مرسته کوي".

وروسته د طالبانو له لوري هم داسي څرګندونې وشوې چې دوی کمپ ډېوډ کې له ټرمپ سره د لیدو نته پر ځای او ښه پریکړه وه، بلخوا امریکایې سیاستوالو هم داسي څرګندونې وکړي چې له طالبانو سره په کمپ ډیویډ کې د ولسمشر ټرمپ لخوا د غونډې لغوه کول پر ځای او ښه پریکړه وه[191].

طالبانو ومنله چې دوی له امریکایې لوري سره هوکړه کړي وه چې د سولې تړون تر لاسلیک وروسته به په کمپ ډیویډ کې له ولسمشر ټرمپ سره غونډه کوي.

د سپټمبر پر ۹مه، د طالبانو د قطر سیاسي دفتر ویاند سهیل شاهین د الجزیرې ټلویزون سره په خبرو کې وویل:"موږ به هغه وخت اوربند وکړو چې امریکا پر طالبانو خپل بریدون بند او د سولې تړون لاسلیک شي.

موږ کمپ ډیویډ ته د امریکا بلنه منلې وه، مګر د سولې تړون تر لاسلیک وروسته مو غوښتل چې له ټرمپ سره وګورو.

که امریکایي پوځیان له افغانستان څخه ووځي، ټول افغانان به په ګډه د هېواد د ابادۍ لپاره کار کوي".

د سپټمبر پر ۹مه، د ملي امنیت د نوي سرپرست احمدضیا سراج د معرفۍ کیدو غونډې ته د ګډ حکومت مشر ډاکټر غني وویل:"موږ د سولې په اړه ملي، سیمه ییزه او بین المللي اجماع رامنځته کړه او شرایط مو ورته برابر کړل، خو طالبانو ناسم فکر وکړ، هیڅکله دا ملت په زور نه تسلیمېږي.

که چېرې موږ د حقایقو په رڼا کې په عزت خبرې کوو، د دې معنا کمزوري نه ده، زموږ لاره واضح ده. موږ پایداره او باعزته سوله انتخاب کړې او بېرته پر شا نه ګرځو.

---

[191] طالبانو له دي امله کمپ ډیویډ ته ورتګ سم نه ګاڼه چې د دښمن تر ټولو لوی د پوځې ځواک اډه او د امریکا د نظامي قوت ښودنه همدلته کیږي.

ځینې امریکایې سیاستوالو له دي امله د طالبانو ورتګ کمپ ډیویډ ته سم نه ګاڼه چې لا هم له امریکا سره طالبان جګړه کوي، او ځینې امریکایان د ترهګرو په سترګه ورته ګوري، نو کمپ ډیویډ ته د ترهګرو ورتګ یې مناسب نه باله.

د سولې مالکین، طرحه کوونکي او عملي کوونکي افغانان دي. له ما چې هر ډول قرباني غواړئ حاضر یم، خو د افغانستان اسلامي جمهوریت د معاملې وړ نه دی او همدا راز اساسي قانون او د دې هیواد د ښځو او نارینه ؤ اساسي حقونه د معاملې وړ نه دي.

مذاکرات پرته له اوربنده، ممکن نه دي. مونږ مذاکراتو ته تیار یو، اما که طالبان فکر کوي چې مونږ ډاروي، ځواب به یې دا زمریان (افغان پوځیان) درکړي.

یو ازاد ملت باید تل په ازاد ډول خپل تصمیمونه ونیسي. موږ مختلف نظامونه تجربه کړل، په میراث د راپاتې څلویښت کلن بحران د حل یوازینی لار د اساسي قانون تطبیق او د ټاکنو ترسره کېدل دي".

د سپټمبر پر ۹مه، د ګڼ حکومت د مشر ویاند صدیق صدیقي سي این این ټلویزون ته وویل:"موږ په دې باور یو چې د ولسمشر ټرمپ پرېکړه د هغه توافق په اړه د افغانستان د خلکو د اندېښنو په اړه یو غبرګون و چې له نیمګړتیاوو ډک دی او یا د امتیاز اخیستلو لپاره یوه معامله او هم د هغې ډلې لپاره چې په تاوتریخوالي کې ښکېل ده، د نفوذ زمینه برابروي. زموږ باور دا دی چې دا پرېکړه زموږ د اندېښنو یو قوي درک و چې موږ له ډېرو امریکایي چارواکو سره شریک کړی دی.

د طالبانو له لوري د تاوتریخوالي د کمولو په برخه کې هېڅ ډول ژمنه نه‌شته، ځکه نو موږ چې څه غواړو هغه د طالبانو له لوري بېړنی اوربند دی."

د سپټمبر پر ۹مه، د طالبانو د فرهنګې کمیټې له مرستیال مشر ملا احمد الله وثیق سره د طالبانو د قطر سیاسي دفتر ویاند سهیل شاهین مرکه وکړه، موږ یې مهم ټکې دلته را اخلو:

سهیل شاهین وویل:"توافقنامه او د تطبیق اړوند ټول مسایل پکې نهایي شوې وو، د دواړو مذاکراتي ډلو د مشرانو لخوا په نښه، یوه کاپي یې د قطر هیواد چارواکو، یوه کاپې له طالب او یوه کاپي له امریکایې جهت سره ده.

توافق وشو چې د سولې تړون د توافقنامې اعلان به د کوربه (قطر) هیواد له خوا کیږي، موږ منتظر وو چې د سولې تړون د لاسلیک نیټه د قطر هیواد لخوا اعلان شي، خو یو ناڅاپه د ټرمپ لخوا د خبرو د درېدو اړوند ټویټونه موږ ته هم د حیرانتیا وړ وو.

د ملا برادر اخوند، جنرال میلر او خلیلزاد او د مذاکراتي ډلو د نورو غړو ترمنځ وروستیو دوه ورځنیو (٥او ٦ ډسمبر) خبرو کې هیڅ داسي نښې او اثار نه لېدل کیده چې امریکا به دا ډول اقدام وکړي او یا به کومه بله غوښتنه ولري.

دا چې امریکا وایې چې د طالبانو لخوا حملې زیاتې شوې، دا هیڅ مواجه دلیل نه دی، اوربند خو نه دی شوی، او نه هم تړون لاسلیک شوی چې تطبیق او عملې کول یې پیل شي.

بدخشان، کندز، فراه، هلمند او بېلابېلو ولایتونو کې دوی (امریکا او افغان حکومت) بریدونه او شپني عملیات کړي، تر څو د طالبانو عکس العمل را وپاروي.

امریکا ته د تګ بلنه، موږ ته د اګسټ میاشتې په وروستیو ورځو کې د خلیلزاد له لوري راکړل شوې وه، موږ د دوی بلنه ومنله، ورته مو وویل چې د سولې تړون نهایې شوی؛ دا به لاسلیک شي، څکه مراسمو ته د بېلابېلو هیوادو د بهرنیو چارو وزیران را بلل کیږي، او د تړون تر لاسلیک وروسته به موږ امریکا ته درشو.

زموږ او امریکایانو ترمنځ ژمنې د تړون په متن کي دي، او تړون لا نه و لاسلیک شوی چې تطبیق او عملي کېدل یې پېل شي، نو دا سمه نه ده چې امریکایان وایې چې طالبان پر خپلو ژمنو ولاړ نه دي.

د ا پوښتنه له امریکا په کار ده چې د سولې تړون نهایې شوی و، ولي دوی پر خپلو ژمنو وفا ونه کړه، په تړون عمل تر لاسلیک وروسته کیږي.

موږ عملاً ښودلې، افغان ولس او نړۍ ته معلومه ده چې موږ هر وخت پر خپلو ژمنو وفا او پر وعده یې عمل کړی، کومه خبره چې طالبان کوي، په رښتونې ډول یې کوي. بلخوا بیا دوی (امریکا او افغان حکومت) داسي تاریخ لري چې هر وخت له خپلو ژمنو په شا شوې، او وروستۍ بېلګه یې همدا د ټرمپ ټویټونه دي.

ترون کې دا شته چې بهرني پوځیان به په بشپړ ډول له افغانستان څخه وځي، او طالبان به په خپله خاوره کې چاته اجازه نه ورکوي چې امریکا او د هغوی متحدینو او نړۍ ته ګواښ وي.

موږ له امریکا سره د جګړې د کموالي هیڅ ډول ژمنه نه وه کړې، نظامي عملیات او شپنۍ چاپې لومړی دوی (حکومت او امریکا) په بېلابېلو ولایتو کې پیل کړې، بشپړې کورنۍ یې ووژلې، ماشومان او ښځې یې وژلې، کورونه یې خراب او د هغوی شخصي نقلیه وسایل یې هم له منځه وړي.

پمپیو په خپله وروستۍ مرکه کې ویلي چې دوی په یوه اونۍ کې زر تنه طالبان وژلي، په حقیقت کې دا ولسي خلک دي او دوی وژلي. طالبانو د دوی د همدې کړنو په جواب کې په ولایتونو او ولسوالیو حملې وکړې[۱۹۲].

د مذاکراتو په جریان کې د دوی (حکومت) لخوا په لوګر او زرمت، غزني او وردګو او بېلابېلو ځایو کې ظالمانه او وحشیانه پیښې وشوې، فکر کوم دوی غوښتل چې طالبان ورته عمل ته را وپاروي.

د افغانستان د مسئلې سولئیز حل زموږ پخوانۍ، شل کاله مخکې او اوسنی دریځ دی، امریکایانو ته مو هر وخت ویلي چې له سولئیزو لارو مسئله حل شي، اوس چې هوکړه لیک نهایي او موجود دی، غواړو چې مسئله حل شي، که امریکایان یې ونه غواړي، د جګړې د دوام مسؤلیت به د دوی په غاړه وي.

تمه ده چې امریکا پر خپل دریځ غور وکړي، که داسې ونه شي زموږ په نظر چې دا اوسنی دریځ د دوی په زیان دی.

د سیمې هیوادونه په دې برخه کې مثبت رول لوبولای شي، د افغانستان د جګړې ختم د افغانستان او سیمې لپاره په ګټه دی، زه د سیمې د هیوادونو (روسیې چین،

[۱۹۲] د سپټمبر پر ۹مه، بېلابېلو امریکایي خبرې رسنیو ته د امریکا د بهرنیو چارو وزیر وویل:"په تیرو لسو ورځو کې امریکایي پوځیانو تر ۱۰۰۰ زیات طالبان وژلي دي."

پاکستان او ایران) د څرګندونو هرکلی کوم چې دوی ویلي چې د افغانستان مسئله له سیاسي لارې باید حل شي.

د امریکا له مذاکراتي ډلې سره پخوا هم موږ اړیکې درلودلې، اوس مهال هم له هغوی سره اړیکې شته، او اړیکې نه دي قطع شوې، زموږ او دوی ترمنځ د ټرمپ له ټویټونو وروسته هم پیغامونه تبادله شوې، له دوی څخه مو د مسئلې په اړوند رسمي توضیحات غوښتي.

موږ د افغانستان مسئلې سولئیز حل غواړو، که نه وي، نو موږ عملاً د جګړې په ډګر کې شتون لرو، تیر ۱۹ کلونه مو جګړه کړې، غواړو د جګړې له لارې د افغانستان اشغال ختم او اسلامي نظام قایم کړو."

د سپټمبر پر ۹مه، د طالبانو د قطر سیاسي دفتر غړي شیخ سید رسول حلیم د ټرمپ د ټویټ دوه لاملونه ما (لیکوال) ته د پیغام د لارې په ګوته کړي وو.

"لومړی داچې پر ټرمپ د امریکا په داخل کې ډیر زیات فشار و، هغه فشار یې دفع او ودراوو، دویم داچې موږ (طالبانو) ته په لوړه کچه د ټرمپ لخوا بلنه راکړل شوه چې هلته ورشو، په تکرار سره یې وویل چې د تړون تر لاسلیک او اعلان مخکې ورشو، مګر طالبانو ونه منله، جواب دا وو چې د تړون تر لاسلیک او اعلان وروسته به په دې اړه موږ تصمیم نیسو، کیدای شي دا ډول جواب به د ټرمپ لپاره دردونکی و."

د سپټمبر پر ۱۰مه، په کابل کې د المان سفیر وویل:"د افغانستان جګړه یوازې د خبرو له لارې ختمیدای شي، موږ د سولې مذاکراتو له بهیر څخه خپل ملاتړ کړی. المان هیواد د بین الافغاني مذاکراتو پلوي دی او هیله لرو چې وکولای شو په دې برخه کې مرسته وکړو.

موږ هیله لرو چې ژر تر ژره بېرته د خبرو او مذاکراتو لړۍ پیل شي او په دې توګه دې په افغانستان کې اوږدې جګړې ته د پای ټکی کېښودل شي."

## سپینه ماڼۍ کې ټرمپ او د خبریالانو پوښتنې

د سپټمبر پر ۹مه، ټرمپ په سپینه ماڼۍ کې خبریالانو ته وویل:"له طالبانو سره د خبرو درولو وروسته، طالبان اوس وایي، چې لویه تېروتنه ترې شوې.

له طالبانو سره نور مذاکرات ختم دي. تر کوم ځایه چې زه پوهیږم/ اندېښنه لرم، دا خبرې ختمې شوې.

طالبانو په کابل کې ۱۲ کسان ووژل چې د سولې په خبرو کې خپل ځان برلاسي وساتي، دوی له ماسره دا (چل) نشي کولای.

ما په افغانستان کې د یوه ډېر غوره پوځي د وژنې، د ناټو د یو پوځي د وژنې او د نورو کسانو د وژنې له امله پرېکړه وکړه چې له طالبانو سره به نه گورم.

دا زما خپل فکر و چې له طالبانو سره په کمپ ډیویډ کې کې ووینم، ځکه مونږ په کمپ ډیویډ کې ( په تاریخي توگه) د خرابو او ښو خلکو سره مخکې هم لیدلي دي.

د افغانستان د جگړې ۱۹ کاله [۱۹۳] وشول خو هلته امریکایي پوځیانو د پولیسو رول درلود.

مونږ به په سم وخت کې (له افغانستان څخه) وځو."

د سپټمبر پر ۹مه، ولسمشر ټرمپ د افغانستان کشالې په اړه څو پرله پسې ټویټونه وکړل.

د امریکا ولسمشر ډونالد ټرمپ پر خپله ټویټر پاڼه لیکلي: "ډېر داسې ناسم راپورونه خپاره شوي چې کمپ ډېوېډ کې له طالبانو سره د لیدنې په  مسئله کې ما خپل مرستیال او سلاکاران له پامه غورځولي، دا رښتیا نه ده! زه تل دا فکر کوم چې ښه

[۱۹۳] ټرمپ او خلیلزاد په خپلو څرگندونو کې د افغانستان د جگړې ۱۹کلونه یادوي، مگر عملاً د جگړې ۱۸ کلونه (اکتوبر ۲۰۰۱ تر اکتوبر ۲۰۱۹) پوره کیږي.

ده لیدنه او خبرې وکړو، خو په دې مورد کې مې ښه وګڼله چې دا کار ونه‌کړم. متقلبې رسنۍ درواغ خپرولو ته لېواله دي.

سپینه ماڼۍ کې داسې هېڅ ګډوډي نشته، او ډیموکراټان په دې کارونو سره هېڅ کله هم د ۲۰۲۰ کال ولسمشرۍ ټاکنې نشي ګټلی"... .

"موږ په افغانستان کې د پولیس په څېر خدمت کړی، په داسې حال کې چې دا زموږ د ډېرو ښه سرتېرو، چې د ځمکې غوره ځواکونه دي[۱۹۴]، دنده نه وه. موږ په تېرو څلورو ورځو کې، خپل دښمن د تېرو ۱۰ کلونو په پرتله کلک وځاپه".

او له دې څلور ساعته وروسته ټرمپ لاندې ټویټ هم وکړ.

"تر کومه ځایه چې په ما پورې اړه لري، خبرې له منځه تللې دي. هغوی (طالبان) فکر کوي چې خلک وژني او ځان ته په خبرو کې غوره موقف اخلي. هغوی د یوه امریکایي سرتېري په ګډون ۱۲ تنه ووژل. دا کار زما سره نه شي کولای، ځکه هغسې چې زه پوهېږم، خبرې له‌منځه تللې دي".

مایک پمپیو له اېن بي سي ټلویزون سره مرکه کې وویل:"هیله لرم چې طالبان خپل کړه وړه بدل کړي، که نه نو پر هغوی به پوځي فشارونه زیات او حالات به د طالبانو لپاره لا زیات خراب شي.

---

[۱۹۴] مګر عملاً په افغانستان او ایران کې ولېدل شول چې د ځمکې پر سر تر ټولو وحشي او ظالم ځواکونه امریکایي پوځیان دي، د شپنیو چاپو پر مهال یې په کورونو کې په خوب ویده نجونې، هلوکان، میرمنې او بې ګناه خلک ووژل.
امریکایي پوځیانو په باګرام، ابوغریب او ګوانتانامو زندانو کې له بندیانو سره داسي ظلمونه وکړل، چې په نړۍ معاصر تاریخ کې یې ساری نه لېدل کیدی.

امریکا سمدستي له افغانستان څخه د خپلو پوځیانو د ایستلو کوم پلان نه لري، په تېرو لسو ورځو کې، له ۱۰۰۰ زیات طالب جنګیالي وژل شوي دي.[۱۹۵]"

د سپټمبر پر ۹مه، د ټرمپ لخوا د امریکا د ملي امنیت سلاکار جان بولټن څخه استعفی غوښتل شوې وه، او د سپټمبر پر ۱۰مه بولټن خپله استعفی ولسمشر ټرمپ ته وړاندې کړه، جان بولټن له طالبانو سره د امریکا د سولې مذاکراتو سرسخت مخالف او په افغانستان کې د جګړې د دوام پلوی و.

---

[۱۹۵] مایک پمپیو هم په مرکه کې ویلي و چې زر طالبان یې په یوه اونۍ کې وژلي دي، همدارنګه د ګډ حکومت مشر ډاکټر غني هم د سپټمبر پر ۱۳مه، د ولسمشرۍ د کمپاین غونډې پر مهال وویل چې په یوه اونۍ کې یې ۲۰۰۰ طالبان وژلي.
طالبانو د ډونالډ ټرمپ، پمپیو او ډاکټر غني دا ډول څرګندونې د سپټمبر پر ۱۳مه رد، بلکې په جګړه کې یې د پرمختګ ادعا درلودله، طالبانو په خبرپاڼه کې ویلي و چې دوی په ځینو ولایتونو د حملو توان درلود، که حکومت دومره ډېر طالبان وژلي وي، دوی دې وښیې چې کومه سیمه یې له طالبانو نیولې. ذبیح الله مجاهد لیکلي و:"که د امریکایي بادارانو سیورۍ مو په سر نه وي ولاړ، د ملت په وړاندې د یوې اونۍ د تاب را وړلو توان در په کې نشته، نو په پردیو میوړیو پورته پورته غورځېدل هیڅ کله د ویاړ خبره نشي کېدای."
مګر ځینې داسي راپورونه ورکول شول چې کله افغان حکومت د بدخشان ولایت د کران او منجان ولسوالۍ (۱۱ سپټمبر ۲۰۱۹) ونیوله، هلته ډېرو زیاتو طالبانو ته مرګ ژوبله اوښتې وه.
د سپټمبرپر ۱۹مه، مخکېني ولسمشرحامدکرزي د خبرې ناستې پر مهال وویل:"په دې خاوره کې چې هر څوک وژل کېږي، موږ باید د یو بل وژلو په اعلانولو شرم وکړو. طالبان باید وشرمېږي، خجالت دې وي ورته چې د دوی په بمونو او بریدونو کې عام خلک وژل کېږي، زموږ حکومت او ولسمشر دې هم وشرمېږي چې د طالب په نوم د افغانانو د قتل اعلان ورکوي، د نورو د ګټو لپاره یا د امریکا او نورو بهرنیانو د خوشحاله کولو لپاره، هره خوا چې دا کار کوي له افغانستان سره ظلم او غداري کوي."

داسي راپورونه مخکې هم ورکول شوې وو چې د جان بولټن او مايک پمپيو ترمنځ د افغانستان دسولې او جګړې تګلارې په اړه ژور د نظر اختلاف شتون لري.

د سپټمبر پر ۱۰مه، خليلزاد هم په سپينه ماڼۍ کې له ولسمشر ټرمپ سره وکتل، او د افغانستان د سولې په تړاو يې بحث درلود.

په همدې ورځ ټرمپ پر خپل ټويټر وليکل:" تيره شپه مې جان بولټن ته وويل چې نور په سپينه ماڼۍ کې د ده خدمت کولو ته اړتيا نشته، زه د هغه له ډيرو وړانديزو سره سخت مخالف وم، او او د حکومت يو شمير نورو هم ورته درېځ درلود.

له همدې امله مې له هغه وغوښتل چې استعفی ورکړي، نن سهار يې استعفی راکړه، زه د جان بولټن له خدمت څخه مننه کوم، زه به د ملي امنيت نوی سلاکار په راتلونکي اونۍ کې ونوموم."

د ټرمپ له ټويټو وروسته جان بولټن په همدې ورځ وليکل:"ما تېره شپه خپله استعفا وړاندې کړې وه، خو ولسمشر ټرمپ وويل راځه پر دې به سبا خبرې وکړو".

د سپټمبر پر ۱۸مه، د ټرمپ لخوا د ملي امنيت نوی مشاور رابرټ اوبراين وټاکل شو، ټرمپ پر خپل ټويټر وليکل:"خوشحاله يم چې رابرټ سي اوبراين چې اوس مهال د اختطاف شويو امريکايانو د خلاصون په چارو کې د امريکا په بهرنيو چارو وزارت کې کار کوي، د ملي امنيت مشاور په توګه معرفي کوم".

د سپټمبر پر ۱۰مه، په افغانستان کې د ناټو ملکي استازی نيکولاس کې په کندهار کې، چې د امريکا / ناټو قواو عمومي قومندان جنرال ميلر هم و؛ د افغان چارواکو سره د غونډې پر مهال وويل:"موږ به له افغان چارواکونو سره اوږه په اوږه کار وکړو چې د افغانستان خاوره يو ځل بيا د نړيوالو ترهګرو په ځاله بدله نه شي. ناټو او افغانان په دې پوهيږي چې سولې ته رسيدل خورا اوږده لاره ده. داسې نه ده چې موږ د غره پر سر يو او سوله لاندې په يوه دره کې ده. سولې ته رسيدل لوړې او ژورې لري او تل نېغه لاره نه وي .

ناټو ځواکونه به تر هغې افغانستان کې وي او د افغان ځواکونو تر څنګ به ولاړ وي چې سولې ته وضعیت نه وي برابر شوی.

موږ ډېر کله باید خورا په احتیاط مخ ته ولاړ شو، خو باید بالاخره افغان حکومت، طالبان او ناټو یوې سیاسي حل لارې ته ورسیږو".

د افغانستان او پاکستان لپاره د امریکا د بهرنیو چارو پخوانۍ ځانګړې سرپرست استازي، اوس مهال د نړیوال کړکیچ ادارې مشرې لورال میلر، د سپټمبر پر ۱۰ پر خپل ټویټر ولیکل:" افغانستان یوازې د امپراتوریو هدیره نه؛ بلکې د ملي امنیت د سلاکارانو هدیره هم ده.

د ملي امنیت مخکیني سلاکار مک مسټر د ټرمپ د خوښي پر خلاف غوښتل چې پر هغه باندي فشار واچوی چي افغانستان ته زیات پوځیان واستوي، پایله دا چې ټرمپ هغه پسي واخیست. اوس د کمپ ډیوید تر پېښې / مشاجرې وروسته، جان بولټن هم هدېرې ته واستول شو."

د سپټمبر پر ۱۰مه، د امریکایي پوځ د مرکزي قومندانۍ قومندان جنرال کېنت مکینزي افغانستان ته د سفر پر مهال خبریالانو ته وویل:"طالبان له حد واوښتل، امریکایي ځواکونه به د دوی پر ضد خپل عملیات ډېر کړي. پر خپلو جنګي پلانونو کې به دقت کوي. دمګړی د سولې خبرې په ټپه ولاړې دي، امریکایي پوځیان به د خپلو پلانونو له مخې د وسله والو پر ضد خپلو جګړو ته ادامه ورکوي."

د سپټمبر پر ۱۱مه، هغه ورځ چې اتلس کلونه مخکې پر همدې ورځ په امریکا کې پر اسمان څکو برجونو باندي برید او پایله کې ۳۰۰۰ کسان پکې ووژل شول، په همدې ورځ، د امریکا ولسمشر ټرمپ یو ځل بیا طالبانو ته ګوتڅنډنه وکړه، ویې ویل چې پر طالبانو به نظامي فشار او بریدونه زیات کړي.

ټرمپ وویل:"موږ څو ورځې مخکې د سولې خبرې پلان کړې وې خو کله چې خبر شوم چې هغوې (طالبان) زموږ یو ډېر پیاوړی سرتیری چې د پورتي ریکو وګړی و له ۱۱ نورو بې ګناه خلکو سره ووژلو، دا خبرې مې لغوه کړې. په تېرو څو

ورځو کې مو خپل دښمنان سخت وځپل او دا ځپل به روان وي. که زموږ پر هیواد هغوی بیا بیا برید وکړ، هر چېرې چې وي، پسې ورځو او ځپو يې."

د سپټمبر پر ۱۴مه، ټرمپ پر ټویټر ولیکل:"طالبان دا مهال تر بل هر وخت تر سختو بریدونو لاندې نیول شوي دي، د یو امریکایي په ګډون د ۱۲ تنو وژل ښه اقدام نه و، د مذاکراتو لپاره نورې ښې لارې هم وجود لري، طالبان پوهېږي چې یوه لویه تېروتنه يې کړې ده، خو اوس يې د بیرته سمولو پر لارو چارو نه پوهېږي".

د سپټمبر پر ۲۰مه، ولسمشر ټرمپ د استرلیا له لومړي وزیر سکاټ موریسن سره یو ځای په سپینه ماڼۍ کې د خبرې ناستې پر مهال وویل: "ما غوښتل، له طالبانو سره وګورم، لیده کاته ښه دي، لیدل باید هر چا سره وشي، خو کله چې راته وویل شول، طالبان اوربند نه کوي، نو بیا ورسره د لیدو زحمت ته اړتیا نه وه.

طالبانو ګمان کاوه د خلکو وژل د قوت نښه ده، په ځانګړې ډول کله چې هغوي دولس کسان ووژل او پدې دولسو وژل شویو کې یو ځوان امریکایي هم و.

باوري سرچینو راته ویلي، چې طالبان وایي، تېروتنه يې کړې ده.

په طالبانو دومره سخت ګوازرونه شوي چې د جګړې پدې تیرو نولسو کالونو کې ساری نلري.

ملاقاتونه ښه دي چې وشي ځکه چې پدې کار سره تاسو خپل مخالفین پیژنئ."

## د ټرمپ د خبرو اړوند د طالبانو غبرگون

د سپټمبر پر ۱۱مه، د طالبانو د ډلې سیاسي مرستیال ملا برادر اخوند طالب خبریالانو ته وویل:"د اشغال ضد جهاد او مبارزه کې موږ ستړي نه یو او نه به ستړي شو، خو د اشغالگرو او د هغوی د مزدورانو د وحشتونو له امله د ولس بده ورځ او له کړاونو ډک ژوند مو ډیر زیات ځوروي، موږ خپل ټول توان کوو چې د افغانانو په شونډو موسکا خپره کړو".

طالبانو په خپله رسمي ویب پاڼې الاماره او شهامت کې د طالبانو د ورځې خبره، چې سیاسي تبصره ده، د سپټمبر پر ۱۱مه ولیکل:"اسلامي امارت ته په هیواد کې دیرغلگرو د یوې وړې اډې د منلو په بدل کې د حکومت د بشپړ سپارلو او په نړیواله کچه د سیاسي او اقتصادي ملاتړ وړاندیزونه شوي، خو د اسلامي امارت پر دین او وطن مین مشرتابه دا ډول وړاندیزونه سمدستي رد کړي او له گران هیواده یې د یرغلگرو ځواکونو پر بشپړ وتلو ټینگار کړی دی.

افغان مجاهد ولس ته داډ ورکوو چې تر خپلو پاکو اهدافو او علیا مصالحو به په هیڅ ډول هم تېر نه شو، تر هغو به روانې مبارزې ته دوام ورکوو چې د مظلوم او مجاهد ملت سپېڅلي ارمانونه پوره کیږي او داشغال کمبله په یومخیزه توگه له هیواده ټولیږي."

د سپټمبر پر ۱۲مه، د طالبانو ویاند ذبیح الله مجاهد پر خپله ټویټر پاڼه ولیکل:"ټرمپ باید له هوشه کار واخلي، دی لا هم نه دی پوه چې له څه ډول ملت سره په جگړه دی، مشاورین یې باید پوه کړي او د امپراطوریو هدیره افغانستان ورته معرفي کړي. په اتلسو کالو کې امریکا هر ډول وحشت تجربه کړ، زموږ مقاومت نور هم پیاوړی شو، خو امریکایي جنرالان اوجنگي ستراتیژی پرلپسې ناکامه شوې".

## د افغانستان کشالې اړوند د ملګرو ملتونو د امنیت شورا غونډه

د سپټمبر پر ۱۰مه، د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړی استازی تادامیچي یاماماموتو د ملګرو ملتونو امنیت شورا غونډې ته وویل:"د تېر یوه کال هڅو په افغانستان کې د سولې راتګ ته هیله مندي ډېره کړې ده، یوازې د افغانانو تر منځ خبرې دغه هېواد کې شخړه ختمولای شي.

له همدې امله د افغان حکومت او طالبانو تر منځ نږدې وخت کې د ممکنه مخامخ خبرو پیل اړین دی.

د سولې په هره هوکړه کې باید د بشري حقونو، بنسټیزو حقونو او دغه راز د رسنیو او بیان ازادۍ پر ځای ساتلو او ودې ژمنې شاملې شي، د ښځو، ځوانانو او لږکیو حقونه باید په پام کې ونیول شي او د خدمتونو او امنیت برخو په ګډون د دولتي ادارو وړتیا لا زیاتولو برخه کې باید ژمنتیا وښودل شي.

په داسې حال کې چې په افغانستان کې د سولې لټون دوام لري، هغه میلیونونه افغانان باید هېر نه‌شي چې په ټول افغانستان کې د دې کړکېچ له کبله زیانمن شوي دي.

په افغانستان کې د تاو تریخوالي وروستۍ پېښې د اندېښنې وړ دي، پر ملکي خلکو بریدونه د اندېښنې وړ او جنګي جنایتونه دي.

موږ د سولې خبرو پایله کې د تاوتریخوالي کمېدو او بالاخره د اوربند هیله لرو.

د افغان شخړې د حل لپاره د سیمې هېوادونو او په ځانګړې توګه د افغانستان د ګاونډیو هېوادونو رول مهم دی، په افغانستان کې د سولې او امنیت له کبله تر ټولو ډېره ګټه همدوی ته هم رسیږي.

زه د افغانستان پر حکومت او طالبانو دواړو ږغ کوم چې د جګړې د پای ته رسېدو لپاره دې خپلو کې ژر تر ژره مخامخ خبرې پیل کړي.

په افغانستان کې د سولې د ټینګښت لپاره د هڅو پر اهمیت چې هر څومره ټینګار وکړم کافي نه دی. په مشخصه توګه د بین‌الافغاني خبرو د پیل لپاره.

په نړۍ کې د سولې د پخوانيو خبرو اترو بېلگې شيي، کله چې د اساسي خبرو لړليد په حقيقت بدلېږي، ننگونې هم لا ستربږي. وروستي پړاونه چې بين‌الافغاني خبرو ته لاره پرانيزي نور هم ستونزمنېږي او په ډېر غور چلند غواړي. دا زموږ ټولو همکارۍ ته اړتيا لري.

د افغان ټولنې او طالبانو ترمنځ په مسکو او دوحه کې وروستيو غير رسمي خبرو، د ډېرو حساسو او هغو مسئلو په اړه چې د افغانستان سولې ته ډېرې مهمې دي د خبرو کولو يو فرصت رامنځته کړ. تمه ده چې دا تجربه دوام وکړي، دا ډول خبرې به ژورې او پراخې شي او يوې پايلې ته به ورسېږي.

د سولې هر ډول خبرې بايد تاوتريخوالی راکم کړي او په پای کې يې اوربند وشي. تر سولې وروسته افغانستان په اړه د غور کولو لپاره هم وختي نه‌دی، نړيوالې ټولنې د نړيوال بانک په مرسته تر سولې وروسته د افغانستان سره د مرستو په اړه کار پيل کړی او د بريتانيا په څېر ځيني هېوادونه په دې کې فعال دي.

د سپټمبر په ۲۸مه نېټه د ولسمشرۍ ټاکنې ترسره کېږي. د افغانستان د ټاکنو کمېسيونو خپل کارونه ترسره کړي او د دې ټاکنو لپاره‌يې اړين چمتووالی نيولی دی.

د ملگرو ملتونو سلاکاران له خپلو افغان همکارانو سره لاس په لاس کار کوي څو دا ټاکنې، ازادې، رڼې او عادلانه وي. څه باندې نهه‌نيم ميليونه افغانانو په ټاکنو کې د رأيو د ورکولو لپاره نومونه ليکلي دي.

د طالبانو گواښونه او نورې امنيتي ستونزې ښايي په ټاکنو کې د خلکو گډون ټکنی کړي. موږ له وسله‌والو طالبانو غواړو چې خلک دې د ولسمشرۍ په راتلونکو ټاکنو کې له گډون څخه نه منعه کوي، د انتخاباتو د گډوډولو له گواښونو دې لاس واخلي او له حکومت څخه غواړو چې د خلکو امنيت دې وساتي.

د نوماندانو، سياستوالو لپاره تر ټولو سخت څه تر ټاکنو وروسته د ماتې منل دي، خو په ولسواکو پروسو کې دا د دولت جوړوونکو ستره کړنه ده. ټولې تخنيکي او عملياتي هڅې پر ځای شوې څو ټاکنې باوري وي. زه پر ټولو نوماندانو او ملاتړو يې ټينگار کوم چې د ولسواکې پروسې ملاتړ وکړي څو داسې يوې پايلې ته ورسېږي چې د خلکو او هېواد لپاره د منلو وي".

## د افغانستان کشالې اړوند د ناټو د سرمنشي څرګندونې

د ناټو عمومي سرمنشي ینس سټولټنبرګ، د سپټمبر د یوولسمې په مناسبت رابلل شوې غونډې ته وویل:"د ترهګرۍ په وړاندې جګړه نړیواله بڼه لري، په افغانستان کې د نړیوالو ځواکونو موجودیت په همدې موخه دی څو وکولای شو، د سولې لپاره شرایط برابر کړو او تر څنګ یې افغان امنیتي ځواکونو ته ښوونه او روزنه، او هغوی ته نظامي تربیه ورکړو.

د افغان ځواکونو له روزنې موخه دا ده، څو له یوې خوا د نړیوالې ترهګرۍ مخه ډب شي او له بل لوري هغوی وکولای شي د افغانستان امنیت وساتي او افغان ټولنه په یوه باثباته ټولنه بدله شي.

ترهګرو د سپټمبر په ۱۱مه، په واشنګټن کې دوه اسمان څکې برجونه ونړول؛ خو نشي کولای زموږ د ژوند لاره رنګه کړي" .

طالبانو ته منسوب لیکوال، ګمان کیږي چې قاري سعید زرمتی به وی، او هغه به معلومات د مولوی امیرخان متقي څخه تر لاسه کړي وي، لاندې لیکنه یې د سپټمبر پر ۱۱مه، د نعمت میوند په نوم په بېلابېلو ویب پاڼو کې خپره شوه.

## د مذاکراتي پروسې د ځنډ په رابطه څو ناویلي حقایق!!...

د روانې سپټمبر میاشتې پر۸مه نیټه، د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ په ناڅاپي توګه د یو ټویټ له لارې د کمپ ډیویډ له هغې غونډې پرده پورته کړه چې په اړه یې وارله مخه مالومات نه و رسنیز شوي، ترڅنګ یې له طالبانو سره د مذاکراتو روانه بریالۍ پروسه هم وځنډوله.

نوموړي دا کار په داسې غیرمترقبه شکل وکړ چې نه یې خپل مذاکراتي ټیم په اعتماد کې واخیست او نه یې هم د هغوی حیثیت ته وکتل، حال داچې له لوړ پوړو سیاسي او نظامي کسانو څخه جوړ دا ټیم یې نږدې یو کال د مذاکراتو د بریا په

برخه کې خورا ستر محنت کړی و، مختلفو هیوادو ته یې مکرر سفرونه کړي وو، له ډیرو جهتو سره یې تفاهم کړی وو، له طالبانو سره یې ډیر لاینحله موضوعات حل کړل، ټرمپ نه د باندنیو چارو وزارت او نه یې هم د امریکا د نورو رسمي جهتونو نظر پوښتلی وو. همدا لامل دی چې د مذاکراتو د ځنډ خبره تر اوسه پورې د امریکا د هیڅ یوې رسمي ادارې لخوا نه ده ښوریدلې، بلکې یوازې د ټرمپ همدا ټویټ دی او بس، د بهرنیو چارو وزیر یې د ترمیم کوښښ وکړ خو اوبه تر ورخ تیرې وې او خپله ټرمپ هم لکه چا چې تېر ایستلی وي، وروستي حرکات او څرګندوني یې عادي نه ښکاري او په تېر ایستونکو کې یې د ملي امنیت د سلاکار جان بولټن نوم هم راته چې پرون یې په هغه هم زړه یخ کړ او له کاره یې ګوښه کړ، کیدای شي ټرمپ ورته ویلي وي چې په ما خو دي په یوه څپیړه سل خپل او پردي مخونه خوړ کړل نو ته به هم نور د سپیني ماڼۍ په مجلل انګړ کې قدم را څخه کښېږدې.

په هرحال د لیکني په راتلونکو پراګرافونو کې به د ځینو ترلاسه شویو معلوماتو پر اساس د دې پیښې څو عمده لاملونه درسره شریک کړم:

لکه مخکې چې ورته اشاره وشوه، که څه هم د ټرمپ دا کار ناڅاپي بلل کیږي، خو د مذاکراتو له جریانه باخبره سرچینې وایي چې دا کار ناڅاپي نه، بلکې همدا تشویش وار له مخه لا موجود و، د امریکا د مذاکراتي ټیم څخه دا څرګنده شوي وه، چې هغوی د ټرمپ له مزاج او د مذاکراتو په وړاندي له پرتو ننګونو څخه سخت په تشویش کې وو، چې همدا تشویش یې بالآخره په حقیقت بدل شو. دا چې ولې د دې وېره موجوده وه، په اړه یې څو لاندې دلایل کیدای شي:

۱ - ډونالډ ټرمپ پخپل ټویټ کې د مذاکراتو د لغوه کیدو علت، په کابل کې د یوه امریکایي وژنه وبلله؛ چې ظاهراً دا دلیل معقول نه ښکاري، ځکه چې تر دې وړاندې هم امریکایان ډیر وژل شوي او په آینده کې به هم ښایي ووژل شي، نو د یوه امریکایي مرګ د دومره لوی جریان د دریدو لامل نشي کیدای، البته د اوبو خړولو کمزورې بهانه کیدای شي.

۲ - دا هم لیري نه ده چې امریکایي لوري فکر کړی وي چې د توافقنامې په لاسلیک سره به د کابل اداره و شړیږي چې بیا به یې هرڅه له لاسه وتلي وي، ځکه مذاکراتو ته نږدې سرچینې وایې چې د توافقنامې په لاسلیک سره به د بهرنیو ځواکونو رول بدلیده او فعالیت یې محدودیده، او دا هم حقیقت دی چې د کابل حکومت د همدې بهرنیو ځواکونو د نظامي رول له برکته د ژوند ساه اخلي.

۳ - د باخبره سرچینو د مالوماتو له مخې داسي ښکاري چې په توافقنامه کې ځای شوي مواد د ځینو کړیو خوښ نه وو، دغه ټکي د امریکا پر حکومت په کور دننه فشار زیات کړی و، د مذاکراتو مخالفینو او جنګ غوښتونکو جهتونو ورته ویل چې توافقنامه زموږ په ګټه نه ده، د کابل ادارې هم خپل معلومات او نظریات امریکایې چارواکو ته داسې وړاندې کول چې د مذاکراتو جریان تاواني او خطرناک وښیې، یا ښایي دغې ادارې امریکایانو ته دا کاذب امید ورکړی وي چې په زور جنګ ګټلی شو خو چی تاسی لیږ زور لا نور وکړئ، نو ممکنه ده چې ټرمپ او ملګرو دې دا قدم په دې خاطر اوچت کړی وي چې همغه جنګ غوښتونکو او د مذاکراتو مخالفو ته څه وخت ورکړي او بیا ور ته ووایي چې داده له مذاکراتو پرته هم هیڅ نه ترلاسه کیږي، هغه مذاکرات لا ښه و.

۴ - مګر ترټولو قوي احتمال یې دا ګڼل کیږي چې د امریکا ولسمشر ټرمپ طالبانو ته امریکا ته د ورتګ بلنه ورکړې وه، خو طالبانو لکه څنګه چې پخپله اعلامیه کې ویلي، د هغه بلنه یې د توافقنامې ترلاسلیک پوري په تعویق کې اچولې وه، دا ځکه چې افغاني دود داسې دی چې دښمن د دښمن کورته تر جوړې کولو مخکې نه ورځي، د طالبانو دغه دریځ ښایي، ټرمپ ډیر په غوصه کړی وي، ځکه امریکایي چارواکي تراوسه په نړۍ کې له داسې چا سره نه و مخ شوي، چې د امریکا دعوت دې رد یا وځنډوي، اصلاً امریکا له داسې غبرګون سره بیخي نا اشنا وه، نو ځکه یې په ځواب کې د بل عکس العمل پرځای د څه وخت لپاره مذاکرات وځنډول، تر څو د دوی په فکر، طالبان په دې سره تنبیه او تر فشار لاندې راولي.

**وروسته به څه کيږي؟**

له شک پرته چې جګړه يو ستر ناورين دی، تر هر چا زيات متضرر او قرباني يې هم افغان ولس دی، له همدې ځايه وه چې په مذاکراتو پورې د افغان ولس ډېرې هيلې تړلې وې، ترڅو يې کور له اشغال او جنګ جګړو خلاص او يوه سوله ايزه فضا رامنځ ته شي.

متاسفانه چې د ټرمپ دغه ناڅاپي او ناسنجيده کار زموږ هيوادوال تر ډېره حده ناهيلي کړل، تر دې بدتره بيا دا چې د کابل ادارې چارواکو يې استقبال وکړ، سره له دې چې د طالبانو د اعلاميې په وينا، (د توافقنامې تر لاسليک او اعلان وروسته د رواني سپټمبر مياشتي ۲۳م نيټه د بين الافغاني مذاکراتو د ناستې لومړۍ ورځ ټاکلې شوې وه.) د دې باوجود، بيا هم د کابل ادارې له لوري د مذاکراتو لغوه کيدو ته د هغوی خوښي څرګندول؛ ثابتوي چې دغه جنګ غوښتونکي چارواکي هيڅکله په افغانستان کې د بهرني اشغال او جګړې پرختمولو خوښ نه دي. په داسي حال کې چې په دنيا کې ښايی هيڅ باشعوره سړی بې موجبه تر امن جګړه غوره ونه بولي، هغه کار چې د کابل حکومت چارواکو وکړ دا نو د ولس په زخمونو د مالګې دوړولو مترادف عمل و.

په هر صورت د خبرو د بيا پيليدو او د افغانستان غميزه د خبرو له لارې پای ته رسولو باندې اوس نړدې ټوله نړۍ متفقه ده، حتی امريکا کې هم د ا نظر اکثريت دی او هم حاکم دی او دا هم يقيني ده چې امريکا خو هسي هم وځي خو د دې توافقنامې د لاسليک په صورت کې به يې هم د وتلو خوندي لاره پيدا کړې وای او هم به يې څه ناڅه حيثيت پکې خوندي شوی وای، چې دا دواړه د جنګ له لارې نشي پيدا کولای، نو د تل لپاره د مذاکراتو دروازه بندول د هيچا په خير نه تماميږي، او نه داسې څه شواهد شته چې دا ځنډ دې تلپاتې و اوسي.

څرنګه چې روانه جګړه افغانستان ته درونډ زيان اړوي، همدارنګه يې امريکا هم له تاوانه خوندي نه ده، په دې تېرو اتلسو کالو کې چې امريکا څومره ځاني، مالي او د حيثيت د را لوېدو زيان، پرته له څه ملموسې لاس ته راوړنې ګاللی؛ عيان لره د بيان

اړتیا نشته، او آینده کې هم د امریکا لپاره د همدې تاوان د زیاتیدو امکان ډېر او د کمیدو دا یې له نشت سره برابر دی او دا هم واضح ده چې په جنګ یې نشي ګټلای. ځکه چې د طالبانو په اعلامیه کې واضح راغلي چې دوی به تر اخیري بریا پورې خپل روان جهاد جاري ساتي او په وینا یې پرخپلې بریا یې سل سلنه باور هم دی.

د طالبانو په وینا، د مذاکراتو متوقف کول به تر هر چا ډېر تاوان په خپله امریکا ته ورسوي، (اعتبار به یې زیانمن، د سولې ضد دریځ به یې نور هم نړۍ ته ښکاره، د سر او مال زیان به یې زیات او په سیاسي تعامل کې به یې کردار متزلزل معرفي کړي).

دوېمه خبره دا چې یوې کره سرچینې راته وویل چې د امریکایي پلاوي مشران اوس هم د طالبانو سره په مستقیم تماس کې دي، تر دې چې د سرچینې په وینا د ټرمپ تر اعلان څو شیبې وروسته د امریکایی پلاوي د مسئولینو له خوا طالبانو ته وویل شول چې تاسو حوصله وکړئ، له جدي عکس العمله ځان وساتئ چې خبره بیرته موږ راجوړوو، هغوی حتی دا هم ویلي و چې موږ امریکا ته په لاره یو او تر اوسه مو لا د ورستیو ناستو د جریان راپور هم له مشرتابه سره نه دی شریک کړی. له دې ښکاري چې د مذاکراتو لړۍ بیرته پیلیدونکې ده، ښایي بیرته همغه توافقنامه په همغه شکل او یا له څه زیاتونو او کمونو سره بیرته د لاسلیک میز ته برابره شي، ترڅو اشغال پای ته ورسیږي، ورپسې بین الأفغاني تفاهم پیل شي، ځکه چې د افغانستان روان کړکیچ له دې پرته بل معقول حل نه لري. زیاتره شنونکي په دې باور دي چې د مذاکراتو د ځنډیدو په ټس کي ممکن د امریکا د ملي امنیت د سلاکار جان بولټن په شان، هم په کابل او هم په امریکا کي ډېری جنګ غوښتونکي ستې د قدرت له ګدۍ را پریوزي.

پای

## روسيې، چين او ايران ته د طالبانو د پلاوي تګ

### روسيې ته د طالبانو تګ:

د سپټمبر پر ۱۱مه، د طالبانو درې کسيز پلاوی د عباس ستانکزي په مشري له قطر څخه روسيې ته ولاړی، د سپټمبر پر ۱۳مه، بهرنيو او کورنيو رسنيو راپور ورکړ چې د شيرمحمد عباس ستانکزي په مشرې درې کسيز پلاوی ماسکو ته تللی، په پلاوي کې دوه نور کسان، د رهبري شورا او قطر سياسي دفتر غړي قاري دين محمد حنيف او د قطر سياسي دفتر وياند سهيل شاهين هم وو.

عباس ستانکزي د روسيې د سفر پر مهال د روسيې ټلويزون ( Russia Today RT) او روسي خبري اژانس RUPTLY سره د سپټمبر پر ۱۳مه، مرکه کې ويلي و:"که امريکايان پر موږ بمباري کوي، د دوی په وينا زموږ زر کسان وژني، نو موږ هم د ځان څخه د دفاع حق لرو.

کله چې ټرمپ له طالبانو سره مذاکرات لغوه کړل، پر دوهمه ورځ يې د بهرنيو چارو وزير مايک پمپيو وويل چې موږ په تېرو څلور ورځو کې زر طالبان وژلي دي. نو که دوی زموږ څخه ۱۰۰۰ وژلای شي، موږ ولې د دوی يو او يا دوه ونه شو وژلای؟ دا زموږ حق دی چې د خپل ځان او بې ګناه ولس څخه دفاع وکړو او د بهرني اشغال خلاف جګړه وکړو.

طالبان اوس هم مذاکراتو ته ژمن دي او پر دې باور دي چې د افغانستان د شخړې حل يواځې په خبرو ممکن دی، موږ تمه لرو چې ټرمپ به يو ځل بيا پر خپل اعلان له سره غور وکړي او له هغه ځايه بېرته خبرې پيل کړي چېرې چې دريدلي دي.

په افغانستان کې جګړه پر موږ تپل شوې ځکه موږ په امريکا پسې نه يو ورغلي، بلکي امريکايي ځواکونه افغانستان ته راغلي دي.

دا لومړی ځل نه دی چې امريکا مذاکرات لغوه کوي، تر دې وړاندې هم دوه ځله د مذاکراتو په وروستۍ مرحله کې د امريکا له خوا مذاکرات لغوه شوي دي.
متاسفانه هر وخت چې مونږ يوې نهايي هوکړې ته ورسيږو د امريکايانو له خوا "مذاکرات" لغوه کيږي. وروستي مذاکرات چې د ټرمپ په امر لغوه شول دا دريم

ځل و چې دغه ډول د سولې یوه هوکړه لغوه کیږي، تر دې وړاندې دوه ځله د بارک اوباما د ولسمشرۍ وخت کې هم د سولې مذاکرات لغوه شوي وو.
موږ سولې ته ژمن او چمتو یو چې بهرنیو ځواکونو ته د وتلو لپاره خوندي لاره ورکړو.

که امریکایان سوله نه غواړي موږ له ځانه د دفاع له پاره مجبور یو، اگر که دغه حالت سل کاله نور هم دوام وکړي.

له امریکا سره د سولې وروستۍ مسوده تر نظر تېره او منل شوې وه، یوازې د دې لپاره چې بیا هر څه له منځه ولاړ شي هر څه بحثونه چې پر میز وه، هغه نور ختم دي.

مونږ اوس عملي کار غواړو، کله چې دغه تړون لاسلیک شي، دوېمه ورځ به زموږ او امریکایانو تر منځ بشپړ اوربند وي مونږ به امریکایي ځواکونو ته خوندي لاره ورکړو، دوی به بهر وځي او د سپټمبر پر ۲۳مه نیټه به بین الافغاني مذاکرات پیل شي، تر څو د بشپړ او تلپاتي اوربند تر څنگ پر نورو مهمو مسایلو بحث وشي، اوس چې د سولې بهیر ودرید، خبرې د اوس لپاره پای ته ورسیدي، جگړه به پر مخ روانه وي، او وژنې به کیږي."

روسې ته د سفر په اړه سهیل شاهین د سپټمبر پر ۱۷مه پر ټویټر ولیکل:" دستانکزي صیب په مشرۍ، دسیاسي دفتر درې کسیز هئیت مسکو ته دسفر په وخت کې د افغانستان لپاره دروسیې خاص استازي زمیر کابلوف او نورو چارواکوته دمذاکراتو په هکله خپل موقف واضح کړ.هغوی د ا. امارت موقف تائید اود توافقنامې له مخې یې له هیواد نه د ټولو خارجي عسکرو د وتلو ملاتړ وکړ" .

د سپټمبر پر ۱۷مه ۲۰۱۹، عباس ستانکزي له بي بي سي سره مرکه کې وویل:"له نږدې یو کال راهیسي له امریکا سره مذاکرات روان و، مذاکرات مو وروستي کړل، او د سولې تړون نهایې شوی، یوازي لاسلیک پاتې دی.

طالبان له امریکا سره وروستي شوې هوکړه لیک ته اوس هم ژمن دي. او له لاسلیکېدو وروسته به له امریکایي لوري سره اوربند هم اعلان شي. دا پوښتنه دي له دوی "امریکایانو" وشي چې بیرته مذاکرات پیل کوي یا نه؟

امریکا کې هم یوه ډله په افغانستان کې د جګړې د غځېدو پلویان دي، او بله ډله بیا جګړه پای ته رسېدل غواړي، د امریکا ولسمشر دي یوازې هغوی ته غوږ نه نیسي چې د جګړې پلویان دي، بلکې د هغو امریکایانو نظرونه دي هم واوري چې دا جګړه ختمېدل غواړي.

د ټرمپ لپاره ښه ده چې پوځیان یې نور دلته ونه وژل شي او خپلې پیسې بېځایه مصرف نه کړي، ټرمپ دې پر خپل ټویټ بیا غور وکړي او جګړه دې پای ته ورسوي، که دوی جګړه پای ته نه رسوي، نو بیا موږ مجبوره یو چې له خپل ولس، ځان او خاورې د دفاع لپاره جګړې ته دوام ورکړو، مګر ترجیح د سولې مذاکراتو ته ورکوو چې هم زموږ او هم د امریکا په ګټه ده.

په نظر کې وه چې د سپټمبر پر ۲۳مه، له افغان حکومت سره خبرې پیل او د اوربند په شمول، په ټولو کورنیو مسایلو به بحثونه کېدل. اوسنۍ تړون یوازې د امریکا او اسلامي امارت ترمنځ دی.

د سیمې هیوادونه، روسیه او چین هم غواړي چې د افغانستان مسئله د خبرو له لارې حل شي، افغان ولس ته ډاډ ورکوو چې دا مسئله د خبرو له لارې حل شي، او موږ د سولې خبرو ته پر جګړې ترجیح ورکوو. که امریکا جګړې ته دوام ورکوي، بیا به یې پړه هم د دوی پر غاړه وي، او موږ دفاع پر ځان لازمه ګڼو.

موږ له کابل اداري سره په جګړه کې بوخت نه یو، هغوی د ملیشو په توګه د امریکا له خوا استخدام او له موږ سره جګړه کوي، که افغان امنیتي ځواکونه زموږ مقابل کې د امریکایي پوځیانو ملاتړ ونه کړي، د افغانستان له پولو دفاع وکړي، بهرنیو دښمنانو ته متوجه شي، موږ له دوی سره کومه ستونزه نه لرو، مګر همدوی دي چې د بهرنیانو لخوا له موږ سره جګړه کوي."
همدارنګه د بي بي سي دري څانګې سره د مرکې پر مهال عباس ستانکزي وویل:" د ټرمپ له ټویټ وروسته د امریکا د بهرنیو چارو وزیر اعلان وکړ چې د طالبانو ۱۰۰۰ مجاهدین یې وژلې، داچې ټرمپ وایې چې د طالبانو لخوا د یوه امریکایې پوځي وژل تیروتنه وه، نو بیا خو دوی زر ځله داسي تیروتنې کړې. او تر دې مهاله د طالبانو او امریکا ترمنځ اوربند هم نه وو شوی، له تړون وروسته به کیدی.

تاسي "خبریالان" یوازي د کابل ښار کې بریدونو ته متوجه یاست، مګر په ولایتونو او لیري پرتو سیمو کې هره ورځ په سلګونو خلک د بمبارد له امله وژل کیږي، تاسي به د یوناما وروستی راپور لیدلی وي، چې د ملکیانو د ډیرې سلنې مرګ ژوبلې پړه یې پر امریکا/بهرنیو پوځیانو او افغان امنیتي ځواکونو اچولې، او لږ سلنه یې زموږ لخوا ښودلې ده.

که نظامي مرکزونه د هستوګنې له ځایه وایستل شي، بیا به د ملکیانو مرګ ژوبله کیدای شي کمه وي، هغه پیلوټان چې په پکتیا، خوست، کندهار، هلمند، بدخشان او فاریاب کې بمبارد کوي، زموږ نظامي قوتونه مجبوره دي چې هغوی تعقیب کړي، مګر هغوی د هستوګنې ځایونو کې اوسیږي."

**ایران ته د طالبانو تګ:**

همدارنګه طالبانو او ایران ومنله چې ایران ته د طالبانو پلاوي د قطر د سیاسي دفتر د ادارې مرستیال ملا عبدالسلام حنفي په مشرۍ سفر کړي او له ایراني لوړ پوړو چارواکو سره یې کتلي دي.

د سپټمبر پر ۱۷مه، سهیل شاهین پر ټویټر ولیکل:"د سیاسي دفتر د مرستیال محترم عبدالسلام حنفي صیب په مشري څلور کسیز پلاوي ایران ته سفر کړې او د سپټمبر په ۱۶ مه یې د نوموړي هیواد د بهرنیو چارو وزارت له لوړ پوړو چارواکو سره ولیدل.

د سولې د پروسې د وروستیو تحولاتو، په هیواد کې د ایران د اقتصادي پروژو د پرمختګ او خوندیتوب او د یوې پایداره سولې پر لارو چارو یې ورسره خبري وکړې. اسلامي امارت د سولې په برخه کي د ټولو هیوادونو په تیره بیا د ګاونډیو هیوادونو مثبت رول ته دقدر په سترګه ګوري" .

ایران ته د طالبانو د سفر اړوند افغان حکومت، طالبانو ته د ایران لخوا په لوړه کچه د لیدونو او تشریفاتو له امله غبرګون وښود.

د ګڼ حکومت د مشر ویاند صدیق صدیقي ولیکل:" له ګاونډیو هیوادونو څخه مو دا تمه نه کیږي چې د داسې یوې ترهګرې ډلې کوربتوب دې وکړي چې لا یې هم لاسونه د بې ګناه افغانانو په وینو سره دي او د افغانستان د ورانولو فکر لري.

مونږ په دې باور یو چې د داسې ډلو کوربتوب د ټولو هېوادونو د اصولو او اړیکو خلاف دی" .

مگر د بهرنیو چارو وزارت ویاند صبغت احمدي بیا ایران او روسیې ته د طالبانو سفرونه د سولې برخه کې مثبت گام وباله، هغه وویل:"د هر هغه هیواد څخه مننه کوو چې د افغانستان د سولې په برخه کې د طالبانو او افغان حکومت تر منځ د سولې د خبرو لپاره زمینه برابروي.

کیدای شي چې طالبان د روسیې او ایران تر سفر وروسته نورو هیوادونو ته هم ولاړ شي. "

## چین ته د طالبانو تگ:

چین ته د ملا برادر اخوند په مشرۍ د طالبانو نهه کسیز پلاوی (ملا عبدالسلام حنفي، مولوي مطیع الحق، سهیل شاهین، مولوی احمدالله وثیق، عمار یاسر، عبدالرحمن مدني، نبراس الحق عزیز او قاري احمدالله)، د سپټمبر پر ۲۲مه ورسید، اته کسان د قطر د سیاسي دفتر غړي او احمدالله وثیق بیا د طالبانو د فرهنگي کمیسون غړی و.

چین ته د طالبانو د پلاوي د تگ په اړه، د سپټمبر پر ۲۲مه، د طالبانو ویاند ذبیح الله مجاهد ولیکل:

## د اسلامي امارت یو لوړ پوړي هېئت د چین هیواد ته سفر وکړ

"د اسلامي امارت د سیاسي مرستیال محترم ملا برادر اخوند په مشري یو نهه کسیز هېئت د چین هیواد ته په رسمي سفر ولاړ.

نن ورځ په پلازمینه بیجنگ کې د افغانستان لپاره د چین د ځانگړي استازي ښاغلي ډین شیجون او ورسره لوړ پوړې هېئت لخوا د اسلامي امارت استازو ته هرکلی وویل شو.

له چینایي لوړ پوړو چارواکو سره د اسلامي امارت د هیئت لیدنې کتنې روانې دي، دواړه خواوې به د افغانستان څخه د امریکایي اشغال د خاتمې، د دواړو هیوادونو ترمنځ د ښو سیاسي او اقتصادي اړیکو او همدا ډول په افغانستان او سیمه کې د سولې او ټیکاو په رابطه خبرې او بحثونه وشي.

د اسلامي امارت مرستیال محترم ملا برادر اخوند چینایي چارواکو ته له امریکایي جهت سره د مذاکراتو د بهیر په اړه د اسلامي امارت اصولي دریځ روښانه کړ، چې د چینایي چارواکو لخوا د اسلامي امارت د معقول دریځ ملاتړ وشو. "

په همدې ورځ، سهیل شاهین پر ټویټر ولیکل: "د افغانستان د اسلامي امارت د سیاسي دفتر نهه کسیز هئیت د ا.ا. امارت د سیاسي مرستیال محترم ملا برادر اخوند په مشرۍ د چین هیواد ته سفر کړی او نن یې په بیجنګ کې د افغانستان لپاره د چین د خاص استازي ښاغلي ډین شیجو او ورسره هئیت سره وکتل.

دواړو خواوو د امریکایي ټیم سره داسلامي امارت د ټیم په شویو مذاکراتو او توافقنامې خبرې وکړې.

د افغانستان لپاره د چین خاص استازي و پټېله چې دغه توافقنامه د افغانستان د مسئلې د سوله ایز حل ښه چوکاټ دی او مونږ یې ملاتړ کوو.

همدا شان ملا برادر وویل، مونږ د افغانستان د مسئلې د حل لپاره مذاکرات تر سره کړل او یوې هر اړخیزې توافقنامې ته ورسیدو، اوس که د امریکې ولسمشر له خپلې خبرې اوړي او خپلې ژمني نه مني، نو په افغانستان کې د هر ډول وراني او وینې توییدنې مسئولیت به یې په غاړه وي.

ملا برادر وویل: مونږ په هرصورت کې له خپل ولس، هیواد او اسلامي ارزښتونو څخه دفاع کوو. "

له طالب پلاوی سره د چین د بهرنیو چارو وزیر ولیدل، دواړو لورو د افغانستان پر سوله، او داچې د افغانستان له خاورې به ګاونډیو هیوادو ته ګواښ نه وي، بحثونه وکړل.
د سپټمبر پر ۲۳مه، د چین د بهرنیو چارو وزارت ویاند جینګ شانګ وویل:"بیجینګ هیله من دی چې امریکا او طالبان مذاکراتو ته دوام ورکړي.
بیجینګ د ملي مصالحې او د سمدستي سولې او ثبات د ټینګیدو په هدف د بین الافغاني مذاکراتو ملاتړ کوي."

## کانګرس ته د خلیلزاد احضار

د امریکا د کانګرس ډیموکراټو غړو ډیر ځله وغوښتل چې خلیلزاد دې له طالبانو سره د مذاکراتو اړوند دوی ته معلومات ورکړي، خو خلیلزاد او یا هم کوم بل لوړ پوړی د بهرنیو چارو وزارت کار کونکی حاضر نه شو، بالاخره د کانګرس لخوا په رسمي ډول د بهرنیو چارو وزارت څخه وغوښتل شول چې خلیلزاد کانګرس ته ور ولیږي، تر څو د کانګرس د بهرنیو اړیکو کمیټې غړو ته د سولې مذاکراتو اړوند معلومات ورکړي.

خلیلزاد تر دې وړاندې د کانګرس د یادې کمیټې درې لیکونه له پامه غورځولي وو او د سولې خبرو په اړه د وضاحت او مالوماتو شریکولو لپاره نه و ورغلی.

د سپټمبر پر ۱۸مه، خلیلزاد د کانګرس له غړو سره پټه ناسته وکړه، او د سپټمبر پر ۱۹مه، بیا ځل خلیلزاد د کانګرس د بهرنیو اړیکو کمیټې سره پټې خبرې وکړي، پداسي حال کې چې ټاکل شوې وه دغه استماعیه غونډه علني وشي. د پټې ناستې په اړه د یادې کمیټې رئیس ایلیوت انګل په یوې اعلامیې کې وویل:"که څه هم غوره مې ګڼله د ښاغلي خلیلزاد څخه په علني جلسه کې واورم، خو خوشحاله یم چې د کمیټې غړو بالاخره د دې فرصت درلود چې د افغانستان د سولې په اړه د هغوی پوښتنو ته ځوابونه وویل شي".

همدارنګه د واشنګټن ټایمز ورځپاڼې رپوټ ورکړ چې پدغه غونډه کې خلیلزاد ویلي "زما شخصي نظر دادی چې مذاکرات بیا پیل کیږي."

تر خلیلزاد وروسته د جنوبي او مرکزي اسیا لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړي استازي الیس ویلز، د علني غونډې پر مهال د کانګرس د بهرنیو اړیکو کمېټې ته، له طالبانو سره د امریکا د مذاکراتو په اړه وویل:"په تېرو لسو میاشتو کې د افغان سولې په اړه مهم پرمختګونه تر سره شوي دي. امریکا له طالبانو سره له افغانستان څخه د خپلو ځواکونو پر وتلو موافقه نه کوي، بلکې پر داسې موافقه کار کوي چې د بین الافغاني خبرو له لارې جګړه ختمه شي" .

همدارنګه د استازو د مجلس د بهرنیو اړیکو د کمیټې مشر ایلیوت انګل وویل:"د ۱۸ کلنې جګړې وروسته واقعیت دادی چې طالبان لاهم شته، مونږ متاسفانه اړ یو چې ددې حقیقت سره سروکار ولرو. دا مثال لاهم رښتیا دی چې سوله د ملګرو سره نه کیږي. باور کوئ او که نه دا د پیل لپاره یوه ګډه زمینه ده، طالبان غواړي چې زمونږ ځواکونه له افغانستان څخه ووځي او مونږ غواړو چې خپل سرتیري کور ته راولو."

## د سولې نړیواله ورځ

د سپټمبر ۲۱مه، د سولې نړیواله ورځ ده، په همدې ورځ د ګډ حکومت مشر- ډاکټر غني په ویډیویي پیغام کې وویل:"که طالبان سوله وغواړي، مونږ د یوې شیبې لپاره هم د جګړې دوام نه غواړو او دلته یو ځل بیا په صراحت سره وایم چې د ټولو قتلونو او خونریزیو ګناه د هغه چا پر غاړه ده چې سوله او اوربند نه مني.

رښتینې سولې ته رسیدل هغه مهال شوني ده، چې طالبان اوربند وکړي.

افغان دولت په ځلونو د اوربند وړاندیز کړی او د خلکو د وژنو مسوولیت د هغوی پر غاړه دی، چې د اوربند لپاره نه حاضریږي."



دمصالحې د عالي شورا مشر ډاکټر عبدالله او د سولې محور غړي. اکتوبر ۲۰۱۹

## د ملګرو ملتونو په عمومي غونډه کې د افغانستان اړوند څرګندونې

د امریکا جمهور رئیس ډونالډ ټرمپ د سپټمبر پر ۲۴مه، د نیویارک په ښار کې د ملګرو ملتونو د سازمان په ۷۴مه عمومي غونډه کې اوږده او هر اړخیزه وینا وکړه، هغه د وینا پر مهال د افغانستان د سولې او جګړې په اړه وویل:" امریکا هیڅکله "د بې پایه جګړو" پلوي نده او موږ د افغانستان لپاره د "یوې روښانه راتلونکې" د موندلو هڅه کوو.

په ټوله نړۍ کې زمونږ پیغام روښانه دی. زمونږ هدف بې پایه جګړو ته تګ ندی. په همدې هدف زما اداره د افغانستان لپاره د ښه راتلونکې په هیله کې ده.

متاسفانه طالبانو خپلو وحشیانه بریدونو ته دوام ورکړی دی. مونږ د خپلو افغان شریکانو د ایتلاف سره کار کولو ته دوام ورکوو چې وکړای شو تروریزم له منځه یوسو. مونږ هیڅکله په واقعیت باندې د سولې د بدلولو له هڅې څخه لاس نه اخلو."

ولسمشر ټرمپ وویل:"د امریکا ځینې کلک ملګري یو وخت د دې هېواد سخت دښمنان وو، خو امریکا په دایمي دښمنۍ باور نه لري او د نړۍ هره برخه کې ملګري او اتحادیان غواړي".

د امریکا ولسمشر ټرمپ د ملګرو ملتونو په عمومي غونډه کې د چین پر اقتصادي تګلاره نیوکې وکړې، هغه وویل چې د چین اقتصادي تګلاره رښه نه ده. همدارنګه یې پر ایران نیوکې وکړې چې په سېمه کې امنیت ته خطر دی.

د سپټمبر پر ۲۳مه، د امریکا ولسمشر ټرمپ په نیویارک کې د پاکستان له لومړي وزیر عمران خان سره ولېدل، ټرمپ له عمران خان سره د کشمیر او افغانستان پر مسایلو خبرې وکړې، ټرمپ وویل:"زما ځای ناستو (د امریکا پخوانیو ولسمشرانو) د پاکستان سره ښه چلند نه دی کړی، زه دا نه وایم چې پاکستان زمونږ سره ښه سلوک کړی دی خو باید د هغې یو څه علت و، په اصل کې د هغې علت و."

ولسمشر ټرمپ وویل:"زه د عمران خان او د هند د صدراعظم نریندرا مودي سره ښې اړیکې لرم، که دغه دواړه مشران له ما څخه وغواړي نو د کشمیر د مسئلې د حل لپاره منځګړیتوب ته چمتو یم."

لومړي وزیر عمران خان له ولسمشر ټرمپ څخه وغوښتل چې د افغانستان د سولې خبرې بیرته پیل کړي، ټرمپ له طالبانو سره د مذاکراتو بیرته پیل کیدو ژمنه ونه کړه، خو ویې ویل:"خندونکې خبره ده چې امریکا ۱۹ کاله په افغانستان کې جنګیږي."

له ټرمپ سره تر لیدنې مخکې، د پاکستان لومړي وزیر عمران خان په نیویارک کې د بهرنیو اړیکو د شورا په کوربه توب جوړې شوې غونډه کې وویل:"احساس کوم چې دا هغه طالبان نه دي چې په ۲۰۰۱ کال کې د امریکا متحده ایالاتو لخوا لیري شول. مسایل بدل شوي دي. واقعیتونه بدل شوي، هغوی زده کړي دي. طالبانو درک کړې چې ټول افغانستان نه شي کنټرولولی. د افغانستان حکومت پوهیږي چې د سولې د معاملې یو ډول رامنځته کېدو ته اړتیا ده. باید یوه سیاسي حل لاره وي."

عمران خان وویل:"که امریکا په افغانستان کې جګړې ته ادامه ورکوي، ۱۹ کاله نور به هم له نظامي لارو دغه جګړه و نه ګټي. ځو ځله مې امریکایانو ته ویلي چې افغان جګړه یوازې د خبرو له لارې د حل وړ ده او پاکستان په دې برخه کې همکارۍ ته تیار دی.

افغانان پخپلو کې سره جګړه کوي خو د بهرنیانو پر وړاندې تل متحد وي او دوی له خپلې خاورې وباسي. زه پر امریکا ږغ کوم چې ژر تر ژره دې له طالبانو سره د سولې خبرې بېرته پیل کړي او پر جګړه ټینګار کول د هېڅا په ګټه نه دی."

د ملګرو ملتونو د عمومي غونډې په څنډو، د نیویارک ښار کې، د سپټمبر پر ۲۲مه، خلیلزاد د پاکستان له لومړي وزیر سره وکتل، عمران خان هیله وښوده چې د افغانستان د سولې خبرې بېرته پیل شي.

د پاکستان لومړي وزیر عمران خان پر خپل فیسبوک پاڼه کې ولیکل:"موږ د افغانستان د سولې اړوند د پاکستان – امریکا پر ګډو هڅو باندي بحث وکړ.

د افغانستان د سولې برخه کې موږ هر ډول مرستې ته چمتو یو، او د افغانستان کړکېچ له پوځي لارو نه شي هوارېدای.

زه "عمران خان" د ښاغلي خلیلزاد د هغو چارو ستاینه کوم چې په افغانستان کې یې د یوه سوله ییز، سیاسي جوړجاړي لپاره ترسره کوي.

پاکستان تل دا خبره کړې چې د افغانستان شخړه د جګړې له لارې نه شي حل کېدای او دا هېواد به د تلپاتې سولې د ترلاسه کولو په لور د ټولو نوښتونو ملاتړ ته دوام ورکړي.

د افغانستان سوله د پاکستان پر اقتصاد او وضعیت باندې تاثیر لري، موږ د افغانستان د سولې بهیر ملاتړ او ننګه کوو."

همدارنګه عمران خان پاکستاني رسنیو ته وویل چې له ده څخه ټرمپ او د سعودي عربستان مشرانو غوښتي چې د دوی او ایران ترمنځ د شخړې د حل په موخه منځګړیتوب وکړي.

د ملګرو ملتونو د ۷۴مې عمومي غونډې [۱۹۶] په څنډه کې د افغانستان سولې په اړه خلیلزاد د ناټو عمومي منشي ینس سټولټنبرګ، د هند بهرنیو چارو وزیر جي شنکر، د اندونیزیا بهرنیو چارو وزیرې رینټو مارسوډي، د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر شاه محمود قریشي او ځینو نورو هیوادونو له استازو سره لېدنې وکړې، د هیوادونو استازو له خلیلزاد سره په لیدنو کې د افغان سولې برخه کې د خپل ملاتړ ژمنه ورسره وکړه، او دا ډول یې له خلیلزاد څه وغوښتل چې د افغان سولې خبرې بیرته پیل شي.

د سپټمبر پر ۲۵مه، د ناټو سازمان عمومي سرمنشي ینس سټولټنبرګ په امریکا کې د"WBUR" په نوم له سیمه ییزې راډیو سره په مرکه کې وویل:"غوره به دا وي چې هغوی (امریکایان) بیرته د مذاکرې مېز ته کېني او یوې هوکړې ته ورسیږي، موږ

[۱۹۶] د ملګرو ملتونو ۷۴مه عمومي غونډه د سپټمبر پر ۱۷مه مازیګر مهال پیل شوه، عمومي او اړین بحثونه د سپټمبر له ۲۴مې تر ۲۷مې وشول. عادي غونډې د سپټمبر تر ۳۰مې دوام درلود.

باور لرو چې تر یوې بېړنۍ معاملې یو حقیقي تړون غوره دی او ناټو په دې برخه کې د دواړو لورو (امریکا او طالبانو) تر منځ د مذاکراتو د بیا پیل ملاتړ کوي.

د افغانستان د کړکېچ ټولو ښکېلو غاړو ته په کار ده، چې د کړکېچ او تشدد د ختمولو لپاره د جګړې پر ځای د سیاسي حل په را ایستلو کار وکړي. "

## په ملګرو ملتونو کې د امنیت شورا د مشر څرګندونې

د افغانستان د ملي امنیت سلاکار ډاکټر حمد الله محب د ملګرو ملتونو عمومي غونډه کې د سپټمبر پر **۳۰**مه وویل:"طالبانو او د هغوی بهرنیو ملاتړو ته له همدې ځایه د افغان ولس یو پیغام لرم، له موږ سره د سولې په بهیر کې یو ځای شئ، که نه پر وړاندې به مو جګړه جاري وساتو. لکه څنګه چې زما همکارې او په ملګرو ملتونو کې د افغانستان استازې عادله راز تېره اوونۍ په همدې ځای کې وویل، زه هم وایم چې په دې جګړه کې بریا زموږ ده".

د اکتوبر پر لومړۍ نیټه، د ګډ حکومت د مشرـ ډاکتر غني د ملي امنیت سلاکار ډاکټر حمدالله محب د امریکا د بهرنیو اړیکو شورا څېړنیز مرکز Council on Foreign Relations کې د وینا پر مهال وویل:"که چېرې یو شمېر هېوادونه د لاسپوڅو په وسیله په افغانستان کې جګړې ته دوام ورکوي، دوی به له دغو هېوادونو سره خبره سپینه کړي.

افغان ټولنه له پاکستان څخه د یو شمېر مسایلو د تضمین غوښتونکې ده، زما په اند، امریکا هم دا غوښتنه لري، هغه دا چې د افغان حکومت او وسله والو طالبانو ترمنځ په لاسلیک کېدونکې هر ډول هوکړه کې باید پاکستان لاسوهنه ونه کړي، باید دغه هوکړه رعایت کړي او احترام ورته ولري".

## له ځنډ وروسته د سولې نوی پړاو

د اکتوبر پر لومړۍ نیټه د خلیلزاد په مشري لوړ رتبه امریکایي هیئت اسلام اباد ته ورسید، تر څو له پاکستاني لوړ پوړو چارواکو سره د افغان سولې اړوند مسایلو او په دې برخه کې د پاکستان د مرستې په اړه ورسره بحثونه وکړي.

خلیلزاد او ډله یې له چین څخه اسلام اباد ته ولاړل، او په چین کې یې هم له چینایي چارواکو سره د افغان سولې په اړه بحثونه درلودل.

خلیلزاد د ملګرو متلونو د ۷۴مې عمومي غونډې پر مهال په نیویارک کې د سپټمبر پر ۲۲مه، د پاکستان له لومړي وزیر عمران خان سره ولیدل، او د افغان سولې برخه کې یې د پاکستان ملاتړ اړین وباله.

**د اکتوبر پر ۲مه نیټه، د امریکا د کانګرس دوو مهمو غړو (شان پاتریک او جېم هایمس) د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر شاه محمود قریشي سره د افغانستان سولې په تړاو ولیدل.**

د اکتوبر پر لومړۍ نیټه د طالبانو د قطر د سیاسي دفتر ویاند سهیل شاهین پر ټویټر ولیکل: "د ا.ا.ا. د سیاسي مرستیال محترم ملا برادر اخوند په مشري یو لوړ پوړی پلاوی سبا د اکتوبر په ۲مه د پاکستان په رسمي بلنه اسلام اباد ته سفر کوي. هلته به د یاد هیواد له چارواکو سره په یو لړ مهمو موضوعاتو خبري وکړي. دا له روسیې، چین او ایران وروسته څلورم رسمي سفر دی چې دسیمې هیوادو نو ته تر سره کیږي."

**د اکتوبر پر ۲مه، له قطر څخه د ملا برادر اخوند په مشرې د طالبانو ۱۲ کسیز پلاوی (ملا محمد فاضل اخوند، مولوي امیرخان متقي، ملا عبدالسلام حنفي، شیخ شهاب الدین دلاور، شیخ سید رسول حلیم، ملا خیرالله خیر خواه، ملا عبدالحق وثیق، مولوي محمدنبي عمري، مولوي مطیع الحق خالص، مولوي ضیاء الرحمن مدني او نبراس الحق عزیز) اسلام اباد ته ورسېدل.[۱۹۷]**

---

[۱۹۷] کله چې د افغان حکومت لخوا (اکتوبر ۲۰۱۷) کې له ګوانتانامو را خلاص شوې ۵ بندیانو (ملا فاضل محمد مظلوم، ملا خیرالله خیرخوا، ملا نورالله نوري، ملا عبدالحق وثیق

د اکټوبر پر ۲مه، د پاکستان بهرنیو چارو وزرات هم اعلامیه خپره کړه چې طالبانو ته یې رسمې بلنه ورکړې چې اسلام اباد ته ورشي، او د افغان سولې په تړاو ورسره خبرې وکړي.

د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت خبرپاڼه کې راغلي و: "د طالبانو استازو ته د ورتګ د بلنې ورکولو هدف د افغانستان د سولې لپاره هغو پرمختګونو ته بیا کتنه ده چې د امریکا او طالبانو د استازو ترمنځ په خبرو کې شوي دي.

په دې لیدنو کتنو کې به هڅه وشي چې څرنګه په افغانستان کې د سولې په تپه درول شوې پروسه بیا فعالېدای شي."

د اکټوبر پر ۳م سهار، د طالبانو ۱۲ کسیز پلاوي ته د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر لخوا هرکلی وشو، او د بهرنیو چارو وزیر سره یې د افغان سولې په اړه ناسته درلودله.

له پاکستان سره د خبرو د اجنډا په هکله د طالبانو د پلاوي غړي شیخ شهاب الدین دلاور په په همدې ورځ لنډه مرکه کې وویل:"دا یو رسمي سفر دی چې د پاکستان په رسمي بلنه کېږي، د دې سفر پر مهال به بحثونه پر سیاسي موضوعاتو متمرکز وي، خو تر خوا به یې پاکستان ته د افغانانو د تګ راتګ په برخه کې په شته ستونزو هم مورږ خبرې وکړو".

د اکټوبر ۳مه، د طالبانو او پاکستان د بهرنیو چارو وزیر له لېدنې وروسته د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت په خبرپاڼه کې لیکل شوې و: "د طالبانو پلاوی د سولې د خبرو لپاره اسلام‌آباد ته را بلل شوی دی. او د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر شاه محمود قُریشي هیله څرګنده کړې ده، چې د امریکا او طالبانو ترمنځ د سولې درېدلې خبرې بېرته پیل شي."

په خبرپاڼه کې د ښاغلي قُریشي له خولې لیکل شوي و: "په افغانستان کې د سولې د راوستلو لپاره د سیمې او نړۍ اجماع یو بې‌ساری فُرصت دی، چې باید له لاسه ولاړ نه شي، د دې فُرصت عملي کول په افغانستان کې د ښکېلو خواو په غاړه دی."

---

او مولوي محمد نبي عمري) ته پاسپورټونه ورکول شول، د هغوی په پاسپورټونو کې لیکل شوې وو " پاکستان او ایران" ته سفر نه شي کولای.

طالبانو هم له قریشي سره د طالبانو د پلاوي د لیدنې په اړه، د اکتوبر پر ۳مه، لاندي اعلامیه خپره کړه.

## د اسلامي امارت د پلاوي او د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر ترمنځ لیدنه وشوه

د محترم ملا برادر اخوند په مشري د اسلامي امارت د هیئت او د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر او ورسره نورو لوړ رتبه چارواکو تر منځ تفصیلي ناسته او لیدنه وشوه.

نن له غرمې مخکې په دغه لیدنه کې د دواړو هیوادو په اړیکو، سیاسي موضوعاتو او د سولې په تړاو جریاناتو سربیره د اسلامي امارت له لوري په پاکستان کې د افغان مهاجرینو د تعلیم، صحت، تګ راتګ او د ویزو په ورکړه کې د سهولتونو په رامنځته کیدو هم خبرې وشوې.

همدا ډول له پاکستاني لوري څخه د افغان تجارانو سره په اړوندو برخو کې د همکاري غوښتنه وشوه، چې په مقابل کې د هغه هیواد د بهرنیو چارو وزیر شاه محمود قریشي ـ لخوا وعده وشوه چې په یادو ټولو برخو کې به پوره همکاري وکړي او لازم سهولتونه به رامنځته کړي. مجاهد

په همدې ورځ د طالبانو پلاوي په اسلام اباد کې د پاکستان له لومړي وزیر عمران خان سره هم ولیدل، په لیدنه کې د پاکستان د پوځ لوی درستیز جنرال قمر جاوید باجوه هم ګډون درلود.

د اکتوبر پر ۳مه، بهرنیو رسنیو راپور ورکړ چې د طالبانو د پلاوي د مشرـ ملا برادر اخوند او د امریکایي پلاوي مشرـ خلیلزاد ترمنځ یو ساعت لیدنه شوې، خو دا لیدنه د سولې رسمي مذاکرات نه و.

همدارنګه په همدې ورځ د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر قریشي د پاکستان له کورنۍ ټلویزون سره په مرکه کې وویل:"خبرې ډیرې ښې

مختته ولاړې. فضا ډېره ښه او خبرې هم ښې وې. نظریات هم رد او بدل شول. موږ خپل دریځ په تفصیل سره بیان کړ. د هغوی نظر مو هم په غور واورېد. موږ خپله غوښتنه مطرح کړه چې غواړو مذاکرات بیا پیل شي. له کومه ځایه چې خبرې ماتې شوې وې، له هغه ځایه دي بېرته پیل او خپل منطقي انجام ته ورسیږي".

قریشي-له کورني ټلویزون سره مرکه کې زیاته کړه:"موږ تل ویلي، چې د افغانستان شخړه نظامي حل نه لري او سیاسي حل یې یوازې د مذاکراتو له لارې شونی دی، په همدې خاطر د طالبانو او امریکا تر منځ مذاکرات پیل شول، چې نهه پړاوه یې په بر کې ونیول او داسې یو مهال چې مساله تقریباً پای ته رسېدلې وه، مذاکرات ودرېدل."

د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر شاه محمود قریشي-د اکتوبر پر ۴مه له رویټر خبرې اژانس سره مرکه کې وویل:" طالبان چمتو دي چې پر خپلې ژمنې وفا وکړي او هغې احتمالي هوکړې ته لا هم ژمن دي چې د قطر مذاکراتو په پای کې یې د افغانستان د سولې لپاره د امریکا له ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد سره لاسلیکوله".

د طالبانو له مشر-ملا برادر اخوند سره تر څو ځله لیدو وروسته، د اکتوبر پر ۵مه، زلمی خلیلزاد بیرته واشنګټن ته روان شو، همدارنګه د طالبانو د مذاکراتي ډلې او امریکا مذاکراتي ډلې د غړو ترمنځ هم په اسلام اباد کې لیدنه شوې وه.

## پاکستان ته د طالبانو د سفر په اړه د افغان حکومت غبرگون

پاکستان ته د طالبانو د پلاوي په اړه د افغان حکومت غبرگون بیا هم منفي و، افغان حکومت څرگنده کړه چې د پاکستان او طالبانو غونډه د سولې له بهیر سره مرسته نه کوي.

د ملي یووالي د حکومت مشر ډاکټر غني ویاند صدیق صدیقي د اکتوبر پر ۳مه خبریالانو ته وویل:"مونږ پاکستان ته د طالبانو د سفر شاهدان وو، په تأسف سره چې د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر په پروتوکول د دوی هر کلی وکړ[198]، د داسې یوې ډلې کوربتوب چې لا هم تاوتریخوالی کوي، د هېوادونو ترمنځ د ټولو اړیکو او اصولو خلاف یو کار دی" .

صدیقي وویل:"د پاکستان او طالبانو وروستۍ غونډه د سولې له پروسې سره مرسته نه شي کولی.

د سولې پروسه یواځې هغه وخت نتیجه ورکوي، چې د پروسې مالکیت او رهبري د افغانستان د دولت په لاس کې وي. په خواشینۍ سره چې طالبان تاوتریخوالي ته دوام ورکوي، زموږ په انتخاباتو کې یې، پر مختفو سیمو حملې وکړې، زموږ انتخابات یې وگواښل او لا هم د تاوتریخوالي روایت لري.

د افغانستان دولت لا هم د سولې پروسې ته د طالبانو د ژمنتیا شاهد نه دی.

[198] د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر شاه محمود قریشي له خپل دفتر څخه د باندي، د بهرنیو چارو وزرات ودانۍ کې د طالبانو هرکلي ته ولاړ و او د هغوی تود هرکلی یې وکړ، او له طالب مشرانو سره یې په غیږ روغبړ وکړ. ډیپوماټیک اصول دا مهال داسي وو چې د بهرنیو چارو وزیر په خپل دفتر کې د طالب پلاوی هرکلی وکړي، او معمولاً په یو لاس روغبړ کیږي. مهم داده چې د بهرنیو چارو وزیر په دې لېدنه کې ملا برادر اخوند ته د خپل سیال "بهرنیو چارو وزیر" په توگه پروتوکل ورکړ.

افغان حکومت تل له پاکستان څخه غوښتي، چې په خپله خاوره کې د طالبانو او تروریستانو خوندي پناه‌ځایونه له منځه یوسي او د سیمې په امنیت کې مثبت رول ولوبوي.

په خواشینۍ سره چې د پناه‌ځایونو او مدرسو لویه برخه د پاکستان په خاوره کې ده.

د پاکستان لومړي وزیر عمران خان له افغان جمهور رئیس سره ژمنه کړې، چې په سیمه کې د امنیت د ټینګولو لپاره هڅه کوي، خو په عمل کې یې تر اوسه جدي اقدام نه دی کړی".

بلخوا د افغانستان د بهرنیو چارو وزرات ویاند صبغت الله احمدي د اکتوبر پر ۴مه وویل:"په اسلام اباد کې د افغان طالب پلاوي او پاکستاني چارواکو ترمنځ د سولې خبرې پیل شوې چې احتمال شته د طالبانو او د امریکا ترمنځ بیا خبرو پیلېدو ته لار هواره کړي،

د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت د پاکستان له خوا د طالبانو د کوربه توب هرکلی کوي.

دا ځل له پاکستانه زموږ هیله دا ده چې په صادقانه او اغېزناکه توګه له افغان حکومت سره د سولې مېز ته د طالبانو په راوستلو کې کار وکړي".

یوه ورځ وروسته؛ د بهرنیو چارو د وزارت د ویاند څرګندونې د ملي یووالي حکومت د مشر ډاکټر غني د ویاند صدیق صدیقي لخوا رد او هغه پر خپل ټوېټر ولیکل:"د سولې په اړه پالیسي د ولسمشرۍ ماڼۍ له خوا اعلان شوې ده. د طالبانو او پاکستان ترمنځ لیدنه یا د سولې بهیر په اړه د بهرنیو چارو وزارت د ویاند وروستۍ څرګندونې د افغان حکومت د دریځ استازیتوب نه کوي، بلکې دا د هغه شخصي نظر دی".

د اکتوبر پر ۵مه، د صبغت الله احمدي څرګندونو ته په اشارې سره د افغانستان دبهرنیو چارو وزارت سیاسي مرستیال ادریس زمان خبري ناستې ته وویل:"د بهرنیو چارو وزارت د هغه سیاست پلي کوونکی دی چې ولسمشر او یو شمېر ادارو جوړ

کړی دی. د دغه سیاست خلاف هر ډول څرګندونې شخصي نظر شمېرل کېږي. دا ډول خبرې د بهرنیو چارو وزارت دریځ نه دی. په وزارت کې هېڅ ډول دوه ګونی والی نه شته. زموږ خبرې له یوه دریځه دي''.

صدیقي ته په جواب کې د بهرنیو چارو د وزیر صلاح الدین رباني ویاند صبغت الله احمدي پر ټوېټر ولیکل:"د بهرنیو چارو وزارت د هېواد د بهرنۍ پالیسۍ یوازېنی تطبیقوونکی بنسټ دی او د سولې بهیر د ټولو هغو هڅو هرکلی کوي چې سولې ته لار هواروي".

د ارګ او بهرنیو چارو وزارت تر منځ؛ پاکستان ته د طالبانو د پلاوي اړوند یو د بل عکس څرګندونو له امله، د اکتوبر پر ٦مه، د ولسمشرۍ مانۍ لخوا د بهرنیو چارو وزرات د ویاند د ګوښه کېدو اعلان وشو، یوه ورځ وروسته دغه پریکړه د ډاکټر عبدالله لخوا رد، او د اکتوبر پر اوومه صبغت الله احمدي، په بهرنیو چارو وزارت کې د خپل دفتر څخه له رسنیو سره مرکې وکړې، چې دده د ګوښه کېدو واک ارګ نه لري، خپلې دندې ته دوام ورکوي.

د اکتوبر ٦مه، د طالبانو په رسمي پاڼه (الامارة / شهامت) کې د "ورځې خبره"سیاسي تبصره کې ولیکل:"د کابل ادارې لخوا پاکستان ته د اسلامي امارت د استازو د سفر په اړه هم متزلزل دریځ خپل کړ، د کابل ادارې د مشر اشرف غني ویاند صدیق صدیقي پاکستان ته په دې سفر نیوکه وکړه او د پاکستاني چارواکو لخوا یې د اسلامي امارت د استازو تود هرکلی د ډیپلوماټیکو اصولو ضد کړنه وبلله.

پورته دوه متفاوت نظرونه ښکاره کوي چې د کابل اداره کې څومره ژور اختلاف دی، چې دوی د یو سفر په هکله دومره متفاوت نظرونه لري؛ نو بیا څنګه کولای شي چې له اسلامي امارت سره د خبرو په هدف د یو قوي او باصلاحیته مذاکراتي ټیم په جوړولو وتوانیږي".

د اکتوبر پر ٦مه، پېژندل شوې پخوانې جهادي قومندان، د اوبو او بریښنا پخواني وزیر اسماعیل خان له اریانا نیوز ټلویزون سره مرکه کې وویل:"طالبانو تل د سولې خبرو ته خپل چمتووالی ښودلی؛ خو حکومت همېشه د سولې په پروسه کې

خندونه په لار اچولي، چې د بهرنیو چارو وزارت د سولې پلوي دریځ رد یې ښه بېلګه ده."

د اکتوبر پر ٦مه، د ارګ لخوا میرویس ناب د بهرنیو چارو د اقتصادي همکاریو معین وټاکل شو، او د اکتوبر پر ۸مه وزارت کې له یادې دندې سربیره سرپرست ویاند هم معرفي شو.

د اکتوبر پر ۴مه، د افغانستان بیا رغونې او مرستې لپاره د امریکا څارونکې ادارې «سیګار» په خپل تازه راپور کې ولیکل:"د امریکا دفاع وزارت او افغان حکومت په افغانستان کې د سولې په نوم بودیجه د دې لپاره لګولې، چې طالبان پرې کمزوري او په خپلو کې سره وویشي.

د افغان حکومت د سولې د تحکیم پروسې خپل باور له لاسه ورکړی او لامل یې دا دی، چې دا پروسه د امریکا د سیاسي موخو لپاره وکارول شوه.

د سیګار د موندنو پر اساس د سولې عالي شورا هڅې بې اغېزه او له فساده ډکې دي او له همدې امله نړیوالو مرستندویه هېوادنو او مؤسسو ورسره خپلې مرستې هم درولي دي".



د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر شاه محمود قریشي او ملا برادر اخوند

## د هندې انجنیرانو او طالب بندیانو تبادله

د اکتوبر پـر ٦مـه، لـه طالبـانو سره د درې بنـدی هنـدي انجنیرانـو پـه مقابـل کـې، له باګرام زندان څخه د طالبانو ۱۱ تنه بندیان خوشي شول.

پـه خـوشي شـويو طالبـانو کـې شـيخ عبـدالرحيم چـې د بنـدي کېـدو پـر مهـال د طالبـانو د کـونړ والي و، مولـوي عبـدالرحيم بلـوچ چـې د بنـدی کېـدو پـر مهـال د نيمـروز والي و، او ۹ نـور مهـم طالبـان پـه بغـلان ولايـت کـې طالبـانو تـه وسپارل شول.

رسـنيو راپـور ورکـړ چـې يـاده تبادلـه د طالبـانو او امريکـا تـرمنځ شـوې، افغـان حکومت پکې خبر نه دی[199].

---

[199] پوره يو کال مخکې له ما (ليکوال) څخه د طالبانو د فرهنګي کميسون مرستيال مشر احمدالله وثيق وغوښتل، که له هندوانو سره اړيکه ونيول شي، او د بنديانو تبادلې په اړه ور سره خبرې وشي. ما (ليکوال) ياده موضوع له ډاکټر فيض محمد ځلاند سره شريکه کړه، ځکه له هغوی سره په باختر پوهنتون کې يو هندو هم استاد و. خو هغه وخت ما (ليکوال) ځلاند ته وويل چې که دطالبانو او هند ترمنځ اړيکې جوړې شي؛ او د بنديانو د تبادلې خبره مې لومړي سر کې ورته ونه کړه. وروسته بيا د امنيتي ګواښ له امله موږ په دې موضوع کې ډيره ليوالتيا ونه ښودله. او په نومبر ۲۰۱۸ کې احمدالله وثيق وويل:"چې موضوع په جريان کې ده، او کسان ور باندې کار کوی."

د هند حکومت هڅه کوله چې د پيسو په مقابل کې له طالبانو سره بندي هندې انجنيران خوشي کړي، مګر طالبانو يې په مقابل کې د خپلو بنديانو د تبادلې غوښتنه درلودله، چې همداسې وشول.

د مارچ پر ۱۸مه، ځلاند ما (ليکوال) ته وويل:" د انس حقاني لخوا راته ويل شوې، چې له طالبانو سره د پاتې بندي دريو هندي انجنيرانو د تبادلې په اړه له ډاکټر عبدالله سره خبره وشي، که دوی زموږ ځينې طالبان يې په بدل کې را خوشي کړي."

زما (ليکوال) او ځلاند مشوره دا شوه چې اوس مهال په دې موضوع کې خبرې کول امنيتي ستونزې پيدا کوي، داچې د ډاکټر عبدالله له خوا ممکن لوړ پوړی پلاوی قطر يا کوم بل ځای ته له طالبانو سره د ليدو لپاره ورشي، ښه به وي چې طالبان دا خبره خپله ورته وکړي.

## د ټرمپ کمپاینې څرګندونې

د امریکـا ولسمشر ـ ډونالـډ ټرمـپ د اکتـوبر پـر ۱۰مـه، پـه مینیسـوتا ایالـت کـې پـه انتخابـاتي غونـډه کـې وویـل: "د امریکـا څخـه بهـر پـوځي شـتون تـه لیوالتیـا نه لرم، غواړم چې امریکایي سرتیري کور ته راشي".

ټرمـپ وویـل: "هغـو افـرادو تـه چـې نظـامي زده کـړې ورکـوو، خپلـې ټـوپکې زموږ سرتیـرو تـه نیسي ـ او لـه شـا څخـه پـرې ډزې کـوي. هغـو خلکـو تـه چـې د جګـړې زده کـړې ورکـوو، خپلـې ټـوپکې را اړوي او مـوږ وژني. زیـاتې داسـې پیښـې مـو لرلـې. دا ډول زیـاتې پیښـې مـو پـه افغانسـتان کـې درلـودې. وحشتناکه دي".

ټرمـپ زیاتـه کـړه:" یـو مشـکل کـار چـې د امریکـا د جمهـور رئـیس پـه توګـه یـې بایـد تـرسره کـړم د هغـو لیکونـو لاس لیـک کـول دي چـې پـه جګـړه کـې د وژل شویو سرتیرو کورنیو ته د هغوی د مړینې خبر ورکوي.

والـدینو تـه د لیکونـو لاس لیـک کـول تـر ټولـو مشـکل کـار دی چـې بایـد ویـې کړم. زړه مې مـاتوي. بیـا هـم غـواړي چـې پاتـه شـو. زه نـه غـواړم چـې پاتـه شـو. ټاکل شـوې وه مـونږ ۳۰ ورځـې پـه سـوریه کـې پاتـه شـو، اوس نـږدې لـس کالـه شـول. ټاکـل شـوی وه چـې لنـډه مـوده پـه افغانسـتان کـې پاتـه شـو، اوس نـژدې ۱۹ کاله شـول، چـې هلتـه یـو. وخـت یـې رارسـیدلی چـې (خپـل سرتیـري) کـور ته راوړوو".

---

د اپریل پر ٦مه، د هند د استخباراتو پټ کارکونکي "په ښکاره ژورنالسټ" منوج له ما (لیکوال) څخه وغوښتل که د هندي انجنیرانو د خلاصون په اړه له دوی سره مرسته وکولای شم. ډیر لنډ ځواب مې داوو چې دا امنیتي مسئله ده، او زه په دي برخه کې هیڅ نه شم کولای، خو طالبان غواړي چې هندي بندیان له افغان حکومت سره د ځینو طالب بندیانو تبادله کې خوشي کړي. داچې د هند او افغان حکومت ترمنځ اړیکې ښې دي، ښه ده چې تاسي له افغان حکومت څخه وغواړئ چې د هندي بندیانو تبادله کې ځینې طالبان خوشي کړي.

ښاغلي ټرمپ زياته کړه: "مونږ خپل کار کړی. هر هغه چاته چې لازم وو ماته ورکړو، ماته مو ورکړې ده. اوس سرتيري يواځې په پوليسو بدل شوي".

د امريکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ په سوريې کې د روسيې د مداخلې په اړه د اکتوبر پر ۱٦مه، په سپينې ماڼۍ کې د ايټاليا له ولسمشر سره په خبري کنفرانس کې وويل:" ماسکو په سوريه کې مداخله کولی شي خو بايد په افغانستان کې هم خپله مداخله هېره نکړي. دا د سوريې خوښه ده چې له روسيې او بل هر چا سره ملګرتيا او ايتلاف ولري، او زه ورته ښه چانس غواړم. تاسو پوهيږئ روسيه، چې شوروي اتحاد بلل کېده، په افغانستان کې هم ښکېله وه. اوس يې روسيه بولي، ځکه چې دوی په افغانستان کې ډېر لګښت وکړ او له همدې کبله دغه اتحاد کوچنی شو، بيخي کوچنی".



انځور: ولسمشر ټرمپ او ډاکټر غني په باګرام پوځې اډه کې

## د افغانستان لپاره د ناروې هیواد ځانګړی استازی پېر سره لېدنه

۱۴ اکتوبر ۲۰۱۹
وخت: مازیگر ۵:۰۰ تر ماښام ۶:۱۵
د ناروې سفارت
ګډونوال: د افغانستان لپاره د ناروې هیواد ځانګړی استازی پېر، د ناروې سفارت مستشار سیټن پال ریسن بیرگ او زه (مطمئن).
**پېر**: د طالبانو او امریکا خبرې پېلدو په اړه تر اوسه هم اطمنان نشته، کیدای شي ژر پېل نه شي.

کله چې ټرمپ له سوریې څخه د خپلو پوځیانو وتلو اعلان وکړ، پر هغه د فشار خبره کېدله، خو د افغانستان په اړه ماته نه ښکاري چې پر ټرمپ به د امریکا داخل څخه ربښتونی فشار و.

زما معلومات دادي چې په اسلام اباد کې، د اکتوبر پر ۳مه، د ملا برادر اخوند او خلیلزاد ترمنځ په دریو مهمو مسایلو بحث شوی.

۱ – د افغان – امریکایې پوهنتون د استادانو تبادله له طالب بندیانو سره.
۲ – د تاوتریخوالي کموالی. او
۳ – د اوربند په اړه بحث.
ټرمپ هم له عمران خان سره د لېدنې پر مهال (۲۳ سپټمبر ۲۰۱۹) له هغه غوښتي و چې د تاوتریخوالي کمولو او اوربند په اړه مرسته وکړي او طالبان وهڅوي.
ملا برادر اخوند او متقي صاحب په کوټه کې دي، ملا برادر اخوند غواړي چې د طالبانو له مشر شیخ هبة الله سره ووینې او د اوربند په اړه له هغه سره مشوره وکړي.

خلیلزاد به ملا برادر اخوند ته ویلي و که پورته درې مسایلو کې طالبان چمتووالي وښیې نو دوی (امریکا) به هم بیا عملاً یو څه وکړ ي.

دوحه کې مې ملا عبدالحق وثیق او شیخ سید رسول سره موده وړاندې ولېدل، موږ غواړو چې دواړه لوري (طالب او امریکا) وهڅوو چې خبرو ته کیني.

امریکا غواړي چې د اوږ مهال لپاره په افغانستان کې جګړه وساتي، هغوی به خپل مصارف او پوځیان را کم خو جګړه به دلته دوام کوي.

داچې د بین الافغاني خبرو لپاره ناروې رول ولري، دا د خلیلزاد غوښتنه وه، او همدا خبره ما (پېژ) په دوحه کې طالبانو ته هم کړي. کله چې په دوحه کې (۷او ۸ جولای ۲۰۱۹) بین الافغاني ناسته وه، هغه وخت ما هیڅاته هم نه و ویلي چې بین الافغاني خبرې به په ناروې کې کیږی، خو له طالبانو پرته؛ د غونډې نورو افغان ګډونوالو به هر یوه ماته ویل چې بین الافغاني مذاکرات به په ناروې کې کیږی، هغوی ته خلیلزاد همدا خبره کړې وه.

ما (پېژ) ته شیرمحمد عباس ستانکزي وویل چې دوی لا هم پریکړه نه ده کړي چې په ناروې یا کوم بل هیواد کې به بین افغاني مذاکرات کوي.

دویم ځل بیا ما له شیخ سید رسول او ملا خیر الله خیرخواه سره په دوحه کې ولېدل، هغوی ته مې په ناروې کې د بین الافغاني مذاکراتو اړوند هر څه روښانه کړل، چې دا غوښتنه د خلیلزاد ده، او پریکړه په تاسي پوري اړه لري چې کوم ځای کې خبرې کوئ، هغه ستاسي کار دی.

پلان دا و چې په ۲۳ سپتمبر ۲۰۱۹، په ناروې کې بین الافغاني مذاکرات پیل شی، خو ستونزه پیدا شوه. د بین الافغاني مذاکراتو د کوربتوب لپاره چین، ازبکستان او قطر هم هڅې کولې.

مګر د طالبانو له خبرو داسې ښکارېده چې په بېلابېلو هیوادو کې به په نوبت بین الافغاني مذاکرات کیږي.

امریکا به دا ځل غواړي چې بین الافغاني مذاکرات پیل او افغانان خپلو منځو کې خبرې وکړئ. تاسي څه فکر کوئ چې اوربند او بین الافغاني مذاکرات، پرته له دې چې د طالبانو او امریکا ترمنځ خبرې مخکې یوړل شي، څومره شونې دي.

**مطمئن**: دا چې طالبان به اوربند ومني، فکر کوم چې تر څو د بهرنیو ځواکونو د وتلو اعلان نه وي شوی، طالبان به اوربند ونه کړي.

که امریکا غواړي چې په افغانستان کې خپل پوځي شتون وساتي، او طالبان هم ډاډه شي چې د سولې خبرې ټکنۍ او امریکا حتماً دلته اوږمهاله پوځي شتون غواړي، نو بیا کیدای شي طالبان هم خپله تګلاره بدله کړي، او امریکایان به په امریکا او اروپا کې تعقیب او هغوی ته به هلته هم ستونزې جوړې کړي[٢٠٠]، اوس مهال خو طالبان د افغانستان له جغرافیې دباندې کومې نظامي کړنې نه کوي، ولې بیا به مجبوره وي چې همدا کار وکړي.

که د امریکا او طالبانو ترمنځ د سولې تړون ونه شي، ستونزمنه به وي چې د افغانانو ترمنځ ستونزه حل شي، او که چیرته امریکا پر دې ټینګار کوی چې طالبان او افغان سیاستوال + حکومت دې خبرې وکړي، که دوی خبرو ته سره کښیني هم، نتیجه به ونه لري، یوازې د وخت ضایع کېدل به وي.

د بندیانو تبادله ښه ده، له ۳ هندي انجنیرانو سره د ۱۱ طالبانو تبادله ښه کار وشو. فکر نه کوم چې طالبان به د افغان – امریکایې پوهنتون دوه استادان د انس حقاني او ورسره دوو ملګرو له تبادلې پرته خوشې کړي.

**پېژ**: که امریکا پرته له دې چې له طالبانو سره مذاکرات وکړي، د خپلو پوځیانو د وتلو اعلان وکړي، او پوځیان وباسي، امنیت به لا زیات خراب نه شي؟

**مطمئن**: ښه داده چې امریکا مسؤلیت ومني او له طالبانو سره د تړون له مخې ووځي، خو که چیرته له افغانستان څخه امریکا پرته له مسؤلیت څه ووځي، بیا هم زموږ افغانانو په ګټه ده، مګر موږ غواړو چې په راتلونکې کې له امریکا سره ښې ډیپلوماټیکې اړیکې ولرو، خو که امریکا یو ناڅاپه له مسؤلیت پرته له افغانستان څخه وځي، نو بیا به د امریکا او افغانستان راتلونکي ډیپلوماټیک اړیکې هم له خنډ سره مخ وي.

---

[٢٠٠] زه (لیکوال) پوهیدم چې پېژ به دا خبره امریکایانو ته رسوي، په قصدي توګه مې ورته وویل:" که امریکا په افغانستان کې د اوږدمهاله شتون نیت لري، او طالبان ډاډه شي چې د سولې مذاکرات بې نتیجې دي، نو امریکایان به په امریکا او اروپا کې هم تعقیب او په نورو هیوادو کې به هم امریکایان وننګوي."

ما په دې خاطر دا خبرې ورته وکړي تر څو امریکایان بیرته مذاکراتو ته حاضر شي.

موږ غواړو چې د چین او روسیې په نسبت، په راتلونکې کې له امریکا سره ښې ډیپلوماټکې اړیکې ولرو، او له اروپا سره خو هسي هم مشکل نه لرو.

**پېژړ**: کوم یو ښه ده، ډاکتر غني او که ډاکټر عبدالله چې ولسمشرۍ ټاکنې وګټي.

**مطمئن**: اصلاً یو هم ښه نه ده، موږ په هیڅ یوه له دوی دواړو باور نه کوو، او ولس هم عملاً وښودله چې د رایو مرکزونو ته را ونه وتل.

که ډاکټر غني بیا ځل د نورو ۵ کلونو لپاره واک کې راشي، نو بیا سوله بیخې شونې نه ده، هغه د سولې مخالفت کوي، خو که ډاکټر عبدالله بریالی اعلان شي، اوس مهال خو د سولې خبرې کوي، مګر بیا هم باور نه شي کیدای، ښه داده چې د سولې په نوم حکومت تشکیل شي، او د سولې لپاره کار وشي.

## د رونالډ کوبیا خبرې

۱۸ اکتوبر ۲۰۱۹

ځای: فخرالدین کلا – هرات

د هرات امنیتې خبرو اتمې غونډې ته د افغانستان لپاره د اروپایې ټولنې ځانګړې استازي رونالډ کوبیا Ronal Kobia د خبرو پر مهال وویل:" موږ تمه لرو چې د طالبانو او امریکا ترمنځ د سولې خبرې پېل شي، د افغانستان اوسنی حالت سولې ته برابر او افغانان سولې ته تږې دي.

د افغانستان جګړې په اړه ملکیان نه، بلکې نظامي جنرالان دا وایې چې د افغانستان کشاله نظامي حل نه لري. سولې ته د رسېدو کړکۍ خلاصه ده، خو طالبانو دا وتړله.

په سوله کې د ولس غوښتنې لومړیتوب دي، نه داچې یوازي سیاستوال به د ملت لپاره هر څه ټاکي.

زما په اند چې لاندې ۵ موارد اړین دي:

۱ – اروپايي ټولنه د اوربند غوښتنه کوي، د طالبانو – امریکا د مذاکراتو څلور واړه مسایل (له افغان خاوري نړۍ ته نه ګواښ، د بهرنيو ځواکونو وتل، بین الافغاني تفاهم او اوربند) یو ځای باید پر مخ یوړل شي.

د طالبانو او امریکا ترمنځ د خبرو بیا ځل پیل کېدل به وخت ونیسي، خو په کار ده چې پیل شي.

۲ – د سولې مذاکراتو کې ۱۸ کلنې لاسته راوړنې باید خوندي وي، سوله او ډیموکراسي له یو بل سره تړلې او د یو بل ملاتړې دي.

۳ – د افغانستان ډیر خلک غواړي چې بهرنیان دي دلته نه وي، مګر د افغانستان ملاتړ لپاره يې ضرورت شته، او په سیاسي برخه کې اوږد مهاله شتون ته اړتیا ده، تر څو په راتلونکې کې هم د بیارغوني، او پرمختیایي کارونو کې د افغان حکومت ملاتړ وکړي. او سخته ده چې اروپايي ټولنه د اسلامي امارت نوم ومني.

۴ – د سولې مذاکرات ضروري دي، خو د تړون او ژمنو عملي کېدلو ته باید اړخونه ژمن وي، د مذاکراتو په جریان کې د لږکیو، میرمنو او نورو حقونو ته درناوی وشي او په پام کې ونیول شي.

۵ – افغان حکومت باید د سولې خبرو بشپړه برخه وي.

اروپايي ټولنه چمتو ده چې د سولې بهیر د تضمین کوونکي په توګه رول اداء کړي، مګر دا په افغانانو پوري اړه لري، چې له اروپايي ټولنې دا غوښتنه کوي یانه؟

اروپايي ټولنه داسي بین الافغاني تفاهم غواړي چې اوربند وشي، پرته له اوربند څخه د سولې خبرې نتیجه نه ورکوي[۲۰۱].

---

[۲۰۱] لږ وروسته ما (لیکوال) ښاغلي کوبیا ته وویل: تر څو بهرني ځواکونه په افغانستان کې شتون ولري، فکر نه کوم چې طالبان به اوربند ته زړه ښه کړي.

کوبیا وویل:" زما هدف دا و چې کله د افغانانو ترمنځ خپلمنځي خبرې پیل شي، د دوی ترمنځ دي د اوربند په اړه بحث وشي او اوربند ته دي زمینه برابره شي. د طالبانو او امریکا ترمنځ مذاکرات بېل بحث دی، خو د افغانانو خپلمنځي خبرې بېل بحث، افغانان دي د اوربند په اړه بحث خپلو منځو کې وکړي."

موږ غواړو چې ددې تضمین وشي چې له افغانستان څخه بیا نړۍ ته ګواښ نه وي، اروپايي ټولنه د افغانستان له ولسمشرۍ ټاکنو څخه ملاتړ کوي، د افغانستان اساسي قانون ته باید درناوی وشي.

موږ د سولې مذاکرات او د ټاکنو پایلې یو له بل سره نه تړو، چې د سولې مذاکراتو لپاره د ټاکنو پایلو ته انتظار وکړو، بلکې په دواړو برخو کې پرمختګ غواړو، داسې نه ده چې د سولې خبرې دي د ټاکنو پایلو اعلانېدو پورې وځنډول شي.

موږ په دې آند یو چې د افغانستان راتلونکی ولسمشر به د سولې خبرې مخکې وړي، اوس مهال د افغانانو لپاره د افغانانو پواسطه د سولې ښه وخت دی.

## په هسکه مېنه کې برید، د پمپیو څرګندونې

د اکتوبر پر ۱۸مه، د ننګرهار په هسکه مېنه ولسوالۍ کې د جودرې کلي په جامع جومات کې د جمعې لمانځه پر مهال پر لمونځ کونکو برید وشو، چې د برید له امله **٦٢** تنه ووژل شول او **٣٦** تنه ژوبل شول.

د اکتوبر پر **۱۹**مه، د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پمپیو لخوا خپره شوې اعلامیه کې لیکل شوي و:"امریکا په افغانستان کې سولې او ثبات ته ژمن دی او د تروریزم په وړاندې مبارزې ته به دوام ورکوي، او امریکا به د سوله غوښتونکو افغانانو ترڅنګ ولاړه وي.

امریکا په افغانستان کې سولې او ثبات ته ژمنه ده او د تروریزم په وړاندې زموږ مبارزه به دوام ولري، موږ به یوازې د هغو افغانانو چې سوله او خپل هېواد په راتلوونکي کې له هر ډول تاوتریخوالي څخه پاک غواړي، ترڅنګ ولاړ یو. "د عبادت ځایونه باید خوندي وي،باید د تروریستي حملو هدف ونه ګرځول شي، زه د دغه پېښې له قربانیانو سره ژوره خواخوږي څرګندوم"[۲۰۲].

[۲۰۲] پر لمونځ کونکو یاد برید طالبانو هم په کلکه وغانده او د برید پړه یې پره افغان حکومت او داعش واچوله، بل خوا بیا ډاکټر غني د برید له غندلو سره د یاد برید پړه پر طالبانو او داعش واچوله.

## رابن رافیل سره ناسته

۱۸ او ۱۹ اکتوبر ۲۰۱۹

ځای: ارگ هوټل – هرات

د هرات امنیتي خبرو اتمې غونډې ته رابن رافیل هم راغلي وه، موږ دواړو په یاده کانفرانس کې ویناوې هم درلودلې. د اکتوبر پر ۱۸مه، رافیل ما (لیکوال) ته وویل چې څه باید وشي چې د امریکا او طالبانو ترمنځ مذاکرات بیرته پېل شي، او ځینې کارونه باید طالبان وکړي چې دا خبرې بیرته پېل شي، هغې وویل چې ولسمشر ټرمپ ډېر احمقانه کار وکړ، هغه لا هم طالبان نه دي پېژندلي، او کمپ ډېویډ ته د طالبانو ورتگ ربښتیا هم سم کار نه و[۲۰۳].

**رافیل** زیاته کړه: ټرمپ غوښتل چې خپل ځان ډېر لوړ وښیې چې دا هر څه ده وکړل، او دده پلان و چې طالبان او اشرف غني یو ځای کړي، او بیا د طالبانو د مذاکراتي ډلې مشر د ټرمپ یو لور ته او ډاکټر غني یې بل لور ته ولاړ وي، او ټرمپ اعلان وکړي چې له طالبانو سره یې د سولې هوکړه او له ډاکټر غني سره یې گډه اعلامیه لاسلیک کړه[۲۰۴]، ځان نړۍ او امریکا ته وښیې چې همدی کولای شي چې طالبان او ډاکټر غني یو ځای ودروي، او د افغانستان کشاله ختمه کړي.

بله خبره داده چې پر ټرمپ په کور دننه هم نیوکې وې، اوس چې خبرې ودرول شوې، هر سړی پوهیږي چې دا سم کار نه و.

---

د سیمې ځینو خلکو برید د داعش وسلوالې ډلې کار باله او ځینو بیا برید د امریکا د توغندي له امله باله.

[۲۰۳] د ایران د بهرنیو چارو د وزیر سلاکار دکتور سید رسول موسوي هم د اکتوبر پر ۱۹مه، ما (لیکوال) ته وویل:" طالبانو ډېره پر ځای پریکړه وکړه، چې کمپ ډېویډ ته ورنغلل، ټرمپ غوښتل چې په دې کار سره طالبان توهین شي."

[۲۰۴] د اکتوبر پر ۱۸مه، په سوله کې د دولت وزیر سلاکار شعیب رحیمي د هرات اتم امنیتي کانفرانس ته د خبرو پر مهال وویل:" د افغان حکومت او امریکا ترمنځ اعلامیه چمتو او نهایي شوې وه، پر دې هم توافق شوی و، چې کوم ځای کې او په کومه کچه اعلامیه د دواړو هیوادو له لوري لاسلیک شي."

په کار ده چې طالبان هم نرمښت وښيې تر څو خبرې بيرته پيل شي، او د دې لپاره په کار ده چې طالبان له ډاکټر خليلزاد سره مرسته وکړي، تر څو پر هغه فشار کم، او امريکايي مشرانو ته قناعت ورکړي.

اوس خو په قطر کې خبرې نه شي کېدای، ځکه هلته دا خبرې وځنډول شوې او خليلزاد قطر ته ورتگ به ښه نه گڼي، ځکه ۹ پړاوه خبرې وشوې، او بيا ټرمپ په يوه ټويټ ودرولې[۲۰۵].

د رابن رافيل ټينگار پر دي و چې طالبان بايد د سولې خبرو بيا ځل پيل لپاره له خليلزاد سره مرسته وکړي.

ما (**ليکوال**) هغې ته وويل: ټرمپ رښتيا هم طالبان نه دي پيژندلي، او زما معلومات دادی چې د طالبانو او خليلزاد ترمنځ اړيکې کله هم پرې شوې نه دي، دوی له يو بل سره اړيکه کې دي.

ښه ده چې خبرې بياځل پيل شي، دا چې طالبان له خليلزاد سره مرسته وکړي، تر څو بيرته د خبرو پيل کېدو ته زمينه مساعده شي، تاسي (ميرمن رافيل) مشخص ټکي ما (ليکوال) ته ووايياست، چې کوم کارونه دي چې طالبان يې وکړي، او هغه به د خليلزاد له دريځ سره مرسته وکړي، تر څو د هغه له لاسه ورکړی باور ورغول شي.

موږ پر دي سلا شوو، چې ميرمن رابن رافيل به سبا ځينې مشخص ټکي ما (ليکوال) ته ووايي، او زه به هغه ټکي بيا له طالبانو سره شريکوم.

[۲۰۵] رښتيا هم د طالبانو او امريکا ترمنځ د سولې ټرون ټولې مادې او ضميمې د دواړو لورو (ملابرادر او خليلزاد) لخوا منل شوې او ښباني شوې وي، د قطر د بهرنيو چارو وزارت ته د ټرون يوه کاپي سپارل شوې وه چې د لاسليک رسمي نيټه اعلان او په لوړه کچه مراسم جوړ کړي، مگر يو ناڅاپه د ټرمپ ټويټ (۸ سپټمبر) دا هر څه له خنډ سره مخ کړل، اوس به خليلزاد ته سخته وي چې څه جواب د قطر بهرنيو چارو وزارت ته ووايي، همهغه وو چې د اکتوبر پر ۳مه، خليلزاد او ملابرادر دا وار د قطر پر ځای په اسلام اباد کې سره وليدل.

د اکتوبر پر ۱۹مه، ماسپښين مهال، **میرمن رابن رافیل** ۴ داسې موارد وویل چې هغې د خلیلزاد د ټیم له کسانو تر لاسه کړي وو، تر څو که طالبان په دې برخه کې نرمښت او پرمختګ وښیي نو د امریکا – طالبانو بیا ځل خبرو پیل کېدو ته زمینه برابره شي.

۱ - د امریکا ضد څرګندونې، د غچ اخیستلو څرګندونې، په امریکا پسې خبرې کولو، او په کابل کې د امریکایانو تعقیب کولو کې دې طالبان کموالی راولي.

۲ - دا چې بیا ځل د افغانستان اسلامي امارت واک ته ورسیږي، همدا د امارت خبرې دې نه کوي، ځکه خلکو ته اندیښنه پیدا کیږي، چې دوی بیرته نویمو کلونو ته ور ګرځي.

۳ – طالبان دې د سولې په خپل مذاکراتي ډله کې ښځو ته هم ونډه ورکړي، او په مذاکراتي ډله کې دې میرمنې ور زیاتي کړي.

۴ – له القاعده سره د اړیکو پریکولو په اړه دې وضاحت وکړي، او دا ممکن نه ده چې له القاعده سره د طالبانو اړیکې وي، او امریکا دې له طالبانو سره جوړ جاړي ته ورسیږي، په یو وخت کې دا ممکن نه ده چې هم دې طالبان له امریکا سره د سولې مذاکاراتو پایلې ته ورسیږي او هم دې طالبان له القاعده سره اړیکې ولري.

رافیل وویل چې یاد مهم ټکې د خلیلزاد د مذاکراتي ډلې د غړي لخوا ورته ورکول شوې.

هغې زیاته کړه: ټرمپ غوښتل چې ځان قهرمان وښیي چې کولای شي په کمپ ډیویډ کې طالبانو او ډاکټر غني سره د سولې تړون او اعلامیه لاسلیک کړي، مګر ونه توانېد.

بین الافغاني مذاکرات مهم دي، او امریکا هم غواړي چې افغانان خپلو منځو کې تفاهم ته ورسیږي، موږ (امریکایان) که دلته (افغانستان) کې یو، پیسې به مصرف کیږي، خو بیا هم معلومه نه ده چې تر کومه وخته به موږ دلته په جګړه کې ښکېل یو.

په بین الافغاني مذاکراتو کې که طالبان افغان سیاستوالو ته یو څه ورکړي، ډېر ټینګار ونه کړي، په دي معنی ده چې دوی امریکا ته یو څه ورکړل، او د سولې لپاره پرمختګ ګڼل کیږي.

په کار ده چې د افغانستان دننه د سولې بېلابېل اوازونه را پورته شي، او طالبانو ته هم په کار ده چې په خپل جوړښت کې د ټولني نوی نسل له ځان سره ولري.

همدارنګه په کار ده چې طالبان د هیواد په شمال کې هم خپل نفوذ ولري، داسي نه چې یوازي په دي فکر کي شي چې دوی به د ۱۹۹۶ ز کال په څیر په زور واک تر لاسه کوي.

طالبان هغه وخت ازاد و، خو حکومت یې ځکه مشروع نه و، چې نړۍ نه پېژانده. له دي امله په کار ده چې طالبان خپل ځان خلکو او نړیوالو ته ور وپېژني، دوی باید بهرنیو هیوادونو ته ولاړ شي، او له خلکو سره ووینې.

طالبانو ته په کار ده چې خلکو ته وښيې چې کوم ډول قانون دوی غواړي، کوم ډول نظام؟

بُن غونډه تیروتنه وه چې طالبان پکې نالیدلې وګڼل شول، هغه تېروتنه باید تکرار نه شي، په کار ده چې د سولې مذاکراتو کې ټولې ډلې شتون ولري، او یو بل وزغمي.

**میرمن رافیل** وویل: کومې خبرې چې همدا نن صالح ریګستاني (د هرات اتم امنیتې کانفرانس) کې وکړي چې طالبان ترهګر دی، طالبان د ښځو، تعلیم تربیې، پرمختګ مخالف دي، او طالبان وروسته پاتې د اطرافو خلک دي، هغوی پرمختګ او د ښځو حقونه نه مني، همدا فکر د طالبانو په اړه په امریکا کې شتون لري، خلک کټ مټ همداسي فکر کوي، طالبانو ته په کار دي چې په دي برخه کې خلکو ته د ځان په اړه پوهاوی وړاندي کړي[٢٠٦].

---

[٢٠٦] لږ وروسته ما(لیکوال) ته په هرات کې د ایران سر کونسل حسیني هم وویل:" په ایران کې خلک د طالبانو په اړه معلومات نه لري، هغوی د طالبانو په اړه هر څه له رسنیو اوریدلي دي، او فکر کوي چې طالبان ترهګر او د مدنیت او پرمختګ مخالفه وسلواله ډله ده.

**رابین** وویل: که جګړه اوږدیږي، له امله یې طالبان د وخت په تیریدو کمزوري او ورکیږي، ښه داده چې د سولې مذاکراتو کې پرمختګ وشي.

د اکتوبر پر ۲۲مه، **ډاکټر ځلاند** ما (لیکوال) ته وویل چې د اکتوبر پر ۲۰مه مې له رابن رافیل سره په کابل سرینا هوټل کې ولیدل، هغې وویل:

"ټرمپ له طالبانو سره د سولې مذاکرات درولې، اوس په کار ده چې طالبان یې د بیا ځل پیل کیدو لپاره له ټرمپ سره مرسته وکړي، ځکه په امریکا کې هیڅوک نه شي کولای چې ټرمپ وهڅوي، او د دې لپاره چې طالبان څه ډول همکاري وکړي، لاندي موارد شتون لري.

۱ – طالبان دي د افغان – امریکایې پوهنتون دوه استادان پرته له دې چې انس حقاني ور خوشی شي، هغوی ته له نورو طالب بندیانو سره تبادله او یا هم پرته له هرې غوښتنې خوشي کړي.

امریکا غوښتل چې د امریکایې بندیانو او انس حقاني تبادله وشي، خو افغان حکومت امریکا ته وویل:" که انس حقاني له بند څخه خوشی شي نو پر کابل به د حقاني ډلې بریدونه بیا زور واخلي، اوس چې کله هم په کابل لوی برید وشي، موږ پر حقاني ډلې د فشار لپاره انس حقاني کارو، اوازونه را وچتو چې انس حقاني دي اعدام شي، همهغه ده چې د حقاني ډله بیا ارامه شي، او که انس حقاني طالبانو ته وسپارل شي، نو دحقاني ډلې بریدونه به ډیر زور واخلي."

۲ – طالبان دي د اوربند ومني، دا هم ممکن ده چې نا اعلان شوی اوربند وکړي، په ځینو مشخصو سیمو کې دي اوربند ته غاړه کیږي، او یا دا چې تاوتریخوالي کم کړي.

۳ – طالبانو ته په کار ده چې له امریکایې نظامي کسانو سره د افغان سولې اړوند ډیر کار وکړي، تر څو جنرالان راضي شي، خلیلزاد د نظامي کسانو په پرتله مهم نه دی.

---

زه (حسیني) مژده صاحب او تاسي ته بلنه درکوم چې مشهد ته راشئ او هلته په یو ځیړنیز بحث کې پر دي خبرې وشي چې طالبان څوک او څه غواړي."

داچې امریکا له طالبانو سره د سولې خبرې وځنډولې د امریکایې جنرالانو غوښتنه وه، په اتم او نهم پړاو خبرو کې د امریکا له مذاکراتې ډلې سره جنرال سکاټ میلر دوحې ته نه و تللی، تر څو له طالبانو سره خبرو کې برخه واخلي.

۴ – طالبانو ته په کار ده چې د امریکا ضد سختې څرګندونې ونه کړي، کله چې طالبانو په خپلو اعلامیو کې څرګنده کړه چې امریکایانو ته یې ماتې ورکړي، او افغانستان د بهرنیو پوځیانو هدیره ده، همهغه و چې امریکایې جنرالانو له ټرمپ څخه وغوښتل چې د سولې خبرې وځنډول شي.

ویره داده که چیرته ټرمپ یو ناڅاپه د امریکایې پوځیانو د وتلو اعلان وکړي، په افغانستان کې به کورنۍ جګړه پېل شي.

د ډاکټر غني په شتون کې سوله ممکن نه ده، کیدای شي چې د افغانستان ولسمشرۍ ټاکنو د پایلو اعلان وځنډیږي، او یو لنډ مهاله حکومت را منځته شي."



انځور: مطمئن، ځلاند، رابن رافیل، پروفیسور پاولو. کابل سرینا هوټل

## کابل ته د امریکا دفاع وزیر راتګ

د اکتوبر پر ۲۰مه، په یو ناڅاپي سفر د امریکا دفاع وزیر مارک اسپر کابل ته راغی، په کابل کې یې له جنرال سکاټ میلر او لوړ پوړو امریکایي جنرالانو سره ولیدل، هغه د ملي یووالي حکومت له مشر ډاکټر غني سره هم ولیدل. د مارک اسپر د دفاع وزیر دندې تر لاسه کولو، دا د هغه لومړی رسمي سفر دی چې کابل ته یې کوي، هغه د سفر پر مهال خبریالانو ته وویل:"هدف دا دی چې د سولې یو تړون وشي، یو سیاسي جوړجاړي وشي، چې وړاندې تګ لپاره تر ټولو غوره لار وي.

زه هیله لرم چې موږ نور هم پر مخ ولاړ شو او له یو داسې سیاسي جوجاړي سره راشو چې هم زموږ لوري ته د منلو وي او هم مو هدفونه ترلاسه کړو".

د اسوشیتید پرس اژانس د راپور پر اساس چې ښاغلي اسپر ویلي دي چې ښایي امریکا په افغانستان کې د خپلو ځواکونو شمېر ۸٦۰۰ ته راکم کړي، هغه وایي دا کار به په افغانستان کې د القاعدې او داعش پر ضد روان جنګ نه زیانمنوي.

د دفاع وزیر اسپر ټینګار وکړ له افغانستان څخه د سرتېرو هر ډول وتل به له طالبانو سره د سولې د موافقې په اساس کیږي.

د امریکا د دفاع وزیر مارک اسپر، د اکتوبر ۲۱مه، خبریالانو ته وویل:"تر هغه چې په افغانستان کې سوله راځي، د طالبانو او نورو ترهګرو ډلو پر ضد به قوي پوځي مبارزه روانه وي.

امریکا به د یو سوله ییز، باثباته او سوکاله افغانستان د جوړیدو او د سولې لپاره د افغانستان د حکومت په مشرۍ د هلو ځلو ننګه کوي او په دې برخه کې به خپلو مرستو ته ژمنه وي.

د مذاکراتو له لارې د یوې سیاسي موافقې ترلاسه کول د دې نتیجې د ترلاسه کولو تر ټولو ښه لار ده. د دغې نتیجې د ترلاسه کولو پورې به موږ د طالبانو او نورو ترهګرو ډلو پر ضد چې د افغانستان د ولس په وړاندې تاوتریخوالی کوي، قوي پوځي مبارزې ته دوام ورکړو.

د انتخاباتو د نتیجې په پام کې نیولو پرته د افغانستان سره د امریکا امنیتي مشارکت به په خپل ځای پاته وي. په افغانستان کې د امریکا ماموریت ندی بدل شوی او د ترهګرۍ پر ضد مبارزه به دوام ولري."

په همدې ورځ په افغانستان کې د امریکا/ناټو قواوو عمومي قومندان جنرال آسټن سکاټ میلر، د خبرې ناستې پر مهال وویل:"تیر کال په افغانستان کې د میشتو امریکایي ځواکونو شمیر له ۱۴۰۰۰ څخه ۱۲۰۰۰ ته راټیټ کړای شوی دی[۲۰۷]".

بل خوا بیا امریکایې رسنۍ نیویارک ټایمز، د امریکا او افغان مقاماتو له خولې لیکلي دي چې په پای کې به په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو شمیر ۸٦۰۰ سرتیرو ته راټیټ شي.

سکاټ مېلر د اکټوبر ۲۱مه، په کابل کې د امریکا د دفاع وزیر سره په ګډه خبري ناسته کې د دغو سرتېرو د ایستلو خبره وکړه.

په خبرې ناسته کې د افغانستان د دفاع او کورنیو چارو سرپرست وزیران، اسدالله خالد او مسعود اندرابي، هم وو. دوی وویل چې د امریکایي ځواکونو په وتلو خبر دي، خو ټېنګار یې وکړ چې افغان ځواکونه د امنیت ساتلو توان اوظرفیت لري.

۲۰۷ د امریکا/ناټو پوځیانو، د سي آی اې او بریتانیا او نورو هیوادونو د استخباراتو د کارکونکو دقیق شمیر هیچا ته هم معلوم نه دی، او نه هم امریکا او برتانیا د امریکا/ناټو پوځیانو او استخباراتي کارکونو رښتونی شمیر ښیې.
دارنګه د یوه امریکایې پوځي لپاره په کار ده چې یو یا دوه قراردادي پوځیان هم ور سره وي، فکر کیږي چې دا مهال په افغانستان کې د امریکا/ناټو پوځیانو او بهرنیو هیوادونو د استخباراتي کارکونکو ټول شمیر به تر ۴۰زره زیات وي.

## کابل ته د امریکا د کانګرس د مشرې راتګ

د امریکا د متحده ایالاتو د کانګرس مشره نانسي پلوسي افغانستان ته د یو نا اعلان شوي سفر په ترځ کې د اکتوبر پر ۲۱مه، راغله، هغې له ډاکټر غني او اجرائیه رئیس عبدالله سره جلا جلا ولیدل.

د ارګ د بیان له مخې اغلې پلوسي له ډاکټر غني سره لیدنه کې وویل:"په افغانستان کې زموږ د حضور دلیل دا دی چې یو وخت طالبان په دغه هیواد کې د هغو تروریستانو کوربه وو چې پر موږ یې برید وکړ او موږ هیڅکله نه غواړو چې افغانستان بیاځل د تروریستانو پر ځاله بدل شي".

ډاکټر اشرف غني هم له اغلې پلوسي سره په لیدنه کې، داعش ډله افغانستان او امریکا ته جدي ګواښ وبلله او زیاته کړې یې ده چې طالبانو په افغانستان کې تروریستي ډلو ته د فعالیت زمینه برابره کړې ده.

ښاغلي غني ویلي:"په افغانستان کې د امریکا متحدو ایالتونو د حضور د نوعیت ځرنګوالی د دواړو هیوادونو ترمنځ په لاسلیک شویو تړونونو پورې اړه لري او په راتلونکي کې به د دواړو هیوادونو ترمنځ په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو د حضور د ځرنګوالي د هر تصمیم په اړه بحث وشي".

## د خلیلزاد سفر ماسکو ته

د افغانستان د بیاپخلاینې لپاره د امریکا ځانګړی استازی زلمی خلیلزاد د اکتوبر ۲۱مه بروکسل، پاریس او ماسکو ته سفر پیل کړ.

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت په اعلامیه کې لیکل شوې چې خلیلزاد بلجیم، فرانسې او روسیې ته سفر پیل کړی دی.

په اعلامیه کې راغلي چې زلمی خلیلزاد به په بروکسل او پاریس کې د اروپایي ټولنې او ناټو د چارواکو په ګډون د خپلو سیالو چارواکو سره وګوري.

دوی به پدې اړه خبرې وکړي چې په افغانستان کې د سولې د راوستلو هڅې څنګه په ښه توګه ګړندۍ کړي.

اعلامیه زیاتوي چې په ماسکو کې به ښاغلی خلیلزاد د روسیې او چین له استازو سره وګوري او د افغانستان د جګړې د پای ته رسولو په اړه به ورسره بحث وکړي.

خلیلزاد د افغانستان د سولې په تړاو د خپل سفر نوی پړاو د اکتوبر ۲۱مه، په بروکسل کې د ناټو له سرمنشي ینس سټولټنبرګ سره له لیدنې پیل کړ.



## د اروپایې ټولنې ګډه اعلامیه

د اکټوبر پر ۲۲مه ۲۰۱۹، د اروپايي ټولنې، فرانسې، جرمني، ایټالیا، ناروې، بریتانیا، ملګرو ملتونو او د امریکا متحده آیالاتو د ولسمشرانو ځانګړو استازو/ د هیوادونو د ځانګړو استازو په بروسلز کې د اروپايي ټولنې په مرکزي دفتر کې غونډه وکړه.

د افغانستان حاکمیت، خپلواکۍ او ځمکنۍ بشپړتیا ته په درناوي، ګډونوالو د افغانستان د سولې بهیر اوسني وضعیت په اړه نظرونه تبادله کړل. د تلپاتي سولې لپاره یې د افغانانو د غوښتنو ملاتړ وکړ چې جګړه ختمه شي.

دوي هوکړه وکړه چې:

۱ - د تلپاتې سولې او جګړې د پای ته رسېدو لپاره د افغانانو پراخه او ریښتوني غوښتنې دي په نظر کې ونیول شي.

۲ - تلپاتې سوله یوازې د خبرو اترو او سیاسي جوړجاړي له لارې ترلاسه کیدلی شي.

۳- د حکومت، طالبانو، افغان سیاستوالو، مخورو او مدني ټولنو له استازو سره د سولې هراړخیز او دوامداره هوکړې ته د رسیدو لپاره کار کولو ته ژمن یو، چې د ټولو افغانانو په ګټه جګړه پای ته رسوي او په سیمه ایز او نړیوال ثبات او امنیت کې مرسته کوي.

۴ – له ټولو لورو څخه وغوښتل شول چې د سولې لپاره مناسب چاپیریال رامنځته کولو لپاره د تاوتریخوالي او ملکي تلفاتو کمېدو لپاره بیړني او اړین ګامونه واخلي.

۵ - له افغان رایه ورکونکو، د ټاکنو څارونکو او امنیتي ځواکونو، او همدارنګه د ټاکنو خپلواک کمیسیون او د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون کار یې وستایه چې د افغانستان اساسي قانون ته درناوی او د سپټمبر پر ۲۸مه یې د ولسمشرۍ ټاکنې تر سره کړې.

د افغانستان د ټاکنو له خپلواکو بنسټونو څخه وغوښتل شوو چې د افغانانو رایې په غور وشمیري او رښې پایلې اعلان کړي، تر څو د ټاکنو د بهیر اعتبار او مشروعیت ومنل شي.

٦ – د ټولو نړیوالو هڅو څخه چې د افغانستان د سولې بهیر ملاتړ کوي؛ او د تیرو ۱۸ کلونو لاسته راوړنو، د ښځو او لږه کیو د حقونو په خوندي کولو کې شوي پرمختګ څخه هرکلی کوي.

په قطر کې د بین الافغاني غونډې (۷-۸ جولای ۲۰۱۹) په اړه المان او قطر هیوادو ته مبارکې وایو، او د غونډې د پریکړه لیک هرکلی کوو، دوی هڅوو چې د پریکړه لیک پلې کولو باندې تمرکز، او ملکي وژنې پای ته ورسیږي.

۷ - ټینګار وشو چې هر ډول بین الافغاني خبرې او غونډې باید په دوحه کې د بین الافغاني خبرو لاسته راوړنو ته وده ورکړي.

د پام وړ ده چې د افغان حکومت، سیاسي ګوندونو، طالبانو او مدنې ټولنو استازي یو بل ته درناوی ولري.

۸ – پر محمد اشرف غني، ډاکټر عبدالله عبدالله او نورو افغان مشرانو باندې ږغ کوو چې له طالبانو سره د رسمي مذاکراتو لپاره د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت سمدستي، ټولشموله او ملي مذاکراتي ټیم نوملړ چمتو کړي.

۹ - تمه ده چې ټولې خواوې به د بین الافغاني خبرو د کېدو لپاره پر اوربند باندې فکر وکړي، تر څو ګډونوال دا وړتیا ولري چې د افغانستان راتلونکي لپاره د سیاسي لارې نقشه چمتو او هوکړه ورباندې وکړي.

۱۰- ټینګار وشو چې د سولې هر ډول تړون باید د ټولو افغانانو حقونه خوندي کړي، د میرمنو، ځوانانو او لږه کیو په ګډون، او د افغانانو قوي ارادې ته ځواب ووایی چې د ۲۰۰۱ راهیسي لاسته راغلي اقتصادي ، ټولنیز ، سیاسي او پرمختیاي لاسته راوړنو ته وده ورکړي. همدارنګه د قانون حاکمیت، د افغانستان نړیوالو مسؤلیتونو ته درناوی، ټول شموله او حساب ورکونې حکومتولۍ ته وده ورکړي. د بریالیو پایلو لپاره اړینه ده چې د افغانانو په مالکیت بین الافغاني مذاکرات وشي.

۱۱ – پرطالبانو او نورو افغان وسله والو ډلو ږغ کوو چې داسي ګامونه واخلي تر څو موږ ډاډه شو چې د افغانستان خاوره به د القاعدې، داعش یا نورو نړیوالو ترهګرو ډلو

لخوا د نورو هیوادو لپاره د ګواښ په توګه نه کارول کیږي؛ طالبان او نورې وسلوالې ډلې د نړیوالو ترهګرو ملاتړ ونه کړي. طالبان باید له القاعده او نورو نړیوالو ترهګرو ډلو سره اړیکې پرې کړي.

۱۲ - د مخدره توکو د ناقانونه تولید او قاچاق پر وړاندې مبارزه باندې ټینګار وشو، له ټولو لورو وغوښتل شوو چې په افغانستان کې د مخدره توکو ګواښ له منځه یوسي.

۱۳ - پر افغان حکومت ږغ کوو چې له فساد سره مؤثره مبارزه وکړي او ښې حکومتولۍ ته وده ورکړي، د اداري فساد پروړاندې قانون پلی کړي.

۱۴-هوکړه وشوه چې د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو، او نورو حکومتي بنسټونو لپاره د نړیوالو مرستو دوام اړین دي، ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې افغانستان د کورنیو او بهرنیو ګواښونو پروړاندې خپله دفاع کولای شي.

۱۵- هوکړه وشوه چې د سولې تړون؛ د افغانستان بیا رغوني لپاره نړیوالو مرستو ته اړتیا ده، په ۲۰۲۰ کال کې د افغانستان لپاره د نړیوالو مرستو تر لاسه کولو غونډې ته انتظار کوو.

۱٦- په کار ده چې ټول اړوند هیوادونه وهڅول شي چې د افغانستان د خلکو ملاتړ وکړي او د افغانستان په تلپاتې سوله او جوړجاړي کې برخه واخلي چې دا د ټولو په ګټه ده.

۱۷ - اروپایي ټولنې د یادو مشورو کولو مننه وکړه، او هوکړه یې وکړه چې د راتلونکې غونډې نیټه او ځای د ډیپلوماټیکو چینلونو له لارې تنظیم کړي.[۲۰۸]

[۲۰۸] پښتو ژباړه یې لیکوال کړې، انګریزې متن یې د اروپایي ټولنې په ویبپاڼه کې:
https://eeas.europa.eu/headquarters/headquarters-homepage_en/٦٩٢٥٢/Special%٢٠Envoys%٢٠and%٢٠Representatives%٢٠meet%٢٠on%٢٠the%٢٠Afghan%٢٠Peace%٢٠Process

## د ناټو دفاع وزیرانو غونډه

د اکتوبر ۲۴مه او ۲۵مه، د ناټو غړو هېوادونو د دفاع وزیرانو غونډه په بروکسل کې جوړه شوه. په غونډه کې د افغانستان د ملي دفاع وزارت سرپرست اسدالله خالد او په افغانستان کې د ناټو عمومي قوماندان سکاټ مېلر هم ګډون درلود. د ناټو سرمنشي ینس سټولټنبرګ غونډې ته د خبرو پر مهال وویل:" ناټو د طالبانو او امریکا ترمنځ د سولې له خبرو ملاتړ کړی، که چېرې دا خبرې بیا پیل شي دا سازمان "ناټو" یې هرکلی کوي.

د سولې د خبرو د پرمختګ لپاره طالبان باید تاوتریخوالی کم کړي او باید وښيي چې په افغانستان کې د تاوتریخوالي کمولو لپاره ریښتینې اراده لري."

ناټو غونډه کې د ناټو د غړو هېوادونو د دفاع وزیرانو له افغانستان سره په مالي او نظامي برخه کې د ملاتړ ډاډ ورکړ.

## د مسکو څلور اړخیزه ناسته

د اکتوبر پر ۲۴مه او ۲۵مه مسکو د افغانستان په اړه د څلورو هېوادونو روسیې، چین، امریکا او پاکستان استازو کوربه و. په دغه څلوراړخیزه ناسته کې زلمي خلیلزاد، د چین استازي ډینګ ژیانګ، د روسیې استازي ضمیر کابلوف او د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت مرستیال برخه لرله.

د ناستې ګډونوالو په ګډه اعلامیه کې د افغانستان د جګړې له ښکېلو غاړو وغوښتل چې ژر تر ژره تاوتریخوالی راکم کړي او پرېږدي چې مذاکراتو ته زمینه برابره شي.

د روسیې د بهرنیو چارو وزارت په چټک ډول د طالبانو او امریکا ترمنځ د مذاکراتو بیا پیلېدو غوښتنه وکړه.

د روسیې، چین، امریکا، او پاکستان استازو پر دې موافقه وکړه چې د افغان د سولې لپاره سیاسي مذاکرات او ډیالوګ یوازنۍ حللاره ده، او امریکا او طالبان باید ژر تر ژره د سولې خبرې بېرته شروع کړي.

د مسکو په اعلامیه کې پر واشنګټن باندي ږغ شوی چي د طالبانو سره بېرته خبري شروع کړي، او یوه موافقه ورسره لاسلیک کړي. د مسکو اعلامیه کې د تاوتریخوالي پر کمولو باندي هم ټینګار شوی .

په ګډه اعلامیه ویل شوې چې دواړه لوري دي د بین الافغاني خبرو پر مهال اوربند ته پام او د پام وړ شمیر بندیان دي خلاص کړي.

له طالبانو او افغان حکومت څخه غوښتل شوې چې د افغانستان خاوره د نورو هیوادو په ضد د ترهګرو لخوا ونه کارول شي.

همدارنګه په افغانستان کې له ټولو خواو یې وغوښتل چې په افغانستان کې د مخدره توکو ګواښ له مینځه یوسي.

په ګډه اعلامیه کې د چین لخوا د بین الافغاني خبرو وړاندیز؛ چې د افغان حکومت، افغان مخورو او طالبانو ګډون به پکې وي، هرکلی شوی.

## کابل ته د خلیلزاد راتګ

د اکتوبر پر ۲۶مه، خلیلزاد کابل ته راغی، له ډاکټر غني سره یې وکتل، او د اکتوبر پر ۲۷مه یې له اجرائیه رئیس عبدالله او دارنګه حامد کرزي سره وکتل.

د اکتوبر ۲۷مه ۲۰۱۹، استاد محمد زمان مزمل ما (لیکوال) ته وویل:"همدا نن غرمه د حامد کرزي په کور کې تر ۳۰ زیاتو کسانو له زلمي خلیلزاد سره وکتل، حامد کرزي ورته وویل:" نور موږ حوصله نه لرو چې ستاسي (امریکایانو) لاسپوڅی ډاکټر غني په واک کې وي، ولسمشر ټرمپ ته ووایه چې نور دي دا خپل لاسپوڅی (دست نشانده) در وغواړه، موږ یې نه غواړو[۲۰۹]."

د معادن او صنایع مخکینې وزیر حاجي محمد اکبر بارکزي وویل:"میرمن سلطاني خلیلزاد ته وویل چې نور موږ په خپل هیواد کې بهرنیان نه غواړو، تاسي له افغانستان

---

[۲۰۹] کله چې حامد کرزي همدا د امریکا د لاسپوڅې خبره وکړه، خپله کرزي او د ناستې ټولو ګډونوالو وخندل، ځکه له ډاکټر غني مخکې همدی "کرزی" په همدې موقف او د امریکا لاسپوڅی افغان ولسمشر و.

څخه ووځئ، موږ افغانان په خپلو منځو کې سره جوړېږو، زه چې له شمال څخه کابل ته راتلم، ما (سلطاني) طالبان ولېدل چې په خاورو کې ولاړ وو، پښې يې په خاورو کې پټې وي، هغوی هم د خپل هيواد لپاره قرباني ورکوي، افغانان دي، بل څوک نه دي، له دي خوا چې کوم کسان اردو کې دي دا هم افغانان دي، د جګړې له امله دواړو لورو ته افغانان وژل کيږي.

زه د پوهنتون استاده يم، که طالبان راشي او ماته ووايې چې په کور کينه، زه يې منم، چې سوله راشي، ځکه اوس موږ تر بل هر څه سولې ته زياته اړتيا لرو. زه په تکرار سره وايم چې زه د جګړې پر ځای دا خوښوم چې په کور کينم خو سوله دي راشي."

مزمل صاحب او بارکزي صاحب وويل:" د ناستې ټولو ګډونوالو له خليلزاد او ډاکټر ليزا کورټيس Lisa Curtis (د ولسمشر ټرمپ مرستيال سلاکارې او د مرکزي او جنوبي اسيا لپاره د امريکا د امنيت شورا دفتر مشرې) څخه وغوښتل چې د دوی پيغام ولسمشر ټرمپ ته ورسوې چې زموږ له هيواده امريکايې پوځيان وباسي، افغانان خپلو منځو کې سره جوړيږي."

مولوي جانباز سرفراز هم په ناسته کې ګډون درلود، درې واړو وويل چې د غونډې ګډونوالو په اوربند باندي هم ټينګار کاوه، چې طالبان بايد د مذاکراتو په جريان کې اوربند وکړي.

د اکټوبر پر ۳۱مه، ما (ليکوال) ته ډاکټر فيض محمد ځلاند د قاضي ګلرحمن له خولې وويل:" په غونډه کې پر دي ټينګار وشو چې اوربند وشي، او خليلزاد له ګډونوالو وغوښتل چې د سولې برخه کې له ده سره مرسته وکړي، د خدای پاماني وخت کې د خليلزاد لخوا د غونډې ډيرو ګډونوالو ته په پاکټونو کې پيسې هم ورکول کېدی."

مګر مزمل صاحب ما(ليکوال) ته وويل چې څوک يې ونه لېدل چې په پاکټ کې د خليلزاد لخوا پيسې ورکول شوې وي، که دا کار شوی هم وي، کيدای شي په وروسته وخت کې، چې موږ را ووتلو، د ځينو مشخصو کسانو لپاره به و.

رسنيو راپور ورکړ چې خليلزاد د افغان – امريکايې پوهنتون د استادانو د خلاصون په اړه هم د ملي يووالي حکومت له مشرانو سره خبرې کړي.

## اسلام اباد او بیاځل کابل ته د خلیلزاد سفرونه

د اکتوبر پر ۲۸مه، خلیلزاد په اسلام اباد کې له عمران خان سره وکتل، دوی په افغانستان کې د تاوتریخوالي پر کمېدو او د سولې پر ټینګښت خبرې او ټینګار وکړ. د پاکستان لومړي وزیر عمران خان لخوا یو ځل بیا امریکا ته ډاډ ورکړل شو چې په افغانستان کې به د سولې او ثبات لپاره مرسته کوي.

د اکتوبر پر ۳۱مه، خلیلزاد له اسلام اباد څخه کابل ته راغی، تر څو له افغان چارواکو سره د افغان – امریکایې پوهنتون د دوو استادانو  د تبادلې په اړه خبرې وکړي، طالبانو خلیلزاد ته د خپلو بندیانو لسټ هم سپارلی دی.

د ملي یووالي حکومت مشر ډاکټر اشرف غني وویل:" که طالبان یوه میاشت اوربند ومني، موږ به هم د بندیانو د تبادلې اړوند موافقه وکړو."

مګر اجرائیه رئیس ډاکټر عبدالله وویل:" که د بندیانو تبادله له سولې بهیر سره مرسته کوی، موږ ورڅخه هرکلی کوو."

د خلیلزاد یاد سفر د نومبر پر لومړۍ نیټه پای ته ورسېد او د نومبر پر ۲مه، په کابل کې د امریکا سفارت لخوا په خپره شوې اعلامیه کې ویل شوي و:" خلیلزاد تېره اونۍ کابل ته د خپلو سفرونو پر مهال له ولسمشر غني، اجرائیه رئیس په ګډون له پخوانیو چارواکو، د مدني ټولنو له استازو او د یني عالمانو سره کتنه کې له هغوی سره د خپل ماموریت په اړه ږغیدلی او د سولې د بهیر په اړه یې د هغوی نظریات هم اورېدلی دي.

په اعلامیه کې راغلي:"خلیلزاد پر دې ټینګار وکړ، چې د امریکا متحده ایالات په افغانستان کې د جګړې د پای ته رسېدو لپاره د یو سیاسي هواري ملاتړ کوي او د تاوتریخوالي کمېدل د تلپاتې سولې د راوستو لپاره ضروري دی".

افغان حکومت ومنله چې کابل ته د خلیلزاد سفر د طالبانو لخوا د افغان امریکایي پوهنتون د دوو تنو استادانو د خوشي کولو لپاره و.
طالبانو هم څرګنده کړه چې زلمي خلیلزاد ته یې د انس حقاني او ځینو نورو طالب بندیانو لسټ سپارلی، تر څو د پوهنتون له استادانو سره یې تبادله کړي.

## د غني د سولې نوې طرحه

د اکتوبر پر ۲۸مه د ډاکټر غنی لخوا په ۷ مادو کې د سولې طرحه د امریکا د سولې نړیوالو انسټیټوټ سره په کابل کې شریکه شوه.

د افغان حکومت د سولې اوه مادهیزه طرحه کې لیکل شوې و:
افغان حکومت د امریکا له متحدو ایالتونو غواړي چې له افغانســتان څخه د خپلو ځواکونو تر ایستلو وروسته له ترهګرۍ سره د مبارزې تګلاره چمتو کړي.
له طالبانو سره مخامخ خبرې، اوربند، له پاکســتان سره د خبرو مراحل او په دغه هېواد کې د ترهګرو د روزنځایونو بندول، د سولې طرحې نورې مهمې مادې دي.
په طرحه کې د سـیمې په کچه پر ملي اجماع ټینګار چې د سـیمې هیوادونو سره د اقتصـــادي پروګرامونو له لارې د همکاریو په سر خبرې او په نړیواله کچه د افغان حکومت د سولې له پروګرامونو ملاتړ پکې شامل دي.
د حکومت ۷مادیزه طرحه په لیکلي او بشــپړ ډول د رســنیو په واک کې ورنه کول شوه، بلکې د ډاکټر غني ویاند صدیق صدیقي پورته خبرې رسنیو ته وکړي.

## د ملي امنیت شورا د مشر څرګندونې

د اکتوبر پر ۲۹مه، د ملي امنیت شورا مشر ډاکټر حمدالله محب د خبرې ناستې پر مهال چې د افغان حکومت د سولې اوه مادهیزه طرح یې تشریح کوله وویل: "د یوې میاشتې اوربند په اوږدو کې به دا څرګنده شي، چې طالب مشران په خپلو جنګیالیو باندې څومره کنټرول لري.

د پاکستان له رضایت پرته طالبان له افغان حکومت سره سوله نه کوي او که چیرې داسې وشي، نو په روانه جګړه کې به د طالبانو ځای د داعش ډله ونیسي.

ډاکتر محب وویل:"دا یوازې افغانانو ته نه، بلکې ټولې نړۍ ته روښانه ده چې طالبان د پاکستان لاسپوڅي دي او که د پاکستان مرسته نهوي، جګړې ته دوام نهشي ورکولای. طالبان باید وضاحت ورکړي چې له پاکستان سره څه اړیکه لري. که

افغانانو سره مذاکرات کوي، یو باید افغان وژنه بس کړي او بل باید تضمین ورکړي چې له دې وروسته به‌یې پاکستان سره اړیکه څه ډول وي".

ډاکټر محب زیاته کړه: "دا یوازې افغانانو ته نه، بلکې ټولې نړۍ ته روښانه ده چې طالبان د پاکستان لاسپوڅي دي او که د پاکستان مرسته نه‌وي، جګړې ته دوام نه‌شي ورکولای. طالبان باید وضاحت ورکړي چې له پاکستان سره څه اړیکه لري. که افغانانو سره مذاکرات کوي، یو باید افغان وژنه بس کړي او بل باید تضمین ورکړي چې له دې وروسته به‌یې پاکستان سره اړیکه څه ډول وي".

د افغانستان د ملي امنیت سلاکار وویل: "د افغان سولې لپاره د امریکا ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد په کابل کې له حکومتي چارواکو سره د سولې په اړه خبرې نه دي کړي، بلکې د امریکایي پوهنتون د هغو دوو بهرنیو استادانو په اړه رغېدلی، چې د حقاني ډلې له خوا نیول شوي دي.

تر اوسه پر دې بحث نه دی شوی چې د یادو استادانو دخوشي کېدو په بدل کې انس حقاني او نور طالبان خوشي شي.

لومړی بحث دا و، چې موږ پوه شو آیا دا دوه استادان لا هم ژوندي دي او که نه؟ هدف دا و چې هغه (خلیلزاد) د همکاریو غوښتنه وکړه او موږ همکارۍ ته حاضر یو".

ډاکټر محب وویل:"د امریکا او طالبانو د مذاکراتو په بهیر کې موږ معلومات تر لاسه کړل، چې (د دغې ډلې جنګیالي) مشخصاً ملا ذاکر له داعش سره یوځای شوی دی، که دا کار وشي نو په دې معنی ده چې طالب امتیاز اخلي، خو جګړه دوام مومي. زموږ لپاره سوله په دې معنی ده چې په افغانستان کې جګړه پای ته ورسیږي."

طالبانو د داعش ډلې په اړه د افغانستان د ولسمشر د ملي امنیت سلاکار څرګندونې پروپاګنډ وباله، او د طالبانو ویاند ذبیح‌الله مجاهد څرګنده کړه چې د ډاکټر محب څرګندونې په غبرګون نه ارزي.

د ډاکټر محب  د خبرو په غبرګون کې په همدې ورځ لږ وروسته د طالبانو ویاند ذبیح الله مجاهد پر خپل ټویټر ولیکل:" د رسنیو د پام وړ! د کابل ادارې د یو سالاکار حمدالله محب اوتې بوتې او پروپاګنډ په غبرګون اوتبصره نه ارزي، موږ یې په اړه څه ویل نه غواړو."

## د ۹ پړاوه خبرو لنډيز د طالبانو له خولې

د نومبر پر ۱۰مه ۲۰۱۹، موږ "پوهاند محمد اسماعيل يون، ډاکټر فيض محمد ځلاند، استاد اسد وحيدي، ولي الله شاهين، خيرالله شينواری، شفيع اعظم او مطمئن" له طالب مشرانو "شيخ شهاب الدين دلاور، شيخ سيد رسول حليم، قاري دين محمد حنيف، سهيل شاهين، مولوي محمد نبي عمري، مولوي ضياء الرحمن مدني، دکتور مزارگل صالح، ملا عبدالاحد جهانگيروال" سره د دوحې په موقنپيک هوټل Movenpick Hotel Doha د جنيوا سالون کې ۵ ساعته ناسته درلودله، د ۹ پړاوه مذاکراتو په اړه شيخ دلاور وويل:"موږ د ولس له غوښتنو پرته نورې غوښتنې نه لرو، له امريکا سره له نږدې ۹ کلونو زموږ مذاکرات روان و، خو يوازې دا يو کال له خليلزاد سره مذاکرات ښکاره و، له دې مخکې د امريکا د ولسمشر بوش له هغه وروسته د ولسمشر اوباما او بيا د ولسمشر ټرمپ د حکومت پر مهال خبرې شوې، هر ځل زموږ او امريکا ترمنځ د بهرنيو ځواکونو د وتلو اړوند مذاکرات چې مخکې وړل شوې، بيا د امريکا لخوا پکې خنډ پيدا شوی او بلې ډلې يې له سره د مذاکراتو د پيل غوښتنه کړې، کله چې خليلزاد مذاکرات پيل کول، هغه ويل چې د تيرو مذاکراتو ۸۰۰ پاڼې راپور مې لوستلی دی.

له خليلزاد سره مذاکرات د قطر هيواد د بهرنيو چارو وزارت په منځګړتوب کېدل، لومړی د طالبانو لخوا ٦ تنه (حاجي عباس ستانکزی، ملا عبدالسلام حنفي، حاجي زاهد احمدزی، شيخ حليم، قاري حنيف او سهيل شاهين) د مذاکراتي ډلې غړي وو، له هغه وروسته ملا خيرالله خيرخوا او ملا محمد فاضل اخوند هم ور زيات شول، لږ وروسته ملا عبدالحق وثيق، حاجي محمد نبي عمري او ملا نورالله نوري هم ور زيات شول، بالاخره دغه مذاکراتي ډله ۱۹ کسانو ته ورسېدله. زموږ مذاکراتي ډله قوي ده، انس حقاني هم د مذاکراتي ډلې غړی دی.

له امريکايانو سره د اجنډا لپاره ۴ مسايل (له افغانستان څخه د ټولو بهرنيو ځواکونو بشپړ وتل، له افغانستان خاوري امريکا، د دوی ايتلافي او ملګرو هيوادو ته نه ګواښ، بين الافغاني تفاهم او اوربند) وو، چې موږ بايد ورسره خبرې کړې وای، خو موږ له هغوی سره پر دوو مسئلو (له افغانستان څخه د بهرنيو ځواکونو؛ که تر هر نوم لاندې

وي، بشپړ وتل او له افغانستان څخه امریکا، د امریکا ایتلافي غړو هیوادونو او متحدینو ته نه گوابن) باندي بحثونه درلودل.

د همدې دوو موضوع گانو اړوند جزیات ډیر دي، اوس د ټولو جزیاتو یادونه ډیر وخت ته اړتیا لري، مگر د بهرنیو ځواکونو د وتلو مهالویش تر یو نیم کال لږ موده باندي توافق شوی. همدارنگه لیکل شوې چې بهرني ځواکونه به څه ډول، له کومې اډې، کوم وخت وځي، او موږ به د وتلو په وخت کې هغوی ته اطمنان ورکوو، چې د وتلو پر مهال خنډ ورته پیدا نه شي.

له امریکا سره د مذاکراتو او توافق شوو موادو پر مهال مو اسلامیت او افغانیت دواړه په نظر کې نیولی. معامله مو نه کوله، د امریکایانو لخوا ډیر ځله اشارې وشوې، خو موږ به لنډ جوا ب ورکړ، چې د راتلونکي نظام اړوند مسایل د افغانانو خپلمنځي بحث دی، ستاسي سره د قضیې بهرني بُعد باندي خبرې کوو، او همدا قید مو ورته وضع کړی و.

طالبانو ته د امتیاز ورکولو لپاره امریکایانو ویل چې دا هم  په تاسي (طالبانو) پورې اړه لري چې څومره اډې، چیرته، څه ډول، څومره پوځیان، څه به کوي، دا ټول تاسي ووایاست، خو موږ هیڅ داسي څه نه منل، بالاخره امریکایان مایوس شول.

پریکړه شوې وه چې د ملگرو ملتونو، د اسلامي هیوادونو د همکارۍ سازمان، اروپایې ټولنې او ۲۴ هیوادونو د بهرنیو چارو وزیرانو په شتون کې به د مذاکراتو وروستی تړون د طالبانو او امریکا ترمنځ لاسلیک کیږي. داچې قطر هیواد له سعودي عربستان او متحده عرب اماراتو سره ستونزې لري، له دې سره سره یادو دواړو هیوادونو ته هم بلنه ورکول شوې وه، چې د تړون د لاسلیک مراسمو کې برخه واخلي.

د تړون وروستی شوی متن د عباس ستانکزي او خلیلزاد لخوا نښانې شوی، جنرال میلر هم هغه شپه ناست و چې د تړون دریم نمبر کاپي د قطر د بهرنیو چارو وزارت، دویم نمبر کاپي امریکا او لومړی نمبر کاپي طالبانوسره پاتې شوه. تړون په پښتو، دري او انگریزي ژبه لیکل شوی.

توافق شوی و چې تړون به د ملا برادر اخوند او ممکن د مایک پمپیو لخوا د سپټمبر پر لومړۍ نېټه لاسلیک شي، خو دغه نېټه بیا د امریکایانو په غوښتنه ۱۵م او ۱۶م سپټمبر ته وځنډول شوه. امریکایانو منلي وه چې له دې وروسته په ۸ ورځو کې به ځینې پرمختګونه (د یو شمیر طالب بندیانو ازادېدل) کوي، او د سپټمبر پر ۲۳مه به بین الافغاني خبرې پیل کیږي، موږ هم منلي وه او له شیخ هبة الله څخه مو اجازه تر لاسه کړې وه.

منل شوې وه چې د بین الافغاني مذاکراتو پر مهال به په اوربند بحث کیږي او توافق ته د رسېدو هڅې به کیږي، مګر د کابل ادارې او افغان سیاستوالو ونه شوای کولای چې له خپل لوري د ۱۵ کسانو لسټ چمتو کړي.

توافق شوی و چې د ډاکټر غني او ډاکټر عبدالله لخوا به حد اکثر ۴ کسان وي، دوه د یوه او دوه د بل لخوا، ۱۱ پاتې کسان به د نورو سیاسي جهتونو لخوا ټاکل کیږي، او حکومت به هم په خبرو کې من حیث یو له جهتونو څخه ګډون کوي.

د خلیلزاد لخوا داسي بلنه وه چې د ملا برادر په ګډون به د مذاکراتي ډلې ټول غړي د سپټمبر پر ۹مه یا ۱۰مه واشنګټن کې له ټرمپ سره ګوري، خو موږ ته یې نه و ویلي چې ډاکټر غني هم واشنګټن ته بلل کیږي او لېدنه به په کمپ ډیویډ کې وي، بلکې موږ ته یې داسي ښودله چې لېدنه به په واشنګټن کې له ټرمپ سره یوازې د طالبانو وي. موږ د امریکایانو بلنه منلي وه، د دوی غوښتنه وه چې د تړون د لاسلیک د نېټې تر اعلان وروسته او د تړون تر لاسلیک مخکې به له ټرمپ سره ګورئ، خو موږ ور سره ونه منله، او دوه لاملونه یې درلودل:

۱ - مخکې د تړون له لاسلیک څخه که له ټرمپ سره ووینو، دا اندیښنه پیدا نه شي چې طالبانو معامله وکړه.

۲ - دافغانانو دود دادی چې د دښمن کور ته له روغې مخکې نه ورځي.

کله چې موږ واشنګټن ته خپل تګ لغوه کړ، دلته په قطر کې شپه وه چې ټرمپ ټویټ کړی و چې خبرې درول شوې، سهار مې قاري حنیف ته وویل چې خبره

خطرناکه شوه. اصلاً خبره د مذاکراتو د لغوه کېدو نه، بلکې زموږ د نه تګ له امله ټرمپ دا کار وکړ.

موږ وروسته بیا خبر شوو چې د امریکا لخوا لېدنه په کمپ ډیویډ کې ترتیب شوې وه او ډاکټر غني هم ور غوښتل شوی و.

خلیلزاد اروپا ته په لاره و، هغه هم د ټرمپ د ټویټ په اړه له مخکې خبر نه و، ویل یې چې نه یم خبر چې لیوني (ټرمپ) څه وکړل.

زموږ د مجاهدینو لخوا غوښتنه کېده چې نور له امریکا سره مذاکرات په ټپه ودرول شي، خو موږ په حوصله سره اعلامیه چمتو او خپره کړه. موږ پر خپلو ژمنو او تعهد ولاړ یو، خو له هغه ځایه به مذاکرات شروع کوو په کوم ځای چې دریدلي دي، نه غواړو چې بیا ځل یې له سره پیل کړو.

له امریکا سره د تړون په ضمیمو کې داسې مادې شته چې ۸۰ سلنه جګړه ختموي، داچې حملې به نه کیږي، د بهرنیو ځواکونو د وتلو لپاره انتقالات به کیږي، او پاتې ۲۰سلنه جګړه به هم د افغانانو خپلمنځي خبرو پر مهال ختمیږي ان شاء الله.

اوس مهال خبرې درېدلي دي، دوی ځینې وړاندیزونه لري، وایې چې اوربند وکړئ، مګر موږ ورته وایو چې غواړو جګړه ختمه کړو.

د مذاکراتو پر مهال مو له جنرال میلر سره خبرې وکړې، هغه ته مو دلایل وړاندي کړل چې کله تړون لاسلیک شي، نو ۸۰ سلنه جګړه هم ختمیږي. بله خبره داده که موږ اوربند کوو، په مقابل کې یې امریکا موږ ته څه راکوي؟ او د سولې مذاکراتو څخه امریکا تېښته کړي، دوی باید ځواب ورکړي.

موږ امریکایانو ته ویلي چې د باور جوړونې لپاره ښه ده چې د بندیانو خلاصون د دواړو لورو څخه وشي، یو شمیر بندیان به موږ خلاص کړو او زموږ یو شمیر طالب بندیان دي هم خلاص شي، دا به د بین الافغاني تفاهم اړوند پرمختګ وي.

کله چې د امریکا لخوا خبرې ودرول شوې، زموږ ملګرو ځینو هیوادونو ته سفرونه وکړل، چین، روسیې، ایران، پاکستان، اندونیزیا او ازبکستان ته، له هغوی سره مو د

تړون اړوند معلومات شریک کړل، هغوی له موږ سره په دې کې همږغي دي چې امریکایان باید پر خپلو کړو ژمنو ودریږي.

مولوي محمد نبي عمري د بندیانو تبادلې په اړه وویل:

له ملا برادر اخوند سره هغه مجلس کې زه هم وم چې له خلیلزاد سره یې د بندیانو د تبادلې په اړه درلود، خلیلزاد ویل چې د ښه نیت له کبله تاسي باید د پوهنتون دوه استادان (جان ویکس او کیون کېنګ) خوشي کړئ، موږ ورته وویل چې تاسي هم باید انس حقاني، حافظ عبدالرشید او حاجي مالي خان خوشي کړئ.

له ۴ کلونو راهیسي د یادو بندیانو د تبادلې خبرې رواني دي[۲۱۰]، داسي ښکاري چې امریکایان غواړي له افغانستان څخه ووځي، او نه غواړي چې د دوی کوم څوک دلته بندي پاتې وي، غواړي چې د پوهنتون دوه استادان له ځان سره بوځي.

خلیلزاد ویل چې بندیان درکوو او بندیان راکړئ، خو د تبادلې نوم به نه ورکوو، داسي نه لکه چې د بو بریګډال سره تبادله وشوه، ځکه بیا به د ټرمپ پر اداره ډېر فشار وي.

د بندیانو تبادله کې قطریان منځګړې وو، دوی ویل چې د حسن نیت او افغانانې مذاکراتو د پیل کېدو سبب به کیږي.

د طالبانو لخوا له قطریانو او امریکایانو غوښتنه شوې وه چې درې طالب بندیان به قطر ته راوستل کیږي، موږ به د پوهنتون دوه استادان ور خوشي کوو، همدارنګه به ۱۰ د افغان امنیتي ځواکونو بندیان هم خوشې کوو، او بیا به همدا د افغان ځواکونو او طالب بندیانو د تبادلې نوم ورکول کیږي. زموږ ترمنځ هر څه فیصله او د بندیانو د خوشي کېدو تړون تیره شپه لاسلیک شو.

---

[۲۱۰] د نومبر پر ۱۴مه، احمد یاسر ما (لیکوال) ته وویل چې دوه کاله وړاندې هم خبره وروستۍ شوې وه، امریکایانو ویل چې یاد درې طالب بندیان قطر ته راوړي، خو طالبانو ورڅخه غوښتل چې په هیواد کې دننه طالبانو ته وسپارل شي، له همدې امله د پوهنتون له استادانو سره د طالب بندیانو تباله پاتې شوه.

د بندیانو د خوشي کېدو لپاره په لومړي وخت کې د امریکایانو دوه غوښتنې نورې هم وي، داچې له افغان حکومت سره به طالبان مخامخ خبرې پیل کوي، موږ ور سره ونه منله، بیا یې د اوربند غوښتنه کوله، هغه مو هم ونه منله.

د تړون د تصویب پر مهال چې دوی ولیکل چې دا کړنه (د بندیانو خوشي کېدل) به د بین الافغاني مذاکراتو د پیل سبب کیږي، موږ پر همدې جملې قلم را کش کړ، د قطر د بهرنیو چارو وزارت استازي ما (عمري) ته وویل چې په دي کسانو کې خو ستا ورور "حافظ عبدالرشید" هم دی، تاسي ولي دومره جدې یاست او پر دي جملې دي قلم را کش کړ. قطري ته مې وویل چې ماته له خپل ورور څخه زما هم نظره ملګري مهم دي، او موږ خپل اصول او مقررات لرو، دا شرط نه منو چې د بندیانو د خلاصون له امله دي له کابل ادارې سره خبرې پیل شي. او دا ۵ کلونه کیږي چې ډاکټر غني به ویل چې اعدام کوم یې، موږ ورته ویل چې اعدام دي شي خو دا کار نه کوو.

څو ورځې وړاندی سلام رحیمي هم انس حقاني ته ورغلی و، هغه ته یې ویلي و چې خپلو مشرانو ته ووایاست چې ستاسي د خلاصون لپاره له افغان حکومت سره مخامخ خبرې پیل کیدل ومني، خو موږ ونه منله.

عمري زیاته کړه: خلیلزاد وویل که دا خلک را خلاصیږي، نو تاسي به په جګړه کې کموالی راولئ، اوس د امریکایانو غوښتنه داده چې په جګړه کې کموالی راشي، خو موږ ورته وویل چې د جګړې کموالي په تاسي پوري اړه لري، چې کله تړون وشي ۸۰ سلنه جګړه خپله را کمیږي.

میلر وویل: که تاسي په جګړه کې کموالی راولئ، زه سمدستي ټلیفون کوم چې شپنی چاپې او ډرون بریدونه ودرول شي.

موږ ورته وویل چې د جګړې کمښت غواړو خو د بندیانو دخوشي کېدو لپاره یې د شرط په توګه نه منو، که د مذاکراتو په ترڅ کې وروستی شوی تړون لاسلیک شي، نو جګړه په اتومات ډول کمیږي.

امریکایانو دربېم وړاندیز هم درلود، طالبانو د ۷ افغان پوځیانو د خلاصون منلي وه، خو دوی ویل چې دا ۱۰ کړئ، او داسي چې د درې طالب بندیانو په مقابل کې ډاکټر غني ته ۱۰ افغان پوځي بندیان ور خوشي کوئ، دا مو ورسره ومنله.

پټېل شوې وه چې نن به انس حقاني او دوه نور ملګري دوحې ته راځي، خو ډاکټر غني بیا هم خپله غوښتنه تکراروي او د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د خبرو کېدل غواړي.

که چیرته دا تبادله وشي، ممکن چې د بین الافغاني مذاکراتو د پېل او جګړې د پای ته رسېدو لپاره ذهنیت جوړونه پکې وشي، خو اشغال به هغه وخت ختمیږي چې تړون لاسلیک او عملي شي.

خلیلزاد چې کله له موږ څخه رخصت کیدی، د قطر د بهرنیو چارو وزارت کې له موږ سره ناست وو، هغه وویل:" فکر مې کاوه چې ملا صاحب (ملا برادر اخوند) به دا ومني چې په جګړه کې کموالی راشي، او زه به ټرمپ ته ووایم، دا به یو ښه پرمختګ وي."

موږ خلیلزاد ته وویل چې دا خپله د ټرمپ تېروتنه وه، هغه باید د خپلې تیروتنې حل لاره ولټوي.

خلیلزاد ویل چې امریکا کې د سنا مجلس ته یې استیضاح کړی یم، ورځم، چې بیرته را وګرځم، دا معلومات به سره شریک کړو چې تړون لاسلیک کیږي یا نه.

د بندیانو اړوند مسوده د طالبانو او امریکا ترمنځ، د قطر په وساطت لاسلیک شوې، شرایط او جزیات پکې شته، هر څه واضح دي.

## د انس حقاني تبادله

د نومبر په دوېمه اونۍ کې د طالبانو او خلیلزاد ترمنځ په دوحه کې د امریکایې پوهنتون د استادانو او انس حقاني د تبادلې اړوند بحثونه پېل او توافق ته ورسېدل.

د نومبر پر ۱۰مه ۲۰۱۹، د یادو مذاکراتو غړي مولوي محمد نبي عمري موږ څو تنو افغانانو ته په دوحه کې وویل:" د بندیانو د تبادلې اړوند دامریکا غوښتنه دا وه چې له افغان حکومت سره موږ مخامخ خبرې پېل کړو، موږ ور سره ونه منله، بیا یې وغوښتل چې اوربند اعلان کړو، هغه مو هم ونه منله، بالاخره توافق وشو چې موږ به د افغان - امریکایې پوهنتون دوه استادان خوشي کوو، او دوی به زموږ درې بندیان (انس حقاني، حافظ عبدالرشید او حاجي مالي خان) را خوشي کوي.

زموږ غوښتنه دا وه چې د بندیانو تبادله په داخل د افغانستان کې وشي، خو امریکایانو ونه منله.

خلیلزاد ویل چې که د تبادلې نوم ورکړو، بیا به د ټرمپ پر اداره ډېرې نیوکې وي، ددې لپاره په کار ده چې تاسي (طالبان) د افغان حکومت ځینې کسان هم خوشي کړئ، تر څو وښودل شي چې د افغان بندیانو تبادله شوې، موږ هم د افغان پوځیانو د لسو نفرو خلاصېدل ورسره ومانه.

په پام کې وه چې نن به یاد طالب بندیان قطر ته راوړل شي، مگر دا بهیر تر دې مهاله (مازیگر پورې) وځنډېدی، کیدای شي سبا به راشي."

د نومبر پر ۱۱مه موږ ته عمري صاحب وویل:" نن یې بندیانو ته پاسپورټونه او افغاني جامي ورکړي، کیدای شي سبا به له خیره دوحې ته راشي."

د نومبر پر ۱۱مه، ډاکټر اشرف غني هم وینا وکړه، هغه وویل:" د خپلو نړیوالو ملگرو سره په مشوره غواړم چې د انس حقاني، حاجي مالي خان او حافظ عبدالرشید تبادله د افغان –امریکایې پوهنتون له دوو استادانو سره وشي، زه اعلانوم چې موږ یاد درې طالبان له بنده ازاد کړل."

د نومبر پر ۱۲مه، د لوګر د پادخاب شانه د ″شېنک″ پوځي اډې ته نږدې د بهرنیو ځواکونو د موټرو پر کاروان بمي برید وشو، یوه ورځ وروسته په کابل کې د کاناډا د امنیتي کمپنۍ پر موټر بم برید؛ د بهرنیانو په ګډون ۱۳ تنه ووژل او ۲۰ نور یې ټپیان کړل.

د نومبر پر ۱۳مه، د قطر هوايي کرښې الوتکه له دوحې څخه باګرام ته راغله، او منتظر و چې یاد بندیان به دوحې ته انتقال کړي، خو بیا هم دغه بهیر وځنډېدی.

امریکایانو بیاځل له طالبانو وغوښتل چې د بندیانو د تبادلې سره یو ځای، د څو ورځو لپاره اوربند هم ومني، طالبانو د امریکایانو وړاندیز رد، او د بندیانو تبادله له ځنډ سره مخ شوه.

زما (لیکوال) تر څرګندونو[۲۱۱] لږ وروسته، د نومبر پر ۱۷مه، په کابل کې د امریکا سفیر پر خپل ټویټر ولیکل چې د بندیانو تبادله په کابل او لوګر کې د طالبانو د حملو له امله وځنډېله.

جان باس ولیکل:" هېواد یې له افغان سولې سره د مرستې په هدف د درې طالب زندانیانو د خوشې کولو په اړه د ولسمشر غني د اعلان او د نومبر میاشتې پر ۱۲مه او ۱۳مه، په لوګر او کابل کې تر موټر بم بریدونو وروسته د یادو کسانو پر خوشې کولو د هغه (ولسمشر غني) له بیا غور کولو څخه ملاتړ کوي".

[۲۱۱] په کابل کې د خبرې ناستې (۱۷ نومبر ۲۰۱۹) پر مهال ما (لیکوال) وویل:" د بندیانو تبادلې ټول بهیر بشپړ شوی و، د طالبانو او امریکا ترمنځ هوکړه شوې وه، خو په وروستي وخت کې، چې د قطرې کرښې الوتکه باګرام ته د بندیانو د انتقال لپاره راغلې وه، امریکایانو داسې شرط وړاندې کړ چې د توافق پر مهال طالبانو ور سره نه و منلی. دا دویم ځل ده چې امریکایان د سولې خبرو له میزه تیښته کوي، یو ځل چې د طالبانو او امریکا ترمنځ د سولې خبرو ټړن نښاني شو، د سپټمبر پر ۸مه، ټرمپ د خبرو د دریدو ټویټ وکړ، او دا ځل چې د بندیانو د تبادلې هوکړه شوې وه، بیا هم امریکایان په شا شول."

"سوله کول یعني د یوې سختې پرېکړې کول، خو سوله راوستل پر واقعي شرایطو باندې بیا غور کولو ته اړتیا لري. موږ د یو ستراتیژیک ملګري په صفت د راتلونکو ګامونو په اړه له افغانستان سره خپلې نږدې همکارۍ ته دوام ورکوو."

د نومبر پر۱۲مه، زموږ سره د طالب مشرانو د لېدو وعده وه، خو د یادو بندیانو د برخلیک او امریکایانو د نوي غوښتنې له امله زموږ ناسته ونه شوه.

د نومبر پر ۱۳مه، سهیل شاهین موږ (استاد یون، اسد وحیدي او ما لیکوال) ته وویل:"منل شوې وه چې لومړی به طالب بندیان موږ ته سپاري، له هغه وروسته به موږ په کرار د افغان –امریکایي پوهنتون دوه استادان امریکایانو ته سپارو، او بیا به وروسته موږ ۱۰ نفره افغان پوځیان هم خلاصوو. داسي نه ده چې لاس په لاس تبادله وشي."

د نومبر پر ۱۴مه ما (لیکوال) ته طالب سرچینو وویل چې کله هر څه خلاص شول، د قطر الوتکه باګرام ته ورسېدله، په وروستۍ وخت کې امریکایانو د اوربند غوښتنه؛ چې په لاسلیک شوې تړون کې نه وه او اضافي غوښتنه وه، ویې کړه. طالبانو په دې اړه سمدستي مجلس وکړ، خو اوربند یې ونه مانه، بالاخره د امریکایانو لخوا غوښتنه وشوه، که د دوه ورځو لپاره اوربند اعلان کړي، هم دا تبادله به صورت ونسي، خو طالبانو دا کار ونه کړ.

د نومبر پر ۱۷مه، ډاکټر غني د امریکا له بهرنیو چارو وزیر او د ټرمپ د ملي امنیت سلاکار سره پر ټیلیفون خبرې وکړي، ارګ یې په اړه د نومبر پر ۱۸مه، لاندی متن خپور کړ:"ولسمشر محمد اشرف غني د امریکا متحدو ایالتونو د بهرنیو چارو وزیر مایک پمپیو او د ملي امنیت سلاکار رابرټ اوبراین سره په جلا جلا تیلفوني اړیکو کې خبرې وکړې.

په دې خبرو کې چې تېره شپه وشوې، دواړو لوریو د طالبانو/ حقاني ډلې درې لوړ پوړو بندیانو د خوشې کولو په اړه د افغانستان حکومت د وروستي تصمیم عملي کولو لپاره راتلونکي لازم ګامونه په هر اړخیز ډول وارزول.

امریکایي چارواکو د ولسمشر غني د تصمیم په ملاتړ په ټینګار ژمنه وکړه چې د افغانستان حکومت سره به ګډ کار کوي ترڅو له خپلو ژمنو د اوښتو پر مهال د طالبانو له لوري د هر ډول تاوتریخوالي په مقابل کې ځواب ووایي.

همداراز دواړو لوریو له طالبانو سره یوې سیاسي هوکړې ته د رسېدو لپاره د بین الافغاني مذاکراتو د پیل په موخه د مخکې شرط په توګه پر اوربند او د تاوتریخوالي پر کموالي هوکړه وکړه."

د نومبر پر ۱۸مه، درې طالب بندیان دوحې ته یوړل شول، او د نومبر پر ۱۹مه یې تبادله د افغان - امریکایې پوهنتون له دوو استادانو (امریکایي پروفیسور کوین کینګ او استرالیایي پروفیسور ټیموتي ویکس) سره وشوه. طالب بندیان د طالبانو د قطر د سیاسي دفتر غړو ته په دوحه کې وسپارل شول، او د پوهنتون استادان د زابل ولایت په نوبهار ولسوالۍ کې امریکایانو ته وسپارل شول[۲۱۲].

د امریکا ولسمشر ټرمپ او د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پمپیو د پوهنتون د دوو استادانو خلاصون د سولې لپاره ښه پرمختګ وګاڼه.

او په یو بل پرمختګ کې طالبانو د نومبر پر ۲۱مه، د افغان ځواکونو ۱۰ تنه چې د هملند ولایت د نادعلي ولسوالي په چانجیر سېمه کې درې کاله او دوه میاشتې وړاندې د طالبانو لخوا نیول شوې وو، هغوی یې بیرته ازاد کړل.

**د بندیانو د تبادلې په اړه د نومبر پر ۱۹مه طالبانو لاندې اعلامیه خپره کړه:**

---

[۲۱۲] د امریکایي پوهنتون دوه تنه استادان "ټیموتي جان ویکس" او "کیون کېنګ" چې د ۲۰۱۶ کال د اګسټ میاشتې پر اتمه نېټه له کابل څخه طالبانو د بندیانو په توګه له ځانه سره وړي وو.
انس حقاني او حافظ عبدالرشید د ۲۰۱۴ په اکتوبر میاشت کې هغه مهال نیول شوي وو چې قطر هیواد ته د ګوانتنامو څخه د ازاد شویو بندیانو لیدو ته ورغلي وو.
انس حقاني د طالبانو د مرستیال مشر ملا سراج الدین حقاني ورور دی، حاجي مالي خان یې ماما دی او حافظ عبدالرشید په قطر کې د طالبانو د سیاسي دفتر غړي مولوي محمد نبي عمري ورور دی.

## د یو شمیر بندیانو د آزادی په اړه د اسلامي امارت اعلامیه

ځنګه چې د اسلامي امارت د دریو تنو مجاهدینو محترم انس حقاني، محترم حاجي مالي خان او محترم حافظ عبدالرشید د آزادیدو په اړه مثبت اقدام شوی، موږ یې هر کلی کوو.

همداراز، د اسلامي امارت له لوري د دوو تنو پروفیسورانو (کیون کینګ امریکایي او تیموتی ویکس استرالیایي) او لسو تنو افغان عسکرو د خلاصون پروسه په کامیابۍ سره تکمیل شوه.

دا ټولې کړنې د ښه نیت او اعتماد جوړونې لپاره ښه پرمختګ دی چې د سولې له بهیر سره مرسته کولی شي.

د یادونې وړ ده چې موږ د قطر د دولت د محترم امیر او د هغه هیواد د بهرنیو چارو وزارت او نورو چارواکو څخه چې په دې پروسه کې یې له پیل څخه پرله پسې هلې ځلې کړی او لازم تسهیلات یې برابر کړی دي، د زړه له کومې مننه کوو.

د افغانستان اسلامي امارت

## د بندیانو تبادلې په اړه د لوړ پوړو امریکایي چارواکو څرګندونې

د نومبر پر ۱۹مه، د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پمپیو له دریو بندي طالبانو سره د افغان – امریکایي پوهنتون د استادانو تبادلې اړوند وویل:"هیله لرو چې د هغوی خوشې کیدل یو بل ښه نیت څرګند کړي چې سولې او په افغانستان کې د جګړې ختمېدو ته لار پرانیزي ، او دغه اقدم به سولې ته لاره برابره کړي.

د امریکایي پوهنتون استادان په کابل کې د امریکایي ځواکونو په مرکز کې دي او ژر به له خپلو کورنیو سره یو ځای شي."

د پمپیو د اعلامیې بشپړ متن  په لاندې ډول دی:

**د یرغمل شوي امریکایي او آسټرالیایي د خلاصون لمانځنې په اړه د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزیر مایکل آر پومپیو اعلامیه:**

"نن ورځ، متحده آیالتونه د پروفیسور کیون کینګ او تیموتیس ویکز د خوشې کیدو هرکلی کوي. دواړه نن سهار په بریالیتوب سره له طالبانو څخه ترلاسه شول او د متحده آیالتونو د اردو تر پاملرنې لاندې دي او ډیر زر به له خپلو عزیزانو سره یو ځای شي.

پروفیسور کینګ او ویکز له فرصت څخه په الهام اخیستو چې له ځوانانو سره به د زده کړې په برخه کې مرسته وکړي د افغانستان په امریکایي پوهنتون کې د ښوونې لپاره افغانستان ته ولاړل. تیر درې کلونه په بند کې تیرولو سره دوی د خپل بې غرضه سخاوت دروند قیمت ادا کړ. متحده آیالتونه د یرغمل په توګه د بې ګناه ملکي وګړو د نیولو غندنه کوي.

طالبانو څرګنده کړې ده چې د دوه پروفیسورانو خوشې کولو ته په ښه نیت ګوري، چې متحده آیالتونه ددوی د دغې څرګندونې هرکلی کوي. ددې سربیره، موږ د طالبانو لخوا د ۱۰ افغان بندیانو د زر خوشې کیدو، او د افغانستان حکومت لخوا د ۳ طالب بندیانو د خوشې کیدو هرکلی کوو. موږ دغه پرمختګونه د هیله مندۍ نښې بولو چې د افغانستان ناوړه او ګران بیه جګړه چې ۴۰ کاله یې دوام وکړ ممکن ډیر ژر د سیاسي جوړجاړي له لارې پای ته ورسیږي.

موږ د ولسمشر محمد اشرف غني او د افغانستان حکومت ستاینه کوو چې دې موخې ته د رسیدو او تر څنګ یې د افغانستان د امنیتي ځواکونو د پیاوړتیا او اصلاح لپاره کار کوي. د تیرو دوه کلونو په جریان کې، ولسمشر غني د شرط پرته له طالبانو سره د خبرو وړاندیز وکړ. نوموړي د ۲۰۱۸ کال د کوچني اختر د رخصتیو پر مهال د اوربند غوښتنه هم وکړه چې د طالبانو لخوا ومنل شوه. په تاوتریخوالي کې د ځنډ رامنځته کیدو سره د خلکو له خوښۍ ډک غبرګون، په ډراماتیک ډول د سولې لپاره د خلکو ستره هیله په ډاګه کړه.

متحده آیالتونه له یو شمیر هغو افغان سیاستوالو څخه هم مننه کوي چې له سیاسي اختلافاتو څخه تیر شول او دغه بشردوستانه حرکت یې د خپلو سیاسي ګټو لپاره ونه کاروه. په تیرو څو ورځو کې په کابل کې د تاوتریخوالي د پیښو په کمیدو سره، پورتني پرمختګونه موږ ته د افغانستان د سولې د خبرو اترو په بریا کې هیله مندي راکوي چې متحده آیالتونه یې هر راز ملاتړ ته چمتو دي.

د افغان –امریکایې پوهنتون د دوو استادانو دخوشې کېدو په تړاو سپینې ماڼې هم خبرپاڼه خپره کړه، د سپینې ماڼې د خبرپاڼې بشپړ متن په لاندې ډول دی:

د سپینې ماڼۍ د مطبوعاتي مسؤل اعلامیه له طالبانو څخه د دوه یرغمل شوو د خوشې کیدو په اړه:

نن ورځ، متحده آیالتونه د پروفیسور کیون کینګ او تیموتیس ویکز د خوشې کیدو هرکلی کوي. ښاغلی کینګ چې امریکایی او ښاغلی ویکس چې آسټرالیایی دی، په افغانستان کې د امریکایي پوهنتون پروفیسران وو چې د ۲۰۱۶ کال په آګست میاشت کې د وسلې په زور وتښتول شول. دوی دواړه نن په بریالیتوب سره له طالبانو څخه ترلاسه شول او اوس مهال د متحده آیالتونو حکومت لخوا د طبي پاملرنې لاندې دي او د اړتیا وړ نورې مرستې هم ورکول کیږي. موږ دوی دواړو ته د بشپړې روغتیا دعا کوو چې د اسیر کیدو پر مهال یې ډیرې ستونزې ګاللې دي او هیله لرو چې په نږدې راتلونکي کې له خپلو عزیزانو سره یوځای شي.

همداراز د افغانستان له حکومت څخه د هغوی د هڅو له امله مننه کوو چې زموږ ملګرتیا یې وکړه او د یرغمل شوو د ازادولو زمینه یې برابره کړه. ولسمشر محمد اشرف غني د سولې په برخه کې په زړورتیا سره ګڼ شمیر ګامونه پورته کړي دي. نوموړي شاوخوا دوه کاله وړاندې له شرط پرته له طالبانو سره د خبرو وړاندیز وکړ. سربیره پردې، د ۲۰۱۸ کال د کوچني اختر د رخصتیو پرمهال یې د اوربند غوښتنه وکړه، چې د وسله وال طالبانو لخوا هم ومنل شوه او دا هم څرګنده شوه چې افغانان سولې ته ډیر لیواله دي.

ولسمشر ټرمپ ته تر هر څه وړاندې د امریکایی اتباعو خوندیتوب او امنیت لومړیتوب لري. د ټرمپ اداره د امریکایانو او زموږ د متحدینو د اتباعو د آزادۍ خوندیتوب لپاره چې یرغمل شوي دي نه ستړي کیدونکي هڅه کوي. لکه څنګه چې موږ د سولې لپاره کار کوو، د ټرمپ اداره به دغې هڅې ته دوام ورکړي ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې افغانستان بیا هیڅکله د متحده آیالتونو او زموږ متحدینو پر وړاندې د ترهګریزو بریدونو لپاره نه کارول کیږي" .

**د ټرمپ څرګندونې**: د نومبر پر **۲۱**مه، د افغان امریکایې پوهنتون دوو استادانو تبادله د طالب بندیانو سره، او د هغوی خوشي کیدو په اړ د امریکا ولسمشر ټرمپ پر خپل ټویټر ولیکل:"د طالبانو د بند څخه د کیون کنګ او ټم ویکس د خوشي کیدو د لمانځلو لپاره به د هغوي د کورنیو سره یو ځای شم.

د ولسمشر غني د زړور کومک څخه مننه کوم، پدی هیله چې دا به د سولې لپاره د اوربند په لور یو ښه پرمختګ وي چې دا اوږد جنګ ختم کړي .په خپل ټیم ویاړ کوم".

د نومبر پر **۲۲**مه، خلیلزاد ولیکل:"د طالبانو لخوا نن د ۱۰ افغان سرتیرو د آزادولو د خبر هرکلی کوم. دغه اقدام له هغه وروسته وشو چې افغان دولت د طالبانو بندیان خوشې کړل، او طالبانو د حسن نیت په جلا اقدام کې د افغان – امریکایې پوهنتون دوه پروفیسوران خوشي کړل.

هیله ده چې دغه اقدامات د دې لامل وګرځي چې تاوتریخوالی لږ شي او د داسې یو سیاسي جوړجاړي په لور چټک پرمختګ راولي چې افغان دولت، طالبان او نور افغان مشران پکښې ګډون ولري. افغانان سولې او امنیت ته هیلې لري او موږ وسره ولاړ یو."

## ایران او طالبان

د نومبر پر ۱۹مه، د امریکا دفاع وزرات (پنټاګون) په خپل خپور شوې راپور کې لیکلي و:"ایران طالبانو ته وسله، روزنه او مالي مرسته ورکوي، په افغانستان کې د امریکا او لویدیځو هیوادونو د کمزوري کولو لپاره د طالبانو وسله والې ډلې سره مرسته کوي.

سره له دې چې طالبان په پوره توګه د ایران پیروي نه کوي خو دواړو د" ګډ دښمن" پر ضد د مبارزې لپاره د یو بل ملا تړي.

ایران د حزب الله ډلې سره د نورو ډلو په پرتله ډیره همکاري لري خو طالبان هم په سیمه کې د ایران سیمه ایزو اهدافو پر مخ وړلو لپاره کار کوي.

ایران له طالبانو سره په همکارۍ کې د امریکا او لویدیځ د ځپلو تر څنګ دوه نور اهداف هم لري: یو دا چې د داعش ډلې سره مبارزه وکړي او بل د سولې وروسته د افغانستان راتلونکي حکومت کې ونډه ولري" .

د نومبر پر ۲۳مه، د ملا برادر اخوند په مشرۍ د طالبانو لوړ پوړي پلاوي ایران ته سفر وکړ، د ایران بهرنیو چارو وزیر جواد ظریف او لوړ پوړو ایراني چارواکو سره یې لیدنې وکړې، طالبانو په افغان سوله کې د ایران پر مثبت رول کارولو باندي څرګندونې وکړې، د ایران لخوا هم د افغان سولې اړوند د مرستې ژمنه وشوه.

د نومبر پر ۲٦مه، سهیل شاهین ولیکل:" نن د نومبر۲٦مه، دا.ا.امارت سیاسي مرستیال او دسیاسي دفتر مشرمحترم ملا برادر اخوند او ورسره هئیت یې د ایران د اسلامی جمهوریت د خارجه وزیر جواد ظریف او ورسره هئیت سره په تهران کې وکتل. دواړو خواوو د افغانستان د مسئلې په سوله ایز حل او د سولې د پروسې په هکله تفصیلي خبرې وکړې.

ددې علاوه، په دوه اړخیزو روابطو او په ایران کې د افغان مهاجرینو په ستونزو وږغیدل. ایراني لوړ پوړو چارواکو د افغان ولس سره د لا ښو اړیکو ساتلو هیله څرګنده او د افغان مهاجرینو د ستونزو دحل وعده یې وکړه."

مګر ایران کله هم په افغانستان کې د داسې سولې غوښتونکی هیواد پاتې نه شو چې ګټه به يې طالبانو ته ورسيږي، بلکې ټول وخت يې د افغان حکومت ملاتړ وکړ، او له طالبانو سره يې د معاملې تر حده اړيکې وساتلې، خو کله چې د ایران د قدس لښکر قوماندان سلیمان قاسمي په عراق کې د امریکا لخوا د جنوري پر ۳مه ۲۰۲۰ کې ووژل شو، له هغه وروسته ایران له طالبانو سره په اړیکو کې پرمختګ وکړ.

## د سولې خبرو د بیاځل پیل کېدو هڅې

د نومبر ۲۶مه، د طالبانو د سیاسي دفتر مرستيال مشر عباس ستانکزي په دوحه کې د اروپايي ټولنې له استازي رونالډ کوبیا او د جرمنۍ هیواد ځانګړي استازي مارکس پوتزیل سره د افغان سولې اړوند خبرې وکړي. دواړه لورو پر دې ټینګار درلود چې د سولې دریدلي مذاکرات بیرته پیل شي.

د لېدنې په اړه سهیل شاهين وليکل:" د افغانستان د اسلامي امارت د سیاسي دفتر مرستیال محترم عباس ستانکزی او ورسره هیئت يې نن د افغانستان لپاره د اروپايي اتحادیې له خاص استازي رولانډ کوبیا او پرون يې د المان له خاص استازي مارکس پوتزیل سره په دوحه کې وکتل.

پدې کتنو کې دواړو لوريو د هیواد په روان وضعیت او همداشان د افغانستان د مسئلې په سوله ایز حل او د سولې د روانې پروسې په هکله خبرې وکړې."

د نومبر پر ۲۷مه د امریکا د پوځ لوی درستیز جنرال مارک میلی کابل ته ورسید او هلته يې خبریالانو ته وویل:

"زما په فکر د سولې د خبرو څخه د مثبت نتایجو چانس د پخوا په پرتله زیات دي. او زه په افغانستان کې د تیرو ۱۸ کلونو راهیسي ښکیل یم. د لږ خوشبختۍ سره، مونږ به په لیرې نه، بلکي په نږدې راتلونکي کې کامیاب مذاکرات وکړو".

## باګرام پوځي اډې ته د ټرمپ راتګ

د نومبر پر ۲۸مه، ولسمشر ټرمپ د ماخوستن پر پاو باندي ۸ بجې په باګرام کې د امریکایې پوځیانو لویې اډې ته را ورسید. له ښاغلي ټرمپ سره په دغه سفر کې د هغه د ملي امنیت مشاور رابرت اوبراین، د استخباراتي او نورو چارو ځیني مشاوران هم مله دي.

د افغان حکومت مشر ډاکټر غني ته، باګرام ته د ټرمپ له را رسیدو یو ساعت مخکې خبر ورکول شوی و، چې باګرام ته ورشي او هلته به له ټرمپ سره ووینې.

ټرمپ نږدې ۳ ساعته د عیسویانو د بخښني ورځې مراسمو لپاره په باګرام کې تیر کړل، هغه وویل:"له طالبانو سره خبرې پیل کیږي، طالبان سولې ته چمتو دي، اوربند د سولې مذاکراتو لپاره اړین دی. زه پر دې باور یم چې دغه ډله اوس اوربند غواړي، او موږ به په افغانستان کې د خپلو پوځیانو شمیر را کم کړو."

ډاکټر غني ته هم د خبرو نوبت ورکول شو، هغه وویل: "موږ په افغانستان کې د امریکایې پوځیانو قربانۍ ستایو، هغوی دلته ډیره قرباني ورکړې."

له خبرو کولو وروسته د ټرمپ د وینا پر مهال، ډاکټر غني د ټرمپ تر شا د امریکایې پوځیانو په صف کې د ټرمپ لخوا ودرول شو، او د ټرمپ د وینا تر پایه همهلته ولاړ پاتې شو.

د نومبر پر ۳۰مه، ولسي جرګې غبرګون وښود چې ډاکټر غني د افغان ولس او افغان حکومت سپکاوی کړی، هغه ته په کار نه وه چې باګرام ته د ټرمپ لیدو ته ورغلی وای.

باګرام اډې ته د ډاکټر غني ورتګ او هلته د ټرمپ لخوا د امریکایې پوځیانو په لیکه کې د هغه درولو په اړه په ټولنیزو رسنیو کې سخت غبرګون خلکو وښود، افغانانو ویل چې ډاکټر غني د افغانستان سپکاوی کړي. په همدې اړه نړیوالې رسنۍ ټي آر ټي لیکنه خپره کړه چې ډاکټر غني په دې کار سره د افغانستان خلکو او د افغانستان اسلامي جمهوریت ته سپکاوی وکړ.

د نومبر پر ۳۰مه، طالبانو هم د ټرمپ خبرو ته غبرګون وښود، ویې ویل چې موږ د سولې خبرو ته چمتو یو، خو د سولې مذاکرات له صفر څخه نه پیلوو، له هغه ځایه یې شروع کوو، تر کومه ځایه چې رسیدلي وي.

## په لندن کې د ناټو دفاع وزیرانو غونډه

د ډسمبر پر ۲مه، ولسمشر ټرمپ په سپینه ماڼۍ کې، لندن کې د ناټو غونډې ته تر روانېدو مخکې خبریالانو ته وویل:"افغانستان ته ولاړم، خوښ مې شو. تاسې پوهیږئ چې هغه (سفر) ښه و، افغانستان ته زما سفر ډېر بریالی و، او له غني سره ملاقات ډېر عالي و".

د امریکا دفاع وزیر مارک اسپر په لندن کې د ناټو د دفاع وزیرانو په غونډه کې تر ګډون مخکې د ډسمبر پر ۲مه، له رویټرز خبري اژانس سره مرکه وویل:" ممکن په افغانستان کې د امریکايي سرتېرو شمېر د سولې له روانو خبرو سره له تړاو پرته راکم شي.

امریکا له څه وخت راپدېخوا له افغانستان څخه د خپلو سرتېرو د ایستلو په اړه هم په داخل او هم له ناټو سره خبرې کوي.

زه باور لرم، چې موږ کولای شو په افغانستان کې د خپلو سرتېرو شمېر راکم کړو، څو دا ډاډ تر لاسه کړو، چې دغه هېواد نور د تروریستانو لپاره خوندي ځای نه دی او هم له دغه هېواد څخه امریکا ته ګواښ نه دی متوجه، زموږ شریکانو هم د خپلو سرتېرو ایستل منلي".

د ناټو عمومي منشي ینس سټولټنبرګ په لندن کې د دې تړون د سرمشریزې په اخري ورځ (۴ ډسمبر ۲۰۱۹) وویل:"موږ ژمن یوو چې د افغانستان ملاتړ ته ادامه ورکړو. ځکه چې موږ په دې ژور باور لرو چې د افغان ځواکونو روزل، هغوی ته سلا مشوره ورکول او مرسته کول یې د سولې د هڅو تر ټولو ښه لار ده، تر څو طالبان پوه شي چې د جګړې په ډګر کې به کله هم بریالي نه شي. هغوی باید د خبرو میز ته کښیني او نویو موافقو ته مخه کړي.

ناټو د سولې مذاکراتو ننګه کوي او موږ د یو سیاسي جوړ جاړي له لارې حل ته اړتیا لرو. د امریکا متحده ایالتونه د دغې پروسې په اړه د ناټو له ټولو ایتلافیانو او ملګرو سره له نژدې رغیدلي دي."

## کابل ته د خلیلزاد راتګ

د ډسمبر پر۴مه، خلیلزاد کابل ته ورسید، هغه تر دې له مخه په قطر کې له طالبانو سره پټه لیدنه هم کړې وه، خو رسنیو قطر ته د خلیلزاد د سفر راپور نه درلود[۲۱۳].

په همدې ورځ ماښام مهال یې له ډاکټر غني سره ولېدل او د افغان سولې په تړاو یې یو له بل سره خبرې وکړې.

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت هم رسماً بیان ورکړ چې خلیلزاد به له کابل څخه دوحې ته ولاړ او ژر به له طالبانو سره مخامخ خبرې په رسمي ډول بیرته پیل کړي.

د ډسمبر پر ۴مه خلیلزاد ولیکل:"هماغسې چې ټرمپ د شکرګزارۍ په ورځ وویل، په افغانستان کې د داعش- خراسان په ضد عمده پرمختګ شوی دی.

په ننګرهار کې وروستی کمپاین، یوه بیلګه ده. د متحدو ایالتونو/ ائتلاف او افغان امنیتي ځواکونو، دغه راز د طالبانو، لخوا د اغیزمنو عملیاتو له کبله داعش- خراسان سیمې او جنګیالي وبایلل. سلګونه تسلیم شول.

داعش- خراسان محوه شوی نه دی، خو دا رښتونی پرمختګ دی."

[۲۱۳] کله چې موږ له کرزي سره د نومبر پر ۱۹مه ولیدل، هغه وویل:" خلیلزاد قطر کی دی او له طالبانو سره یې خبرې رواني دي، له قطر څخه به کابل ته راشي، او موږ به له هغه سره هم ځینو د سولې فعالینو ته متوجه ګواښونه شریک کړو."

په کابل کې امنیتي ستونزې د سولې فعالینو په وړاندې زیاتې شوې وې، د اکتوبر ۱۱مه، پر ما (لیکوال) د کور مخې ته وسلوال برید وشو، د اکتوبر پر ۳۰مه، پر لیکوال او سیاسي شنونکي محمد حسن حقیار برید وشو، زخمي شو، برید ګر د پولیسو لخوا ونیول شو، مګر په پټه پرېښودل شو.

د نومبر پر ۱۸مه، د سولې فعال، لیکوال او د سیمې په کچه سیاسي تحلیل کوونکي وحید مژده باندې د هغه له کور سره نږدې، د ماښام لمانځه تر اداء کولو وروسته، له مسجد څخه د راوتلو پر مهال برید وشو، مژده صاحب یې شهید کړ.

د خلیلزاد څرګندونو ته طالب ویاند غبرګون وښود، ویې ویل چې د داعش وسلوالې ډلې له منځه وړل د طالبانو موخه ده، او هر کله چې داعش وسلوال د طالبانو تر محاصرې لاندې راشي، امریکا او افغان حکومت یې ملاتړ کړی او د طالبانو له محاصرې یې خلاص کړي.

په همدې ورځ ارګ اعلامیه خپره کړه، ویې لیکل:"ولسمشر ډاکټر غني د افغانستان د سولې په چارو کې د امریکا له ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد سره ولیدل، دوی د سولې په اړه، له" طالبانو سره په اوربند "او سولې ته د رسېدو لپاره په بهر کې د طالبانو د" پټو ځایونو "د موجودیت په اړه خبرې وکړې."

له خلیلزاد سره چې کابل ته په سفر کې د جنوبي او منځنۍ اسیا لپاره د امریکا د جمهور رئیس ډونالډ ټرمپ سلاکاره میرمن لیزا کورتس هم ملګري وه، دوی له اجرائیه رئیس ډاکټر عبدالله سره هم وکتل، ډاکټر عبدالله د کتنې په اړه پر خپلې ټویټر پاڼې ولیکل: " مونږ د سولې هڅو ته په لومړیتوب، د طالبانو او امریکا ترمنځ د خبرو بیرته پیلیدلو، د تاوتریخوالي د کمیدو پورې اړوند شرایطو او اقداماتو، په وخت توافقي ګامونه پورته کول او د افغانانو سترو هیلو ته د ځواب ورکولو لپاره د بین الافغاني خبرو لپاره د یو ټول شموله ټیم جوړولو پر مسئلو خبرې وکړې. "



## د انس حقاني مرکه

د ډسمبر پر ۴مه، د طالبانو د مذاکراتي ډلې د غړي انس حقاني مرکه د نن ټکی آسیا ویبپاڼې لخوا په برغ کې خپره شوه، موږ یې مرکه په لیکلي ډول دلته را اخلو:

کله چې له گوانتانامو څخه ۵ طالب مشران خلاص او قطر ته راغلل، زه او حافظ عبدالرشید یې لېدو ته ورغلو، په دې ډله کې زموږ د پلار "مولوي جلال الدین حقاني" نږدې ملگری حاجي محمد نبي عمري هم و.

په قطر کې مو له را خلاص شوو بندیانو سره ولیدل، د بیرته تگ پر مهال، په بحرین کې الوتکې ناسته درلودله، همهلته د امریکایانو لخوا "د اکتوبر ۱۲مه ۲۰۱۴" ونیول او نیمه ورځ وساتل شوو، تحقیقات یې را څخه وکړل، بیا یې بیرته قطر ته راوړو، هلته له یوې ورځې تیرولو وروسته، د اماراتو الوتکې کې دوبۍ او له هغه ځایه کابل ته یوړل شوو.

کابل کې د ملي امنیت په زندان کې له ۸ نیمو میاشتو تیرولو وروسته د باگرام عمومي زندان ته یوړل شوو. باگرام کې څلور کاله ټول وخت په کوټه قلفې "گوښې او قلف کوټه" کې وساتل شوم. له دې وروسته لږ پراخ ځای ته یوړل شوو، زه او حافظ عبدالرشید سره یوځای شوو، له ۵ کاله او یوې نیمې میاشتې زندان تیرولو وروسته د تبادلې پایله کې را خوشي او قطر هیواد ته راوړل شوو.

په قانوني توگه موږ داسي جُرم نه درلود چې زنداني شو، قید راکول شي او یا په اعدام محکوم شو، مگر امریکایانو غوښتل چې د ټولو بشري حقونو پر خلاف موږ ته د اعدام سزا واوروي، او له دې یې هدف پر اسلامي امارت فشار راوړل و، غوښتل یې په دې توگه امریکایان پر طالبانو خپلې غوښتنې ومني، او خپل منفي اهداف او گټې تر لاسه کړي.

موږ دواړه د مدرسې زده کوونکي وو، د اختر رخصتي وه چې قطر ته ولاړو، او موږ کوم جُرم نه درلود، د دوی د اساسي قانون له مخې او دارنگه بشرې قوانینو کې هم پر موږ داسي جُرم او یا ثبوت نه وو چې هغه ته دي جُرم وویل شي، مگر د خپلو منفي موخو تر لاسه کولو لپاره یې موږ ته د اعدام سزا واوروله.

زه تعجُب کوم، د افغانستان په دننه کې داسې محکمې وې چې پرته له جرُم او ثبوت یو انسان ته د اعدام حکم کوي.

زموږ د تبادلې بهیر له ډېره وخته پیل شوی و، ځینې سیاسي کسانو، سیاسي گوندونو او حتی ځینې حکومتونو "قطر او پاکستان" د منځگړیتوب او ددې کار په ښه ډول سرته رسېدو هلې ځلې کولې. د خلاصون او تبادلې هلې ځلې هغه وخت گړندۍ شوې چې کله د طالبانو – امریکا ترمنځ مخامخ خبرې په قطر کې پیل شوې، او کله چې د اسلامي امارت سیاسي مرستیال او د قطر سیاسي دفتر مشر ملا برادر اخوند قطر ته ورسېد، هغه دا هڅې لا پسې گړندۍ کړې.

د طالبانو – امریکا مذاکراتو بهیر کې لږ بې باورې راغلې وه، د باور جوړونې لپاره همدا مسئله "د بندیانو تبادله" مهمه وه، ډاکټر زلمي خلیلزاد د افغان – امریکایې پوهنتون دوو استادانو د تبادلې لپاره له بېلابېلو جهتونو سره خبرې کړې وې.

بالاخره د نومبر پر ۱۸مه ۲۰۱۹، موږ د قطر هیواد ته راوړل شوو، مقابل کې د افغان – امریکایې پوهنتون دوه استادان او د حکومت لس امنیتې ځواکونه طالبانو ور خوشې کړل.

زندان کې عموماً ستونزې وې، بندیان مریضان وو، تفصیل ته یې ځکه اړتیا نشته، امریکایان، دولت، سور صلیب او نړیوالې بشرې ادارې په باگرام زندان کې ستونزو باندې خبر او پوه دي. بندیان له روغتیایې او تعذیبي ستونزو سره مخ دي، زه د بندیانو په استازولې له نړیوالو حقوقي ادارو او هیوادو غوښتنه کوم چې په زندانو کې د بندیانو روغتیا او حقونو ته پاملرنه وشي، او له بندیانو سره ښه چلند سولې بهیر کې مرسته کوي.

تازه له زندان څخه را وتلی یم، څلور کلونه موږ هیڅ له حالاتو خبر نه وو، په وروسته وختونو کې موږ د حالاتو اړوند لږ معلومات تر لاسه کول. غواړم له حالاتو څخه خبر شم، د الله ﷻ او د مذاکراتي ډلې او مشرتابه په مرسته به هڅې کوم چې خپل غم ځپلې ولس ته د سولې خوشالې راوړو، جگړه ختمه او اشغال پای ومومي.

## لسم پړاو خبرې

خلیلزاد په کابل کې له ډاکټر غني، ډاکټر عبدالله، حامد کرزي او نورو افغان سیاستوالو سره تر لیدنو وروسته، د ډسمبر پر ٦مه، دوحې ته ولاړ، او د شنبې ورځ، د ډسمبر پر ۷مه یې په دوحه کې له طالبانو سره مخامخ خبرې پیل کړې.

رسنیو راپور ورکړ چې د سولې د لسم پړاو خبرې به د تاوتریخوالي کمولو باندې متمرکزې وي، تر څو د افغانانو ترمنځ مذاکرې او اوربند ته لاره هواره کړي.

د ډسمبر پر ۷مه، سهیل شاهین پر ټویټر ولیکل:" نن د محترم ملا برادر اخوند په مشرۍ د اسلامي امارت مذاکراتي ټیم، د امریکې له مذاکراتي ټیم سره خبرې له هغه ځایه پیل کړې کوم ځای کې چې دریدلې وې. د توافقنامې د لاسلیک او اړوند موضوعاتو په هکله خبرې وشوې. مذاکرات به سبا هم دوام کوي.

محترم انس حقاني د افغانستان د اسلامي امارت د مذاکراتي ټیم د غړي په توګه په ننني خبرو کې ګډون وکړ."

د ډسمبر پر ۹مه، د طالبانو د مذاکراتي ډلې غړي شیخ شهاب الدین دلاور د پیغام د لاري ما (لیکوال) ته وویل:"لومړی امریکایې لوري ۷ ورځې اوربند غوښت، بیا یې کموالی پکې راوست، وروسته یې وویل چې نا اعلان شوی اوربند وکړئ، دارنګه که چیری کومې حملې هم وشي، تاسی (طالبان) یې پړه مه منئ، موږ (امریکا) به یې هم جدي نه نیسو، خو یوازي د اوربند کولو غوښتنه ومنئ."

پر سبا یې شیخ صاحب وویل: "امریکایان دوه ورځې نا اعلان شوی اوربند غواړي، خو موږ جواب نه دی ورکړی."

د طالبانو او امریکایانو ترمنځ د سولې خبرو لسم پړاو لا پای ته نه و رسیدلې چې د ډسمبر پر ۱۱مه، د بهرنیو ځواکونو باګرام اډې سره نږدې پر بهرنیانو برید وشو، طالبانو په یوغیر فعال روغتون کې ځای ونیو، ۱۲ ساعته جګړه وشوه، ۲ بهرنیان مړه او ۵ پکې زخمیان شول.

طالبانو د برید پړه ومنله، ویې لیکل:

**د بګرام په هوايي ډګر چې لويه امريکايي ځاله ده، ستر فدايي بريدونه لاهم دوام لري**

"د الفتح عملياتو په ګړندي بهير کې نن سهار شاوخوا شپږ بجې په هيواد کې د امريکايي اشغالګرو په لويه پوځي اډه (د بګرام په هوايي ډګر) ستر فدايي بريدونه ترسره شول.

لومړی له درنو منفجره موادو څخه ډک مازدا موټر د امريکايي اشغالګرو د قرارګاه له ديوال سره وجنګول شو چې له امله يې د قرارګاه ډېره برخه له منځه ولاړه او د فدايي مجاهدينو لپاره هوايي ډګر ته د ننوتلو لاره خلاصه شوه.

وروسته ګڼ شمير فدايي مجاهدين چې په سپکو او درنو وسلو، اور غورځونکو وسيلو، او انفجاري واسکټونو سمبال وو، وتوانيدل چې په بګرام کې د ننه د امريکايي اشغالګرو په خوب خونو، هستوګن ځايونو او پوځي قشلو باندې بريدونه وکړي چې اوس هم شديده جګړه روانه ده.

د معلوماتو پر اساس تر اوسه پورې په درنه چاودنه او بريدونو کې لسګونه تنه امريکايي اشغالګر او هلته ميشت کورني غلامان وژل شوي او ټپيان دي.

د بګرام هوايي ډګر تأسيساتو او پوځي بارکونو ته هم درانه مالي زيانونه اوښتي دي.

په پيښه کې د کوم روغتون يا مسجد ويجاړيدل او يا هم د ملکي خلکو د زيانونو په اړه راپورونه حقيقت نه لري، البته که د چاودنې د قوت له امله په لرې سيمو کې ځينې خلک سرسريز خوږ شوي وي، هغه کوم قصدي مورد نه دي." ذبيح الله مجاهد د اسلامي امارت ويندوی

د ډسمبر پر ۱۱مه، زه (ليکوال) د قطر سياسي دفتر له سرچينو خبر شوم چې ملا اميرخان متقي له قطر څخه پاکستان ته تللی، تر څو د طالبانو د ډلې د مشر شيخ هبة الله هدايت د امريکايې لوري د غوښتنې (اوربند) په اړه واخلي.

وروسته پوه شوم چې شيخ دلارو او ملا محمد فاضل مظلوم هم له متقي صاحب سره يو ځای پاکستان ته تللي، چې غالباً ملا فاضل اخوند د طالبانو د نظامي کميسون له مشرانو او قومندانانو سره، همدارنګه متقي صاحب او شيخ دلاور به له شيخ هبة الله سره د اوربند / تاوتريخوالي کمولو په اړه ليدنې درلودلې، تر څو

خپل مشر لاربښوونې او د طالبانو د رهبرې شورا، په ځانګړې ډول د نظامي شورا مشورې تر لاسه کړي وي.

د ډسمبر پر ۱۲مه، د قطر سیاسي دفتر ویاند سهیل شاهین پر خپل ټویټر ولیکل: "له امریکا سره خبرې ښې او مثبتې روانې دی، موږ د مشورو لپاره خبرې توقف کړي. نن مازدیګر د محترم ملا برادر اخوند په مشرۍ د مذاکراتي ټیم څو تنو اعضاوو د خلیلزاد په مشرۍ د امریکې د مذاکراتي ټیم له یوشمیر اعضاوو سره وکتل. د خبرو فضا ښه او مثبته وه او دواړو خواوو موافقه وکړه چې د څو ورځو له وقفې او مشورو وروسته به خپلو خبروته دوام ورکړي. "

د سولې لسم پړاو خبرو په اړه، د ډسمبر پر ۱۳مه، خلیلزاد پر ټویټر ولیکل چې خبرې یې په باګرام باندي د طالبانو د حملې له امله توقف کړي: "نن مې له طالبانو سره د ملاقات په ترڅ کې پر بګرام د پروني برید په اړه، چې په بې پروا ډول یې دوه کسه ووژل او لسګونه ملکیان یې ټپیان کړل، سخته غوسه څرګنده کړه. طالبان باید وښیي چې دوي غواړي او کولاې شي چې د سولې لپاره د افغانانو هیلو ته ځواب ورکړي.

موږ لنډه وقفه اخلو تر څو دوي له خپل مشرتابه سره د دې مهمې موضوع په اړه سلا مشوره وکړي."

په همدې ورځ د خبرو د توقف اړوند ما (لیکوال) شیخ دلاور صاحب ته خپله اندیښنه وویله، هغه راته ولیکل:"خلیلزاد دروغ وایې، پرون ماښام یې بیا د اوربند غوښتنه وکړه، موږ ورته وویل چې ورځو ته ضرورت دی.

ټویټ یې د شاهین صاحب د ټویټ جواب کې کړی چې هغه ویلی و چې فضاء مثبت وه. نو دی مجبور دی چې فضاء منفي وښیې، ځکه خوږ شوی دی.[٢١٤] "

لسم پړاو خبرې چې د ډسمبر پر ۷مه پیل شوې وي، پرته له کومې نتیجې د ډسمبر پر ۱۲مه، پای ته ورسیدې.

---

[٢١٤] په دې معنی چې طالبانو د خلیلزاد د اوربند غوښتنه نه ده منلې، او خلیلزاد ته یې ویلي چې انتظار وکړي، دوی له خپلو مشرانو سره مشورې کوې، خو طالبانو به خلیلزاد ته واضح کړي وي چې پر اوربند موافقه نه لري، مګر کیدای شي د جګړې په کموالي باندي خبرې ور سره وکړي.

## د خلیلزاد تګ پاکستان، او بیا د دوحې فورم ناسته کې یې ګډون

داچې طالبانو د امریکایې لوري د اوربند غوښتنه ونه منله، او هغوی ته یې وویل چې له خپلو مشرانو سره تر مشورې وروسته به جواب ورکوي، همدارنګه طالب مشران پاکستان ته ولاړل، تر څو د ډیورنډ غاړو کې خپل مشر شیخ هبة الله ویني.

خلیلزاد غوښتل چې د پاکستان لخوا پر طالبانو فشار راوستل شي، تر څو اوربند ته غاړه کیږدي، له همدې امله خلیلزاد د ډسمبر پر۱۳مه اسلام اباد ته ولاړ، هلته یې د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر شاه محمود قریشي سره ولیدل، او بیرته دوحې ته ولاړ.

د شپې ناوخته خلیلزاد پر ټویټر ولیکل:"نن مې د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر شاه محمود قریشي، د پوځ مشر قمر جاوید باجوه او نورو چارواکو سره ولیدل، هغو ته مې د روانو خبرو اړوند معلومات ورکړل. زه په افغانستان کې د اوربند او تاوتریخوالی کموالي برخه کې د پاکستان د مرستي هرکلی کوم، تر څو د بین الافغاني مذاکراتو محوري خبرو ته زمینه برابره شي."

د ډسمبر پر ۱۴مه او ۱۵مه خلیلزاد په دوحه کې د دوحې فورم غونډه کې ګډون وکړ، هلته یې د غونډې له ځینو افغان ګډونوالو سره هم ولیدل.

د غونډې ګډونوال حاجي عبیدالله صدرخیل ما (لیکوال) ته د ډسمبر پر ۲۸مه په دوبۍ کې وویل: "له خلیلزاد سره مې د افغان سولې په اړه خبرې وکړې، هغه ویل چې پوره هڅې کوم چې په سوله کې پرمختګ وشي، مګر طالبان هم باید لږ انعطاف وکړي، خو طالبان اوربند نه کوي.

ما (خلیلزاد) ته مې مور ویلي چې د خپلې خاوري او افغانانو لپاره دا کار وکړه، او سولې ته کار وکړه، د مور وصیت مې همدا دی، او تر خپله وسه کوشش کوم چې د سولې برخه کې پرمختګ وشي.

د مور دا وصیت مې پر ځای کوم، چې هغه ژوندي وي او خبره شي چې افغانستان کې جګړه ختمه شوه."

د ډسمبر پر ۱۴مه، طالب ما (لیکوال) ته له قطر څخه د پیغام د لارې وویل:"امریکا په مذاکراتو کې د ډاکټر غني لپاره غوښنه برخه غوښتله، پرمختګ نه و، نو له همدې امله طالبانو ورته وویل چې له مشرانو سره به مشوره وکړو.

امریکایان طالبانو ته وایي چې لږ لاره یوسئ، خو طالبان که لږ څه هم ور سره ومني، بیا به امریکا نورې غوښتنې کوي."

## طالبانو ناروې ته پلان شوې سفر لغوه کړ

په پلان کې وه چې طالبان به د ډسمبر پر ۱۷مه، ناروې ته سفر وکړي او هلته به د ناروې چارواکو سره د افغان سولې په اړه خبرې وکړي.

د ډسمبر پر ۱٦مه، ناروې ډیپلوماټ فروډ له ما (لیکوال) وپوښتل چې ولې طالبانو ناروې ته تګ لغوه کړ، آیا د دې لپاره چې پر خلیلزاد فشار واچوي؟

کله چې ما (لیکوال) له طالبانو پوښتنه وکړه، هغوی وویل چې په ناروې کې د قران کریم د سوځیدو له امله یې ناروې ته تګ لغوه کړی[۲۱۵]، او په قطر کې د ناروې سفارت سره یې دا خبره شریکه کړې چې په ناروې کې د قران کریم پر سوځیدو هم خواشیني یو او هم سفر لغوه کوو.

---

[۲۱۵] د نومبر پر۱٦مه، د ناروې مرکز اوسلو کې "د ناروې د اسلام پالنې مخه ونیسئ Stop Islamisation of Norway (SIAN) " ټولنې د مشر لارس تورسن Lars Thorsen لخوا د کلیسا پر مخامخ په عام محضر کې چې پولیسو یې امنیت نیولی و، د قران کریم دوه نسخې کثافات دانۍ ته واچول شوې او د قران کریم بلې نسخې ته یې اور واچاوه، یوه مسلمان وګړي پر قران سوځونکې ور منډه کړه، تر څو قران کریم له اور څخه وساتي، د پولیسو لخوا ونیول، لاسونه، پښې او ملا یې ولچک او د پولیسو موټر کې په زور کېنول شو ، له دې وروسته درې نورو مسلمان ځوانانو هم له قران څخه دفاع په خاطر د قران کریم سوځیدو ځانګړې ځای ته ور منډه، خو د ناروې پولیسو لخوا ونیول، ولچک او د پولیسو موټر ته پورته کړل شول.

مګر زه (لیکوال) فکر کوم چې پر خلیلزاد د فشار له امله به طالبانو ناروي ته خپل سفر لغوه کړی وي، ځکه له دي مخکې طالبانو منلی وه چې ناروي ته به سفر کوي، کله چې خلیلزاد په خبرو کې د ځنډ اړوند ټویټ وکړ، له هغه وروسته بیا طالبانو ناروي ته خپل تګ لغوه کړ.

## کابل ته د خلیلزاد را ګرځېدل

د دوحې فورم غونډې پای ته رسیدو او دوحه کې له دوو ورځو ځنډ وروسته، خلیلزاد کابل ته راغی، او د ډسمبر پر ۱۸مه یې په ارګ کې له ډاکټر غني سره ولېدل، خلیلزاد له ډاکتر عبدالله او بیا وروسته له حامد کرزي او نورو افغان سیاستوالو سره هم ولېدل، د ډاکټر عبدالله سره د لیدنې پر مهال ګڼ سیاسي مشران هم حاضر وو، همدارنګه د حامد کرزي سره د لیدنې پر مهال هم ګڼ سیاسي مشران ناست وو.

د ارګ پر ټویټر پانه ولیکل شول:"ډاکټر غني له زلمی خلیلزاد سره د تاوتریخوالي کمولو، اوربند او طالبانو د پټنځایونو په اړه خبرې وکړې، همدارنګه خلیلزاد په قطر او دوحه کې د خبرو اړوند معلومات ډاکټر غني ته وړاندې کړل. دواړو لورو پر دي توافق درلود چې د سولې لپاره تر هڅه لومړی اوربند اړین دی."

د ډسمبر پر ۱۹مه، خلیلزاد ولیکل:"موږ د افغان سولې د بهیر یو مهم پړاو ته نږدې کیږو. کابل کې مې دوه ورځنی سلا مشورې بشپړې کړې. ګټور سفر و.

له جنرال میلر سره مې ولیدل او په ګډه مو له ډاکټر غني، ډاکټر عبدالله، پخواني ولسمشر حامد کرزي، ښځینه فعالینو او نورو سیاسي مشرانو سره مشورې وکړې. موږ د تاوتریخوالي د لږولو پر حاصلولو او بین الافغاني مذاکراتو ته د لارې د برابرولو پر هڅو وږغیدو."

## د امریکا او هند بهرنیو چارو وزیرانو خبرې ناسته

د ډسمبر پر ۱۹مه، د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پمپیو په واشنګټن کې له خپل هندي سیال سبراهمانیم جایشنګر سره د افغانستان د سولې په اړه خبرې ناستې ته وویل: "موږ هیله لرو چې په افغانستان کې ټول اړوند سیاسي اړخونه، افغان حکومت،

په افغانستان کې دننه غیر حکومتي مشران او طالبان دې نتیجې ته ورسیږي چې غوره ځواب د تاوتریخوالي د کچې کمول دي چې اوربند ته لار پرانیزي.

له افغانستان څخه د امریکایي عسکرو د شمېر د کمولو په اړه بحثونه روان دي، مګر امریکا غواړي ډاډه شي چې له افغانستان څخه به بیا ورته د ترهګرۍ د ګواښ خطر نه وي."

د هند د بهرنیو چارو وزیر سبراهمانیم وویل:"موږ په دې باور یو چې د سولې بهیر باید د افغانانو له لوري او د افغانانو په مشري وي . موږ باید ډاډه شو چې په دغه بهیر، په افغانستان کې په تېرو دوو لسیزو کې د نړیوالې ټولنې له لوري لاس ته راوړنې خوندي او وساتل شي".

## د ملا برادر او خلیلزاد لیدنه

د ډسمبر پر ۱۹مه، خلیلزاد له کابل څخه قطر ته ولاړ، او هلته یې په پټه له طالب مشر ملا برادر اخوند سره ولېدل.

خلیلزاد او طالبانو د اوربند په اړه خبرې وکړې، امریکا تمه دلودله چې په یو نااعلان شوې اوربند به له طالبانو سره توافق ته ورسیږي.

خلیلزاد هڅه کوله چې د سولې دغه په ټپه ولاړ حالت د ۲۰۲۰ز کال تر پېل مخکې روان او له طالبانو سره یوې موافقې ته ورسیږي.

د ډسمبر له ۱۷مې څینو رسنیو د طالبانو او امریکا ترمنځ د اوربند خبرونه خپرول، او د ډسمبر پر ۱۸مه، څینو کورنیو او بهرنیو رسنیو راپور ورکړ چې د طالبانو او امریکا ترمنځ په مشروط اوربند باندي توافق شوی.

همدارنګه رسنیو راپور ورکړ چې افغان حکومت او امریکا له طالبانو د اوربند او له افغان حکومت سره د مخامخ خبرو غوښتنه کوي.

د پورته راپورونو په غبرګون کې د ډسمبر پر ۲۰مه، سهیل شاهین پر ټویټر ولیکل:"بین الافغاني مذاکرات په هغه صورت کې پیلیږي چې د امریکا سره د ټولو خارجي

عسکرو د وتلو توافقنامه لاسلیک شي. په بین الافغاني مذاکراتو کې به ټول افغان جهتونه شامل وي، دا زمونږ موقف دی او وخت په وخت مو مطبوعاتو ته ویلی."

د ډسمبر پر **۲۰**مه، ځینو نړیوالو او کورینو رسنیو راپور ورکړ چې د امریکا کانگرس د سولې مذاکراتو لپاره د طالبانو د تگ راتگ او تجهیزاتو لپاره بودیجه منظور کړه.

د ډسمبر پر **۲۱**مه، سهیل شاهین یې په اړوند غبرگون وښود:"د ځینو رسنیو دا خبر چې د امریکا کانگرس د اسلامي امارت د مرکچیانو د لوژستیکي مصارفو لپاره بودیجه منظور کړې، حقیقت نه لري او نه مخکې داسې شوي. یوازې د ذهنونو د مشوش کولو له پاره یې خپور کړی. که امریکا د خپل ټیم د مصارفو لپاره منظور کړې وي، هغه د دوی کار دی، په اسلامي امارت پورې اړه نه لري."

د ډسمبر پر **۲۳**مه **لا هم** مولوي شهاب الدین دلاور، متقي صاحب او ملا فاضل اخوند په کویټه کې وو، تر څو د خپل مشر سره د اوربند او اړوند مسایلو باندې خبرې او د هغه هدایت واخلي.

د ډسمبر پر **۲۹**مه، د قطر دفتر کارکونکي عبدالرحمن وویل:"د طالبانو د هیئت کسان بیرته قطر ته را رسیدلي دي، خو اوربند باندې د طالبانو توافق نه دی شوی، او وروستی پریکړه د طالبانو تر مشر شیخ هبة الله پورې پاتې ده. "

د ډسمبر **۳۰**مه، سهیل شاهین ولیکل:"ځینې رسنۍ د آوازو په اساس رپوټونه خپروي چې حقیقت نه لري. البته کله چې څه وي، موږ یې حتماً له خپل ولس او رسنیو سره شریکوو. رسنۍ دې غیر تصدیق شوي راپورونه، نه خپروي[۲۱۶] ."

او د ډسمبر پر **۳۱**مه، مولوي امیرخان متقي هم بیرته قطر ته ورسید، چې کیدای شي د اوربند او یا هم جگړې د کموالي په اړه به یې د طالبانو د مشر شیخ هبة الله وروستی هدایت هم له ځان سره د قطر سیاسي دفتر غړو ته ور وړی وي.

---

[۲۱۶] د ډسمبر له ۱۸مې، ځینو رسنیو راپور ورکاوه چې:" امریکا طالبانو ته گواښ کړی چې لس ورځې اوربند ومني، کنه مذاکرات درووو."

د ډسمبر پر وروستۍ اونۍ کې کورنیو رسنیو راپور ورکړ چې طالبانو له امریکا سره لس ورځې اوربند منلی دی، او ځینو رسنیو بیا د یوې اونۍ اوریند خبرونه خپاره کړل.

## یوولسم پړاو خبرې

د جنوري ۴مه ۲۰۲۰، خلیلزاد دوحې ته ولاړ، او د جنوري پر ۵مه یې له ملا برادر اخوند سره وکتل، مګر سهیل شاهین وویل چې رسمي خبرې نه دي پیل شوې.

د جنوري ۱۲مه ۲۰۲۰، د امریکا متحده ایالاتو د ملي امنیت شورا سلاکار رابرټ اوبراین د" اکسیوس" په نامه له امریکایي ویبپاڼې سره په ځانګړې مرکه کې وویل:"په روان ۲۰۲۰ کال کې له طالبانو سره یوې هوکړې ته رسېدل ممکن دي. که چیري د یوې معاملې له مخې وي یا پرته له معاملې په افغانستان کې به د خپلو سرتېرو شمېر کم کړو.

د ولسمشرۍ ټاکنو د مهالوېش په اساس قضاوت نشم کولای، خو ممکنه ده چې سږکال هوکړې ته ورسېږي. موږ پر هغه باندې کار کوو، خو باید یوه ښه معامله وي".

د جنوري پر ۱۷مه ۲۰۲۰، سهیل شاهین پر ټویټر ولیکل:"د افغانستان د اسلامي امارت سیاسي مرستیال او د سیاسي دفتر د مشر محترم ملا برادر اخوند په مشرۍ د اسلامي امارت مذاکراتي ټیم د ډاکټر خلیلزاد په مشرۍ د امریکا له مذاکراتي ټیم سره غونډه کړې، د توافقنامې د لاسلیک او اړوند مراسمو په هکله یې خبرې کړې دي.

همداشان، پرون او نن مازدیګر هم د دواړو مذاکراتي ټیمونو ترمنځ ګټورې خبرې وشوې، د خبرو دا بهیر به څو ورځې دوام وکړي او موږ به یې وخت په وخت معلومات خپروو، ان شاالله."

زما (لیکوال) د معلوماتو له مخې چې لا هم خلیلزاد تمه درلودله چې طالبان به اوربند ومني، مګر د طالبانو لخوا به ورته ویل کېدل چې د اوربند اړوند زموږ پخوانۍ خبره ده، که غواړئ چې د جګړې د کموالي په اړه خبرې وشي چمتو یو.

له همدې امله وه چې د طالبانو او امریکا ترمنځ ډېر وخت لېدنې نه کېدې، او چې کله به په تکرار سره د خلیلزاد لخوا له طالبانو سره د لېدو غوښتنه کېده، نو کومه ورځ به داوړه لوریو (طالبانو او امریکا) سره ولېدل، خو دغه ډول لېدنو کومه ځانګړې نتیجه هم نه درلودله.

## د افغان سولې اړوند په دوبۍ کې د بهرنیانو مهمه غونډه

د امریکا، ناټو، اروپایي ټولنې د ځانګړو استازو غونډه
مریدیان هوټل، دوبۍ

د جنوري پر ۱۷مه ۲۰۲۰، په دوبۍ کې د افغان سولې د بهیر اړوند غونډه وه، په غونډه کې د افغانستان د سولې او بیا پخلاینې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو د وزیر ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد، په افغانستان کې د ناټو د ملکي استازي دفتر سفیر نیکولاس کېSir Nicholas Kay ، د افغانستان لپاره د اروپایې ټولنې ځانکړي استازي رولانډ کوبیا Roland Kobia ، د افغانستان لپاره د ناروې هیواد ځانګړي استازي پئر Prt Albrty Ilsaas، د افغانستان لپاره د جرمني هیواد ځانکړي استازي مارکس پوتزلMarkus Potzel، په کابل کې د بریتانیا سفیره Alison Mary Blake په کابل کې د فرانسې سفیرډیویډ مارټینن David Martinon او د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د استازولي دفتر یوناما مشر تادامیچي یاماموتو Tadamichi Yamamoto ګډون درلود.

د جنوري پر ۱۸مه، ما (لیکوال) د افغانستان لپاره د ناروې هیواد ځانګړي استازي پئر سره مازیګر مهال په دوبۍ کې ولېدل، هغه وویل: خلیلزاد له طالبانو سره د خبرو اړوند؛ غونډې ته لږ معلومات وړاندې کړل، په جزیاتو یې ټولې خبرې ونه کړې، **خلیلزاد** د غونډې ګډونوالو ته وویل:"طالبان د سولې بهیر لپاره جدي ښکاري، هغوی وکولای شول چې د طالبانو مشران د تاوتریخوالي د کموالي لپاره وهڅوي، دوی رغنده قدمونه اخیستي دي، خو دا کافي نه دي، د سولې دغه بهیر به اونۍ، میاشتې او یا زیات وخت ونیسي، زه نه پوهیږم چې کله به تړون وشي.

له طالبانو سره د سولې تړون تر لاسلیک وړاندې وخت زموږ لپاره ډېر مهم دی، چې وکتل شي طالبان په دغه وخت کې پر خپلو ژمنو څومره درېږي.

طالبانو د تاوتریخوالي کمېدو اړوند متن موږ ته سپارلی دی، خو هغه کافي نه دی، پر دوی باید فشار راوړو، را ټینګ یې کړو، تر څو لا زیات شرایط د تاوتریخوالي کمېدو اړوند ومني.

په کار ده چې طالبان په لویو ښارونو کې بریدونه ونه کړي، همدارنګه د بریدونو نه کولو لپاره ځانګړې سیمې موږ ته په ګوته کړي، په ښارونو کې هدفي وژنې ونه کړي، او دا روښانه کړي چې دوی به په توافق کیدونکې موده کې د حکومت خلک هدف نه ګرځوي، همدارنګه دا اندیښنه هم شته چې کیدای شي طالبان به په لویو ښارونو کې بریدونه کم؛ خو په کلیو او لیرې پرتو سیمو کې به بریدونه زیات کړي.

موږ غواړو چې د تاوتریخوالي د کموالي اړوند داسې شرایط، د طالبانو لخوا ومنل شي چې اوربند ته نږدې وي. او په دې برخه کې لا نور فشار ته اړتیا ده چې طالبان را ټینګ کړل شي، او پر دوی ځینې نور شرایط هم ومنو.

موږ فکر کوو چې د طالبانو مشر، نظامي کمیسون او رهبري شورا به د طالبانو د قطر سیاسي دفتر غړو ته د تاوتریخوالي د کموالي اړوند ډیر واک ورکړی وي، خو د سیاسي دفتر غړو به موږ ته لږ اندازه د تاوتریخوالوي کمولو شرایط منلي وي، که موږ ورباندې فشار راوړو، کیدای شي ځینې نور شرایط هم را سره ومني."

پئړ زیاته کړه: "خلیلزاد بیرته دوحې ته ولاړ، هغه د څو ساعتونو لپاره دلته راغلی و، او میلر هم له ده مخکې دوحې ته ځان رسولی و.

د غونډې پر مهال ټولو ګډونوالو په یوه خوله له خلیلزاد سره ومنله چې پر طالبانو ډیر فشار راوستل شي، هغوی اړ ایستل شي چې د تاوتریخوالي کمېدو لپاره داسې شرایط ومني چې هغه اوربند ته نږدې وي. خو ما (پئړ) وویل چې ممکن فشار او د طالبانو اړایستل د سولې اوسنی بهیر زیانمن کړي، زما (پئړ) په نظر چې له فشار او اړ ایستلو Pussh طریقو څخه کار وانه خیستل شي، کافي زیات فشار پر طالبانو وارد شوی دی.

ډیر واک له جنرال میلر سره دی، او د تاوتریخوالي د کمولو د تړون ارزونه به هم جنرال میلر کوي، خلیلزاد به هم میلر ته غوږ نیسي، او دارنګه د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پمپیو به هم د جنرال میلر نظر ته زیات ارزښت ورکوي. په کار ده چې طالبان د جنرال میلر قناعت د تاوتریخوالي د کموالي برخه کې تر لاسه کړي.

همدا اوس د افغان حکومت مشر ډاکټر اشرف غني د تاوتریخوالي د کمولو مخالفت او پر ځای یې د بشپړ لنډ مهاله اوربند غوښتنه کوي.

ډاکټر غني غواړي چې د افغان سولې بهیر اړوند زیات واک ولري، داسي ښښې ښکاري چې امریکا ممکن بیا ځل ډاکټر غني په واک کې ومني.

د افغانستان ولسمشرۍ ټاکنو برخه کې د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د اسیا لپاره مرستیال وزیره الیس ویلز دنده لري، او هغه د ټاکنو بهیر له نږدې څاري.

جان باس John Rodney Bass له ډاکتر غني سره ښې اړیکې نه درلودلې، د امریکا نوی سفیر چې راځي[٢١٧]، دا هم ډیره زیاته تجربه لري، په ترکیه او نورو هیوادونو کې د امریکا سفیر پاتې شوي، کیدای شي له ډاکټر غني سره خپلې اړیکې ورغوي، او دا هم ممکن ده چې د امنیت شورا له مشر ډاکټر محب سره ووینې، که دا کار یې وکړ، نو بیا کیدای شي چې ډاکټر غني په واک کې پاتې شي.

جرمني هیواد هڅه کوي چې بین الافغاني ناسته په جرمني کې جوړه شي، همدارنګه د فرانسې سفیر هڅه کوي چې د طالبانو او شمال ټلوالې ترمنځ ناستې ته زمینه برابره کړي."

پێر وویل: "د امریکا د مذاکراتې ډلې کسان له مولوي امیرخان متقي او مولوي عبداللطیف منصور څخه خوشاله دي، همدارنګه له عباس ستانکزي هم خوشاله دي، پخوا به بهرنیانو پر عباس ستانکزي باندې نیوکې کولې، خو اوس د هغه له چلند څخه راضي ښکاري. "

پێر له ما (لیکوال) څخه دا پوښتنه هم وکړه چې د طالبانو د قطر سیاسي دفتر کې د هند لپاره کوم کس مسؤلیت لري، هند غواړي چې له طالبانو سره اړیکې ولرې.

---

[٢١٧] جان باس د جنوري ٦مه ٢٠٢٠، له دندې لیرې او په کابل کې د امریکا نوي سفیر راس ویلسون Ross L. Wilson د جنوري پر ١٨مه خپله دنده پیل کړه. نوي سفیر له ډاکټر غني سره اړیکې سمې او دارنګه د ملي امنیت شورا له مشر ډاکټر محب سره هم وروسته امریکایې چارواکو لیدنې درلودلې.

پئړ وویل:"د هند په غونډه [۲۱۸] کې د هند یوه ډیپلوماټ ما (پئړ) ته وویل چې افغان حکومت، ناروي نه خوښوي، ځکه ناروي له طالبانو سره نږدې اړیکې لري.

ممکن افغان حکومت به فکر کوي چې موږ له طالبانو سره نږدې اړیکې لرو، مگر زموږ لومړۍ وزیرې موده وړاندې وویل چې موږ غواړو چې د افغانستان سوله ژر وشي."

**مطمئن**: "داسې هم نه ده څه ډول چې رسنۍ راپور ورکوي، تر اوسه هم د طالبانو او امریکا ترمنځ بې باوري شته، کوم متن چې د تاوتریخوالي اړوند د قطر سیاسي دفتر لخوا امریکایانو ته سپارل شوی، که هر څومره امریکا فشار راوړي، او هر څومره وخت انتظار وکړي، زما باور دادی چې طالبان به له دې زیات څه ونه مني.

هغه متن چې طالبانو امریکایانو ته وړاندې کړی، ممکن دا به یې د خپل مشر د پریکړو او رهبري شورا د نظرونو په رڼا کې چمتو او امریکایانو ته سپارلی وي.

که امریکایان فکر کوي چې طالبان به د تاوتریخوالي کمولو برخه کې لا زیات انعطاف وکړي، زه چې څومره پوهیږم، طالبان یوه خبره کوي، او دا چې په لیکلي ډول یې دا ځل د یادې موضوع اړوند هر څه امریکایانو ته وړاندې کړي، فکر کوم چې طالبان به لا زیات څه ونه مني، ممکن د کلیمو او لغتونو برخه کې انعطاف وکړي.

زما په نظر چې په ښارونو، لویو لارو او لوی بریدونه؛ نه کول به طالبانو منلي وي، همدارنگه به امریکا هم له ډرون او شپنیو چاپو څخه ډډه کوي.
دا خبره مهمه ده چې امریکایان اندیښنه لري چې کیدای شي طالبان په ښارونو کې بریدونه کم او په کلیو او لیري پرتو سیمو کې یې زیات کړي، دغه اندیښنه به زه طالبانو ته ورسوم. ان شاء الله.

---

[۲۱۸] ۸-۱۰ جنوري په نوي ډیلي کې د رایسینا خبرې Raisina Dialogue غونډه وه چې د ناروې لومړۍ وزیرې ، د افغانستان لپاره د ناروې ځانگړې استازي پئړ، خلیلزاد او د نړۍ د ۹۳ هیوادو لوړ پوړو استازو پکې گډون کړی و، د غونډې پرانسته د هند لومړي وزیر نریندرا مودي او د هند د بهرنیو چارو وزیرې سوشما سوراج په شتون کې د ناروې لومړۍ وزیرې ارنا سولبرگ Erna Solberg وکړه.

که امریکا پر طالبانو د لا زیات فشار راوړلو په فکر کې وي، دا به د دواړو اړخونو تر منځ بې باوري لا زیاته کړي.

څکه له ۹ پړاوه خبرو وروسته هر څه وروستي شوي وو، د سولې تړون د لاسلیک نیټه ټاکل شوې وه، مګر د امریکا ولسمشر ټرمپ په یوه ټویټ هر څه وځنډول، او د طالبانو بې باوري یې پر امریکا زیاته کړه.

بیا امریکایانو ویل چې که د طالبانو سره د افغان – امریکایې پوهنتون دوو استادانو تبادله وشي، ځنډول شوې خبرې به بیرته پیل او دا به زموږ لخوا د لاسته راوړنې په ډول ټرمپ ته دلیل شي. د امریکا د بهرنیو چارو پخوانی مرستیالې رابن رافیل ما(لیکوال) ته همدا خبره د هرات په امنیتي غونډه (۱۹ سپټمبر ۲۰۱۹) کې وکړه.

طالبانو ومنله، د بندیانو تبادلې تړون د امریکا او طالبانو ترمنځ لاسلیک شو، خو کله چې د قطر هوایې کرښې الوتکه کابل ته ورغله، امریکایانو بیا څل له طالبانو د اوربند غوښتنه وکړه، دې غوښتنې یو څل بیا د طالبانو بې باورې پر امریکایانو زیاته کړه.

له تبادلې وروسته؛ تمه وه چې د سولې تړون د لاسلیک پر مراسمو به د طالبانو او امریکا ترمنځ خبرې کیږي، خو بیا هم امریکایې لوري له طالبانو د اوربند غوښتنه کوله، او وروسته یې د تاوتریخوالي کموالي غوښتنه وکړه، طالبانو ومنله، هغوی د ډیورنډ کرښې ته سفر وکړ، د طالبانو له مشر شیخ هبة الله سره یې ولېدل، د رهبري شورا او نظامي شورا نظرونه یې را واخیستل، خو همهاله خلیلزاد پاکستان ته ولاړ، هلته یې د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر شاه محمود قریشي سره ولېدل، له پاکستان څخه یې وغوښتل چې پر طالبانو فشار راوړي، دې کار بیا څل طالبان پر امریکایانو لا زیات بې باوره کړل.

اوس چې طالبانو د تاوتریخوالي کمولو اړوند لیکلی متن امریکایانو ته سپارلی، که امریکا د اوربند مشابه؛ تاوتریخوالي کمولو باندي ټینګار وکړي، او پر طالبانو فشار ته دوام ورکړي، تر څو طالبان لا زیاتو شرایطو منلو ته اړ باسي، زه فکر کوم د امریکایانو دغه ډول غوښتنه به د سولې دغه بهیر ځنډنی او خنډنی کړي."

په دوبۍ کې د يادې غونډې اړوند، د جنوري پر ۱۷مه، د افغانستان لپاره د اروپايي ټولنې ځانګړي استازي کوبيا پر ټويټر وليکل:"د اروپايي ټولنې، امريکا او ناټو ګډه ناسته کې پر اوربند، د تاوتريخوالي کمولو، د بين الافغاني خبرو لپاره چمتووالي، د سولې بهير د بشپړوالي، بيا ځل نړۍ ته نه ګواښ او د سيمې اجماع باندې خبرې وشوې."

بلخوا افغان حکومت د طالبانو او امريکا ترمنځ د تاوتريخوالي کمولو اړوند غبرګون وښود، او يو ځل بيا يې د سولې تړون تر لاسليک وړاندې پر لنډ مهاله اوربند باندې ټينګار وکړ.

همدارنګه افغان حکومت د يادې غوښتنې په غبرګون کې مخکينې ولسمشر حامد کرزي وويل:" افغان حکومت دې د اوربند په بهانه د سولې د بهير او پرمختګ مخالفت نه کوي."

دا رنګه د حکومت ۵۰ سلنه شريک ډاکټر عبدالله هم د جنوري پر ۲۰مه، د کابينې په غونډه کې وويل:"سوله دې د يوه فرد او يا هم يوه وزارت لخوا نه برمته کيږي، سوله بايد انحصار نه شي، سولې ته رسېدل د هر افغان هيله ده."

## د کړکيچ نړيوالې دارې له کارکونکي برهان سره ناسته

د افغانستان لپاره د کړکيچ نړيوالې ادارې مسؤل برهان عثمان چې د دوبۍ غونډې د معلوماتو تر لاسه کولو لپاره له ترکيې دوبۍ ته راغلی و، د جنوري پر ۱۸مه، ماخوستن ممهال مې ورسره ولېدل، سهار مهال چې د برهان لېدنه له پئړ سره شوې وه، تر ډېره يې همهغه خبرې وکړي، کومې چې پئړ ماته همدا نن مازيګر ويلي و، برهان ځينې نورې خبرې هم درلودلې، هغه وويل:"طالبانو په ۵ مرحلو کې په برياليتوب وکولای شول چې د تاوتريخوالي د کموالي په اړه خپل مشر شيخ هبة الله، د قطر سياسي دفتر د غړو، د طالبانو د نظامي کميسون، علماوو کميسون او رهبري شورا نظرونه سره راټول او هغوی ته قناعت ورکړي.
امريکا انديښنه لري چې کيدای شي طالبان به د تاوتريخوالي کموالی په ښارونو کې ومني او بلخوا به په کليو او ليري پرتو سېمو کې جګړې او حملو ته زور ورکړي.

د غونډې ګډونوالو سفيرانو، خليلزاد ته وويل چې تاسي طالبانو ته هغه څه ورکوئ کوم چې دوی يې غواړي (د بهرنيو پوځيانو وتل)، په مقابل کې يې تاسي هم له طالبانو داسي څه وغواړئ چې له اوربند څخه کم نه وي، د اوربند مشابه، د تاوتريخوالي کموالی بايد ومني.

د ناروې ځانګړي استازي ددي مخالفت وکړی و چې پر طالبانو زيات فشار راوړل شي، همدارنګه د بريتانيا سفير هم د فشار زياتوالي سره توافق نه و کړی.

خليلزاد هم د سولې بهير کې د امريکايې سيستم او افغان حکومت تر فشار لاندې ځان احساسوي، هغه فکر کوي چې ممکن د طالبانو مذاکراتي ډلې به د تاوتريخوالي کموالي په اړه ډير واک له خپلو مشرانو اخيستي وي، مګر سياسي دفتر به موږ ته لږ څه منلي وي.

اوس چې د تاوتريخوالي کموالي اړوند طالبانو کومه خپلمنځي اجماع رامنځته کړي، که اوسمهال همدا د امريکا له خوا ونه منل شي، ممکن چې تر ډيره طالبان بيا همدې اجماع او همدې پريکړه باندې ټينګ پاتې نه شي، په کار ده چې همدا محدوديت امريکا اونور هم درک کړي، ځکه بيا به د طالبانو نظامي مشران وايې چې موږ خو تير ځل د تاوتريخوالي کموالي باندی توافق وکړ، خو امريکا هغه ونه منله، نو تر کومه وخته به موږ انتظار کوو، او بيا ځل د همداسي يوې اجماع را منځته کولو لپاره به ستونزې وي، که دا ځل د طالبانو او امريکا ترمنځ د تاوتريخوالي په اړه توافق ونه شي.
که چيرته طالبان په ښارونو کې بريدونه کم او په کليو او ليري پرتو سيمو کې حملې زياتې کړي، نو دا ممکن معکوس پايله ولري، او ددې اړوند به جنرال ميلر منفي تصوير وړاندې کړي.
ښه به وي چې طالبان له امريکا سره لږ شرايط ومني، خو په عمل کې تر شوې توافق ډير څه وکړي، دا به بيا مثبت تاثير ولري.
د جنرال ميلر په اړه دوه نظره شتون لري.
۱ – غواړي چې دا بهير ښه مخکې ولاړ شي، ستونزې حل او د سولې بهير اړوند اطمنان تر لاسه کړي.

۲ – که د سولې بهیر سم پر مخ ولاړ نه شي، ممکن بیا به پر طالبانو نظامي فشار لا زیات کړي، مګر د جنرال میلر د لوړي رتبې تر لاسه کولو پاره سولې ته رسېدل د هغه لپاره هم مهم دي.

د جرمني لخوا هم هڅې رواني دي چې د بین الافغاني خبرو لپاره غونډه جوړه کړي، همدارنګه د سولې برخه کې د طالبانو لخوا امریکایانو ته په ځنډ جواب ورکولو هم امریکا په اندیښنه کې اچولې، ځکه دا مهال د امریکا اړیکې له ایران سره ډیرې خرابې دي[۲۱۹].

که د تاوتریخوالي دغه بهیر او اړوند یې خبرې څومره هم اوږدیږي، همدومره خرابیږي، او که د تاوتریخوالي کمولو موده هم څومره زیاتیږي، هومره خرابیږي، ښه ده چې لنډ او په وخت وي، خو کله نا کله ناڅاپې پریکړې هم ښې پایلې لري، لکه د طالبانو لخوا دکوچنې اختر درې ورځنی (۱۵ تر ۱۷جون ۲۰۱۸) اوربند.

امریکا او لویدیځوال وایې چې طالبانو ته سولې بهیر خبرو کې هر هغه څه ومنل شول، کوم څه چې یې غوښتل، اوس امریکا او لویدیځ غواړي چې د طالبانو غرور مات کړي."

**مطمئن**: یو وخت داسي تصور نه کیدی چې د طالبانو او امریکا ترمنځ به مخامخ خبرې دومره ژر او تر ۹ پړاوه دوام کوي، خو دا هر څه وشول، اوس هم کیدای شي چې د سولې اوسني بهیر کې مثبت پرمختګ وشي.

**برهان**: اوس خو هسې هم ژمی دی، او په ژمي کې خو طالبان جګړه هم نه کوي، که ۷او یا ۱۰ ورځې د تاوتریخوالي کمول ومني، دا به ښه وي.

له امریکا سره دا اندیښنه شته، که چیرته دوی بمبارد بند کړي، نو په کلیو او لیري پرتو سیمو کې به طالبان خپلو حملو ته ډیر زور ورکړي.

---

[۲۱۹] د جنوري پر **۳**مه، د امریکا لخوا په عراق کې د ایران د قدس لښکر عمومي قومندان جنرال قاسم سلیماني وژلو، د دواړو هیوادو ترمنځ اړیکې ډیرې خرابې کړي. د ایران د بهرنیو چارو وزیر د سلیمانی د وژلو په ورځ وویل چې له امریکا څخه به یې غچ واخلي.

له پئړ او برهان سره زما (ليکوال) مجلس په ډېر مهم وخت کې وشو، ومې غوښتل چې د دوبۍ غونډې اړوند معلومات د طالبانو د قطر سياسي دفتر له مشرانو سره شريک کړم.

د ناستو لنډيز مې په لاندې ډول ترتيب، او له ملا عبدالاحد جهانګيروال مې وغوښتل چې دغه متن ملا برادر اخوند او متقي صاحب ته ورسوې.

همدارنګه د متقي صاحب ورور احمد نبي ته مې هم لاندې متن وليږه، هغه ليږ وروسته اطمنان راکړ چې متقي صاحب ته متن ورسيد او مننه يې کوله.

هغه متن چې ما (ليکوال) طالبان مشرانو ته د جنوري پر ۱۹مه، سهار مهال وليږې، په لاندي ډول و:

"السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته!

په دوبۍ کې غونډه د امريکا په غوښتنه د يوناما په مشرۍ راغوښتل شوې وه.

د ناتو ملکي دفتر استازی نيکولاس کې، د اروپايې ټولنې استازی کوبيا، خليلزاد، د جرمني ځانګړی استازی پوټزل، د ناروي ځانګړی استازی پيړ، د بريتانيا سفير، د فرانسي سفير او د يوناما مشر ياماماتو په غونډه کې ګډون درلود.

خليلزاد ګډونوالو ته د مذاکراتو په اړه لنډ معلومات ورکړي وو، هغه ويلي و چې طالبان سولې بهير ته جدي دي، ډېر څه يې کړي خو کافي نه دي، هغوی بايد د تاوتريخوالي برخه کې نرمښت وکړي.

موږ به پر طالبانو فشار راوړو، دوی به را ټينګ کړو چې د تاوترخوالي د کمښت اړوند ځينې نور شرايط هم ومني.

موږ فکر کوو چې د طالبانو مشر او رهبري شورا د سياسي دفتر غړو ته د تاوتريخوالي د کموالي اړوند واک ور کړی، خو ممکن د هغه واک او کوم څه چې دوی له خپل مشر او رهبري شورا تر لاسه کړي د هغه ۳۰سلنه به يې موږ ته اوس

منلي وي، که موږ طالبان را ټینګ او فشار ور باندي راوړو، ممکن طالبان د تاوتریخوالي کمولو برخه کي لا ډیر څه او شرایط له موږ سره ومني.

په دي معنی چې ۷۰سلنه د تاوتریخوالي کمولو نورو شرایطو واک هم ممکن د سیاسي دفتر له غړو سره وي، که هغوی راټینګ شي چی اوربند ته نږدې داسي یو څه ومني.

د غونډي ګډونوالو ټولو وویل چې طالبان را ټینګ او فشار ور باندي زیات شي، چې اوربند ته نږدې، د اوربند مشابه شرایط ور باندي ومنل شي، یوازي د ناروی هیواد استازي ویلي و چې فشار ممکن دا مسئله خرابه کړي.

ګډونوالو ویلي وو چې موږ خو د سولې برخه کې ټول هغه څه طالبانو ته ورکوو چې دوی یې غواړي "د پوځیانو وتل"، نو په مقابل کې یې دوی "طالبان" هم موږ ته باید داسي یو څه راکړي چې د تاوتریخوالي کمول، خو اوربند ته نږدې غونډې شرایط ولري.

**یادونه**: د تاوتریخوالي کمیدو د عملي پېل او ارزونې "نظارت" دنده به جنرال میلر لري.

او تر څو چې د جنرال میلر قناعت په مذاکراتو کې ونه شي، خلیلزاد به د ډیر پرمختګ توان ونه لري، حتی پمپیو به هم د جنرال میلر نظر ته غوږ نیسي.

یعني په مذاکراتو کې د جنرال میلر رول محوري او د خلیلزاد رول سیاسي او رغونکی دی."

ما (لیکوال) احمد نبي ته لاندي متن هم ولیږی، تر څو یې له متقي صاحب سره شریک کړي.

"امریکایان لا هم اندېښنه لري چې طالبان به له موږ سره د تاوتریخوالي کمولو اړوند ځینې شیان ومني؛ خو عمل کې به یې بیا هغه ډول عملي نه شي کړلای. همدارنګه دوی اندېښنه لري چې طالبان به له موږ سره ومني چې په لویو ښارونو کې حملې کمې کړي؛ خو په مقابل کې به یې طالبان په کلیو او لیري پرتو سیمو کې حملې زیاتې کړي.

بله اندېښنه یې داده چې ممکن ځینې نظامي طالبان د سیاسي دفتر د توافق شوې شرایطو عملې کېدل ونه مني.

**سپارښتنه**: که له امریکا سره طالبان شرایط لږ او یا مناسب ومني، خو په عمل او تطبیق کې تر منل شوو شرایطو زیات تاوتریخوالی او مرګ ژوبله را کمه کړل شي، دا به د راتلونکي باور جوړوني لپاره ډېر موثر تمام شي."

په همدې ورځ غالباً طالبانو له خلیلزاد سره ناسته درلودله، او داچې طالبان د دوبۍ غونډې له جریان او پریکړو خبر و، نو کیدای شي چې پر طالبانو د فشار نتیجه کې د اوربند تمه به طالبانو ور ختمه کړي وي.

د جنوري **۲۱**مه، سهیل شاهین ولیکل:"تن ماښام محترم ملا برادر اخوند، محترم شیرمحمد عباس ستانکزي او محترم مولوي امیرخان متقي له ډاکټر زلمي خلیلزاد او جنرال سکاټ میلر سره ناسته درلوده، دواړو لورو د راتلونکو اقداماتو په اړه تفصیلي خبرې وکړې، او د مذاکراتي ټیمونو ګډ مجلس به سبا دوام ولري."

د جنوري پر **۳۱**مه، خلیلزاد په اسلام اباد کې د پاکستان بهرنیو چارو وزیر شاه محمود قریشي سره ولیدل، د افغان سولې په تړاو یې خبرې ور سره وکړې.

د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت په اعلامیه کې لیکل شوې:

دواړو لورو د افغان سولې په اړه د روانو هلو ځلو سیمه ییز سولې او ثبات په اړه خبرې کړې دي.

خلیلزاد قریشي ته په قطر کې د امریکایي او طالب استازو ترمنځ د خبرو په اړه معلومات ورکړل او د افغان سولې په بهیر کې د پاکستان رول وستایه.

په اعلامیه کې د پاکستان د بهرنیو چارو د وزیر شاه محمود قریشي له خولې ویل شوي:"د امریکا او طالبانو ترمنځ د سولې هوکړه لیک به بین الافغاني مذاکراتو ته لار پرانیزي چې دا به نه یوازې افغانستان کې بلکې په ټوله سیمه کې د ثبات لپاه تاثیر واچوي".

خلیلزاد په اسلام اباد کې د پاکستان د پوځ له مشر جنرال قمر باجوه سره هم د افغان سولې اړوند مسایلو باندې خبرې وکړې.

په اسلام اباد کې تر لیدنو وروسته، خلیلزاد قطر ته ولاړ. مګر د خلیلزاد د سفر په اړه کومې رسنۍ راپور ور نه کړ، خو ښکاري چې هغه دوحې ته ولاړ، او کیدای شي طالبانو ورسره نه وي کتلي.

## د ایران په اړه د امریکا او د امریکا په اړ د طالبانو اندیښنې

د جنوري پر ۱۹مه، د ناروي د بهرنیو چارو وزرات ډیپلوماټ **فروډ** د سیګنال په کرښه ما (لیکوال) ته وویل:"داسي اندیښنې شته چې طالبانو ته به ایران د چورلکو ضد توغندي او نورې وسلې ورکړي، او طالبانو له ایران سره اړیکې ډیرې کړي."
**مطمئن**: که طالبان پوه شي چې د سولې خبرو کې له امریکا سره پرمختګ کیږي، بیا به هغوی له ایران څخه د چورلکو ضد توغندي ونه غواړي، او نه به هم له ایران سره؛ د امریکا او ایران ترمنځ ستونزې له امله اړیکې دومره نږدې کړي، چې نور هیوادونه پر طالبانو بې باوره شي، طالبان له ایران سره د معاملې تر حده هر څه کوي. او که چیرته د امریکا او طالبانو ترمنځ د سولې خبرو کې پرمختګ ونه شي، پرته له شکه، چې طالبان به دا ښه وګڼي که له ایران څخه د چورلکو ضد توغندي او ښې وسلې تر لاسه کړي.
**فروډ**: ویل کیږي چې مولوي امیرخان متقي د سولې مذاکراتې ډلې څخه ایستل شوی.
**مطمئن**: یوازي اوازه ده، هغه اوس هم د سولې مذاکراتي ډلې غړی دی، او ډیر واک لري، خو که چیرته د سولې بهیر همداسي ځنډول کیږي، نه یوازي داچې متقي صاحب به بیرته له قطر څخه ځی، ممکن ملا برادر اخوند او ځینې نور مشران هم مایوسه او له قطر څخه بیرته ولاړ شي، ځکه دا خو د طالبانو مشران دي، او دوی ته اړتیا لیدل کیږي چې د رهبري شورا غونډو کې هر وخت ګډون وکولای شي، نو ښه به وي چې د سولې اوسنی بهیر ګړندی شي، که دا کار ونه شي، بیا دا ممکن ده چې ځینې ډیر مهم مشران د سولې مذاکراتي ډلې څخه بیرته ووځي، او هغه وخت به بیا د قطر سیاسي دفتر د پریکړو واک هم ونه لري[۲۲۰].
بل خوا د جنوري پر ۲۱مه، د سویس په داووس ښار کې د "اقتصاد نړیوالې مجمع" ناستې په څنډه کې د امریکا ولسمشر ټرمپ او د پاکستان لومړي وزیر عمران خان سره ولیدل، د ګډې ناستې په خپره شوې ویډیو کې عمران خان ویلي:"اصلي موضوع د افغانستان ده، ځکه چې امریکا او پاکستان یې اندېښمن کړي دي، له

[۲۲۰] زه پوهیدم چې زموږ دا خبرې امریکایانو ته د ناروې له چینل څخه رسیږي، نو ځکه مې فروډ ته وکړې، تر څو امریکایان له طالبانو سره د تړون په لاسلیک کې لا ډیر ځنډ ونه کړي.

نېکمرغه چې په دې اړه یوه دریځ لرو او هم نظره یو، موږ یوازې په افغانستان کې د سولې ټینګېدو ته هیله مند یو، بلکې د دغه هیواد د حکومت او طالبانو ترمنځ د خبرو پیلېدو غوښتونکي یو".

د جنوري پر ۲۱مه، طالبانو په خپلې رسمي ویبپاڼې "الامارة" کې د ورځې خبره؛ چې د دوی رسمي نظر څرګندوي، ولیکل:" د مذاکراتي لړۍ له بیا راپیل کیدو سره، امریکایي جهت له یوې نوې غوښتني سره رامخ ته شو، چې هغه له امارت نه په جګړه کې د کمښت مطالبه وه.

دا مطالبه یې هم د امارت له لوري ومنل شوه، اوس نو توپ د دوی په اړخ کې پروت دی چې څنګه یې وهي. آیا رښتیا هم دوی د مسئلې حل غواړي، او که تردې ور ها خوا موضوع ته د طول ورکولو په پوښ کې نوري موخي لټول غواړي.؟

نښې نښانې دا ښيي چې امریکایي لوري د تاوتریخوالي د کمښت پر تعریف نور وخت هم ضایع کول غواړي، په داسي حال کې چې دا تنها د کابل ادارې د یوې وړې برخې هغه مطالبه ده چې فقط د سولې د مخنیوي لپاره یې د یوې وسیلې په توګه کاروي" .

د جنوري پر ۲۳مه، د ډاکټر غني لومړي مرستیال امرالله صالح په کابل کې وویل:"ممکن دی، احتمال لري، شاید په دوحه کې له طالبانو سره د امریکا مذاکرات د امریکا او طالبانو ترمنځ جګړه ختمه کړي، ولې هېڅ امکان نه‌لري چې په دوحه کې مذاکرات د طالبانو او افغان ملت ترمنځ جګړه ختمه کړي".

د جنوري پر ۲۷مه، د غزني په ده یک ولسوالي کې د امریکا یوه مهمه استخباراتي E-۱۱A ډوله بمبارد الوتکه را ولویده، طالبانو یې پړه پر غاړه واخیستله، خو خپلواکو ادارو تاید نه کړه چې الوتکه دي د طالبانو لخوا ویشتل شوې وي، او د امریکا دفاع وزارت بیا د الوتکې لویدو لامل تخنیکي ستونزه وبلله.

په همدې ورځ د پکتیا ولایت مرکز ښرنې ته نږدې د طالبانو لخوا د امریکایې چورلکې د ویشتلو خبر هم ورکول شو.

او دوه ورځې مخکې بیا د هلمند ولایت په کجکي ولسوالۍ کې د ملي اردو چورلکه د ناستي پر مهال د طالبانو لخوا په راکټ وویشتل شوه او مرګ ژوبله یې هم درلودله.

له امریکا سره اندیښنه پیدا شوې وه چې کیدای شي طالبانو له ایران څخه د الوتکو ضد توغندي تر لاسه کړي وي، مګر طالبانو له ایران څخه د دغه ډول وسلو ترلاسه کول ونه منل.

د امریکا پوځ په الوتکه کې د دوو پیلوټانو پېژندنه هم د رسنیو په واک کې ورکړه [۲۲۱].

۴۶ کلن ډګروال پال واس چې د دندې ځای یې ویرجینیا ایالت اولانګلي- پوستیس و او ۳۰ کلن کپېتان رایان پانوف چې د دندې ځای یې د نیوهمپشایر ایالت و دې پېښه کې وژل شوي دي.

امریکایي پوځ زیاتوي چې د سیمې اوسېدونکو د دې دوه وژل شویو کسانو له مړیو سره د خپل دود له مخې په "درناوي" چلن کړی.

---

[۲۲۱] د امریکایي ځواکونو د اعلان له مخې، په غزني کې لوېدلې الوتکه د سوېلي کندهار ولایت په هوایي ډګر کې وه. دې الوتکې د افغانستان په فضا کې د پېښې پرمهال د هوایي اړیکو رامنځته کولو ماموریت مخته وړ.
یاده الوتکه د ځمکنیو او هوایي ځواکونو ترمنځ د راډیویي اړیکو د رامنځته کولو توان درلود او فضایي وای فای او ځانګړي وسایل یې لرل چې په فضا کې د اړیکو تشه ډکه کړي.
د هوایي ځواکونو په نامه مجلې لیکلي، په ۲۰۰۵ کال ددغه ډول الوتکو په افغانستان کې د "سرو وزرو" په نامه عملیاتو کې اړتیا پیدا شوه.
دا الوتکه له ۲۰۰۹ تر اوسه په افغانستان کې وه او ګټه ترې اخیستل کېده.
د بي بي سي د دفاعي چارو خبریال جنتن مارکاس د یادې الوتکې د ماموریت او کار په اړه لیکلي: "نسکوره شوې الوتکه له هغو څلورو ډوله الوتکو یوه ده چې د امریکا پوځي یې لري. په اصل کې دا جیټ ډوله الوتکه "بمباردیر" ډوله الوتکه ده چې د پوځي ماموریت لپاره جوړه شوې چې ډېره لوړه الوتنه کولی شي.
په دې الوتکه کې داسې الکترونیکي وسایل ځای پرځای شوي چې دنده یې د هوایي او ځمکنیو ځواکونو ترمنځ د اړیکو ساتل دي.
دا الوتکه د افغانستان په جګړه کې د الکترونیکي سیستم په لرلو سره مهمې چارې مخته وړي؛ ځکه چې افغانستان یو غرنی هېواد دی او جغرافیوي وضعیت یې هم له ستونزو سره مخامخ وي، چې دا ډول الوتکې په کې د پوځي عملیاتو پرمهال ډېره مرسته کولی شي."

## د ډونالډ ټرمپ او ډاکټر غني لیدنه

د جنوري پر ۲۲مه، د اقتصاد د نړیوالې غونډې په څنډه کې د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ له ډاکتراشرف غني سره په کتنه کې، د تاوتریخوالي د کمیدو په اړتیا او "بامفهومه مذاکراتو" ته د زمینې په برابریدو ټینګار وکړ.

سپینې ماڼۍ د خبر پاڼې په خپرولو سره ویلي دي:"ښاغلي ټرمپ د طالبانو له لورې د تاوتریخوالي د پام وړ او دوامداره کموالي پر ضرورت ټینګار وکړ چې د افغانستان د راتلونکې لپاره به بامفهومه مذاکراتو ته زمینه برابره کړي."

ډاکټر اشرف غني هم په خپل ټویټر ولیکل چې د ښاغلي ټرمپ سره په کتنه کې یې د دوی د پخوانیو بحثونو په اساس چې په بګرام کې شوي وو، د مختلفو مسایلو په اړه خبرې کړې دي. او د افغانستان حکومت به دغه ډول بحثونو ته د امریکا د ملي امنیت د سلاکار رابرت اوبراین، سره دوام ورکړي.

همدارنګه د جنوري ۲۲مه، ډاکټر غني په سویس کې د اقتصاد نړیوالې غونډې په څنده کې په یو بحث کې چې "افغانستان په سیمه ییز او نړیوال روایت کې" نومیده خبرې وکړې.

ډاکټر غني وویل: "د طالبانو سرتیري له جګړې ستړي دي، خو مشران یې چې په دوحه کې په مذاکراتو بوخت دي او څلور یا پنځه ښځې یې کړي دي له ژوند نه خوند اخلي او په پانګه والو بدل شوي دي.

که طالبان د جګړې ختمېدو ته چمتو وي، نو افغان ټولنه یې منلو ته چمتو ده، خو که یې موخه د سولې په نامه د نظام ړنګول وي، نو بیا به یې حکومت او خلک پر وړاندې ودریږي.

اصلي خبره داده چې ایا طالبان غواړي تاوتریخوالی پای ته ورسوي، که ځواب هو وي، نو افغان ټولنه او حکومت چمتو دي چې دوی جذب کړي، خو که سولې ته د داسې یوې وسیلې په سترګه ګوري چې په مټ یې حکومت او ټولنه وپرځوي، نو بیا به حکومت او ټولنه لاس یو کړي او پر وړاندې به یې ودریږي".

د طالبانو د ویاند ذبیح الله مجاهد لخوا د ډاکټر غني خبرې رد او پر خپل ټویټر يې ولیکل:"د سویس په داووس ښار کې د اشرف اغني پرونۍ خبرې په بې مسئولیتۍ او ناخبرۍ بنا وي. ډاکټر غني د اسلامي امارت د سیاسي دفتر په مسئولینو له حقیقته لرې اتهامونه وارد کړل. د اسلامي امارت سیاسي اونظامي مبارزه به ترهغو جاري وي چې اشغال پای ته ورسیږي او اسلامي حاکمیت ټینګ کړل شي. ان شاءالله".

ډاکټر غني لا هم د طالبانو او امریکا ترمنځ د تړون د لاسلیک کېدو لپاره د شرط په توګه د اوربند او افغان حکومت سره د مخامخ خبرو پر غوښتنې ټینګار درلود. د جنوري پر ۲۵مه، د امریکا له نوي شارژداپیر راس وېلسن او جنرال میلر سره د لېدنې پر مهال، ډاکټر غني په ټول افغانستان کې د اوربند غوښتنه وکړه.

بلخوا د جنوري پر ۲۵مه، کابل کې د اجرائیه مشر ډاکټر عبدالله، مخکیني ولسمشر حامد کرزي، د سولې عالي شورا رئیس عبدالکریم خلیلي، د حزب وحدت ګوند مشر استاد محمد محقق او ګڼ شمیر افغان سیاستوالو په کابل کې د استاد محقق کور کې ناسته درلودله، هغوی وویل:"د سولې لپاره طرحه لري، او د سولې لپاره مخکینې شرطونه نه غواړي، د اوس لپاره د امریکا او طالبانو ترمنځ د اوربند پر ځای د تاوتریخوالي کمول سولې ته د رسیدو لاره ده."

ما(لیکوال) وغوښتل چې د طالبانو او امریکا ترمنځ د مذاکراتو پر مهال، او اوسمهال بې باورۍ په لیکلې ډول د دواړو لورو (طالبانو او امریکایانو) ته ورسوم، له ځینو ملګرو مې وغوښتل چې یاده لیکنه د امریکا سفارت ته ورسوې، او باوري وم چې د امریکا سفارت د سیاسي لیکنو لپاره کسان ګمارلي چې غوره چاڼ يې اړوندو کسانو ته وړاندي شي. پر دي هم باوري وم چې یاده لیکنه به د طالبانو د مذاکراتې ډلې غړو ته ورسیږي.

زما لیکنه د فبروري پر ۳مه، په ځینو ویبپاڼو، او په پراخه کچه په خواله رسنیو کې خپره شوه.

## د طالبانو او امریکا مذاکراتو کې بې باوري

مخکې له دې چې د طالبانو او امریکایانو ترمنځ د سولې مخامخ خبرې پېل شي، د بهرنیانو لخوا نیوکه کېدله چې د قطر سیاسي دفتر ډېر واک نه لري، طالب مشرانو په لومړنۍ لیدنه کې مخامخ خلیلزاد او جنرال میلر ته روښانه کړه، چې د سولې مذاکراتو خبرو واک د طالبانو د قطر سیاسي دفتر سره تړاو لري.

په دویم قدم کې طالبانو د بهرنیانو د اندیښنو او بې باوریو له منځه وړلو لپاره د قطر دفتر لپاره د ملا برادر اخوند ګومارنه داسې مهال وکړه، چې لا هم بهرنیانو د قطر سیاسي دفتر په اړه د واک د محدودتیا اندیښنې درلودلې.

له هغه وروسته امریکایي لوري او طالبانو توافق وکړ چې د سولې مذاکراتو لپاره به طالبان او افغان سیاستول + حکومت مذاکراتي ډلې جوړوي، طالبانو په ډېر لږ وخت کې د خپلې قوي مذاکراتي ډلې نومونه د رسنیو په واک کې ورکړل، خو امریکایان تر یو کال زیاته موده کې ونه توانېدل چې د افغان حکومت او افغان سیاستوالو ترمنځ فاصله ختمه او ګډه مذاکراتي ډله ونومول شي.

د نهه پړاوه خبرو په جریان کې د طالبانو او امریکا ترمنځ ډېرې بې باورۍ را منځته شوې، زه یې ځینې مهمې دلته را اخلم:

**لومړی**: د طالبانو او امریکا ترمنځ ژمنه شوې وه چې د سولې مذاکرات به په دوحه کې مخته وړي، یو ناڅاپه د امریکا، پاکستان، متحده عرب اماراتو او سعودي په غوښتنه د سولې مذاکراتو لپاره غونډه په ابوظبۍ کې ونیول شوه، د طالبانو او امریکا ترمنځ مخکنۍ توافق شوې اجنډا ته بدلون ورکړل شو، د یادو هیوادونو استازو له طالبانو په کلکه وغوښتل چې د افغان حکومت له استازو سره مخامخ خبرې وکړي، او اوربند ومني، په داسې حال کې چې د افغان حکومت استازي هم ابوظبۍ ته رسیدلي وو، او تمه یې درلودله چې له طالبانو سره به مخامخ خبرې وکړي.

**دویم**: بیا هم د طالبانو او امریکا ترمنځ توافق شوی وو، چې مذاکراتو ته به په دوحه کې دوام ورکوي، خو کله چې د مذاکراتو نیټه را ورسیده، زلمی خلیلزاد د دوحې پر ځای اسلام اباد ته ولاړ، ویل کیږي چې اسلام اباد هغه ته وعده ور کړې وه، چې

د طالبانو د ډلې دوه مرستیالان (مولوي محمد یعقوب او خلیفه سراج الدین حقاني) به ورسره کېنوي. په اسلام اباد کې له ۵ ورځو انتظار وروسته خلیلزاد د اسلام اباد له کړي ژمنې مایوسه، او د ځینو اروپایې هیوادو په منځګړیتوب او د هغوی په خوله یې طالبانو ته احوال واستاوه چې په دوحه کې له ده سره وویني.

**درېیم**: امریکایانو به طالبانو ته نږدې کسانو ته دا خبره رسوله چې له دوی سره اندیښنه ده چې ملا برادر اخوند او مولوي امیرخان متقي کیدای شي لیواله نه وي چې قطر کې له امریکایانو سره په خبرو کې برخه واخلي، او یو ډول یې داسې ښودله چې دا کسان به د پاکستان تر فشار لاندې وي، او پاکستان هم نه غواړي چې هغوی دوحې ته ولاړ شي.

د طالبانو دغه دوه مهم مشران او ورسره ډېر قوي او د طالبانو په لیکو کې د ښه نوم او باور لرونکې کسان، د پاکستان له ډېر فشار سره سره، دوحې ته ورسیدل، او هلته یې له امریکایانو سره په خبرو کې برخه واخیستله.

**څلورم**: د مسکو ناستې په دوام، پتېل شوې وه چې په قطر کې به بین الافغاني ناسته کیږي، امریکا، افغان حکومت، افغان سیاستوالو او طالبانو هم منلې وه. مګر د افغان حکومت لخوا د اوږد لست وړاندې کولو، او بیا کابل ته د قطر هوایي کرښې الوتکې ته نه اجازه؛ او د امریکا لخوا یې نه مخالفت، همدارنګه د غونډې د مخنیوي لپاره په کابل کې د امریکا په خوښه او یا نه مخالفت سره د سولې مشورتې لویه جرګه جوړېدل، او پر طالبانو نیوکې او له هغوی څخه د اوربند غوښتنه او له افغان حکومت سره مخامخ خبرې، مخکې له دې چې د طالبانو او امریکا ترمنځ د سولې تړون کې پرمختګ وشي.

همدارنګه بیا په قطر کې د ځینو افغان سیاستوالو، د رسنیو، مدني او میرمنو ټولنو له هغو استازو سره د طالبانو ناسته، چې د امریکا، برتانیا، جرمني سفارتونو او اروپایې ټولنې لخوا چمتو شوی وو. او دا ناسته د طالبانو د لیوالتیا وړ هم نه وه، خو بیا هم د مسکو په دوام، د مهمې غونډې ځای دغسې یوې کوچنۍ او بې پایلې غونډې ونیو، او دا هر څه امریکایانو په اګاهانه ډول کول.

**پنځم**: د امریکایانو په ډله کې تر لس زیات؛ خو داسې کسان چې د ناستو پر مهال یې خبرې نه کولې یوازې د طالبانو څیرو او د هغوی خبرو او لهجو ته متوجه، انسان پېژندونکې، او غوښتل یې چې یو ډول د طالبانو منځ کې درز پیدا شي.

**شپږم**: تر نهه پړاوه مخامخ مذاکراتو وروسته، تر ټولو لویه بې باوري د طالبانو او امریکا ترمنځ هغه وخت رامنځته شوه، چې د سولې تړون اړوند ټول مسایل او جزیات وروستي شول، توافق شوی و چې د تړون له لاسلیک څخه اته ورځې وروسته به د طالبانو خبرې له افغان حکومت او افغان سیاستوالو سره پېلیږي، یو ناڅاپه د ولسمشر ټرمپ لخوا ټویټ وشو چې د سولې مذاکرات یې په کابل کې د خپل یو پوځي د وژنې له امله درولي دي، په داسې حال کې چې په کومه ورځ چې په کابل کې طالبانو برید وکړ، امریکایي پوځي قتل شو، په همهغه ورځ جنرال میلر او خلیلزاد ماښام مهال له طالبانو سره د توافق د رسمي مراسمو په اړه د قطر د بهرنیو چارو وزارت کې خبرې کولې.

د ټرمپ دغه ډول کړنې تر ټولو لویه بې باوري د طالبانو او امریکایانو ترمنځ را منځته کړه.

**اووم**: د ټرمپ لخوا چې د سولې مذاکرات وځنډول شول، امریکایانو هڅې پیل کړي، چې طالبان نرمښت وښیې او داسې کړنه وکړي چې د مذاکراتو بیا ځل دوام ته لاره هواره شي. د امریکایانو لخوا بېلابېل وړاندیزونه طالبانو ته د یو او بل په خوله رسول کیدل، چې یا خو طالبان اوربند ومني، یا خو د افغان – امریکایي پوهنتون استادانو تبادله وکړي، یا خو په خپله مذاکراتي ډله کې میرمنې ور زیاتې او یا هم له افغان حکومت سره مخامخ خبرې او یا هم په تاوتریخوالي کې کمښت راولي.

د مذاکراتو په لومړیو ناستو کې امریکایانو استدلال کاوه چې د بندیانو د تبادلې او خلاصون خبرې باید طالبان له افغان حکومت سره مخامخ وکړي، ځکه بندیان د افغان حکومت په واک کې دي، او دا کار په هغوی پورې تړاو لري، خو وروسته د بندیانو د تبادلې بهیر؛ د افغان حکومت په ناخبرۍ کې امریکایانو له طالبانو سره مخکې یوړ.

طالبانو د افغان –امریکایي پوهنتون د استادانو تبادله ومنله، امریکایانو ټینګار درلود چې له تبادلې سره سره له افغان حکومت سره مخامخ خبرې هم ومني، کله چې د طالبانو جواب منفي و، بیا امریکایانو ټینګار درلود چې طالبان اوربند ومني، بالاخره مایوسه شول، او پرته له یادو دوو شرطونو یې د بندیانو د تبادلې تړون له طالبانو سره په دوحه کې لاسلیک کړ.

طالبانو انتظار ایست چې خپل بندیان یې د قطر هوایي کرښې الوتکې کې دوحې ته ور وړل شي، بیا هم نابېره د امریکایانو لخوا د دوه ورځو اوربند غوښتنه وشوه، د بندیانو د تبادلې بهیر وځنډید، او بې باوري پکې لا زیاته شوه.

د بندیانو تر تبادلې وروسته، تمه کېدله چې امریکایان به له طالبانو سره د سولې نهایي شوی تړون لاسلیک کړي، او دا یو ښه فرصت هم و، ځکه ولسمشر ټرمپ، د امریکا بهرنیو چارو وزیر مایک پمپیو او لوړ پوړو امریکایي سیاستوالو د افغان – امریکایي پوهنتون دوه استادانو خوشي کېدل د سولې لپاره یو ښه پرمختګ وباله.

**اتم**: طالبان او افغان ولس په تمه وو چې دا ځل به خلیلزاد له نوي او مخکنیو شرطونو پرته، له طالبانو سره د سولې تړن د لاسلیک په اړه خبرې کوي، مګر داسې ونه شول، بیا هم امریکایي لوري له طالبانو وغوښتل چې له افغان حکومت سره مخامخ خبرې، د سولې تړون تر لاسلیک مخکې پیل کړي. طالبانو بیا هم دغه مسئله کورنۍ یاده کړه، امریکایي لوري ته یې وویل چې کله له تاسي سره تړون لاسلیک شي، بیا به موږ افغانان خپلمنځي ناستې او مذاکرات کوو.

امریکایانو ډېر ټینګار درلود چې طالبان له امریکا سره تر تړون وړاندې اوربند ومني، په دې اړه په لومړیو وختونو کې امریکایانو ډېر نرمښت وښود، تر دې چې په نا اعلان شوې دوه ورځې اوربند باندې یې هم اکتفا درلوده.

طالبانو د اوربند پر ځای د تاوتریخوالي کمولو ژمنه وکړه، همدا کار یې وکړ، په جګړه کې د پام وړ کمښت راغی، خو بل خوا بیا په لیرې پرتو سیمو کې امریکایانو او کورنیو پوځیانو بمبارد، شپنۍ چاپې، د ملکي خلکو وژنې او بریدونه تر پخوا لا زیات کړل، چې طالبان یې د امریکا پر نیت لا ډېر شکمن کړل.

**نهم**: امریکایانو له طالبانو سره ومنله چې د تاوتریخوالي کمولو ژمنه وکړي، تر څو ولسمشر ټرمپ ته د سولې مذاکراتو کې د خلیلزاد لخوا دا لاسته راوړنه وړاندي شي. د طالبانو د قطر سیاسی دفتر وکولای شول چې د دفتر دغړو، د خپل مشر شیخ هبة الله، د رهبري شورا، نظامي شورا، علماوو شورا او اړوند کمیسونو اجماع او رضایت د تاوتریخوالي کمولو لپاره تر لاسه کړي، دا یو لوی او ښه پرمختگ و، د همدې پرمختگ لیکلی متن یې امریکایي لوري ته په واک کې ورکړ. طالبانو تمه درلودله چې د امریکایې لوري به مثبت ځواب تر لاسه کړي، خو په دوبۍ کې د یوناما په مشرۍ د خلیلزاد، ناټو ملکي استازي، اروپایي ټولنې، امریکا، بریتانیا، فرانسې، جرمني او ناروې سفیرانو د ناستي پر مهال خلیلزاد څرگنده کړه چې پر طالبانو لا زیات فشار ته اړتیا لیدل کیږي. او له دي وړاندي خلیلزاد پر طالبانو د فشار له پاره پاکستان ته ولاړ، هلته یې د پاکستان له چارواکو هم غوښتي وه چې پر طالبانو د اوربند لپاره فشار زیات کړي.

د دوبۍ له غونډې وروسته، خلیلزاد له طالبانو وغوښتل چې یا خو اوربند ومني او یا هم اوربند ته ورته نږدې څه ومني.

د امریکایانو په غوښتنو کې وخت په وخت بدلون، او د غوښتنو زیاتوالي طالبان د امریکایې لوري په نیت نور هم شکمن کړل، او د امریکایانو لخوا چې د تاوتریخوالي کمولو غوښتنه شوې وه، طالبانو ومنله، خو بیا یې د اوربند غوښتنه وکړه، همدې کړنې د طالبانو او امریکا ترمنځ بې باوري لا زیاته کړه، او طالبانو په خپلو رسمي پاڼو کې د دوی او امریکا ترمنځ د بي باوري راپوړونه خپاره کړل.

**لسم**: امریکایانو سره اندیښنې دي چې کیدای شي طالبان به په لویو ښارونو او د ولسوالیو په مرکزونو بریدونه کم او یا خو بیخې ونه کړي، خو ددې پر ځای به ټوله توجه کلیوالو سیمو ته کړي؛ په داسي حال کې چې د امریکا/ناټو لخوا بمبارد هم نه وي، نو طالبان به خپلو حملو ته په کلیوالو سیمو کې زور ور کړي، او د افغان حکومت امنیتي ځواکونو ته به ډیره مرگ ژوبله واوړي، او طالبان به په لیري پرتو سیمو کې ځینې امنیتي پوستي تر خپل واک لاندي راولي.

**یوولسم**: امریکایان فکر کوي چې د طالبانو د قطر سیاسي دفتر ډېر واکونه لري، چې د سولې مذاکراتو کې پرمختګ، او د تاوتریخوالی اړوند ډېر څه ومني، خو دوی خپل بشپړ واک نه کاروي، او د خپلې ډلې د مشر لخوا د پوره واک ورکولو سره سره دوی دیر لږ د تاوتریخوالي کمولو په برخه کې مني.

**دولسم**: طالبانو حس کړي چې د امریکایي لوري ترمنځ هم د سولې مذاکراتو کې اجماع نه شته، ځکه د امریکا د بهرنیو چارو وزارت لیواله دی چې د سولې مذاکرات ګړندي مخکې یوسي، پنټاګون او سي آی اې بیا غواړي چې پر طالبانو خپلې غوښتنې ومني، تر څو د سولې تړون د دوی پر ماتې تمام نه شي، او سپینه ماڼۍ بیا مجبوراً د بهرنیو چارو د وزیر په پرتله د پنټاګون او سي آی اې څرګندونو ته پر اهمیت قایله ده، همدا لامل دی چې د سولې مذاکرات پڅ روان دي.

**دیارلسم**: امریکا او پاکستان پلوي افغان رسنۍ هڅې کوي چې د طالبانو مذاکراتي ډلې پر غړو، نظامي طالبان بې باوره کړي، او طالبان به ممکن فکر کوي چې دا هم د امریکا او افغان حکومت ګډه سوژه ده چې غواړي د طالبانو په منځ کې درز را منځته کړي.

**اندیښنې**

ښکاري چې د سولې بهیر ټکنی شوی، امریکایان ویره لري چې کیدای شي ایران به له طالبانو سره د وسلو مرسته زیاته کړي، او اندیښنه لري چې کیدای شي طالبانو د چورلکو ضد توغندي ترلاسه کړي او یا هم په راتلونکي کې تر لاسه کړي. پر دې سربېره، د سیمې د هېوادونو او د امریکا ترمنځ د پخوا په پرتله اختلافات زیات دي. پر افغانستان د امریکا د جګړې په لومړۍ لسیزه کې د سیمې هېوادونه له امریکا سره همږغي وو؛ خو له تېرو دري یا څلورو کلونو راهیسې دغه اجماع نوره نه شته. اوس که امریکایان د سولې مذاکراتو کې ناغېړي کوي او یو ځل بیا ښکېل لوري جګړې ته لومړیتوب ورکړي، لرې نه ده چې د طالبانو او د سیمې د مقتدرو هېوادونو ترمنځ پېیلتیا لا پیاوړې شي چې دا چاره به بې له شکه د جګړې معادله بدله کړي.

بل خوا د ولسمشرۍ ټاکنو وروستۍ پایلې هم له نامعلوم برخیلک سره مخ دي، ولس نه پوهېږي چې بیا به کومه معامله کېږي، او که د ټاکنو وروستۍ پایلې اعلان شي، هغه ولسمشر به څومره قانوني واکونه ولري، چې غټ اکثریت سیاسي ډلې او افغان سیاستوال یې ننګه ونه کړي.

د طالبانو اړوند لویه اندېښنه بیا دا ده، که د ژمي موسم پای ته رسېږي، پسرلی راشي، د پسرلي عملیات اعلان شي، او په پسرلي کې به یو ځل بیا جګړې ډېر زور اخلي، طالبان به هڅې وکړي چې په راتلونکي پسرلي کې د اوسنۍ کمې جګړې جبران هم وکړي، او خپلو بریدونو ته کېدای شي لا زیات زور ورکړي.

له دې ها خوا بله اندېښنه دا ده چې له یو کال زیات وخت مذاکراتو وروسته، چې د طالبانو ډېر مهم او منلي مشران په قطر کې پاتې شوي، د مذاکراتو د بریالیتوب لپاره یې شپه او ورځ کار کړی، که د هغوی بې باوري پر امریکا نوره هم دوام وکړي، کېدای شي د طالبانو مهم مشران (ملا برادر اخوند، ملا امیر خان متقي، مولوی عبداللطیف منصور او ځینې نور) بیرته له قطر څخه ووځي، او د رهبري شورا په ناستو کې د ګډون لپاره د ډیورنډ کرښې غاړو ته ځانونه ورسوي.

که د طالبانو مشران له قطر څخه ولاړ شي، بیا به اسانه نه وي چې د سولې مذاکرات ګړندي او منتج په قطر کې جریان پیدا کړي.

همدارنګه امریکایان اندېښنې لري، که له طالبانو سره د تاوتریخوالي کموالی په اوسنیو شرایطو ومنی، طالبان به په کلیوالو سېمو کې جګړو ته زور ور کړي، او که چیرته له طالبانو سره د سولې تړون لاسلیک کړي، بیا به هم طالبان له ډېر قوي موقف څخه له افغان سیاستوالو + حکومت سره خبرو ته کیني.

له افغان ولس سره اندېښنه ده چې په سېمه کې هند له یخوا، ایران اوس، د سولې بهیر بریالیتوب نه غواړي، بلکې دواړه هیوادونه؛ هند د افغان حکومت په پلوي، ایران د طالبانو په پلوي، په افغانستان کې خپلې موخې لري.

## د حل لاره

ښه دا ده چې په جګړه کې ښکېل لوري (افغان حکومت، امریکا، افغان سیاستوال او طالبان) اوسنی د سولې لپاره چمتو فرصت له لاسه ورنه کړي، ټول لوري هڅې وکړي چې د سولې مذاکرات بریالي شي.

له طالبانو سره د امریکا د سولې تړون، امریکایانو ته مسؤلیت ورکوي چې د افغانستان جګړه په سم ډول پای ته ورسیږي او په راتلونکي کې له کورنۍ جګړې مخنیوی وشي.

که چیرته له امریکا سره د طالبانو د سولې مذاکرات بریالي نه شي، د سولې تړون لاسلیک نه شي، امریکا کله هم د افغانستان د ارامي او سوکالي مسؤلیت نه مني، او نه هم په افغانستان کې د جګړې شدت کمیږي، نه په جګړه کې کموالی راځي، او که پرته له مسؤلیت څخه، پرته د سولې تړون له لاسلیک څخه امریکایي/ ناټو پوځیان له افغانستان څخه وځي، د کورنۍ جګړې د مخنیوي مسؤلیت هم بیا هیڅوک په غاړه نه اخلي.

ښه به وي چې افغانان په یو بږغ، په امریکا بږغ وکړي چې د افغانستان جګړه په مسؤول ډول سره پای ته ورسوي، له طالبانو سره خپلې ستونزې حل؛ تر څود بین الافغاني تفاهم او اوربند لپاره لاره هواره شي.

که څومره هم د سولې مذاکراتو کې نوي غوښتنې او نوي بحثونه را منځته کیږي، د سولې بهیر ځنډنی کوي، ښه ده چې له تازه غوښتنو او نویو بحثونو څخه دواړه لوري ډډه وکړي.

داچې دواړه لوري پر یو بل د چل شک کوي، او یو پر بل بې باوره دي، د همدې بې باوري له منځه وړلو لپاره تر دي مهال اړین کار هم نه دي شوی، په کار ده چې ځینې بانفوذه اشخاص او یا هم ځینې هیوادونه د امریکا او طالبانو ترمنځ د بې باوري له منځه وړلو لپاره جدي کار وکړي.

داچې تیر ځل هم خلیلزاد په قطر کې زیات وخت تیر، او طالبانو له هغه سره په لیدو کې لیوالتیا نه درلوده، دا ځل هم ممکن له پاکستان وروسته به خلیلزاد قطر ته سفر کړی وي، کیدای شي طالبانو بیا هم له هغه سره د لیدو لیوالتیا نه درلودله، او یا هم په ټیټه کچه کوم چا ور سره لیدلې وي، په کار ده چې د لیدنو د نه لیوالتیا لاملونه له منځه یوړل شي، او هغه داسي، چې امریکایان په خپلو پخوانیو ژمنو ودریږي.

امریکایان به غواړي چې د خبرو بهیر وغځوي، خو د بهیر په ځنډ کې د چا ګټه او د چا تاوان دی؟ پرته له شکه، چې طالبان ځان تاواني ګڼي، ځکه د سولې بهیر د ځند له امله د طالبانو د وسلوالو حوصلي متاثره کیږي، امریکا ته په کار ده چې دغه باریکي درک او د سولې بهیر ګړندی کړي.

داچې امریکایان فکر کوي چې دوی طالبانو سره هغه څه مني چې طالبان یې غواړي (د بهرنیو پوځیانو وتل)، خو مقابل کې طالبان هم باید ډیر څه ومني، زما په آند چې د امریکایې پوځیانو وتل حتمي ده، ښه داده چې د وتلو لپاره مناسبه لاره ځان ته پیدا کړي، نه داچې هغه غوښتنې، چې منل یې د سولې بهیر له خنډونو سره مخ کوي، د امریکا لخوا وړاندې شي.

زه بیا هم پر دې خبره ټینګار کوم، چې افغان ولس، افغان سیاستوال او طالبان، ټول په یوه ږغ د سولې بهیر ګړندي کیدو، د بهرنیو پوځیانو د وتلو لپاره په ګډه کار وکړي، د سولې بهیر تړون لاسلیک به، افغاني مذاکراتو او د جګړې پای ته رسولو ته زمینه مساعده کړي.

## د مذاکراتو چټکتیا او ښه پرمختګ

د بهرنیانو لخوا د دوبۍ غونډې کې که څه هم پریکړه وشوه چې پر طالبانو فشار زیات شي چې د اوربند مشابه یو څه ومني، داچې د طالبانو لخوا خلیلزاد او میلر ته په روښانه توګه وویل شول، کوم متن چې موږ (طالبانو) د تاوتریخوالي د کمېدو اړوند تاسي (امریکایانو) ته سپارلی، هغه کفایت کوي، او که تاسي اندیښنې لرئ چې موږ به په ښارونو بریدونه کم او په کلیوالو سېمو کې به بریدونو ته زور ورکړو، ستاسي دا اندیښنه بې ځایه ده، موږ به په عمل کې وښیو چې تر شوې توافق لا زیات د تاوتریخوالي کمېدل غواړو.

خلیلزاد د یولسم پړاو خبرو پر مهال څو ځله افغانستان، پاکستان او قطر ته سفرونه وکړل، تر څو دغه پړاو د مذاکراتو وروستی پړاو او د تړون لاسلیک ته دواړه لوري چمتو شي.

د فبروري په لومړۍ نیټه خلیلزاد کابل ته ولاړ، له ډاکټر غني سره یې ولیدل، هغه غني ته د سولې د وروستیو جریاناتو په اړه وویل: "له طالبانو سره د سولې خبرو کې کوم د پام وړ پرمختګ نه دی شوی."

خلیلزاد له نورو افغانانو سره د لېدنې پر مهال په مذاکراتو کې د پرمختګ خبره کړې وه، خو داچې ډاکټر غني ته یې په مذاکراتو کې د نه پرمختګ ویلي، ممکن هدف به یې اوربند، او یا داچې؛ ډاکټر غني د سولې خبرو له پرمختګ سره لیوالتیا نه درلودله.

په همدې ورځ خلیلزاد له ډاکټر عبدالله عبدالله، استاد محقق او ګڼو سیاسي مشرانو سره وکتل، هغوی ته یې د سولې اړوند وروستي جریانات وویل.

ډاکټر عبدالله وویل:" سوله باید د یو شخص په انحصار کې نه وي، سوله د افغانانو غوښتنه ده."

خلیلزاد له مخکیني ولسمشر حامد کرزي او ځینو نورو افغان سیاستوالو سره د ناستې پرمهال څرګنده کړې وه چې په سولې بهیر کې پرمختګ شوی، او لا هم د سولې بهیر د بریالیتوب تمه لري."

د فبروري پر ۲مه، خليلزاد له کابل څخه ووت او په کابل کې د امريکا سفارت د خليلزاد د لېدنو اړوند لاندي خبرپاڼه خپره کړه:

**د افغانستان د سولې لپاره د متحده آيالتونو ځانګړي استازي زلمي خليلزاد له کابل څخه خپله ليدنه ترسره کړه**

د افغانستان د سولې لپاره د متحده آيالتونو ځانګړي استازي زلمي خليلزاد له کابل څخه خپله ليدنه ترسره کړه

د افغانستان د سولې لپاره د متحده آيالتونو ځانګړي استازي زلمی خليل زاد او ورسره پلاوي د فبروري په ۲مه نيټه افغانستان ته خپل ګټور سفر پای ته ورسوه.

ښاغلي خليلزاد د ملي يووالي حکومت له مشرانو، ولسمشر اشرف غني او اجرائيه رييس عبدالله عبدالله سره د متحده آيالتونو د هڅو په اړه مشورې ترسره کړې ترڅو د جګړې پای ته رسولو لپاره سياسي جوړجاړي ته لاره هواره کړي. دوی له طالبانو سره د تاوتريخوالي د کمولو په اړه د مذاکراتو په برخه کې د متحده آيالتونو وروستيو هڅو باندې هم خبرې وکړې ترڅو د متحده آيالتونو او طالبانو تر منځ موافقې، د افغانانو ترمنځ مذاکراتو، او د تلپاتې سولې په ملاتړ هراړخيز او دايمي اوربند ته لاره هواره شي.

ښاغلي خليلزاد له يو شمير نورو افغان مشرانو سره هم سلا مشورې وکړې ترڅو د دوی نظريات هم واوري. په خپلو ټولو ليدنو کې، ښاغلي خليلزاد پدې ټکي ټينګار وکړ چې افغانان بايد د ټول شموله اسلامي جمهوريت مذاکراتي ټيم په تشکيل او د افغانانو تر منځ د خبرو اترو لپاره چمتووالي باندې خپل تمرکز ته دوام ورکړي.

خليلزاد له کابل څخه قطر ته ولاړ او هلته يې له طالبانو سره لېدنو ته دوام ورکړ.

د فبروري پر ۳مه، د امريکا د بهرنيو چارو وزير مايک پمپيو په ازبکستان کې د خبرې ناستې پر مهال له له طالبانو وغوښتل چې د سولې تر لاسليک وړاندې د تاوتريخوالي د راکمېدو په برخه کې داسې "ځرګند شواهد" وښيي ترڅو "بين الافغاني" خبرو ته زمينه برابره او له دغه هيواد څخه د امريکايي عسکرو وتلو ته لار هواره کړي.

د اسوشیټیډ پرس اژانس د راپور له مخې چې ښاغلي پمپیو ویلي:"د سولې هوکړه نږدې ده، او هوکړه له مخه هم لاسلیک ته نږدې وه، مگر لاسلیک نه شوه، موږ په پوره احتیاط سره د سولې او پخلاینې پر یوې طرحې کار کوو، موږ تیر ځل هم ورته یوې طرحې ته نږدې شوي وو، داسې یوه طرحه چې دواړو لوریو پرې کار کړی وو، خو طالبان ونه توانېدل چې د تاوتریخوالي د راکمولو په برخه کې خپل نیت او ورتیا ثابته کړي".

د پمپیو د څرگندونو په غبرگون کې د طالبانو ویاند ذبیح الله مجاهد د فبروري پر ۴مه پر خپل ټویتر ولیکل:

"غبرگون: اسلامي امارت د مشکل د حل اراده او توان لري، د مذاکراتو بهیر د ټرمپ ټویټ، د امریکا متعددو غوښتنو، په امریکا او کابل کې د چارواکو اختلاف ټکنی کړی. ښاغلی پمپیو دې د خپل بام واورې زموږ پر بام نه را اچوي، زموږ موقف اصولي او متحد دی، دریغ مو د مقابل لوري په شان متزلزل نه دی."

د فبروري پر ۷مه، طالب له قطر څخه راته ولیکل:"دوه ورځې کیږي چې خلیلزاد همدلته دی، او له طالبانو سره یې لیدلی، خو طالبانو هغه پخوانی خبره ورته کړي."

د فبروري پر ۹مه، طالب ما (لیکوال) ته ولیکل:"نن طالب مشرانو له خلیلزاد سره مهمه لیدنه درلودله، او پر دي یې بحث و چې د تړون د لاسلیک کیدو نیټه معلومه شي."

لږ وروسته سهیل شاهین پر خپل ټویتر ولیکل:"نن ماښام د اسلامي امارت سیاسي مرستیال محترم ملا برادر اخوند، محترم ملا محمد فاضل مظلوم، محترم ملا خیرالله خیرخواه او محترم مولوي امیرخان متقي، د قطر له خارجه وزیر او ډاکټر زلمي خلیلزاد سره ناسته درلوده، د مذاکراتو د نتایجو او بعدي اقداماتو په اړه یې په ځینو مهمو موضوعاتوبحث وکړ".

په همدې ورځ ماخوستن مهال له ناروي څخه فروډ له ما (لیکوال) سره اړیکه ونیوله، غوښتل یې د قطر ناستو او سولې اړوند خبرې را سره وکړي، خو موږ د فبروري پر ۱۰مه د سیگنال له لارې خبرې وکړي.

**فروډ** وويل:"نن ورځ په واشنګټن کې مهمه غونډه کيږي، او هغوی به دا پريکړه کوي چې له طالبانو سره تړون لاسليک شي او يا نه، د هو او نه پريکړه همدا نن کيږي. پر امريکا ډيپلوماټيک فشار زيات دی چې تړون لاسليک کړي."

هغه وويل:"طالبان پلان لري چې په پسرلي کې پر ارزګان او بغلان بريدونه وکړي، او د يادو ولايتو مرکزونه د لنډ مهال لپاره تر خپل کنټرول لاندي راولي، تر څو افغان حکومت او نړيوالو ته خپل زور ور ښکاره، او په بين الافغاني مذاکراتو کې له قوي موقف څخه خبرې وکړي."

مطمئن:"زما په نظر چې طالبان به په پسرلي کې په ځينو ولايتونو حملي وکړي، ځکه د سولې مذاکراتو په جريان کې دوی بريدونه کم کړل، خو امريکايانو د سولې تړون لاسليک کې ځنډ وکړ، اوس به طالبان غواړي چې راتلونکي پسرلې کې بريدونه زيات کړي، او د طالبانو بريدونه د دي لپاره به نه وي چې په بين الافغاني خبرو کې ځانته ډير امتياز واخلي، ځکه تر څو چې له امريکايانو سره تړون نه وي لاسليک شوی، د بين الافغاني خبرو پېل کيدل هم ستونزمن ښکاري، دا خبره به سمه نه وي، ولي طالبان به بريدونه زيات کړي."

فروډ ومنله چې د طالبانو پسرلني عمليات په بين الافغاني خبرو کې د امتياز لپاره نه، بلکې د امريکا سولې مذاکراتو د ځند لپاره پلان کيږي.

د فبروري پر ۱۰مه، په امريکا کې لوړ پوړو امريکايانو له ولسمشر ټرمپ سره ناسته درلودله، ورځ وروسته نړيوالو رسنيو راپور ورکړ چې په ټوله کې ټرمپ له طالبانو سره د سولې تړون له لاسليک سره مشروطه هوکړه کړي.

د فبروري پر ۱۱مه، مايک پمپيو د ټليفون په کرښه له ډاکټر عبدالله او ډاکټر غني سره خبرې وکړي، او دواړو ته يې په قطر کې له طالبانو سره د تاوتريخوالي کموالي اړوند بحثونو باندي معلومات ورکړل، پمپيو ورته وويل:"طالبانو توافق کړی چې تاوتريخوالی کم، او دا ډول د تاوتريخوالی کمښت به په اوربند باندي منتج کيږي."

د ټليفوني خبرو په اړه د ارګ پر ټويټر وليکل شول:"خوښ يم چې ښاغلي پمپيو نن ټيليفون راته وکړ او له طالبانو سره د سولې په روانو خبرو کې يې د پام وړ

پرمختګ خبر راکړ. وزیر پمپیو راته په تاو تریخوالي کې د پام وړ او تلپاتې کموالي راوستلو په تړاو د طالبانو د وړاندیز په هکله معلومات راکړل.

دا د ستاینې وړ پرمختګ دی او زه خوښ یم چې د سولې په هکله تر اوسه زموږ له اصولي دریځه د ګټورو پایلو راوتل پیل شوي دي. زموږ لومړنی هدف دا دی چې بې معنا وینه تویېدنه پای ته ورسېږي.

د دې لپاره ټول افغانان په یوه خوله راسره ملګرتیا کوي او زه دوی ته ډاډ ورکوم چې د دوی مشران داسې جرأت، وړتیا او اړین وسایل لري چې دغه هدف ته ورسېږي، او ددې بهیر وروستۍ مراحل به د افغانستان د اسلامي جمهوریت لخوا په ښه ډول مدیریت شي."

د فبروري پر ۱۲مه، په دوحه کې د طالبانو او امریکایانو ترمنځ ناسته وشوه، د خلیلزاد لخوا له طالبانوسره؛ د تړون اړوند د ټرمپ نظر شریک شو.

نیویارک ټایمز ورځپاڼې راپور ورکړ چې ټرمپ له طالبانو سره د سولې هوکړه په مشروطه توګه تصویب کړې ده. نیویارک ټایمز د یو شمېر افغان او امریکایي چارواکو له خولې وایي چې ټرمپ په مشروطه توګه له طالبانو سره هغه هوکړه تصویب کړې چې له مخې به یې امریکایي ځواکونه له افغانستان وځي او په دغه هېواد کې به سوله تامینېږي.

دارنګه د فبروري پر ۱۲مه، د "سي اِن اِن" خبري شبکې هم د امریکا د دفاع وزارت د دوو چارواکو په حواله ویلي چې د امریکا حکومت هڅه کوي روانه اونۍ له طالبانو سره د تاوتریخوالي کمولو په اړه د یو جوړ جاړي اعلان وکړي.

د افغانستان لپاره د جرمني ځانګړي استازي مارکس پوتزل هم په دوحه کې د امریکایي او طالب استازو ترمنځ روانو خبرو کې د پرمختګ خبر ورکړی دی.

هغه پر خپل ټوېټر ولیکل:"هیڅ ښکېل لوری باید د امریکا او طالبانو مذاکراتو کې دغه «سخت پرمختګ» له ستونزو سره مخامخ نه کړي. ټول باید د مانادارہ بین الافغاني مذاکراتو پیلېدو لپاره خپله سیاسي اراده وښیي، جرمني همکارۍ ته چمتو دی".

د فبرورۍ پر ۱۲مه، د نن ټکی آسیا پر ټویټر ولیکل شول:"د نن ورځې په مذاکراتو کې د طالبانو او امریکایانو پوره مذاکراتي ټیمونو گډون درلود. د غرمې پر یولس بجې خبرې پیل او د شپې تر یولس نیمو بجو یې دوام وکړ.

د طالبانو او امریکایانو تر منځ تر نږدې ۱۲ ساعتونو پورې خبرې وغځېدې، تمه ده چې سبا بیا هم پر لس بجې خبرې پیل شي. په دغو مذاکرات کې عموماً د تړون د لاسلیک تر مراسمو مخکې اجرأتو باندې خبرې کیږي، چې د دواړو لورو څخه د تاوتریخوالي د کمښت اعلان یې تر ټولو مهم دی.

د افغان سولې لپاره د امریکا ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد په نننیو مذاکراتو کې تر ګډون وروسته جرمني ته روان شو. د سبا ورځې مذاکرات به د هغه ټیم پر مخ وړي.

د نن ټکی اسیا سرچینې وایي چې د راتلونکو اجرأتو په اړه به هر لوری ځانته اعلامیې خپروي.

نن ټوله ورځ پر اعلامیو کار وشو خو بیا هم ځیني «واړه» ټکي شته چې باید دواړه لوري ورباندې توافق وکړي."

د فبرورۍ پر ۱۲مه، میرمن رابن رافیل د ایمیل د لارې ما (لیکوال) ته ولیکل:

"زما معلومات دادي چې د طالبانو او امریکا ترمنځ تړون د ټرمپ لخوا تاید شوی، او د تاوتریخوالي د کموالي له مودې پوره کیدو وروسته به ژر دغه تړون لاسلیک شي."

د فبرورۍ ۱۴مه، د جمعې ورځ د طالبانو او امریکا ترمنځ د سولې خبرې ونه شوې، او د فبرورۍ پر ۱۵مه، دواړه لورو خپلمنځې مشورې او ناستې درلودلې، همدارنګه د فبرورۍ پر ۱٦مه، هم د دواړه لورو ترمنځ لیدنې ونه شوې.

د فبرورۍ پر ۱۲مه، د ناټو عمومي سرمنشي ینس سټولټنبرګ په بروسل کې د ناټو غړو هیوادو دفاع وزیرانو ته د خبرو پر مهال وویل: "د افغانستان د ټاکنو پایلې او له امریکا سره د طالبانو د سولې مسئلې له یوې او بلې سره 'ټکر کې نه' دي او ناټو د دغو خبرو ملاتړ کوي. "

ینس وویل: "زما لپاره، دا تناقض نه دی، باوري هم یم چې د امریکا او طالبانو ترمنځ خبرې هم دا موخه لري او د ناټو ملاتړ ورسره دی. موږ ددغو خبرو په اړه له امریکا سره له نږدې سلامشورې کوو، چې بین الافغاني خبرې پیل شي.

په افغانستان کې تلپاتې سوله د افغانانو له خپلمنځي خبرو پرته نه شي راتلی.

ناټو پرېکړه نه کوي، د ناټو هېڅ ټلوال هم دا پرېکړه نه کوي، بلکې افغانان پخپله باید پرېکړه وکړي، خو زموږ هڅه دا ده چې د افغانانو ترمنځ خبرو او بحث ته لار برابره کړو، چې همدا سولې ته د رسېدو لار ده.

لاهم سولې ته اوږده لار پاتې ده، خو هیله دا ده چې د افغانانو ترمنځ خبرو ته نږدې شو او ناټو ته غوره لار دا ده چې افغانانو ته د دغو خبرو زمینه برابره کړي.

آن طالبان هم پوهېږي چې د جګړې په ډګر کې نه شي بریالي کېدای، دوی باید د تاوتریخوالي کمولو په باب خپل ریښتیني او واضح هوډ وښیي".

د فبروري پر ۱۳مه، د امریکا دفاع وزیر مارک اسپر د بلجیم پلازمېنه بروسل کې خبریالانو ته وویل:"مونږ پر پرله پسې ډول دا ویلي، چې په ډګر کې زمونږ د قومندانانو د سپارښتونو پر اساس، مونږ به اته زره او ٦٠٠ سوو ته د سرتیرو شمیرو کمیدو سره کومه ستونزه ونلرو او ځکه، چې مونږ ډاډه یو، چې په دغه شمیر سرتیرو سره مونږ خپل ماموریت بشپړولی شو."

د فبروري پر ۱۵مه، د مونیخ امنیتي غونډې په څنډو کې ډاکټر غني او خلیلزاد سره ولېدل، د ارګ پر ټویټر ولیکل شول: "ډاکټر غني له خلیلزاد سره د مونیخ امنیتي غونډې په څنډه کې وکتل[۲۲۲].

دواړو پر هغو مسایلو خبرې او ټینګار وکړ چې تیره ورځ د ډاکتر غني او د امریکا دفاع وزیر او بهرنیو چارو وزیر ترمنځ د مسایلو تعقیب به کوي، په ځانګړې ډول د سولې بهیر اړوند مسایلو.

[۲۲۲] د ناټو غړو هیوادونو د دفاع وزیرانو غونډه د فبروې پر ۱۲مه او ۱۳مه، د بلجیم په پلازمېنه بروسل کې، او د فبروري پر ۱۴مه او ١٦مه ۲۰۲، د جرمني په مونیخ ښار کې وشوه.

په مونيخ کې خليلزاد د هند له بهرنيو چارو وزير جي شينکر سره هم ولېدل، شينکر پر خپل ټويټر وليکل:" د افغان سولې په برخه کې د تازه پرمختګونو له درکه خوښ يم. افغان سولې ته هيله مندي ډېره شوې ده او هند ددې بهير ملاتړ کوي."
د فبروري پر ۱٦مه، خليلزاد د مونيخ ناستې اړوند لاندې ټويټونه وکړل، او له سولې مذاکراتو او په مونيخ کې له امريکايې، ناټو او افغان چارواکو سره د ليدنې اړوند يې خوښې څرګنده کړې وه.
د خليلزاد په ټويټونو کې د هغه د ناستو انځورونه له ډاکټر غني، د ناروې بهرنيو چارو وزيرې، د ازبکستان بهرنيو چارو وزير، د امريکايې سناتورانو او عمران سره خپاره شوې وو.
د فبروري پر ۱۷مه، خليلزاد اسلام اباد کې د افغان کډوالو اړوند جوړې شوې غونډه کې ګډون وکړ، په غونډه کې يې د افغان کډوالو له استازو سره د افغان سولې په تړاو خبرې وکړې، همدارنګه خليلزاد د پاکستان د بهرنيو چارو وزير شاه محمود قريشي سره ولېدل، په قطر کې د مذاکراتو په وروستيو پرمختګونو يې بحث درلود.
د فبروري پر ۱۸مه، خليلزاد په اسلام اباد کې د پاکستان له لومړي وزير عمران خان سره د افغان سولې اړوند خبرې وکړې، او عمران خان له خپله اړخه د افغان سولې بهير کې د هر ډول مرستې ژمنه ور کړه.
د فبروري پر ۱۹مه، ډاکټر غني په کابل کې د ولايتي شوراګانو مشرانو او غړو ته وويل:" په سوله کې د ښځو مشارکت تضمين شوی او د مذاکراتي ټيم هر غړی به د ښځو د حقونو دفاع کوي. د سولې د لوی هدف لپاره به يو کوچنی، قوي او ټولشموله ټيم جوړېږي.
 په جمهوريت او د وګړو په حقونو باندې معامله نه کېږي او د سولې هره پرېکړه به د ملي شورا او د اړتيا په صورت کې د لويې جرګې او رايې له لارې کېږي او نوی نسل هيڅ‌ګاته اجازه نه ورکوي چې په حقونو يې معامله وشي.
زه تاسي ته ډاډ درکوم چې د سولې له خبرو هيڅ ډول ډار ونه لرئ او د سولې هره مرحله خپل قيد او شرط لري. د همدغو شرايطو پر اساس به تاوتريخوالی کمېږي چې بالاخره د اوربند لامل شي. موږ اجازه نه ورکوو چې له طالبانو سره سوله د بلې جګړې د پيل لامل شي."

زما (لیکوال) د معلوماتو له مخې چې د فبروري پر ۱۹مه، کیدای شي له لوړ پوړو امریکایي پوځیانو سره به د سراج الدین حقاني لېدنه د افغانستان په دننه او یا هم کوم خلیجي هیواد کې شوې وي، تر څو امریکایان د حقاني شبکې له مشر څخه ډاډ تر لاسه کړي؛ که د طالبانو او امریکا ترمنځ د سولې تړون کیږي، چې حقاني ډلې ته هم د منلو وړ او په عملي کېدو کې یې ځان ژمن وبولي.

د دې لپاره چې امریکایي ولس ته ډاډ ورکول شي چې د سولې مذاکراتو څخه حقاني ډله هم ملاتړ کوي، له همدې امله به وه چې د فبروري پر ۲۰مه، د امریکا په مشهورې نړیوالې ورځپاڼې نیویارک ټایمز کې د سراج الدین حقاني لاندي لیکنه خپره شوه:

## په نیویارک ټایمز کې د سراج الدین حقاني د لیکنې پښتو ژباړه

کله چې په ۲۰۱۸م کال کې زمونږ استازو له امریکا سره خبرې پیلولې، زمونږ ټولو په نیزد په دې اړه چې دا خبرې به نتیجه ورکړي، باورصفر ته نږدې وو. مونږ تېرو ۱۸ کلونو جګړې او د خبرو اترو ګڼو پخوانیو هڅو ته په پام سره چې بې ګټې ثابتې شوې وې، د امریکا پر نیت بیخي بې باوره وو.

مګر سره له دې مو هم پرېکړه وکړه چې یوه بله هڅه هم وکړو. دغه اوږده جګړه هر چا ته په درنده بیه تمامه شوې وه. د سولې د هر ډول بالقوه فُرصت له لاسه ورکول د حکمت تقاضا نه وه، ولَو که د بریالیتوب چانس یې ډېر کم هم و. له څلورو لسیزو زیاتې مودې راهیسې هره ورځ جګړې د افغانانو ژوند اخیستی. هر چا د کورنۍ یو ګران غړی له لاسه ورکړی. هر څوک له جګړې ستړي شوي دي. زه په دې باور یم چې نور باید دغو مرګونو او دردونو ته د پای ټکی کېښودل شي.

د متحدو ایالتونو تر مشرۍ لاندې بهرنۍ ټلوالې سره زمونږ جګړه زمونږ انتخاب نه وو بلکې مونږ ورکې له ځان څخه دفاع ته اړ شوي وو. ځکه نو د بهرنیو عسکرو وتل زمونږ لومړنۍ او تر ټولو ستره غوښتنه ده. دا چې نن له متحدو ایالتونو سره د سولې د تړون په درشل کې یوو، دا وړه خبره نه ده.

د ملا عبدالغني برادر او شیر محمد عباس ستانکزي تر مشرۍ لاندې زمونږ د مرکچي ډلې همکارانو په تېر یو نیم کال کې له امریکایي مرکچیانو سره یوه تړون ته د رسېدلو له پاره نه ستړې کیدونکې هلې ځلې کړې. زمونږ پر کلیو د متحدو ایالتونو د درنې بمبارۍ له کبله زمونږ د منسوبینو له تکراري اندېښنو او خواشینۍ او د امریکایانو له خوا هر وخت د نویو، نویو غوښتنو له مطرح کولو سره، سره مونږ خبرو اترو ته ژمن پاتې شوو.

مونږ آن هغه مهال هم د سولې دروازه خلاصه پرېښوده چې د متحدو ایالتونو ولسمشر ټرمپ خبرې بندې وبللې. دا ځکه چې د جګړې دوام تر ټولو زیات زمونږ افغانانو په تاوان دی. دا هم روښانه ده چې د دغسې جدي خبرو په پایله کې له دوه اړخیزو تېرېدنو پرته د سولې هېڅ ډول تړون هم ممکن نه دی. دا چې مونږ له خپل هغه دُښمن سره چې دوه لسیزې مو ور سره په داسې حال کې بې درېغه جګړه کړې چې مرګ پکې د باران په څېر وریده، دغسې ګردابي خبرو ته ژمن پاتې شوو، دا د دې ښکاره ثبوت دی چې مونږ د جګړې پای ته رسولو او خپل هیواد ته د سولې راوستلو ته ژمن یو.

مونږ هغه اندېښنې او پوښتنې درک کوو چې د بهرنیو عسکرو له وتلو وروسته رامنځ ته کیدونکې نظام د ډول په اړه د افغانستان د ننه او د باندې موجودې دي. د دغسې اندېښنو په ځواب کې باید ووایم چې دا په بین الافغاني اجماع پورې اړه لري. مونږ باید اجازه ور نه کړو چې اندېښنې مو د دغسې واقعي بحثونو او خبرو د لارې خنډ شي چې د لومړي ځل له پاره له پردي اغېز او مداخلې آزاد چاپیریال کې تر سره کیږي.

هېڅ لوري ته هم نه ښایي چې د مخکې ټاکل شویو نتایجو او شرطونو په وړاندې کولو سره د دغه بهیر مخه ډب کړي. مونږ دې ته ژمن یو چې له نورو اړخونو سره د متقابل احترام په چاپیریال کې په مشورتي ډول پر مخ لاړ شو او د یوه داسې نوي ټول-شموله سیاسي نظام په اړه هوکړې ته سره ورسیږو چې د هر افغان ږغ پکې اوریدل شوی وي او هېڅ افغان وګړی ورکې د محرومیت احساس و نه کړي.
زه باوري یم چې له بهرنۍ واکمنۍ او مداخلې څخه له آزادۍ وروسته به مونږ په ګډه یوه داسې اسلامي نظام ته لاره پیدا کړو چې ټول افغانان به پکې مساوي حقونه

ولري، چې د تعلیم او کار د حقونو په ګډون به د ښځو هغه حقونه پکې خوندي وي چې د اسلام سپیڅلي دین ورکړي، او اهلیت به پکې مساوي فُرصت ته د رسېدو اساس جوړوي.

مونږ په دې اړه موجودې هغه اندېښنې هم درک کوو چې د سرکښو ډلو له لوري له افغانستان څخه سیمه ایز او نړیوال امنیت ته د ګواښ په اړه را ولاړېږي. په دغسې اندېښنو کې خو لومړی له مبالغې څخه کار اخیستل کیږي. په افغانستان کې د بهرنیو ډلو په اړه راپورونو کې د جګړې د ټولو لورو د جګړه خوښو لوبغاړو له خوا د سیاسي غرضونو په پار مبالغه کیږي.

بل دا د هیڅ افغان په ګټه نه ده چې د دې اجازه ورکړي چې له هیواد څخه یې د بل چا له خوا ناوړه ګټه واخیستل شي او د جګړې په ډګر بدل شي. مونږ د بهرنیو مداخلو تریخ خوند څکلی او ځکه به نو له ټولو افغانانو سره په ګډه د دې د باوري کولو له پاره هر ډول تدابیر ونیسو چې نوی افغانستان پکې د سولې د سمبول په بڼه راڅرګند شي او هیڅوک هم د دې احساس و نه کړي چې زمونږ له خاورې څخه له ګواښ سره مخ دي.

مګر سره له دې، په مخ کې پرتو ننګونو ته هم په ټیټه سترګه نه ګورو. په دغو ننګونو کې به ممکن تر ټولوستره دا وي چې بېلابېلې افغان ډلې په جدي او مخلصانه ډول زمونږ د ګډې راتلونکې د تعریفونې په موخه کار وکړي. زه ډاډه یم چې دا کار ممکن دی. که چېرې مونږ له یوه بهرني دُښمن سره تړون ته د رسېدنې جوګه یو، نو په اولیٰ طریقې سره د دې وړتیا لرو چې بین الافغاني اختلافونو ته د خبرو له لارې د پای ټکی کښېږدو.

بله ننګونه به دا وي چې د سولې په لور پړاو او د بهرنیو ځواکونو له وتلو وروسته پړاو کې نړیواله ټولنه په افغانستان کې په رغنده ډول د افغانانو ترڅنګ پاتې شي. زمونږ د هیواد د ثبات او پرمختګ له پاره له افغانانو سره د نړیوالې ټولنې ملاتړ اړین دی.

مونږ دې ته کاملاً چمتو یو چې د متقابل احترام پر اساس له خپلو نړیوالو شریکانو سره د اوږدمهالې سولې او رغونې په ډګر کې په ګډه کار وکړو. د خپلو ځواکونو له ایستلو وروسته متحد ایالتونه هم په افغانستان کې له جګړې وروسته، د پرمختګ او رغونې په برخې کې رغنده نقش لوبولی شي.

مونږ د دې اهميت درک کوو چې افغانستان له ټولو هيوادونو سره د دوستۍ اړيکې وساتي او د هغوی انديښنې جدي وګڼي.

افغانستان په ګوښه توب کې ژوند نه شي کولی. نوی افغانستان به د نړيوالې ټولنې بامسؤوليته غړی وي. مونږ به ټولو نړيوالو ميثاقونو ته چې د اسلام د سپيڅلي دين له اصولو سره په ټکر کې نه وي، ژمن پاتې شو. همداراز مونږ له نورو هيوادونو څخه هم هيله لرو چې زمونږ د هيواد استقلال او ثبات ته درناوی ولري او زمونږ خپلواکۍ او ثبات ته د همکارۍ د فُرصت په توګه وګوري نه د رقابت او شخړې.

د دستي ساعت ننګونه به زمونږ او متحدو ايالتونو تر منځ د سولې د تړون تطبيق وي. که څه هم چې په دوحې کې له امريکايي مرکچيانو سره د خبرو اترو په ترڅ کې يو څه باور جوړ شوی، مګر لکه څرنګه چې متحد ايالتونه پر مونږ بشپړ باور نه لري، په ورته ډول پرې مونږ هم پوره باور نه لرو.

مونږ له متحدو ايالتونو سره د يوه تړون لاسليکولو ته نږدې شوي يو. له خپل لوري مونږ د دغه تړون د هرې مادې د لفظ او مفاد پلي کولو ته کاملاً متعهد يو. مګر د دغه تړون د مفاد تحقق، د برياليتوب باوري کول او د پايښتونکې سولې راوستل په دې پورې هم اړه لري چې متحد ايالتونه هم خپلې هرې کړې ژمنې او د هغو جزئياتو ته زمونږ په څېر بشپړه ژمنتيا وښيي. يوازې له دغې لارې بشپړ اعتماد رامينځته او د راتلونکې همکارۍ او آن شراکت بنسټ کېښودل کېدی شي.

زما هيوادوال به ډېر ژر دغه تاريخي تړون ونمانځي چې له بشپړ تطبيق وروسته به يې د ټولو بهرنيو عسکرو د وتلو شاهدان وي. دا چې تر دغه پړاوه را رسيدونکي يو، لرې يې نه بولم چې ډېر ژر به هغه ورځ هم ووينو چې له خپلو ټولو افغان ورونړو او خويندو سره به يو ځای د يوې تلپاتې سولې پر لور حرکت پيل کړو او د يوه نوي افغانستان بنسټ به کېښږدو.
بيا به يو داسې نوی پيل نمانځو چې په نورو هيوادونو کې مېشتو ټولو هيوادوالو ته به خپل ټاټوبي او هغه کور ته د راستنېدنې بلنه ورکوي چې هر څوک به پکې په عزت او د سولې په فضا کې د اوسېدنې حق لري.

## د تړون تر لاسلیک مخکې د خلیلزاد او ډاکټر غني لیدنه

د مونیخ امنیي غونډې وروسته، خلیلزاد د اسلام اباد د سفر او پاکستانې چارواکو سره تر لیدنې وروسته کابل ته راغی، د فبروري پر ۲۱مه یې په ارګ کې له ډاکټر غني سره ولیدل، دواړو د تاوتریخوالي کمېدو اونۍ پر جزئیاتو او مدیریت باندې خبرې وکړې.

کیدای شي چې خلیلزاد به دا ځل په ډیر وضاحت له طالبانو سره د مذاکراتو پرمختګ، د جګړې کمښت او تړون لاسلیک ځینې جزئیات له ډاکټر غني ، ډاکټر عبدالله او ځینې مهمو افغان سیاستوالو سره شریک کړي وي.

د فبروري پر ۲۱مه، ډاکټر غني د سولې مشورتي جرګې له ځینو غړو سره وکتل، د ارګ پر ټویټر ولیکل شول:"جمهوررئیس غني د سولې پروسې په اړه د مشورتي غونډو په لړکې نن ماښام د سولې مشورتي لویې جرګې مرستیالانو او د بېلابېلو کمېسیونونو رئیسانوسره وکتل.

هغه وویل، په پنځو کالو کې په بېلابېلو برخو کې کافي ظرفیت ایجاد شوی او که سیاسي قشر متحد وای، نو د دې دوه او درې برابره نور ظرفیت هم رامنځته کېده . په پنځو کالو کې به د افغانستان اتیا سلنه اوبه مدیریت شي. خپل ځان کم او بېچاره مه بولئ او زموږ تواضع باید په ضعف تعبیر نه شي.

د هیواد جمهوررئیس وویل، موږ دایمي دوست او دښمن نه لرو، مګر دایمي ګټې لرو چې نه یوازې موږ ته ارزښت لري، بلکې د هغو پالل زموږ مسوولیت دی. هغه زیاته کړه، له مرکزي اسیا سره پرې شوې اړیکې مو په تېرو پنځو کالو کې په اساسي توګه ورغاولې.

جمهوررئیس وویل، د سولې مشورتي لویې جرګې د لارې نقشه ایجاد کړې او د سولې پروسه موخه نه، بلکې وسیله ده. موخه د جنګ او تاوتریخوالي له منځه وړل او د سولې تامین دی او دا کار یوازې په شعارونو نه، بلکې برنامه کېږي.

جمهوررئیس غني وویل، د سولې پروسه حیاتي ده،مګر فرصتونه او احتمالي خطرونه دواړه لري چې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت له فرصتونو څخه د اعظمي استفادې او د خطرونو د مدیریت لپاره پوره چمتووالی لري."

## د تاوتریخوالي کمښت او سولې تړون لاسلیک نیټو اعلان

هره ورځ مو انتظار کاوه چې د طالبانو او امریکا لخوا به د تړون د لاسلیک نیټې او مراسمو اړوند به د دواړو لورو لخوا اعلامیې خپرې شي.

تمه کېده چې دغه ډول خبرپاڼې به د فبروري په نیمایې کې خپرې شي، ما (لیکوال) ته د قطر سیاسي دفتر سرچینې وویل چې د دواړو لورو لخوا خبرپاڼې چمتو شوې، موږ انتظار کوو چې لومړی د امریکا لخوا خبرپاڼه خپره شي، سمدستي به موږ هم له خپله اړخه خبرپاڼه خپره کړو، همدارنګه امریکایان تمه لري چې لومړی به طالبان خبرپاڼه خپره کړي.

د جمعې تر لمانځه کولو وروسته، په شارجه کې له ملګرو سره ناست وم، د ملا عبدالحنان "همت" زنګ راغی، له واره یې وویل: "زیری مې درباندې،"

سمدستي پوه شوم چې د تړون د لاسلیک نیټه اعلان شوې، همت وویل: "خبرپاڼه خپره شوه، د فبروري پر ۲۹مه تړون لاسلیک کېږي."

هلته ناسته ټول ملګري چې مسافر و، او د نا امنیو له کبله یې د اماراتو ګرمۍ تیرولې، ډیر خوشاله شوو.

زما (لیکوال) سره بیا دوحې ته د ورتګ غم و، په پام کې وه چې د مارچ له لومړۍ نیټې تر ۵مې به په دوحه کې د پګواش نړیواله د سولې غونډه په دوحه کې کیږي، ما (لیکوال) او ځلاند ته یې هم بلنې را لیږلې وې.

تر مایګر پورې مې وکولای شول چې دوحې ته د فبروري پر ۲٦مه، خپل ټکټ چمتو کړلای شم.

د فبروري پر ۲۱مه، لومړی د امریکا بهرنیو چارو وزرات او لږ وروسته د طالبانو لخوا اعلامیه خپره شوه چې د امریکا سره د تاوتریخوالي پر کمېدو د فبروري له ۲۲مې تر ۲۹مې هوکړه شوې، همدارنګه د فبروري پر ۲۹مه به د طالبانو او امریکا ترمنځ د سولې هوکړه لیک په دوحه کې لاسلیک کیږي.

**د امریکا د بهرنیو چارو اعلامیه**

د امریکا متحده ایالاتو بهرنیو چارو وزارت په اعلامیه کې راغلي:

د امریکا متحده ایالاتو او طالبانو یو هر اړخیز سیاسي حل، په افغانستان کې د جګړې د پای ته رسېدو لپاره، د امریکایي او ایتلافي ځواکونو د راکموالي او له دې ډاډ چې هیڅ تروریستي ډله به د افغانستان له خاورې نه توانیږي، چې امریکا متحده ایالات او ملګري یې وګواښي، په خبرو بوخت وو.

په وروستیو اونیو کې، د ملي یووالي حکومت سره په مشورتي ناسته کې، په دوحه کې د متحده ایالاتو او طالبانو ترمنځ د خبرو په پایله کې دې تفاهم ته ورسیدو چې په ملي کچه به په ټول افغانستان کې په تاوترخوالي کې د پام وړ کموالی راځي.

د دې تفاهم په بریالیتوب سره، تمه کیږي چې د متحده ایالاتو - طالبانو ترمنځ تړون لاسلیک شي. موږ د فبروري پر ۲۹مه، د تړون د لاسلیک کولو لپاره تیاری نیسو.

له طالبانو سره د هوکړې له لاسلیک وروسته به ژر بین الافغاني خبرې پیل شي، چې دا به هر اړخیز اوربند لپاره یو بنسټیز قدم او د افغانستان د سیاسي راتلونکي لپاره د یوې نقشې لاره ترسیم کړي.

په افغانستان کې د تل پاتې سولې ته د رسېدو یوازنۍ لاره داده چې افغانان په خپلو کې سره جوړ شي او تفاهم د راتلونکي لپاره غوره لاره ده.

ستونزې پر خپل، مګر د قطر په پلازمینه دوحه کې مذاکراتو یو واقعي فرصت او امیدواري رامنځ ته کړې او د امریکا متحده ایالاتو له ټولو افغانانو غواړي، چې له دې فرصت نه استفاده وکړي.

په افغانستان کې د سولې د ملاتړ په برخه کې؛ متحده ایالات د قطر له دولت او نورو ټولو متحدینو او ملګرو څخه مننه کوي[۲۲۳].

---

[۲۲۳] د امریکا د بهرنیو چارو وزارت خبرپاڼه پښتو ته ژباړل شوې، انګریزي بڼه یې:
state.gov/next-steps-toward-a-u-s-agreement-with-the-taliban/#.Xk_GvsF٦JzU.twitter

**د طالبانو اعلامیه**

**د مذاکراتو د وروستي جریان په هکله د اسلامي امارت اعلامیه**

د افغانستان اسلامي امارت او د امریکا د متحده ایالاتو ترمنځ له اوږدو مذاکراتو وروسته، دواړو لوریو موافقه وکړه چې د ۱۴۴۱هـق کال د رجب المرجب د میاشتې په ۵مه او د ۱۳۹۸هـ ش د حوت میاشتې ۱۰مه او د ۲۰۲۰م کال د فبروري میاشتې په ۲۹مه نیټه به نهایي شوې توافقنامه د نړیوالو په حضور کې د دواړو طرفونو ترمنځ لاسلیک شي.

اوس به دواړه لوري د توافقنامې د لاسلیک لپاره تر یادې نیټې وړاندې مناسبه فضاء برابروي، د لاسلیک مراسمو ته به د یو شمېر هیوادونو او سازمانونو لوړ رتبه استازي دعوتوي، د بندیانو د خلاصون لپاره به لازم ترتیبات نیسي، د هیواد له بېلابېلو جهتونو سره به د بین الافغاني مذاکراتو زمینه مساعدوي او بالآخره به د ټولو بهرنیو ځواکونو په وتلو او د افغانستان خاوره د چا د امنیت په خلاف نه کارولو سره به په ټول هیواد کې د سرتاسري سولې لپاره لار هواروي، تر څو ټول هیوادوال د امن په فضاء کې د اسلامي نظام تر سیوري لاندې سوکاله ژوند ولري. ان شاء الله.

د افغانستان اسلامي امارت

له پورته خبرپاڼې لږ وروسته، د طالبانو ویاند لاندې څرګندونې هم خپرې کړې.

**د را روانو ۷ ورځو د جریان په اړه د اسلامي امارت د ویاند لخوا ټولو مجاهدینوته لازمې څرګندونې**

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

الله تعالی مو پخپلو کارونو او خدمتونو کې بریالي لره.

تاسي به په جریان کې یاست چې اسلامي امارت له امریکایې جهت سره د توافقنامې د لاسلیک لپاره د مناسبې فضاء د رامنځ ته کولو موافقه کړې چې د راتلونکو ۷ ورځو لپاره به مجاهدین د ورکړل شوي پروګرام له مخې عمل کوي.

په دې تړاو تاسي ټولو ته د مشرانو لخوا هدایت دی چې که له چاسره په دې اړه کوم سوال پیدا کیده، له مشکل او عدم پوهاوي سره مخ کیده، د مراتبو د تسلسل په اساس دې هرڅوک له خپلو مافوق مسئولینو څخه هدایت اخلي.

بله خبره دا چې ټول مجاهدین به په راتلونکو ۷ ورځو کې پخپلو ور سپارل شویو وظایفو کې مشغول او د مقابل لوري لخوا د احتمالی نقض په صورت دفاع ته اماده وي، د دښمن ساحوته د مجاهدینو ورتگ جداً منع دی[۲۲۴].

د اسلامي امارت لخوا چي له مقابل لوري سره کوم عهد شوی، تاسي ټول پوهیږئ چې په عهد باندې وفا کول او تر خپله وخته پورې د وعدې پوره کول واجب دي، ټول مجاهدین دې په دې برخه کې د اطاعت اصل ته جدي متوجه وي.

له اوو ورځو بعد چي په اتمه ورځ موافقتنامه لاسلیک شي له هغه وروسته به ټولو مجاهدینو ته د توافقنامي مطابق معلومات او هدایت ور کول کیږي او په هغو به عمل پیل کیږي. والسلام

ذبیح الله مجاهد د اسلامي امارت ویندوی

---

[۲۲۴] یوې موثقې سرچینې ما (لیکوال) ته د تیر کوچني اختر اوربند (۱۳ تر ۱۵ جون) له بشپړ کېدو څو ورځې وروسته وویل: "شیخ هبة الله صاحب پر دې خفه و چې ولې طالبان د اوربند پر مهال د افغان حکومت تر کنټرول لاندې سېمو (ښارونو، ولسوالیو او د ولایتو مرکزونو) ته ورغلل، ځکه زما لخوا دوی ته اجازه نه وه ورکول شوې، یوازې د اوربند امر مې کړی و."

## د تاوتریخوالي کمېدو اړوند غبرګونونه

د تاوتریخوالي کمښت ته نړیوالو "ناټو او ملګرو ملتونو" او افغان سیاستوالو مثبت غبرګون وښود، ډاکټر غني هم ټلویزوني وینا وکړه، خو د هغه په څیره کې له ورایه خفګان ښکاریده.

ډاکټر اشرف غني وویل:"د حکومت غوښتنه اوربند و خو دا چې د طالبانو ډلې د تاوتریخوالي پام وړ کمېدو باندي موافقه وکړه دا هم اوربند او پایداره سولې ته د رسیدو لپاره یو مهم ګام دی.

په تاوتریخوالي کې د پام وړ کموالي موده نن شپه د افغانستان په وخت ۱۲:۰۰ بجې پیلېږي.

په راتلونکې اوونۍ کې چې په تاوتریخوالي کې د پام وړ کمولو موده ده، افغان ځواکونه به وضعیت په جدیت څاري او په کار ده چې محتاطانه عمل وشي.

د سولې بهیر به د افغان دولت په مشرتابه ترسره کېږي، او نور ګامونه به د تاوتریخوالي د پام وړ کموالۍ اوونۍ ارزونې ته په کتو اخستل کیږي. او همدا اوونۍ ده چې راتلونکی لوری به ټاکی" .

د فبروري پر ۲۲مه، ځینو رسنیو د طالبانو لخوا په لیري پرتو سیمو کې د بریدونو راپور ورکړ، په غبرګون کې یې مجاهد ولیکل:

وضاحت: د توافقنامې د لاسلیک لپاره د مناسبې فضاء په برابرولو کې د ټولو ولایاتو مرکزونه د قول اردوګانو، فرقو، غونډونو او بهرنیوقواو مرکزونه شامل دي. له دې علاوه، د مجاهدینو هر ډز اوبرید باید تخطي ونه بلل شي. دا عام اوربند نه دی.

همدرانګه د فبروري پر ۲۲مه، د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر شاه محمود قریشي وویل: "د طالبانو او امریکا ترمنځ تړون به د پاکستان په موجودیت کې لاسلیک کیږي، ځکه چې له پاکستان پرته دا کار ناممکن و".

د امریکا ولسمشر ترمپ، د فبروري پر **۲۳**مه، مخکې له دي چې هند ته روان شي، په واشنګټن کې خبریالانو ته وویل: "هو له طالبانو سره د سولې تړون لاسلیک کوم، زه یې خپله لاسلیک کوم، او خپل نوم پکې لیکم. "

د فبروري پر **۲۳**مه، د قطر سیاسي دفتر ویاند سهیل شاهین له الجزیرې ټلویزون سره په مرکه کې وویل: "

څینې کړۍ هڅه کوي له امریکا سره د طالبانو روانې خبرې چې حساسې مرحلې ته رسېدلي دي ناکامې کړي. مګر دوی نشي کولی دا خبرې ناکامې کړي ځکه طالبان واحد دریځ لري او د افغانستان پر شاواخوا اویا سلنه خاوره واک لري.

ټولو نظامي طالبانو ته سپارښتنه شوې ده چې له امریکا سره شوې هوکړې ته ژمن اوسي، خو د نورو له لوري د هر ډول تېري ځواب ته هم چمتو دي.

له امریکا سره پر هغې هوکړې هم ولاړ یو چې له مخې به یې افغان خاوره د هیڅ بهرني هېواد پر ضد نه کارول کېږي.

## د جګړې کمښت په اړه د ټرمپ او پمپیو څرګندونې

په افغانستان کې د ناټو ځواکونو عمومي قوماندان جنرال میلر د فبروي پر **۲۲**مه، په کابل کې د افغانستان دفاع او کورنیو چارو سرپرست وزیرانو سره یو ځای خبریالانو ته وویل:" نن د تاوتریخوالي کمولو د ازمایښتي دورې د پیل لومړۍ ورځ ده، ټولو خواو موافقه کړې ده، چې دې سره به تاوتریخوالی کموي. زه په افغانستان کې د قاطع ملاتړ ماموریت په استازولي دا ډاډ درکوم چې د تاوتریخوالي کمولو په موده کې به موږ خپل مسولیتونه په جدي توګه تر سره کوو".

د فبروري پر۲۸مه، د ولسمشر ټرمپ لخوا خبرپاڼه خپره شوه، لیکل شوې و: **"**ما(ټرمپ) مایک پمپیو ته امر کړیدی چي په قطر کي د امریکا او طالبانو ترمنځ د موافقې په مراسمو کي برخه واخلي. که طالبان او حکومت خپلو وعدو ته ژمن پاته سي، په افغانستان کي به سوله راشي. موږ افغانان دېته هڅوو چي دا فرصت غنیمت وشمېري، او د دایمي سولي لپاره کار وکړي**"** .

## د ولسمشر ټرمپ خبرپاڼه

د فبروري ۲۸مه ۲۰۲۰

نږدې ۱۹ کاله دمخه، د امریکایي خدماتو غړي افغانستان ته ولاړل، تر څو د سپټمبر د یوولسمې حملې مسؤل ترهګر له منځه یوسي. په دې وخت کې، زموږ د زرګونو خدماتو غړو، امریکایی مالیه ورکونکو او د افغانستان خلکو په لوی لګښت؛ موږ په افغانستان کې لوی پرمختګ کړی. کله چې زه د ولسمشرۍ دفتر ته راغلم، ما له امریکایانو سره ژمنه وکړه چې زه به خپل سرتیري کورته راولم او د دې جنګ د پای ته رسولو په لټه کې به یم. موږ په دې ژمنه کې د پام وړ پرمختګ کوو.

ډیر ژر به زما په لارښوونه د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو د طالبانو له استازو سره د تړون لاسلیک کیدو شاهد وي، په داسې حال کې چې د دفاع وزیر مارک ایسپر به د افغانستان له حکومت سره ګډه اعلامیه خپره کړي. که چیرې طالبان او د افغانستان حکومت پر ژمنو ولاړ پاتې شي، موږ به په افغانستان کې د جګړې پای ته رسولو او خپلو سرتیرو کور ته د رسیدو لپاره قوي اراده ولرو.

دا ژمنې په نوي افغانستان کې د تلپاتې سولې لپاره د یو مهم ګام استازولي کوي؛ داسي افغانستان چې هلته به القاعده، داعش او یا نوري تروریستې ډلې شتون ونه لري، چې وغواړي موږ ته زیان ورسوي. په پایله کې دا د افغانستان په خلکو پورې اړه لري چې د خپل راتلونکي لپاره کار وکړي. له همدې امله، موږ د افغانستان له خلکو څخه غواړو چې د سولې او خپل هیواد د نوي راتلونکې لپاره دا فرصت له لاسه ور نه کړي.

زه د سلګونو زره امریکایی جنګیالیو څخه مننه کوم چې په ویاړ یې په افغانستان کې خدمت کړی. موږ ډیری داعش او القاعده ترهګر وژلي یا نیولي دي. موږ ستاسي پر خدمت ویاړو، او د هغو قربانیو درناوی کوو چې تاسي او ستاسي کورنیو د امریکا د خلکو لپاره ورکړي دي. دا

تړونونه د هغو کسانو د هڅو پايله ده چې د متحده ایالاتو د خونديتوب لپاره يې په افغانستان کې سخته جګړه کړې[۲۲۵].

د فبروري ۲۸مه، د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پمپیو د امریکا کانګرس ته وویل: "پدې تیرو شپږو ورځو کې د افغانستان په تشدد او جنګونو کې د پام وړ کموالی راغلی دی. ایران د ورانکاریو نیت لري، خو موږ ورته متوجه یو."



انځور: د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پمپیو په دوحه کې د قطر او نورو هیوادونو د بهرنیو چارو وزیرانو سره. ۲۹ فبروري ۲۰۲۰

[۲۲۵] د ټرمپ خبرپاڼه پښتو ته لیکوال ژباړلې، انګریزي بڼه يې:
https://www.whitehouse.gov/briefings-statements/statement-from-the-president-۱٤/

## د تړون په مراسمو کې د ګډون لپاره هڅې

زه (لیکوال) چې د نومبر پر ۲۴مه، دوبۍ ته ولاړم، او له هیواده تیښتې ته د ملي امنیت د بریدونو او ګواښونو له امله اړ شوم، هلته په دوبۍ کې مې د دوه کلني ویزې تر لاسه کولو هڅې پیل کړې، معلومه نه وه چې دوبۍ کې به ماته دوه کلنه ویزه راکول شي یانه، ځکه له دې مخکې نږدې ۳ نیم کلونه ماته د متحده عرب اماراتو ویزه را نه کول شوه، ماته وویل شول چې په ابوظبۍ کې زما نوم بلاک شوی، او کله چې په نومبر ۲۰۱۸ کې د هند په هوایې ډګر کې په ناڅاپي ډول له شریف کندهاري سره مخ شوم، لومړی ځل مې ولید، هغه چې د خلیلزاد له ډلې سره یې نږدې اړیکې درلودلې، او امنیتي کمپنۍ یې لرله، له اماراتو سره یې هم نږدې اړیکې درلودلې، زما ور سره لومړنۍ لیدنه وه، هغه ماته ډاډ راکړ چې د دوبۍ د سیاحت ویزه به راته واخلي، خو وروسته یې ماته وویل چې که تاسي (مطمئن) غواړئ چې د دوبۍ ویزه تر لاسه کړئ، نو په کار ده چې د متحده عرب اماراتو د استخباراتو له کسانو سره ووینئ.

زما (لیکوال) لخوا جواب داسي و چې په هیڅ صورت نه غواړم چې د اماراتو د استخباراتو له کسانو سره وګورم، او ویزه اخیستل هم دومره راته اړین نه دي.

له دې مخکې نږدې اوه ځله زما د ویزې اخیستلو وړاندیز د متحده عرب اماراتو لخوا رد شوی و.

کله چې په ۱۱ اکتوبر ۲۰۱۹ پر ما (لیکوال)، کابل کې د خپل کور مخې ته برید وشو، په دوبۍ کې زموږ نږدې دوستانو حاجی ایوب له ما څخه د پاسپورټ غوښتنه وکړه، تر څو د دوبۍ ویزه راته واخلي، په دې وخت کې زما د پخوانۍ پاسپورټ وخت پوره شوی و، او نوی لس کلن پاسپورټ مې په همهغه پخوانۍ نوم اخیستی و.

همهغه و چې زما لپاره ایوب خان د دوبۍ ویزه واخیستله، غوښتل مې چې دوبۍ ته ولاړ شم، مګر له ملګرو سره باید مخکې له دوبۍ څخه قطر ته تللی وای، د نومبر پر ۹مه قطر ته ولاړو، له قطر څخه د بیرته راستنېدو "د نومبر ۱۴مه" څو ورځې وروسته،

پر استاد وحید مژده برید وشو[۲۲۶]، هغه شهید کړل شو. د شهید مژده د دفن مراسم موږ تر سره کړل، د نومبر پر ۲۰مه، د هغه فاتحه هم واخیستل شوه، د مژده صاحب فاتحې ته د هر گوند، هرې سیمې، هرې ژبې او هرې نظریې خلک راغلي وو.

له فاتحې څخه د راستنېدو پر مهال ذاکر جلالي هم د امنیتي گواښونو یادونه وکړه، هغه ته ما (لیکوال) وویل:" تاسي بېغمه اوسئ، دا ځل بیا زما نوبت دی، ځکه حکومت به غواړي چې زما پر وژلو د وحید مژده په اړه د خلکو توند غبرگونونه لږ کنټرول کړي."

د شپې مهال ما (لیکوال) ته د خادم انتظار لخوا پر واټس اپ وویل شول چې د سولې شورا د دارالانشاء مخکینی رئیس او د ډاکټر غني مخکینی سلاکار اکرم خپلواک وایې چې په دې ورځو کې له کوره ونه وځې، ستا د وژلو پلان نیول شوی، په همدې دوه ورځو کې ډېر احتیاط وکړه، او که وتوانیږې نو له هیواده بهر ووځه، همهغه و چې زه دوبۍ ته ولاړم[۲۲۷].

زما (لیکوال) سره اندیښنه وه که د دوبۍ دوه کلنه ویزه ونه شي، زما یوه میاشت په دوبۍ کې پوره شي، نو بیا مجبوره یم چې له دوبۍ څخه ووځم، له همدې کبله مې د قطر سیاسي دفتر غړي او د افغانانو سره د اړیکو د ادارې مشر شیخ شهاب الدین

[۲۲۶] په کابل کې امنیتي ستونزې د سولې فعالینو په وړاندي زیاتې شوې وي، د اکتوبر ۱۱مه ۲۰۱۹، پر ما (لیکوال)، د کابل په خوشال مېنه کې د کور مخې ته وسلوال برید وشو، د اکتوبر پر ۳۰مه، پر لیکوال او سیاسي شنونکي محمد حسن حقیار باندي په کابل ښار کې د ارتل پُل او ابن سینا روغتون ترمنځ برید وشو، زخمي شو، برید گر د پولیسو لخوا ونیول شو، مگر په پټه پریښودل شو.

د نومبر پر ۱۸مه، د سولې فعال، لیکوال او د سیمې په کچه سیاسي تحلیل کوونکي وحید مژده باندي د هغه له کور سره نږدې، د ماښام لمانځه تر اداء کولو وروسته، له مسجد څخه د راوتلو پر مهال برید وشو، مژده صاحب یې شهید کړ.

[۲۲۷] خادم انتظار نږدې دوه کلونه د سولې محور کې له موږ سره ملگري و، د فبروري درېمه اونۍ ۲۰۲۰ کې یې د ملکي وژنو د مخنیوي او سولې برخه کې د ملي امنیت د مشر ډاکټر حمدالله محب د سلاکار په توگه دنده پیل کړه.

دلاور سره اړیکه ونیوله، هغه ته مې وویل که ممکن وي چې ماته د قطر ویزه واخیستل شي.

ډېره ژر زما لپاره د قطر ویزه د ډسمبر پر ۱۱مه وشوه، له دې وروسته زما د دوبۍ دوه کلنه ویزه د ډسمبر پر ۱٦مه وشوه، او د ترکیې ویزه مې هم د ډسمبر پر ۲٦مه ترلاسه کړه، د ایران د یو څېړنیز مرکز لخوا هم د ورتګ بلنه راته شوې وه.

ډېره څله ماته د قطر د سیاسي دفتر ملګرو وویل چې کله به قطر ته راځې، هغوی ته مې ویل چې کله هم د طالبانو – امریکا د تړون مراسم کیږي، هغه وخت به زه درځم. جهانګیروال صاحب خو لا داهم وویل چې زړه ته مې نه لویږي چې دا وړۍ دې شړۍ شي، راځه، انتظار مه کوه.

د مارچ تر ۱۰مې ۲۰۲۰، زما د قطر د ویزې وخت و، او د فبروۍ په لومړي لسیزه کې د پګواش ادارې لخوا په دوحه کې د سولې نړیوالې غونډې لپاره هم بلنه راکول شوه، هغوی چمتو و چې زما له پاره ویزه واخلي، خو ما خپله ویزه ساتلې وه.

د پګواش ادارې لخوا تر ما مخکې څلاند صاحب ته بلنه ورکول شوې وه، او د هغه لپاره هم د قطر ویزه د پګواش ادارې لخوا واخیستل شوه.

پلان کې وه چې د پګواش ناسته د مارچ (۱ تر ۵مې ۲۰۲۰) په دوحه کې وشي، موږ د همدې غونډې لپاره تیاری نیوه، او تمه مو وه چې تر غونډې وروسته ممکن د تړون مراسم وشي، زما پلان و چې د مارچ تر لسمې په دوحه کې پاتې شم.

د فبروري په د دریمې اونۍ په لومړیو کې ځینو رسنیو راپور ورکړ چې د طالبانو –امریکا ترمنځ تړون به د فبروري پر ۲۹مه په دوحه کې لاسلیک کیږي، خو زه باوري نه وم.

زه په شارجه کې له ملګرو "مولوي امیرحمزه، عبدالسلام وزیروال او .... " سره میلمه وم، د فبروري پر ۲۱مه، د ملا عبدالحنان همت د واټس اپ زنګ راغی، هغه ویل خبر شوې؟ تړون خو د فبروري پر ۲۹مه لاسلیک کیږي، ته کله ورځې، او زه هم کوشش کوم چې په مراسمو کې ګډون وکړم.

ما (لیکوال) پر ټویټر ولېدل چې خلیلزاد او ذبیح الله مجاهد دواړو لیکلي وو چې د فبروري پر ۲۹مه تړون په دوحه کې لاسلیک کیږي.

یوه ورځ مخکې زما ټکټ قطر ته شوی و، چې په ۲۹ فبروري مازیګر درې نیمې بجې به قطر ته رسیږم، او د مارچ پر ۱۰مه به بیرته دوبۍ ته راځم.

له ټکټ کوونکي سره مې اړیکه ونیوله چې زما ټکټ ۲۶ فبروري ته را مخکې کړي، همداسې وشول.

ماښام مهال موږ په شارجه کې د لوګر ولایت د اوسیدونکي ملا عبیدالله او ملګرو میلمانه وو، هغوی د طالبانو او امریکا لخوا د تړون د نیټې د اعلانېدو په اړه ډیر خوشاله وو، او په همدې ماښامنۍ کې یې، په دوحه کې له سیاسي محدودیتونو سره سره، له لذیذې ډوډۍ سربیره، خوندور، په ترنم کې د ترانو ویلو پروګرام هم جوړ کړی و، فکر مې کاوه چې زه د هیواد په کومه کلیواله سېمه کې ناست یم، شاوخوا، ټول هغه ځوان طالبان را چاپیره وو چې د امنیتي ګواښونو له امله اماراتو ته له مجبوري څخه تللي وو.

د فبروري پر ۲۲مه، زما (لیکوال) سره بېلابېلو کسانو اړیکې ونیولي چې د سولې تړون مراسمو کې د ګډون اجازه ورکول شي، مګر طالبانو وویل چې له بېلابېلو هیوادو څخه ډیرو زیاتو افغانانو اړیکې نیولي، او ډیرو زیاتو کسانو په مراسمو کې د ګډون غوښتنه کړي، مګر دلته محدودیتونه دي، د قطر هیواد او موږ ورته دومره زیات چمتووالی نه لرو. تر دې چې همدې طالب مشر زما (لیکوال) په مراسمو کې د ګډون ژمنه هم ونه کړه. مګر د ورځې په وروستیو کې مې خبر ورکړ چې په مراسمو کې زما د ګډون اجازه شوې ان شاء الله.

د کسانو د غوښتنې اړوند ما بیا ځل له طالب مشر سره اړیکه ونیوله، د هغه جواب داسې و:" داسې مینوال په زرهاوو دي، اوسمهال داسې تصمیم نه دی نیول شوی، او امکان یې هم ډیر کم دی."

ما (لیکوال) د فبروري پر ۲۱مه، له نصیب ځدراڼ سره اړیکه ونیوله، تر څو انس حقاني ته ووایې چې د تړون مراسمو کې زما د ګډون په اړه متوجه واوسي.

یوه ورځ ورسته د انس حقاني پیغام راغی:" ما خبره له مشر "ملا برادر اخوند" سره وکړه، مشکل نشته، راځي دي."

همدارنګه د فبروري پر ۲۲مه، جهانګیروال صاحب هم وویل چې انس حقاني ستا (لیکوال) په اړه له ملا بردار اخوند سره خبرې وکړي. او د فبروري پر ۲۴مه، جهانګیروال صاحب احوال راکړ چې د تړون مراسمو کې د ګډونوالو په نوملړ کې ستاسي نوم ولیکل شو.

د فبروري پر ۲۲مه، د وحید مژده صاحب د زوی (احمد جاهد مژده) د ګډون په اړه ما (لیکوال) شیخ دلاور صاحب ته ولیکل:" محترم شیخ صاحب! سوله د شهید مژده صاحب غټ ارمان و، که ددغه ارمان او ددنه کورنۍ ته د درناوي لپاره یې زوی احمد جاهد مژده ته د تړون مراسمو کې د ګډون چانس وي."

شیخ دلاور ولیکل:" مستحق خو بیخي دی، البته دومره زیاتو خلکو اړیکې نیولي، چې د ټولو راتګ لپاره یو جوړ او اباد هیواد هم نه شي کولای چې ترتیبات ونیولای شي، د استشهادیانو وارثینو، د شهیدانو او بندیانو د کورنیو غړو، فعاله نظامي قومندانانو او همدارنګه مخلصینو د تړون په مراسمو کې د ګډون غوښتنې کړي، له همدې امله موږ داخل څخه هیڅوک هم را ونه غوښتل، التبه کامیابي او فرصتونه نور هم را روان دي، باید داسي خلک "جاهد مژده" امتیازي او هر اړخیز ونازول او وپالل شي[۲۲۸]."

کله چې ډاډه شوم چې زما (لیکوال) د ګډون اجازه ملا برادر اخوند وکړه، سمدستي مې له جهانګیروال او ځینو نور ملګرو سره د ډاکټر فیض محمد ځلاند د نوم یادونه وکړه، دوی ته مې وویل چې هغه قطر ته د پګواش غونډې لپاره راځي، نو ښه به وي چې په مراسمو کې ګډون وکړي.

---

[۲۲۸] د فبروري پر ۲۰مه، عبدالرحیم ثاقب راته وویل:" شیخ دلاور صاحب ویل، هغه ورځ چې پر شهید مژده برید شوی و، او د هغه د شهادت خبر راغی، د جماعت لمونځ و، امام او ټول مقتدیان تشهد ته ناست وو، خو زه یوازي په صف کې ولاړ وم، هیڅ فکر مې نه دی شوی، حتی په صف کې دا ټولو خلکو؛ زما د څنګ خلکو ته مې هم فکر نه وو، چې د تشهد او ناستې وخت دی، بلکې زه ولاړ پاتې وم.

د ځلاند صاحب او ذاکر جلالي یادونه مې مولوي محمد نبي عمري ته هم وکړه، زه پوهیدم چې ځلاند صاحب هم فداء او ممکن کوم بل ملګري ته هم یادونه کړې وي، خو پر دې هم ډاډه وم که زما نوم د مراسمو د ګډونوالو لستې کې راځي نو ځلاند صاحب هم بیا پکې راځي، همهغسې وشول.

زموږ ملګرو خیرالله شینواري او شفیع اعظم هم ډېره لیوالتیا درلودله، مګر هغوی د قطر د تګ ویزې نه درلودلې، که چیرته یې ویزې درلودلای، د هغوی ګډون هم ممکن وو.

ځکه دا مهال داسې پریکړه هم شوې وه چې د تړون په مراسمو کې به ځینو هغو افغانانو ته هم د ګډون اجازه د طالبانو لخوا ورکول شي چې په قطر کې اوسیږي.

د فبروري پر ۲۵مه، له اوږد ځنډ وروسته، له اسټرلیا څخه د استاد سیاف د کاکا زوی حاجي محمد عمر هاشمي زما (لیکوال) سره پر مسینجر اړیکه ونیوله، هغه ته مې وویل چې سبا قطر ته ځم، پرته له دې چې زما خبره واوري، هغه وویل چې زه هم درځم، او د تړون په مراسمو کې ګډون کوم.
ما هغه ته وویل چې په مراسمو کې د ګډون لپاره طالبان ډېره سختي کوي، او د مارچ تر ۵مې به زه د پګواش غونډه کې بوخت یم، تاسې د مارچ له ۵مې وروسته قطر ته راشئ او هلته به بیا له ځینو طالب مشرانو سره وګورئ، ځکه په دې ورځو کې به طالبان سخت بوخت وي.
مازیګر مهال حاجي محمد عمر هاشمي ماته د مسینجر په کړښه وویل چې ټکټ مې کړی، سبا دوبۍ ته در رسیږم، او له هغه ځایه کویټ او سبا ماښام قطر ته رسیږم.
ما بیا ځل هغه ته وویل: حاجی صاحب! که راشي هلته به خفه شي، ځکه طالب مشران به ډېر سخت بوخت وي، او که له تاسي سره ونه ګوري بیا به تاسي ګیله کوئ، او زه به هم هلته په دې ورځو کې خلاص نه یم، ځکه د تړون له مراسمو وروسته د پګواش غونډه ده، او زه به پکې مصروف یم، تاسي به یوازې یاست او خسته به شئ.
مګر حاجی محمد عمر چې د ډېر عمر څښتن و، زما خبرې یې نه اوریدې، او په دې یقیني و چې د تړون په مراسمو کې به ګډون کوي.
د طالبانو – امریکا ترمنځ د تړون مراسمو کې ګډون اسانه هم نه و، د قطر د سیاسي دفتر مشران غړي، او له ډیورنډ کرښې څخه نږدې ۵۰ تنه راغوښتل شوي وو،

همدارنګه په قطر کې میشت طالبان چې د طالبانو د سیاسي دفتر غړي نه وو، د تړون په مراسمو کې د هغوی د ګډون پریکړه هم شوې وه.

په لومړیو کې طالبانو پریکړه کړې وه چې یوازې طالبان به د سولې تړون مراسمو ته را غواړي، او قطر کې میشت ملا عبدالسلام ضعیف، سید محمد طیب اغا، مولوي نیک محمد، حافظ عزیزالرحمن، طاهر اغا، مولوي احمد جان چې زما (لیکوال) نوم هم ورسره زیات شو، ګډون کوي.

کله چې د فبروري پر ۲٦مه، زه دوحې ته ورسېدم، موږ ته د پګواش ادارې لخوا ایمیل راغی چې د کورونا میکروب له امله په دوحه کې غونډه لغوه شوه.

له ځلاند سره مې اړیکه ونیوله، هغه وویل چې زه به کوشش وکړم چې د قطر ویزې څخه په استفادې درشم، هغه خپل سفر لغوه نه کړ، او د فبروري پر ۲۹مه، سهار وختي دوحې ته راورسید، دده نوم هم په تړون کې د مراسمو د ګډونوالو په نوملړ کې ورکول شوی و، او زما او ځلاند دواړو د ګډون کارډونه موږ ته د فبروري پر ۲۹مه، له غرمې مخکې راکول شول.

ما (لیکوال) ته د طالبانو دغه ډول نظم په زړه پوري و، د خپل مشر ملا برادر اخوند له اجازې پرته، د قطر د سیاسي دفتر هیڅ مشر غړي هم له چا سره په مراسمو کې د هغه د ګډون ژمنه نه کوله. په ډیر ښکاره او ساده ډول به یې ویل چې په مراسمو کې د ګډون لپاره د ملا برادر اخوند اجازه شرط ده.

حاجي محمد عمر هاشمي څو ځله له ما (لیکوال) وغوښتل چې دده نوم هم د تړون د مراسمو ګډونوالو کې ورکړم، ولې ما نه شوای کولای، او رښتیا خبره داده چې په هغه نوملړ کې  د چا د نوم داخلېدل اسانه هم نه و.

یوه بله اندیښنه چې زما سره وه، داچې استاد سیاف په تیرو ۱۹ کلونو کې د افغان حکومت ټینګ ملاتړی او د امریکا/ناټو تر څنګ ولاړ و، اوس که د هغه د کاکا زوی، د هغوی د کورنۍ غړی، د هیواد د ازادۍ په دغه تاریخي مراسمو کې ګډون کوي، نو امتیاز به یې خپله استاد سیاف، او تاریخي حیثیت به یې هم د دوی کورنۍ ته ځي، له همدې امله ما هڅه هم ونه کړه، چې په ټینګه چاته ووایم.

خو بیا وروسته ما د استاد سیاف هغه پیغام ولېد چې حاجي محمد عمر ته یې لیکلی و چې زه (سیاف) پر تا پوره باور لرم.

## دوحې ته تګ

د فبروري **۲۶**مه، د دوحې په هوايي ډګر کې حکمت الله "ضعيف" ولاړ و، او مخامخ یې خپل کور ته یوړلم، په همدې ورځ شیرمحمد عباس ستانکزی، مولوي احمدجان او ډاکټر صالح هم د ملا عبدالسلام ضعیف په کور کې میلمانه وو.

**عباس ستانکزي** وویل:" د سولې تړون مراسمو کې د افغان حکومت له کسانو سره موږ توافق نه دی کړی، قطریانو او امریکایانو ډیره هڅه وکړه، خو موږ ونه منله.

پنځه هیوادونه" ناوري، جرمني، اندونیزیا، ازبکستان او قطر" هڅې کوي چې د بین الافغاني خبرو لپاره کوربتوب وکړي.

موږ د ټولو هیوادو استازو ته ویلي چې ښه داده چې په ټولو او ځینو نورو هیوادو کې دا خبرې پړاو په پړاو مخکې یوړل شي، د امریکایانو پلان دادی چې خبرې په جرمني او یا هم ناروې کې وشي، تر څو ایران له دې لړۍ څخه وایستل شي، او په ایران کې د ناستې مجال پیدا نه شي، موږ بیا هڅه کوو چې په څو هیوادونو کې دا خبرې پړاو په پړاو وشي.

موږ لا هم نه پوهیږو چې د تړون مراسم به په کومه کچه وي، داسې ښکاري چې امریکایان کوشش کوي چې دا مراسم پیکه کړي، کیدای شي قطریانو ته یې هم ویلي وي، چې په دې برخه کې ډیر کار ونه کړي. تر اوسه هم موږ نه پوهیږو چې په کومه کچه کسان به د مراسمو ګډونوال وي، امریکایانو تر دې مهاله نه دي ویلي چې د دوی لخوا به څوک په مراسمو کې د ګډون لپاره راځي.

که د امریکا د بهرنیو چارو وزیر شرکت کوي، د نورو هیوادو د بهرنیو چارو وزیران به هم دوحې ته راځي، خو که د امریکا د بهرنیو چارو وزیر ګډون ونه کړي، نو بیا به د نورو هیوادو هم په ټیټه کچه کسان په مراسمو کې شرکت کوي.

د ناروې هیواد لخوا موږ ته احوال راغی، که د امریکا د بهرنیو چارو وزیر ګډون کوي نو د دوی د بهرنیو چارو وزیره به هم ګډون وکړي.

مگر کیدای شي چې امریکایان دا مراسم ډیر عادي وښیې، ځکه دا خو د دوی د ماتې په معنی ده، او دوی به دا نه غواړي چې د خپل ماتې مراسم یې قوي ونیول شي.

تیر ځل چې سپټمبر ۲۰۱۹ کې د تړون د متن د نښانې کیدو مراسم و، هلته ما هم خبري وکړي، ومې ویل چې دا یوه ډیره تاریخي ورځ ده، او موږ د افغانستان د ۱۸ کلني جگړې د ختم لپاره را ټول شوي یو، افغان ولس ډیر وځورول شو، قرباني یې ورکړه، جگړه موږ کله هم نه خوښوو، همداسي ځینې خبرې مې وکړي.

کله چې خلیلزاد ته نوبت ورسید، هغه دا مسئله ډیر عادي وښودله، ویې ویل چې موږ په افغانستان کې د ۴۰ کلني جگړې د ختم لپاره هوکړې ته رسیدلي یو، او موږ په افغانستان کې د سولې پلویان یو، ډیري لږ او داسي خبري؛ چې زما خبرې یې یو ډول ردولي، او زما خبري ور باندي درنې هم تمامې شوي.

اوس هم داسي ښکاري چې امریکا غواړي دا مسئله ډیر عادي نړیوالو ته وښیې، خو که د دوی د ټیټې کچې کس راشي، سفیر او یا خپله خلیلزاد چې هوکړه لیک لاسلیک کړي، بیا موږ ته څه په کار ده؟"

فکر کوم په همدې اړه ستانکزی صاحب د ضعیف صاحب مشوري ته راغلي و، او کیدای شي ځینې نورې مشورې به یې هم له ضعیف صاحب سره درلودلې، داچې که د افغان حکومت د کسانو پر گډون، امریکا او قطر ټینگار کوي، موږ باید څه وکړو.

ستانکزي زیاته کړه:" زما نظر داوو چې د طالبانو پر ځای له هیواده د ننه، د ښه نظر او قومي مشران او بانفوذه خلک چې د طالبانو خواخوږي هم وي، هغوی دغه مراسمو ته را وغوښتل شي، مگر زموږ د ملگرو پریکړه دا شوه چې طالبان له ډیورنډ کرښې څخه را وغواړي[229]."

[229] د فبروري پر ۲۴مه ما (لیکوال) ته عبدالحنان همت وویل:" له ډیورنډ کرښې یې نږدې ۵۰ کسان مراسمو ته ورغوښتي، او هر کمیسون به ۳ کسان معرفي کوي."

**ضعیف صاحب** لړ مخکې، چې ستانکزی صاحب لا نه و راغلی، ما (لیکوال) ته وویل:" زما نظر داوو چې له هر ولایت څخه دوه کسان "یو دیني عالم او بل قومي مشر" طالبان دغه مراسمو ته را وغواړي، نو د راتلونکي لپاره به دا کار بین الافغاني خبرو کې هم د طالبانو پله درنه کړي، او خلک به ووایې چې طالبان پر ولسي خلکو باندي ډیر باور کوي، همدا کسان چې بیرته هیواد ته دننه ولاړ شي، دوی به د طالبانو څخه ټینګه ننګه کوي، او کیدای شي په راتونکې کې ددو له ډلې ځینې یې د بین الافغاني خبرو ګډونوال هم وي، چې بیا به د طالبانو په ګټه نظر ورکوي، خو طالبانو دا کار ونه کړ."

د مارچ پر ۵مه، د قطر سیاسي دفتر مخکینۍ مشر سید طیب اغا موږ (ډاکټر څلاند او مطمئن) ته وویل:زموږ وړاندیز داوو چې له ۱۰۰ تر ۱۵۰ کسان د تړون لاسلیک مراسمو ته له هیواد څخه د ننه را وغوښتل شي، تر څو په راتلونکي کې همدا خلک د طالبانو ملاتړي وي، او له هغوی سره دلته د نظر تبادله هم وشي. همدارنګه په دغه ویاړ کې ملت هم را ګډ شي، طالب یې یوازې ځان ته امتیاز منسوب نه کړي، ځکه ولس د امریکا / ناټو په ماتې کې مهم کردار او مخامخ ونډه درلودله."

**ستانکزي** وویل: استاد سیاف څو ځله احوال را ولیږی چې له موږ سره دده کسان وګوري، یو ځل خو په قطر کې د کابل اداري اوسنی سفیر عبدالحکیم دلیلي موږ ته وویل چې استاد سیاف غواړي له تاسي سره خپل کسان کینوي، موږ هغه ته مثبت ځواب ورکړ، مګر بیا دوی پسې ورک شول.

---

د اپریل پر ۵مه ۲۰۲۰، د طالبانو د فرهنګي کمیسون مرستیال مشر ملا احمدالله وثیق د طالبانو د ټولو کمیسونو شمیر ۱۷ یاد کړ:" د نظامي چارو کمیسون، د فرهنګي چارو کمیسون، د سیاسي چارو کمیسون، د پوهني او لوړو زده کړو کمیسون، د اقتصادي چارو کمیسون، د ملکي تلفاتو د مخنیوي کمیسون، د دعوت ارشاد او جلب جذب کمیسون، د سرحدونو کمیسون، د مؤسساتو او شرکتونو د کنټرول او تنظیم کمیسون، د روغتیا کمیسون، د زراعت کمیسون، د استخباراتو کمیسون، د بندیانو چارو کمیسون، د محاکمو اداره، د تخصصاتو، فقهي مجالسو او مرکزي دارالافتاء اداره، د انتقالاتو اداره؛ او د شهیدانو او معلولینو اداره.

موسی خان اکبرزاده [۲۳۰] زما هم ټولګیوال و، استاد سیاف ورته ویلي و چې هغه له ما سره اړیکه ونیسي، موسی خان راته وویل:" استاد سیاف ډیر زیات ټینګار کوي، او ماته یې وویل چې عباس ستانکزی ستا هم صنفي و، له هغه سره اړیکه ونیسه چې زه هیئت ورلیږم، چې له دوی سره خبرې وکړي."

ما "ستانکزي" د استاد سیاف پیغام له ملګرو سره په مجلس کې شریک کړ، موسی خان ته مو احوال ورکړ چې زموږ له خوا ستونزه نشته، خپل کسان دي را ولیږي.

بیا موسی خان ورک شو، سره له دې چې له دې مخکې یې ډیر کوشش کاوه چې زه ور سره خبرې وکړم او د استاد سیاف د غوښتنې اړوند جواب ورته ووایم.

بیا وروسته موسی خان وویل:" په سیاستوالو باور نه وي په کار، دا ډیر بد خلک دي، استاد سیا ف پخوا ډیر زیات ټینګار کاوه چې زه تاسې ته د هغه پیغام در ولیږم، مګر کله چې ستاسې لخوا مثبت پیغام راغی، څو ځله ما د هغه د لیدو کوشش وکړ، وبه یې ویل چې مصروف یم، بالاخره یې ماته وویل چې کسان نه شو لیږلای، خو زما "سیاف" دا درې خبرې طالبانو ته ورسوه.

۱ – زه له تاسې سره نه یو ځای کیږم.

۲ – اسلامي نظام غواړم. او

۳ – زه د سولې لپاره دلته اجماع جوړوم."

---

[۲۳۰] موسی خان اکبرزاده له روسانو سره د جهاد پر مهال د استاد سیاف مشهور قومندان و، د حامد کرزي د حکومت پر مهال د غزني والي و. د سردار داوود خان د حکومت پر مهال، عباس ستانکزي او موسی خان یوځای په هند کې نظامي زده کړې کولې، کله چې د ثور کودتاه د افغان کمونستانو لخوا وشوه، دوی دواړه د مجاهدینو سره یو ځای شول، او یو وخت عباس ستانکزی د استاد سیاف د ګوند لخوا د جنوب لویدیځې حوزې نظامي مشر و.

## د طالبانو له بند ازاد شوې ټیموتي سره لېدنه

د فبروري پر ۱۷مه، مازیګر مهال عبدالرحمن فداء سره موټر کې کیناستم، هغه وویل:" د افغان – امریکایې پوهنتون استاد ټیموتي چې له طالبانو سره بندي و، او د انس حقاني په تبادله کې یې خوشی کړ، هغه هم دوحې ته را رسیدلي[۲۳۱]، انس حقاني د هغه هرکلي ته د دوحې هوایې ډګر ته ورغلی و، ولاړ به شو، ټیموتي به ووینو."

ټیموتي ته د طالبانو لخوا د تړون په مراسمو کې د ګډون لپاره بلنه ورکول شوې وه، هغه ته د ښار په بله څنډه کې ځای ټاکل شوی و، تر څو له خبریالانو څخه لیرې، او ګڼه ګوڼه ور باندی زیاته نه شي.

لږ څنډ وروسته موږ الشعله هوټلTHE TORCH DOHA ته ورسیدو، هوټل ډېر جګ و، او څنګ ته یې لوی د لؤ لؤ مارکیټ او ازاده شنه ساحه وه.

د ماښام لمانځه وخت و، په دې ښکلي هوټل کې د ننه، په یو کوچني مسجد کې موږ درې واړو په جماعت سره لمونځ وکړ، ټیموتي خوشاله و چې د طالبانو او امریکا ترمنځ د سولې تړون مراسمو کې به ګډون کوي، خو د هغه انځور چې له انس حقاني سره لږ مخکې اخیستل شوی او خپور شوی و، ستونزه یې جوړه کړې وه.

طالبانو ته د امریکایانو لخوا شکایت رسیدلی و، که ټیموتي د تړون په مراسمو کې ګډون وکړي، دا به پر موږ یو بل فشار وي، او د هغه بندي چې اوس مهال له طالبانو سره دی، خوست کې یې نیولی، د هغه کورنۍ او د امریکا خلک به د امریکا پر حکومت فشار راوړي چې د هغه د خلاصون لپاره هم موږ ډېر څه وکړو[۲۳۲].

---

[۲۳۱] ټیموتي د فبروري پر **۲۲**مه، پر ټویټر لیکلي و:" په اوسني وختونو کې زما تر ټولو ستر ارمان دادی چې قطر ته ولاړ شم د طالبانو او امریکایانو ترمنځ د توافقنامې د لاسلیک په تاریخي مراسمو کې ګډون وکړم، دنیا ته وښیم چې اسلام د امن دین دی، د اتحاد او یوالي دین دی، او هلته دواړو خواوو ته د امن او سوکالۍ پیغام له ځانه سره یوسم".

[۲۳۲] د فبروري پر ٦مه، امریکایې رسنو راپور ورکړ چې ۵۷ کلن امریکایې پوځی مارک فیریکس Mark R. Frerichs په خوست کې تښتول شوی.

له ټيموتي سره زموږ لنډه او له خوښيو ډکه ناسته وه، مخکې په لاره ما(ليکوال) ته فداء وويل چې کيدای شي ټيموتي ته د طالبانو – امريکا د تړون مراسمو کې د ګډون اجازه ورنه کول شي، ځکه کله چې د ده او انس حقاني انځور خپور شو، قطريانو له طالب مشرانو سره اړيکې ونيوله او د امريکايانو لخوا يې دا انديښنه ور سره شريکه کړه چې امريکايان نه غواړي چې ټموتي دغه مراسمو کې ګډون وکړي.

امريکايانو دا دليل وړاندی کړ چې که ټيموتي په يادو مراسمو کې ګډون وکړي، زموږ امريکايانو لپاره به د هغه امريکايې کورني را وپاروي چې په خوست کې څه موده وړاندې د طالبانو لخوا تښتول شوی، همدارنګه به د امريکا خلک هم را وپارول شي چې موږ بايد په خوست کې د تښتول شوې امريکايې بندی د خلاصون لپاره ډير ژر لاس په کار شو، ځکه امريکايان به فکر کوي چې که پر تازه امريکايې بندی وخت تير شي، کيدای شي هغه هم خپل دين بدل کړي.

موږ ټيموتي ته په دې اړه هيڅ هم ونه ويل، ټيموتی وويل:" د الجزيزې، سي ان ان، سي بي اس او کومې بلې نړيوالې مشهورو رسنيو لخوا را سره اړيکه نيول شوې، هغوی له ما وغوښتل چې مرکه ورسره وکړم، خو ما ځکه ور سره ونه منله، چې اوس مهال زه طالبانو دلته را غوښتی يم، د هغوی ميلمه يم، که الجزيره له ما سره مرکه کوي، نو په کار ده چې دوی بيا ماته بلنه راکړي، او که سي ان ان او يا بله هره رسنۍ، هغوی بايد مصارف په غاړه واخلي يا خو ما ور وغواړي او يا دوی مصارف وکړي استرليا ته راشي، داسې نه چې زه دلته راغلی يم، طالبانو را غوښتی يم، اوس له دوی سره مرکې وکړم."
ټيموتي زياته کړه:" له طالبانو سره د بند پر مهال، که څه هم سخت و، ډير سخت و، له کوره ليري وم، خو د هغوی له چلند څخه متاثره شوم، زما يې ډير خيال ساته، ماته يې درناوی کاوه، د مشر په سترګه يې راته کتل.

---

د مئ پر ۱۰مه، سهيل شاهين له اسوشيټيډ پريس سره مرکه کې وويل:" موږ د هغه امريکايي قراردادي په اړه مالومات نلرو، چې ويل کيږي، د روان کال په لومړيو کې د افغانستان له خوست ولايت څخه تښتول شوی."

د زندان خاطرات لیکم، تر دې مهاله څلورو سترو نړیوالو د کتاب لیکلو او چاپ کولو کمپنیو را سره اړیکې نیولې دي، یوه مې پکې خوښه کړې، او د زندان خاطرات مې په ۱۴ څپرکو کې را ټول کړي، خو دا اوس چې قطر ته راغلم، زما هرکلي ته انس حقاني د دوحې هوايې ډګر ته راغی، دا څپرکی ور زیاتوم، او تر ټولو مهم څپرکی به همدا وي.

زه خوشاله یم چې د طالبانو- امریکا تړون مراسمو ته راغلی یم، ډیر خوشاله یم، غواړم چې په هغه ورځ افغانۍ کالي واغوندم، خولۍ انس حقاني راکړې، او لنګۍ یې هم راکړي، خو کالی نه لرم."

**مطمئن**: د کالیو غم مه کوه، زما کالي پر تا جوړ دي، زما ملګری له کابل څخه راځي، ماته له کوره نوي ګنډلې جامې را وړي، هغه به زه تاسې ته درکړم، او د تړون په ورځ به یې واغوندئ.

موږ خپلې خبرې کولې چې لږ وروسته فداء وویل:" د جامو غم مه کوئ، زموږ یو ملګري تیاري نوي جوړې کړې، په کور کې ورسره ایښې دي، هغه وایې چې زه یې ټیموتي ته وروړم."

ټیموتي وویل:" انس حقاني لنګۍ را کړې خو هغه ډیره غټه ده، که لږ کوچنۍ پیدا شي."

زما (لیکوال) سره تیاره یوه دانه کوچني کندهارۍ لنګۍ وه، پر سبا، د جمعې ورځ مې هغه هم ورته ورکړه، خو د تړون په ورځ چې کله ټیموتي شریټون هوټل ته ورغلی و، د هغه سره کندهارۍ خولۍ او افغاني کالي په تن و، لنګۍ یې نه وه تړلې.

ټیموتي وویل:" زه له طالبانو خوشاله یم، مسلمان شوی یم، خور مې پوهیږي چې زه مسلمان یم، خو پلار ته مې نه دي ویلي، او خور مې خبره کړې وه چې زه قطر ته د تړون لاسلیک مراسمو کې د ګډون لپاره ځم، خو پلار ته مې نه دي ویلي، چې بیرته ورشم هغه به خبر کړم، ځکه هغه سپین ږیری دی، او رسنۍ نه ګوري، نه خبریږي.

د زندان خاطرات ليکم، ۱۴ څپرکې لري، او کوشش کوم چې د طالبانو اړوند حقايق پکې وليکم. همدارنگه قطر ته راتگ به زما د کتاب وروستي او په زړه پوري څپرکی شي.

ما هم فکر کاوه چې کيدای شي انس حقاني زما د هرکلي له پاره هوايې ډگر ته راشي، کله چې مې په لومړي ځل، زما د هرکلی لپاره راغلی انس حقاني وليد، له خوشي سره سره ډېر متحير هم شوم."

په هوټل کې د چای څښلو پر مهال، هلته گرځيدونکو سړو او ميرمنو به زموږ لورته کتل، او پوهيدل چې افغانان دي، دوی ځکه کتل، چې دوه ورځې وروسته امريکا له افغانانو سره د خپلې ماتې تړون لاسليک کوي.

له ټيموتي سره ما (ليکوال) هم انځورونه واخيستل، خو وروسته مو له هغه غوښتنه وکړه چې خپور نه شي، ځکه له ما سره ورته انديښنه وه، چې داسي نه، د انځور له کبله ما (ليکوال) ته هم د تړون په مراسموکې ستونزه پيدا شي، او ټيموټې لا نه پوهيده چې د ده او انس حقاني نشر شوې انځور، د تړون په مراسمو کې دده د گډون لپاره ستونزه جوړه کړي.

د فبروري پر ۲۸مه، ماخوستن مهال، ټيموټې او زه (ليکوال)، د دوحې په يو ستر پارک، په ازاده هواء کې د انس حقاني ميلمانه وو، انجنير ذبيح الله، طاهر اغا او څو تنه ځوانان ناست وو، ډېر کوچنی مجلس و، او موږ درې واړو له يو بل سره د خبرو ښه وخت درلود.

**انس حقاني** وويل:" کله چې مشرانو ته د امريکايانو لخوا زما او ټيموټي د انځور د خپريدو په اړه شکايت ورسيد، مشرانو دا خبره ماته وکړه، هغوی ته مې وويل، موږ غواړو چې دښمن مو وځوريږي، او څومره چې ځوريږي، هغومره خونه ورځخه اخلو، موږ خو نه شو کولای چې د دوی د ځوريدو له امله هر څه پريږدو."

د انس حقاني لخوا هرکلی ټيموټي ته پلان شوی نه و، انس وويل:" د فبروري پر ۲۷مه، په مجلسونو کې ډېر مصروف وم، خبر وم چې ټيموټې راځي، بيا همدغه وخت کې زه لږ وزگار شوم، انجنير ذبيح ته مې ويلي و چې تاسي به هرکلي ته ورځي، خو چې کله خلاص شوم، هغه ته مې وويل چې زه هم در سره ځم، په

همدې وخت کې د نن ټکي اسیا د مشر فدا پیغام راغی، هغه ویلي و چې نن ټیموتي راځي، که تاسي مخې ته ورتلئ زه هم در سره ځم، موږ روان شوي و، هغه مو هم را سره ملګری کړ، دا هر څه تصادفي و، ټموټي مو له هوایي ډګره را واخیست، د هغه د اوسیدو لپاره هوټل ته پر لاره فدا زموږ انځورونه واخیستل او ویډیو یې هم جوړه کړه. چې بیا انځور او ویډیو په نړیواله کچه خپاره او نړیوالو مهمو رسنیو پرې راپورونه درلودل."

انس حقاني ته ټیموټې ویلي و:"کوم طبعي عقیدوي ژوند چې اوسمهال یې طالبان لري، که همدا حالت وساتي، او په ځان کې تغیر رانه ولي، د مادیاتو او چوکیو تر تاثیر لاندي را نه شي، که ټوله نړۍ ورته یوې خواته شي، هم طالبانو ته ماتې نه شي ورکولای، کوشش وکړئ چې همدا طبعي او معنوي عقیدوي حالت په خپلو وسلوالو کې وساتئ."

ټیموټې موږ ته وویل:" خور مې د حقاني شبکې او طالبانو په اړه ډیره ژوره مطالعه کړې، کله چې زه بندي وم، هغې ټول وخت د طالبانو او په ځانګړې ډول د حقاني کورنۍ په اړه مطالعه کوله، هغه اوس د طالبانو پېژندنه کې ډیر زیات معلومات لري. او د طالبانو پېژندنه کې مسلکي میرمن ده. خور مې له ما سره ډیره مینه درلودله، هغې ویل، غوښتل مې چې پوه شم چې دا څه ډول خلک دي، چې تاسي یې تښتولي یاست، مخکې زما تر بندي کېدو زما خور د افغانستان په اړه ډیره نه پوهیده، یوازي د افغانستان له نوم سره اشنا وه، اوس هغه د افغانستان سیاسي او طالبانو اړوند مسایل له نږدې څاري."

ټیموټې وویل:" زه پوهیدم چې کیدای شي زما مخې ته انس حقاني (زما ورور) راشي، خو دا فکر مې نه کاوه چې دا مسئله به نړیواله او نړیوالې ورځپاڼې به پرې لیکني وکړي.

زما د کتاب وروستی او تر ټولو مهم او خوندور څپرکی به همدا قطر ته زما راتګ وي، او دا ماته هم حیرانونکی سفر و."

موږ د ټیموټي د کتاب د ارزښت په اړه خبرې وکړي، همدارنګه انس حقاني مو هم وهڅاوه چې خپل د زندان خاطرو لیکلو ته زیات وخت ورکړي، او په جدولي ډول خپل یادښتونه ولیکي، اوبیا یې د کتاب په بڼه چاپ کړي.

## د ټیموتي خپل او په اړه یې ټویټونه

د فبروري پر ۲۷مه، ټمیوتي پر خپل ټویټر ولیکل:"زه باور نشم کولی چې زه دلته په قطر کې یم او له انس سره مې ولیدل او خبرې مې ورسره وکړې. زه خوښ یم چې د لاسلیک کولو مراسمو کې به رسمي میلمه شم. زه د هغې ورځې دعا کوم، د هغو کسانو د راتلونکي؛ څوک چې د اوږدې مودې لپاره رنځ لري، په پای کې بدل او ښه شي. خدای دې افغانستان ته خیر کړي."

د نن ټکي اسیا پر ټویټر پاڼه ولیکل شول:" د طالبانو سره پخوانی استرالیایي بندي ټیموتي قطر ته ورسېد او انس حقاني یې په هوایي ډګر کې هرکلی وکړ. د دوي دواړو تبادله څو میاشتي مخکې د امریکا او طالبانو ترمنځ وشوه."




د طالبانو ویاند ذبیح الله مجاهد پر ټویټر ولیکل:" د اسلامي امارت سره تر مودو بندي د امریکایي پوهنتون استرالیایي استاد (ټیموتي ویکس) له امریکا سره د اسلامی امارت د تړون په مراسمو کې د ګډون لپاره دوحې ته ورسید."

د فبروري پر ۲۸مه، ټیموتي پر خپل ټویټر ولیکل:" زه له انس حقاني مننه کوم لکه څرنګه چې د ده تخلص حقاني دی، داسې دی هم رښتینی دی، په حقیقي معنی حقاني دی، زه یې په لیدلو ډېر خوښ شوم، باید ووایم چې انس حقاني زه خپل خوږ دوست بللی شم، د ده له اخلاقو او نیک چلند ډېر متاثره یم، پدې هیله چې ملګرتیا مو تل پاتې ووسي."

ټیموتي په بل ټویټ کې ولیکل:" د افغانانو مهمان نوازي یو ځانګړی مثال لري زه ډېر خوښ یم چې افغان دوستانو سره وینم د دوی په هرځل کتلو می سترګې یخیږي او د ارام ساه اخلم. سبا ډیره یو تاریخي ورځ کیدلی شي تاسو انتظار شئ ښه زیري به واورئ زه پدې خوښ یم چې نور به یو پر امنه خپلواک افغانستان وي. ستاسو له میني مننه کوم."

بي بي سي یې په اړه ولیکل:" انس حقاني او ټیموتي ویکس دا مهال دواړه دوحه کې دي، چېرې چې به سبا طالبان او امریکایان خپلمنځي هوکړه لاسلیکوي. دوحه کې زموږ همکار شعیب شریفي انس حقاني سره ږغېدلی.

انس حقاني د طالبانو د مرستیال مشر سراج الدین حقاني ورور دی. دی تېر کال د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د بندیانو په یوه تبادله کې له څرخي پله زندانه خوشی شو. نوموړی کابل کې د امریکایي پوهنتون یوه استاد ټیموتي ویکس په بدل کې خوشی شوی..."

د ټیموتی او انس حقاني د انځور اړوند سمدستي واشنګټن پوسټ او نیویارک ټایمز راپورونه خپاره کړل، چې څه ډول دا پخواني دښمنان د یو بل ډیر نږدې دوستان شول، همدارنګه په خواله رسنیو کې هغه انځور ډیر زیات خپور شو، لیکنې وربandي وشوي.



## د تړون مراسمو کې له افغانستان څخه د ګډونوالو پر سر جنجال

د فبروري پر ۲۸مه، موږ "مولوي احمد جان، قاري افضل ، انجنیر حلیمي، حاجی محمد عمر او مطمئن" د ملا عبدالسلام ضعیف په کور کې میلمانه وو، بیا هم د تړون اړوند او په مراسمو کې د ګډونوالو په اړه خبرې کیدي.

**ضعیف صاحب**: د طالبانو او قطریانو ترمنځ د سولې تړون اړوند خبرې په تیرو دوو ورځو کې سمې نه وي، قطریانو غوښتل چې د افغان حکومت کسان هم د تړون په مراسمو کې ګډون وکړي، او طالبانو له قطریانو سره دا خبره نه منله. ددې لپاره چې پر طالبانو فشار راوړي، قطریانو ورته ویلي وو چې بیا به ستاسي کسان هم په مراسمو کې ګډون نه کوي، او نه به ستاسي لخوا را بلل شوې میلمانه[۲۳۳] ګډون کوي، تر دي چې قطریانو ورته ویلي وو چې حتی ضعیف صاحب به هم ګډون نه کوي[۲۳۴].

پرون ماښام مولوي خیرالله خیرخوا کور ته راغی، ویې ویل:"که چیرته ستا "ضعیف" ګډون د تړون په مراسمو کې ونه شو، چې خفه نه شي، زموږ له قطریانو سره ستونزه راغلي، موږ د افغان حکومت کسان غونډې ته نه را پریږدو، نو دوی هم دا کار کوي چې زموږ کسان چې له ډیورنډ کرښې ها خوا راتلل، د هغوی ویزې یې موږ ته نه دي سپارلي او دارنګه ویې ویل چې ستاسي لخوا میلمانه هم نه منو، نو چې بیا تاسي خفه نه شئ.

کله چې قطریان پوه شول چې طالبان له خپل هوډ څخه نه اوړي، بیا یې د ځینو کسانو ویزي هم ورته ورکړي او په مراسمو کې د طالبانو د میلمنو د ګډون اجازه یې هم وکړه."

---

[۲۳۳] تردي مهاله د طالبانو لخوا میلمانه چې قطریانو ته وروپېژندل شوي وو، غالباً چې ملا عبدالسلام ضعیف، مولوي احمد جان، سید محمد طیب اغا، مولوي نیک محمد، حافظ عزیزالرحمن او زه (لیکوال) وو.

[۲۳۴] ضعیف صاحب ته قطریانو ویلي وو، چې موږ څکه دا خبره ورته وکړه، چې د سیاسي دفتر غړو ته معلومه شي چې کله ضعیف صاحب ته د ګډون اجازه نه وی، نو بل چاته خو بیخې د ګډون اجازه نه ورکول کیږي.

په همدې ماخوستن، انس حقاني چې زه او ټیموټي ور سره میلمانه وو، هغه وویل: "زموږ ډیر کسان چې باید په دغه مراسمو کې یې ګډون کړی وای، د هغوی ویزې ونه شوې، او را ونه رسېدل، نن مازیګر موږ ډیر کسان په لسټ کې ور زیات کړل، د فیض محمد ځلاند صاحب نوم او زموږ د دفتر د ځوانانو نومونه او ځینې نور افغانان چې قطر کې اوسیږي، د هغوی نومونه مو هم په لسټ کې ور ولیکل او سبا به په مراسمو کې ګډون وکړي."

په تیرو دوو ورځو کې د قطریانو او طالبانو ترمنځ خبرې د تړون په مراسمو کې د افغان حکومت د کسانو د ګډون پر سر جنجالي وي، کله چې د قطریانو لخوا پر طالبانو دا فشار هم راوستل شو چې د ډیورنډ کرښې څخه راتلونکو طالب مشرانو ویزې یې وځنډولې، او په مراسمو کې د طالبانو د میلمنو د نه ګډون یې ورته وویل، بیا هم طالبانو ونه منله چې د افغان حکومت کسان دې د تړون په مراسموکې ګډون وکړي، قطریانو له طالبانو وغوښتل چې له کابل څخه د ځینو داسې افغانانو ګډون د تړون په مراسمو کې ومنې چې هغوی مستقیماً د دولت کارونکي نه وي، خو طالبانو د قطریانو او امریکایانو دا ډول غوښتنه هم رد کړه، بالاخره قطریانو او امریکایانو انعطاف وکړ، د تړون په مراسمو کې یې د طالبانو د میلمنو ګډون هم ومانه، او د فبرورۍ پر ۲۸مه یې د ځینو طالب مشرانو ویزې هم د قطر سیاسي دفتر ته ورکړې، همهغه وو چې د تړون په مراسمو کې د ګډون لپاره د طالبانو مشران د ډیورنډ کرښې څخه په بیړه را روان شول، ځینې طالب مشران په همدې ورځ ناوخته ماخوستن مهال او ځینې د فبرورۍ ۲۹مه، وختي سهار مهال دوحې ته را ورسېدل.

## د ترون د لاسلیک ورځ

د فبرورۍ پر ۲۹مه، زه (لیکوال) سهار ۳:۳۰ دقیقې"د شپې مهال" له خوبه را ویښ شوم، څلاند را رسیدلی و، هغه ټوله شپه په لاره مزل کړی و، ویده شو، خو ماته بیا وروسته خوب را نغی.

طالبانو غوښتل چې ټول په یو کاروان کې له غرافې سیمې شریټون هوټل ته ولاړ شي، ماته څلاند وویل چې ښه به وي چې موږ دواړه بېل د ترون د لاسلیک ځای "شریټون هوټل" ته ولاړ شو، که له طالبانو سره په کاروان کې ولاړ شو، بیا نو موږ دواړه پر طالبانو بیخې ور ټپ کیږو.

د قطر د سیاسي دفتر غړي دکتور صالح سهار لس بجې راته وویل:" کله چې د طالبانو کاروان شریټون هوټل ته ننوځي، حکمت الله خان به د باندي در ووځي او په مراسمو کې ستاسي د ګډون کارډونه به درکړي."

ما او څلاند مشوره وکړه چې کارډونه مخکې را واخلو، اصلاً طالبان ډېر سرګردانه او مصروف وو، هغوی نه شوای کولای چې زموږ هوټل ته کارډونه را ورسوي، ځکه ټول مصروف وو.

د احمد نبي متقي دي کور ودان وي، هغه معلومات راکاوه، او کارډونه یې هم له جهانګیروال څخه تسلیم کړي او حکمت الله خان ته یې سپارلي وو، موږ کارډونه را واخیستل او د غرمې تر ۱۲ بجې وخت اوښتی و چې شریټون هوټل ته ورغلو.

هغه ډول چې په رسنیو کې موږ اوریدلي و چې هلته د شریټون هوټل چاپیره ډېر امنیتي تدابیر نیول شوې، هغه ډول نه وه، موږ په اسانۍ سره د هوټل دننه شوو، هلته یې زموږ د کارډونو په لېدو، تالاشي هم ونه کړه، موږ یې مخامخ د غرمنۍ خوړلو ځای ته رهنمایي کړو، په هوټل کې دننه قطري امنیتي کسانو یو بل ته سپارلو، تر څو د غرمنۍ ډوډۍ لوی سالون ته ور دننه شوو.

د یو میز تر شا کیناستو، د خلیلزاد سکرټر شینواری راغی، روغبر یې وکړ، هغه وویل چې خلیلزاد هم هغه دی ناست دی، که روغبړ ورسره کوئ، موږ ومنله، له خلیلزاد

سره د روغبړ پر مهال د هغه سکرترانو انځورونه واخیستل، ځینې نور کسان هم راغلل، بیا وروسته موږ د افغانستان لپاره د روسیې هیواد ځانګړي استازي ضمیر کابلوف ته هم ور ږغ کړل، د طالبانو –امریکا په مذاکراتو کې د قطر د بهرنیو چارو وزارت استازي دکتور مطلق بن ماجد القحطاني ته هم خلیلزاد ور ږغ کړل، او ځینې نور مهم مشران هم راغلل، انځورونه واخیستل شول.

موږ له خلیلزاد څخه مننه وکړه چې په دغه اوږدو مذاکراتو کې یې حوصله له لاسه ورنه کړه، او بالاخر نن یې ورځ را ورسیده چې د طالبانو – امریکا ترمنځ به تړون لاسلیک کیږي.

همدلته له خلیلزاد او نورو امریکایانو سره له لنډو خبرو وروسته موږ د دوحې د شخړو او بشري مطالعاتو انستیټوټ له مشر سلطان برکات سره کیناستو، ډوډۍ مو وخوړله، هلته ځینې نور مشران هم ناست وو.

سلطان برکات ته مې وویل، که مناسب یې ګڼئ موږ به له دکتور مطلق څخه مننه وکړو، چې د سولې په دغه اوږد بهیر کې یې د قطر هیواد په استازولي مرسته کړې، ورغلو، له هغه مو مننه وکړه، له هغه سره خواکې ولاړ امریکایې چارواکی و (غالباً په قطر کې د امریکا سفیر)، هغه زما (لیکوال) خولې ته کتل چې څه ورته وایو، هغه ته مې وویل:"له تاسي (امریکایانو) هم مننه کوو چې له افغانستان څخه ووځئ."

امریکایې همداسي رډ رډ کتل، هیڅ یې ونه ویل، ځکه زما د خبرو لپاره یې الفاظ او جواب نه درلود، که هغه ویلي وای چې مننه، دا به یې مناسب نه ګڼله، تر اخره یې خبره ونه کړه.

موږ یو بد خبر هم درلود، ټیموتي ویکس چې اوږد سفر یې له استرالیا تر دوحې کړی و، او تازه یې د سرطان ناروغي له امله عملیات هم شوې و، مګر هغه ته د امریکا لخوا، د سولې تړون د لاسلیک په مراسمو کې د ګډون اجازه ورنه کول شوه، ټیموتې شریټونه هوټل ته راغی، هغه ته قطري امنیتي مسؤلینو وویل:" موږ بخښنه غواړو چې تاسي د امریکا-طالبانو د تړون په مراسمو کې ګډون نه شئ کولای."

ټموټي: ما له استرالیا تر دې ځایه اوږد سفر کړی، او زه خپله ټوله هڅه کوم چې د سولې تړون مراسمو کې ګډون وکړم، ما په قطر کې د استرالیا سفیر، او په استرالیا کې د بهرنیو چارو مرستیال وزیر اجازه تر لاسه کړي.

قطرې امنیتي مسؤل: موږ تر دې ها خوا هیڅ نه ویلای او نه کولای شو، د سولې د تړون په مراسموکې ستاسي د ګډون اجازه امریکایانو نه ده کړي.

ټیموتي د شریټون هوټل په کوچنی مسجد کې ډېر خفه کیناست، هلته یې خپل رب ته په ټیټ او زهیر اواز وویل:" زما ربه! زه تر دې ځایه راغلم، غوښتل مې د افغانانو د تاریخي ویاړ او بریالیتوب، د فتحې مراسمو کې ګډون وکړم، خو د نړۍ استکباري قوت "امریکا" ماته اجازه رانه کړه، زه ډېر وځوریدم، او زه ډېر خفه شوم چې امریکا پر نړۍ څه ډول کنټرول لري"

لږ وروسته د ورځې پر لس کم لس بجې ټیموتې پر خپل ټویټر ولیکل:"دا چې زما هیله وه پدې تاریخي مراسمو کې ګډون وکړم زه وبلل شوم زما قدرداني وشوه، خو په پای کې امریکایي لوري زما ګډون ونشو زغملی او ماته یې پدې تاریخي مراسمو کې د بلن لیک سربیره هوټل ته د دننه کیدو اجازه رانکړه . زه ډېر خواشینی شوم شکست خوړلو زما تکلیف او راتګ په اوبو لاهو کړ".

ټیموتي په بل ټویټ کې ولیکل:" زه نه پوهیږم له ماسره ولې داسې چلند وشو، آیا زما لخوا د امن او د سولې پیغام پر دوی ولې دروند تمام شو، د جګړې طرفداره اړخونو ته وایم چې نور ستاسي ماموریت په ختمیدو دی، ستاسي د ظلمونو او وحشتونو لړۍ په ختمیدو ده. ډېر ژر به خپلواک او استقلال اخیستونکی افغانستان ووینو، افغانان دې بریالي وي."

داچې ډېرو فکر کاوه چې د تړون د لاسلیک مراسم به د قطر پر وخت ماسپښین دوې بجې پېل کیږي، کله چې لا هم دلته شاوخوا طالبان نه لیدل کیدل، له ځینو خبریالانو او نورو ناخبره کسانو سره اندیښني پیدا شوې چې ممکن کومه ستونزه را منځته شوې وي، ما(لیکوال) ته ځلاند صاحب وویل:" د تړون د لاسلیک لپاره پر اشخاصو د طالبانو او امریکا ترمنځ ناندرۍ دي، امریکایان وایې چې خلیلزاد او ملا

برادر اخوند دي تړون لاسلیک کړي، خو طالبانو وایې چې مایک پمپیو او ملا برادر اخوند دي تړون لاسلیک کړي، که پمپیو د لاسلیک لپاره چمتو نه وي، نو بیا به یې ملا فاضل اخوند زموږ له اړخه لاسلیک کوي."

تر دي له مخه داسې ویل کېدل که پمپیو له طالبانو سره تړون نه لاسلیک کوي، او خلیلزاد دا کار کوي، کېدای شي چې عباس ستانکزی دغه تړون د طالبانو په استازولي لاسلیک کړي.

ولې پرون ماخوستن زه (لیکوال) د انس حقاني له خولې پوهیدلی وم چې د تړون مراسم به د قطر پر وخت مازیگر شاوخوا ۴ بجې پیل کیږي، او دا مراسم به ډېر لنډ وي. همدغه د ډوډۍ خوړلو سالون ته، چې موږ پکې ناست وو، ځینې پېژندویه خبریالان لږ وروسته راغلل، بیا یې موږ ته وویل چې هلته د تړون مراسمو له سالون سره نږدې، د باندې ډېر زیات خبریالان را ټول شوې، په دې وخت کې د امریکا ږغ خبریال ایوب خاورین هم راغلی و، زموږ خوښه شوه چې د تړون د مراسمو سالون د کتو لپاره ورشو، د خبریالانو زموږ په لور فکر شو، داچې ما لنګۍ وهلې وه، هغوی به فکر کړی وي چې د طالبانو د ډلې څوک دی، د انځور ایستلو لپاره ډېرو د کیمرو مخونه زموږ په لور کړل، خبریالانو د مرکې کولو غوښتنه کوله، ما ونه غوښتل، خو ځلاند صاحب ښې ډېرې مرکې وکړې، او زه (لیکوال) د تړون د لاسلیک د مراسمو سالون ته ننوتلم.
د غونډې سالون نه ډېر لوی او نه هم وړوکی و، نږدې د دوه سوه کسانو د کیناستو ګنجایش یې درلود، خو داچې د طالبانو کسان ډېر وو، په همدې خاطر چوکۍ ډېرې نږدې پکې یو له بل سره ښودل شوې وې. که عام مجلس وي، نو په دغه سالون کې له ۱۰۰ تر ۱۵۰ کسان ځایېدل.
سالون ته د ننوتلو دروازه کې د قطر امنیتي کسان ولاړ وو، د سالون شمال لور دروازه د میلمنو د ننوتلو لپاره وه، او د جنوب لور دروازه یې تړلې وه.
د دروازې مخامخ (قبلې) لورته د تړون د مراسمو بینرونه د فروجیکټور پواسطه هلته له دیوال څخه لږ مخکې پر درول شوو غټو تختو باندې په لیکلي بڼه ښکاره کېدل، چې په انګریزي، عربي او دري ژبو لیکل شوې وو:
"افغانستان ته د سولې راوستلو تړون"

هلته د بېنرونو سره نږدې، د سټيج پر سر شمال لورته د اوږد ميز يوې او بلې څنډې ته دوې چوکۍ هم ايښودل شوې وې.

تر سټيج را لاندې په لومړي قطار کې په صدفي چرم پوښل شوې، پاکې او ستره د کوچ يو نفرې چوکۍ ايښودل شوې وې، چې د قطر هيواد او نورو هيوادونو د بهرنيو چارو وزيرانو ځای و، همدارنګه دويم قطار کې هم همدا په صدفي چرم پوښل شوې چوکې د لوړ پوړو ميلمنو لپاره ايښودل شوې وې. خليلزاد، ضمير کابلوف او عباس ستانکزي ته هم د لومړي قطار چوکيو کې ځای ټاکل شوی وو.

د سالون شمال لورته نږدې ۵۰ چوکۍ د طالبانو لپاره ايښودل شوې وې، او جنوب لورته هم په همدې اندازه چوکۍ، غونډې ته د نورو هيوادونو د راليږل شوو استازو لپاره ايښودل شوې وې، داسې چې لومړنۍ يې د هيوادونو د ځانګړو استازو، ورپسې په مراسمو کې د ګډون کوونکو استازو لپاره وې، د سالون په منځ کې چوکۍ بيا د نورو هيوادونو د سفيرانو لپاره ايښودل شوې وې. او ډيرې وې.

د طالبانو شمير تر هغه ډير وو، کوم چې چوکۍ ورته په نظر کې نيول شوې وې، بيا د قطري مسؤلينو په خوښه، د طالبانو ځوانان هغو چوکيو ته ورغلل چې د هيوادونو د استازو لپاره وې، او کيدای شي د هيوادونو استازي به د سفيرانو لپاره په پاتې چوکيو کې کيناستلي وي. ټول ټال د طالبانو لخوا غونډې ته ورغلي کسان تر سل اوښتل.

يوه بهرنۍ ميرمن (جاپانی يا چينايې به وه) موږ ولېده چې هڅه يې کوله په لومړي قطار کې د بهرنيو چارو وزيرانو لپاره ځانګړي شوو چوکيو کې کښيني، خو د قطرې چارواکو لخوا اجازه ورنه کول شوه، کله چې غونډه پيل کېده، هغه ميرمن د سفيرانو لپاره ځانګړو چوکيو په وروستی ځای کې بيا کيناستله، ځکه نورو سفيرانو چوکۍ نيولي وې.

د طالبانو لخوا ټول راغوښتل شوې طالبان او په قطر کې ميشت د طالبانو خواخوږي پر ۱۲ بجې د طالبانو مرکزي د اوسيدو ځای غرافي ته ور غوښتل شوې وو، دوی د ماسپښين لمونځ هلته په جماعت سره اداء کړی وو، او شيريټون هوټل ته د روانېدو لپاره يې غالباً دوه بجې وخت ټاکلی و.

## د تړون د لاسلیک تر مراسمو لږ وړاندي

تر روانېدو مخکې د طالبانو مشران او ځوانان د طالبانو د اوسیدو ځای سره مخکې سړک باندي ولاړ ښکاري چې له امریکایانو سره د مذاکراتي ډلې مشر عباس ستانکزی ورته وینا کوي.

د عباس ستانکزي تر څنګ ملا برادر اخوند، ملا امیرخان متقي، ملا فاضل اخوند، ملا عبدالسلام حنفي، شیخ عبدالصبور، ملا عبدالمنان عمري، ملا خیرالله خیرخوا، مولوي عبداللطیف منصور، قاري دین محمد حنیف، شیخ سید رسول، شیخ دلاور، مولوي محمد نبي عمري، انس حقاني، ملا عبدالسلام ضعیف او ګڼ طالب مشران ولاړ وو.

**د عباس ستانکزي وینا:**

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللَّهِ وَالْفَتْحُ ﴿١﴾ وَرَأَيْتَ النَّاسَ يَدْخُلُونَ فِي دِينِ اللَّهِ أَفْوَاجًا ﴿٢﴾ فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَاسْتَغْفِرْهُ إِنَّهُ كَانَ تَوَّابًا ﴿٣﴾ [٢٣٥]

تر ټولو لومړی تاسي د سیاسي دفتر غړو، راغلو میلمنو او د افغانستان بیچاره او مظلوم ولس او مجاهدینو ته!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

خوشاله یم چې نن په دغه ډول محفل کې ماته اجاره راکول کیږي چې د ټولو په استازولي له تاسي سره خبرې کوم.

ننۍ تاریخي ورځ زموږ او ستاسي په تاریخ کې لویه د ویاړ ورځ ده، داسي ورځ ده لکه چې زموږ او ستاسي پلرونو او نیکونو، دیرش کاله او یو قرن مخکې لمانځلي، چې د روسانو او انګریزانو د ماتې ورځې وې.

---

[٢٣٥] ژباړه: کله چې د الله ﷻ مرسته او بریالیتوب راشي (١) او خلک وګورې چې ډلې ډلې د الله ﷻ په دین کې داخلیږي (٢) نو بیا د خپل رب له ستاینې سره د هغه تسبیح وایه او بخښنه ترې غواړه، بې شکه هغه ښه توبه قبلونکی دی (٣)

الحمدلله، موږ چې د هغوی بچیان یو، له ۱۹ او ۲۰ کلونو جهاد او سرښندونو وروسته، دا ننی ورځ لمانځو، څو شیبې وروسته به د اسلامي امارت قیادت له اشغالګرو امریکایانو سره د هغوی د پوځیانو د وتلو او د مجاهدینو د فتحې تړون لاسلیک کوي.

ددې له ویاړه ډکې تاریخي ورځې مبارکې، خپلو ملګرو، د سنګر مجاهدینو، د شهیدانو کونډو، زموږ زنداني ورونو او د افغانستان ټول ولس ته وایم.

دا دفتحې ورځ ده، او دا فتحه د الله ج په نصرت سره شوې ده. زموږ ملګري او مجاهدین دې متوجه وي، چې د فتحې له امله مغروره نه شي، داسي عمل ونه کړي چې هغه د الله ج د ناراضي سبب وګرځي.

زموږ ولسستره قرباني ورکړه، په لکونو انسانان قرباني شول، د الله ج په نصرت، د همهغوی د قربانیو او وینو تویدو په نتیجه کې موږ نن همدا ورځ لمانځو.

لږ وروسته به زموږ مشر او رهبر ملا برادر اخوند له امریکایانو سره د بهرنیو ځواکونو د وتلو هوکړه لیک لاسلیک کوي، او په ۱۴ میاشتو کې به بهرني پوځیان په بشپړ ډول له افغانستان څخه ووځي، افغانستان به یو ځل بیا خپله خپلواکې تر لاسه کوي.

اسلامي امارت لکه چې په تیرو ۲۰ کلونو کې یې قربانۍ ورکړي، هیواد یې د امریکا، ناټو او نړۍ د طاغوتي لښکرو له اشغال څخه خلاص کړ، هیواد یې ازاد کړ، له ازادي وروسته به هم ژمن وي چې د کونډو، یتیمانو، زخمیانو سرپرستي وکړي، او د هیواد په بیا رغونه کې رول ولوبوي. په هیواد کې به اسلامي او شرعي نظام منځته راولي.

**مولوي امیرخان متقي** هم د تړون په مراسمو کې ګډونوالو طالبانو ته وویل:"ورونو! دیته متوجه اوسئ چې په خواله او نورو رسنیو کې چاته پیغورونه ورنه کړو، چاته سپکې سپورې خبرې ونه کړو، افغانستان د ټولو افغانانو ګډ کور او اسلام د ټولو مسلمانانو ګډ دین دی. دا قرباني د ټولو ګډه قرباني وه، دا فتحه د ټولو ګډه فتحه ده، موږ باید هر چاته د ورورۍ لاس ور اوږد کړو، داسي فکر ورکړو چې راتلونکی نظام به د ټولو مسلمانانو / افغانانو ګډ نظام وي، د ټولو لپاره د خوښۍ نظام به وي، ټول به یې تر سیوري لاندي هوسا او خوشاله ژوند کوي. هیچاته به څوک پیغور نه ورکوي، هیچاته به څوک بده خبره نه کوي، هیچاته به څوک په سپکه سترګه نه ګوري، موږ او تاسي دا فکر باید عام کړو."

## د تړون د لاسلیک مراسم

ما(لیکوال) ته احمد نبي متقي او حکمت الله خان ټلیفون وکړ چې له غرافي یې د شریټون په لور د طالبانو کاروان روان دی، چې پر موټرو د طالبانو سپین بیرغونه هم لګول شوي.

کله چې هغوی شریټون ته رانږدې شول، بیا دوی له ما سره جلا جلا اړیکه ونیوله، ما(لیکوال) هلته په هوټل کې راغلو ځینو خبریالانو ته وویل چې د باندی ور ووځي او د طالبانو کاروان اړوند خپل راپورونه، انځورونه او ویډیو ګاني چمتو کړي، خو خبریالان نه پوهیدل چې په کومه دروازه به طالبان شریټون ته د ننه کیږي، بل داچې هغوی هم له هوټل څخه یو مخې د باندي د قطر د امنیتي کسانو لخوا نه پریښودل کیدل چې عکاسي او ویډو په لویو لارو کې د طالبانو له کاروان څخه وکړي، مګر د نن ټکی اسیا مسؤل فداء او د طالبانو د فرهنګي کمیسون مرستیال مشر ملا احمدالله وثیق د طالبانو د کاروان ویډیو ګاني خپرې کړي.

کله چې طالب مشران د غونډې لپاره سالون ته را نږدې شول، هغوی د مراسمو ځانګړې سالون ته ننوتل نه، بلکې د باندي په هغه لوی ځای کې کیناستل، او خبریالانو هم هغوی ته خپلې کیمرې برابري کړي.

لږ وروسته د طالبانو مشرانو ته لارښونه وشوه چې د غونډې سالون ته ورننوځي، هغوی ننوتل، له دي وروسته شاه محمود قریشي د پاکستان، عبدالعزیز کاملوف د ازبکستان، ریټنو مارسوډي د اندونیزیا، اینه اریکسن سوریدی د ناروي، مولود چاوش اوغلو د ترکیې، یوسف بن علوي د عمان؛ بهرنیو چارو وزیران او دارنګه د کویټ هیواد لوړ پوړی چارواکی سالون ته په شمالي دروازه را ننوتل، د قطر د بهرنیو چارو وزیر له څو نورو وزیرانو سره را رسیدلی وو، لږ وروسته د قطرې چارواکو په بدرګه کې د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پمپیو سالون ته را دننه شو، هغه له ناستو وزیرانو سره روغبړ وکړ، او تر ټولو وروسته ملا برادر اخوند سالون ته را دننه شو، هسکه غاړه یې نیولي وه، مایک پمپیو لا ولاړ و، له نورو سره یې روغبړ کاوه، ملا برادر اخوند ورباندي تیر او مخامخ خپل ځای ته ولاړ، نږدې همهاله مایک

پمپیو او ملا برادر اخوند پر یو وخت په چوکیو کیناستل، لږ وروسته د غونډې مراسم په رسمي ډول پیل شول.

تر هغه مهاله چې مایک پمپیو سالون ته نه و رادننه شوی، او مراسم نه و پیل شوې، زما (لیکوال) سره اندیښنه وه چې داسي نه وي چې د کوم خنډ له امله د تړون لاسلیک وځنډیږي، کله چې مراسم پیل شول، زما ټوله تلوسه دیته وه چې کله به د تړون پر متن لاسلیک کیږي، ځکه پر امریکایانو هیڅ باور نه شي کیدای، هغوی د نړۍ په کچه فریب کونکي، او له ژمنو مخ اړونکي سیاستوال او همداسي یو ملت دی.

غونډه د مازیگر پر ۳:۵۰ بجې پیل شوه، لومړی ویناوال د قطر د بهرنیو چارو وزیر و، چې د طالبانو او امریکا ترمنځ د سختو او اوږدو مذاکراتو څخه یې یادونه وکړه، د تیرې اونۍ د تاوتریخوالي کمېدو په بریالیتوب سره سرته رسیدو او د یاد تړون اړوند یې لنډې څرگندونې او راغلو میلمنو او په مراسمو کې گډونوالو ته یې هرکلی ووایه. همدارنگه په بین الافغاني مذاکراتو کې یې د قطر هیواد مرستي کولو او چمتووالي څخه هم یادونه وکړه. ویې ویل، موږ ویاړو چې نن ورځ دلته د سولې تړون لاسلیک کیږي.

دویم ویناوال د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پمپیو و، هغه هم لنډه وینا وکړه، خو وینا یې پارونکي وه، او پر طالبانو ښه نه لگیده.

دریم ویناوال ملا برادر اخوند و، د هغه وینا مخکې له مخکې لیکل شوې وه، د کاغذ له مخې یې ویله، خو په ځینو ځایونو کې به یې سکته وکړه[۲۳۶].

[۲۳۶] د مارچ پر۹مه، د طالبانو د سیاسي دفتر یوه غړي ما (لیکوال) ته وویل:"کله چې له امریکا سره د تړون د ورځې وینا چمتو کېدله، دا چاره باید ځوان ملگري ته سپارل شوي وای، خو ملا عبدالسلام حنفي په غاړه واخیستله، د دفتر د مشرانو لخوا د وینا مسوده ترتیب شوه، بیا وروسته په هغې کې سمونې راوستل شوې، او ملا عبدالسلام حنفي دنده درلودله چې د وینا په مسوده کې نوي زیاتونې او کمونې ور زیاتې کړي.

داچې د مایک پمپیو او قطر بهرنیو چارو وزیر د وینا پای ته رسیدو وروسته بهرنیانو چکچکي وکړی، خو کله چې د ملا برادر اخوند وینا پېل شوه، په منځ کې يې طالبانو د تکبیر نارې وکړي، او بهرنیانو د هغه وینا ته په لومړي سر کې چکچکې کولې، خو چې پوه شول طالبان تکبیر ږغونه کوي، د ملا برادر اخوند د وینا پای ته رسیدو پر مهال هم طالبانو د تکبیر نارې او بهرنیانو چکچکې کولي[۲۳۷].

ملا برادر اخوند او طالب مشرانو، نه د قطر بهرنیو چارو د وزیر تر وینا وروسته، او نه هم د مایک پمپیو تر وینا وروسته لاسونه وټکول، په زړه پوري داوه چې د ملا برادر اخوند تر وینا وروسته که یو خوا طالبانو د تکبیر نارې وهلې، بل خوا بهرنیانو چکچکې کولې، خو مایک پمپیو دواړه لاسونه له یو بل سره موږل.

د ملا برادر اخوند تر وینا وروسته، له خلیلزاد او ملا برادر اخوند څخه وغوښتل شول چې د تړون لاسلیک لپاره ځانګړي میز ته ورشي.

د تړون متن د یو تن قطري لخوا ملا برادر اخوند او د بل تن قطري لخوا خلیلزاد ته ورکول شو، هغه قطرې چې لومړی یې متن ملا برادر اخوند ته ورکړ، ملا برادر اخوند ته یې اشاره وکړه، چې د تړون لاسلیک پېل کړي، ملا برادر اخوند خپل ښې لاس ته ناست، د امریکا د بهرنیو چارو استازي زلمي خلیلزاد ته وکتل چې هغه لاسلیک پېل کړی یانه، قطري ته یې د سترګو اشاره وکړه، چې ودریږه چې هغه

د تړون د مراسمو پر مهال چې ملا برادر اخوند ته د ملا عبدالسلام حنفي لخوا په فایل کې کومه وینا سپارل شوې وه، هغه همهغه پخواني مسوده وه، چې لازمي او نوي سموني پکې نه وي، دومره بې پروایې شوې وه. خو داچې ملا برادر اخوند مخکې له مخکې هغه ایډیټ شوې متن له ځان سره تکرار کړی و، نو د هغه متن ډیر ځایونه یې په یاد و. بل داچې دومره لوی پایل کې د وینا متن ایښودل هم مناسب نه و، په یو ښایسته وړوکي فایل کې به یې د وینا متن ایښې وای."

[۲۳۷] قطریانو د طالبانو مشرانو ته د مراسمو پای ته رسیدو وروسته ګیله کړي وه، چې دا خو ډیپلوماټیکه غونډه وه، د تکبیر نارو اړتیا نه وه، طالبانو جواب ورکړی و، چې د پمپیو وینا ته ټولو بهرنیانو چکچکې وهلي، او زموږ ملګرو هم د خپل مشر وینا په تکبیر باندي بدرګه کړه، ځکه موږ خو د بهرنیانو د خوشالولو پاره چکچکې نه شوای وهلای.

"خلیلزاد" لاسلیک پیل کړي، ملا برادر تر هغه لاسلیک ونه کړ، چې کله ډاډه شو چې خلیلزاد د بهرنیو ځواکونو د وتلو تړون لاسلیک پیل کړل، بیا ملا برادر اخوند هم پر چمتو کړل شوې متن باندي لاسلیک وکړ.

د تړون د لاسلیک لپاره د قطري چارواکو لخوا قلمونه هم چمتو شوې وو، خو ملا برادر اخوند د خپل واسکټ له جیب څخه تور قلم را وکیش، تړون یې لاسلیک او په ارامه یې قلم بیرته د خپل واسکټ په مخکیني جیب کې ټینګ وټامبه. همدارنګه خلیلزاد هم پر خپل قلم تړون لاسلیک کړ.

تړون په درې ژبو "پښتو، دري او انګریزي" لیکل شوی و، او درې واړه نسخې یې هر یوه لاسلیک کړي.

د تړون د لاسلیک پر مهال هم د طالبانو لخوا د تکبیر ږغونه په سالون کې فضاء رنګینه کړي وه. او د مایک پمپیو په ګډون بهرنیانو بیا چکچکې وهلې.

کله چې ملا برادر اخوند له دریځ څخه را کښته شو، د قطر بهرنیو چارو وزیر یې مخې ته ور ولاړ او د هغه لاس یې د روغبړ او خوشي په ډول په خپل لاس کې ونیو، د قطر وزیر سره څنګ ته مایک پمپیو هم و، دا ځل هم ملا برادر اخوند او پمپیو یو بل ته لاسونه ورنه کړل، ځکه دوی د جګړې د ډګر اصلي لوري او د یو بل دښمنان وو، تر هغه به د طالبانو او امریکا ترمنځ بې باوري وي، تر څو چې بهرني پوځیان له افغانستان څخه په بشپړ ډول ووځي.

غونډه د مازیګر پر ۴:۱۵ بجې پای ته ورسیده، ټول ټال یادو مراسمو ۲۵ دقیقې وخت ونیو.

**د تړون د لاسلیک کولو په مراسمو کې د بهرنیو چارو وزیر مایک پمپیو وینا**

د فبروري ۲۹مه، ۲۰۲۰

ماسپېښین مو نېکمرغه. زه غواړم د دې تاریخي خبرو د کوربه په توګه د قطر ارزښتناک رول لپاره د هغه له عالي مقام شیخ تمیم څخه مننه وکړم. د هغه بې پایه ملاتړ، او ستاسي د بهرنیو چارو وزیر له دواړو خواوو "امریکا او طالبانو" د ملاتړ او هڅونې پایله وه **چې دواړه لوري نن دي له اهمیت ډکې ورځې ته ورسیدل.**

د متحده ایالاتو او طالبانو ترمنځ څو لسیزې دښمنۍ او بې باورۍ وه. تیرې خبرې ناکامې شوې. دا هڅې د متحده ایالاتو لپاره هغه وخت په واقعیت بدلې شوې  چې طالبانو وښودله چې له القاعدې او نورو بهرنیو ترهګرو ډلو سره خپلې اړیکې پرې کوي. دوی پدې هم پوهیدل چې نظامي بریا شونې نه ده. بیا ما له سفیر خلیلزاد څخه وغوښتل چې زموږ د مذاکراتې ډلې د مشر په توګه د طالبانو ریښتینولۍ وارزوي.

هغه تړون چې نن به یې لاسلیک کړو د دې هڅې ریښتیني ازموینه ده. موږ به د سولې برخه کې د طالبانو ژمنتیا، اطاعت او عمل وګورو، او زموږ د ځواکونو وتل به د دوی کړنو ته په کتو او ارزونې سره وي.

موږ باید ډاډ ترلاسه کړو چې افغانستان بیا هیڅکله د نړیوالو ترهګرو د اډو په توګه نه کارول کیږي.

په دوحه کې د خبرو اترو بهیر، د ټولو ستونزو او بدلونو سره، څرګنده کړه چې زموږ لپاره دا ممکنه ده چې دا ګام په ګډه واخلو. په تیرو اوو ورځو کې؛ د تاوتریخوالي کچه په تیرو څلورو کلونو کې تر ټولو ټیټې کچې ته رسیدلې. متحده ایالاتو او افغان ځواکونو د سولې په درناوي سره د دښمن کم شوي بریدونو ته غبرګون وښود. بریدونه کول سم کار نه و، مګر بیا هم دوی وښودله، حتی که یوازې د یوې اونۍ لپاره هم دوی د سولې اراده ولري، دا کیدای شي.

د افغانستان خلک خوښ وو چې د خپلو کورنیو او ملګرو د لیدو لپاره یې  په آزاده توګه په هیواد کې سفر کاوه. هغوی توکې اخلي، سوداګري کوي، حتی دوی په سړکونو کې

نڅا کوي. مګر دا یوازې پېل دی. د سولې د عامل په توګه د ټولو خواوو جدي هڅو او قربانۍ ته اړتیا ده.

متحده ایالات، ایتلافي ملګري، طالبان، د افغانستان حکومت، نور افغان مشران، او پخپله د افغانستان خلک، ټولو ته په کار ده چې پایداره سولې ته د رسېدو لپاره اړین تحرُک وکړي.

دا تړون به هیڅ معنی ونلري، او د نن ورځې ښه احساس به دوام ونلري، که چیرې موږ پر شوو ژمنو ونه دریږو، که هر څه سم پر مخ ولاړ شي، نو د افغانستان راتلونکی هم د افغانانو لخوا ټاکلکیږي؛ او د متحده ایالاتو ـ طالبانو تړون همدېته زمینه برابروي.

دلته زموږ په اړه داسي ده چې د طالبانو لخوا کوم ګامونه اخیستل به دغه تړون بریالي کړي.

لومړی: د القاعدې او نورو ترهګرو ډلو سره د اړیکو پرې کولو ژمنې عملي کړئ. داعش ته ماتې ورکولو لپاره مبارزه جاري وساتئ. د تیرې اونۍ په پراخه کچه په تاوتریخوالي کې د کمښت په پایله کې د ټولو افغان وګړو، نارینه او ښځینه ، ښاري او کلیوالو زیاتې خوشالۍ او راحت ته ښه راغلاست ووایئ، د تاوتریخوالي کموالې ته خپل ځان په دوامدار ډول وقف کړئ. د تاوتریخوالي د پام وړ کموالی به د سولې لپاره شرایط رامنځته کوي ، او د هغې نه شتون به د ناکامې لامل وي. ټول افغانان له ویری پرته د سوکاله ژوند مستحق دي.

د افغانستان له حکومت، نورو سیاسي مشرانو، او مدني ټولنو سره کښیني، او د خپل هیواد د سیاسي لارې نقشې باندې خبرې وکړئ.

صبر او زغم ولرئ، حتی کله چې نا امیدي هم وي. د خپل هیواد بډایه تنوع ته درناوی وکړئ او د ټولو لید لوري او نظرونه واورئ. افغان حکومتونه په دي برخه کې پاتې راغلي وو.

د ۲۰۲۰ کال افغان حکومت، او په حقیقت کې د۲۰۲۰ افغانستان د ۲۰۰۱ کال په څیر نه دی. د ښځو او انجونو لپاره ترلاسه شوی تاریخي پرمختګ ومنئ او پر دي اساس د

ټولو افغانانو د ګټې لپاره جوړښت ولرئ. په راتلونکې افغانستان کې باید هر کس د خدای لخوا ورکړل شوي حقونه ولري.

که تاسي دا ګامونه پورته کړئ، که تاسي دا لاره وساتئ او د افغانستان حکومت او نورو افغان سیاستوالو سره خبرو اترو ته ژمن اوسئ، موږ او د نړیوالې ټولنې پاتې برخه چې نن دلته راټول شوي یوو، متقابلاً پرمختګ ته چمتو یو.

زه پوهیږم چې د بریا اعلانول به اندیښنه وي، مګر بریا، د افغانانو لپاره بریا، یوازې هغه وخت ترلاسه کیدی شي کله چې دوی په سوله او هوساینه کې ژوند وکړي. د متحده ایالاتو لپاره بریا یوازې هغه وخت ترلاسه کیدی شي چې امریکایان او زموږ متحدین نور له افغانستان څخه د ترورېزم د ګواښ ویره ونه لري، او موږ به هر هغه څه وکړو چې زموږ د خلکو د ساتنې لپاره یې اړتیا وي. متحده ایالات به په ټولو خواو فشار راوړي ترڅو د یو سوکاله، پرمختللي، او خپلواک افغانستان هدف ته رسیدو لپاره ژمن واوسي؛ د ناوړه بهرنۍ لاسوهنې څخه پاک افغانستان چې پکې د ټولنې ټول بڼونه اوریدل کیږي، دوامداره سولې ته د رسیدو لپاره دا یوازینۍ لار ده، همدا یوازینۍ لار ده؛ زموږ د ټولو لپاره، او تر ټولو مهم د امریکایانو او افغانانو د امنیت لپاره، دا باید وشي.

مننه [۲۳۸].

[۲۳۸] د پمپیو وینا له انګریزي څخه پښتو ته لیکوال ژباړلې، انګریزي بڼه یې:
https://www.state.gov/secretary-michael-r-pompeo-at-afghanistan-signing-ceremony/UARY ۲

## د تړون د لاسلیک مراسمو کې د ملا عبدالغني‌برادر د وینا متن

بسم الله الرحمن الرحیم
نحمده و نصلي علی رسوله الکریم، اما بعد:

له تاسې ټولو معززو میلمنو او حاضرینو څخه چې زمونږ د هیواد په اړه پدې تاریخي غونډه کې مو ګډون کړی، مننه کوم او ښه راغلاست درته وایم.

د افغانستان اسلامي امارت او امریکا ترمینځ کامیاب مذاکرات او توافق د افغانستان د مجاهد ولس او نړۍ په ګټه یو مثبت اقدام دی اوټولو ته یې مبارکي وایم. د افغانستان اسلامي امارت له امریکا سره د شوې توافقنامې عملی کولو ته ژمن دی. همداشان غواړي دیوه منظم نظامي او سیاسي قوت په توګه له خپلو ګاونډیانو، د سیمي او نړۍ له هیوادونو سره مثبتې اړیکې ولري او په سیمه او نړۍ کې رغنده رول ترسره کړي.

د افغانستان ولس د تیرو څلورو لسیزو راهیسی ډیر کړاوونه ګاللي دی. زه هیله لرم له افغانستان څخه د ټولو خارجي قواوو په وتلو سره افغان ولس د اسلامي نظام تر سیوري لاندې د ارام ساه واخلي او سوکاله ژوند پیل کړي ، ټول د هیواد آبادي او ملي یووالي ته متوجه شي. له همدې کبله، په ټولو افغاني جهتونو ژغ کوم چي په صادقانه ډول سره، د یوه خپلواک، قوي اسلامي نظام لپاره د مذاکراتو میز ته را وړاندی شي ترڅو په اتفاق سره په اسلامي ارزښتونو او ملي ګټو راټول شو.

په پای کي د قطر هیواد له محترم امیر شیخ تمیم بن حمد آل ثاني، له خارجه وزیر او د صدراعظم له مرستیال محترم محمد بن عبدالرحمن آل ثانی او د قطر هیواد له نورو چارواکو څخه چي د مذاکراتو په اوږده بهیر کي یې د سولې د پروسې سره مرسته کړي، سهولتونه یې برابر کړي او په دې لاره کي یې زحمت ایستلی مننه کوم. همداشان د پاکستان هیواد له هلو ځلو او هڅو څخه چې د سولې په برخه کې یې کړې مننه کوم همدا رنګه د چین، ازبکستان، ایران، روسیې، انډونیزیا، ناروې او نورو ټولو هیوادونو څخه چې د سولې د پروسې سره یې مرسته کړې مننه کوم. هیله لرم چې د افغانستان په بیارغونه کې ونډه واخلي.

والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

## د بهرنیو چارو وزیر مایک پمپیو د افغانستان د تړون د لاسلیک تر مراسمو وروسته په خبرې ناسته کې

د فبروری ۲۹مه، ۲۰۲۰

ټولو ته ماسپښین نېکمرغه ، نن ورځ د متحده ایالاتو او د امریکا ولس لپاره تاریخي ورځ ده. نن ورځ موږ په افغانستان کې د رښتوني سولې په لور پریکنده گام پورته کړ؛ لکه څنگه چې سفر پیل کیږي، دا لومړی گام دی.

نږدې ۱۹ کاله د مخه، امریکا د سپټمبر د یوولسمې تروریستې پیښې د عاملینو او د هغوی د ملاتړو د تعقیب لپاره او د داسې ناوړه برید د بیا پیښیدو څخه د مخنیوي لپاره یو مهم ماموریت پیل کړ. موږ لویې لاسته راوړنې درلودلې، ډیر څه مو تر لاسه کړل. موږ ډاډ ترلاسه کړی، چا چې پر موږ برید کولای شوای، نور افغانستان د هغوی او نورو تروریستانو لپاره خوندي ځای نه دی. او مو ویاړو چې د افغانانو لپاره مو د هغوی ژوند ور ښه کړی.

نن ورځ، په افغانستان کې سیاسي بحثونه آزاد او عمیق دي. نن ورځ، له ۹ ملیونو څخه ډیر زده کونکي په ښوونځیو کې زده کړې کوي، او ۳۹سلنه یې انجونې دي. نن ورځ، له ۵۷سلنې څخه ډیر افغانان لومړنیو روغتیایې خدماتو ته لاسرسی لري، په داسې حال کې چې دا په ۲۰۰۲ کال کې یوازې ۹سلنه و. القاعده خپل مشرتابه له لاسه ورکړ، موږ د القاعده مشرتوب له منځه وړي، اوس طالبان موافقه کوي چې القاعده به بیاځل هیڅکله په افغانستان کې خوندي پټنځای ونه لري.

مگر لکه څنگه چې د نن ورځې افغانستان د ۲۰۰۱ کال افغانستان نه دی، همدارنگه د ۲۰۲۰ کال نړی هم د ۲۰۰۲ کال په ډول نه ده. نن ورځ، متحده ایالات له داسي امنیتې ننگونو سره مخ دي چې څو کاله وړاندې د دغه ډول ننگونو تصور هم له ایران، چین، روسیې او بل کوم ځای څخه نه کیده.

ولسمشر ټرمپ دا نوی واقعیت پیژندلی دی. هغه په افغانستان کې زموږ د قربانیو او لاسته راوړنو په اړه پوهیږي، او درک کړې یې ده چې په افغانستان کې هراړخیزه، ټول شموله او دوامداره سوله یوازې د افغانانو لخوا راتلای او خوندي کیدلی شي.

نن ورځ، موږ ربښتونې يو. موږ د نوي نسل لپاره د سولې تر ټولو ښه فرصت لرو؛ کوم چې زموږ د سرتيرو، ډيپلوماټانو، سوداګرو، مرستندويه کارکونکو، ملګرو او پخپله افغانانو د سخت کار له امله لاسته راغلی.

نن ورځ موږ له هغه څه مخنيوی کوو؛ پوهيږو چې امريکا بايد د امپراتوريو په هديرې "افغانستان" کې د تل لپاره جګړه ونه کړي، غواړو چې د سولې راوستلو لپاره له افغانانو سره مرسته وکړو.

او موږ درناوی ورته لرو. موږ باور لرو چې د افغانستان خلک چمتو دي چې د خپل راتلونکې لپاره خپل مسير وټاکي.

نن ورځ، په تيرو ۱۹ کلونو کې، د لومړي ځل لپاره د يوې اونۍ جګړې کميدو وروسته، زه وياړم چې اعلان يې کړم چې متحده اياﻻتو د افغانستان له اسلامي جمهوريت او طالبانو څخه د سولې د خبرو اترو لپاره جلا جلا ژمنې تر لاسه کړې.

ډيره مهمه ده، د متحده اياﻻتو -طالبانو تړون کې؛ طالبان ژمنه کوي چې ترهګر هيڅکله بيا د افغانستان له خاورې څخه عمليات نشي کولی. موږ کومه تيروتنه نه کوو؛ د طالبانو په اړه د امريکايي تاريخ څېرکی په وينو ليکل شوی چې ډيری امريکايان، د ناټو متحدين، د ايتلاف ملګري او ډيری افغانان يې وژلي. او زه همدومره غوسه يم لکه د سپټمبر د يوولسمی په ورځ، کله چې ما په ټلويزون ليدله چې القاعده زموږ دوه ګونې لويې ودانۍ را نړوي.

زموږ زړور سرتيري، روزل شوې استخباراتي کسان، او د نړۍ په کچه تکړه ډيپلوماټان چې په کندهار او هلمند او ټول افغانستان کې يې خدمت کړی دی، په ډير ښه ډول پوهيږي چې زما مطلب څه دی، دوی پوهيږي چې زما اصلي هدف څه دی. او موږ پوهيږو چې له چا سره معامله کوو. که طالبان پر خپلو ژمنو ونه دريږي، ولسمشر ټرمپ او د هغه ټيم به؛ د هغه څه په کولو کې زړه نا زړه نه شي کو م چې د امريکايانو د ژوند خوندي کولو لپاره اړين وي.

که له بلې خوا، طالبان خپلې ژمنې عملي کړي، نو متحده اياﻻت به د شرايطو پر اساس د سرتيرو د وتلو مسؤليت ولري. د وتلو معنی دا ده چې په يونيفورم کې زموږ سړي او

میرمنې به لږ خطرونه پر ځان ومني، زموږ مالي بوج به کم شي، او زموږ زړور سرتیري به بیرته کورونو ته راشي. دا امید لرونکی شیبه ده، مګر دا یوازې پیل دی. په ډیپلوماتیکه برخه کې د یوې سترې معاملې لپاره سخت کار ته اړتیا ده.

په پای کې، اجازه راکړئ په مستقیم ډول هغو کسانو ته خبرې وکړم چې په افغانستان کې یې پانګونه کړې.

لومړی، د امریکا نظامي او استخباراتي پوځیانو ته، زه پوهیږم چې ځینې ستاسې به ممکن د پنځم یا شپږم ځل لپاره په دنده کې یاست، او ممکن لا زیات د کور له آرامۍ څخه لرې و اوسئ.

د سي آی اې د رییس په توګه[۲۳۹]، دا زما ویاړ و چې دې خطرناک دښمن ته تر ګوزار وروسته؛ د ګوزار ورکولو په معامله کې له تاسي سره ملګری وم. ستاسې له جملې ډیرو یې خپلو ورونو او خویندو ته د درناوي په خاطر تور او سپین کمیسونه"**کفنونه**" ور اغوستي ترڅو خپل هیوادوال مو په سوله او امنیت کې ژوند وکړي. موږ به هغه څه له لاسه ورنکړو چې دوی "**وژل شوو**" او تاسي د وینو، خولو او اوښکو له لارې ګټلي دي. تاسي زموږ د متحدینو او افغان همکارانو تر څنګ امریکا خوندي ساتلې ده. تاسي د افغانستان خلکو ته د روښانه راتلونکي لپاره د دې فرصت په برابرولو کې مرسته کړې.

دویم، زموږ د ناټو متحدینو او نورو ایتلافي ملګرو ته چې زموږ په څنګ کې یې قربانۍ ورکړې، موږ به تاسي او ټولو هغو هیوادونو ته؛ چې د دغه سولې تړون څخه ملاتړ کوي، درناوی کوو، که دا ناروې وي، یا آسټرالیا یا جاپان یا زموږ کوم بل ارزښتناک ملګري او شریکان، موږ پوهیږو چې تاسي زموږ محتاط امید له خپلو مشرانو سره شریک کړی.

د پاکستان په ګډون د افغانستان ګاونډیو ته، موږ دې تاریخي تړونونو ته د رسیدو په برخه کې ستاسي د هڅو له امله مننه کوو، په ډیر ښکاره ډول هیله او تمه لرو چې تاسي به د یوه سوکاله افغانستان د ودې لپاره د خپلې برخې مرستې ته دوام ورکړئ، ترڅو هېواد او سیمې ته د تلپاتې سولې له امله یې ګټې ورسیږي.

---

[۲۳۹] پمپیو له اوسنې دندې مخکې د سي آی اې رئیس و.

او د افغانستان خلکو ته، دا ستاسي وخت دی، له ۱۹۷۹کال راهیسي جګړو ستاسي هیوادوال ځورولی دي. نور نو هیڅ تاوتریخوالی نه شته. نور ګډوډې نه شته. موږ به د ټولو اواز واورو؛ د ځوانانو او سپین ږیرو، نارینه او ښځینه و، له هرې سیمې، هرې قبیلې، هر قوم او هر مذهب څخه. ځینې ډلې به له شکه پرته راپورته شي او غواړي به چې زموږ ښه کار خراب کړي. موږ باید پر دوی ږغ وکړو او د خرابۍ لپاره د دوی د هڅو او کړنو مخنیوی وکړو.

زه به له ټولو خواو سره د سولې د تعقیب او ښه پوهاوی لپاره له نږدې کار وکړم، لکه څرنګه چې په مقدس کتاب کې راغلي: "کوم څوک چې له تاسي څخه له ژوند سره مینه لري او غواړي چې ډیرې ښې ورځې ووینې، خپله ژبه دې له بدو، او شونډې له دروغ ویلو څخه وساتي؛ له بدو کارونو څخه مخ واړوئ او ښه کارونه وکړئ. د سولې په لټه کې شئ او تعقیب یې کړئ."

نن موږ د سولې په لټه کې یو. موږ به یې تعقیب ته دوام ورکړو. مننه، زه خوښ یم چې ستاسي ځینو پوښتنو ته ځواب درکړم.

د فرانس پریس خبري اژانس د خبریال **پوښتنه**: مننه ښاغلی، زه غواړم پوهه شم چې کوم شی به ستاسي د وتلو مخه ونیسي؛ داچې طالبان تړون ته درناوی ونکړي.

ایا دا هر څه د تروریزم پروړاندې ژمني دي، یا دا د خبرو اترو پایله ده، که د بین الافغاني خبرو پایله، پدې معنی چې د بشپړ وتلو مهال ویش ۱۴ میاشتې دی، ایا طالبان به د تړون بشپړ کېدو ته ژمن وي، او له هغه وروسته د بین الافغاني خبرو تړون، یا داچې یوازې په مذاکراتو کې پرمختګ وشي.

**پمپیو**: داچې نن موږ دلته یو، ددې هدف تر لاسه کولو لپاره مو ډیرې میاشتي کار کړی، د یو بل سره د تړلو تفاهمونو د پلي کېدو لپاره هوکړه لیکونه شته چې وضاحتونه پکې شوې.

زه ډاډه یم چې ټول د افغانستان حکومت، پخپله موږ او طالبان په شوو ژمنو او ځواب ویلو په سم ډول پوهیږي؛ نه یوازې د امریکایی ځواکونو د وتلو د سرعت او شدت په اړه، بلکې د ایتلافي ځواکونو او نور ملاتړي چې متحده ایالات یې چمتو کوي؛ موږ

ژمنې کړې چې د افغان حکومت سره به د امنیت تامینولو کې مرسته او دوام ورکوو، خو زموږ تمه ده چې طالبان به په خپلو کړو ژمنو عمل وکړي.

مګر هیڅ څوک باید حیران نه شي، متحده ایالات به هر هغه څه وکړي چې د امریکا د خلکو خوندي ساتلو لپاره یې اړتیا وي. او که چیرته طالبان د ژمنو پوره کولو کې پاتې راشي، ولسمشر ټرمپ هغومره سولې ته ژمن دی څومره چې هغه ډاډ ترلاسه کوي چې د امریکا خلک به هیڅکله له افغانستان څخه یو ځل بیا تر برید لاندې را نه شي.

د قطر تلویزیون  خبریال عبد الله المرقي **پوښتنه**: جلالتمآب، تاسې په سیمه او نورو برخو کې د متحده ایالاتو د متحد په توګه د قطر رول څنګه ارزوئ؟

**پمپیو**: د قطر ملت زموږ خورا مهم شریک دی چې دې شیبې ته موږ را ورسیدو. کله چې موږ په سړک کې خنډونه ووهل، له خنډونو د وتلو لپاره یې دوی  مرسته وکړه. دوی موافقه کړې وه چې د خبرو اترو د پام وړ برخې کوربه توب وکړي، کوم چې ترسره شوي او تاسې یې نن ورځ ګورئ. موږ د دې قدر کوو او موږ له دوی مننه کوو.

زه د قطر د امیر او زما له سیال"**د قطر بهرنیو چارو وزیر**" سره همدا نن ګورم، چې له دوی څخه د تر سره شوې مرستې مننه وکړم، دوی ته به روښانه کړم چې موږ  تمه لرو چې دوی به زموږ سره د سولې په لاره کې مرستې ته دوام ورکړي،

دې مرحلې ته رسیدو کې دوی مهم شریکان وو، موږ په دوی حساب کوو تر څو د افغانستان خلکو ته د همداسې یوې شیبې ته رسیدو کې خپلو هڅو ته دوام ورکړي.

د سي بي ایس نیوز خبریالې کریسټینا روفیني **پوښتنه**: مننه ښاغلی، لکه څنګه چې هرڅوک پوهیږي، همدا نن د امریکا دفاع وزیرایسپر په کابل کې د ولسمشر غني سره ګډه اعلامیه لاسلیک کوي، او زه حیرانه یم چې ایا د دې معنی دا ده چې متحده ایالات، تاسي د ټاکنو پایلې په رسیمیت منئ، مګر کومه اعلامیه چې د امریکا د بهرینو چارو وزرات لخوا خپره شوې، هلته ویل شوې چې د ټاکنو پایلې موږ نوټ کړې، آیا تاسي ډاکټر غني د افغانستان د راتلونکي ولسمشر په توګه په رسمیت پیژنئ؟

او زما دوهمه پوښتنه دا ده: ولې تاسي اړتيا احساسوله چې نن ورځ د لاسليک مراسمو کښتون ولرئ، او سره له دې چې راغلي ياست، ولي مو په خپله تړون لاسليک نه کړ.

**پمپيو**: هو، دا سند د دوو ښاغلو "**خليلزاد او ملا برادر اخوند**" لخوا لاسليک شوی و، دوی د دې لپاره ډېر کار او زحمت ايستلی وو، چاچې په دې برخه کې نه ستړي کيدونکی کار کاوه، چا چې خپل ډېر وخت او هڅې د همدې لپاره قرباني کړې وې او چا چې خپله انرژي دهمدې لاسته راوړلو لپاره په کار اچولې وه. دې ټکي ته په پام سره، دا مناسبه وه چې دواړه مذاکره کونکي، دوه لوړ پوړي مذاکره کونکي، هغه سند عملي "**لاسليک**" کړي چې دوی د افغانستان د گټو لپاره وړاندې کړی.

ما غوښتل چې دلته يم، ځکه دا يوه تاريخي شيبه ده. دا يو تاريخي فرصت دی. ما د يو سرتيري په توگه دنده ترسره کړې. زه په هغه قربانيو پوهيږم چې زموږ ډيری ځوانانو او ميرمنو په افغانستان کې ورکړي دي،

زه ژمن يم چې د هغه شمير نارينه وو او ښځينه وو لپاره چې اوسمهال په ځلورم، پنځم او يا شپږم سفر باندي افغانسان کې دي، د هغوی لپاره خطر را کم کړم، زه ژمنه کوم او غواړم چې ډاډ تر لاسه کړم چې په والتر ريډ کې کم شمير ځوان سړي او ميرمنې چې هلته ناستې دي، بل خوا کم شمير ځوانان او ميرمنې چې هيڅکله بيرته خپلو کورنيو ته نه شول ستانه.

زه هوډ لرم چې ډاډ ترلاسه کړم چې له افغانستان څخه بيا هيڅکله ترهگريز بريد ونه شي. او زه فکر کوم چې اوس موږ د يو ريښتيني فرصت په څنډه کې ناست يو، زه په شخصي توگه، هر هغه څه چې زه يې د متحده ايالاتو د بهرنيو چارو وزير په توگه کولی شم، هغه کوم، او سختې ډيپلوماټيکې هڅې به وکړم تر څو هغې سولې ته لاره ومومو کوم چې موږ يې په لټه کې يو

په افغانستان کې د بدلونونو او لاسته راوړنو په اړه ما خبرې وکړې، کوم چې زموږ د ورتگ له امله شوې، اوسنی افغانستان د هغه په پرتله يو ډير توپير لرونکی هيواد دی کله چې متحده ايالات هلته د ۱۱/۹ پېښو د غچ اخيستلو په موخه ولاړل.

موږ ډېر کار وکړ، د امریکا خلکو لویه قرباني ورکړه؛ نه یوازې زموږ د عسکرو وینه، بلکې سرچینې، وخت، ټول هغه کار چې د استخباراتو ټیمونو، زموږ ډیپلوماټانو هلته په ځمکه ترسره کړي دي. زه غواړم ټولو هغو کړنو ته په کتو چې موږ په لسیزو کې تر سره کړي، دلته حاضر شم، او د دوی د قربانیو مننه وکړم. هرڅوک پوهیږي چې دا لاسته راوړنه څومره مهمه ده، زه ددې لپاره دلته یم چې یو له بل سره خبرې وکړو چې د دغه بهیر د پرمختګ لپاره پر افغانانو د فشار په برخه کې مرسته وکړو.

ستاسو لومړی پوښتنه؛ په رښتیا هم د افغانستان دننه د سیاسي بهیر په اړه ده. موږ هر یو افغان ته د ګډون لپاره اړتیا لرو. ما په خپلو څرګندونو کې پدې اړه خبرې کړې. دوی ټول باید ژمن پاتې شي. دوی ټول باید پوه شي چې د دوی تر ځانې ګټې، بل لوی شی "هدف" شتون لري. کوم څه چې دوی تر لاسه کړي، هغه باید افغانانو ته وسپاري.

د افغانستان خلک سوله غواړي. تاسي یې لیدلی شئ. که تاسي د دې اونۍ عکسونه ولیدل، دا یو ویاړ دی چې په لارو کوڅو کې افغانان ګرځیدل، مخکې تر دې دوی داسې نه شوای ګرځیدلای، مګر په دې اونې کې دوی نڅا کوله او د سولې لمانځنه یې کوله.

د افغانستان خلک د همدې فرصت لپاره ډېر تږي دي کوم چې اوس موږ دوی ته وړاندې کړی، او هر افغان مشر مسؤلیت لري چې د دوی خوشي ته ژوره کتنه وکړي او افغانستان ته سوله راولي. دا یې وخت دی. فرصت زموږ په مخکې دی.

طالبانو ژمنه کړې چې له القاعدې سره اړیکې پرې کوي، دا تاریخي کړنه ده، دوی مسؤلیت لري چې پر خپلې ژمنې باندې عمل وکړي. دوی ژمنې کړې چې د تاوتریخوالې کچې راټیټولو ته دوام ورکړي. دوی مسؤلیت لري پدې ژمنې باندې هم عمل وکړي. کله چې دوی دا کار وکړي، نو دوی به پوه شي چې پدې ځای کې فرصت شتون لري، چې نړیواله ټولنه یې غوښتنه کوي چې افغانستان یو سوله ایز ځای وي، او د افغانستان خلک په پراخه کچه د هغه فرصت مستحق دي چې نن ورځ رامنځته شوی، او ما غوښتل چې د همدې خبرو لپاره دلته واوسم.
له تاسي ټولو ډېره مننه چې نن له ما سره واست.[۲۴۰]

[۲۴۰] د پمپیو د خبرې ناستې انګریزي متن پښتو ته لیکوال ژباړلې، انګریزي بڼه یې:

**د متحده ایالاتو سره د اشغال د خاتمې د توافق په اړه د افغانستان اسلامي امارت د زعیم امیرالمؤمنین شیخ الحدیث مولوي هبة الله اخند زاده (حفظه الله) پیغام**

بسم الله الرحمن الرحیم

**اللَّهُ أَكْبَرُ كَبِيرًا وَالْحَمْدُ لِلَّهِ كَثِيرًا وَسُبْحَانَ اللَّهِ بُكْرَةً وَأَصِيلًا.**

**الحمد لله الذي صدق وعده ونصر عبده و اعز جنده وهزم الأحزاب وحده والصلوة والسلام على من لانبي بعده وعلى اله واصحابه الذين نشروا دينه، امابعد:**

د ۲۰۰۱ م کال د اکتوبر په ۷ مه نیټه چې زموږ په خاوره د امریکا په مشرۍ ائتلاف تجاوز کړی وو، اسلامي امارت د الله تعالی په نصرت، د افغان میړني ولس په استازولۍ په دې وتوانید چې له شا او خوا نولسو کلونو جهاد او مبارزې وروسته بالآخره د افغانستان څخه داشغال د خاتمې لپاره توافق ته ورسیږي.

دا بریا د ټول مسلمان او مجاهد ولس، وروڼو او خویندو مشترکه بریا ده چې نیږدې دوه لسیزې یې په سر او مال خورا درنې او تاریخي قربانۍ ورکړې دي.

له افغانستان څخه د ټولو بهرنیو ځواکونو د بشپړ وتلو او په راتلونکي کې د هیڅ ډول مداخلې د نه کولو توافق یوه لویه بریا ده.

اسلامي امارت د دغې سترې کامیابۍ په مناسبت د ولس بیلابیلو اقشارو، په خاص ډول مجاهدینو، د شهیدانو کورنیو، زندانیانو، ټپیانو، معیوبینو، مهاجرینو او ټول ولس ته د زړه له کومې مبارکي وایي او دا خورا لویه فتحه د الله تعالی د نصرت او د مجاهدینو د سرښندنو، د خپل ملت د اخلاص، هلو ځلو، ستړیاوو او قربانیو نتیجه بولي.

غواړم د دغې سترې بریا څخه د را وروسته حالاتو په اړه د مجاهدینو او ټول ملت توجه لاندې ټکو ته را واړوم:

https://www.state.gov/at-a-press-availability-after-the-afghanistan-signing-ceremony/

ــ له امریکا یې جهت سره د اشغال د پای ته رسیدو په سر توافق چې په نتیجه کې یې زموږ ولس له اشغال څخه نجات پیدا کوي، خورا مهمه بریا  او د الله تعالی ځانګړی احسان، نصرت او لوی انعام دی، موږ باید دا کامیابي د چا کمال ونه بولو بلکې د الله تعالي انعام او د ټول مجاهد ولس د قربانیو محصول یې وګڼو.

ــ د اسلامي امارت لخوا له امریکایي جهت سره شوي توافقات چې د شرعي اصولو په پام کې نیولو سره ترسره شوي او د نړیوالو معیارونو سره هم برابر دي، د ټولو مجاهدینو او افغان ولس لخوا عهد او وعده شوه چې په ټولو باندې یې عملي کول لازم دي، د اسلامي امارت هیڅ یو مسئول او فرد او په مجموع کې هیڅ هیوادوال باید د دغو توافقاتو نقض ونه کړي او په دې اړه ټول ځانونه مکلف وبولي، ځکه په اسلام کې غدر او فریب ځای نه لري او لویه ګناه بلل کیږي، البته که د مقابل لوري له خوا د توافقنامې مخالفت او نقض وشي نو ټول ولس به بیا هم د تیر په څیر کلکې دفاع ته آماده وي.

ــ د افغانستان مسلمان ملت خصوصا مجاهدین به د تر لاسه شوو بریاوو په اړه د الله تعالی شکر ادا کوي، ځانونه به لا ډیرې تقوا، امانتدارۍ او دیانت ته متعهد بولي، له تکبر، غرور، په نورو ځان برتره ګڼلو او ځان مستحق یا ممتاز بللو څخه به په کلکه ځان ساتي، ځکه دا د جهاد او فتحې له روح سره په تضاد کې دي.

ــ له امریکایي جهت سره بریالیو مذاکراتو ثابته کړه چې هر وړ پیچلو موضوعاتو ته حل لاره موندل کیدای شي، د دې مذاکراتو بریا د اسلامي امارت له اړخه ټولو داخلي اړخونو ته دا پیغام لیږدوي چې موږ د یوه معقول او عادلانه حل لپاره چمتو یو، را ځئ د خپل ولس د دیني او ملي معیارونو په رڼا کې د مسائلو د حل لپاره تلاش وکړو، د کابل اداره دې هم د ولس له مخالفته لاس واخلي.

ـــ اسلامي امارت د ټولې نړۍ او په تیره بیا د سیمې له هیوادونو سره په دوه اړخیزو مثبتو اړیکو باور لري او له ګاونډیانو سره د ښه ګاونډیتوب اصولو ته ژمن دی.

ـــ موږ خپل ځوریدلي ولس ته ډاډ ورکوو چې د عادلانه او واقعي اسلامي نظام په سیوري کې به د هیواد ټولو نارینه او ښځینه وو ته  د هغوی حقه حقوق ورکول کیږي.

ــ د اسلامي امارت په مخالفت کې چې چا برخه اخیستې وي او په عموم کې هرهغه څوک چی د اسلامي امارت څخه تشویش لري، زموږ له طرفه په تیرو ټولو اعمالو ورته عفوه او بخشش دی، د راتلونکي لپاره ورته د اسلامي اخوت، ملي وحدت او ښه ژوند غوښتنکي یو.

ــ اسلامي امارت به د معیاري (دیني او عصري) تعلیم، کار، تجارت، ترقي ، آبادۍ او په ټولو اجتماعي برخو کې د پرمختګ زمینه سازي کوي، ځکه دا د افغانانو بنیادي حق او زموږ د هیواد د پرمختګ او د ولس د ښیرازي او هوسایي لپاره حیاتي او لازمي اړتیا ده.

ــ د اسلامي امارت مجاهدین دي خپل صفونه نور هم منظم، فعال او پیاوړي کړي تر څو خپل لوی هدف ته چې د اشغال د بشپړې خاتمې وروسته د اسلامي نظام قیام او د ولس سوکالي ده ورسیږي او په راتلونکي کې د هر ډول بدو پېښو مخنیوی، د اسلامي نظام حفاظت او د سرتاسري سولې او امن د ټینګېدو په لاره کې له احتمالي خطرونو سره مقابلې او د ولس خدمت ته چمتو وي.

ــ اسلامي امارت د مؤمن ولس له بیلابیلو اقشارو علماء کرامو، قومي مخورو، منورینو، پوهانو، استادانو، شاګردانو او عام ولس څخه غوښتنه کوي، لکه څنګه چې د اشغال د خاتمې په کار کې په پوره اخلاص د خپلو مجاهدینو ورونو سره ودریدل، دغه راز د داخلي موضوعاتو د حل په برخه کې هم خپل اتحاد او همکاري جاري وساتي تر څو دغه پړاو هم د بریا منزل ته ورسیږي او افغانستان له عادلانه اسلامي نظام او سولې څخه برخمن شي.

ــ په اخر کې د قطر هیواد او د هغه له محترم امیر شیخ تمیم بن حمد آل ثاني څخه مننه کوم چې د مذاکراتو لپاره یې سهولتونه برابر کړي او په اخلاص سره یې له دې پروسې سره مرسته کړې ده. همدارنګه، د پاکستان، ازبکستان، چین، ایران، روسېې، انډونیزیا، ترکمنستان، کرغیزستان، عربي متحده امارات او نورو ټولو هیوادونو څخه چې د مذاکراتو په بهیر کې یې مرسته کړې مننه کوم او کور ودانی ورته وایم. والسلام

د افغانستان اسلامي امارت زعیم امیرالمؤمنین شیخ الحدیث مولوي هبة الله اخند زاده

۱۴۴۱/۷/۵هـ ق، ۱۳۹۸/۱۲/۱۰هـ ش، ۲۰۲۰/۲/۲۹م

## د لاسلیک شوي توافقنامې متن

په افغانستان کې د سولې راوستلو لپاره د افغانستان اسلامي امارت، چې متحده ایالتونه یې د دولت په توګه نه پیژني او د طالبانو په نوم یې پیژني، او د امریکا د متحده ایالتونو تر منځ توافقنامه

۵/ رجب/ ۱۴۴۱هـ ق – ۱۰/ حوت / ۱۳۹۸هـ ش – ۲۹ / فبروري/۲۰۲۰م

د هر اړخیزې سولې توافقنامه له څلورو برخو جوړېږي:

۱ - هغه تضمینونه او د تنفیذ میکانیزمونه چې د هرې ډلې یا شخص لخوا د متحده ایالتونو او د هغوی د متحدینو د امنیت په خلاف د افغانستان د خاورې د کارولو څخه مخنیوی وکړي.

۲ - له افغانستان څخه د ټولو بهرنیو ځواکونو د وتلو لپاره تضمینونه، د تنفیذ میکانیزمونه او د یوه مهالویش اعلان.

۳ - د نړیوالو شاهدانو په حضور کې د بهرنیو ځواکونو د بشپړ وتلو د تضمینونو او د مهالویش تر اعلان وروسته، او د نړیوالو شاهدانو په حضور کې د دې تضمینونو او اعلان سره چې د افغانستان خاوره به د متحده ایالتونو او د هغوی د متحدینو د امنیت په خلاف نه کارول کیږي، د افغانستان اسلامي امارت، چې متحده ایالاتونه یې د دولت په توګه نه پیژني او د طالبانو په نوم یې پیژني، به له افغان جهتونو سره په ۱۵/ رجب/ ۱۴۴۱هـ ق – ۲۰ / حوت / ۱۳۹۸هـ ش – ۱۰ / مارچ / ۲۰۲۰م تاریخ بین الافغاني مذاکرات پیل کړي.

۴ - دایمي او هراړخیز اوربند به د بین الافغاني ډیالوګ او مذاکراتو په اجنډا کې یوه موضوع وي. د بین الافغاني مذاکراتو ګډونوال به د تطبیق د ګډو میکانیزمونو په شمول د یوه دایمي او هر اړخیز اوربند په نیټې او څرنګوالي بحث وکړي، او د افغانستان د راتلونکي سیاسي نقشې له بشپړیدا او توافق سره به یې د یوې برخې په توګه اعلان کړي.

پورتنۍ څلور برخې يوه له بلې سره مرتبطې دي او هره برخه به د توافق شوي مهالويش او توافق شويو موادو مطابق تطبيق شي. پر لومړنيو دوو برخو توافق، دوو وروستنيو برخو ته لار پرانيزي.

لاندې د توافقنامې هغه متن دی چې د پورتنۍ لومړۍ او دوهمې برخې تطبيق بيانوي. دواړو غاړو توافق کړی چې دغه دوې برخې يوه له بلې سره تړلې دي. په دې توافقنامه کې به د افغانستان اسلامي امارت، چې متحده ايالتونه يې د دولت په توګه نه پيژني او د طالبانو په نوم يې پيژني، مسئوليتونه په هغو سېمو کې وي چې د دوی تر ولکې لاندې دي، تر هغو چې د بين الافغاني ډيالوګ او مذاکراتو له لارې تر جوړجاړي وروسته نوی افغان اسلامي حکومت جوړ شي.

## لومړۍ برخه:

متحده ايالتونه ژمنه کوي چې د متحده ايالتونو، متحدينو او د ائتلافي شريکانو ټول نظامي ځواکونه، د ټول غير ډيپلوماټيک ملکي پرسونل، شخصي امنيتي قرارداديانو، روزونکو، مشاورينو او د حمايوي خدماتو پرسونل په ګډون، د دې توافقنامې له اعلان سره سم په څوارلسو "۱۴" مياشتو کې له افغانستان څخه وباسي، او په دې اړه به لانديني اقدامات کوي:

الف: متحده ايالتونه، د هغوی متحدين او ائتلاف به په لومړنيو يو سل او پنځه ديرش "۱۳۵" ورځو کې لانديني اقدامات کوي:

۱ - په افغانستان کې د متحده ايالتونو د ځواکونو شمير به اته زره او شپږ سوه (۸٦۰۰) ته راټيټوي او په ورته اندول کې به د هغوی د متحدينو او ائتلافي ځواکونو په شمير کې کمښت راولي.

۲ - متحده ايالتونه، د هغوی متحدين او ائتلاف به خپل ځواکونه له پنځو (۵) نظامي اډو څخه باسي.

ب: د دې توافقنامې په دوهمه برخه کې شته مسئوليتونو ته د افغانستان اسلامي امارت، چې متحده ايالتونه يې د دولت په توګه نه پيژني او د طالبانو په نوم يې

پیژني، د ژمنتیا او عمل سره به متحده ایالتونه، د هغوی متحدین او ائتلاف لاندیني اقدامات ترسره کوي:

۱ - متحده ایالتونه، د هغوی متحدین او ائتلاف به له افغانستان څخه د خپلو ټولو پاتې ځواکونو وتل په پاتې نهه نیمو میاشتو کې بشپړ کړي.

۲ - متحده ایالتونه، د هغوی متحدین او ائتلاف به خپل ټول ځواکونه له پاتې اډو څخه باسي.

ج: متحده ایالتونه د اعتماد جوړولو د یوه اقدام په توګه ژمن دي چې د ټولو اړوندو طرفونو په همږغي او تایید، له ټولو طرفونو سره پر یوه پلان سملاسي کار پیل کړي چې جنګي او سیاسي بندیان په چټکۍ خوشي شي. تر پنځه زره (۵۰۰۰) پورې د افغانستان اسلامي امارت، چې متحده ایالتونه یې د دولت په توګه نه پیژني او د طالبانو په نوم یې پیژني، بندیان، او تر زرو (۱۰۰۰) پورې د بلې غاړې بندیان به په ۱۵ / رجب / ۱۴۴۱هـ ق – ۲۰ / حوت / ۱۳۹۸هـ ش – ۱۰ / مارچ / ۲۰۲۰م تاریخ، د بین الافغاني مذاکراتو لومړۍ ورځې پورې، خوشي شي. اړوند طرفونه دا هدف لري چې په ورپسې درېو میاشتو کې پاتې ټول بندیان خوشي شي. متحده ایالتونه د دغه هدف د بشپړولو ژمنه کوي. د افغانستان اسلامي امارت، چې متحده ایالتونه یې د دولت په توګه نه پیژني او د طالبانو په نوم یې پیژني، ژمنه کوي چې د هغوی خوشي شوي بندیان به په دغه توافقنامه کې شوو مسئولیتونو ته ژمن وي او د متحده ایالتونو او د هغوی د متحدینو امنیت ته به ګواښ نه پیښوي.

د: د بین الافغاني مذاکراتو له پیل سره به متحده ایالتونه د افغانستان اسلامي امارت، چې متحده ایالتونه یې د دولت په توګه نه پیژني او د طالبانو په نوم یې پیژني، د غړو په خلاف د متحده ایالتونو د اوسنیو بندیزونو او د جایزې لسټ د اداري بیاکتنې بهیر په دې هدف پیل کړي چې دغه بندیزونه به د ۸ / محرم / ۱۴۴۲هـ ق – ۲۵ / اسد / ۱۳۹۹هـ ش – ۱۵ / اګست / ۲۰۲۰م تاریخ پورې لرې کړي.

هـ: د بین الافغاني مذاکراتو له پیل سره به متحده ایالتونه د ملګرو ملتونو د امنیت شورۍ له نورو غړو او افغانستان سره په دې هدف ډیپلوماتیکې هڅې پیل کړي چې

د ۲۴ / رمضان / ۱۴۴۱هـ ق – ۲۸ / ثور / ۱۳۹۹ هـ ش – ۱۷ / مئ/ ۲۰۲۰م تاریخ پورې د بندیزونو له نوملړ څخه د افغانستان اسلامي امارت، چې متحده ایالتونه یې د دولت په توګه نه پیژني او د طالبانو په نوم یې پیژني، د غړو نومونه وایستل شي.

و: متحده ایالتونه او متحدین به یې د افغانستان د ځمکنۍ بشپړتیا او سیاسي خپلواکۍ په ضد له ځواک او ګواښ څخه کار نه اخلي او نه به یې په کورنیو چارو کې لاسوهنه کوي.

**دویمه برخه:**

د دې توافقنامې له اعلان سره سم به، د افغانستان اسلامي امارت، چې متحده ایالتونه یې د دولت په توګه نه پیژني او د طالبانو په نوم یې پیژني، لاندیني اقدامات تر سره کړي، تر څو د القاعدې په شمول د هرې هغې ډلې یا شخص مخنیوی وکړي چې د افغانستان له خاورې څخه د متحده ایالتونو او د هغوی د متحدینو امنیت ګواښي:

۱ - د افغانستان اسلامي امارت، چې متحده ایالتونه یې د دولت په توګه نه پیژني او د طالبانو په نوم یې پیژني، به خپل هیڅ غړي او د القاعدې په شمول هیڅ ډلې او یا فرد ته اجازه ورنه کړي چې د افغانستان له خاورې څخه د متحده ایالتونو او د هغوی د متحدینو امنیت ته ګواښ پیښ کړي.

۲ - د افغانستان اسلامي امارت، چې متحده ایالتونه یې د دولت په توګه نه پیژني او د طالبانو په نوم یې پیژني، به یو څرګند پیغام ولیږي چې هر هغه څوک چې متحده ایالتونو او د هغوی متحدینو ته امنیتي ګواښ پیښوي په افغانستان کې ځای نه لري، او د افغانستان اسلامي امارت، چې متحده ایالتونه یې د دولت په توګه نه پیژني او د طالبانو په نوم یې پیژني، به خپلو غړو ته لارښوونه وکړي چې له هغو ډلو او افرادو سره همکاري ونه کړي چې د متحده ایالتونو او د هغوی د متحدینو امنیت ګواښي.

۳ - د افغانستان اسلامي امارت، چې متحده ایالتونه یې د دولت په توګه نه پیژني او د طالبانو په نوم یې پیژني، به په دغه توافقنامه کې د شویو ژمنو مطابق په افغانستان کې د متحده ایالتونو او د هغوی د متحدینو د امنیت له ګواښلو څخه د هرې ډلې یا

فرد مخنیوی کوي، او له جلب و جذب، روزنې او بسپنې ټولولو څخه به یې منع کوي او کوربه توب به یې نه کوي.

۴ - د افغانستان اسلامي امارت، چې متحده ایالتونه یې د دولت په توګه نه پیژني او د طالبانو په نوم یې پیژني، ژمنه کوي چې له هغو کسانو سره چې په افغانستان کې پناه اخلي یا د استوګنې غوښتنه کوي، د مهاجرت د نړیوالو قوانینو او په دغه توافقنامه کې د شوو ژمنو سره سم چلند کوي، تر څو دغه ډول افراد د متحده ایالتونو او د هغوی د متحدینو امنیت ته ګواښ پیښ نه کړي.

۵ - د افغانستان اسلامي امارت، چې متحده ایالتونه یې د دولت په توګه نه پیژني او د طالبانو په نوم یې پیژني، به هیڅ یوه بهرني وګړي ته چې د متحده ایالتونو او د هغوی د متحدینو امنیت ګواښي، ویزه، پاسپورټ، د سفر جواز او نور قانوني اسناد ورنه کړي چې افغانستان ته داخل شي.




انځور: ملا برادر اخوند او ډاکټر خلیلزاد د امریکا متحده آیالتونو او طالبانو ترمنځ "افغانستان ته د سولې راوستلو تړون" لاسلیک کوي

**دریمه برخه:**

۱- متحده ایالتونه به د ملګرو ملتونو د امنیت شورى لخوا د دې توافقنامې په رسمیت پیژندلو او تائید غوښتنه کوي.

۲ - متحده ایالتونه او د افغانستان اسلامي امارت، چې متحده ایالتونه یې د دولت په توګه نه پیژني او د طالبانو په نوم یې پیژني، یو له بل سره مثبتې اړیکي غواړي او هیله لري چې د متحده ایالتونو او د بین الافغاني ډیالوګ او مذاکراتو له لارې تر جوړجاړي وروسته د نوي افغان اسلامي حکومت تر منځ اړیکې مثبتې وي.

۳ - متحده ایالتونه به د بین الافغاني ډیالوګ او مذاکراتو له لارې تر جوړجاړې وروسته د نوي افغان اسلامي حکومت لپاره د بیارغولو اقتصادي مرستې وغواړي، او په کورنیو چارو کې به یې لاسوهنه نه کوي.

دغه توافقنامه چې په پښتو، دري او انګلیسي ژبو لیکل شوې ده، د قطر په پلازمینه دوحه کې په ۵ / رجب / ۱۴۴۱هـ ق – ۱۰ / حوت / ۱۳۹۸هـ ش – ۲۹ / فبروري / ۲۰۲۰م لاسلیک شوه، دریواړه متنونه یې مساوي اعتبار لري.

---

ملا عبدالغني برادر

د طالبانو د مشر سیاسي مرستیال او د قطر د سیاسي دفتر مشر

د افغانستان اسلامي امارت، چې متحده ایالتونه یې د دولت په توګه نه پیژني او د طالبانو په نوم یې پیژني، لخوا

---

ډاکټر زلمی خلیلزاد

د افغان قضیې د سیاسي حل لپاره د امریکا ځانګړی استازی

د امریکا د متحده ایالتونو لخوا

د مراسمو تر پای ته رسیدو وروسته، چې د غونډې له سالون څخه راووتلو، په لوی سالون کې چای، خواړه د جوسو اوبه ایښودل شوې وي، همدارنګه د نړیوالو خبرې رسنیو د استازو ګڼه ګوڼه وه، موږ هلته چای وڅښو، طالب مشرانو له رسنیو سره مرکې کولې.

متقي صاحب، عباس ستانکزي، شیخ دلاور، سهیل شاهین او ملا خیرالله خیرالله، هر یوه یې له رسنیو سره د تړون اړوند مرکې کولې.

او مایک پمپیو هم خبرې ناسته درلودله، او د خبریالانو په ګڼه ګوڼه کې را ګیر و.

موږ همدلته له متقي صاحب سره څو شیبې ودریدو، خو د امریکا بږغ خبریال خاورین چې زموږ (ځلاند او مطمئن) ملګری او دوست و، هغه راغی له متقي صاحب یې د مرکې غوښتنه وکړه، موږ دواړو هم د هغه غوښتنه متقي صاحب ته ور غبرګه کړه، چې مرکه ورسره وکړي.

متقي صاحب د امریکا بږغ له خبریال خاورین سره اوږده مرکه وکړه، مګر خاورین ونه شوای کولای چې هغه مرکه نشر کړي. په داسي حال کې چې لږ مخکې یې له موږ وغوښتل چې له هغه سره مرسته وکړو چې کوم طالب مشر مرکې کولو ته ورسره چمتو شي.

مارچ پر ۲۲مه، ملا احمدالله وثیق له ما (لیکوال) سره اړیکه ونیوله، ویې ویل چې خاورین صاحب هغه مرکه تر دې مهاله نه ده نشر کړي، او یا خو موږ ته هغه لینک نه دی معلوم، که د امریکا بږغ ټلویزون / راډیو د متقي صاحب د مرکې خپراوي اړوند کومه ستونزه لري، موږ ته دي هغه ویډیو او مرکه را وسپاري، ځکه په هغې مرکه کې پر ځینو مهمو مسایلو متقي صاحب خبرې کړي وي، تر څو یې تر ولس پوري ورسوو.

خاورین د مرکې د نه خپریدو په اړه ځلاند صاحب ته ویلي و:" مرکه مې د امریکا بږغ راډیو ټلویزون ادارې ته سپارلې، ایډیټ شوې، د خپریدو واک یې له هغوی سره دی، او زموږ د ادارې د قوانینو له مخې، د هغې مرکې ویډیو چاته نه شو ورکولای."

د تړون د لاسلیک د مراسمو پای ته رسیدو، او خبریالانو سره د ځینو طالبانو او مایک پمپیو له څرګندونو وروسته، سمدستي ملا برادر اخوند له مایک پمپیو سره ناسته درلودله، چې عباس ستانکزي او متقي صاحب هم پکې ګډون درلود، که څه هم متقي صاحب د مرکې کولو له امله ناستې ته لږ په ځنډ ورغی، خو له مایک پمپیو سره یې خپل نظر د افغان سولې او له امریکا سره د راتلونکو اړیکو په اړه شریک کړی و. او ستانکزي مایک پمپیو ته ویلي و چې ستاسي وینا پارونکي وه.

له مایک پمپیو سره تر ناستې وروسته ملا برادر اخوند، متقي صاحب، ستانکزي صاحب او ځینو نورو طالب مشرانو د ترکیې د بهرنیو چارو له وزیر مولود چاوش اوغلو سره لنډه لیدنه وکړه، او له هغه وروسته یې د ناروې او اندونیزیا د بهرنیو چارو له ښځینه وزیرانو سره په یو وخت کې د وخت د تنګوالي له امله لیدنه وکړه.

زه (لیکوال) او ځلاند هلته شریټون هوټل کې له بېلابېلو طالب مشرانو سره مخ شوو، هغو ټولو ځکه موږ پېژندلو چې د ټلویزون په پرده یې لیدلي وو، مګر موږ ځینې پېژندل او ډیر مو پکې نه پېژندل، ډیری یې د طالبانو د رهبري شورا غړي او د طالبانو د کمیسونو مشران وو. او ځینې پکې د کمیسونو مرستیال مشران او ځینې بیا د کمیسونو کلیدي غړي وو.

د تړون د لاسلیک له مراسمو وروسته، شریټون هوټل د امریکا/ناټو پر اصطلاح په پخوانیو ترهګرو (طالبانو) باندي ډک وو، لنګوټې، څادرونه، افغانۍ جامي، په پښو چمپل، ځینې بې خوبه، ځینې حیران، ځینې خوشاله، ځینې راتلونکې ته په اندیښنه کې، ځینو کلک هوډ چې کورنۍ جګړه ختمه شي، له ځینو سره اندیښنه چې د پخوانیو مجاهدینو په څیر کورنۍ جګړې ته ور ټېل وهل نه شي، هلته طالبان ډلې ډلې ګرځیدل او ځینې یې ناست وو.

د ځوانو طالبانو ترمنځ بیا ټوکې ټکالي، خوښۍ، او د هر یوه خوله له خندا ډکه وه.

شیخ عبدالبصیر صاحب او هلته ورسره ناستو دوو مشرانو له ما (لیکوال) څخه پوښتنه وکړه:" په ننیو مراسمو کې څه کمې وه، کوم څه وه چې هغه باید شوې وای؟"

هغوی ته مې وویل: په ټوله کې دا لویه لاسته راوړنه وه چې امریکایانو د خپلې ماتې سند نن ورځ له طالبانو سره لاسلیک کړ، که کوم کمی او یا کوچنۍ نیمگړتیا د مراسمو پر مهال وي، هغه دومره مهمه نه ده، موږ ته مهمه دا وه چې امریکایان دغه تړون لاسلیک کړي.

مگر هغو طالب مشرانو په ټینگار له ما (لیکوال) وغوښتل چې د مراسمو په اړه یو څه ورته ووایم.

هغوی ته مې وویل:"ځینې ملگري وایې چې ښه به وای چې تړون د مایک پمپیو لخوا لاسلیک شوی وای، او بل داچې د مایک پمپیو د پارونکو خبرو جواب ورکول شوی وای."

خو زما (لیکوال) په نظر، هر هغه کار چې طالبانو د الله ﷻ د رضا لپاره کړی، په هغه کې الله ﷻ دوی ته کامیابۍ ور په نصیب کړی، زه په همدې عقیده یم، چې نن ورځ هر څه و، هغه سم و، او الله ﷻ به یې د افغانانو په گټه تمامولي.

داچې ولې د مایک پمپیو د خبرو جواب ونه شو، زه په دې نظر یم چې هر وخت مات شوی لوری لوېې خبرې کوي، په نړۍ او زموږ په کلیو کې همدا اصول دي، چې مات شوی لوری غټې خبرې کوي، او گټونکی لوری نرمې او سمې خبرې کوي، نن همداسي وه، امریکا ماتې خوړلې او افغانانو گټلې، له طالبانو سره همدا مناسب وه چې نرمې خبرې یې کړې وای، او ملا برادر اخوند همدا کار وکړ."

مگر هلته ځینو ځوانو طالبانو همدا پورته دوې خبرې یو بل ته کولې[٢٤١]، ویل یې چې د مایک پمپیو د خبرو جواب باید شوی وای، او که تړون مایک پمپیو نه

---

[٢٤١] د امریکا-افغانستان ترمنځ امنیتي او دفاعي تړون هم په کابل کې د سپتمبر ۳۰مه ۲۰۱۴ کې د ډاکټر غني د ملی امنیت سلاکار حنیف اتمر او په کابل کې د امریکا د سفیر جیمز کننگهم ترمنځ لاسلیک شو. چې د امریکا له پاره دا تړون ډیر مهم و. مگر مراسمو ته یې نه د بهرنیو چارو او نه هم د دفاع وزیر راغلي وو.

مگر له طالبانو سره د تړون د لاسلیک لپاره د زلمي خلیلزاد حیثیت، په کابل او قطر کې د امریکا تر سفیرانو لوړ، او دارنگه په مراسمو کې د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پمپیو

لاسلیک کاوه، نو په کار وه چې د ملا برادر اخوند پر ځای بل مشر له خیلزاد سره د تړون پر متن لاسلیک کړی وای.

د مارچ پر ۴مه، ما (لیکوال) ته دکتور صالح وویل:"د طالبانو لخوا پریکړه شوې وه، که چیرته د تړون د لاسلیک مراسم د امریکا لخوا کم رنګه ښودل کیږي، نو طالبان یې باید کمرنګه ونه ښیې، ځکه که له دواړو لورو دغه مراسمو ته په کښته کچه کسان ورشي، او لاسلیک هم په کښته کچه کسان وکړي، د تړون حیثیت ته به زیات زیان ورسوي، که د امریکا لخوا هر څه کیږي، طالبان باید دغه مراسم له ارزښت ډک وښیې، نو ځکه پریکړه وشوه، که د امریکا لخوا په هره ټیټه او یا لوړه کچه ځوک د طالبانو – امریکا تړون لاسلیک کوي، د طالبانو لخوا به یې ملا برادر اخوند ځکه لاسلیک کوي، چې د تړون ارزښت قوي شي.

که چیرته امریکایانو ویلي وای چې په قطر کې د امریکا سفیر دي دغه تړون لاسلیک کړي، هم طالبانو منله، او ملا برادر اخوند به لاسلیک کوله.

بل داچې خلیلزاد په دي تورن دی چې لومړي بُن غونډه کې دده ډیر رول و چې د کرزي په مشرې یې حکومت را منځته کړ، او له طالبانو سره د امریکا د جګړې اړوند هم د ده نظر د بوش لپاره مهم و، اوس به خلیلزاد غوښتل چې هغه پخوانۍ تیروتنه جبران کړي، نو زموږ په فکر چې له مایک پمپیو څخه به خلیلزاد غوښتې وي چې د تړون د لاسلیک لپاره ده ته اجازه ورکړي، تر څو پخوانۍ سیاسي تیروتنه یې یو ډول جبران شي، او د افغانستان خلکو ته وښیې چې د سولې لپاره ده ډیره هڅه کړې ده."

---

هم ګډون کړی و. په داسي حال کې چې د لاسلیک تر مراسمو یوه ورځ مخکې د امریکا ولسمشر ټرمپ وویل:" دوحې ته د بهرینو چارو وزیر پمپیو لیږم، ډیر ژر به زما په لارښوونه هغه د طالبانو له استازو سره د تړون لاسلیک کیدو شاهد وي."

د فبروري پر ۱۵مه، صدرخیل صاحب وویل:"په قرارداد کې د ادارې د مشر لاسلیک اړین نه وي، اړینه دا وي چې مشر شتون ولري، د مشر په شتون کې دا معنی ورکوي چې د هغه په اجازه یې د ادارې کوم مهم شخص لاسلیک کوي."

ما (لیکوال) ته په دوبۍ کې د افغان تجارانو مشر حاجي صدرخیل د ډسمبر پر ۲۸مه وویل:" په دوحه کې مې د غونډې پر مهال له خلیلزاد سره هم ولېدل، هغه وویل چې مور مې راته ویلي چې د افغانستان د جګړې پای ته رسولو کې پوره کوشش وکړم، د مور دا وصیت مې پر ځای کوم، چې هغه ژوندي وي او خبره شي چې افغانستان کې جګړه ختمه شوه[۲۴۲]."

د تړون د مراسمو په ورځ، د ماښام لمونځ موږ د هوټل په کوچني مسجد کې په جماعت سره وکړ، انس حقاني هم هلته را پیدا شو، له لمانځه وروسته موږ هغه ته منتظر وو، خو دوو پاکستاني خبریالانو (هارون رشید او مشتاق یوسفزي) هغه بیخې نه پرېښود، موږ ډېر انتظار وکړ، بالاخره مو هغو پاکستاني پښتنو خبریالانو ته وویل چې موږ خپل منځو کې سره کینو، نور بس ده، خو هغوی ډېر سپین سترګې وو، زموږ خبرې یې هم پر ځان درنې تمامې کړې.

هیڅ ددې پلان او نیت نه و چې هلته به مشاعره کیږي، غوښتل مو همداسي ازاد مجلس وکړو، د نن ټکي اسیا مسؤل چلونکی فداء ډېر زیات کمالونه لري، په وخت یې مهمو مسایلو او کړنو ته پام کیږي، هغه وړاندیز وکړ، تر دې چې همداسي ناست یو، ښه به وي چې د نن ورځې په خوشالي کې مشاعره وکړو.

انس حقاني، ځلاند، د بینوا ویبپاڼې مشر خالد هادي، ملا احمدالله وثیق په دې ډله کې شاعران وو، د طالبانو د سیاسي تبصرو لیکوال عبدالرحیم ثاقب هم شتون درلود، متقي صاحب هم ژمنه کړي وه چې زموږ ناستې ته به ځان را رسوي، چې بیا هغه هم راغی.

د طالبانو د سیاسي دفتر ځوان کدرونه او غړي (عمار یاسر، نبراس الحق مسرور، مولوي هدایت الله او ځیني نور ...) هم هلته ناست وو، له متقي صاحب سره سلیمان اغا او احمدالله وثیق هم ملګري وو چې راغلل.

---

[۲۴۲] د ډسمبر پر ۱۴مه او ۱۵مه خلیلزاد په دوحه کې د دوحې فورم غونډه کې ګډون درلود، هلته یې د غونډې له ځینو افغان ګډونوالو سره هم ولیدل.

https://dohaforum.org/schedule/

په زړه پورې مشاعره او یوه یوه پکې ټوکه هم وشوه[٢٤٣]، جالبه دا وه چې هغه یو پاکستانی خبریال دومره سپین سترګی و، چې موږ هر څومره ورته وویل چې موږ خپلمنځي خبرې لرو، خو هغه د مشاعرې پر مهال هم نه ولاړیدی، ورروسته بیا ولاړ شو.

کیدای شي چې هارون رشید او یوسفزی زما (لیکوال) څخه په هغه شپه خفه شوې وي، ځکه هغوی ډیره سپین سترګې کوله، له انس حقاني بیخې جلا کېدل نه.

فداء، خالد هادي، احمد نبي، ځلاند او زه (لیکوال) په شریټون هوټل کې له عبدالرحیم ثاقب، احمدالله وثیق او سلیمان اغا دوی سره د ماښامنۍ لپاره پاتې شوو، خپلو منځو کې بحث او ټوکو په دې ورځ بېل خوند درلود، د سلیمان اغا ټوکه مې هیڅ نه هیریږي.

موږ له خالد هادي سره (سوق واقف –ایراني بازار) ته ولاړو، لږ ورروسته له موږ سره طاهر اغا هم ملګری شو، داسي پټېل شوې وه چې ما (لیکوال) او ځلاند به سهار مهال د تړون د مراسمو ځای ته طاهر اغا او یا هم حکمت الله خان رسوي، مګر سهار چې ما له طاهر اغا سره اړیکه ونیوله، هغه وویل چې زه په یو مهم کار پسي لیږل شوی یم.

طاهر اغا وویل:" په همدې سهار یې ماته وویل چې د تړون د لاسلیک لپاره د سپینو زرو داسي قلم چې تور رنګ ولري، او شین خط لیکي را پیدا کړه.

قطر کوچنی ښار دی، او دا ډول ځانګړې شیان پکې په اسانه هم نه پیدا کیږي، د سرو زرو قلمونه پیدا کېدل، خو د سپینو زرو قلم نه پیدا کیدی.
ډیر ور پسې څرګندانه شوم، یو ځای چا ادرس راکړ چې هلته ورغلم، د سپینو زرو تور رنګ قلم و، مګر خط یې هم تور کاوه، همدا مې را واخیست، بل ځای بیا ولاړم، د شین رنګ بمبه مې ورته پیدا کړه، ډیر پسې څرګردانه شوم[٢٤٤].

---

[٢٤٣] بشپړ بحث په دې لینک کې کتلای شئ:
https://www.youtube.com/watch?v=_VglEOoY٨٣U
[٢٤٤] د مارچ پر ٩مه، حکمت الله خان ما (لیکوال) ته وویل:" حاجي محمد نبي عمري ټولو طالب مشرانو ته ویلي و چې قلم به زه را وړم، او دا به بیا په موزیم کې ساتم."

## ولسمشر ټرمپ: که طالبان پر خپلو ژمنو عمل ونکړي بېرته ورستنېږو

د امریکا ولسمشر ټرمپ د تړون له لاسلیک څو ساعته ورسته وویل:" ټولې خواوې له جګړې ستړې شوې دي او اوس د دې وخت دی خپل سرتېري هېواد ته ستانه کړو. او د خپلو سرتیرو شمیر به ۸۶۰۰ ته راټیټ کړو.

په نږدې راتلونکې کې به له طالب مشرانو سره په خپله وګورم. ډېره هیله دا ده چې دوی به هغه څه وکړي چې ژمنه یې کړې ده. دوی به ترهګر ووژني ، دوی به ځینې ډېر بد خلک ووژني.

موږ د ترهګرو په وژلو کې ډېرې لاسته راوړنې لرو، اوس د دې وخت را رسېدلی چې دا چاره نور څوک وکړي چې دا به طالبان وي، د افغانستان ګاونډي هېوادونه به دې برخه کې مرسته وکړي.

مګر که ناوړه څه وشول بیا ورستنېږو. ډېر ژر به ستانه شو، له ځواکونو سره به ستانه شو، داسې چې هېچا نه وي لیدلي. خو هیله لرم چې داسې څه ته اړتیا پېښه نه شي.

---

د تړون تر مراسمو یوه اونۍ مخکې، د فبروري پر ۲۲مه، ما (لیکوال) شیخ دلاور او عمري صاحب ته پېغام واستاوی چې د تړون د لاسلیک لپاره پر قلم فکر وکړئ، داسې قلم چې بیا په موزیم کې هم وساتل شي، او که ممکن وي چې د افغانستان جوړ د نی"درګه" په ډول یو څه پیدا شي، داچې افغانستان قلم نه شي جوړولای، نو بیا که زموږ د کوم ملګري او دوست هیواد جوړ قلم پیدا شي.
شیخ دلاور صاحب ما (لیکوال) ته اطمنان راکړ، هغه وویل چې ټول ترتیبات نیول شوې، مګر داسې نه وه، په همهغه د تړون د لاسلیک پر سهار د عمري صاحب لخوا طاهر اغا په قلم اخیستلو پسې لیږل شوی و.

## د امریکا متحده آیالاتو – طالبانو د تړون اړوند؛ د ځینو مهمو مشرانو څرګندونې

د فبروري پر **۲۹**مه، چې د امریکا او طالبانو ترمنځ د تړون د لاسلیک ورځ وه، په اړه یې ځینو مهمو مشرانو لاندي څرګندونې وکړي.

د امریکا ولسمشر **ډونلډ ټرمپ**: "له طالبانو سره لاسلیک شوی تړون د سولې لپاره یو تاریخي فرصت دی.

امریکا له طالبانو ټینګه ژمنه اخیستې ده چې له ترهګرو ډلو سره به خپلې اړیکې پرې کوي. امریکا به پر طالبانو نظر ساتي او ګوري به چې دا ډله پر خپلو ژمنو څومره درېږي. له افغانستان څخه د امریکایي ځواکونو وتل به هم دې پورې اړه لري چې طالبان خپلې ژمنې څومره پر ځای کوي. "

د بریتانیا د بهرنیو چارو وزیر **ډومنیک راب** پر خپله ټوېټر پاڼه ولیکل:"د نن ورځې خبرونه د ټولو هغو افغانانو لپاره چې له اوږدې مودې راهیسې ځورېږي یو مهم پرمختګ او هیله منه ورځ ده. مهمه ده چې طالبان خپلې ژمنې عملي کړي، هیله من یم چې دغه وضعیت دوام وکړي او د طالبانو او افغان حکومت تر منځ خبرې پیل شي".

د ناټو سرمنشي **ینس سټولټنبرګ** په کابل کې خبریالانو ته وویل: "که د هوکړې له ځینې مواردو څخه طالبانو سرغړونه وکړه موږ به هوکړه لغوه کړو.

ښځې په هره کچه او هره اداره کې شته. د ښځو په ګډون ډېرى خلک اوس ښوونځیو ته ځي چې د دې موږ شاهد یو، موږ شل کاله وړاندې داسې تصور نه شو کولی. "

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه ماموریت "یوناما" په خبرپاڼه کې لیکل شوې: "د اورکم اوونۍ او بین الافغاني مذاکراتو ته د ژمنتیا هرکلی کوو.

د یوناما مشر **تادامیچي یاماموټو** پر ټولو اړخونو ږغ کړی چې د جګړې ختمولو لپاره دې اړین ګامونه پورته کړي

ملگري ملتونه به د سولې لپاره د یو ټول شموله بهیر ملاتړ کوي چې د ټولنې د ټولو برخو غوښتنو ته پکې پام شوی وي

موږ د تاوتریخوالي پر کمښت ټینگارکوو او پر ښکېلو اړخونو ږغ کوو چې د ولسي زیان او مرگ ژوبلې مخنیوي لپاره دې خپلې هڅې دوه برابره کړي. "

د پاکستان لومړي وزیر **عمران خان** پر ټویټر ولیکل:"په دوحه کې د طالبانو او امریکا ترمنځ د خپلمنځي تړون هرکلی کوم.

تمه ده چې دا هوکړه به په افغانستان کې د څو لسیزو جگړې ته د پای ټکی کېږدي. ما له پیله ټینگار کاوه چې د افغانستان کشاله یوازې له سیاسي لارې حل کېدلی شي. پاکستان ژمن دی چې دا هوکړه پر ځای پاتې شي او افغانستان ته سوله راشي."

د افغان دولت مشر **ډاکټر اشرف غني** وویل: "له طالبانو سره د تاوتریخوالي کمولو په اوونۍ کې خلکو په ارامه فضا کې ساه واخیسته او که څه هم ځینې پېښې وشوې، خو په ټوله کې د تاوتریخوالي کمېدل بریالي و.

د طالبانو او امریکا په تړون کې په ځینو ټکو افغان حکومت ملاحظات لري، خو وروسته به له طالبانو سره مخامخ خبرو کې پر هغو ټکو بحث وشي. "

همدارنگه د افغان دولت مشر ډاکټر اشرف غني په کابل کې له مارک اسپر سره په گډه خبري غونډه کې وویل:"د افغانستان مشروع او رسمي نظام جمهوري دی. په داسې حال کې چې ځینې کسان د اسلامي امارت خبره کوي."

د اجرائیه رئیس **عبدالله عبدالله** غبرگون: "د افغان حکومت اجرائیه رئیس عبدالله عبدالله وویل:د امریکا او طالبانو ترمنځ خپلمنځي هوکړه په افغانستان کې دایمي سولې لپاره یو مهم گام، او له همدې کبله نن یوه تاریخي ورځ وه.

د سولې لپاره د امریکا د حکومت او همدا راز د نړیوالې ټولنې او په ځانگړې ډول د ډاکټر زلمي خلیلزاد څخه مننه کوم. "

د افغانستان د ملي امنیت سلاکار **ډاکټر محب** وایي، د تاوتریخوالي کمولو ته غاړه اېښودل په دې معنی ده چې طالبانو پخپله ومنله چې تاوتریخوالی یې کاوه.

ډاکټر محب طلوع نیوز ټلویزون سره خبرو کې وویل:"راتلونکې ورځې هم د افغان حکومت او هم د طالبانو لپاره یو ازمېښت دی چې خپلو ژمنو باندې ودرېږي. د ځو زرو امریکایي پوځیانو وتل هغه پلان دی چې افغان حکومت له تېره یوه کاله پرې کار کاوه."

د فبروري پر **۲۹**مه، **خلیلزاد** ولیکل:" تاریخ به دا قضاوت کوي چې افغانان څه ډول له دي فرصت څخه ګټه پورته کوي، له پخوانیو تیروتنو څخه مخنیوی او په ګډه سره همه شمول، متحد او خپلواک هیواد جوړ کړي.

د نړۍ لپاره مهمه ده چې افغانستان یوازې پرینږدي، متحده آیالات همدې ته ژمنه ده، رښتونې لمانځه به هغه وخت وي چې موږ همدې موخې ته ورسیږو."

په کابل کې **د امریکا سفارت** پر خپل ټوېټر یاده ورځ د افغانستان لپاره تاریخي ورځ بللې ده:" نن د افغانستان لپاره یوه تاریخي ورځ ده، دا د سولې د ټینګښت او د روښانه راتلونکي لپاره ښې هڅې دي، موږ له افغانستان سره یو".

په افغانستان کې د اروپايي ټولنې استازې **رولانډ کوبیا** پر خپل ټوېټر لیکلي:"دا یوه معمولي ورځ نه ده، بلکې لکه سوله صبر او حوصلې ته اړتیا لري، که چیري دواړي خواوي پر خپلو ژمنو عمل وکړي، په افغانستان کنې سوله ټینګېدای شي".



## د ګڼو هیوادونو د بهرنیو چارو وزیرانو د اسلامي امارت له مرستیال محترم ملا برادر اخند سره جلا جلا لیدنې وکړې

نن مازدیګر د قطر مرکز دوحه کې له امریکا سره د اشغال د خاتمې د تړون د غونډې په څنډه کې د ګڼو هیوادونو د بهرنیو چارو وزیرانو د اسلامي امارت له سیاسي مرستیال او د سیاسي دفتر مشر محترم ملا برادر اخند سره په جلا جلا توګه لیدنه وکړه، هغه ته یې د تړون د لاسلیک په اړه مبارکي وویله او خپلې نیکې پیرزوینې یې وړاندې کړې.

په دغو وزیرانو کې د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پمپیو، د ترکې هیواد د بهرنیو چارو وزیر، د ازبکستان د بهرنیو چارو وزیر، د ناروې د بهرنیوچارو وزیر، د روسې ځانګړې استازي ضمیر کابلوف او د ګڼو نورو هیوادونو راغلو استازي شامل وو.

هغوی په افغانستان کې د سراسري سولې د تأمین، د افغانستان د بیا رغونې او پرمختګ په برخو کې خپلې خپلې ژمنې وکړې او له امریکا سره د نن ورځې لاسلیک شوی تړون یې یوه ستره او تاریخي بریال وبلله.

محترم ملا برادر اخند هم د یادو هیوادونو د بهرنیو چارو له وزیرانو او سیاسي استازو څخه یوځل بیا غونډې ته راتګ په اړه مننه وکړه او د هغوی د مبارکۍ پیغامونه یې ومنل.

ذبیح الله مجاهد د اسلامي امارت ویندوی

۱۴۴۱/۷/۵هـ ق، ۱۳۹۸/۱۲/۱۰هـ ش، ۲۰۲۰/۲/۲۹

## له افغانانو د نړۍ د مسلمانانو تمې

د فبروري پر ۲۷مه، زه (ليکوال) او مولوي احمدجان په دوحه کې د افغانانو هوټل ته د غرمنۍ لپاره ورغلو، د هوټل کارکونکي افغانان زما پر لېدو ډېر خوشاله شول، له مينې ډکه ډوډۍ يې راته چمتو کړه.

په هوټل کې دننه دوه د پاخه عمر عرب هم ناست وو، هغوی د هوټل د کسانو مينه له موږ سره لېدله، بيا يې په عربي ژبه وويل:"د اسرايلو د ظلم څخه د مخنيوي لپاره نور له عربو هيڅ تمه نه کيږي، په دي اړه زموږ ټولې تمې په تاسي افغانانو پوري تړلې دي."

موږ هغوی ته څکه وړ جواب ونه وايه، په عربي هيوادونو کې په سياسي چارو کې خبرې په عرب چارواکو ډيرې درنې تماميږي. د هغوی خبرې زړه غوښتې خو موږ ډيره ليوالتيا په سياسي خبرو کې له دوی سره ونه ښودله.

چې کله هغوی له رسټورانټ څخه وتل، بيا ودريدل، او د افغانانو د زړورتيا خبرې يې وکړي، ويې ويل تاسي امريکا ته ماتې ورکړي، او تاسي به د اسرايلو له ظلم څخه هم مسلمانان خلاصوئ. ان شاء الله

موږ ډير څه ورته ونه ويل، لېدل مې چې هغوی دواړه د باندي په يو ډير قيمتي او ښايسته موټر کې کيناستل، او مخکې له دي يې موږ ته وويل چې د قطر اصلي اوسيدونکې عرب دي.

د فبروري پر ۲۹مه، د امريکا – طالبانو د تړون تر لاسليک وروسته، ماخوستن مهال، خالد هادي او څلاند خپلو منځو کې منلي وه چې د قطر زوړ ښار (سوق حر – ايراني بازار) ته به ځي، داچې زه او څلاند په بېل هوټل کې اوسيدو، له خالد هادي سره په موټر کې روان شوو، هغه بازار ته يې وروستو چې هلته ډير خلک د باندي د قيلون چيلم څکولو لپاره د رسټورانټو مخې ته ناست وو.

هلته په موږ پسې خلکو په عربي ژبه ږغ کړل:" ژوندي دي وي افغانان، امريکا ته مو ماتې ورکړه."

د مارچ په لومړۍ نيټه، ما (ليکوال) او څلاند صاحب، له اسټرالياوي مسلمان شوې بندي ټيموتي (جبرايل) سره په الشعلة (ذا تورش) هوټل کې ولېدل، مخکې له دي

چې موږ بحث پیل کړو، هلته په هوټل کې یوه تن پر موږ سلام ووایه، ودرید، ویې ویل چې افغانان یاست، موږ ویل هو.

هغه کس ودرید، خبرې کول یې غوښتل، ځلاند صاحب ور ولاړ شو، هغه کس ورته وویل:" زه د مصر یم، که موږ مصریانو قرباني ورکړي وای، نن به د عبدالفتاح سیسي [۲۴۵] په رنګ ظالم او جابر جنرال پر موږ نه وای حاکم. افغانانو قرباني ورکړه، او د قرباني ثمره یې دا ده چې امریکا خپله ماتې ومنله."

څو ورځې وروسته په دوحه کې له ملابردار او نورو طالب مشرانو سره د فلسطین د حماس مجاهدینو پخواني مشر (۱۹۹۶ – ۲۰۱۷) خالد مشعل هم ولیدل. له ده وروسته، د حماس اوسنی مشر إسماعیل هنیة دی.

د مارچ پر ۲مه، زه او ځلاند په مرسي ملاذ کمپینسکې هوټل کې د پګواش ادارې مشر ته ورغلو، له هغه سره تر ناستې او غرمنۍ وروسته، موږ په هوټل کې په مسجد پسې ګرځیدو، یو کشمیری ځوان راغی، موږ ته یې لارښونه وکړه، هغه چې پوه شو چې افغانان یو، ډیر زیات ټینګار یې درلود چې قهوه او یا هم کاپي ور سره وکړو، بیا پر سبا یې موږ ته کشمیري زعفراني قهوه جوړه کړه، او له لونګۍ سره یې د خپلې مینې اظهار ډیر کاوه، موږ هغوی ته یوه لونګۍ او د هرات زعفران هم بیا وروسته ورکړل.

---

[۲۴۵] عبدالفتاح سیسي د ولسمشر محمد مرسي لخوا د اګسټ پر ۱۲مه ۲۰۱۲ کې د مصر دفاع وزیر وټاکل شو، سیسي د جولای ۳مه ۲۰۱۳ د مرسي ضد نظامي کودتاه وکړه، واک یې په خپل لاس کې واخیست، د لنډ مهاله حکومت مشر یې عدلي محمود منصور وټاکه. د مئ له ۲۶مې تر ۲۸مې ۲۰۱۴ ولسمشرۍ ټاکنې وشوي، عبدالفتاح سي سي ګټونکی اعلان شو، او د جون ۸مه ۲۰۱۴ یې د مصر د شپږم ولسمشر په توګه د لوړې مراسم وکړل، تر دې مهاله د مصر ولسمشر دی.

محمد مرسي چې د اخوان المسلمین پېژندل شوی غړی و، د مصر د خلکو لخوا منتخب ولسمشر وټاکل شو، د جون ۳۰مه ۲۰۱۲ یې د ولسمشر په توګه کار پیل او د جولای ۳مه ۲۰۱۳ د نظامي کودتاه له امله له واکه لیري شو. د سي سي لخوا بندي شو، او د جون ۱۷مه ۲۰۱۹، کله چې محکمې ته حاضر شو، هلته یې ځاه ورکړه، ویل کیږي چې هغه ته به زهر ورکول شوې و، او یا کیدای شي زهر لرونکي پیچکارۍ ورته لګول شوې وي، هغه ته ددې فرصت نه و چې په محکمه کې د قاضي په وړاندې خبرې وکړي، محکمې ته له رسیدو سره د ۶۷ کلونو په عمر هلته ومړ.

د فبروري پر ۲۹مه، په کابل کې د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت او امریکا د متحده آیالاتو ترمنځ د خبرې ناستې پر مهال ګډه اعلامیه خپره شوه، چې د افغان حکومت مشر ډاکټر غني، مخکیني اجرائیه رئیس ډاکټر عبدالله، میرمن رولا غني، د ملي امنیت شورا مشر ډاکټر محب، د علماوو شورا رئیس مولوي قیام الدین کشاف، د ولسمشر لومړي مرستیال امرالله صالح، د ولسمشر دویم مرستیال سرور دانش، دفاع وزیر اسدالله خالد، د ولسي جرګې رئیس میر رحمان رحماني، د مشرانو جرګې مشر فضل الهادي مسلمیار، تورن اسماعیل خان، یونس قانوني، عطا محمد نور، کلیم الله نقیبي، د طالبانو د مالیې پخواني وزیر معتصم اغا جان، ډاکټر ذبیح الله مجددي.

د امریکا دفاع وزیر مارک اسپر، د ناټو سرمنشي ینس سټولټنبرګ، د امریکا/ناټو قواو عمومي قومندان جنرال میلر پکې برخه درلودله.

ګډه اعلامیه ډاکټر غني د امریکا دفاع وزیر مارک اسپر او د ناټو له عمومي منشي سټولټنبرګ سره لاسلیک کړه.

## د افغانستان د اسلامي جمهوریت او د امریکا متحده ایالاتو ترمنځ په افغانستان کې د سولې راوستو لپاره ګډه اعلامیه:

د فبروري ۲۹مه ۲۰۲۰

د افغانستان اسلامي جمهوریت، د ملګرو ملتونو غړی او د متحده ایالاتو او نړیوالې ټولنې لخوا د نړیوال قانون سره سم د یوه خپلواکه دولت په توګه پیژندل شوی، او د امریکا متحده ایالات ژمن دي چې د سولې هراړخیز او دوامداره هوکړې ته د رسیدو لپاره په ګډه کار ورسره وکړي، چې په افغانستان کې جګړه پای ته ورسوي، دا د ټولو افغانانو په ګټه ده چې د سیمې په ثبات او نړیوال امنیت کې برخه واخلي. د سولې په هراړخیز او دوامداره تړون کې به څلور برخې شاملې وي:

۱ - د متحده ایالاتو او د هغوی د متحدینو د امنیت پروړاندې د نړیوالې ترهګرې ډلې یا وسلوالو لخوا د افغانستان د خاورې د کارونې د مخنیوي تضمین،

۲ - له افغانستان څخه د متحده ایالاتو او ایتلافي ځواکونو د وتلو مهالویش،

۳- د طالبانو او هر اړخیز افغان شموله ټیم؛ چې افغان حکومت هم پکې برخه ولري، ترمنځ د بین الافغاني مذاکراتو په نتیجه کې سیاسي جوړجاړی،

۴ - دایمي او هر اړخیز اوربند.

دا څلور برخې یو له بل سره تړاو لري او یو بل سره تړلي دي. له کلونو جګړو وروسته، د سولې تعقیب د ټولو خواوو هغه اهداف منعکس کوي چې د خپل ځان او ګاونډیو لپاره یو خپلواک او متحد افغانستان په لټه کې دي.

د افغانستان اسلامي جمهوریت او متحده ایالات له ۲۰۰۱ کال راهیسې د نړیوالې سولې او امنیت په وړاندې ګواښونو ته د ځواب ویلو لپاره له یو بل سره له نږدې همکاری کړې او د افغانانو د خوندیتوب، ډیموکراتیک او هوسا راتلونکي لپاره یې مرسته کړې.

دواړه هېوادونه خپلو اوږد مهاله اړیکو، د افغانستان د مهمو بنسټونو جوړولو لپاره د دوی پانګوونې ته ژمن دي؛ چې د ډیموکراتیکو نورمونو رامنځته کولو، د هیواد د یووالي ساتنې، ټولنیز او اقتصادي پرمختګونو او د اتباعو حقونو ته وده ورکوي.

دلته ټاکل شوې ژمنې د دې ګډو لاسته راوړنو له لارې امکان لري او د افغانستان او متحده ایالاتو امنیتي ځواکونو د ډیرو کلونو د قرباني او زړورتیا په جریان کې یو ځانګړی بانډ جوړ کړي.

د افغانستان اسلامي جمهوریت او د افغانستان خلک د سولې لپاره خپل ملاتړ او د خبرو لپاره لیوالتیا او جګړې پای ته رسیدو باندې ټینګار کوي. د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د تاو تریخوالي د کمولو هرکلی کوي او د متحده ایالاتو - طالبانو هوکړه د جګړې د پای ته رسولو لپاره یو مهم ګام بولي.

د متحده ایالاتو - طالبانو هوکړه د سیاسي جوړجاړي، بین الافغاني خبرو، دایمي او هر اړخیز اوربند لپاره لاره هواروي. د افغانستان اسلامي جمهوري دولت په دې ډول خبرو اترو کې د ګډون، او له طالبانو سره اوربند ته د چمتووالي پخلی کوي.

سربیره پردې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د نړیوالو ترهګرو ډلو او وسلوالو، د القاعدې او داعش خراسان ډلې په شمول، د افغانستان له خاورې څخه د متحده ایالاتو او د هغوی متحدینو او نورو هیوادونو امنیت ته د ګواښ د مخنیوي په اړه خپله کړي ژمنه یو ځل بیا تاییدوي.

د سولې تعقیب ګړندی کولو لپاره، د افغانستان اسلامي جمهوریت د متحده ایالاتو او ایتلافي ځواکونو د مرحله وار وتلو لپاره خپل ملاتړ تاییدوي، کوم چې د متحده ایالاتو - طالبانو ترمنځ د ژمنو پوره کیدلو له مخې، او یا هر هغه تړون له مخې چې د بین الافغاني مذاکراتو له امله وي.

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت او متحده ایالات لاندې ژمنې کوي:

## لومړی برخه

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت او متحده ایالاتو ته معلومه شوې چې القاعده، داعش- خراسان او نورې نړیوالې ترهګرې ډلې یا افراد؛ د غړو ګمارلو، بسپنو ټولولو، د روزنې پلان او بریدونو ترسره کولو لپاره د افغانستان له خاورې کار اخلي، او دا کار د متحده ایالاتو، د هغوی د متحدینو او افغانستان امنیت ګواښوي. د دې دوامداره ترهګري ګواښ له منځه وړلو لپاره، د افغانستان اسلامي جمهوریت او متحده ایالات به د القاعدې، د هغوی سره تړلو ملګرو، او نورو نړیوالو ترهګرو ډلو یا اشخاصو ته د ماتې ورکولو لپاره لاندې ګامونه پورته کوي:

۱ - د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د نړیوالې ترهګرې ډلې یا اشخاصو سره د استخدام، روزنې، تمویل (د مخدره توکو د تولید یا توزیع له لارې) راټولولو، د ترانزیټ یا هم د سفر اسنادو د کارولو لپاره، یا هم د هغوی سره نور مرستندویه فعالیتونو ته به اجازه ورنه کړي، او پر خپلو ژمنو ټینګار کوي چې افغانستان به د یادو ډلو کوربه نه وي.

۲ - متحده ایالات د امنیتی ځواکونو او نورو حکومتي بنسټونو لپاره د ملاتړ په اړه خپلې ژمنې یو ځل بیا تاییدوي، پشمول د داخلي او بهرني ګواښونو مخنیوي او ځواب ویلو لپاره، د افغان امنیتي ځواکونو وړتیا لوړولو لپاره د روانو هڅو په شمول

چې د موجودو امنیتي تړونونو سره سم له شوو ژمنو سره مطابقت لري. د دوه حکومتونو ترمنځ ژمنې کې د افغان امنیتي ځواکونو ملاتړ شامل دی چې د القاعدې، داعش- خراسان، او نورې نړیوالې ترهګرې ډلې یا افرادو؛ چې د متحده ایالاتو او د هغې متحدین تهدیدوي، مخه یې ونیسي.

۳- د امریکا متحده ایالات د افغانستان د اسلامي جمهوریت په خوښه په افغانستان کې د پوځي عملیاتو ترسره کولو ته د چمتووالي پخلی کوي او د القاعده، داعش - خراسان او نورو نړیوالو ترهګرو ډلو یا اشخاصو لخوا د تخریب هڅې او د متحده ایالاتو یا د هغوی د متحدینو پروړاندې بریدونه کول له منځه وړي.

د دواړو حکومتونو ترمنځ د موجوده امنیتي تړونونو پراساس د تعهداتو سره سم، د تروریزم پر وړاندې د متحده ایالاتو مبارزه، د تروریزم پر ضد د افغان امنیتي ځواکونو د عملیاتو بشپړولو او ملاتړ لپاره ده، متحده ایالات د افغانستان ملي حاکمیت او د افغانستان د خلکو خوندیتوب او امنیت او د ملکي وګړو ساتنې ته پوره درناوی لري.

۴- متحده ایالات ژمنه کوي چې د افغانستان او پاکستان تر منځ خبرو اترو ته به لاره هواره کړي ترڅو چمتووالی او ډاډ ترلاسه کړي چې د یو هیواد خاوره د بل هیواد پرضد ونه کارول شي، او د یو او بل هیواد ته یې له خاورې امنیتي ګواښ نه وي.

**دویمه برخه**

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت او متحده ایالات، د متحده ایالاتو او ایتلافي ځواکونو په شمیر او نظامي فعالیتونو باندې په پراخه کچه سلا مشورې کړې، چې د یادو ژمنو لاسته راوړلو لپاره اړین دي، پشمول د افغان امنیتي او دفاعي ځواکونو ملاتړ.

د متحده ایالاتو - طالبانو ترمنځ د شوو تعهداتو پوره کیدو ته په پام سره، د افغانستان اسلامي جمهوریت، متحده ایالات، او ایتلاف په ګډه ارزونه کوي چې د امنیتی اهدافو لاسته راوړلو لپاره د نظامي ځواکونو اوسني شمیر ته اړتیا نه شته. له ۲۰۱۴ راهیسې، افغان امنیتي ځواکونه د امنیت چمتو کولو په رهبري کې دي او د دوی اغیزمنتیا لوړه شوې ده. په ورته ډول، دواړه خواوې ژمن دي چې لاندې تدابیر ونیسي:

۱ - متحده ایالات به د دې ګډ اعلامیې او د متحده ایالاتو - طالبانو د موافقې له اعلان څخه وروسته، په ۱۳۵ ورځو کې دننه په افغانستان کې د متحده آیالاتو د ځواکونو شمیر ۸۶۰۰ ته راکم کړي، او د امریکا - طالبانو په تړون کې نورې ژمنې به پلي کړي، او له خپلو متحدینو او ملګرو سره به کار وکړي چې نظر د طالبانو او امریکا ترمنځ تړون ته، په همدومره موده کې په افغانستان کې د ایتلافي ځواکونو شمیر کم کړي، مګر چې طالبان هم خپلو ژمنو ته متعهد وي.

۲ - د متحده ایالاتو او د افغانستان اسلامي جمهوري دولت، او د متحده ایالاتو د متحدینو او ایتلافیانو ترمنځ د ګډې ارزونې او هوکړې د موافقې له مخې، د ګډې اعلامیې او له طالبانو سره د تړون له اعلان وروسته، د متحده ایالاتو او طالبانو د موافقې له مخې به، امریکا په ۱۴ میاشتو کې پاتې ځواکونه له افغانستان څخه په بشپړ ډول باسي، او د دوی ټولې قواوې به له پاتې اډو څخه وباسي، مګر چې طالبان د تړون ژمنو ته متعهد پاتې شي.

۳ - متحده ایالات د مرستو په لټولو کې په کلني ډول خپلې ژمنې بیا تاییدوي چې د افغان امنیتي ځواکونو روزنې، تجهیز، سلا مشورې او ملاتړ په برخه کې یې کوي، ترڅو افغانستان وکولی شي په خپلواکه توګه د داخلي او بهرنیو ګواښونو پر وړاندې دفاع وکړي.

۴ – تر څو چې سیاسي جوړجاړي ته د رسېدو، دایمي او دوامداره اوربند ته د رسیدو لپاره شرایط برابر شي، د افغانستان اسلامي جمهوریت به د متحده ایالاتو په مرسته له طالبانو سره د باور جوړونې په خبرو کې ګډون کوي، چې د داوړو لورو لخوا د پام وړ شمیر بندیانو د خوشې کیدو احتمال به وي، په دي برخه کې به متحده ایاالت او د افغانستان اسلامي جمهوریت د آی سي آر سي ICRC مرسته هم وغواړي.

۵ - د افغانستان د بین الافغاني خبرو له پیل سره، د افغانستان اسلامي جمهوري دولت ژمنه کوي چې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا له غړو سره ډیپلوماتیکې اړیکې پیل کړي؛ تر څو د ۲۰۲۰ د مئ تر ۲۹مې پورې د طالبانو غړي د بندیزونو له نوملړ

څخه وباسي. او کله چې بین الافغاني خبرې پایله ولري، او دایمي او هراړخیز اوربند باندي موافقه وشي، د ۳۰ ورځو په دننه کې به د طالبانو غړي د بندیزونو له لستې څخه ایستل کیږي.

**دریمه برخه**

۱ - متحده ایالات به د دې تړون او اړوندو ترتیباتو د تاید او په رسمیت پېژندلو غوښتنه د ملګرو ملتونو له امنیت شورا څخه وکړي.

۲ - متحده ایالات او د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د بیارغونې لپاره د اقتصادي همکاریو په ګډون مثبتو اړیکو ته دوام ورکولو ته ژمن دي.

۳ - متحده ایالات به د افغانستان د ځمکنۍ بشپړتیا، سیاسي خپلواکۍ پر وړاندې د ګواښ یا له ځواک څخه کار اخیستل یا په کورنیو چارو کې مداخلې څخه ډډه وکړي.

۴ - متحده ایالات به د سیمې ایزي او نړیوالې اجماع رامنځته کولو لپاره کار ته دوام ورکړي، چې هغوی به په افغانستان کې د اصلي شخړې پای ته رسیدو، او د افغانانو تر منځ سیاسي جوړجاړي ته رسیدو لپاره د روانو هڅو ملاتړ وکړي[۲۴۶].

پای

[۲۴۶] د افغانستان اسلامي جمهوري دولت او د امریکا متحده آیالاتو ترمنځ د ګډې اعلامیې انګریزي متن پښتو ته لیکوال ژباړلی، انګریزي متن یې:

https://www.state.gov/wp-content/uploads/۲۰۲۰/۰۲/۰۲,۲۹,۲۰-US-Afghanistan-Joint-Declaration.pdf

## د متحده ایالاتو - طالبانو د تړون لاسلیک کولو په هکله ګډه اعلامیه

د لاندي اعلامیې متن د اروپايي ټولنې، فرانسې، جرمنې، ایټالیا، ناروي، بریتانیا، ملګرو ملتونو او د امریکا متحده آیالتونو هیوادونو د ولسمشرانو د ځانګړو استازو، او د هیوادونو د ځانګړو استازو لخوا ومنل شو، چې په قطر کې د امریکا او طالبانو د تړون د لاسلیک "د فبروري پر ۲۹مه ۲۰۲۰" اړوند و.

د متن پیل:

د امریکا متحده آیالتونو، فرانسې، جرمنې، ایټالیا، ناروي، اروپايي ټولنې، بریتانیا او ملګرو متلونو استازو، د مارچ پر لومړۍ نیټه په دوحه کې ناسته وکړه او ګډه اعلامیه یې ورکړه:

۱ – د فبروري پر ۲۹مه، د امریکا – طالبانو د تړون او د امریکا – افغان حکومت د ګډې اعلامیې هرکلی کوو، تمه ده چې جګړه ختمه او د پلان سره سم د مارچ پر ۱۰مه، د بین الافغاني خبرو لپاره دروازه پرانیزي.

۲ - موږ د سولې د هراړخیز او دوامداره هوکړې په لاره کې کار کولو ته خپل چمتووالی څرګند کړ چې جګړه پای ته رسوي؛ له سیمه ایز ثبات او نړیوال امنیت سره مرسته کوي، په نړیواله کچه پیژندل شوو حقونو ته هم درناوی کیږي چې د افغانستان په اساسي قانون کې منعکس شوي، او دا د ټولو افغانانو لپاره افتخار ده په شمول د افغانستان اسلامي جمهوري دولت، سیاسي مشرانو، مدني ټولنو او طالبانو.

۳ - یوځل بیا ټینګار وشو چې هراړخیزه او دوامداره سوله یوازې د افغانانو ترمنځ د خبرو اترو او د سیاسي جوړجاړي له لارې ترلاسه کیدلی شي، په کوم کې چې په ځانګړي توګه میرمنې د پام وړ برخه ولري، او د افغانستان بشپړتیا او حاکمیت ته درناوی وشي.

۴ - یوځل بیا تاکید وشو چې د افغانستان اسلامي امارت نړیواله ټولنه په رسمیت نه پیژني، او سربیره پردې نړیواله ټولنه به د افغانستان د اسلامي امارت ملاتړ ونه وکړي.

۵–له سیاسي بهیر سره د طالبانو یو ځای کېدو او د دوی رول په راتلونکې "د افغانستان اسلامي حکومت" کې، چې د بین الافغاني خبرو له مخې کیږي، موږ یې هرکلی کوو.

۶ - د فبروري له ۲۲مې تر ۲۸مې، د تاوتریخوالي کمېدو مننه کوو، او ټولې خواوې هڅوو چې په راتلونکې کې هم تاوتریخوالی کم، تر څو د بین الافغاني خبرو لپاره زمینه برابره شي.

۷–پرطالبانو او نورو افغان وسله والو ډلو ږغ کوو چې داسي گامونه واخلي تر څو موږ ډاډه شو چې د افغانستان خاوره به د القاعدې، داعش یا نورو نړیوالو ترهگرو ډلو لخوا د نورو هیوادو لپاره د گواښ په توگه نه کارول کیږي.

۸–تمه ده چې ټولې خواوې به د بین الافغاني خبرو د کېدو لپاره پر اوربند باندي فکر وکړي، تر څو گډونوال دا وړتیا ولري چې د افغانستان راتلونکي لپاره د سیاسي لارې نقشه چمتو او د هر اړخیز او تلپاتي اوربند لپاره زمینه برابره شي.

۹–پر ټولو افغانانو ږغ وشو چې سمدستي د بندیانو پر خلاصون او اوربند باندي خبرې پیل کړي.

۱۰ - د افغانستان د راتلونکي حکومت سره د سیاسي ملاتړ او اقتصادي او پرمختیایی مرستې چمتو کولو لپاره د موجوده ژمنو تایید کوو، په دې شرط چې د ټولو افغانانو پېژندل شوو حقونو ته درناوی وشي؛ په گډون د میرمنو، ځوانانو او لږکیو حقونه؛ کوم چې د افغانستان په اساسي قانون کې هم منعکس شوي، او له ۲۰۰۱ کال څخه را په دیخوا لاسته راونې پکې خوندي وي.

۱۱ - په دوامداره توگه د افغانستان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو سره د مرستو د دوام لپاره موجودې ژمنې تاییدوو.

۱۲ -د ملگرو ملتونو د امنیت شورا له نورو غړو او افغان حکومت سره به د امریکا متحده آیالاتو لخوا هڅې وشي، تر څو د سولې د ملاتړ په خاطر؛ پر طالبانو لگېدلو بندیزونو بیاکتنه وکړي، خو چې طالبان تاوتریخوالی کم او د بین الافغاني خبرو لپاره دوامدره هڅې وکړي. مگر که طالبان داسي فعالیتونه وکړي چې سولې، ثبات او د افغانستان یا

نورو هیوادو امنیت ته ګواښ وي، پر طالبانو د لګېدلو بندیزونو بیا کتنې مسئلې باندي به اغیز ولري.

۱۳ - ټول هیوادونه دي وهڅول شول چې د افغانستان د خلکو ملاتړ وکړي او د افغانستان په تلپاتې سوله او جوړجاړي کې برخه واخلي چې دا د ټولو په ګټه ده.

۱۴ - د ټولو نړیوالو هڅو څخه چې د افغانستان د سولې بهیر ملاتړ کوي، موږ یې هرکلی کوو [۲٤۷].

پای



انځور: د افغان حکومت، امریکا متحده آیالاتو او ناټو د ګډې اعلامیې مراسم. کابل

د امریکا دفاع وزیر مارک اسپر، د ګډ حکومت مشر ډاکټر اشرف غني او د ناټو عمومي منشي ستولټنبرګ.

[۲٤۷] د څینو هیوادونو لخوا ګډه اعلامیه پښتو ته لیکوال ژباړلې او انګریزي بڼه یې:
https://www.state.gov/joint-statement-on-the-signing-of-the-u-s-taliban-agreement-۲/

## د تړون اړوند د طالبانو او امریکا څرګندونې

د فبروري پر ۲۹مه، له طلوع نیوز سره د **عباس ستانکزي** مرکه:" نن ورځ تاریخي ده، ۲۰ کاله وړاندي امریکا / ناټو پوځیانو افغانستان اشغال کړ، مګر د نن ورځې د تړون له مخې به په ۱۴ میاشتو کې دوی له افغانستان څخه په بشپړ ډول ووځي.

په تړون کې راغلي چې لس ورځې وروسته، چې کله زموږ ۵۰۰۰ بندیان او د کابل ادارې ۱۰۰۰ تنه بندیان خوشی شي، بین الافغاني خبرې به پیل کیږي.

د ۵۰۰۰ بندیانو د خلاصون اړوند امریکا له موږ سره ژمنه کړي چې د مارچ تر ۱۰مې به خلاص شي، لستونه یې چمتو شوې، او سور صلیب په دې برخه کې کار کوي. تر څو چې بندیان نه وي خلاص شوي، بین الافغاني مذاکرات به هم معطل وي.

د نظام د بڼې په اړه، بېلابېل نظرونه شتون لري، دا بحثونه به په بین الافغاني خبرو کې کیږي، د اکثریت رایو ته به احترام کیږي، او افغانان به یې په اړه پریکړه کوي.

افغانستان کې په تیرو څلویښت کلونو کې د میرمنو، ماشومانو، انسانانو حتی حیواناتو حقونه تر پښو لاندي شوې، موږ د اسلامي او افغاني ارزښتونو په نظر کې نیولو سره ټولو حقونو ته ژمن یو.

د افغان امنیتي ادارو سیستم باید وساتل شي، مګر اصلاحات پکې راشي، اوس مهال دوی له خپل ولس سره په جګړه کې ښکېل دي، خپل افغانان وژني، د افغانستان پولې نه ساتي، زموږ پر پولو په زرګونو مرمۍ لګیږي، په زرګونو خلک پرته له پاسپورټ څخه تګ او راتګ کوي، په راتلونکي کې د اردو، پولیسو او استخباراتو دندې باید وټاکل شي چې دوی ټول بهرنیو دښمنانو ته متوجه وي.

له روسانو سره د افغانانو د جهاد پر مهال القاعده ډله افغانستان ته د امریکا په واسطه راغلي وه، دوی لویدیځو هیوادونو دلته راوستل، د القاعدې وسلوالو د روسانو په مقابل کې جګړې کړي، د استاد برهان الدین رباني د حکومت پر مهال هم په افغانستان کې وو، ډېرو ته یې د تابعیت تذکرې او پاسپورټونه ورکول شوې وو، اسلامي امارت د هیواد د قوانینو له مخې نه شوای کولای چې هغوی له هیواده وباسي.

په اوسنی ټړون کې موږ ژمنه کړي، هیڅاته اجازه نه ورکوو چې د افغانستان خاوره د ګاونډیو او نورو هیوادو پر ضد وکاروي.

سر له سبا د اسلامي امارت او امریکایانو ترمنځ جګړه صفر کیږي، یو پر بل برید نه کوي، چې د دې ټړون له کبله له ۸۰ تر ۹۰سلنې جګړه ختمیږي[٢٤٨].

د اسلامي امارت او کابل ادارې د ځواکونو ترمنځ د جګړې اړوند؛ تر دې مهاله د اوربند او یا جګړې کموالي اړوند هوکړه ور سره نه ده شوې. بل توافق ته اړتیا ده چې بین الافغاني مذاکراتو کې به بحث ور باندي کیږي. موږ به د سیاسي او مذهبي ګوندونو او افغان مخورو سره بین الافغاني خبرې مخکې وړو، او د کابل اداره د افغانانو استازولي نه کوي. که چیرته پر داسي نظام توافق وشي چې اکثریت افغانانو ته دمنلو وړ وي، تلپاتی اوربند به کیږي."

د امریکا بهرنیو چارو وزیر مایک پمپیو د مارچ په لومړی نیته د سي بي اس تلویزون ته وویل: "له طالبانو سره (په افغانستان کې د سولې راوستلو ټړون) دوه اجرایي عنصرونه شته. دا دواړه محرم دي. دا اجرایي نظامي اسناد دي چې زموږ د پوځیانو د مصونیت لپاره مهم دي. د کانګرس هر غړي ته به دا دوه محرم اسناد وښودل شي".

مایک پمپیو ویلي؛ دا ټړون " ژور، پیچلي او ښه سنجول شوي میکانیزمونه" لري، چې په اساس یې امریکا د ښکیلو خواوو څارنه او له هغوی سره حساب او کتاب کولی شي.

د طالبانو د قطر سیاسي دفتر سهیل شاهین لخوا د پمپیو دا ډول څرګندونې رد، او د هغه د خبرو په غبرګون کې یې ویلکل:" زمونږ او د امریکا ترمنځ هیڅ ډول پټ اسناد نشته. یوه توافقنامه ده چې په مطبوعاتو کې راغلې او بل د توافقنامې تشریح ده چې د توافقنامې هر بند تشریح کوي اود تطبیق میکانیزم یا ضمایم بلل کیږي. ددې علاوه بل

---

[٢٤٨] له ټړون وروسته د طالبانو لور ته د مرګ ژوبلې کچه ټیټه، مګر د افغان امنیتي ځواکونو د مرګ ژوبلې کچه لوړه شوه، او پر افغان امنیتي ځواکونو باندي د طالبانو بریدونه کم هم نه شول.

هیڅ سند نشته، ځیني جعلي پاڼې او پروپاګند چې مغرضې کړی یې خپروي هیڅ حقیقت نه لري".

د مارچ پر ۲مه، ذبیح الله مجاهد ولیکل:" د لاسلیک شوې توافقنامې په اساس د امریکا متحده ایالات ژمن دي چې د اسلامي امارت د ۵۰۰۰ بندیانو د خوشي کیدو پروسه د بین الافغاني مذاکراتو له پیل څخه مخکې (د مارچ میاشتې تر لسمې) تکمیل کړي".

د مارچ ۴مه، سهیل شاهین ولیکل:" اسلامي امارت له پلان سره سم د توافقنامې ټولې برخې یو په بل پسې عملي کوي تر څو د جنګ د شدت مخه ونیول شي. مقابل لوری دې هم د توافقنامې د ټولو برخو په عملي کولو کې خنډونه له منځه یوسي ترڅو سرتاسري سولې ته لاره هواره او افغان اولس له خپلو اساسي حقوقو برخمن شي."



انځور: د تړون مراسمو کې طالب مشران

## د تړون تر لاسلیک یوه ورځ وروسته

د مارچ پر لومړۍ نیټه، زه او ځلاند صاحب شریټون هوټل ته ورغلو، هلته ارامه ارامې وه، د لنګوټې او ژیرې سږي پکې نه ښکاره کېدی، د طالبانو ځینې مشران، پرون ماخوستن لا د ملا برادار اخوند سره د ناستې او مشورې لپاره د طالبانو میلمستون (غرافه کې) ته ورغلي وو، او نن سهار د طالبانو ټول کسان، غرافې ته ورغلي وو، تر څو له ملا برارد اخوند او په دوحه کې د سیاسي دفتر له مشرانو سره د راتلونکي په اړه نظرونه شریک کړي، داچې له ډیورنډ غاړي راغلي هم ډیری د کمیسونو مشران او د رهبري شورا غړي وو، نو ملا برادراخوند له هغوی سره ځانګړې ناستې هم درلودلې.

د دوی بحثونه کیدای شي تر ډیره له افغان حکومت سره د جګړې پر بنډ، د پسرلی په را رسیدو د پسرلنیو عملیاتو اعلان یا نه اعلان، د طالب بندیانو د خلاصون او بین الافغاني خبرو د پیل او اړوند مسایلو به وو.

تر ماخوستن پوري ټول د طالبانو راغلي غړي د طالبانو په میلمستون کې پاتې وو، پر سبا ماسپښین یې یوه ډله طالبان بیرته ستانه شول، او پاتې لا هم په مجلسونو له خپلو مشرانو سره بوخت وو.

د مارچ په دریمه هم تر ماخوستن پورې د طالبانو له بېلابېلو کسانو سره د ملا برادر اخوند او نورو د سیاسي دفتر د مشرانو ناستې رواني وي، او دغه لړۍ د مارچ تر څلورمې پورې دوام درلود، چې د مارچ له څلورمې وروسته، ډیری طالبان بیرته ډیورنډ کرښې لورته ستانه شول، خو یوازي د طالبانو د فرهنګي کمیسون څو تنه لا هم په دوحه کې پاتې وو.

د مارچ په لومړۍ نیټه، ما (لیکوال) او ځلاند صاحب، له اسټرالیاوي مسلمان شوې بندي ټیموتي (جبرایل) سره په الشعله هوټل کې ولیدل.

**ټیموتي** موږ ته وویل:" کله چې زه پرون شریټون هوټل ته ورغلم چې د طالبانو او امریکا ترمنځ تړون مراسمو کې برخه واخلم، هلته ماته وویل شول چې تاسي نه شئ کولای چې په مراسمو کې ګډون وکړئ، زه ډیر خفه شوم، که امریکایانو نه غوښتل

چې زه په مراسمو کې ګډون وکړم، هغوی باید یوه یا دوه ورځې مخکې ماته خبر راکړی وای، خو د مراسمو تر پیل څو ساعته وړاندې یې زه خبر کړم، چې په مراسمو کې د ګډون اجازه نه را کول کیږي.

کله چې زه قطر ته راتلم، له هغه مخکې مې د استرالیا د بهرنیو چارو له مرستیال وزیر سره ولیدل، هغوی ماته اجاره راکړه، همدارنګه په قطر کې د استرلیا سفارت هم ماته اجاره راکړي وه چې د طالبانو- امریکا ترمنځ تړون مراسمو کې ګډون وکړم.

کله چې ماته په مراسمو کې د ګډون اجازه را نه کول شوه، هغه ورځ زه ډیر خفه وم، بیحده زیات، ماته له واشنګټن څخه د امریکا د کورني امنیت ادارې لخوا بلنه راکول شوه چې هلته ورشم او له دوی سره خبرې وکړم، زه ډیر غوسه وم، لومړی ځل مې د هغوی بلنه رد کړه، بیا مې وروسته ور سره منله چې ورشم.

همدارنګه دا نن د افغان – امریکایې پوهنتون لخوا پیغام راته ورسېد چې دوی پر دي ډیر خفه دي چې زه په قطر کې یم او طالبان زما کوربانه دي.

د افغان – امریکایې پوهنتون د محصلینو لخوا هم پیغامونه راته رسیږي، چې زه ولې د طالبانو په اړه مثبت فکر کوم، دوی وایې چې طالبانو خو په امریکایې پوهنتون د برید (۲۴ اګست ۲۰۱٦) پر مهال د پوهنتون ۱۳ محصلین او استادان ووژل شول او نږدې ۴۵ محصلین او استادان ژوبل شول، د پوهنتون محصلینو راته لیکلي چې تاسي (ټموتي) هغوی ته درناوی نه لرئ[٢٤٩].

---

[٢٤٩] په امریکایې پوهنتون د برید په اړه، په کابل کې د امریکا سفارت لاندې اعلامیه خپره کړه:

**د امریکا د متحده ایالاتو سفارت د افغانستان په امریکایي پوهنتون باندې برید غندي**

۲۵ اګست ۲۰۱٦

مونږ په کابل کې د افغانستان په امریکایي پوهنتون باندې پرونی بدمرغه برید غندو. د افغان محصلینو او د پوهنتون د کارکوونکو په نښه کول چې د افغانستان د راتلونکې د پرمختیا لپاره کار کوي، یوه ظالمانه او ډارنه هڅه ګڼل کیږي.

په افغانستان کې د متحده ایالاتو سفیر مایکل مکینلي وویل: "مونږ د دغې پیښې د قربانیانو کورنیو، همکارانو او ملګرو ته خپله ژوره خواخوږي وړاندې کوو او د ټپیانو د بیړنی روغتیا

مګر زه پوهېږم چې طالبان څه ډول خلک دي، او د زده کړو مرکزونه د چا لخوا ډېر په نښه کېږي.

د افغان – امریکایي پوهنتون مشر سیډني David Sedney سم سړی نه دی، چې کله زه د طالبانو له زندان څخه را خلاص شوم، هغه مهال هم ده له ما سره سم چلند ونه کړ، هغه ډېر مغرور او کبرجن سړی دی، او زموږ په راخلاصیدو کې هم هغه کسالت کړی وو."

**مطمئن:** تاسي ورته وواياست چې د افغان – امریکایي پوهنتون او کندز د مدرسې د زده کوونکو توپیر نشته، چې د امریکا/ناټو بمبارد کې په قصدي ډول د مدرسې نږدې ۲۰۰ زده کوونکي په یو ځای ووژل او ژوبل شول[۲۵۰]. همدارنګه ډېر ځله د امریکا/ناټو او افغان امنیتي ځواکونو لخوا په میدان وردګ او نورو ولایتونو کې د مدرسو زده کوونکي په نښه او وژل شوې.

دا ښه ده چې واشنګټن ته ولاړ شئ، هغوی له نږدې ووینئ او خبرې ورسره وکړئ.

**ټیموتي:** په کتاب باندی کار کوم، کتاب لیکم، او د کتاب تر ټولو مهمه برخه به زما قطر ته راتګ او دغه سفر وي، زه له طالبانو سره ۱۱۹٦ ورځې بندی وم، او د ټولو ورځو اړوند مې جدول جوړ کړی چې د هرې ورځې مهمې پېښې ولیکم.

---

هیله من یو. مونږ به د افغانستان د خلکو په وړاندې چې د تلپاتې سولې او امنیت د راوستلو او خپلو ماشومانو ته د شونتیا تر کچې د روښانه راتلونکې د جوړولو لپاره هڅې کوي، خپلې ټېنګې ژمنتیا ته دوام ورکړو."

د امریکا د متحده ایالاتو سفارت تیار دی چې د افغان مقاماتو سره د پېښې په اړه د روانو پلټنو په برخه کې مرسته وکړي او ترسره کوونکي یې عدالت ته راکاږي.

[۲۵۰] د اپریل ۲مه ۲۰۱۸، د کندز په دشت ارچې ولسوالۍ کې د دفتانو سیمه، د ګوجر اخوندزاده په هاشمیه دارالعلوم کې د دیني مدرسي د شاګردانو د فراغت پر مراسمو د امریکا/ناټو الوتکو بمبارد وکړ، تر ۵۰ زیات تنکي د دیني زده کړو زده کوونکي او کلیوال شهیدان او نږدې ۱۵۰ ژوبل شول. افغان حکومت نه منله چې په ملکی خلکو بمبارد شوی، خو تر څېړنو وروسته امریکا ومنله چې په مدرسه کې یې پر ملکي کسانو بمبارد کړی.

له طالبانو سره د بند پر مهال، وروستي درې میاشتې ډیرې سختې وې، موږ د شپې لخوا ځکه خوب نه کاوه، طالبانو د شپنیو چاپو د ویرې له امله موږ نږدې ټوله شپه ګرځولو، کله یو ځای او کله به یې بل ځای ته وړلو، د چورلکو غورهار به موږ اورید، دا ډیر سخت وخت و، او ټوله شپه به مو رڼه تیروله، خو د ورځې به مو خوب کاوه.

زه او پروفیسور کېون کېنج د امریکا – افغان پوهنتون تر مخ سړک باندې روان وو، بیخې د پوهنتون مخته، همدلته روان وو چې نور نو پوهنتون ته داخل شو، موږ د پوهنتون څنګ کې د بهرنیو استادانو د اوسیدو له ځایه راوتلي وو، یو ناڅاپه یو موټر زموږ څنګ ته ودرید، او موږ دواړه یې سمدستي موټر ته په زور ور پورته کړو، په موټر کې ناستو وسلوالو موږ وبیرولو، خو جالبه وه، چې د پولیسو هر تالاشي ځای ته به ورسیدو، دوی به خپل کارډونه ور ښکاره کړل، هغوی به موټر ته اجازه ورکړه[251]، او موږ یې په ډیر سرعت سره له کابل ښار څه وایستلو، بیا وروسته زه پوهیدم چې موږ د ډیورنډ کرښې سره نږدې ساتل کیږو.

زه به په سیډني همدا عرض هم ولرم چې ولې دوی زموږ د امنیت لپاره امنیتي کسان نه وو ګمارلي، که له موږ سره امنیتي کسان وای، موږ به له کابل څخه نه وای تښتول شوې.

زه په پوهنتون کې د انګریزي ژبې استاد وم، او ډیر شاګردان مې وروزل، خو هغوی ماته لیکي چې اوس مهال ولې زه له طالبانو سره خواخوږي لرم، دوی نه پوهیږي.

د مارچ پر **۳**مه، ټیموتي ته دکتور مطلق بن ماجد القحطاني میلمستیا وکړه، او هغه اطاق یې ور وښود، کوم چې د افغان- امریکایي پوهنتون د دوو استادانو "پروفیسور ټیموتي ویکس او پروفیسور کېون کېنج" او انس حقاني ورسره دوه نورو طالبانو د خلاصون په اړه خبرې شوې وې، او هلته د دوی د خلاصیدو تړون لاسلیک شوی و.

[251] داچې د افغان حکومت په هره برخه کې فساد شتون درلود، ممکن چې همدې طالبانو ته د ملي امنیت د ادارې یا هم کورنیو چارو وزارت کوم مشر دغه ډول کارډونه ور جوړ کړې وي، او یا داچې کیدای شي طالبانو به د کورنیو چارو د وزارت یا هم د ملي امنیت ادرای جعلي کارډونه د خپلو وسلو لپاره جوړ کړي وي.

ټيموتي په همدې ورځ پر خپل ټويټر وليکل:" زه غواړم د جلالتمآب ډاکټر القحطاني څخه د زړه له کومې مننه وکړم چې نن د هغه سره د ليدو لپاره يې بلنه راکړه او ميلمه يې کړم. دا واقعاً يو په زړه پورې تجربه وه چې په هغه خونه کې ناست وم چيرې چې جلالتمآب او د خبرو اترو د ټيمونو "امريکايانو او طالبانو" نورو غړو په ګډه کار وکړ، چې دواړه د کيون او زما خوشې کيدل خوندي کړي.

زه د هغه کار ستاينه کوم چې قطر ډيرو خلکو ته د سولې په راوستلو کې کړي دی، او زه د نورو خليجي هيوادونو څخه غواړم چې د دې کار اهميت وپيژني، او ناحقه ناامني راوباسي. الله دې درباندې برکت وکړي."



د امريکا- طالبانو د سولې تړون د مراسمو انځور

## د پگواش له مشر پاولو سره ناسته

د مارچ ۲مه، ماسپښین مهال، په مرسي ملاذ کمپینسکي هوټل - دوحه کې ما (لیکوال) او څلاند صاحب د پگواش ادارې له مشر پروفیسور پاولو سره ناسته درلوده، هغه وویل:" طالبان څه غواړي، چې اساسي قانون په یو مخیز ډول نوی شي او که تعدیلات پکې را وستل شي.

طالبانو ته په کار ده چې د اوربند لپاره کار وکړي، او طالبانو ته په کار ده چې په راتلونکې کې د خلکو د اقتصادي ودې او ښه ژوند په اړه فکر وکړي.

عمر ساپی پاکستان ته تللی و، هلته یې افغان سوداگرو سره لیدلي و، موږ غواړو چې د افغان سوداگرو ناسته په کوم هیواد کې جوړه کړو، خو د طالبانو موافقه او گډون پکې شرط دی.

طالبانو ته په کار ده چې په بین الافغاني مذاکراتو کې انعطاف وښیې، ځکه امریکایانو غوښتل چې خپل پوځیان وباسي، که طالبانو انعطاف کاوه یا نه، دوی همداسي پریکړه کړې وه، مگر که طالبان له افغان حکومت او سیاستوالو سره د خبرو پر مهال انعطاف ونه ښیې، نو حکومت همدا غواړي چې خبرې اوږدې او دوی په واک کې څه وخت نور هم پاتې شي.

که د ډاکټر غني د لوړې مراسم کیږی، ممکن چاودنه وشي[۲۵۲].

د ایران رول مهم دی، اوس مهال د افغان حکومت ملاتړ کوي، ایران ډیر ژور کارونه کوي.

[۲۵۲] د مارچ پر ۹مه، په ارگ او سپیدار ماڼې کې په یو وخت سره، دواړو "ډاکټر غني او ډاکټر عبدالله" د لوړې مراسم تر سره، او هر یوه خپل ځان ولسمشر ونوماوه.
د ولسمشرۍ د لوړې مراسمو کې د ډاکټر غني د وینا پر مهال ارگ ته نږدې راکټې برید وشو، مرگ ژوبله یې نه درلودله. ډیری سیاستوالو او شنونکو ویل چې دا د حکومت لخوا پلان شوی او کنټرول شوی برید و، تر څو ډاکټر غني ځان خلکو ته زړور وښیې.

موږ د پګواش ادارې له خوا د اسرايلو او د ايران د بهرنيو چارو وزير جواد ظريف ترمنځ ناستې په تهران کې جوړې کړي دي، دوی پټ مجلسونه سره کړي دي.

اوس هم چې پلان کې وه د پګواش غونډه (۱ تر ۵ مارچ ۲۰۲۰) په دوحه کې وشي، جواد ظريف منلي وه چې په غونډه کې ګډون وکړي.

تاسي (ځلاند او مطمئن) له طالبانو سره خبرې وکړئ، چې پګواش لاندي کارونه مخکې وړلای شي.

۱ – د افغان سوداګرو د ناستې چمتو کېدل، چې په راتلونکې کې په افغانستان کې خپله پانګونه وکړي.

۲ – داچې افغان حکومت د طالبانو ۵۰۰۰ بنديان ممکن په يو ځای ور خلاص نه کړي، او د طالبانو او حکومت ترمنځ مخامخ اړيکه هم شتون نه لري، د تسهيل لپاره يې پګواش اداره چمتو ده چې رول ولوبوي.

۳ – د بين الافغاني مذاکراتو په جريان کې هم تسهيل کوونکي او داسي چاته اړتيا ده؛ که کله هم په کومه موضوع کې بن بست راځي چې هغوی رول ولوبوي، په دي برخه کې هم پګواش اداره چمتو ده."

د مارچ پر دوېمه يوازې لومړي موضوع موږ (ځلاند او مطمئن) له طالبانو (جهانګيروال او معاون جبار) سره شريکه کړه، زما او ځلاند پر دي توافق راغی چې په دوه نورو موضوع ګانو کې د پګواش دخالت نه خو په ګټه او نه يې هم طالبان ممکن ومني.

په همدې ورځ ماخوستن مهال، موږ (ځلاند او مطمئن) د پاولو دا خبره چې د افغان سوداګرو ناسته د طالبانو په مشوره په کوم هيواد کې جوړه کړي، چې طالبان هم پکې ګډون وکړی، د طالبانو د سرحدونو کميسون مشر حاجي معاون عبدالجبار او د قطر سياسي دفتر د تشريفاتو له مشر جهانګيروال سره وکړه، د افغان سوداګرو د غونډې په اړه د هغوی دواړو نظر مثبت وو.

## د طالبانو د سرحدې چارو د کمیسون له مشر سره ناسته

د مارچ پر دویمه، ماخوستن مهال، موږ (ځلاند او مطمئن) د طالبانو د سرحدونو کمیسون مشر حاجي معاون عبدالجبار او د قطر سیاسي دفتر د تشریفاتو له مشر جهانګیروال سره ولېدل، هلته د طالبانو د روغتیا کمیسون مشر ملا عبدالله او په منځنۍ اسیا کې د طالبانو استازی حاجي ابراهیم هم ناست وو.

زما (لیکوال) او حاجي معاون صاحب ترمنځ ځانګړی مجلس و، هغه ته مې وویل چې له ولس سره ډېر ښه چلند باید وشي، همدې ولس په تیرو ۱۹ کلونو کې ډېره ستره قرباني ورکړه، حاجي معاون صاحب وویل:"پر افغانستان د امریکا لخوا د برید پر مهال، موږ په شمال کې بند پاتې شوو، د وتلو لاره نه وه، په یو کور کې زه اوسیدم، د هغې کورنۍ ۱۳ کسان په جګړو کې وژل شوې وو، دا مهال یوه زړه میرمن په کور کې وه، او دوه یې زامن وو، بمبارد زیات و، طالبان هر ځای په نښه کېدل، او په شمال کې د دوستم او عطاء نور د وسلوالو لخوا هم په کورونو کې د پټ شوو طالبانو پلټنه روانه وه.

د کلي خلکو د هغې زړې میرمنې زامنو ته ویلي وو چې ستاسي د کورنۍ ۱۳کسان په جګړو کې وژل شوې، که د شمال ټلوالې کسان پوه شي چې تاسي په کور کې طالبان پټ کړي، نو تاسي به هم ور سره ووژني، ښه ده چې طالبان له کوره وباسئ.

غالباً چې د زړې میرمنې دواړو زامنو د کلیوالو د فشار له کبله ور سره منلي وه، ځکه کلیوالو ورته ویلي وو چې زموږ ټول کلي لپاره هم ستاسي په کور کې پټ شوې طالبان خطر دی، او بیا به د شمالي ټلوالې لخوا د کلي له ټولو خلکو سره ناوړه چلند کیږي، که چیرته ستاسي په کور کې طالبان ومومي.

خو کله چې هغه زړه میرمن خبره شوه، دواړو زامنو ته یې وویل:"که تاسي زما زامن یاست او زما شیدي مو رودلي وي، نو بیا به دا طالبان وساتئ، او که چیرته حرموني یاست، نو بیا به دا کار وکړئ چې طالبان به له کوره وشړئ، خو تر څو چې زه ژوندۍ یم، دا طالبان به زموږ په کور کې وي، که تاسي ډاریږئ، نو ولاړ شئ له کوره ووځي، زه دوی ساتلی شم."

د هغې غيرتې ميرمنې خبرې موږ اوريدي، کله به هم زموږ (طالبانو) له ياده، د ولس دغه ډول سرښندنې له ياده ونه وځي.

او بيا وروسته خبر شوم چې دغه کورنۍ ډيره غريبه وه، خو په قرض هغې ميرمنې د کوم کليوال څخه پسه اخيستي و، هغه يې زموږ لپاره حلال کړی و، غوښې به يې راته پخولي، د ولس دغه ډول قرباني او سرښندنه کله د هيريدو ده.

يو ځل د شمال ټلوالي د کسانو لخوا همدغه کلي ته تالاشي راغله، د کلي ټول کورونه تالاشي شول، خو کوم کور کې چې موږ اوسيدو، د هغه کور تالاشي يې ونه کړه، ځکه هغې زړې مؤمني ميرمنې به ټوله شپه د الله ﷻ عبادت کاوه او الله ﷻ ته به يې زاری کولي چې موږ او د دوی کور وساتي، الله ﷻ همداسي موږ او د هغوی کورنۍ ټول وساتلو."

ملا نذير اخوند چې په زابل کې مشهور طالب قوماندان و، هغه ما (عبدالجبار) ته وويل:" د زابل ولايت سره نږدې، يوه شپه موږ په يو کلي کې يو کور ته ورغلو، هلته مو ورسره ډوډۍ وخوړله، موږ په داسي سپمه کې وو چې د افغان پوځيانو د راتګ ويره وه، په همدې کور کې دننه زموږ ځينې ملګرې د څار لپاره ويښ وو، خو سهار هغوی راته وويل چې موږ سخت ووېريدو، نه پوهيدو چې څوک به وي، د همدې کور سره نږدې شاوخوا کورونو په بامونو جګ جګ کسان ولاړ وو، او تر سهاره هغوی ولاړ وو، نه يې ږغ کاوه او نه يې خبرې کولې.

وروسته موږ خبر شوو، چې د هغو شاوخوا کورنيو ميرمنو له خپلو نارينه وو څخه اجازه غوښتې وه، چې د دوی د دې شپې د ثواب مخه ونه نيسي، اجازه ورکړي چې دوی په همدې شپه، ټوله شپه د بام پر سر پهره وکړي، تر څو د افغان حکومت پوځيانو لخوا طالبانو ته ضرر ونه رسيږي[٢٥٣]."

---

[٢٥٣] د غزني ولايت د ګيرو ولسوالي محمد عارف سعادت ما (ليکوال) ته د جنوري پر ۱۰مه ۲۰۲۰، په دوبۍ کې ما (ليکوال) ته وويل چې د طالبانو لوړ پوړي نظامي مسؤل مولوي هارون مجاهدينو ته وويل:"کله چې امريکا پر افغانستان حمله وکړه، بشپړ يوه مياشت موږ ٦ يا ۷ وسلوال طالبان د غزني ولايت د ګيرو ولسوالۍ د کوده کلي د ملا محمد نور کور ته

حاجي معاون زیاته کړه: "موږ (طالبان) به څه ډول د هغو میرمنو دغه قرباني او سرښندنه هیره کړو، ولس له موږ سره ډیره مرسته کړي، هم میرمنو، هم ځوانانو او هم د پاخه عمر کسانو.

طالب مشران ټول متواضع دي، خو په افرادو کې به ستونزې وي، مګر مشران د ولس د قربانیو قدر لري، تاسي ټولو (سولې محور ملګرو) هم سختې قرباني ورکړي دي، په سختو حالاتو کې مو مبارزه کړي ده، موږ خو ښه وو، له دښمن سره که مخ کېدو نو وسله را سره وه، تاسي په تش لاس، د دښمن په زړه (کابل) کې داسي مبارزه وکړه، چې د مرګ له ګواښ سره مخ واست[254].

---

د شپې تیرولو لپاره ورتلو، هغوي چې غریبان هم وو، موږ ته یې ډوډۍ راکوله، چې د خوب وخت به شو، ملا نور محمد به وویل چې زما میرمن وایي چې تاسي "مجاهدین" ارام ویده شئ او پیره (څار) زه کوم، مکمل یوه میاشت د اندو ګل (حمدو ګل) لور به د شپې پیره او څار کاوه تر څو موږ طالبانو ته د امریکایانو او افغان امنیتي ځواکونو لخوا د شپې د خوب پر مهال زیان ونه رسیږي، داسي نه وه چې موږ پیره نه کوله او یا خو به ډیر ستړي وو، د هغې میرمنې لخوا به یې میږه موږ ته وویل چې هغه زارۍ کوي چې دا ثواب پر ما ولوروئ.

زه "مولوي هارون" هر وخت دا فکر کوم چې د هغې میرمنې حق به موږ څه ډول اداء کړو، هغې خو د الله ﷻ په لاره کې د الله ﷻ د رضاء لپاره دا کار کاوه، که موږ (طالبان) انحراف کوو بیا به د هغې ځواب څوک وایې."

مولوي هارون په لومړي وخت کې د طالبانو د دلګۍ نظامي قومندان و، وروسته د غزني د ګیرو ولسوالۍ عمومي نظامي مسؤل و، او په ۲۰۱۹ کې د غزني د ده یک ولسوالۍ ولسوال شو چې د امریکایي ډرون لخوا په نښه او وویشتل شو.

[254] د ملي امنیت له زندان څخه زما (لیکوال) تر خلاصون (۱۴اکتوبر ۲۰۱۷) وروسته، زموږ ملګرو وپتېیله چې د سولې لپاره تریو مشخص نوم لاندې ګډ کار وکړو، همهغه و چې موږ په اکتوبر کې لومړي ناسته وکړه، او د سولې محور تر نوم لاندې موږ (ډاکټر ځلاند، ولي الله شاهین، ذاکر جلالي، خیرالله شینواري، شفیع اعظم انتظار خادم، عبدالله کاموال او اسد وحیدي) د سولې پر یوه طرحه کار وکړ، چې د ۲۰۱۷ سپټمبر په لمړۍ نیټه بشپړه شوه،

د خیرالله شینواري خبرې اورم، باور وکړه، داسي را باندي ګران دی لکه زما سکه ورور چي وي.

د بخارا یو مجاهد زموږ مشرانو سره لېدو لپاره راغلی و، هغه ویل:"تر هغو جهاد وکړئ، تر څو چې ژوندي یاست، هر څومره ستونزې چې وي ویې زغمئ، که تاسي ټول (طالبان) په یو سیخ د امریکا او ناټو لخوا کباب کیږي، دا ومنئ خو له جهاد څخه لاس په سر نه شئ، او د هیواد دفاع پرینږدئ.

که موږ (د بخارا اوسیدونکو) غلامي نه وای منلي، جهاد مو کړی وای، نن به موږ ولي دومره تحقیر وای، اوس به هلته ولي اسلامي شعایرو باندي بندیز وای، موږ قرباني ورنه کړه، نو ځکه خو زموږ ځوان نسل او راتلونکی نسل زموږ د غلفت پور"قرض" پري کوي، هغوی اجازه نه لري چې اسلامي شعایر په سم ډول عملي کړي، او هلته د اسلامي شعایرو مخه نیول کیږي."

جهانګیروال وویل: د ۵۰۰ طالب بندیانو د خلاصون په اړه نن هم طالبانو له خلیلزاد سره ناسته درلودله، طالبانو ورته وویل چې دا په تاسي (امریکایانو) پوري اړه لري چې څه ډول بندیان خوشي کوئ، له موږ سره مو ژمنه کړي، او تر څو چې بندیان خوشي نه شي، بین الافغاني خبرې هم نه پیل کیږي.

د مارچ پر ۵مه، سید طیب اغا موږ (ډاکټر ځلاند او مطمئن) ته وویل:"کله چې موږ له امریکا سره د بندیانو د تبادلې تړون "له امریکایې پوځي بوبریګډال سره د ګوانتانامو ۵ طالب بندیانو تبادله" چمتو کاوه، د دې لپاره چې له حقوقي او مسلکي پلوه وړ تړون ولرو، موږ له فرانسې څخه استاد روستار تره کی او له لندن څخه ډاکټر فاروق اعظم را وغوښتل، د هغوی په مشوره مو تړون ترتیب کړ.

خو د طالبانو او امریکا تر منځ چې اوسنی تړون (۲۹ فبروي ۲۰۲۰) لاسلیک شو، په دې کې ستونزې شته، موږ ورته وویل چې د یو مسلکی او وړ تړون لپاره مسلکي

---

غوښتل مو چې یاده طرحه له افغان سیاستوالو او طالبانو سره شریکه او لا ډیره غني کړو، مګر دا کار ونه شو.

او په نړیوالو قوانینو پوه کسان را وغواړئ، له هغوی سره پرې مشورې وکړئ، په دې ډول به تړون قوي شي، دا د طالبانو کمزوري نه؛ بلکې وړتیا ښیې، خو دوی دا کار ونه کړ، ویې ویل چې موږ په دې برخه کې له بېلابېلو کسانو څخه د تلیفون له لارې (واټس آپ) نظرونه غوښتي دي.

طالبان داسې دي، چې که یو څه غواړي، نو بشپړ او ۱۰۰ سلنه یې باید تر لاسه کړي، بل چاته پکې لږ او ۲۰ سلنه هم نه ورکوي، ولو که ټول ۱۰۰ سلنه له لاسه هم ورکوي، خو که په سل سلنه کې ۲۰سلنه ورکړي، نو اتیا سلنه خو دوی ته پاتې کیږي، مګر دوی دا کار هم نه کوي.

داچې د تړون له لاسلیک وروسته به امریکایان ۵۰۰۰ طالب بندیان خوشي کوي، په تړون کې لیکل شوي چې په دې برخه کې به امریکا اسانچاری Facilitator وي، که د تړون د چمتو کېدو پر مهال مسلکي کسان وای، دا ډول تیروتنې به نه کېدې."

د مارچ پر ۹مه، ما (لیکوال) ته قاري روح الله وویل چې د طالب بندیانو د خلاصون اړوند شیخ دلاور صاحب ډېر ښکاره خلیلزاد ته وویل:"تر څو چې ټول ۵۰۰۰ طالب بندیان خوشي نه شي، که یو تن هم پاتې وي، او په بله کوټه کې د بین الافغاني خبرو لپاره د حکومت + سیاستوالو پلاوی ناست وي، موږ به خبرې ور سره ونه کړو، ټول ژمنه شوې ۵۰۰۰ طالب بندیان باید خوشي شي."

د مارچ پر ۹مه، ملا عبدالرحمن فدا وویل:" د افغان حکومت لخوا چې د زر افغان امنیتي ځواکونو کوم لسټ طالبانو ته سپارل شوی، هغه ډېر ګډ وډ دی، زه هم د یاد کمیسون غړی یم، د ځینو بندیانو یوازې نوم او د پلار نوم لیکل شوی، داچې کله او چیرته نیول شوي، هیڅ معلومات نشته، همدارنګه د ځینو بندیانو سره لیکل شوي"توسط ګروه داعش ګرفتار شده."

## د ټرمپ او ملا برادر اخوند ټليفوني خبرې

د مارچ پر ۳مه، د ولسمشر ټرمپ او ملا برادر اخوند ترمنځ ټليفوني خبري وشوې.

د مارچ ۵مه، خليلزاد پر خپل ټويټر وليکل:" د سې شنبې په ورځ" ۳ مارچ" مې له ملا برادر او د هغه له ټيم سره د راتلونکو گامونو په اړه سپينې خبرې وکړې، ورپسې د ولسمشر ډونالد ټرمپ سره د تليفون له لارې رغنده خبرې وشوې. موږ ټولو هوکړه وکړه چې د متحده ايالاتو - طالبانو د توافقنامې موخه په افغانستان کې هراړخيزې سولې ته لاره هوارول دي.

د تاوتريخوالي زياتوالی د سولې د توافقنامې پر وړاندې يو گواښ دی او بايد ژر تر ژره کم شي. د تاوتريخوالي د کمولو اړتيا د بحث سربيره، موږ د بنديانو د تبادلې په اړه هم خبرې وکړې.

متحده ايالات د بنديانو د تبادلې تسهيلولو ته ژمن دي، چې د متحده ايالاتو-طالبانو په توافقنامه او د امريکا او افغانستان په گډه اعلاميه کې هوکړه پرې شوې. موږ به له هر لوري ملاتړ وکړو چې د پام وړ شمير بنديان آزاده کړي.

د افغانانو تر منځ د مذاکراتو په لور د هر ډول خنډ او د دې بهير د ورو کولو په وړاندې به د ستونزو د ليرې کولو په لور گام واخلو. زه يو ځل بيا پر ټولو افغانانو ږغ کوم چې دې فرصت سره جوگه شي، هيواد ته لومړيتوب ورکړي او دغه تاريخي فرصت له لاسه ورنکړي."

د طالبانو وياند ذبيح الله مجاهد د ټرمپ او ملا برارد اخوند د خبرو په اړه وليکل:

**د امريکا جمهور رئيس ډونالډټرمپ له محترم ملا عبدالغني برادر سره ټليفوني خبرې وکړې**

"نن مازيگر د دوحې په وخت ۵:۴۰ د امريکا د متحده ايالاتو جمهور رئيس ډونالډ ټرمپ د اسلامي امارت له سياسي مرستيال او د سياسي دفتر رئيس محترم ملا عبدالغني برادر سره ۳۵ دقيقي ټليفوني خبرې وکړي.

په دې خبرو کې چې د مذاکراتي ټیم څو تنه غړي او ډاکتر زلمی خلیلزاد هم حاضر وو، محترم ملا برادر اخند

د امریکا د متحده ایالاتو جمهور رئیس لمړی را بطې ته ښه راغلاست ووایه او زیاته یې کړه چې زه د افغانستان د اسلامي امارت او افغان ولس په نمایندګي په پوره باور سره ویلای شم چې که د امریکا متحده ایالات له موږ سره په شوې توافقنامه عمل وکړي نو په راتلونکي کې به مثبتي دوه اړخیزي اړیکي ولرو.

ملا برادر اخند ورته وویل:

ښاغلی جمهور رئیس!

تاسي له افغانستان څخه د خارجي ځواکونو په وتلو او راتلونکو مثبتو اړیکو کي له قاطعیت څخه کار واخلئ او چاته اجازه مه ورکوئ چي د شوې هوکړي په خلاف عمل وکړي او په دې اوږده جګړه کي مو لا زیات ښکیل وساتي.

نوموړي زیاته کړه د افغانستان اسلامي امارت یو منظم سیاسي او نظامي ځواک دی او له تاسي او د نړۍ له نورو هیوادونو سره د مثبتو دوه اړخیزو اړیکو د ساتلو وړ تیا او اراده لري.

ملا صاحب وویل د هیواد خپلواکي او په خپل هیواد کي د خپلي خوښې حکومت جوړول د افغان ولس مسلم حق دی، نو څومره چي ژر کیدلای شي په کړیو توافقاتو عمل وشي، سر تاسري سوله راشي او افغانان له خپلو بنیادي حقوقو برخمن شي.

د اسلامي امارت سیاسي مرستیال ورته وویل:

د امریکا د متحده ایالاتو په شان د یوه پرمخ تللي هیواد سره ښایې چي د جنګ ځپلي افغانستان سره په بیا رغونه کي پوره مرسته وکړي او همدا یو مناسب عمل دی چي د امریکا د متحده ایالاتو په حیثیت به مثبت اغیز وکړي.

د امريکا د متحده ايالاتو جمهور رئيس ډونالډ ټرمپ وويل:

خوشحاله يم چې ستاسې سره خبرې کوم، تاسې قوي خلک ياست او ډير ښه هيواد لرئ او زه پوهيږم چې تاسې د خپلې خاورې لپاره جنګيږئ، موږ ۱۹ کاله هلته وو او دا ډيره اوږده موده ده، اوس له افغانستان څخه د بهرنيو ځواکونو وتل د ټولو په ګټه دي.

ولس مشر ټرمپ زياته کړه:

زما د بهرنيو چارو وزير به ډير ژر له اشرف غني سره خبرې وکړي چې تر څو د بين الافغاني مذاکراتو په مخ کې پراته خنډونه ليرې شي.

نوموړي وويل موږ به په راتلونکي کې د افغانستان په بيا رغونه کې پوره برخه واخلو.

د دواړو طرفونو تر منځ د شوې توافق نامې د عملي کولو په برخه کې هم اوږدې خبرې وشوې."

ټرمپ په واشنګټن کې له خبرياﻻنو سره دخبرو پر مهال وويل:" د طالبانو له مشر سره مې اوږدې او ګټورې خبرې درلودې، موږ پريکړه کړې، چې تاوتريخوالي ته نه ووايو، موږ تاوتريخوالی نه غواړو، وبه وينو چې وړاندې څه پيښيږي، د طالبانو له مشر سره خبرې ګټورې وې."



## له ملا عبدالحق وثیق سره ناسته

د مارچ پر ۴مه، ما (لیکوال) د قطر سیاسي دفتر د اروپايي هیوادونو سره د اړیکو د مسؤل ملا عبدالحق وثیق سره ولیدل، د تړون د لاسلیک د مراسمو په ورځ چې د مراسمو پیل ته څو دقیقې پاتې وې، د افغانستان لپاره د ناروې هیواد ځانګړې استازې پئړ له ما (لیکوال) وغوښتل چې د هغه د څو خبرو ژباړه له طالب مشر وثیق سره وکړم، ما (لیکوال) پئړ ته وویل چې اوس یې وخت نه دی، مراسم پیل کیږي، او بل داچې هلته خلک هم زیات وو، د هر کس لپاره چوکۍ په نښه شوې وه، که کوم کس ولاړ شوی وای، ممکن چوکۍ یې بل چا نیولې وای.

پئړ له ما جدي غوښتنه وکړه، زه یې د وثیق صاحب مخې ته بوتلم، له هغه یې وغوښتل چې د مراسمو له پای ته رسیدو وروسته د ناروی د بهرنیو چارو وزیرې اینه اریکسن سوریدی سره د ملابرادر اخوند کتنه وشي.

وثیق صاحب پرته له ډیپلوماسي وویل چې نه کیږی، ما (لیکوال) وثیق ته وویل: همداسي وچ کلک ورته ووایم، ویې ویل هو، ورته ووایه چې نه کیږي.

پئړ بیا وویل چې تاسي (وثیق) کوشش وکړئ چې دا لیدنه وشي، زموږ وزیره همدا نن ٦ بجې ماښام بیرته ناروې ته روانیږي، که تاسي له ملا برادر اخوند سره لیدنه ورته ترتیب کړئ.

وثیق صاحب همدا یوه خبره کوله چې نه کیږي، اخر ما (لیکوال) وثیق ته وویل چې زه به پئړ ته ووایم چې زه (وثیق) کوشش کوم چې دا کار وشي، ویې ویل سمه ده ورته ووایه.

د مارچ په ۴مه مې له وثیق صاحب څخه پوښتنه وکړه، چې ولې دې داسي رد بلډ جواب ورکاوه، هغه وویل:" موږ د ناروې هیواد د بهرنیو چارو وزیرې په نوم دوی ته بلنلیک واستاوه، خو داچې معلومه نه وه چې پمپیو به دلته مراسمو کې ګډون کوي یانه، له همدې کبله دوی فکر کاوه چې پمپیو به را نه شي، نو ویل یې چې موږ د ناروی د بهرنیو چارو وزیرې لپاره له څو میاشتو مخکې یو بل هیواد ته په همدې ورځو کې د سفر ترتیبات نیول شي، ممکن چې هغه په مراسمو کې د ګډون

لپاره رانه شي. خوکله چې دوی پوه شول چې د امریکا د بهرنیو چارو وزیر پمپیو دلته دوحې ته راځي، نو نه هغه سفر و، نه یې بل کار و، د ناروې د بهرنیو چارو وزیره هم دوحې ته په مراسمو کې د ګډون لپاره راغله، ځکه خو ما ور سره نه منله چې د هغې لېدنه له ملا برادر اخوند سره دومره ژر ترتیب کړو.

د تړون د لاسلیک تر مراسمو وروسته، ملا برادر اخوند د امریکا د بهرنیو چارو له وزیر پمپیو سره ولېدل، له هغه سره چې ناسته پای ته ورسېده، د ترکیې د بهرنیو چارو وزیر سره یې وکتل، له هغه سره ناسته لا خلاصه نه وه چې په دروازه د ناروې او اندونیزیا د بهرنیو چارو وزیرانې غبرګې را ننوتلې، او ډېر لږ وخت یې له ملا برادر اخوند سره ناسته وه."

په همدې ورځ، دکتور صالح ما(لیکوال) ته وویل:" د تړون مراسمو ته د ترکیې د بهرنیو چارو وزیر راغلی و، د ترکیې سفارت سره هر وخت زه اړیکه کې یم، کله چې مراسم پای ته ورسېدل، ما (صالح) او په قطر کې د ترکیې سفیر یو له بل سره خبرې وکړې چې د ترکیې د بهرنیو چارو وزیر او ملا برادر اخوند ترمنځ ملاقات وشي، دا هر څه په ۱۵ دقیقو کې وشول، او له پمپیو سره تر ملاقات وروسته، سمدستي د ترکیې د بهرنیو چارو وزیر هم هغه اطاق ته راورسید چیرته چې ملا برادر اخوند ناست و، دلته هیڅ ډیپلوماسي او پروتوکول نه و، هر څه ساده او د ښه نیت فضاء کې تر سره شول، له ملاقات څخه د ترکیې د بهرنیو چارو وزیر او په قطر کې د ترکیې سفیر هم ډېر خوشاله و، خو کله چې لا ناسته پای ته نه وه رسیدلې، د ناروی او اندونیزیا د بهرنیو چارو وزیرانې هم هغه اطاق ته ور دننه شوې چې له ملا برادر اخوند سره ناسته وکړي، هغوی دواړو یو ځای له ملا برادر اخوند سره وکتل."

## له طالبانو سره ازاد بحث

د مارچ پر ۴مه، فداء اړیکه ونیوله چې موږ "څلاند او مطمئن" شریټون هوټل ته د غرمنۍ لپاره ورشو، موږ له شریټون لرې د بحر پر غاړه مرسی ملاذ کمپینسکي هوټل کې اوسیدو، په شریټون کې له غرمنۍ وروسته، فداء او د طالبانو د اقتصادي کمیسون غړي شرافت صاحب موږ ته وویل چې ازاد بحث کوو، متقي صاحب او انس حقاني هم راځي.

هلته یو قطری ځوان زموږ (فداء، شرافت، څلاند، ثاقب او وثیق) لور ته راغی، هغه ډیره مینه کوله، ویې ویل چې له تاسي سره انځور اخلم، افغانان غیرتي خلک دي.

شرافت او وثیق په دې پسې سرګردانه وو چې په شریټون هوټل کې داسې ځای پیدا کړي چې هلته په ژوندۍ بڼه په هوټل کې هغه د معمول ساز ږغ نه وي، له موږ سره هغه قطري ځوان هم په مناسب ځای پیدا کولو کې منډه وکړه، وثیق او شرافت د هوټل د باندې ووتل، ډیر ځایونه وکتل شول، متقي صاحب او انس حقاني هم را ورسیدل، له هغوی سره نور ملګري سلیمان اغا او مفتي انعام الله سمنګاني هم وو.

موږ په هوټل کې تهکوي ته کښته شو، هلته په چوکیو کې کیناستو، مګر د هغه ساز ږغ دلته هم راتلی، ملګرو وویل که د هوټل له ادارې وغوښتل شي چې یا خو موزیک بند کړي او یا هم دلته په تهکوي کې چې کوم ځای موږ ناست یو، د همدې برخې لوډ سپیکرونه ګُل شي.

تکړه لیکوال عبدالرحیم ثاقب چې په عربي ژبه بشپړ مسلط دی، هغه وویل زه به د هوټل له ادارې سره خبره وکړم، کله چې هغه له تهکوي په زینو کې پورته کېده، متقي صاحب په ځای ټوکې هر کله کوي، هغه وویل:" خدای ﷻ دې خیر کړي، ډیر بې خولې سړی مو ورپسې ولیږی، هغه دومره شرمناک انسان دی، څه ډول به دا خبره د هوټل له ادارې سره کوي." همداسې وشول، د ثاقب صاحب له تګ او د هوټل له کوم کس سره له خبرو هیڅ په لاس را نغلل.

موږ په همدې سوچ کې وو چې د موزیک ږغ ودرید، خوشاله شوو، بیرته مو موافقه وشوه چې همدلته به ازاد سیاسي بحث کوو، او فداء غوښتل چې په ویډیو بڼه یې ثبت او بیا یې خپور او تر خلکو ورسوي.

داچې کله ویډیو کېده، د موزیک ږغ پکې راتلی، او دلته له موږ سره د طالبانو د رهبري شورا غړی او د شیخ هبة الله صاحب د دفتر مشر مولوي امیرخان متقي ناست و، او همدارنگه له امریکا سره د مذاکراتي ډلې غړي او د سراج الدین حقاني ورور انس حقاني او د طالبانو نظامي او فرهنگي غړي ناست وو، دوی نه غوښتل چې د موزیک له اواز سره یو ځای دغه بحث ثبت او ریکارډ شي.

شرافت صاحب وویل چې همدا ځای سم دی، د موزیک ږغ ودرید، هغه وویل زه به ورشم چې پوښتنه وکړم، چې بیا خو به موزیک ږغول نه پېل کوي.

شرافت صاحب په منډه ولاړ شو، تیز په ځینو کې د ځمکې د سطحې پوړ ته ور وخوت، هغه لږ شیبه وروسته ځاه نیولی بیرته را ستون شو، ویې ویل: "نه کیږي، دلته نه کیږي."

متقي صاحب ورځخه پوښتنه وکړه چې څه چل دی، ولي داسي په منډه بیرته راغلی؟ شرافت وویل:" هغه میرمن چې موزیک ته ناسته وه، هغه د موزیک ږغېدو له ماشین سره نږدې ولاړه وه، ما په انگریزي ژبه ور څخه وپوښتل چې کله بیا موزیک پېل کوي، هغې فکر وکړ چې ماته د هغې موزیک ډیر خوند راکړی، هغې وویل:" فقط لس دقیقې انتظار شئ، بیرته یې پېلوم."

شریټون هوټل د بحر په غاړه ښایسته ودانۍ ده، کله چې د هوټل له داخل څخه، د هوټل اړوند بهر سیمې ته وځې، نو باید په هوټل کې اوسیدونکی کس وی، یعني همدلته یې اطاق نیولی وي، خو زموږ ځینې ملگرې همدلته اوسېدل او ځینې نور دلته په شریټون کې نه اوسیدل، د هوټل له مسؤلینو سره زموږ خبره وشوه، بیا د باندې ووتلو، هلته په چمن کې کیناستو او ازاد سیاسي بحث وشو.

په بحث کې ملا امیرخان متقي، انس حقاني، ملا عبدالحق وثیق، سلیمان اغا، مفتي سمنگاني، شرافت، ځلاند او مطمئن گډون درلود، او څرگندونې یې وکړې، چې د احمدالله وثیق لخوا دغه پروگرام په مخ وړل کیدی او فداء بحث ثبت کاوه[۲۵۵].

په طالبانو کې ډیر بدلون راغلی وو، کله چې موږ ازاد بحث درلود، دوه یا درې ځله موږ (ځلاند او مطمئن) ته متقي صاحب وویل:" تاسي په ډیره ازادانه توگه پر موږ (طالبانو) انتقاد کولای شئ، کوم نقد چې لرئ ډیر ښکاره یې ووایاست، موږ خوشاله کیږو."

[۲۵۵] بشپړ بحث په دي لینک کې کتلای شئ:
https://www.youtube.com/watch?v=٨_MZSZ٦_hLU

## له انس حقاني سره د هغه په کور کې

د مارچ پر ۵مه، د ماښام ډوډۍ زموږ (ځلاند او مطمئن) له انس حقاني سره وه، هغه د خپل زندان عجیب خاطرې بیانولي، همدارنګه ځینې سیاسي خبرې یې هم له موږ سره شریکې کړې.

انس حقاني وویل: ملا فاضل اخوند دا مهال په هیئتي هلمند ولایت ته تللی، چې هلته له نظامي طالب قومندانانو او مشرانو سره له نږدې وګوري[۲۵۶].

**انس حقاني** وویل: یو ځل پلان و چې موږ د باګرام له زندان څخه وتښتو، د باګرام زندان قومندان او ځینې نور کسان زموږ له مشرانو سره اړیکه کې وو، هر څه سم روان و، په هغه شپه چې موږ باید له زندان څخه تیښته وکړو، ملي امنیت له یاد پلان څخه خبر شوی و او د باګرام محبس قومندان او ځینې نور مسؤلین یې ونیول او له باګرام څخه زموږ د تیښتې بهیر ناکام شو.

له هغه وروسته یې پر موږ "حاجي مالي خان، حافظ عبدالرشید او انس" ډېره سختي راوسته، موږ یې جزایي کوټو ته انتقال کړو، او هلته یې خوب ته نه پریښودو، هغه

---

[۲۵۶] ممکن چې له امریکا سره د طالبانو د تړون ځینې هغه جزیات چې په نظامي برخه پوري تړاو لري، هغه به یې له طالب قومندانانو سره شریکول، او د تړون تشریح او ځینو مسایلو وضاحت به یې ورته کاوه، همدارنګه داچې اوس مهال به نظامي طالبان څه کوي، او کوم ډول عملیات، او له کومو ننګونو سره به مخ وي.
ملا فاضل اخوند له امریکایې مذاکراتي ډلې سره د اړیکو مسؤل هم و، خو د هغه په نه شتون کې له امریکایې لوري سره د اړیکو مسؤل ملا عبدالسلام حنفي تاکل شوی و.
د مارچ پر ۸مه، خبر شوم چې شیخ دلاور هم ډیورنډ غاړې ته تللی، او د مارچ پر ۹مه، خبر شوم چې متقي صاحب هم ډیورنډ غاړې ته تللي چې شیخ هبة الله ووینې. کیدای شي چې ملا فاضل اخوند او شیخ دلاور مخکې د مارچ پر ۳مه، او د مارچ پر ۵مه متقي له دوحې وتلي وي. ملا فاضل اخوند بیا وروسته هلمند ته هم تللی او هلته یې له نظامي طالب مشرانو سره لیدنې درلودلې.

لړ او خرابه ډوډۍ یې هم په وخت نه راکوله، همدارنگه ډول ډول روحې ستونزې یې راته پېدا کولې.

ما (انس) د سور صلیب له کسانو سره د زندان د افغان مسؤلینو په ناخبرې کې ولېدل، هغوی ته مې وویل چې زموږ د کورنۍ له کوم غړي سره پر ټلیفون زما د خبرو کولو زمینه برابره کړی، همهغه و چې ځو ورځې وروسته د سور صلیب لخوا دا زمینه برابره شوه، خو د خبرو پر مهال د سور صلیب افغان مسؤلین هم ولاړ وو، او هغوی ویل که چیرته کومه سیاسي خبره وکړم نو ټلیفون قطع کوي.

ما (انس) چې جوړ په خیر د خپلې کورنۍ له غړي سره وکړ، په خوستي ژبه مې هغه ته وویل:" په موږ یې ډیر تکلیف راوستی دی، او ډیر په عذاب یو، تاسي هم له هغو کسانو (ټیموتي او کېن) سره چې له تاسي سره دي، د هغوی ویډیو او یا کومې خبرې خپرې کړئ چې دلته په موږ اساني راشي."

موږ په خپله لهجه یو بل سره پوه کړل، او زموږ په خوستي لهجه هغه د سور صلیب افغان کارکونکي نه پوهیدل.

سهار موږ خبرې سره وکړي، مازیگرمهال موږ ته امریکایان راغلل، هغوی پوښتنه کوله چې له تاسي سره کوم ناوړه چلند کیږي، له څه شي شکایت لري، امریکایان ځکه دومره په عجله راغلل، چې زموږ ملگرو هم څرگندونې کړي وي چې په باگرام کې له "انس حقاني، مالي خان او حافظ عبدالرشید" سره ناوړه چلند کیږي، که دا چلند سم نه شي، بیا که د افغان – امریکایې پوهنتون دوه استادن له هر ډول برخلیک سره مخ شول، مسؤل به یې خپله امریکا او د باگرام زندان مسؤلین وي.

کله چې له ما (انس) څخه امریکایانو پوښتنه وکړه، چې ولي طالبانو دغه ډول څرگندونې کړي، هغوی ته مې وویل:" ما نن د خپلې کورنۍ له غړي سره په ټلیفون خبرې وکړی، دلته پر موږ ډیره سختي کیږي، او په جزایې کوټو کې یې اچولي یو."

که څه هم امریکایان په دی هر څه پوهېدل خو بیا هم دوی پوښتنه کوله.

امریکایانو وویل:" طالبانو درې ورځې وخت ښودلی که په دغه موده کې له انس حقاني او ملګرو سره یې د زندان د مسؤلینو چلند ښه نه شي، نو بیا به موږ هم عکس العمل ښیو، دا وخت له کوم مهال شروع کیږي، هغه مهال چې تاسي خبرې ور سره کړي (سهار) او که هغه (مهال مازیګر) چې دوی ځرګندونې کړي."

امریکایانو ته ما (انس) وویل چې له هغه مهاله چې ما خبري ورسر کړي، دا مې قصداً ورته وویل، زه پوهیدم چې د ځرګندونو له مهاله وخت پیل کیږي.

بیا امریکایانو پوښتنه وکړه، چې هغه دوه استادان به د طالبانو لخوا شکنجه شي او که به دا ګواښ د مرګ تر کچې وي.

ما (انس) وویل چې دا نو بیخي سمه خبره ده چې دوی "امریکایان" دومره ویریدلي دي، ورته مې وویل:" که له موږ سره په زندان کې چلند ژر ښه شي، کیدای شي هغوی ته یوازي شکنجه ورکول شي، خو که له موږ سره دلته ناوړه چلند ډیر وخت ونیسي او ژر حالت سم نه شي، هغوی "طالبانو" ته موږ ډاډ ورنه کړو، نو د هغو دوو بهرنیو استادانو د مرګ ویره هم شته."

**انس** وویل: ډیر ژر امریکایانو د باګرام زندان له مشر او مسؤلینو سره خبرې وکړې، هغوی راغلل، او د هغو افغان کارکونکو نومونه یې له موږ وغوښتل چې له موږ سره یې ناوړه چلند کاوه، بیا به هغه کسان چې له موږ سره یې بد چلند کړی وو، موږ ته به راتلل او زاری به یې کولې چې ما مه ورښیاست، غریب یم، که منفک شم، بیا دنده نه شم پیدا کولای، سخت خوند به یې کاوه چې هغوی به اوس موږ ته زارۍ کولي، مګر څو ورځې وړاندی یې زموږ سره د بندیانو په توګه ناوړه چلند کاوه، او نن یې ځانونه موږ ته هم غلامان ښودل[257].

---

[257] ورته پېښې زما (لیکوال) تر سترګو هم تیرې شوې، کله چې زه (لیکوال) د ملي امنیت له زندان څخه د اکتوبر پر ۴مه را خلاصیدم، د ۵۰۱ (۴۰) ریاست یو مهم او لوړ پوړی کس له ریاست څخه تر زندان پوري په پلي راسره ملګری شو، دا ځل مې لاسونه خلاص و، سترګې مې نه وي تړل شوې. د ملي امنیت چوکاټ کې هغه قومندان چې زه یې همدلته لاس تړلی لړ مخکې راوستلم، هغه همدې مهم مشر ته وویل چې موږ یې بیایو، تاسي ته

زموږ سره چلند ښه او موږ یې نورو کوټو ته انتقال کړو، بیا یې د ټیلیفون اجازه هم راکړه چې له خپلې کورنۍ سره اړیکه ونیسم چې هغوی د افغان – امریکایې دوو استادانو ته زیان ونه رسوي، زه پوهیدم چې زموږ مشران هغه دوو بهرنیو استادانو سره ناوړه چلند نه کوي، خو یوازې د ګواښ لپاره همداسې څرګندونې کوي تر څو دلته له موږ سره هم افغان امنیتي کسان له ناوړه چلند څخه لاس په سر شي.

**انس** وویل: کله چې زموږ د خلاصون او تبادلې خبرې کیدې، یوه ورځ امریکایانو له زندان څخه بل ځای ته انتقال کولو، دا ټول بهیر داسې جوړ شوی و، چې موږ ته داسې په نظر را کړي چې موږ له افغان حکومت سره بندیان یو، تر څو موږ خپلو

---

اړتیا نشته، مګر هغه مشر ورته وویل چې زه خپله ورسره ځم، او تاسې دده کالي او د جیب شخصي شیان او ګرځنده ټیلیفونونه ورته را پیداکړئ.

مهم مشر زما سره نږدې روان و، هغه راته څو ځله وویل چې دلته خو به کوم چا بد چلند درسره نه وي کړی.

هغه په ډیره عاجزۍ ماته نور هم رانږدې شو، ویې ویل:"مطمئن صاحب! زه خو یو عادي مامور یم، دلته په ملي امنیت کې کار کوم، نه چاته ضرر رسوم او نه له چا سره دښمنې کوم. یواځې خپله دنده مخکې وړم، له بندیانو سره بد چلند هم نه کوم، مګر تیره اونۍ زما موټر باندې د چسپکي ماین چاودنه وشوه. ما خو طالبانو ته کوم ضرر نه دی رسولی، مطمئن صاحب! په دې برخه کې دې توجه غواړم، او بیا زه ستاسې پوښتنه کوم، له نږدې درسره کښینم، که هر خدمت و، زه حاضر یم."

سبحان الله! الله اکبر و لله الحمد. الله ﷻ قوي ذات دی، یو ساعت مخکې هم زه (لیکوال) له دوی سره بندي وم، او زه همدې د ملي امنیت مشر ته یو ډول نه یو ډول ډیر احتیاج وم، خو دادی همهغه د ملي امنیت مغرور انسان، همهغه د ملي امنیت د پوره واک او صلاحیت لرونکی کس، همهغه چې د بندیانو د تحقیق د برخې مشرې کوي، هغه په ډیر خپ او پټ اواز ماته زارۍ کوي چې زه له بند څخه تر وتلو وروسته مرسته وکړم، او دده سپارش چاته وکړم. رښتیا چې د الله ﷻ په دین څوک غیرت وکړي، الله ﷻ به یې عزتمند کوي، او څوک چې د الله ﷻ په دین غیرت نه کوي، هغه به د همیش لپاره ذلیل وي. په هغه حال کې مې د الله ﷻ ډیر زیات حمد ووایه، چې د ملي امنیت دغه لوړ پوړی مشر یې زما لپاره احتیاج کړ.

مشرانو ته ووایو چې له افغان حکومت سره زموږ د خلاصون په اړه خبرې وکړي، خو موږ هلته خپلو منځو کې سره وویل، چې دا ټول د امریکایانو فریب دی چې کوي یې.

موږ کله هم خپلو مشرانو ته دا خبره ونه کړه چې زموږ د خلاصون او له امریکایې استادانو سره د تبادلي خبره دی له افغان حکومت سره وکړي، بلکي موږ پوهیدو چې عملاً ټول واک له امریکایانو سره دی.

کله چې به زموږ لېدو ته امریکایان راتلل، نو د باګرام زندان کوم قوموندان به هم ورسر راتلی، همهغه قوموندان به ډیر ځله زموږ له مشرانو سره هم اړیکه کې و، بیا موږ دریو (مالی خان، حافظ عبدالرشید او انس) داسي پلان به مو جوړ کړی و، چې دا دوه کسان به امریکایې او ژباړن یې په خبرو بوخت ساتي او یو کس به له افغان قوموندان سره خبرې کوي، او خپل شکایتونه او ځینې نورې خبرې چې موږ به غوښتي چې کورني ته مو ورسیږی، هغه ورته وکړي، همداسي مو کول، او دا کامیابه پلان و، خو بیا وروسته امریکایان پوه شول، چې کله به زموږ لیدو ته راتلل، نو د محبس افغان قوموندان ته به یې بهر ویلی و چې هغه به له موږ سره هیڅ ډول خبرې نه کوي.

یو ځل موږ غوښتل چې امریکایې او ژباړن یې موږ دوه ملګري په خبرو بوخت او په چالاکې زموږ دریم ملګری هغه افغان قوموندان ته یوه خبره وکړي، مګر امریکایې ډیر متوجه و، زموږ ملګري خبره ورته وکړه، خو چې کله افغان قوموندان خوله خلاصوله او خبره یې کوله، امریکایې په قهرجن ږغ ورته وویل چې بس، نور خبرې ونه کړي، او موږ ټول یې له هغه قوموندان څخه لیري، او ویل یې یوازي له ما (امریکایې) سره به خبرې کوئ.

مګر بیا هم امریکایانو ډیر ناپوهان وو، هغوی فکر کاوه چې دوی به پر موږ ومني چې موږ له افغان حکومت سره بندیان یو، او زموږ د خلاصون او له موږ سره د ښه چلند پریکړې د افغان حکومت په واک کې دي.

عبدالسلام رحيمي [258] په وروستي وخت کې زموږ لېدو ته ډېر راتلی، هغه له موږ سره ډېر ښه چلند کاوه، هغه وويل چې زه (انس) خپلې کورنۍ ته د دوی (رحيمي) پيغام ورسوم چې زموږ د خلاصون بهير کې هغوی هم مرسته وکړي، په دي معنی چې د افغان – امريکايي پوهنتون استادان خوشي کړي. ما (انس) ورته وويل چې سمه ده، دا پيغام د خپلې کورنۍ غړو ته رسوم، خو که په ټليفون د خبرو اجازه راکوئ، نو بيا به هغه ټليفون هم له ماسره پرېږدئ، بيرته به يې نه را څخه وړئ، رحيمي ومنله، يو کس ته يې وويل چې يو ساده موبايل ورته راوړه، خو له ښه بخته، يا به د دوی له کسانو سره عادي موبايل نه و، او يا خو هغه د ده تر لاس لاندي کسان خبر نه وو چې دا ټليفون به له ما سره پاتې کېږي، نو سمارټ ټليفون يې راوړ، ما هم د خپلې کورنۍ له غړو سره خبرې پر ټليفون وکړي، او هغه ټليفون بيا له ما سره پاتې شو، بيا نو ما انټرنېټ ته هم لاسرسي لاره، او هلته زندان کې ستاسي (ځلاند او مطمئن) له نومونو او کړنو سره ځکه بلد شوم، چې ماته نصيب ځدران ستاسي د نومونو يادونه هر وخت کوله.

**انس حقاني** زياته کړه: لومړی ځل حاجی شيرخان کوچی زموږ لېدو ته زندان ته راغی، له ډاکټر غني څخه سيد حامد ګيلاني اجازه اخيستي وه چې حاجي شيرخان له موږ سره وګوري، بيا د ملي امنيت مشرمعصوم ستانکزي کوچي ته اجازه ورکړي وه، او هغه راغی موږ يې ولېدو، زموږ د صحت او جوړتيا خبر يې بيا زموږ کورنۍ ته ورکړی و، هغه بيا وروسته هم څو ځله زموږ لېدو ته راغی.

د باګرام زندان قومندان به ويل چې حاجی شيرخان ليونی دی او که همدومره زړور دی، ځکه ستاسي (انس) د اعدام غوښتنه هر وخت کېږي، او له حقاني شبکې سره د اړيکو درلودل، دلته په داخل کې لوی جرم دی، مګر دا سړی بيا هم په ښکاره راځي او خپلې اړيکي نه پټوی، يا خو ليونی دی او يا له حده تير زړور دی.

---

[258] عبدالسلام رحيمي د سولې برخه کې د دولت وزير دی، او له دي مخکې د ډاکټر غني د دفتر رئيس و، هغه ډاکټر غني ته منلی او نږدې کس دی، ورور يې "عبدالقيوم رحيمي" د هرات والي و.

## د ولسمشر ټرمپ خبرې ناسته

د مارچ پر ٦مه، ولسمشر ـ ټرمپ د خبرې ناستې پر مهال وویل:"ښه تاسي پوهیږئ، په پای کې باید هیوادونه خپل ځان وساتي. موږ هلته "افغانستان" کې د راتلونکو ۲۰ کلونو لپاره نه شو پاتې کیدای، ۲۰ کاله موږ هلته وو او هغه هیواد مو وساته، نور نه شو پاتې کیدی، بلاخره هغوی "افغان حکومت" باید په خپله ځانونه وساتي".

ټرمپ د یوې پوښتنې په ځواب کې چې آیا افغان حکومت د ځان د دفاع وړتیا لري وویل:"موږ باید وګورو چې څه پیښیږي، هیله لرم چې هغوی خپله دفاع وکړي، خو زه نه پوهیږم، اوس دغه پوښتنه نه شم ځوابولی".

ټرمپ د بلې پوښتنې چې آیا طالبان کولای شي چې په افغانستان کې موجود حکومت ته سقوط ورکړي، وویل:" داسې باید ونه شي، خو داسې ښایي وشي."

د ترمپ تر څرګندونو یوه ورځ وروسته، د ډاکټر غني ویاند صدیق صدیقي وویل: "هغه ګواښونه چې د طالبانو له لوري موږ ته متوجې دي موږ یې درک کوو، د دې لپاره چې طالبان اوس هم زموږ پر خلکو، عام ځایونو او ښارونو بریدونه کوي، نو دغه ډله بیا نشي ـ راتلای او قدرت تر لاسه کولای نشي دا یو ناممکنه فرضیه ده".

## د امارت نه منلو په اړه د امریکا او روسیې اعلامیه

د امریکا او طالبانو د هوکړې تر لاسلیک وروسته، د مارچ پر ٦مه، امریکا او روسیې څرګنده کړه چې د امریکا متحده ایالات او روسیه په افغانستان کې د سولې د ټینګښت په موخه له طالبانو سره د سولې د هوکړې ملاتړ کوي، خو بیا د طالبانو امارت نه غواړي.

یادو هیوادو ګډه اعلامیه خپره کړه چې لیکلي یې وو:" د سولې ټینګښت او جګړې د پای ته رسېدو لپاره له افغان دولت، سیاسي مشرانو، مدني ټولنو او طالبانو سره کار ته ژمن دي.

موږ د افغان حکومت د سیاسي او اقتصادي ملاتړ ترڅنګ په نورو برخو کې هم له دغه هیواد سره مرستو ته ژمن یو.

نړیواله ټولنه او ملګري ملتونه د افغانستان اسلامي امارت په رسمیت نه پیژني. او همدارنګه نړیواله ټولنه د افغانستان د اسلامي امارت بیا رامنځته کېدل نه غواړي.

موږ له ټولو افغانانو څخه غواړو چې د متقابلو اندېښنو د رفع کولو په هدف چې د بندیانو ازادول او د اوربند ټینګېدل دي ژر تر ژره خبرو ته حاضر شي".

د مارچ ۸مه، خلیلزاد ولیکل:" موږ دغه راز په بین الافغاني مذاکراتو کې د ښځینه استازو ځواکمن ګډون ته ژمن یو. ټول افغانان باید د ګډ کار لپاره چمتو وي. زموږ له ملاتړ سره چې د افغانستان لپاره داسې راتلونکې غوره کړي چې د ښځو د ونډو او حقونو په تړاو د پیژندل شوو نړیوالو ارزښتونو درناوی وکړي."

## له امریکایانو سره د طالبانو د مذاکراتي ډلې له مشر شیرمحمد عباس ستانکزي سره ناسته

وخت: ماخوستن ۷:۰۰ تر ۹:۵۰
نیټه: د مارچ ٦مه ۲۰۲۰
ځای: مرسي ملاذ کمپینسکي هوټل – دوحه
د مارچ پر ۵مه، مولوي عبدالحق عمري موږ (ځلاند او مطمئن) ته ناوخته وویل چې ماښام مې میلمانه یاست، ملا عبدالمنان عمري او عباس ستانکزي هم راځي، دلته به مجلس وکړو، مگر موږ له ده مخکې له انس حقاني سره د ماښامنۍ ژمنه کړې وه.

سبا سهار، ځلاند له دوحې د کابل په لور وخوځېد، رښتیا خبره وي، په هغه ورځ غرمه ډوډۍ په هوټل کې هیڅ مزه نه درلوده، ځکه له څو میاشتو راهیسې زه له کابل څخه وتلی وم، او بیرته کابل ته تگ کې مې د امنیتي ستونزو اندیښنې درلودلې.

زه خوشاله شوم چې ډاکټر صالح اړیکه را سره ونیوله، ویې ویل چې ښاغلی عباس ستانکزی مجلس لپاره هوټل ته راځي. له ستانکزي سره مې هغه اندیښنې شریکې کړې، چې ماته خلکو ویلي وو چې د هغه لهجه ډیره تُنده ده، او د افغان حکومت اړوند زښتې خبرې اوسمهال په کار نه دي.

بل خوا بیا په دوبۍ کې ځوانانو ما (لیکوال) ته ویلي وو چې له عباس ستانکزي سره له همدې امله ډیره مینه لري چې هغه د خبرو پر مهال د چا پرواه نه ساتي، او د نظامي طالبانو د زړه خبرې کوي.

**ستانکزي** وویل: زما طبیعت همداسي دی، کله چې رښتیا ووینم نه شم ورڅخه تیریدلای، د سرو لښکرو سره د جگړې پر مهال، مجاهدین د روسانو له چورلکو څخه ډیر په تکلیف و، په ښه به یې مجاهدین ویشتل، او مجاهدینو د چورلکو ضد وسلې نه درلودلې. بیا امریکا مجاهدینو ته سام اې او سام بې SAM-A & SAM-B توغندي ورکړل، د هغوی ستونزه دا وه چې په تودوخه پسې به تلل، لومړی ځل کې

څو چورلکي وويشتل شوې، خو بيا به چورلکو فيشنګ (د اور رڼا) وغورځوله او توغندی به په هغې رڼا پسې ولاړ، کله خو به د لمر په تودوخې پسې توغندي ولاړ.

بيا امريکايانو افغان مجاهدينو ته ستنګر توغندي ورکړل، ستنګر توغنديو هدف دقيق نيوی، خو کله چې به هدف باندي برابر شو، نو تر ۱۰ ثانيو بايد فير هم شوی وای.

د ستنګر له ويري د روسانو د چورلکو بمبارد او د مجاهدينو په نښه کول او ويشتل بيخي کم شو، او روسي جيټ الوتکو هم چې پخوا به يې ځمکې ته په کمه فاصله کې بمبارد کاوه، د ستنګر له ويري يې له ليري فاصلي بمبارد کاوه چې هدف يې سم نه شو ويشتلای، او ستنګر ۴۵۰۰ متره کې خپل هدف ويشتی.

زه د اتحاد اسلامي (سياف) لخوا په جنوب لويديځ حوزه کې نظامي مسؤل وم، د سي آی اې کسان د پاکستان د آی ايس اي له جنرال سليمان سره راغلل، ما (ستانکزي) د بلوچستان په يارو [۲۵۹] کې د مجاهدينو د اتحاد په چوکاټ کې د عملياتو لويه خونه Operation Room جوړه کړی و، هلته د افغانستان اړوند ټولې نقشې پکې وې، هر کلی او هر سړک او وياله پکې ښودل شوې وه. هغه وخت دفاع وزير د مولوي محمد نبي محمدي په برخه کې وه، او د جنوب لويديځ لپاره هغه خپل کس ټاکلی و، خو زه د جنوب لويديځې حوزې لپاره د عملياتو عمومي رئيس ټاکل شوی وم.

دا نو لومړی ځل و چې د سي آی اې کسانو مخامخ له مجاهدينو سره کتل، له دې پخوا د آی ايس آی لخوا هڅه کېده چې امريکايان له مجاهدينو سره مخامخ ونه ګوري.

---

[۲۵۹] يارو سېمه د کچلاغ او سرانانو ترمنځ پرته ده، کويټې ته نږدې سېمه ده، کله چې د مجاهدينو اوه ګونی اتحاد جوړ شو، د ځينو ګوندونو لخوا په يارو کې د جنوب لويديځې حوزې لپاره لوی لوی دفترونه جوړ شول، او د حرکت انقلاب اسلامي لخوا همدې سيمه کې لويه ديني مدرسه هم جوړه شوه، خو د حزب اسلامي د شهيد مولوی حبيب الرحمن ليسه بيا له يارو سيمې سره تړلې، په سرانانو کې د افغان مهاجرو کيمپ ته نږدې په لويه ساحه کې ځای په ځای شوه.

د سي آی اې کسانو په پېښور کې هم د مجاهدینو له استازو او قومندانانو سره کتلي وو، دوی غوښتل چې د ستنګر توغندیو د تاثیر اړوند خپلې ارزونې وکړي.

ما (ستانکزي) د سي آی اې کسان زما د عملیاتو ځانګړې خونې ته بوتلل، هلته چې هغوی ته ما د افغانستان د جګړې حالت تشریح او د ستنګر توغندیو د اهمیت په اړه مې وویل، د سي آی اې یوه تن وویل: "داسي ښکاري چې ستنګر ستاسي له جهاد سره ډېره مرسته کولای شي، که همدا ستنګر لږ زیات درکړو، نو روسان به هم ژر مات شي."

د سي آی اې د مامور دغه خبره پر ما (ستانکزي) بده ولګېدله، داسي لکه چې دوی (امریکایان) روسانو ته ماتې ورکوي، هغه ته مې وویل: "تاسي امریکایانو به څومره ستنګر موږ مجاهدینو ته راکړي وي؟"

**د سي آی اې مامور**: کیدای شي تر دې مهاله د ۱۰۰ شاوخوا کې ستنګر مجاهدینو ته ورکول شوې وي.

**ستانکزی**: موږ کیدای شي د روسانو تر ۷۰ چورلکي او جیټ الوتکې د ستنګر توغندیو باندي ویشتلي وي، او دا به را غورځیدلې او سوځیدلي وي.

زه (ستانکزی) پوښتنه کوم چې د امریکا د وسلو په ګُدامونو کې به څومره ستنګر موجود وي؟

**د سي آی اې مامور**: په زرګونو، او کیدای شي لسګونه زره د ستنګر توغندي د امریکا د وسلو په ګُدامونو کې موجود وي.

**ستانکزی**: ښه چې دومره ډېر ستنګر توغندي لرئ، نو تاسي (امریکایانو) د روسانو کومه جیټ الوتکه او یا چورلکه پري ویشتلي او را غورځولي ده؟

د سي آی اې مامور باندي دا خبره ښه ونه لګېدله، ویې ویل چې د دې پوښتنې هدف دي څه دی؟

ما (ستانکزي) وویل: په نظامي برخه کي دا تدریس کیږي، چې اصل ځواک نظامي کسان دي، وسله یوازي وسیله ده، که وسلې هر څومره زیاتې وي چې د کوم نظامي

کس قرباني نه وي، وسلې کار نه ورکوي، اصل په نظامي برخه کې افراد دي، نه وسلې.

نو تاسي چې هر څومره زياتې وسلې لرئ، ويې ساتئ، مگر موږ قرباني ورکوو، او د قرباني په نتيجه کې موږ روسانو ته ماتې ورکوو، که ستمگر وي او يا نه، روسان به زموږ د قربانيو په برکت له افغانستان څخه وځي.

موږ له روسانو مخکې چنگيز، مغل او انگريزانو ته هم ماتې ورکړي او روسان به هم ماتې خوري ان شاء الله.

که تاسي د کندهار هديرو ته ولاړ شئ، هلته له هيڅ مجاهد سره ستمگر نه دی شخ، بلکې هغوی خپل سرونه د الله ﷻ د رضا لپاره قرباني کړي، موږ تر ميليون زيات شهيدان ورکړي، او همدارنگه زخميان، دا زموږ د قربانيو نتيجه ده چې روسان به ماتې خورې، نه ستاسي د شاوخوا سل ستمگرو نتيجه.

مجلس بې خونده شو، امريکايان ووتل، او زما خبرې ورباندي سختې تمامې شوي.

مگر همهغو امريکايانو بيا د پاکستان استخباراتې کسانو ته دا هم ويلي وو، چې په مجاهدينو کې دا ډول مسلکي کسان له کومه شوي؟

کله چې روسان له افغانستان څخه ووتل، نږدې يو نيم کال وروسته، د روسانو هيئت پېښور ته راغی، زه (ستانکزی) هغه وخت د حرکت انقلاب اسلامي (مولوي محمد نبي محمدي) د گوند نظامي مسؤل وم.

دا ناسته د پاکستان په وساطت چمتو شوې وه، روسانو له ما (ستانکزي) پوښتنه وکړه چې زموږ ۱۳ روسي پوځيانو هيڅ برخليک نه دی معلوم، چې هغوی ژوندي دي، ورک دي، وژل شوي او يا هم له مجاهدينو سره بنديان دي، که له تاسي سره کوم روسي پوځيان بنديان وي، موږ ته يې په اړه معلومات راکړئ.

د روسانو دا خبره را باندي ښه ونه لگېدله، چې دوی د خپلو ۱۳ پوځيانو د برخليک پوښتنه کوي، او زموږ په زرگونو افغانان تري تم دي.

روسانو ته مې وویل: ستاسي ۱۳ پوځیان ورک دي، خو زموږ په زرګونو افغانان ستاسي روسانو له خوا ورک شوي، د هغوی له مرګ او ژوند څخه هیڅوک خبر نه دي، میرمنې یې له بل چا سره نکاح نه شي تړلای، زامن یې د راتګ په هیله ورځې سبا کوي، تاسي زموږ د ورکو افغانانو لسټ را پیدا کړئ بیا به ستاسي روسانو د ورکو شوو پوځیانو په اړه خبرې کوو.

زموږ ناسته همدومره وه، او ختمه شوه، خو د پاکستان د آی ایس آی د هغه وخت جنرال کاظمي راته وویل: "تر تا مخکې د جمعیت اسلامي استازي له روسانو سره ډیرې د دوستۍ خبرې وکړي، هغه ورته وویل چې له موږ سره ستاسي (روسي پوځیان) بندیان دي، موږ یې در خوشي کوو، خو په مقابل کې به یې تاسي له موږ سره څه وکړئ؟ د جمعیت اسلامي د استازي هدف دا وو چې له روسانو څخه د بندیانو په مقابل کې پیسې واخلي."

**له امریکا سره مذاکرات:**

**ستانکزي** وویل: له خلیلزاد مخکې د امریکایانو لخوا ریچارډ اولسن له موږ سره تماس ونیو او خبرې مو ورسره وکړي، له هغه وروسته میرمن میلر او بیا میرمن الیس ویلز له موږ سره اړیکې ونیولي، هغوی ته موږ جدي خبرې وکړي، د هغوی هڅه دا وه چې موږ تر فشار لاندي راولي، مګر موږ ورته وویل چې خبرې به سپینې کوو، او که غواړئ چې جګړه ختمه شي، تاسي به خامخا وځئ.

کله چې د پاکستان لخوا خلیلزاد ته ویل شوې و چې په اسلام اباد کې به له هغه سره طالبان کښیني، ما (ستانکزي) اسلام اباد ته خپل او د سیاسي دفتر د غړو له تګ سره مخالفت وکړ، ځوان مولوي (مولوي محمد یعقوب صاحب) احوال راکړ چې پاکستان ته ورشم او هلته له خلیلزاد سره ووینم، ما د هغه خبره هم رد کړه، هغه بیا ګېله درلودله چې زما د امر اطاعت نه کوي.

همدارنګه د پاکستان لخوا هم اخطارونه راکول شول، چې کیدای شي دا ډول معامله ستا (ستانکزي) په زیان تمامه شي.

بالاخره پاکستان چې مايوسه شو، چې موږ اسلام اباد ته نه ورځو، بيا يې خليلزاد ته ويلي و چې تاسي قطر ته ورشئ، او له هغه ځايه دوی (د سياسي دفتر غړي) دلته اسلام اباد ته در سره راولئ او دلته به مجلس وکړئ.

ما (ستانکزي) ته خليلزاد پېغام را وليږه چې زه دلته "اسلام آباد" کې په تمه ناست يم، تاسي يقيني نه راځئ، هغه ته مې ځواب ورکړ، چې موږ هلته اسلام اباد کې در سره نه گورو، همهغه وو چې په سبا يې خليلزاد قطر ته را روان او بيا مو له هغه سره په دوحه کې مذاکرات وکړل"[٢٦٠].

يو ځل په قطر کې د پاکستان له سفير سره د يوې بلې غونډې پر مهال مخ شوم، له هغه سره مې روغبړ ونه کړ، بيا د پاکستان لخوا ماته اخطار راکول شو چې له پاکستاني ډيپلوماټانو سره دغه ډول چلند به ستا (ستانکزي) په خير نه وي.

کله چې موږ په اسلام اباد کې له امريکايانو سره د ليدو څخه انکار وکړ، د مرگ تر کچې تهديدونه راته متوجه وو، او په دي برخه کې زما سره د مذاکراتې ډلې نور ٦ ملگري هم همږغي نه وو، هغوی هم د پاکستان لخوا د ستونزو جوړولو په اړه انديښنې درلودلې.

همهغه وو چې ځينې طالبانو شيخ هبة الله صاحب ته زما په اړه شکايت وړاندي کړ، او دارنگه د پاکستان د استخباراتو مشر عاصم منير[٢٦١] هم زما په اړه نورو طالب مشرانو ته شکايتونه واستول.

---

[٢٦٠] د مارچ پر ۴مه، متقي صاحب ما (ليکوال) ته وويل:" کوم وخت چې پاکستان له خليلزاد سره ژمنه کړي وه چې په اسلام اباد کې به طالبان له امريکايانو سره ناسته کوي، موږ ډېر ښکاره پاکستان ته جواب ورکړ چې موږ دلته نه ور سره گورو، امريکايان دي قطر ته ولاړ شي او هلته دي له طالبانو سره خبرې وکړي."

خليلزاد په پاکستان کې له ۵ ورځو (١٦ جنوري تر ٢٠ جنوري) تيرولو وروسته ناهيلی، د جنوري پر ٢١مه ٢٠١٩، د دوحې پر لور وخوځيد، او هلته يې له طالبانو سره د څلورم پړاو خبرې پيل کړي.

[٢٦١] ډگر جنرال سيد عاصم منير احمد شاه د پاکستان د لومړي وزير عمران خان لخوا د اکتوبر ١٠مه ٢٠١٨، د پاکستان د استخباراتو"آی ايس آی" مشر اعلان شو، د اکتوبر پر ٢٥مه ٢٠١٨ يې کار پيل کړ او د جون ١٦مه ٢٠١٩ يې دنده پای ته ورسېده.

قطریان هم له ما (ستانکزي) څخه ځکه نه وو خوشاله چې ما په مذاکراتو کې د دوی رول نه مانه، یو ځل له امریکایانو سره د خبرو پر مهال د قطر د بهرنیو چارو لخوا استازي مطلق بن ماجد القحطاني وویل چې زه ستاسي (طالبانو او امریکا) تر منځ دریم ګړی یم، ما (ستانکزي) خلیلزاد ته وویل چې دی (قحطاني) څه وایې، دده خبره رښتیا ده، موږ خو له دي معاملې نه یو خبر. خلیلزاد وویل:"موږ قطر د دریم ګړي په صفت نه دی پېژندلی."

بیا ما (ستانکزي) قحطاني ته وویل: "ته یوازي اسانچاری Facilitator یې، چې موږ ته میز جوړ کړئ، چای راته راوړئ او نور کارونه چې اړتیا یې وي تاسي یې وکړئ.

دوه کاله او څو میاشتې مخکې د قطر د بهرنیو چارو وزارت مامور قحطاني ستونزې جوړولې، هغه ویل چې د سیاسي دفتر ځینې کسان له قطر څخه باید ووځي، ما (ستانکزي) ورته وویل:" که یو نفر هم وځي، نو ټول دفتر له قطر څخه وباسم، مګر د سیاسي دفتر هیڅ غړی باید له قطر څخه د فشار له امله ونه ایستل شي[۲۶۲]."

---

[۲۶۲] د نومبر ۲۲مه، ۲۰۱۸ ما (لیکوال) ته د نن ټکی اسیا مسؤل عبدالرحمن فداء وویل: "د اکرم خپلواک په غوښتنه په قطر کې پر ۶ کسانو تور وو چې ۳ تنه (عبدالرحمن فدا، مولوي جان محمد مدني، ضیاء الرحمن مدني) یې د افغان حکومت ضد تبلیغات له قطر څخه کوي، او ۳ تنه (حاجي داوود عابد، قاري عبدالعزیز او قاري افضل) په خلیج کې د طالبانو لپاره بسپنه کوي او د طالبانو مالي ملاتړ کوي، چې بیا د قطر دفتر لخوا یاد شپږ تنه له قطر څخه ممنوع الخروج او بانکي حسابونه یې وتړل شول، همدارنګه کوم معاش چې پخوا د قطر سیاسي دفتر په چوکاټ کې ورکول کېدی، هغه معاش هم وربانديي بند شو. اوس مهال د سفر بندیز ورڅخه لیری شوی، خو بانکې حساب او حتی په قطر کې د پیسو د تبادلې اجازه هم نه لري.

د قطر هیواد د بهرنیو چارو وزارت لخوا د قطر سیاسي دفتر له مشر څخه غوښتل شوې و، چې یاد شپږ تنه له قطر هیواد څخه وباسي، مګر عباس ستانکزي ورته ویلي و که یاد شپږ تنه تاسي له قطر څخه وباسئ، بل وخت به د نورو کسانو د ایستلو غوښتنه هم د کابل حکومت په غوښتنه کوئ، ښه داده چې موږ ټول د سیاسي دفتر غړي له قطر څخه ووځو،

قحطاني پرېښانه شو، هغه ویل چېرته دفتر وړئ، ومې ویل چې دا زموږ خوښه ده، او زه پوهېږم چې چیرته یې باید انتقال کړو، قحطاني اندېښنه درلودله چې کیدای شي اماراتو ته دفتر انتقال کړي.

همهغه وو چې قطریان هم زما په دې ډول خبرو خفه شول، او امریکایانو هم زما لخوا له زښت جوابونو او داچې اسلام اباد کې خلیلزاد څو ورځې معطل و، ورنغلم، خفه وو.

بیا نو امریکا، پاکستان او د طالبانو ځینې مشران (ملا محمد حسن اخوند او مولوي محمد یعقوب) ټولو زما په اړه شکایت درلود او شیخ هبة الله صاحب ته هم دا خبرې رسیدلي وي، همهغه وو چې زه یې د قطر د سیاسي دفتر له مشرۍ څخه لیرې کړم.

زه پر دې هیڅ خفه نه شوم چې زه د قطر سیاسي دفتر له مشرۍ لیري شوم، ما خپل مسؤلیت په خپل وخت کې اداء کړ، له هغه وروسته بیا مسؤلیت د ملا برادر اخوند و، او زه د طالبانو د مذاکراتي ډلې مشر وم، موږ چې به له امریکایې لوري سره ځینې مسایلو کې سختي وکړه، بیا به د قطر بهرنیو چارو وزیر او خلیلزاد له ملا برادر اخوند سره ولېدل، او ملا برادر اخوند به سهولت کاوه.

## د ابوظبی غونډې اړوند:

ستانکزي وویل: د پاکستان مشرانو خلیلزاد او نورو لوړ پوړو امریکایانو ته ویلي وو چې سعودي عربستان او عرب متحده ایالات وهڅوئ چې موږ ته پیسې راکړئ، موږ به له طالبانو سره ستاسي معامله ټوله ډیر ژر در خلاصه کړو. همدارنگه پاکستان زموږ پر ځینو طالب مشرانو هم فشار اچولی وو.

زه (ستانکزی) په اماراتو کې وم چې ځوان مولوي ماته پیغام را ولیږی چې په ابوظبی کې له امریکایانو سره ناسته ده او هلته تاسي ورشئ، پاکستان خواهش کړی.

---

کله چې یاده خبره قطریانو امریکایانو سره شریکه کړي وه، امریکایانو ورته ویلي وو چې دا مسئله همداسي پریږدي او له قطر څخه د ٦ تنو طالبانو پر وتلو دي قطري چارواکي ډیر ټینگار نه کوي.

ما چې قطر کې د مذاکراتې ډلې له ملګرو سره خبره شریکه کړه، هغوی د قطر په اړه اندیښنې درلودلې، چې قطر باندی به دا سخته تمامه شي چې په ابوظبۍ کې غونډه وي.

قطریانو هم زموږ د مذاکراتي ډلې کسانو ته د دوحې په هوایې ډګر کې ستونزې جوړې کړي، او هغوی یې پرېنښودل چې اماراتو ته سفر وکړئ، خو بیا وروسته د امریکایانو لخوا دا ستونزه حل شوه.

قطریانو فکر کاوه چې دا کار ستانکزي زموږ له ضده وکړ، قطریان له ما څخه لا زیات خفه شول.

موږ د ابوظبۍ ناستې ته په دې نیت ورغلو چې د پخوانۍ اجنډا مطابق به خبرې کیږي. مګر هلته نوي اجنډا را وړاندې کړل شوه[۲۶۳].

همدارنګه له پاکستان څخه ملا عباس اخوند، ډاکټر فقیر، مولوي امیرخان متقي، مولوي یحی، ملا نورالدین ترابي او ملا محمد حسن بابړ هم را لیږل شوي وو.

کله چې له امریکا سره مذاکراتې ډله جوړېده، پاکستاني چارواکو به ځینې طالب مشرانو ته دا پیغام رساوه چې ولې ملاعباس اخوند، قاري غلام یحی او ملا حسن په دې ډله کې نه شاملوئ.

دا ټول ٦ تنه پرته له پاسپورټ او ویزې په ځانګړې الوتکه کې ابوظبۍ ته راوړل شول.

بلخوا له کابل څخه هم د عبدالسلام رحیمي په مشرۍ د کابل ادارې استازي ابوظبۍ ته راوستل شوې وو، په هغه هوټل کې د اوسیدو ځای ورکول شوی وو چېرته چې موږ وو، او چېرته چې مذاکرات کېدل.

د سعودي عربستان د استخباراتو مشر، د متحده عرب اماراتو د استخباراتو مشر او د پاکستان د استخباراتو مشر عاصم منیر هم غونډې ته راغوښتل شوې وو.

---

۲۶۳ د اجنډا پر سر د جنجال تفصیل په مخکې پاڼو "د ابوظبۍ غونډه – دریم پړاو خبرو" کې لیکل شوی.

کله چې مذاکرات پیل کېدل، ټول کسان هغه ځانګړې سالون ته ننوتل، موږ مشران لږ وروسته ور روان شوو، زه (ستانکزی)، د سعودی عربستان د استخباراتو وزیر او عاصم منیر درې سره یو ځای سالون ته ور روان وو.

عاصم منیر د سعودی وزیر ته په انګریزي وویل:" دادی موږ طالبان دلته درته راوستل، اوس تاسي او امارات پر دوی فشار راوړئ چې نوي اجنډا پرې ومنو."

عاصم منیر خدای وشرماوه، نه پوهېږم چې ده به ولي همدلته دا خبره زما مخکې ورته کوله، داچې هغه به فکر کاوه چې زه په انګریزي نه پوهېږم او یا داچې بله موقع به یې نه لېدله، غوښتل به یې په همدې موقع دا خبره ورته وکړئ، او یا ممکن فکر به یې کاوه چې طالبان به د اجنډا بدلون موضوع دومره ډېره جدي هم ونه نیسي.

زه (ستانکزی) اوس ښه پوه شوم چې د دوی درې واړو هیوادو (پاکستان، سعودي عربستان او متحده عرب اماراتو) ګډ هدف دادی چې پر موږ نوي اجنډا ومني، هیڅ مې هم ونه ویل، موږ ټول د خبرو سالون ته ورغلو.

خلیلزاد او د اماراتو د استخباراتو مشر هم له موږ شاته را روان وو، هغوی هم را غلل.

لومړی د ابوظبي د استخباراتو مشر الشامسي خبرې وکړي، له هغه وروسته ما (ستانکزي)، خلیلزاد او عاصم منیر خبرې وکړي، چې د سولې او امریکا سره د مذاکاراتو د اړتیا په اړه وي.

له دې لنډو مقدماتي خبرو وروسته د دوی ټولو لخوا لاندي اجنډا اعلان شوه، چې پر دي مسایلو به بحث کوو.

۱ – درې میاشتي سمدستي اوربند دي وشي.

۲ – بین الافغاني مذاکرات دي سمدستي پیل شي.

۳ – تر ۲۰۲۰ جنوري پوري دي داسي حکومت جوړ چې طالبان هم پکې مدغم شي.

همدارنګه ځینې نور مسایل یې هم په نوي اجنډا کې وړاندي کړل.

ما (ستانکزي) ورته وويل چې موږ خو له خليلزاد سره په تير مجلس (دويم پړاو خبرو پای) کې پر اجنډا توافق ته رسيدلي وو چې:

۱ – د بهرنيو ځواکونو د وتلو مهالويش،

۲ – د افغانستان له خاوري امریکا او نړۍ ته نه گوابن، او

۳ – د افغانانو ترمنځ خپلمنځي خبرو ته لاره پرانستل.

کله چې ما دا خبرې وکړې، نو عاصم منير، د سعودي عربستان او اماراتو د استخباراتو مشرانو وويل چې خير تاسي همدا نوي اجنډا ومنئ او پر دي باندي خبرې وکړئ، د افغان حکومت له استازو سره هم ووينئ.

خليلزاد ته مې وويل:" زما او ستا ترمنځ خو پر اجنډا توافق شوی و، دا خو ټولې خبرې نوي دي.

**خليلزاد**: اوس خو همدا اجنډا دوی وړاندي کړي ده، او پر دي به خبرې وکړو.

**ستانکزی**: که بل ځل په چين يا بل هيواد کې ناسته کيږي، نو هغوی به بيا نوي اجنډا جوړوي.

که په پخوانۍ اجنډا او پورته دريو مسايلو بحث کوئ، ښه ده، کنه وي موږ له مجلس څخه ولاړيږو، او مذاکرات نه کوو.

د سهار مهال ناسته پرته له نتيجې همداسي پای ته ورسيده، ماسپښين بيا موږ سره کيناستو، ډير ښکاره مې ورته وويل: "موږ اوربند نه کوو، د کابل اداري له هيئت سره نه کينو، حتي په ډوډۍ کې هم له موږ سره د هغوی يو ځای کيناستل نه منو."

بيا هم ناسته له نتيجې پرته پای ته ورسيده.

دوېمه ورځ د ماښام ډوډۍ مهال و، درې يا څلور ميزونه تيار وو، يوه ميز ته زه (ستانکزی)، منير عاصم، د سعودي او اماراتو وزيران کيناستو.

**منير عاصم** وويل: ستانکزی صاحب! تاسي ولي له افغانانو سره خبرې نه کوئ.

ما (ستانکزي) د سلاتې لپاره څه را اخيستي وه، پر خوړلو يې بوخت وم، جواب مې ور نه کړ، هغه بد بد زما لورته کتل، دوېم ځل يې بيا خپله پوښتنه تکرار کړه، بيا هم ما خپله سلاته خوړله، جواب مې ورنه کړ، هغه لا ډېر غوسې واخيست.

درېيم ځل يې وويل، که جواب نه راکوي، دليل خو راته ووايه.

منير عاصم ته مې وويل: ته څوک يې چې له ما دا پوښتنه کوي.

منير وويل: ستاسي دوست، ستاسي د دوست هيواد څخه يم.

ما (ستانکزي) ورته وويل: تاسي څنګه زموږ دوست ياست، پر افغانانو باندي بمبارد خو امريکا له پاکستان څخه پېل کړ، امريکايانو ته د ټانکو د سون مواد د پاکستان له لاري رسيږي، تاسي په اسلام اباد کې خپله سوداګرئ (له امريکا څخه په يو او بل نوم پيسې تر لاسه کول) کوئ، زموږ په کورنيو چارو کې کار مه لرئ.

عاصم وويل:خير موږ او تاسي سره ګاونډي هيوادونه يو، يو بل ته بايد غوږ ونيسو، په دي وخت کې د سعودي د استخباراتو وزير وويل:"ستانکزی صاحب! لږ ګوزاره کوه."

ومې ويل: زموږ دا ۱۸ کاله جګړه د دې لپاره نه ده چې موږ معاملې وکړو، که دا خبرې ومنو، زموږ مجاهدين يې نه مني، او زموږ د هيواد او ولس په ګټه هم نه ده، نو تاسي پر دی باندی ټينګار مه کوئ.

د ماښام تر ډوډۍ خوړلو وروسته بيا مجلس پېل شو، خليلزاد وويل:"دا دوه ورځې کيږي، موږ درته وايو چې زموږ ټولو خبره او وړانديز ومنه، پر نوي اجنډا به خبرې وکړو، خو ته يې نه مني، که دا کار نه کوي، نو د افغانستان د جګړې د اوږديدو لامل به تاسي ياست، د خلکو د وژنې مسؤل به تاسي ياست او موږ کولای شو چې ۱۸ نور کلونه هم دا جګړه مخکې يوسو."

**ستانکزي** زياته کړه، خليلزاد ته مې وويل: خلک تاسي وژنئ او تاسي مسؤل ياست، په عراق، سوريه او افغانستان کې تاسي د يادو هيوادونو وګړي وژنئ، که تاسي ۱۸

کاله جګړه کولای شئ، موږ افغانان یو، غیرت لرو، ننګ لرو، موږ ۱۰۰ کلونه له تاسي (امریکا) سره جګړې ته دوام ورکولای شو.

خلیلزاد خپله چوکۍ وښرخوله، ولاړ شو، له مجلس څخه ووت. ما (ستانکزي) فکر کاوه چې هغه به تشناب ته وتلی وي.

**منیر عاصم** وویل: ستاسي فایده ده چې اوربند وشي او له افغان حکومت سره خبرې وکړئ.

ما (ستانکزي) ورته وویل: موږ په خپله فایده پوهیږو، چې په څه کې مو ګټه ده.

منیر عاصم هم ولاړ شو، فکر مې کاوه چې بیرته به مجلس ته راشي، خو لږ وروسته د ابوظبي د استخباراتو مشر وویل چې زموږ او ستاسي دا مجلس همدلته ختم کوو، او بله ناسته به په سعودي عربستان کې کوو[۲۶۴].

سهار د چای ښنبلو پر مهال خبر شوو چې خلیلزاد او منیر عاصم په شپه کې اسلام اباد ته تللي دي، او پر سبا یې چې کله متقي صاحب اسلام اباد ته ورسید، د پاکستانیانو لخوا ورته ویل شوي وو چې ستانکزی به نور د مذاکراتو مشرې نه کوي.

د پاکستان د آی ایس آی لوړ رتبه چارواکي بریګیډر حسن هم ملا عباس اخوند ته ویلي و چې ستانکزي زموږ د استخباراتو مشر عاصم منیر ته سپکاوی کړی و.

دا هر څه تیر شول، د فبروري پر ۲۹مه ۲۰۲۰، د تړون د لاسلیک د مراسمو پر مهال چې د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پمپیو کومه وینا کوله، زړه مې غوښتل چې ور ولاړ شم او ملا برادر اخوند ته په غوږ کې ووایم چې زه یې جواب ووایم، خو بیا مې لازم ونه ګڼله، ځکه د نورو هیوادو د بهرنیو چارو وزیران هم ناست وو.

کابلوف ماته را په غوږ شو، ویې ویل چې دا پمپیو څه وایي؟

[۲۶۴] د ډسمبر پر ۲۹مه ۲۰۱۸، اوازې خپرې شوې چې طالبان به د افغان حکومت له استازو سره په سعودي عربستان کې په دوو اونیو کې ناسته کوي، د طالبانو لخوا دغه ډول اوازې رد شوې.

که داسي واى چې يو له دوو (وينا او يا د ترون لاسليک) ما (ستانکزي) کړى واى، نو د پمپيو د خبرو جواب به هم شوى واى، خو ملا برادر اخوند دواړه کاره خپله وکړل.

بيا چې وروسته ما (ستانکزي) ملا برادر اخوند ته وويل چې پمپيو خو دا ډول خبرې وکړي، هغه وويل چې زه پوه نه شوم، او د ژباړې گوښئ مې په غوږونو کې نه وي[٢٦٥].

د ترون د لاسليک تر مراسمو وروسته موږ له پمپيو سره ناسته درلودله، زه او ملا برادر اخوند وو، متقي صاحب له خبريالانو سره بوخت و، هغه لږ وروسته راغی.

ملا برادر اخوند پمپيو ته وويل:"زموږ او تاسي ترمنځ ژمنه شوې وه چې تخريش کونکي خبرې به نه کوو، خو ستاسي وينا کې همداسي خبرې وې."

ما (ستانکزي) پمپيو ته وويل: موږ نني ترون د عجز او ضًعف له امله نه دى کړى، تاسي ښه پوهيږئ چې په سيمه کې ځينې هيوادونه چمتو دي چې موږ ته ډول ډول وسلې راکړي، مگر موږ له افغانستان څخه سوريه نه جوړوو.

---

٢٦٥ له دې معلوميږي چې طالبان څومره ساده او صاف خلک دي، په همدې مهمه ورځ، د پمپيو د وينا لپاره هم ملا برادر د ژباړې اړتيا نه حس کوله. داسي ښکاري چې په هر کار کې طالبان پر الله ﷻ توکل کوي، کنه په انساني عقل کې خو په کار وه چې د پمپيو د وينا ژباړه يې دقيق اوريدلي واى. خو ملا برادر اخوند د هغه پر وينا نه و پوه شوى، ځکه پمپيو په انگريزي وينا کوله.

او زما (ليکوال) په نظر چې طالبانو گټه هم وکړه، چې د پمپيو د خبرو اړوند يې غبرگون ونه ښود، ځکه ټول خلک او د هيوادو استازي پر دې باوري او پوهيدل چې امريکا له طالبانو سره د خپلې ماتې ترون لاسليک کوي، کله چې مات لورى غټې خبرې کوي، خوند هم ور سره نه کوي، او له بريالي لور سره په دغه وخت کې نرمې خبرې خوند کوي. په نړۍ او ملتونو کې منل شوې اصول هم همدا دي.

کله چې ملا برادر اخوند په پښتو وينا کوله، د مايک پمپيو په گډون، ټولو بهرنيانو يې ژباړه د ژباړونکي "گوښې" له لارې اوريده، مگر په عربي او انگريزي ژبو کې د هغه د خبرو ژباړه په مناسب ډول نه کېده، او عربي ژباړونکي له پښتو کليماتو او لهجو سره ښه بلده نه وه.

او موږ نه غواړو چې تاسي هم لکه د روسانو په څیر په لسګونو ټوټو وویشل شئ، خو ستا خبرې داسي وي لکه تړون چې زموږ مجبوریت وي، مګر داسي نه ده.

په سېمه کې موږ ته داسي شنه څراغونه راکول شي چې وایې امریکایان مه پرېږدئ چې له افغانستان څخه ووځي، او هر ډول وسلې موږ تاسي (طالبانو) ته په واک کې درکوو، مګر موږ خپل هیواد د لویو هیوادونو د نیابتي جګړې نه قرباني کوو.

که په سم ډول له افغانستان څخه ووځئ، ښه ده، کنه موږ بل انتخاب هم لرو، خلیلزاد ته مې اشاره وکړه، چې همداسي ده کنه؟ هغه وویل هو، دا سمه ده، موږ په راتلونکې کې له افغانستان سره ښې اړیکې غواړو.

پمپیو ته مو وویل: موږ په راتلونکي کې هم له امریکا سره ښې اړیکې غواړو، داسي چې ستاسي په ضد زموږ خاوره ونه کارول شي، او افغانستان د ایران، روسیې، چین د نیابتي جګړو قرباني نه شي.

موږ داسي نظام غواړو چې ټولو افغانانو ته د منلو وړ وي، تاسي کرزی وازمویه، له هغه وروسته مو ډاکټر غني راوست، دوی غلاوي وکړي، فاسد کسان دي، اوس مهال ۳ ولسمشران (ډاکټر غني، ډاکټر عبدالله او رشید دوستم) په افغانستان کې ناست دي[۲۶۶]، ښه انتخاب د طالب دی، د طالبانو د نظام څخه ملاتړ ستاسي او نړۍ په ګټه دی، موږ کولای شو چې د واک دغه جزیري څه ډول کنټرول کړو.

[۲۶۶] د فبروري پر ۱۳مه، د ولسمشر غني لومړي مرستیال جنرال دوستم په جوزجان کې یوې غونډې ته د وینا پر مهال وویل: "د ټاکنو کمیسیون دي له ځنډ پرته د انتخاباتو وروستۍ پایله اعلان کړي، که د ټاکنو کمیسیون د درغلیو په اساس ولسمشر غني یو وار بیا بریالی اعلان کړي، زه به یې پر خلاف ودریږم او په شمال کې به موازي حکومت اعلان جوړ کړم."

همدارنګه ډاکټر غني او ډاکټر عبدالله غوښتل چې هر یو یې د فبروري پر ۲۷مه، د ولسمشر په توګه لوړه وکړي، چې د امریکا په غوښتنه یاد مراسم وځنډېدل او د مارچ پر ۹مه، ډاکټر غني او ډاکټر عبدالله، هر یوه یې د ولسمشر په توګه لوړه وکړه، او ځان یې ولسمشر اعلان کړ.

پمپیو خلیلزاد ته مخ واړاوه، ورته یې وویل چې دی (ستانکزی) د ځان (طالبانو) لپاره کمپاین کوي. مګر هغه زیاته کړه: "تاسي طالبان کولای شئ دا کار وکړئ، موږ په دي هر څه پوهیږو."

ما (ستانکزي) ورته وویل: په افغانستان کې اوسمهال شرایطو ته په کتو، ایتلافي حکومت کار نه ورکوي، یو قوي او مستحکم حکومت ته اړتیا ده.

پمپیو له ناستې خوشاله و، ویې ویل: "نیم ساعت وروسته له ټرمپ سره ټلیفون کوم او دا خبرې ورته رسوم."

## د خلیلزاد لخوا وړاندیزونه:

خلیلزاد کمپاین کاوه چې په طالبانو کې کسان پیدا کړي، موږ ته یې بېلابېل وړاندیزونه په بېلابېلو طریقو وړاندي کړل، خو امریکایان ونه توانېدل چې په طالبانو کې کوم کس پیدا کړي.

له ډیورنډ کرښې ما(ستانکزي) ته یوه نظامي طالب قومندان وویل چې خلیلزاد په درېیم لاس هغه ته پیغام رسولی چې که هر څه غواړي موږ یې درکوو، خو تاسي له موږ سره ملګري شئ.

زه باوري یم چې د طالبانو د مذاکراتي ډلې هر کس ته به دغه ډول وړاندیز د امریکایانو له لوري په کومه طریقه رسیدلی وي، زموږ ملګرو د امریکایانو دا طمعه ور شکولي وه چې د مادیاتو او یا واک ته رسیدو لپاره به له امریکایانو سره پټه معامله کې داخل شي.

زموږ ملګري عادي کسان وو، خو امریکایانو به ویل چې تاسي د سولې مذاکراتو اړوند قوي روزنه چیرته کړي ده، ځکه زموږ لوری پر امریکایانو ډېر غالب او قوي و، دا ځکه چې موږ د حق پلویان وو، اصل کې حقانیت او حق خبرې وي.

له امریکایانو سره د مذاکراتو په جریان کې چې پر ما (ستانکزي) کوم فشارونه ما ولیدل، کیدای شي په پخوانیو تاریخونو کې هم ورته کار شوی وي، او ځینې افغان

مشرانو به ناسمې پریکړې د مجبوریت او فشارونو له امله ښخوا کړې وي، لکه د ګندمک معاهده، د ډیورنډ کرښې معاهده، د شاشجاع واک ته رسېدل، د امیر عبدالرحمن خان او انګریزانو ترمنځ معامله.

د فشارونو په نتیجه کې پر ما (ستانکزي) قطر هیواد معاش بند کړی، نورو ملګرو ته میاشتنی معاش ورکول کیږي، خو ما چې په مذاکراتو کې امریکایانو ته سپینې خبرې کولې، او قطریان مې د منځګړي په توګه نه منل، اوس هم معاش را باندي بند دی. که زه له قطر څخه بل هیواد او یا چیرته سفر کوم، نو دوه ورځې وړاندې باید د قطر بهرنیو چارو وزارت ته خبر ورکړم، او بیا هم یوازي د ۳ ورځو لپاره له قطر څخه وتلای شم، تر دې زیات نه شم وتلای[۲۶۷].

یو خل استاد سیاف د مجاهدینو یو غونډه ته د روسانو سره د جهاد پر مهال راغی، زه هم هلته موجود وم، د امریکا له لوري د مجاهدینو لپاره چریکې بستري او د یخ

---

[۲۶۷] ما (لیکوال) ته د قطر دفتر غړي ډاکټر صالح د مارچ پر ۴مه وویل:"ستانکزی صاحب ځکه قطر ته له متحده عرب اماراتو (شارجې) څخه کور نه راولي، بیا به مجبوریږي چې د قطریانو ځینې غوښتنې هم ومني، ځکه کورنۍ به یې دلته وي، او داچې ستانکزی د طالبانو د سیاسي دفتر مشر و، خو کور یې په شارجې کې و، دا قطریانو ته ډیره سخته او درنه وه."
مګر د قطر سیاسي دفتر یو بل ځوان غړي قاري روح الله د مارچ پر ۹مه وویل:" قطریانو یوازې حاجي ستانکزي ته بهانه غوښته چې معاش ور باندې بند کړي، ورته یې وویل چې کومې میاشتنۍ پیسې موږ درکوو، دا خو د کور د مصارفو لپاره دي، خو که ته دلته نه اوسیږي، او کورنۍ دې در سره نه وي، نو بیا تاسي ته د کور لپاره مصارف هم نه درکوو.
همدارنګه قطریانو په وروسته وختونو کې له زاهد احمدزي څخه وغوښتل چې خپل تجارت له دوبۍ څخه را ټول کړي، هغه د قطریانو غوښتنه ونه منله، د هغه ویزه یې دلته قطر کې ورختمه، د هغه بانکي حسابونه یې ور وتړل، او کوم تجارت چې یې په قطر کې درلود، هغه ټول معلق پاتې شو."
حاجي جان اغا (زاهد) احمدزي مخکې د طالبانو د قطر دفتر له پرانستلو هم په دوبۍ کې خپل ازاد تجارت کاوه، او د سیاسي دفتر له غړیتوب سره هم مهاله یې هم خپل شخصي تجارت مخکې ووړ.

ضد کوټونه (جمپرونه) راغلي وو، موږ استاد ته وويل چې مبارک، مجاهدينو ته تاسي ډيرې ښې چريکې بسترې او کوټونه را ليږلي.

**استاد سياف** وويل: زه پرې خوشاله نه يم، که مجاهدين مرفح اموخته شي، بيا به د جهاد سختيو ته ځان ټينګ نه شي کړلای.

داسي مثال لري، لکه يو کوچي سړي ته چې څوک په پرمختلي ښار کې کور ورکړي، هلته بريښنا وي، تودې او سړې اوبه، د ژوند ټول امکانات مهيا وي، له کوچي څخه د کور کرايه هم نه اخلي، خو بيا دا کور ورکونکی يوه ورځ ورته ووايې چې ستاسي په کور کې ښځې ډيرې غټې جامې اغوندي او د باندي هم نه را ووځي، اوس خو په ښار کې ياست، ښه ده چې د ښار له دود سره سمې جامې ستاسي ښځينه ولري او کله کله يې د باندی هم را وباسئ، په کوچی سړي به د کور ورکوونکي دا خبرې د راکټ د ډز په څير وي، خو چي کله بريښنا او اوبه ورباندي بندي کړي، نو کوچی به حيران وی، بيرته به د کوچيتوب ژوند ته نه شي ګرځيدلای، او نه به د کور ميرمنې له هغه سره مني چې بيا هغه سترړی او سخت ژوند ولري، نو کوچی به مجبوره شي چې د کور ورکونکی دا يوه خبره به ور سره ومني. ځکه کور ورکوونکی به ورته وايې چې ما له تاسره دومره ښه کړي، خو ته هم بايد زما دا يوه خبره ومني.

مياشت او دوه مياشتې وروسته به کور ورکونی بله غوښتنه ورڅخه وکړي، چې دا خو ښار ده، لونې دي زموږ د ملګرو ودونو ته ور پريږده، همداسي نورې غوښتنې، کوچی به حيران وي چې که د کور ورکونکي غوښتنې منی، نو پت او عزت يې له منځه ځي، خو که يې نه مني، هم بې پته کيږي، ځکه بيرته که د کوچيتوب ژوند ته مخه کوي، هلته نور سيالان ور پوري خاندي چې څه وخت يې د ښار ژوند وکړ، هلته خبره ور سره نه کيدله، اوس بيرته غريب مجبوره شو.

نو که موږ ته امريکايانو دغه ډول د مرفح ژوند اسباب چمتو کوي، بيا به له موږ غوښتنې هم ولري، که ور سره منو يې، بې پته به شو، او که يې نه منو، هم به حيران يو، خپل پخواني ژوند او کلي ته به نه شو ګرځيدای.

**ستانکزي** وویل: د مذاکراتو پر مهال هم دښمن کټ مټ همدا کار کوي، امتیازات درته مني، طمعې در کوي، د شخص اړوند منفي ټکي پیدا کوي، اسناد پیدا کوي، که بیا د دوی خبرې ور سره ومنل شي، ښه، کنه هغه کس بدناموي او له صحنې یې لیري کوي، نو په دغسي یو حالت کې بیا ځینې کسان مجبوره کیږي چې سازش وکړي، خو امریکایانو خپلې ټولې توطیې او چلونه وکړل، مګر ونه توانېدل چې طالبان تطمیع کړي.

ځکه طالبانو د خپل نږدې ۴۰ میلیونه ولس غوښتنې په نظر کې نیولي، د هغوی په وړاندي یې ځان مسؤل ګاڼه، او هغوی او خپل رب ته یې ځان جواب ورکونکی باله.

موږ ټولو غوښتل چې د خپل ولس او هیواد ملي ګټې وساتو، مذاکرات خو یو کال و، تیر شول، که امتیاز هم چا اخیستی وای، دا وخت هم تیریدی، خو تاریخ هر څه حفظ کوي، او تاریخ څوک نه شي بدلولای.

دا به څنګه ممکن وه چې یو مجاهد په ځان پوري بمونه تړي، د بهرنیانو د لمنځه وړلو په موخه ځان الوځوي، خو بیا دلته د مذاکراتو پر مهال د هغوی قرباني نا لیدلي وګڼل شي، او معامله وشي، دا ممکن نه وه.

لومړی وخت کې موږ د ټولو بهرنیو ځواکونو د وتلو لپاره ۳ میاشتې وخت ورکاوه، بیا وروسته ٦ میاشتي او بالاخره په ۱۴ میاشتي توافق وشو.

که چیرته ما(ستانکزي) له امریکایانو سره د بهرنیو پوځیانو د وتلو ډیره موده منلی وای، دوی غوښتل چې تر ۲۰۲۴ ز کال پوري دا کار وشي، تر څو د هغه تړون وخت هم پوره شي چې له کابل ادارې سره امریکایانو د امنیتي او دفاعي تړون تر نامه لاندي لاسلیک کړی[۲٦۸]، او امریکایان وښیې چې دوی د کابل ادارې سره د تړون له مخې له

---

[۲٦۸] له افغانستان سره د امریکا امنیتي او دفاعي تړون چې ۹ پوځي او هوایي اډې امریکایانو ته ورکول شوې، حد اقل د لسو کلونو لپاره دی، ولسمشر اشرف غني ارګ ته تر ننوتلو وروسته په دوېمه ورځ د سپټمبر ۳۰مه ۲۰۱۴ز. کال د ماسپښن درې بجې له امریکا او ناټو سره ستراتیژیک امنیتي تړون لاسلیک کړ. د امریکا او افغانستان ترمنځ دغه

افغانستان څخه ووځي، نو امریکایانو به هر ډول امتیازات موږ ته منلي وای، خو موږ غوښتل چې امریکایان شرمیدلی له افغانستان څخه ووځي، او ماتې ومني.

کله چې طیب اغا د قطر سیاسي دفتر مشر و، او حامد کرزی په واک کې و، د دوی ترمنځ اړیکې نیول شوي وي، د حامد کرزي لخوا حکمت کرزی دوبۍ ته راولیږل شو، ما (ستانکزي) ورسره ولیدل، حکمت کرزي ته مي وویل چې حامد کرزي ته ووایه چې دا د غلام بد نوم له ځانه لیري کړه، خو دا اسانه هم نه ده، که غواړي چې له دغه بد نامه ځان خلاص کړي، نو زه به د مجاهدینو له باروتو ډک واسکټ درته چمتو او در وبه یې لیږم، په ځان پورې یې وتړه او په باګرام کې د مهمو امریکایانو په منځ کې ځان ته انفجار ورکړه، که دا کار ونه کړي، په هیڅ صورت د غلام نوم له ځانه نه شي لیري کولای، او د شاشجاع تاریخ دي تکرار کړ.

کله چې په قطر کې بین الافغاني ناسته وه، حامد ګیلاني به د خلیلزاد شا نه ایله کوله، چیرته چې به خلیلزاد ولاړ و، ده به ځان ورته رساوه، او داسي اوازي هم وي چې امریکا غواړي حامد ګیلاني د موقت حکومت لپاره مشر کړي.

استاد سیاف هم ما (ستانکزي) ته، په قطر کې د کابل ادارې د اوسنی سفیر عبدالحکیم دلیلي په خوله احوال را لیږلی و چې تاسي طالبانو رښتیا منلي چې دا

---

امنیتي تړون د افغان ولسمشر د امنیتي سلاکار محمد حنیف اتمر او کابل کې د امریکا د سفیر جیمز کننګهم ترمنځ په ارګ کې لاسلیک شو. د تړون د لاسلیک پر وخت ولسمشر غني، اجرایه رئیس عبدالله، د ولسمشر لومړی مرستیال عبدالرشید دوستم، د ولسمشر دوېم مرستیال سرور دانش، د اجرایه رئیس لومړی مرستیال انجنیر محمد خان، د اجرایه رئیس دوېم مرستیال استاد محمد محقق، د محاذ ملي اسلامي ګوند مشر پیر سید احمد ګیلاني، د نجات ملي اسلامی ګوند مشر حضرت صبغت الله مجددي او د ولسمشر ارشد سلاکار د احمدشاه مسعود ورور احمدضیاء مسعود شتون درلود.

له دي مخکې د امریکا دولسمشر اوباما او افغان ولسمشر حامد کرزي لخوا د مئ میاشتي ۲مه ۲۰۱۲ د تلپاتې ستراتیژیکې ملګرتیا تړون لاسلیک شوی و.

عیاش سړی (حامد ګیلاني) د موقت حکومت مشر شي، که دا کار وشي، موږ خو دا عیاش سړی نه منو.

یو ځل چې مجلس ختم شو، د ډوډۍ خوړلو وخت و، خلیلزاد ما (ستانکزي) ته را برغ کړ چې دلته له ما سره نږدې کینه، هغه ته مې وویل چې ټول وخت خبرې کوو، زه بل ځای کینم چې له نورو افغانانو سره خبرې وکړم، خو هغه ټینګار وکړ، چې زه هم خبرې در سره لرم.

کله چې زه او خلیلزاد هلته کیناستو، بل میز ته حامد ګیلاني ناست و، سمدستي را ولاړ شو، ویې ویل چې زه به هم دلته ستاسي منځ کې کینم، موږ ورته وویل چې موږ دلته خبرې لرو، غواړو چې یوازي کښینو، خو حامد ګیلاني زموږ په منځ کې چوکۍ کیښوده، ټیلیفون یې له جیب څخه را وکیښ او خپل سکرټر ته یې ورکړ، ورته یې وویل چې زما (حامد ګیلاني) او خلیلزاد انځور واخله، ما (ستانکزي) د هغه سکرټر ته وویل چې زما عکس پکې را نه ولي، د دوی دواړو واخله، حامد ګیلاني ویل چې ستانکزی صاحب! نه نه، زه ستاسي دواړو په منځ کې عکس اخلم.

همدارنګه یو ځل د پاکستان لخوا قطر ته لوړ پوړی هیئت، د استخباراتو مشر جنرال فیض حمید او بریګېډر حسن راغلي وو[۲۶۹]، موږ په دوحه کې ور سره ولېدل، هغوی ته هم د طالبانو او امریکا ترمنځ مذاکراتو اړوند ما بشپړ معلومات ورنه کړل، هغوی ډېر خفه شول.

زموږ (ستانکزي او لیکوال) ناسته پای ته ورسېده، داسي ښکاریده چې عباس ستانکزی لا هم تر ډېرو فشارونو لاندي و، او په ځانګړي ډول د قطر هیواد او ځینو طالب مشرانو لخوا، چې ولي د مذاکراتو پر مهال تُنده لهجه کاروي.

د مارچ پر ۸مه، ما (لیکوال) ته د سیاسي دفتر ځینو ملګرو وویل:" ښه به وي که ستانکزي د بین الافغانی مذاکراتو د ډلې مشرې ونه کړي، ځکه که هغه له امریکایانو سره تُندي کوله، هغوی بهرنیان او یرغلګر وو، خو مخالف افغانان به دده تُندي ونه شي زغملای."

---

[۲۶۹] ډګر جنرال فیض حمید د جون ۱۶مه ۲۰۱۹، د پاکستان د استخباراتي ادارې (آی ایس آی) مشر او تر دې مهاله پره دنده پاتې دی.

## له جنرال فیض سره د عباس ستانکزي خبرې

د مارچ ۹مه، ماخوستن مهال، قاري روح الله ما (لیکوال) ته وویل:" یو ځل د پاکستان څخه جنرال فیض او بریګیډر حسن دوحې ته راغلي وو، د طالبانو له هغوی سره ناسته وه، عباس ستانکزي نه غوښتل چې ورسره وګوري، او وړاندیز یې وکړ چې دده له شتون پرته کوم پلاوی ورسره وګوري، خو د ملا برادر اخوند لخوا په پلاوي کې د ده نوم هم ورکول شوی و، کله چې له جنرال فیض او بریګیډر حسن سره ناسته پیل شوه، نو جنرال فیض په اردو ژبه وویل چې تاسي له امریکا سره د سولې مذاکراتو اړوند معلومات را سره شریک کړئ، د طالب پلاوي غړو عباس ستانکزي ته مخ واړاوه چې خبرې وکړي.

عباس ستانکزي د طالبانو او امریکا ترمنځ د مذاکراتو سم او بشپړ جریان ونه وایه، جنرال فیض بیا ور څخه وغوښتل چې دا خو عمومیات دي چې هر څوک ور باندې خبر دي، هغه جزیات چې ستاسي تر منځ پرې خبرې شوې، هغه راته ووایاست.

ستانکزي ته درد ورغی، ورته یې وویل:" تاسي څوک یاست چې د مذاکراتو د جزیاتو پوښتنه کوئ، دا زموږ او امریکا ترمنځ مذاکرات دي، او موږ هیچاته اجازه نه ورکوو، چې له موږ څخه دغه ډول غوښتنه وکړي."

قاري روح الله وویل:"د طالبانو د پلاوي ټولو غړو د ستانکزي له دغه لنډ او ستوغ ځواب څخه ننګه وکړه، او د پلاوي نورو غړو هم جنرال فیض ته وویل چې تاسي ته په کار نه ده چې د مذاکراتو د جزیاتو غوښتنه وکړئ، مجلس بیخونده شو، جنرال فیض د ستانکزي دا ډول جواب د ځان لپاره سپکاوی وګاڼه، او ناسته په بې خوندۍ سره پرته له ډیر بحث څخه پای ته ورسېده."

**قاري روح** الله وویل: د قطریانو لخوا دوحې ته د ستانکزي د کورنۍ راوستلو مسئله هغوی جدي ونیوله، د سیاسي دفتر غړو هم له ستانکزي صاحب څخه وغوښتل چې کورنۍ یې له متحده عرب اماراتو څخه دوحې ته راولي، مګر ستانکزي یو ځل ملا خیرالله خیرخوا ته ډیر زښت الفاظ وکارول.

**قاري روح الله** وویل: دلته په قطر کې میشت، د سیاسي دفتر له کورنیو سره تړلې ځوانان تکړه دي، باید ډېره توجه د دفتر لخوا ورته وشي، کله چې له امریکا سره د تړون د ورځې وینا چمتو کېدله، دا چاره باید ځوان ملګري ته سپارل شوي وای، خو ملا عبدالسلام حنفي په غاړه واخیستله، د دفتر د مشرانو لخوا د وینا مسوده ترتیب شوه، بیا وروسته په هغې کې سمونې راغلې، او ملا عبدالسلام حنفي دنده درلوده چې همدا نوي سموني په وینا کې ځای کړي.

کله چې ملا برادر اخوند ته د ملا عبدالسلام حنفي لخوا په فایل کې د وینا متن سپارل شوې و، هغه همهغه پخواني ډرافټ وینا وه، چې لازمي او نوي سموني پکې نه وي، دومره بې پروایې شوې وه. خو داچې ملا برادر اخوند مخکې له مخکې هغه ایډیټ شوې متن له ځان سره تکرار کړی و، نو د هغه متن ډېر ځایونه یې په یاد و. بل داچې په دومره لوی پایل کې د وینا متن ایښودل هم مناسب نه و، په یو ښایسته وړوکي فایل کې به یې د وینا متن ایښې وای.



## د ملګرو ملتونو امنیت شورا پریکړه لیک

د مارچ ۱۱مه، خلیلزاد ولیکل:" نن د ملګرو ملتونو د امنیت شورۍ د هغه تړون چې موږ تیره اونۍ له طالبانو سره لاسلیک کړ او د متحده ایالتونو او افغان دولت ګډې اعلامیې په ملاتړ، د رایو په اتفاق پریکړه لیک منظور کړ.

د ملګرو ملتونو پریکړه لیک پر طالبانو او افغان دولت ږغ کوي چې د اعتماد جوړونې اقداماتو ته دوام ورکړي او د بین الافغاني مذاکراتو په لور چټک حرکت وکړي.

دا پریکړه لیک دا هم ښیي چې نړیواله ټولنه له افغانستان څخه د نړۍ د امنیت لپاره زموږ د تګلارې، او د افغانانو لپاره د سولې، یووالي او خپلواکي ملاتړ کوي."

د امنیت شورا پرېکړه لیک کې، چې خلیلزاد له ټوېټ سره تړلی، را غلي ": موږ افغانستان کې د سولې ټینګولو لپاره د سیمه ییزو او نړیوالو هڅو ملاتړ کوو او خپله هم دې برخه کې همکارۍ ته دوام ور کوو.

ملګري ملتونه "د افغانستان اسلامي امارت" په رسمیت نه پېژني او امنیت شورا د" اسلامي امارت" د بیا واکمنېدو ملاتړ نه کوي.

مختلفې سیاسي ډلې او د ښځو په ګډون مدني فعالان دي د سولې خبرو کې برخه واخلي او د وګړو په تېره د ښځو د حقونو د خوندیتوب هڅې دي وشي."

## له طالبانو سره تر تړون وروسته؛ د خلیلزاد مرکه

د مارچ پر ۱۱، خلیلزاد په کابل کې د طلوع ټلویزون له رئیس لطف الله نجفي زاده سره مرکه درلودله، موږ یې مرکه په لیکلي ډول دلته را اخیستي ده.

خلیلزاد د مرکې پر مهال وویل: کله مې چې له طالبانو سره تړون لاسلیک کاوه، د امیدونو احساس مې درلود، خو داسي نه چې موږ جشن ونیسو، دا تړون کیدای شي چې د افغانانو ترمنځ دروازه پرانیزي، چې د ۴۰ کلنۍ جګړې بد تاریخ بیا تکرار نه شي.

که چیرته د سولې بهیر کامیاب، د افغانانو ترمنځ تلپاتې او باعزته سوله وشي، هغه ورځ به د افغانستان په تاریخ کې مهمه او تاریخي وي. او موږ هم همدې موخې ته د رسیدو لپاره تړون وکړ.

که چیرته ستونزې دوام پیدا کړی، بیا نو د تاریخ پوهانو له نظره کېدای شي چې د امریکا متحده آیالتونو –طالبانو ترمنځ تړون بې تاثیره وي.

که د افغانانو ترمنځ ستونزې حل نه شي، اوسنی حالت به دوام کوي، تړون مو د دې لپاره کړی چې موږ د دې ازمایښت وکړو چې آیا د سولې او تفاهم د لاري دا سخته جګړه پای ته رسیږي یانه؟ ځینې به متوجه نه وي، دلته سخته جګړه روانه ده، هره اونۍ په سلګونو، او کله په یوه اونۍ کې نږدې ۱۰۰۰ افغانان وژل کیږي، او د کاله په زرګونو افغانان وژل کیږي، هر افغان کورنۍ لري، مور، پلار، ورور او بچیان لري، باید جګړه پای ته ورسیږي.

یو وخت موږ تمه درلودله چې د افغان حکومت او ملاتړو "امریکا او ناټو پوځیانو" لخوا یې طالبانو ته د ماتې ورکولو له امله دا جګړه پای ته ورسیږي، مګر اوس ټول دې پایلې ته رسیدلې دي چې جګړه له سیاسي لاري پای ته ورسیږي.

داچې د امریکا - طالبانو تړون د جګړې پای ته رسیدو لپاره کوم رول او تاثیر درلود، کیدای شي په څو کلونو کې یې نتیجه ګیري وشي، په ورځو او څو میاشتو کې نه کیږي. د مذاکراتو پر مهال ډیر ځله داسي ستونزې وي، زه چمتو وم چې مذاکرات ترک کړم، همدارنګه کیدای شي طالبان هم له داسي حالت سره مخ شوې وي، غوښتل به یې چې نور مذاکرات ترک کړي.

داچې موږ يې د مذاکراتو دوام لپاره پاتې کړې وو، دوه شيان وو:

لومړی: د مسؤليت احساس، که مذاکرات نه کوو، بله به کومه لاره وي، او بيا به څه کيږي؟

دويم داچې د افغانانو د زياتې وژنې څخه مخنيوی وشي.

د موافقې معنی داده، هر لوری چې هر څه غواړي، هغه نه کيږي، نو ځکه دواړه لوري د سړي له هڅې خوښ نه وي، موږ هڅه وکړه چې حل لاره پيدا کړو، مگر داسي نه کيږي چې سړی هر څه غواړي هغه به تر لاسه کوي.

د طلوع ټلويزون رئيس لطف الله نجفي زاده: دې تړون، په افغانستان کې د امريکا د دوو لسيزو جگړې اړوند تاريخي تاثير درلود، دا جگړه تاسي څه ډول تعريفوئ؟ داسي جگړه چې گټونکي يې نه درلود، داسي جگړه چې بن بست کې وه، او يا داسي جگړه چې تاسي طالبانو ته وبايلله.

**خليلزاد**: فکر کوم چې دا د گټلو او بايللو مسئله نه ده، مگر د امريکا د هغو گټو لپاره يوه حل لاره پيدا شوه، کوم چې امريکايان يې دلته راوستل؛ هغه منافع چې مخکې له راتگ يې امريکايانو غوښتنه کوله او په لاس يې نه وي راوړې.

وروسته له هغه چې طالبانو له ترهگرۍ سره د امريکا مبارزه او له القاعدې سره اړيکې شکول رد کړل، داچې القاعده له افغانستان څخه وباسي او يايې امريکايانو ته وسپاري، طالبانو د امريکا دا غوښتنې ونه منلي، نو ځکه امريکايان دلته راغلل.

اوس په دې برخه"**د القاعدې اړوند**" د تړون دا پرمختگ شته، دويم داچې امريکا له افغانستان سره اړيکې پيدا کړي، داسي اړيکې چې د جگړې په يو لوري کې امريکايان او افغانان يو ځای وو، دلته وينې توی شوې، او اړيکې منځته راغلي، افغانستان بدلون کړی، دلته د جگړې او نورو برخو کې پرمختگ شوی، او دا په افغانستان کې د امريکا له ميراثونو څخه گڼل کيږي.

د تړون د دوو ضميمو اړوند ناسم پوهاوی شوی، کوم څه چې رسنيو خپاره کړل هغه سم نه و، اصلي نوم د ضميمو "د تړون د ژمنو د عملي کيدو کاغذونه / موافقتنامې" **دې**.

مثلاً طالبان د ترهګرۍ پر ضد څه ډول قدمونه پورته کوي، داچې امریکا د همدې کاغذونو له مخې د طالبانو د عملي قدمونو ارزیابي کوي، چې طالبان له القاعدې سره اړیکې پرې کوي او تر خپل واک لاندې خاورې کې ترهګرو ته د امریکا او متحدینو لپاره یې د ګواښ مخه نیسي، ترهګرو ته تر خپل واک لاندې خاوره کې د اوسیدو، روزنې، دخلکو جذب او جلب او بسپنو ټولولو اجازه ورنه کړي. او په دې برخه کې چې کومې ژمنې شوې دواړه لورې قانع دي.

د تړون تر لاسلیک مخکې، د طالبانو تر کنټرول لاندې سیمو کې ترهګرو شتون درلود، مګر د تړون تر لاسلیک وروسته شرایط او دغه ډول حالت باید بدلون وکړي. داچې د ترهګرو اړند به طالبان کوم ډول اقدام کوي، په هغو دوو ضمیمو کې دا جزیات لیکل شوي، او د اړیکو لپاره له طالبانو سره په دوحه کې یو چینل لرو، چې نږدې هره ورځ له طالبانو سره خبرې کوي، او زموږ او طالبانو نظامیان هم پکې دي. د تړون پر عملي کیدو ځانګړې توجه هم لرو، که کومه ستونزه منځته راځي چې له طالبانو سره یې شریکه کړو، له هغوی پوښتنه وکړو، چې ولې داسې شوې، او بیا خپلې پریکړې وکړو، مثلاً که دا کار او هغه کار شوی وای، موږ څه ډول عکس العمل باید وښیو.

**خلیلزاد** وویل: داچې د القاعدې او ترهګرو پر ضد به څوک او څه ډول عملیات کوي، دا امنیتي مسایل دي، او په توافقتامو کې دا هم شته چې څه ډول، له کومه ځایه، کله به بهرني پوځیان له آډو څخه وځي. داسې نه ده چې امریکایې پوځی او طالبان به یوځای د القاعدې یا ترهګرو پر ضد ګډ عملیات کوي، او نه هم له ترهګرو سره د مبارزې لپاره د طالبانو مالي مرسته کوو، بلکې له افغان امنیتي ځواکونو سره یو ځای امریکایې پوځیان شتون لري، او له افغان حکومت سره ګډه اعلامیه هم خپره شوه.

مهمه داده چې افغانانان په جریان کې وي، موږ چې کومې وعدې کړې، چې د پوځیانو کموالی، او که بالاخره افغانان موږ دلته ونه غواړي، د ټولو پوځیانو ایستل، همدې ته ژمن یو، مګر زموږ وعدې د طالبانو د ژمنو په عملي کېدو پورې تړاو لري. او په تړون کې ژمنه شوې موارد یو په بل پورې تړلي او مشروط دي.
د تړون د عملي کیدو په اړه زموږ د نظامیانو او سیاسي کسانو لېدنې په رسمې ډول له طالبانو سره په دوحه کې کیږي، داچې کوم قدمونه باید واخیستل شي، او که د ژمنو په

عملي کيدو کې ستونزې وي، مخکې له دې چې کومه پريکړه وشې، د حل لارې ورته ولټول شي.

داچې زموږ د پوځيانو وتل پيل شوي، نه غواړم چې ووايم چې له کومه ځايه، ځکه دلته په کور دننه او بهر داسې کړۍ شته چې د تړون د بريالي عملي کېدو لپاره ستونزې جوړې کړي. داسي خلک شته چې د تړون د عملي کېدو او سولې پر ځای، اوسني جګړييز حالت ته ترجيح ورکوي، ځکه دوی په اوسني حالت کې شخصي اقتصادي ګټې لري، چې د سولې په راتلو کې خپلې شخصي اقتصادي ګټې په خطر کې ويني.

سوق الجيشي مسايلو ته په کتو، موږ د خپلو پوځيانو دوتلو اړوند معلومات نه خپرو، طالبان هم دقيق په دې برخه کې شامل نه دی، خو هغوی پوهيږي چې له کومو آډو، څومره پوځيان په ۱۳۵ ورځو کې ووځي. مګر زموږ د ټولو پوځيانو وتل به د تړون په شرايطو پورې تړلي وي.

د سولې په برخه کې پاکستان رول درلود، مګر د سولې تړون عملي کيدو کې نه پاکستان او نه هم افغان حکومت مسؤليت لري، بلکې مسؤليت زموږ "امريکا" او "طالبانو" دی.

دمذاکراتو پر مهال، ځينو د بهرنيو پوځيانو د وتلو لپاره ۳مياشتې، ځينو ٦ مياشتې او ځينو ۹ مياشتې مهالويش غوښت، د امريکا دننه هم فشارونه شته، هر څومره چې ژر وي، دومره ښه ده. په امريکا کې تر ولسمشرۍ ټاکنو مخکې نه، بلکې د راتلونکي ولسمشر د کار لومړيو وختو پورې به ووځي.

ټرمپ ويلي چې غواړي په نړۍ کې د امريکايي پوځيانو جګړې ختمې او پوځيان کورونو ته ستانه کړي، که له افغانستان څخه يوازې وتل زموږ هدف وای، نه مو له طالبانو او نه هم له بل چا سره د مذاکراتو ضرورت درلود، د افغانستان قواوي افغانستان ته پرته د کوم کس له اجازې راغلي، او که امريکا خپلې قواوي باسي د چا اجازې ته اړتيا نه لري. بالاخره د امريکايي پوځيانو اړوند پريکړه له امريکا سره ده.

له طالبانو سره چې يو کال او څو مياشتې موږ په مذاکراتو تير کړل، له دې امله چې په افغانستان کې سوله راشي او امريکايي پوځيانو ته دلته د شتون اړتيا نه وي. موږ له افغانستان څخه داسې وتل نه غواړو چې دلته جګړې وي، سوله نه وی، موږ له افغان

امنیتي ځواکونو سره په ګډه دلته جګړې کړي، دوستي ور سره منځته راغلي ، نه غواړو چې هر څه هیر او موږ ولاړ شو.

داچې په تړون کې لیکل شوي چې طالبان د القاعده غړو او ترهګرو ته ویزه او پاسپورټ به نه ورکوي، زموږ هدف دا وو، اوس هم د طالبانو له سیمې چې څوک له یو ځایه تیریږي، دوی کاغذ ورکوي، او که یوه لاری موټر له یوې سیمې بلې سیمې ته، او یا هم ځینې کسان چې عام خدمتونه کوي، غواړي له خلکو سره مرستې وکړي، هغوی ته یو کاغذ ورکوي، هدف همدا و، موږ طالبان د حکومت په توګه په رسمیت نه پیژنو. موږ د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د یو باعزته سوق الجیشي دوست په توګه په رسمیت پیژنو.

طالبان داسي ډله ده چې په جګړه کې ده، موږ غواړو چې دا جګړه د تفاهم او موافقې له لاري پای ته ورسیږي، چې له طالبانو سره د بین الافغاني خبرو په پایله کې چې همه شمول پلاوی، داسي چې افغان حکومت هم پکې برخه ولري، جګړه ختمه او په یو فارمول "سیاسي جوړښت" باندي موافقې ته ورسیږي.

له طالبانو سره موږ تفاهم کړی چې د جګړې شدت له تړون وروسته باید کم شي، مخکې له تړون څخه؛ غوښتل مو چې ارزونه وکړو چې طالبان د جګړې شدت کمولای او عملي کولای شي کنه، چې د هغه"د تاوتریخوالي کمېدو اونۍ، ۲۲ تر ۲۸ فبروري ۲۰۲۰" نتیجه مثبت وه. طالبان وتوانېدل چې د ۷ ورځو لپاره تاوتریخوالی کم کړي.

له تړون وروسته، د جګړې له شدت څخه خوشاله نه یو، او له طالبانو سره په اړیکه کې یو، هغوی په دي اړه توضیحات لري، او ډیره توجه همهغه اوه ورځو ته شوې وه، تر څو طالبانو د دوی د شورا غړي او نظامي قومندانان قانع کړي.

په ځینو ځایونو کې جګړې زیاتوالي پیداکړي چې د منلو وړ نه ده، مګر د تړون تر لاسلیک وروسته، په ډیرو ځایونو کې جګړه زیاته شوې نه ده، د ځینو پیښو راپور ورکول کیږي، خو پیښې باید تعریف شي، دا هم یوه پیښه ده چې یو سړي په ټوپک ووهل شي.

طالبانو منلي چې په لویو ښارونو او د ۳۴ ولایتونو پر مرکزونو بریدونه ونه کړي، مګر بیا هم د جګړې په اوسني حالت قانع نه یو، خو که طالبان پر افغان امنیتي ځواکونو برید

کوي، موږ حق لرو چې دفاع ورڅخه وکړو، او دفاع ته يې راځو، په دې برخه کې طالبان نبايد غلط فهمي وکړي، زموږ فشارونه شتون لري چې جګړه کمه شي.

کله چې د طالبانو او افغانستان اسلامي جمهوري دولت پلاوي سره کيني، طالبانو ويلي چې اوربند هم يو له لومړنيو موضوعاتو به وي، چې بحث او خبرې پرې وشي. کله چې سياسي موافقه اعلانيږي، هغه وخت به دايمي او تلپاتې اوربند هم کيدای شي چې اعلان شي. موږ تمه لرو چې دا کار په ۱۰۰ ورځو کې دننه وشي.

**نجفي زاده**: کوم تړون چې تاسي له طالبانو سره کړی، هلته د ډيموکراسي، مدني ارزښتونه، د بيان ازادي، د ميرمنو حقونو او بشر حقونو څخه هيڅ يادونه هم نه ده شوې.

**خليلزاد**: موږ ددې ټولو شيانو پلويان يو، او وياړو چې په افغانستان کې کوم پرمختګ په دې برخه کې شوی، يو څه چې په لومړي وخت کې د حکومت له مشرانو او طالبانو سره بحث شو، دا وو چې کورنۍ مسايل؛ داچې څه ډول راتلونکی افغانستان به وی، دا مسايل په افغانانو پورې تړاو لري او په امريکا پوري اړه نه لري.

که څه هم ځينو فکر کاوه چې موږ له طالبانو سره په ټولو مسايلو توافق کړی، د لنډ مهاله حکومت په اړه، او ځينو ويل چې موږ ځينو ته د وزارتونو وړانديز کړی، مګر رښتيا داده، دغه مسايل چې تاسي يې يادونه وکړه، او د افغانستان د سولې لپاره حياتي مسايل دي، کله چې مذاکره کيږي، هغه وخت به بحث ور باندي کيږي. مګر موږ به هم هلته يو کله چې مذاکرات کيږي، او هغوی چې د ډيموکراسي ارزښتونه، د بشر حقونو، د ميرمنو حقونو، د اقليتونو حقونو او د ماشومانو حقونو غوښتونکي دي، موږ به له هغوی سره په يو کچه هلته شتون ولرو.

د افغانستان له ميرمنو سره زموږ ژمنه ده چې موږ به له خپل نفوذ څخه ګټه پورته کړو چې دوی هم د مذاکراتو په ميز کې شتون ولري، تر څو وکولای شي چې له خپلو حقونو دفاع، او موږ به په دې برخه کې د دوی مرستندوی يو.

**خليلزاد** وويل: دا د طالبانو غوښتنه وه چې له مذاکارتو وړاندي، د دوی له زيات او کم ۱۳زره او يا ۱۴ زره بنديانو له جملې څخه ۵۰۰۰ زندانيان يې د باور جوړونې لپاره ور

خوشي شي، او طالبان به هم زر تنه افغان امنيتي ځواکونه له خپلو زندانو خوشي کوي. موږ ورته ویلي چې موږ په دې برخه کې مرسته کوو.

داچې په دوحه کې طالبانو د افغان حکومت له پلاوي سره ونه لیدل، ځینې خبرې وي، ځینو ویل چې موږ د بندیانو د خوشي کیدو پر موضوع خبرې نه، موږ نور مسایل بحث کول غواړو، هغه بل طرف هم منفي ګرايي وکړه، له ټولو پیچلتیاوو سره چې په دې مسئله کې شته، مګر بیا هم ډاکټر غني پرون ورځ د بندیانو د خوشي کیدو فرمان لاسلیک کړ، تمه ده چې په دې برخه کې پرمختګ وشي، او ډاکټر غني ژمنه کړې چې حاضر دی چې ۵۰۰۰ طالب زندانیان خوشي کړي. په دې برخه کې تخنیکي بحثونو ته اړتیا ده، چې په ورځ او یا اونۍ کې څومره کسان باید له زندان څخه خوشي شي، او په دې برخه کې نړیوال معیارونه هم شتون لري.

**نجفي زاده**: تاسې "امریکا" طالبانو ته د ویټو دا حق ورکړی چې له چا سره ووینې او له چا سره نه ویني.

**خلیلزاد**: نه، هیڅوک د ویټو حق نه لري چې له چا سره کیني او له چا سره نه کښيني.

**نجفي زاده**: نو ولې طالبانو د افغان حکومت له ډیر مهم پلاوي سره په دوحه کې ونه کتل، او پلاوی ۱۵ ورځې د طالبانو سره لیدنې لپاره په دوحه کې منتظر و.

**خلیلزاد**: موږ د طالبانو او افغان حکومت د پلاوي د لیدنې پلوي يو او غواړو چې ملاقات وشي، طالبانو چې تر دې مهاله ور سره نه دې لیدلې، تیروتنه یې کړې، باید ور سره ووینې، او بالاخره ور سره ګوري، مګر کله چې مسئله رسنیزه شوه، لا پسې جنجالي شوه.

خلیلزاد د ملابرادر اخوند او ټرمپ ترمنځ د ټلیفوني خبرو په اړه وویل: ټرمپ غواړي چې له هغې ډلې سره وپیژني چې موږ ور سره تړون لاسلیک کړی، او ټرمپ له څو میاشتو راهیسې غوښتل، ویل یې چې له هغه چا سره چې تړون کوم، ورسره ووینم، د امریکایانو متل دی چې په خپلو سترګو یې ووینم.

ټرمپ غوښتل پوه شي، هغه ژمنې چې هغوی "طالبانو" کړې، عملي کولای شي کنه، او خپله شخصي نتیجه ګیري وکړي.

ټرمپ غواړي چې ډاکټر غني او طالبان امریکا ته راشي، له څه وخت راهیسي همدا نظر لري.

زه به خوشاله یم چې ۱۴ میاشتې وروسته کابل کې جګړه ختمه او اوربند وي، تمه ده چې په ۱۰۰ ورځو کې طالبان له افغان حکومت سره موافقې ته ورسیږي، او په ۱۴ میاشتو کې له جګړې لاس واخلي.

په دوحه کې تړون لاسلیک شو، او تیره ورځ (د مارچ ۱۰مه) امنیت شورا هم له تړون څخه ملاتړ وکړ، ټولې نړۍ د سولې له بهیر، چې موږ یې غواړو، ملاتړ وکړ. افغانانو ته په کار ده چې خپل چمتووالي وښیې او له دې تاریخي فرصت څخه په خپل وخت سمه ګټه پورته کړي.

د لنډ مهاله حکومت په اړه تر دې مهاله له موږ کومه غوښتنه نه ده شوې، کله چې طالبان او د افغان حکومت همه شمول پلاوی سره کیني، هغه وخت به پریکړه کوي.

تمه ده چې د تړون د ماتېدو سلنه ډیره کمه وي، مګر که طالبان تړون او ژمنې عملي نه کړي، او د ژمنو پر ضد کړنې صورت ومومي، د تړون د ماتېدو امکان پیدا کوي، مګر زه وړاندوینه نه کوم چې دا کار صورت مومي.

امریکا ویلې چې اسلامي امارت نه غواړي، او دا د نړیوالې ټولنې سره کرښه ده، ملګرو ملتونو ویلي چې اسلامي امارت نه مني. د امریکا - روسې، امریکا - اروپا په خبرپاڼو کې به تاسي لېدلي وي، په دې اړه نړیواله اجماع شتون لري. دا کار نه کیږي.

**نجفي زاده**: هغه په لسګونو زره افغانان چې له طالبانو سره د جګړې پر مهال په تیرو ۲۰ کلونو کې وژل شوې، زخمي شوې او په کورونو یې بریدونه شوې، هغه که د افغان امنیتي ځواکونو او یا هم د امریکایانو لخوا؛ ستاسي پیغام په دې هلکه څه دی.

**خلیلزاد:** زه له دې متاثره یم، داچې دومره خلک له ټولو خواوو وژل شوي، اګر چې موږ د افغانستان د حکومت او افغانستان د اردو پلویان یو، او د افغانستان په اردو باندي افتخار کوو.

که چیرته تړون عملي شي، مذاکرات وشي، او سوله راشي، تر ډیره یې امتیاز همدوی ته ځي، کومو چې قرباني ورکړي، کاش جګړه نه وای شوې. تمه ده چې دوی د افغانستان په تاریخ کې د اتلانو په نوم پاتې شي. تمه ده چې دغه قرباني ددې لامل هم شي چې جهتونه زده کړه ورخخه وکړي.

فکري او د ارزښتونو اختلافات هر ځای شتون لري، مګر څه ډول د ښار د یو اوسیدونکې په توګه په داسي فارمول موافقه وشي چې یو ځای ژوند وکړي، جګړې او وژنې د حل لاره نه ده.

داسي سوله چې مرفح او د اقتصاد په برخه کې پرمختللی افغانستان وي.



سلیمان اغا، خالد مشعل، عبدالرحیم ثاقب او احمدالله وثیق. دوحه

د مارچ پر ۱۴مه، طالب ویاند ذبیح الله مجاهد ولیکل چې کنړ ولایت یې د داعش وسلوالو له شتون څخه پاک کړي.

**په کنړکې هم داعشي فتنه گرو ستره ماتې وخوړه او ټول ولایت یې له شر څخه خلاص کړل شو**

د روان ۱۴۴۱هجري قمري کال د رجب په ٦مه نیټه چې د ۲۰۲۰میلادي کال د مارچ له لومړۍ نیټې سره سمون خوري، یو ځل بیا د هیواد په شرقي ولایت کنړ کې د اسلامي امارت لخوا د داعشي بقایاوو د محوې له پاره پراخ او هر اړخیز عملیات پیل شول.

تر نن ورځې پورې د مجاهدینو د عملیاتو په نتیجه کې د الله تعالی په نصرت سره ټول کنړ ولایت هم د ننگرهار ولایت په څیر د داعشي فتنه گرو له شتون څخه پاک کړل شو.

کله چې تیرکال په ننگرهار او ځینو نورو برخو کې د اسلامي امارت مجاهدینو د داعش په وړاندې په پریکنده عملیاتو لاس پورې کړ، باقي پاتې داعشي مشران او افراد یې د کنړ ولایت ځینو ولسوالیو ته د پنا اخیستلو په نیت راتښتیدلي وو.

وروسته له دې چې په سیمه کې هوا مناسبه او د غریزو سیمو واوره کمه شوه، د اسلامي امارت لخوا د نظامي قطعاتو مجاهدینو ته د کنړ په ولایت کې هم د پریکنده عملیاتو امر وشو.

اوسني عملیات د کنړ ولایت له مانوگي ولسوالۍ څخه پیل شول، چې تراوسه پورې د نیږدې ۱۴ ورځنیو عملیاتو په لړ کې د کنړ مرکز اسعد آباد، مانوگي ولسوالۍ او وټپور ولسوالۍ اړوند (متینه، کرمول، څپری، شوریک دره، اډوال، لچک څپری، ادوام، شهبازۍ او کلی گل) سیمې په ټولیزه توگه فتحه او له داعشي ملیشو څخه خلاصې شوې.

همدا ډول د نرنگ ولسوالۍ (قلا، وچ ناو، خوړه گاش، خوشحال بانډه، شینو او غازي خان غونډۍ) سیمې په مکمل ډول له داعشي فتنه گروڅخه پاکې شوې او ۵۳ تنه مسلح داعشیان د اسلامي امارت مجاهدینو ته تسلیم شول.

ورسره د یاد ولایت څوکۍ ولسوالۍ اړوند (د چلس لوی کلی، نورس کلی او سرکلی همدا راز د دیوګل درې اړوند سیلمانزی کلي، امروتنګی، سپیدار، بدګوړ او تیتکه) سیمې له داعشیانو څخه فتحه او په بشپړه توګه تصفیه شوې.

بل خوا د کنړ نورګل ولسوالۍ اړوند (سیری کلی، باړیزو کلی، کرچندو، توده چینه، لودلام، مسعودوکلی، ودیروعلاقه، اریط، شماس، ماماګل کلی او شلوطه) سیمې هم له داعشیانوڅخه پاکې او تصفیه شوې.

د دغو عملیاتو په بشپړیدو او د یادو سیمو په نیول کیدو سره ټول کنړ ولایت له داعشي فتنه ګرو څخه په ټولیزه توګه پاک کړل شو او خلکو یې له یادې فتنې څخه نجات ومومند.

په تیرو ۱۴ ورځنیو عملیاتو کې د داعش ۱۰۸ تنه مسلح افراد د اسلامي امارت مجاهدینوته تسلیم شوي دي.

د ګڼ شمیر مشرانو او افرادو په شمول یې له سلو ډیرو کسانو بیا هم د کابل ادارې ته پناه وروړې او ورتښتیدلي دي.

د یادونې وړ ده چې تیرکال هم په کنړ ولایت کې د اسلامي امارت مجاهدینو د داعش په ضد عملیات ترسره کړل، خو د ژمي په رارسیدو سره عملیات متوقف شول، داعشیان په یادو سیمو کې تر محاصرې لاندې ساتل شوي وو.

د ننګرهار او هیواد نورو برخو په څیر په کنړ ولایت کې هم داعشي ملیشو د عامو خلکو په وژلو، ځورولو، مالونو لوټلو او جنایاتو هیڅ صرفه نه ده کړې.

له څه باندې یوه کال را په دې خوا د کنړ په ولایت کې داعشیانو لسګونه تنه عام خلک شهیدان کړي، د ښځو او ماشومانو په ګډون یې ۸۱ تنه ټپیان کړي، سلګونه د عامو خلکو کورونه یې ویجاړ کړي، میلینونه افغانۍ یې لوټ کړي او خلکوته یې سخته صدمه رسولې وه.

همدا ډول په تیر یوه کال کې د مجاهدینو لخوا د عملیاتو په ترڅ کې د مهمو قومندانانو (سراج، عبدالکریم، ستومان، نوازخان او معاذ په ګډون ۴۸۱ تنه داعشیان

وژل شوي، ۳۷۸ تنه ټپيان دي،۳۴ تنه په جګړه کې ژوندي نيول شوی او ۴۲۸ تنه نور يې مجاهدينو ته تسليم شوي دي.

بل خوا د مهمو مشرانو په ګډون يې تر ۴۶۰ تنو پورې افرادو د تماسونو او شناخت پر بنا د کابل ادارې ته تر پرون ورځې پورې پنا ور وړې ده.

په ياده موده کې په کنړ ولايت کې د اسلامي امارت لخوا د داعشيانو څخه ۸۱ نظامي مرکزونه، ۲۰۹ ميله مختلف النوع وسلې او خورا ډير مهمات نيول شوي دي.

په کنړ کې د داعش په ضد په يوه کلنه جګړه کې نيږدې (۱۸۱) تنه مجاهدين شهيدان شوي، (۱۹۵) نور ټپيان شوي دي. تقبلهم الله

ممکن د کابل ادارې لخوا هم په کاذب ډول د کنړ ولايت له داعش څخه د پاکيدو ادعاوې وشي، خو واقعيت دادی چې د کابل ادارې تل داعش ته له هلاکت څخه پنا ورکړې، لارې او ګودرې يې ورښودلې او له دغې فتنه ګرې ډلې څخه يې د اسلامي امارت د مجاهدينو او روان جهاد په وړاندې د خنډ په توګه استفاده کړې ده.

ذبيح الله مجاهد د اسلامي امارت ويندوی

په همدې ورځ، لږ وروسته طالبانو لاندې اعلاميه خپره کړه:

**د داعش فتنه ګرې ډلې په اړه د اسلامي امارت اعلاميه**

داچې د داعش په نامه ډله يوه مرموزه او ظالمه ډله ده، اسلامی امارت د الله تعالی په نصرت او د افغان مجاهد ملت په ملاتړ د افغانستان له مختلفو سيمو څخه شړلې او تراوسه يوازې د هيواد په محدودو شرقي سيمو کې پاته وه چې په مقابل کې يې تصفيوي عملياتو جريان در لود او بلاخره يې مرکزونه تصفيه شول.

اسلامي امارت کلکه اراده لري چې د افغانستان څخه دغه ډله محوه او د ابد لپاره يې هيوادوال له ضرر څخه خلاص کړي. ان شاءالله تعالی

اسلامي امارت به هیڅ کله داعش ته دا فرصت ورنه کړي چې افغانستان د فتنې مرکز وګرځوي.

د اسلامي امارت مشرتابه له خپل مجاهد ولس څخه غوښتنه کوي چې د اسلامي امارت له مجاهدینو سره نور هم اوږه په اوږه ودریږي او یادې ډلې ته دهیڅ ډول جلب اوجذب، روزنې، بسپنې او نور فعالیت اجازه ورنه کړي، ترڅو ونه توانیږي چې په افغانستان کې د بې ګناه خلکو وینې وبهوي د ولسونو ترمنځ کرکه او اختلاف رامنځ ته کړي او یا هم افغانانو او نړیوالو ته له افغانستان څخه تهدید متوجه کړي.

د افغانستان اسلامي امارت

د مارچ ۱۷مه، خلیلزاد ولیکل:"د طالبانو د اعلامیې چې د داعش غندنه کوي او په افغانستان کې د داعش «د استخدام، تمویل، یا روزنې» د هڅو د مخنیوي ژمنه کوي، هرکلی کوم. دا د القاعدې او نورو ټولو هغو ډلو چې متحده ایالتونه یا متحدین یې ګواښي، په ضد د طالبانوعمومي ژمنې (زموږ په موافقتنامه کې) ښيي.

موږ تمه لرو چې طالبان به خپلې ژمنې تر سره کړي. زموږ لخوا په موافقتنامه کې د شویو ژمنو پوره کول به د طالبانو له لوري په ژمنو عمل کولو پورې تړلي وي. د طالبانو د داعش په اړه اعلامیه او په کنړ کې د ترهګرو پر وړاندې د هغوی وروستي عملیات، مثبت ګامونه دي".

د خلیلزاد د څرګندونو په غبرګون سهیل شاهین په همدې ورځ ولیکل:"د داعش پر ضد د اسلامي امارت عملیاتو پنځه کاله په داسې حال کې دوام وکړچې زموږ سنګرونه به په پرله پسې ډول د داعش په ګټه بمباریدل. له هرډول فتنې او فتنه ګرو د هیواد والو ژغورل د اسلامي امارت د پالیسي برخه ده خو چاته اجازه نه ور کوو چې زموږ دغې مشروع مبارزې ته بل رنګ ورکړي."

## د ترړون اړوند د طالب مشرانو مرکې

د طالبانو د سیاسي دفتر مرستیال او د مذاکراتي ډلې مشر شیر محمد عباس ستانکزي مرکه له "ځرک مجلې" سره، چې د اپریل پر ۸مه، د الاماره ویب پاڼې خپره کړه.

د کب یا حوت په لسمه (د ۲۰۲۰ز د فبرورۍ ۲۹تمه) د افغانستان د مجاهد ملت په تاریخ کې یوه زرینه کارنامه رامنځته شوه. په دې ورځ اسلامي امارت د مجاهدینو او افغان ولس په نمایندګۍ له هېواده د امریکایي زبرځواک او ناټو د ځواکونو د وتلو توافقنامه امضا کړه. په دې ورځ تر نږدې شل کاله جنګ، تر یو لک د زیاتو مجاهدینو شهادت او په مجموع کې د تر اتو لکو د زیاتو افغانانو تر وژل کېدو او معیوبېد وروسته امریکا او ناټو خپل شکست ومانه، او له افغانستانه د وتلو لپاره یې ځان ته لاره جوړه کړه. دا یوه تاریخي ورځ ده. دا د مجاهدینو د بري ورځ ده.

د دې توافقنامې په اساس به امریکا او ناټو په څوارلسو میاشتو کې خپل ټول نظامي، استخباراتي، قراردادي، بحري، زمیني، هوایي او نور هر ډول قوتونه باسي، او یوازې به د سفارت ډیپلوماټان چې د بهرنیو چارو وزارت مامورین به وي دلته د پاتې کېدو اجازه لري. افغانستان به څوارلس میاشتې وروسته ان شاءالله یو سرلوړی، ازاد او مستقل هېواد وي. دا توافقنامه د افغانستان په تاریخ کې ساری نه لري. د افغانستان په تاریخ کې ډېرې معاهدې شوې، خو ممکن دا یوازینۍ هغه معاهده وي چې سل فیصده د افغانانو په ګټه ده.

دا معاهده تر اتلس میاشتو مذاکراتو او تقریبا یوولسو پړاوونو وروسته جوړه شوه. په هره جمله او هر لغت یې موږ شپې او ورځې غور کړی، له مقابل جانب سره مو دلایل پرې ویلي او مناقشې مو ورسره پرې کړې څو بل ډول تعبیر ترې ونشي، یا په راتلونکې کې داسې مشکل ترې جوړ نشي چې هغه، خدای ناخواسته، د مجاهدینو، شهیدانو، کونډو د اروزګانو او د افغانستان د مجاهد ولس په زیان تمام شي.

زموږ په ټیم کې نولس ملګري وو[۲۷۰]، چې ښه ورزیده او تجربه کاره مجاهدین، علماء کرام او لیکوالان پکې وو، او مشري یې زما پر غاړه وه. د امریکایي ټیم مشري زلمي خلیلزاد کوله، او د نظامي جنرالانو او حقوقي څارنوالانو په شمول تقریبا د امریکا د هرې ادارې نمایندګان ورسره وو.

---

[۲۷۰] د جون لومړۍ ۲۰۲۰، حاجي عباس ستانکزي له امریکا سره د طالبانو د مذاکراتي پلاوي اړوند له ما (لیکوال) سره لاندې معلومات شریک کړل:

"د ریچارډ اولسن او الیس ویلز سره د طالبانو د قطر سیاسي دفتر ٦ غړو (شیرمحمد عباس ستانکزي، ملا عبدالسلام حنفي، شیخ شهاب الدین دلاور، حاجي زاهد احمدزي، قاري دین محمد حنیف او سهیل شاهین) ناسته درلوده.

له خلیلزاد سره هم په لومړۍ او دوېمه ناسته کې پورته ٦ کسانو مذاکرات مخکې یوړل، له امریکا سره په درېمه ناسته "ابوظبی" کې د مشرتابه په لارښونه ملا محمد فاضل او ملا خیرالله خیرخوا هم په مذاکراتي پلاوي کې ور شامل شول، او د ابوظبی غونډه کې یې ګډون وکړ.

له امریکا سره په ۴مه، ۵مه، ٦مه او ۷مه ناسته کې قاري دین محمد حنیف، حاجي زاهد احمدزی او سهیل شاهین د مذاکراتي پلاوي له غړیتوب څخه بهر، او مولوي امیرخان متقي، ملا عبدالمنان عمري، انس حقاني، مولوي ضیاء الرحمن مدنې، مولوي مطیع الحق، مولوي عبداللطیف منصور، ملا عبدالحق وثیق، حاجي محمد نبي عمري او ملا نورالله نوري د مذاکراتي ډلې غړي شول. چې ټول ټال ۱۴ کسان شول.

په وروستیو ناستو کې د مذاکراتي ډلې شمیر ۱۹ تنو ته ورسید:

شیرمحمد عباس ستانکزی، ملا عبدالسلام حنفي، شیخ شهاب الدین دلاور، مولوي امیرخان متقي، ملا عبدالمنان عمري، انس حقاني، مولوي مطیع الحق، مولوي عبداللطیف منصور، ملا محمد فاضل اخوند، مولوي خیرالله خیر خوا، ملا عبدالحق وثیق، ملا نورالله نوري، مولوي محمد نبي عمري، شیخ سید رسول حلیم، مولوي جان محمد مدني، مولوي ضیاء الرحمن مدني، قاري دین محمد حنیف، حاجي زاهد احمدزی او سهیل شاهین."

نبراس الحق مسرور د غونډو جریان لیکه او د محرر په توګه یې په غونډو کې برخه درلوده. همدارنګه تخنیکي ډلې هم په بل اطاق کې شتون درلود چې د ناستو جریان به یې په پښتو، دري او انګلیسي ژبو لیکه. تخنیکي ډله له ۳ تر ٦ نفرو وو.

دا توافقنامه ان شاءالله د ټولو په گټه ده، زموږ د ملي گټو په اساس جوړه شوې ده. د توافقنامې ترڅنگ دوې ضميمې دي چې هغه د دې هوکړې شرحه ده. د ساري په ډول د هوکړې په مسوده کې ويل شوي چې په څوارلسو مياشتو کې به ټول امريکايان له افغانستانه وځي. د توافقنامې په ضميمه کې دا تشريح شوې چې امريکايان به څنگه او لومړی له کومو اډو وځي، هوايي وتل به يې څنگه وي، ځمکني وتل به يې څنگه وي، حمايه به څنگه وي، بريد به پرې کيږي او که نه... همدې ته ورته مسايل پکې شرحه شوي دي.

د امريکا د بهرنيو چارو وزير په يوه خبري کنفرانس کې ويلي و چې دوه محرم اسناد هم شته. هغه د ده په اصطلاح محرم اسناد همدا ضميمې دي، چې د توافقنامې شرحه ده. داسې کوم پټ شی له امريکا سره نه دی امضا شوی چې هغه دې زموږ له مجاهدينو او خلکو پټ وي.

په دې توافقنامه کې دا تعهد هم شوی چې د اسلامي امارت او په راتلونکې کې د ټول-شموله اسلامي حکومت ذمه واري به وي چې چا ته به د امريکا، غرب او ملگرو پر ضد يې د افغانستان د خاورې د استعمال اجازه نه ورکوي. البته که څوک په افغانستان کې اوسي، د مهاجر يا مېلمه په حيث اوسېدلای شي، د افغانستان د اسلامي اساسي قانون مطابق به په افغانستان کې سوله ييز ژوند کوي. خو که څوک د افغانستان له خاورې نورو ته تهديد جوړوي، موږ به اجازه نه ورکوو. دا د توافقنامې شرط دی.

د توافقنامې بله موضوع بين الافغاني مذاکرات دي. دا خبرې به پخپله د افغانانو ترمنځ وي. موږ امريکايانو ته ويلي چې مداخله به نه پکې کوي. د دې مذاکراتو د پيل نېټه د حوت شلمه (د مارچ لسمه) ټاکل شوې وه او تر پيل وړاندې به يې زموږ پنځه زره اسيران خوشي کېدل. په بين الافغاني مذاکراتو کې د گډون لپاره د اسلامي امارت ټيم تيار ټاکل شوی او موجود دی.

له هغې خوا به د افغانستان د مختلفو قشرونو، اقوامو، پرگنو او خصوصا د سياسي ډلو نماينده گان پکې وي. کېدای شي د کابل د غلامې ادارې، چې اوس هم د

امریکایانو تر تاثیر لاندې ده، یو کس اشتراک پکې وکړي - خو د حکومت په حیث نه، د یوه طرف په حیث، ځکه موږ دا اداره په رسمیت نه پېژنو او نورو افغانانو ته احترام لرو. هغه افغانان چې اوس له دې ادارې سره په څنګ کې ولاړ دي او ولسي ملاتړ هم لري، له هغوی سره به موږ خبرې کوو. پر هغو موضوعاتو به ورسره غږیږو چې زموږ په منځ کې لاینحله دي. او ان شاءالله کوښښ به وکړو چې یوه توافق ته سره ورسیږو او یو داسې نظام او حکومت سره جوړ کړو چې ټولو افغانانو ته د منلو وړ وي.

دا حقیقت دی چې امریکا د نړۍ یو زبرځواک دی او پر ټوله نړۍ باندې سیاسي، نظامي او اقتصادي اثر ورسوخ لري. د دې ترڅنګ د ناټو د هغه ستر نظامي قوت په راس کې هم امریکا ده چې د هر هېواد پر ضد چې وغواړي مسنجم وي، یوځای یې په مقابل کې دریږي او بریدونه ورباندې کوي.

په ۲۰۰۱ز کال کې جورج ډبلیو بوش په ډېر غرور او تکبر پر افغانستان باندې یرغل وکړ. د اسلامي امارت وړاندیزونه یې ونه منل. اسلامي امارت ورته ویلي چې د سپټمبر د ۱۱مې د برید داسې ثبوت دې راکړل شي چې وښیي دا برید د افغانستان له خاورې شوی، موږ به د خپل هېواد د قوانینو مطابق د دې کار ترسره کوونکو ته جزا ورکړو. خو تاسې ولیدل چې امریکا او په راس کې یې بوش دې ته غاړه کېنښوده، دا یې د ځان توهین وباله چې څنګه اسلامي امارت ته داسې اسناد یا بل ثبوت ورکړي چې وښیي واقعه داسې شوې ده -دوی ونشوه کړای، له دومره ځواک سره سره نه امریکا او نه ناټو معلومه کړای شوه چې دا برید چا کړی و، کوم کس چې دوی مجرم باله پر هغه باندې هم رسمي اسناد نه لري.

په هر حال، دوی په ډېر غرور پر افغانستان باندې برید وکړ. د اسلامي امارت تر کابو یوې میاشتې مقاومت وروسته د داخلي جاسوسانو، غلامانو، سیاسي احزابو، چې ټول ملت ته معلوم دي او اوس هم د امریکا د بیرغ تر سیوري لاندې د دوی په ساختګي حکومت یا غلامه اداره کې شامل دي، په مټ افغانستان ته راداخل شول او اشغال یې کړ.

په مقابل کې يې، لله الحمد، د افغانستان د اسلامي امارت په رهبرۍ او د ټول ملت په ملاتړ جهاد پيل شو او لا هم ادامه لري.

له ۲۰۰۱ز راهيسې تقريبا نولس کاله تيرېږي. دا د امريکا په تاريخ کې تر ټولو اوږد جنګ دی چې متحده ايالات يې له خپلې خاورې بهر کوي. په دې جګړه کې امريکا ډېر نظامي، سياسي او اقتصادي زيانونه وليدل. هر کال به يې د دې جنګ لپاره سلګونه ميليونه ډالره بوديجه تعينوله. د دوی په قول، د دې جنګ مصارف اوس تر څو ټريليون ډالرو هم اوښتي دي. دا يوه اقتصادي ضربه وه چې دوی وخوړله.

د دې ترڅنګ دوی تلفات هم ليدلي دي. اګر که د دوی رسمي ارقام ښيي چې په افغانستان کې يې تقريباً ۲۵۰۰ عسکر وژل شوي دي، خو د دوی نظامي جنرالان چې به دلته د مېز سر ته راتلل ويل به يې چې پر دوی به په سراسر افغانستان کې د مجاهدينو لخوا د ورځې په اوسط ډول ۱۲۰-۱۵۰ بريدونه کېدل[۲۷۱].

که وکتل شي، نو دا پر امريکايانو او د ناټو پر قواوو باندې د ورځې يوازې ۱۵۰ بريدونه کيږي. که ټول تلفات ونه لري، نيم خو به يې لري. که نيم يې ونه لري، د هغه نيم، نيم خو به يې لري. په دې حساب بيا هم د ورځې له ۳۰ تر ۳۵-۴۰ عسکر مړه دي. خو امريکا دا پټوي او اصلي ارقام نړۍ ته نه ښکاره کوي.

دوی چې د تلفاتو کوم ارقام عام بيانوي، اصلي ارقام تر دې څو چنده زيات دي. د معيوب شويو، ځانوژونکو او د ذهني توازن بايلونکو عسکرو ارقام خو به يې تر وتلو وروسته ان شاءالله په ډاګه شي.

دا هغه تلفات دي چې دوي دلته وليدل او د دوی ټول غرور يې له خاورو سره ورخاورې کړ.

[۲۷۱] د جولای ۲۷مه ۲۰۱۸، د رسمي راپور له مخې، په افغانستان کې د جګړې پر مهال د امريکا ۲۳۷۲ پوځيان وژل شوې، او درانګه ۱۷۲۰ ملکی قراردادي امريکايان وژل شوې. د ژوبلو شوو امريکايانو شمير ۲۰۳۲۰ ښودل شوی.

مخکې فکر کېده چې امریکا یو داسې نړیوال قوت دی چې ماتول یې ناممکن دي. خو اوس ټولې دنیا ته ښکاره شوه چې دا نړیوال قوت په افغانستان کې ډېرو بېچاره او ملنګانو ته چې له کلاشینکوف او راکټ پرته یې بل څه په لاس کې نه درلودل په ګونډو شو او ماتې یې ومنله. دې ته په کتلو نړیوالو هم د امریکا پر وړاندې د غبرګ اوچتولو او مبارزې جرأت پیدا کړ. تاسې ګورئ چې د نړۍ په مختلفو هېوادونو کې د امریکا پر وړاندې خلک پورته شوي دي.

امریکا له سیاسي، اقتصادي او نظامي لحاظه په افغانستان کې ماتې وخوړه او ستړې شوه. د خپل شکست پټولو په خاطر یې آن له ۲۰۰۸ز کال راهیسې هڅې پیل کړې وې چې له سیاسي اړخه ځان ته د وتلو لار جوړه کړي.

دوی مجبور دي چې د معاهدې په اساس به له افغانستانه وځي. دا چې دوی نورې خبرې کوي او غواړي دنیا ته وښیي چې موږ پخپله افغانستان ته راغلي یو او پخپله به ځو - بلکل دغسې نه ده. حقیقت ټولې دنیا ته معلوم دی چې امریکا ماته شوه. دا ټولې نړۍ ته معلومه ده چې امریکا له موږ سره د خپل شکست او زموږ د بېچاره ملت او مجاهدینو د برې معاهده امضا کړې ده.

لله الحمد، د نولس کلن جهاد نتیجه نن ټول ګورو: د دوی هغه غرور او تکبر له کوم سره یې چې پر افغانستان باندې نږدې دوې لسیزې وړاندې یرغل وکړ، له خاورو سره خاورې شو. دا د دوی خامپختګي وه چې په افغانستان کې یې د روسانو او انګرېزانو له شکسته درس وانخیست.

دوی چې څه درلودل ټول یې استعمال کړل. خو لله الحمد د خدای ﷻ په رحم او ملاتړ یې شرموونکې ماتې وخوړله.

د افغانستان اسلامي امارت د یوه اسلامي جهت په حیث دې توافقنامې ته متعهد دی او دا خپله دیني وجیبه ګڼي. هغه افواهات چې زموږ دښمنان او خصوصاً داخلي منافقین یې چې د سولې د فرصت له منځه وړلو ته لمن وهي خپروي چې ممکن اسلامي امارت دې ژمنو ته وفادار پاتې نشي، بېځایه دي. موږ چې کوم تعهد کړی، هغه ته به وفادار پاتې کېږو.

تاسې وينئ چې نږدې يوه مياشت پوره کېدونکې ده، موږ پر خپلو ژمنو ولاړ يو. برعکس د امريکا لخوا تخلف شوی دی: ټاکل شوې وه چې د مارچ په لسمه بين الافغاني مذاکرات پيل او تر هغه مخکې پنځه زره بنديان خوشي شي. خو امريکايانو وفا ونکړه. ممکن د دوی په خپل منځ کې له غلامې ادارې سره جنجال وي. دا د دوی لخوا د تعهداتو خلاف ورزي ده.

زموږ لخوا هيڅ ستونزه نشته. بين الافغاني مذاکراتو ته زموږ ټيم تيار دی. الحمدلله په اسلامي امارت کې نه ډلې ټپلې شته او نه کومه بله ستونزه – ټول يو امارت دی، د يوه امير المؤمنين تر قوماندې لاندې يې افراد له بدخشانه تر هراته، له مزاره تر خوسته، په ټول هېواد کې د تيارسئ په حالت کې ولاړ دي، هر ډول امر چې ورته وکړي، هغسې به کيږي. اوسمهال دا توافقنامه زموږ لخوا تاييد شوې او تر اخيره به ورته متعهد يو. هيڅوک دې زموږ لخوا د دې توافقنامې د ماتېدو اندېښنه نه لري، يا دا اندېښنه چې د امارت په منځ کې به داسې څوک وي چې دا نه مني. دلته هيڅ ډله وټپله نشته، هغه که سياسي دفتر دی، که اقتصادي دی او که بل څه.

له امريکا سره امضا شوې توافقنامه چې څومره موږ ته اهميت لري په همغه اندازه گاونډيانو او د سيمې نورو هېوادونو ته هم مهمه ده. ځکه زموږ په هېواد کې د امريکايانو شتون گاونډيان نشي زغملای. په افغانستان کې د امريکا شتون نه پاکستان، ايران او نه هم روسيې او اچين ته د زغم وړ دی. په دې توافقنامه گاونډيان او د سيمې هېوادونه هم زيات خوشحاله دي. د هغوی وېره دا وه چې که امريکا په افغانستان کې پاتې شي، دا خاوره به د دوی پر خلاف کاروي. او دا هغه څه دي چې موږ يې هم نه غواړو چې زموږ له خاورې دې څوک، که څه هم امريکا وي، د بل چا پر ضد کار واخلي. پر دې توافقنامه باندې زموږ گاونډيان او د سيمې هېوادونه خوښ دي، هرکلی يې کړی او خوشبين دي – خو که توافقنامه په همدې شکل چې جوړه شوې مخته ولاړه شي.

او بل د روابطو په اړه بايد ووايم چې د منځنۍ اسيا له هېوادونو ازبکستان، تاجکستان، قرغيزستان، قزاقستان او دارنگه له ايران، پاکستان، چين روسيې او د منځني ختيځ تر هېوادونو پورې، له دوی سره د اسلامي امارت اړيکې دوستانه دي.

دوی ته مو په هره برخه کې د اسلامي امارت د پالیسۍ په اړه وضاحتونه ورکړي او ورته تشریح کړې مو ده. دوی موږ قانع کړي چې په افغانستان کې د اسلامي امارت یا حکومت راتګ د دوی ټولو په ګټه دی. له همدې امله موږ په منطقه کې یو طرف ملاتړ لرو او دا خلک زموږ قوي ملاتړ کوي. بلکې د روسانو او امریکایانو د اشغال په مقابل کې هم دا خلک له موږ سره ولاړ وو. تاسو به لیدلي وي چې روسانو، چینایانو او ګاونډیو هېوادونو د اشغال د خاتمې په اړه زموږ دریځ تایید کړی دی.

د توافقنامې تر امضا وروسته ملاقات د پامپیو په غوښتنه و. د ده غوښتنه وه چې باید خصوصي ملاقات وکړو. په دې لیدنه کې زه او ملا برادر اخوند وو.

پامپیو لومړی د توافقنامې په اړه خپل تاثرات څرګند کړل. خوشحاله او له دې توافقنامې راضي و، ویل یې چې دواړې خواوې باید دې هوکړې ته ژمن پاتې شي، د توافقنامې هر بند په صحیح ډول اجرا شي، موږ له افغانستانه د خپلو قواوو ایستلو ته ژمن یو، په افغانستان کې دې داسې یو حکومت راشي چې اکثریت افغانانو ته د منلو وړ وي، موږ به هغه حکومت ملاتړ کوو، په اقتصادي لحاظ یې هم ملاتړ کوو او په راتلونکې کې به د افغانستان په بیارغونه کې فعاله ونډه واخلو.

موږ ورته وویل چې موضوع په تاسې پورې اړه لري. موږ چې توافقنامه امضا کړه، ورته ژمن یو. دا توافقنامه موږ له قوي دریځه امضا کړې ده. په افغانستان کې ستاسې د جګړې شل کاله تیریږي. په سیمه کې داسې هېوادونه هم شته چې نه غواړي تاسې په دې ډول له افغانستانه ووځئ بلکې غواړي تاسې د پخواني شوروي اتحاد په څېر په پنځلس-شل ټوټو ووېشل شئ او بیا ووځئ. خو موږ نه غواړو چې خپل هېواد مو د زبرځواکونو د جنګ میدان شي. له خپل ملکه سوریه نه جوړوو ځکه زموږ د ملک په ورانۍ کې زموږ خلک وژل کیږي او موږ نه غواړو چې خلک مو ووژل شي. سولې ته مو ترجیح ورکړه او له قوي دریځه مو تاسې سره سوله وکړه. موږ ان شاء الله دې توافقنامې ته ژمن یو، او د دې مطابق به کوښښ کوو چې ستاسې قواوې له افغانستانه ووځي او په افغانستان کې یو داسې اسلامي او شرعي نظام رامنځته راشي چې ټولو افغانانو ته د منلو وړ وي، او په راتلونکې کې به موږ یو مستقل او ازاد افغانستان ولرو.

همدارنګه مو د سیمې له خطراتو او مشکلاتو خبر کړ. د امریکا د خطشاتو په اړه چې درلودل یې چې د افغانستان خاوره بېرته د دوی پر خلاف استعمال نشي، یا په راتلونکې کې نور قوتونه افغانستان ته رانشي او د امریکا مفادات په خطر کې ونه ولویږي اطمنان مو ورکړ. وروسته یې وعده وکړه چې زه یو ساعت وروسته له ولسمشر ډونلډ ټرمپ سره په ټلفون خبرې کوم او ستاسې ټولې خبرې ور رسوم.

هماغه و چې یو ساعت وروسته ده له ټرمپ سره خبرې کړې وې. ټرمپ د شپې له دې توافقنامې خپل ملاتړ ښکاره کړ او بیا یې وویل چې زه به د اسلامي امارت هیئت واشنګټن ته را دعوت کړم.

ان شاءالله، امید لرو چې دا توافقنامه په ښه صورت مخته ولاړه شي.

د امریکا په څېر له یوه ستر قدرت سره چې تقریباً نیمه نړۍ ورسره ولاړه ده د مېز پر سر مناقشه کول، دلایل او چنې وهل اسانه کار نه دی. ډېر سخت پړاوونه وو او مشکلات پکې وو. نږدې یو نیم کال مو له دوی سره مشکلات تېر کړل. خو لله الحمد د اسلامي امارت هیئت چې په راس کې یې زه وم له دې کامیاب راووت، او ان شاءالله په دې توافقنامه کې موږ هغه الفاظ او نقاط پرځای کړي چې زموږ د ملت او خلکو خیر به پکې وي.

د مذاکراتو په جریان کې هره لحظه، هره دقیقه او هره ورځ د مېز پر سر مناقشه وه. کله به سره خوابدي شوو او وبه وتو. کله به بیا د منځګړي په توسط بېرته پر مېز کېناستو او خبرې به مو پیل کړې.

ډېرې هسکې او ژورې یې درلودې، چې په راتلونکې کې به په خاطراتو کې هم راشي. زه اوس په تفصیل سره ټولې خبرې نشم کولای. ښه او ترخه خاطره دا ده:

د ۲۰۱۹ز په سپټمبر کې موږ دا توافقنامه خلاصه کړه او هوکړه مو وکړه چې نور به یې د امضا لپاره برابروو. کله چې ما او خلیلزاد ابتدایي امضاء پرې کوله، په اختتامیه خبرو کې ما د خوشحالۍ اظهار وکړ او دا مې تاریخي ویاړ وباله. زما ملګرو د نعره تکبیر شعار ورکړ او خپله خوشحالي یې ښرګنده کړه. دا زموږ لپاره د نهایي خوشحالۍ ځای و – دومره خوشحالي وه لکه چې څومره چې د توافقنامې د امضا

په ورځ وه. اما مقابل جانب داسې نه کول ځکه دوی خو د خپلو قواوو د خروج او ماتې امضا کوله. دوی ډېره خوشحالي نه ښکاروله – قانوناً هم باید د دوی دریځ دغسې وای. دا زموږ لپاره د خوشحالۍ خاطره وه.

او ترخه خاطره دا وه چې یوه ورځ موږ پر یوه ځانګړې موضوع باندې مناقشه کوله، خلیلزاد په ډېره توندۍ وویل چې موږ غواړو له افغانستانه خپلې قواوې نور وباسو، چې په هر ډول وي، ځکه موږ نور د افغانانو له وژلو ستړي شوي یو. موږ ته یې رایاد کړل چې دوی څومره افغانان د طالب، مجاهد او نورو په نومونه بمبار او شهیدان کړي دي. دا زما لپاره تر ټولو ترخه خاطره وه چې په ټول ژوند کې به مې له یاده ونه وځي.

د ۲۰۱۸ز کال په نومبر میاشت کې په مسکو کې له نړیوالو سره تر ډېرو سیاسي هلو ځلو وروسته د مسکو فارمټ غونډه جوړه شوه. د دوولسو هېوادونو د بهرنیو چارو وزیران یا مرستیال وزیران را دعوت شوي وو او اسلامي امارت ته هم بلنه ورکړل شوې وه. دا لومړی مجلس و چې اسلامي امارت یې په رسمي ډول دعوت کړ. هغه وخت زه د اسلامي امارت د سیاسي دفتر مسؤل وم. دا موضوع مو له خپل مشرتابه سره شریکه کړه او د مشرتابه په اجازه مو په دې غونډه کې ګډون وکړ.

د روسیې د بهرنیو چارو د وزیر تر افتتاحیه وینا وروسته موږ وینا وکړه، او د راتلونکي حکومت، سولې او مذاکراتو، د ښځو د حقوقو او داسې نورو مسایلو او راتلونکي افغانستان په اړه مو د اسلامي امارت هراړخیزه پالیسي ګډونوالو ته اظهار کړه.

اصول دا دي کله چې په نړیواله سطحه کوم کنفرانس جوړیږي هلته د هر هېواد بیرغ ولاړ وي، د بهرنیو چارو وزیر یې څنګ ته دریږي او یادګاري عکس اخلي.

د روسیې د بهرنیو چارو وزیر له ما هم غوښتنه وکړه چې زه هم په عکس کې ورسره ودریږم. ما چې هلته وکتل د دوولسو هېوادونو بیرغونه وو خو د اسلامي امارت بیرغ نه و. ما ته دا زغم وړ نه وه . بل څه نه و، د بیرغ پرځای مې د خپلې تورې لنګوټې شمله چې معمولاً هغه زموږ مېړنی مجاهدین او طالبان یې په لوی اکثریت په سر کوي پر سر راکش کړه او دا مې وښوده چې دا زموږ د غیرت ، حریت او تاریخي

معرکې نښه او په همدې مجلس کې د بیرغ نمونه ده، تاسې ته معلومه ده چې د مکې معظمې په فتحه کې د مسلمانانو بیرغ تور و، د کعبې غلاف هم تور دی، او همداسې په ډېرو مواردو کې تور رنګ د مسلمانانو د نښان په توګه کارېدلی دی.

هغه وخت زما تور پټکی او تور کالي وو. شمله مې د دې په خاطر پر سر باندې واچوله چې یو خو د بیرغ ځای ونیسي او بل دا چې د افغانانو ویاړ او افتخار همدا لنګوټه او شمله ده، کله چې یو تاریخي کار کیږي نو خلک شمله پورته کوي او پر سر یې را اړوي. دا د افغانانو تاریخي ویاړ او لاسته راوړنه وه، د اسلامي امارت په رسمیت پېژندل و، په همدې خاطر مې په هغه ورځ شمله پر سر واچوله.

د طالبانو د رهبري شورا غړي او د دعوت، ارشاد، جلب او جذب کمیسون مشر **مولوي عبدالکبیر** مرکه له "څرک مجلې" سره، چې د اپریل پر ۱۳مه، د الاماره ویب پاڼې خپره کړه.

د کب په لسمه ۱۳۹۸، د اشغال پای ته رسولو په اړه د دامریکا متحده ایالاتو او دافغانستان د اسلامي امارت ترمنځ د هوکړه لیک لاسلیک کېدل زموږد معاصرتاریخ یوه لویه تاریخي کارنامه ده.

هغه عوامل چې امریکایان یې اړکړل چې داسلامي امارت سره خبرو او مذاکراتوته کیناستل مخفي اوپټ ندي؛ پوره روښانه دي، ولې چې امریکا دلته له کومې ډلې، د کوم توکم اویا څو کسانوسره په جنګ نه وه بلکې دیوملت سره په جنګ وه، اوتجربو ښودلې چې دنړۍ مجهزپوځونه چې کله دملتونو سره په جنګ کې کیوتي نو پوځونوجګړه بایللې اوملتونوجګړه ګټلې ده دلته هم داسې و شول چې د نړۍ د۴۹ هیوادونو پوځونه مات شول او افغان ولس بری ترلاسه کړ، کله چې امریکا خپله ماته ولیده نودرک یې کړه چې د خبرو او مذاکراتو پرته یې بله لار نه لیده هغه و چې تیرو اتلس میاشتوپه اوږدو کې د یوولس مخامخ مذاکراتي دورو، وروسته دامریکا او اسلامي امارت ترمنځ داشغال پای ته رسولو په اړه دهوکړه لیک په متن توافق راغی او دکب په۱۰ مه هم هغه متن دقطر په پلازمینه دوحه کې دطرفینو داستازو لخوا دنړیوالو په حضور کې لاسلیک شو

دې لړکې د جهادي صف وحدت هم د قوي عامل په حیث رول درلود، ولې که د یو جهادي صف پر ځای ګڼو صفونو شتون درلودی شاید مورږ د دې تاریخي مرحلې شاهدان نه وای شوي.

د طالبانو د سیاسي کمیسون او مذاکراتي ډلې د غړي **انس حقاني** مرکه له "څرک مجلې" سره، چې د اپریل پر ۱۸مه، د الاماره ویب پاڼې خپره کړه.

د ۱۳۹۸ کال د کب د میاشتې په لسمه، د قطر هیواد په پلازمینې دوحه ښار کې د افغانستان د اسلامي امارت او امریکایانو ترمنځ یوه تاریخي توافقنامه لاسلیک شوه.

د همدې توافقنامې له مخې په رسمي ډول په افغانستان کې د اشغال خاتمې ته د پای ټکی کیښودل شو او امریکایان دې ته حاضر شول چې په ۱۴ میاشتو کې له دیپلوماتانو پرته نور خپل ټول ځواکونه له افغانستانه وباسي.

دغسي یو توافق امریکایانو په کال ۱۹۷۵م کې له ویتنامیانو سره هم لاسلیک کړی و ، خو په دومره توپیر چې هلته د دوی په مقابل کې یو داسې دولت جنګیده چې د هغه تر شا روسیه ، چین او په کمونیستې بلاک کې شامل نور ټول کمونیستي هیوادونه و لاړ وو.

اما په افغانستان کې د اشغال په وړاندي جګړه له ویتنام څخه متفاوته وه، دلته افغان ولس په تیره طالبان یوازې د امریکا په مقابل کې نه؛ بلکې د هغوی ترڅنګ یې د هغه پوځي ایتلاف مقابله هم کوله چې د امریکایانو تر اشراف لاندې له (۴۹) هیوادونو څخه تشکیل شوی و.

یعنی اسلامي امارت په داسې حال کې چې د هیڅ کوم بهرني هیواد پوځي او سیاسي حمایت یې تر شا نه و په یواځې سر له امریکا او د هغوی له نړیوال ایتلاف چې ناټو تړون هم ورکې شامل و په خالي لاس خو د ایمان په زور مقابله کوله.

د یاد تړون د لاسلیکولو په مراسمو کې د امریکا د بهرنیو چارو د وزیر مایک پمپیو او د ملګرو ملتونو د رسمي استازي په شمول د نړۍ د خواوشا پنځوسو هیوادونو د سفیرانو شتون د امریکایانو پر ټولو هغو الزاماتو او تورونو د بطلان خط راکش کړ

کوم چې یې د اسلامي امارت په خلاف ترسره کول ، د اسلامي امارت مجاهدین یې په ناوړه نومونو یادول او د هغوی د له منځه وړلو لپاره یې خپل ټول پوځي ، تخنیکي او تبلیغاتي وسائل کارول.

خو دا چې د اسلامي امارت داعیه برحق وه هماغه وه چې الله ورته د امریکا، ناټو او د هغوی د ایتلافیانو پر وړاندې د بریالي جهاد او مقاومت توان ورکړ او د همدې جهاد او سرښندنو برکت و چې له امریکایانو سره یې د اشغال د پایته رسیدو او جګړې د خاتمې سند لاسلیکولو امکانات شونې کړل.

د امریکایانو او اسلامي امارت ترمنځ تر تړون وړاندې امریکایانو په افغانستان کې شته واقعیتونه درک او د هغوی له مخې یې له اسلامي امارت سره له افغانستان څخه د خپلو ځواکونو د بیرته ایستلو تړون لاسلیک کړ.

که امریکایان په عملي لحاظ د دې تړون د محتویاتو پلي کولو ته ژمن پاتې شي زه هیله مند یم چې دلته د اشغال له امله راپیداشوې بي ثباتي، او جګړه به ورسره پای ته ورسیږي او افغانستان به د یوه ځواکمن مرکزي نظام په لرلو سره د ټولو افغانانو لپاره د امن او سوکالۍ په کور بدل شي. د هماغې ورځې د ژر رارسیدو په هیله

د تړون د لاسلیک کېدو ورځ وه، د ژورنالستانو له ګڼو پوښتنو سره په تصادفي توګه مخامخ شوم، دا سوال زما څخه ډیر وشو چې ایا دا تړون لاسلیک کول ستاسي لپاره بریا ده ؟ ماهم اکثرو ته یو ځواب وایه چې هو، دا لاسلیک یوازې زموږ لپاره بریا نه ده بلکې د هر هغه چا لپاره ممکن بری او د خوښۍ وړ خبره وي چې هغه امن او سولییز ژوند خوښوي هغه خلګ که د هر هیواد او د هرې عقیدې وی، دا لاسلیک هغه اشغال ته د پای ټکی بږدي چې د ټولو بدمرغیو سرچینه ده.

په موږ باندي جنګ تحمیل شوی دی زمونږ خاوره اشغال شوې ده او د اشغال په وړاندې زمونږ جنګ مقدس جهاد دی نن چې دا د ټولو ستونزو ستر لامل یعنی د اشغال وجود له منځه ځي دا زموږ د جهاد او قربانیو نتیجه ده، داچې موږ بالاخره د خپلو قربانیو نتیجه تر لاسه کوو دا زموږ لپاره ستره بریا ده.

د رسنیو استازو به زما په اړه راته ویل چې خلک له تا څخه ویریږي، تا دیو قاتل په توګه پیژني، ما به په ځواب کې ورته ویل چې دا زموږ د دښمنانو پلان شوي کارونه دي او ستاسی د رسنیو تبلیغات دي چی له یو معصوم انسان څخه بلا جوړه کړي، خلګ چې زموږ په اړه کوم منفي نظر لري د دوی ذهنونه او فکرونه د دښمن مطبوعاتو او تبلیغاتو مینځلي دي، زموږ او د هغو ورونو تر منځ چې موږ ته دشک په سترګه ګوري، د دښمن تبلیغاتي دستګاو واټن ایجاد کړی دی، واقعیت دادی چې موږ هغه ډول نه یو څنګه چې نژدې ۱۸ کلونه رسنیو تعبیرولو، ما د امریکا ږغ سره تفصیلي مرکه وکړه خو متاسفانه چې د بیان د تش په نوم ازادۍ دعوه دارانو د هغې د نشر اجازه ورنکړه[۲۷۲]، هلته ما خبریال ته د همدې سوال په ځواب کې وویل چې زما عمر د ا مریکا د راتګ په ورځو کې ۷ کاله و، او د اسارت په وخت کې زه شل کلن وم نو ایا د بیان د ازادۍ معنا داده چې یو کم عمره او بې جرمه انسان ټولني ته د هغې د قاتل په صفت معرفي کړي؟ په حقیقت کې د بیان د ازادۍ تر نامه لاندي دښمنان سیاسي حربې پر مخ وړي خو زه په دې عقیده یم چې د خدای ﷻ په فضل به د دوی په تزویرونو هیڅ ګټه هم مرتبه نشي ان شاء الله، او دادی موږ او تاسو د دې خبرې شاهدان یو چې نړۍ ورو ورو له حقایقو خبریږي.

ټیموتي ویکس (جبرایل) زما دوست او دیني ورور دی، نوموړی زموږ په بلنه یادي غونډې ته راغی، ټول مذاکراتي ټیم په دې متفق شو چی هغه ته په غونډه کې د ګډون دعوت ور کړو ځکه هغه یو سوله خوښ سړی دی او یادي غونډې ته د

[۲۷۲] د امریکا ږغ راډیو او ټلویزون خبریال ایوب خاورین، د تړون تر لاسلیک لږ مخکې موږ "څلاند او مطمئن" څخه وغوښتل چې که کوم طالب مشر مرکه ور سره وکړي، موږ له هغه سره ژمنه وکړه چې مرسته به ور سره وکړو، د تړون د لاسلیک له مراسمو وروسته، موږ له متقي صاحب سره ولاړ وو، خاورین راغی، له هغه سره یې د مرکې کولو غوښتنه وکړه، موږ دواړو هم متقي صاحب ته وړاندیز وکړ چې له خاورین سره تفصیلي مرکه وکړي، له متقي صاحب سره یې اوږده مرکه وکړه، خو هغه مرکه د امریکا ږغ راډیو او ټلویزون څخه خپره نه شوه. موږ له خاورین څخه وغوښتل چې هغه مرکه زموږ په واک کې راکړي، تر څو یې له هیوادوالو سره شریکه کړو، دا کار یې هم ونه کړ.

راتګ خواهش يې درلود، په همدې اساس ما هغه ته بلنه ورکړه، سره له دې چې هغه ناروغ هم و خو په ډېره خوشالۍ سره قطر ته راغی او زه د هغه د هرکلي لپاره هوايي ډګر ته ورغلم، يقيناً زما او د ده یوځای ښکاره کيدل ډير د تعجب وړ و، دغه خبر چې په رسنيو کی خپور شو په امريکايانو يې بد تاثير وکړ ددوی د دروغو تبليغات په اوبو لاهو شول، نو په اخره ورځ يې د ده مخنيوی وکړ، د غونډی تالار ته يې پرينښود، سخت خفه شو موږ هم انتهايي هڅه وکړه تر څو نوموړی په غونډه کې راسره ګډون وکړي خو بريالي نشوو، ده خپله د استراليا د صدر اعظم له معاون سره تماس ونيو، هغه په دوحه کې د استراليا سفير د هوټل مخي ته ورته راوليږه، خو د دغو ټولو هڅو سره سره بيا هم امريکايانو اجازه ورنکړه، زه هم ډير خفه وم، ډيري دعاګاني می ورته وکړې، بالاخره مي په دې قناعت وکړ چی کيدی شي په دې کې به يې خير وي، له غونډې وروسته ماښام مهال، هوټل ته دده لېدو ته ورغلم، ډير غمجن ناست و، زه هم دده په دې حالت ډير خواشينی وم، ډيره تسلی مي ورکړه، بيا مي دا خبره ورته وکړه چی الله ﷻ څو ځايه په قران کريم کې فرمايلي دي چې يو شی به تاسی بد ګڼئ خو په هغه کی به خير وي، کيدی شي په دې کې به زموږ خير وي، بيا مي د خپل اسارت څو داسي د تکليفونو کيسې ورته وکړې چې مخکې مي چاته نه وې کړې، د هغو تکليفونو تر شا به لوی خير مضمر و، وروسته جبرايل هم ډير مطمئن شو، ويې ويل چې که ما ګډون پکې ونکړ هيڅ خبره نه ده، مهمه داده چی دا لوی او مهم کار په خير سرته ورسيدو او زه په دی متيقن يم چی په دې کی زما لپاره الله ﷻ خير ايښی و، ځکه اوس مي امريکايان نور هم سم وپيژندل، اصل کې د سولي دښمنان همدوی دي، نورې هم ډيری خبری وشوې چې هغه به زه بيا په تفصيلی توګه په خپل کتاب کی راوړم ان شاء الله تعالی.

د طالبانو د فرهنګي کمیسون مشر **ذبیح الله مجاهد** مرکه له "څرک مجلې" سره، چې د مئ پر ۲مه، د الاماره ویب پاڼې خپره کړه.

که واقعاً امریکایي لوری لکه څرنګه یې چې له اسلامي امارت سره په تړون کې توافق کړی د ۱۴ میاشتو په ترڅ کې له افغانستان څخه ووځي، دا کار هم د سیمې، هم د افغانستان او هم د امریکا لپاره ستره ګټه لري او یو چانس یې بللی شو.

الف: د افغانستان لپاره یې مهم ګام بللی شو، ځکه روانه شل کلنه مبارزه او جهاد د همدې لپاره وو چې د افغانستان خاوره په ناجایز ډول، په زور سره د امریکا لخوا تر اشغال لاندې وه، دلته یې د اسلامي نظام، سولې او امن مخه ډب کړې وه، کله چې اشغالګر قوتونه له افغانستان څخه وځي، ښکاره ده چې افغانان یوځل بیا د استقلال خاوندان کیږي، پخپله د خپل راتلونکی په اړه مستقلانه پرېکړې کولای شي او د سوچه اسلامي نظام تر چتر لاندې به د خپل ویجاړ هیواد آبادۍ ته فرصت پیداکړي. ان شاءالله

ب: د سیمې لپاره ځکه په خیر ده چې په افغانستان کې له امریکایي شتون څخه د سیمې هیوادونه د مختلفو دلائلو په اساس نا راحته وو، روسانو په افغانستان کې د امریکا شتون د خپلو او متحدینو د منافعو پرخلاف باله، ایران خو له امریکا سره په ښکاره دښمنۍ اخته ده، همدا ډول د چین هیواد هم چې اقتصاد یې مخ په وده ده او په عین حال کې له امریکا سره په ډیرو اقتصادي برخو کې مشکلات لري، هم د امریکایي ځواکونو له شتون څخه اندیښمن و.

خو په لومړیو کې یادو ټولو جهتونو نه غوښتل چې له امریکا سره په جګړه کې ښکیل شي، نو یې ښکاره څه نه ویل، کله چې د افغانستان خلکو مقاومت وښود، د اسلامي امارت تر چتر لاندې یې د جهاد قوت، د مبارزې حجم او وړتیا ولیده، نو ټولو اړخونو په یوډول نه په یو ډول په سیمه کې د امریکایي موجودیت مخالف رږغونه پورته کړل.

کله چې امریکايي اشغال پای ته رسیږي د سیمې هیوادونه پخپلو کې تعاملاتو، همکاریو، او مشترکې اقتصادي ودې ته توجه زیاتوي چې دا کار د افغانستان او ټولې سیمې په گټه ده.

د مثال په ډول د ټاپي پروژه سره له دې چې د ترکمنستان، پاکستان او هندوستان لخوا یي په کارونو خنډ وجود نه لري، مگرپه افغانستان کې د امریکايي شتون او جگړې له امله پرمختگ نشي کولای، همدا ډول د منځنۍ آسیا د کاسا زر په نامه پروژه ناتکمیله ولاړه ده، د چین د یو کمبر بند یوې لارې پروژه د افغانستان په خاوره کې له مشکلاتو سره مخ کیږي، نو دا لوړ سیمیز اقتصادي هدفونه په افغانستان کې د اشغال د خاتمې او امن د راتگ لارې څارې، اوس که د اسلامي امارت او امریکا ترمنځ توافقنامه لکه څرنگه چې ښایي هغسې عملي شي، بې له شکه د ټولې سیمې په خیر ده.

ج: له افغانستان څخه د امریکا یي ځواکونو وتل پخپله د امریکا لپاره هم ستره گټه ده، موږ تاسو یې محسوسوو چې مطلق اکثریت امریکايي ملت په افغانستان کې د امریکايي ځواکونو له شتون او جگړې سره مخالف دی، همدا ډول د امریکا اقتصاد هره ورځ د خرابیدو په حال کې دی، د جگړې اوږدوالي هم د امریکايي نظامیانو زړونه وهلي دي، د ناټو، امریکا او اروپا ترمنځ هم د افغانستان د جگړې د تمویل په سر مشکلات پریمانه دي، نو داچې سبا هسې هم امریکا ماتې خوري او بیا په نظامي شکل تېښتې، نو اوس خورا ښه چانس په لاس ورغلی چې له فرصته گټه واخلي او د توافقنامې په اساس د افغانستان اشغال او خپله دا اوږده جگړه پای ته ورسوي.

بې له شکه چې د امریکايي اشغال او بیا د دغسې توافقنامې پورې د رسیدو پورې زموږ د مؤمن ملت ټولو اقشارو خپل خپل مسئولیتونه ادا کړي، نظامي ملگرو د سر او مال سترې قربانۍ ورکړې، ملت مو هم د جهاد سره د همکاري په لاره کې سترې قربانۍ ورکړې، مشرانو او مسئولینو مو په دې لاره کې شهادتونه، بندونه، ستړیاوې، هجرتونه او نور تکالیف قبول کړل، سیاسي ملگرو مو هم الحمدلله په دې لاره کې

سخت استقامت وکړ، ډیره ځیرکتیا او وړتیا یې له ځانه وښوده او د سیاسي استدلال په ډګر کې تاریخي کارنامې پرېښودې.

خو په ځانګړي ډول د فرهنګي ملګرو کارګردۍ هم له هیچا پټه نه ده، داچې روان جهاد په نړیوال سطحه انعکاس وموند د فرهنګي ملګرو د هلو ځلو، خواریو او تکالیفو نتیجه وه، په ځانګړي ډول له امریکایانو سره دا ورستي ځل منتج مذاکرات وروسته له هغه پیل شول، زمینه ورته مساعده شوه او د اعتماد فضا رامنځته شوه چې لومړی په ۲۰۱۷ کال کې د فرهنګي کمیسیون په ابتکار د ټرمپ په نامه د اسلامي امارت لخوا سرخلاصی لیک واستول شو[۲۷۳]، هغه لیک د امریکایي بیلابیلو جهتونو

[۲۷۳] د اګسټ پر ۱۵مه ۲۰۱۷، د طالبانو لخوا د" امریکایي ولسمشر ډونالډ ټرمپ په نوم د اسلامي امارت پرانستی لیک" خپور شو، ځینې مهمې برخې یې دلته را اخلو:

د امریکا د متحده ایالاتو ولسمشر ډونالډ ټرمپ ته!

ستاسو پوځ زموږ په هیواد افغانستان کې پوره ۱۶ کاله تیرکړل او د افغانستان د تسخیر لپاره یې خپلخ ټول وس وکاراوه، په داسې حال کې چې ستاسو د هیواد پخوانیو چارواکو په افغانستان د برید لپاره پراخه نړیواله ټلواله جوړه کړې وه بیا هم افغانستان کې ستاسو د ۱۶ کلن پوځي حضور پایله دا شوه چې نن افغانستان په امنیتي لحاظ تر ټولو نا امنه، په اداري لحاظ تر ټولو فاسد او په اقتصادي لحاظ تر ټولو نیستمن هیواد ګڼل کیږي.

ولسمشر ټرمپ! که تاسو لیږ تاریخي سوابق وګورئ افغانان په نړۍ کې ستاسي محسنین دي، هغوئ هم تاسي او هم ټوله نړۍ د خپلو قربانیو په مټ د کمونیزم له سره ښاماره خلاصه کړه ایا د افغان ځوانمرد اولس د تاریخي احسان په مقابل کې ستاسو چلند باید دا وي چې دغسي بي کفایته، فاسد، بي ضمیره او اختلاسګر چارواکي وربانديې مسلط کړئ؟

افغانان د امریکایانو په شمول د نړۍ هیڅ کوم ولس ته د ضرر رسولو بد نیت نه لري، خو چې د دوئ په حریم څوک تیری وکړي بیا یې د تیري کوونکو د ځپلو او ماتولو هنر ډیر ښه زده دی.

جمهور رئیس! امریکایي ځوانان د دې لپاره نه دي پیداشوي چې د افغانستان په دښتو او غرونو کې د غلو او مفسدو چارواکو د واکمنۍ ټینګولو لپاره ووژل شي او نه هم ښایي د

هغوئ میندې او پلرونه په افغانستان کې د هغوئ په لاس د ولسي افغانانو په وژلو راضي وي؛ بلکې امریکایي ځوانان د امریکا هغه بشري سرمایه ده چې د هغوئ ژوند ژغورنه په سرکې ستاسي او بیا د ټولو امریکایي چارواکو تر ټولو ستر مکلفیت دی، البته دا به د امریکا د وخت د حاکمانو یوه تاریخي اشتباه وه چې امریکایي ځوانان یې دافغانانو وژلو ته را ولیږل، خو تاسو ته د امریکا د یوه مسئول ولسمشر په توګه دا په کار دي چې د خپلو سلفو له اشتباهاتو څخه په عبرت اخیستو سره نور په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو د مرګ ژوبلې مخنیوی وکړئ. ستاسو جنرالان ستاسو د وژل شویو او معیوبینو عسکرو واقعي شمیرې پټوي، مګر افغانان په ډیره اساني کولای شي هغه تابوتونه وشمیري چې روزانه یې ستاسو په خوا درلیږي

**وروستۍ خبره:** دامریکا ولس مشره! دافغانستان ولسي مقاومت چي اوس يې اسلامي امارت رهبري کوي داپه ټوله سیمه کي یومنظم اوبامسئولیته ملي، سیاسي اونظامي ځواک دی چي دلته یې د دډیرو داسي فتنو مخه نیولې چي که داسلامي امارت مسؤلانه پالیسي او منظم خوځښت نه وي نو داسي ګډوډي به سر راپورته کړي چي د لمبو تاو به یې ګاونډیانو، سیمي او حتی ټولي نړۍ ته ورسیږي. که څوک په حقیقت پوه شي نواسلامي امارت به واقعا د افغانستان، سیمي او نړۍ لپاره رحمت وبولي څکه اسلامي امارت چاته د ضرر اراده اوپالیسي نه لري اونه هم نوروته اجازه ورکوي چي دافغانستان خاوره دچا په ضرر استعمال کړي، دابه ستاسولویه اشتباه وي چي افغان مسلمان ولس چي تر اوسه په خپلو ناچیزه وسایلو ستاسو مقابله کوي دې ته مجبور کړئ چي دخپل هیواد دازادي او ستاسو له مظالموڅخه دخلاصون په خاطر ستاسي حریفانو ته لاس ور اوږد کړي. نوښه به داوي چي تاسو دامریکا د یوه مسئول جمهور ریس په توګه واقعیتونه درک کړئ او د حقائقو په مبنی پریکړه وکړئ او دا حقیقت د زړه په غوږو واورئ چي دافغانستان جنګ مو دامریکا اوناټو په روزل شویو ځواکونو، پرمخ تللې ټیکنالوژي، نظامی تجربه شویو جنرالانو، یو په بل پسي ستراتیژیو او قوي اقتصاد ونه ګاټه، نو د کرایې په اجرتي قاتلانو، بدنامو قراردادي کمپنیو او بې ضمیره غلامانویې هم نشئ ګټلای.

دافغانستان اسلامی امارت

ذهنیت بدل کړ، بیا په کابل کې د امریکا تیر سفیر جان بس سره د مشهور امریکایي لیکوال بارنټ روبین او ځینو نورو ډیپلوماټانو او رسنیو په وسیله زموږ مکرر تماسونه وو چې د مذاکراتو پیل ته یې زمینه سازي وکړه.

هسې ستاسو د معلوماتو لپاره دومره ویلی شم چې په امریکایي لوري کې داسې ذهنیت موجود و چې گواکې د اسلامي امارت سیاسي کمیسیون او مشرتابه سره یوه خوله نه دي او گواگې د سیاسي کمیسیون خبرې، نظریات، ژمنې او وعدې د مشرتابه په استازولی نه دي، اگرکه په واقعیت کې داسې نه و خو امریکایانو همداسې یو غلط برداشت درلود.

کله چې فرهنگي کمیسیون دا خلا محسوس کړه، په ډیره جدي او پرلپسې توگه یې کوښښونه پیل کړل چې امریکایانو ته ثابته کړي چې د اسلامي امارت د سیاسي دفتر ژمنې او تصامیم عین د مشرتابه تصامیم دي.

په دې لاره کې پرمختگ وشو او د مذاکراتو رسمي پیل ته زمینه مساعده شوه، وروسته د مذاکراتو په جریان کې، بیا د توافقنامې په لاسلیک کې ان شاءالله د فرهنگي ملگرو خدمات خورا ښکاره وو، زموږ لیکوالو او نورو مبارزو ملگرو په دې موده کې د لیکنو، نشراتو، مرکو او نورو هلو ځلو له لارې سعیه وکړه چې ذهنیتونه جوړ وساتو ترڅو پروسه بریالي پرمخ ولاړه شي چې ان شاءالله په کې بریالي شوو، دا بریا د ټول اسلامي امارت او بیا په ټوله کې زموږ د مظلوم اومجاهد ولس بریا وه. الحمدلله والمنة

د اپریل پر ۲۹مه، د استاد محمد زمان مزمل لیکنه په نن ټکی آسیا کې

## طالبان؛ او د دویم نمبر فتحې نشه!

پـدې کـې شـک نشـته چـې د طالبـانو مقاومـت د نـړۍ پـه تـاریخ کـې یـوه د ځیرنې وړ تحول او موړ وه.

طالـب پـه یـو سر او یـو عنـوان د امریکـا او اتـه څلویښـت ملګـرو سره د اتلسـو کلـو پـه اوږده زمانـه کـې وجنګیـد او د شـوروي پـه شـان نـه عربـانو حمایـه کـړ او نـه هـم د پـروني امریکـا او غـرب غونـدې تـر شـا ولاړ و چـې د مجاهـدینو تـر شـــا ولاړ وه تـــر شـــا یـــې څـــوک هماغســـې ونـــه دریـــدل او پـه داخـل کـې هـم نظـر د طالـب ټکـري پالیسـۍ تـه چـې ټـول جهـادي ګوندونـه یـې ګواښـلي وو لـه دوی سره څـوک ونـه دریـدل ولـې بیـاهم د هغـوی څُجـرو کـې دومـره څـه وه چـې آن د مـذاکراتو پـه دوران کـې یـې هـم د خلیلـزاد پـه روایـات داسې چنـې او جـدلي مباحـث درلـودل چـې خلیلـزاد پکـې دا پر هغوی زیات وګڼل.

تر دې ځایه چې څه مو وویـل دا پـر حق دي ولـې دا چـې طالـب د جنګ پـه میـدان کـې چا حمایـه نکـړ او نـن یـې د سیاسـت پـه میـدان کـې نـیم افغانسـتان تـر شـا ولاړ دی او مسـکو تـه ورغـلي مشرـان ددغـې خـبرې یـو ژونـدی ثبـوت وه

ولې طالبـان لـه خپـل ملـت سره پـدې وروسـتیو څلـورو کلـو کـې چـې زمینـه ښـه ورتـه مسـاعده ده لـه ملـت سره او ډلـو سره لـه ښـکاره تفـاهم او بحـث نـه ډډه کوي بلکـې هاغـه د قطـر پـه جلسـه کـې یـې هـم د خپلـو نخبـه شـهیدانو یـو زوړ اکا او یا مشر خان لالا له ځان سره په یو بدل واسکټ کې ملګری نکړ.

په سیاسي جـاده کـې د طالبـانو دا یـوه سـتوی تـګ مبـادا د افغانسـتان خلکـو تـه دا تصور ورکړي چې طالبان د خپلې فتحې په نشه کې دي.

زه پـه همـدې مناسـبت طالـب مشرـانو تـه وایـم چـې دا پـه رښـتیا یـوه لویـه او عظیمـه فتحـه وه ولـې تـر دې د شـوروي د محـال فتحـه څکـه کمـه نـه وه چـې

هغه د یو ګاونډي ځواکمنې امپراتورۍ سره ډغره وه او دا د ځمکې د بل مخ نه د یو راغلي مسافر ځواک سره ډغره وه ، نه ښایې د فتحې په مهال طالبان تواضع هیره کړي او پخپله دویمه فتحه داسې نشه شي چې د تفاهم او مذاکراتو پړاونه پکې پیکه شي.

زه چې تر کومه ځایه پوهیږم طالبان ان شاءالله تر دې ښه او ژور دي ولې بیاهم ما هغوی ته د ولس اندیښنې ور انتقال کړې.



شهید وحید مژده، استاد محمد زمان مزمل او زه (مطمئن). تاشکند، فبروري ۲۰۱۹



د تړون مراسمو ته د ننوتلو په حال کې –شریټون هوټل



مولوي احمدالله وثیق او زه (مطمئن). شریټون هوټل

## د لیکوال پېژندنه

نظر محمد مطمئن د جوم سرمست زوی په۱۹۷۳زېږدیز کال کی د هلمند ولایت د نادعلي ولسوالی په زرغون کلي کې سترگې رڼې کړي.

### زده کړې

دولسم ټولگی یې په پښبور کې د سید جمال الدین افغان په عالي لیسه کې پای ته رسولي. په ۱۳۷۷لمریز کال کې د کابل پوهنتون د سیول انجنیري په ځانگه کی خپلي لوړي زده کړي بشپړي کړي .

د افغان پوهنتون د شرعیاتو ځانگې د فقهې او قانون (۱۳۹۳ تر ۱۳۹۶ ل کال) څخه فارغ، اوسمهال دعوت پوهنتون کې په فقه او قانون کې د ماسټری سند د بشپړیدو لپاره پر تیزس بوخت دی.

### څیرمه دندي

په ۱۳۷۵ل. کال د ننگرهار ولایت د راډیو او تلویزیون رئیس، په ۱۳۷۶ کې په کابل کې د عامه کتابتون او ملي آرشیف د لوی ریاست مرستیال او د کتاب مجلې مسؤل مدیر، په۱۳۸۷ کي دبیهقي کتابتون رئېس، په ۱۳۷۹ کې د هلمند ولایت اطلاعات او کلتور رئیس . په ۱۳۸۰ کې یې له بهرنیو نړیوالو مؤسیسو او د ښوونځیو او کوچنیو روغتونو جوړولو نړیوالو ادارو سره کار پیل کړ او د ۱۳۸۴ تر ۱۳۸۸ کال پوري یې د ملگرو ملتونو د ساختماني پروژو د تطبیق (یو ان او پي ایس ) دفتر سره په کندهار او کابل کې د مشر انجنیر په صفت دنده درلودله.

### د سولې هڅې

په کابل کې د اوسیدو پرمهال د بېلابېلو سیاسي او اصلاحي ټولنو سره یې ناستې درلودلي، په هیواد کې د ریښتونې سولې اړوند یې هلې ځلې پیل کړي، او د سولې اړوند په ځینو کورنیو او نړیوالو کنفرانسونو کې یې گډون کړی، چې یو له ډیرو مهمو کنفرانسونو څخه د جاپان د کیو ټیو ښار د دوشیشاپوهنتون کې په ۲۰۱۲ ز. کال کې هغه کنفرانس چې د طالبانو استازو، د اسلامي حزب (حکمتیار) استازي

هم ګډون کړی ؤ، له دې مخکې په ۲۰۱۱ کې هم په نوموړې پوهنتون کې د سولې اړوند کنفرانس کې شرکت کړی ؤ. په ۲۰۱۰ کې د ترکيې په استانبول ښار کې په نړيوال اسلامي کانفرانس او په ۲۰۱۴ کې د پاکستان په اسلام آباد کې د سولې اړوند نړيوال کانفرانس کې يې شرکت درلود. د افغانستان اړوند مسايلو له پاره يې د پولنډ هيواد وارسا او کاراکوب ښارونو، اندونيزيا، قطر، متحده عرب اماراتو او ازبيکستان کې هم په ځينو مهمو ناستو کې ګډون کړی.

د افغانانو لومړي خپلمنځي ناسته چې ماسکو کې وشوه، مطمئن يې هم ګډونوال و.

**ليکلي چاپ آثار**

۱. طالب مشرانو سره شپږورځې

۲. د ګوانتانامو ۳ بنديان

۳. طالبان په جاپان کې؛ موږ په وارسا کې

٤. د امريکا او طالبانو تړون (همدا کتاب)

**ليکلي ناچاپه آثار**

۵. مجاهدين او خپلمنځې جګړې

٦. د سولې ناستې له افغان چارواکو او سياستوالو سره

۷. د سولې ناستې له ناټو او بهرنيانو سره

۸. اندونيزيا کې د علماوو غونډه

۹. قطر کې له طالبانو سره ناستې

Download from:aghalibrary.cm